تفسير
احسن الكلام
پښتو
از سورة روم تا سورة جاثیه
جامعة عربية لاشاعة التوحيد والسنة
بهډیری پشاور پاکستان

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ
تفسیر
احسن الکلام
بلغة البشتو
للشیخ أبی زکریا عبد السلام الرستمی
الجزء السابع
(اوم جزء)
از سورة روم تا سورة جاثیه
الناشر
جامعة عربية لاشاعة التوحید والسنة
بده بیر - پشاور

فهرس مضامین تفسیر احسن الکلام جلد دوم[۷]

سورۃ الروم ۳۰ مکیۃ ۸۴ | بسم اللہ الرحمن الرحیم | ایاتھا ۶۰ رکوعاتھا ۶

الٓمٓ ① غُلِبَتِ الرُّومُ ② فِیٓ اَدۡنَی الۡاَرۡضِ

اللہ تعالیٰ پوھیږی دَ دیے په مراد باندے. کمزوری کړے شول رومیان په نزدے زمکه کښ

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سورۃ روم

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په یوځو وجو سره دے.
اوله وجه داده چه مخکښ سورت کښ دَ صحیح جهاد ذکر اوشو نو په دے کښ دَ فتح نتیجه ذکر کوی چه هغه انقلاب دے. دویمه وجه داده چه تیر شوی سورت کښ ترغیب وو جهاد ته نو په دے سورت کښ بشارت دے په نصرت دَ الله تعالیٰ سره. دریمه وجه داده چه په هغه سورت کښ مسئله دَ جهاد وه دَ پاره دَ توحید نو په دے سورت کښ اثبات دَ توحید دے په ډیرو عقلی دلیلونو سره.

دعویٰ دَ دے سورت وعده ده دَ امداد دَ الله تعالیٰ دَ توحید والو سره په انقلاب راوستلو سره. او اثبات دَ دے دَ دعوے په مثال دَ رومیانو سره دے او په دلیلونو دَ قدرت دَ الله تعالیٰ په انقلاب دَ حالاتو باندے. او دارنګ اثبات دَ توحید دے په عقلی دلیلونو سره او په ذکر دَ یو مثال سره او په رد دَ اقسامو دَ شرک سره، شرک په تصرف کښ او په دعاء کښ او رد په شفاعت قهریه باندے.

خلاصه دَ سورت دا سورت تقسیم دے درے بابونو ته. اول باب تر ۱۹ پورے دے په دے کښ اول مثال ذکر کوی په غلبه دَ رومیانو په فارس والو باندے روستو دَ مغلوب کیدلو نه بیا دعویٰ دَ سورت ده تر ۵ پورے بیا خلور زجرونه دی اول په بے علمے دَ دوی په ۶ کښ دویم په غفلت سره دَ اٰخرت نه په ۷ کښ دریم په انکار دَ بعث بعد الموت سره په ۸ کښ سرهٔ دَ دلیل عقلی نه خلورم په ظلم سره په خپلو ځانونو باندے په ۹ کښ سرهٔ دَ تخویف دنیوی نه، او تخویف اخروی دے په ۱۰ ۱۲ ۱۳ ۱۴ ۱۶ کښ او دلیل عقلی په ۱۱ کښ او بشارت اخرویه دے په ۱۵ کښ بیا ذکر دَ تسبیح او دَ حمد دے (چه دا توحید دے) دَ پاره دَ حاصلولو دَ نصرت دَ الله تعالیٰ چه دعویٰ دَ سورت ده په ۱۷ ۱۸ کښ

وَهُمْ مِّنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ﴿۳﴾ فِیْ

او دوی به روستو دَ کمزورے کیدلو دَ دوی نه زر ده چه غالب شی په

تفسیر

سا :- دا دَ مقطعاتو نه دے دلیل دے په اعجاز دَ قرآن باندے.
سا ۲ سا ۳ :- دا مثال دے دَپاره دَ دعوے دَ سورت دَپاره دَ تسلیٔ دَ مؤمنانو، او دَ فارس او دَ روم جنګ ته اشاره ده. تفصیل ئے دا دے چه په زمانه دَ نزول قرآن کښ په دنیا کښ دا دوه بادشاهئ وے چه ډیر لوے مملکتونه وو. یو فارس وؤ دَ هغوی بادشاه ته به کسریٰ ویلے کیدلو او هغه وخت ایران، افغانستان او اکثر مشرقی ملکونو باندے دَ دوی بادشاهی وه او دوی مجوسیان وو، او مجوسیان کتابیان نه دی بلکه دَ اور او رڼا او دَ نمر، سپوږمئ، ستورو وغیره عبادتونه کوی او امیین دی دوی پشان دَ مشرکین عرب وو. دوئیم روم وؤ چه دَ هغوی بادشاه ته به هرقل ویلے کیدلو اکثر مغربی ملکونه تر شام پورے دَ دوی دَ بادشاهئ دَ لاندے وو او دوی نصاریٰ اهل کتاب وو دَ دے دواړو په مینځ کښ به اکثر وخت جنګونه وو لیکن یو وخت دَ فارس بادشاه چه نوم ئے سابور وؤ دَ جنګ دَ رومیانو دَپاره لوے لښکر اولیږلو او لوے جنګ اوکړے شو چه په هغے کښ رومیان کمزوری شول او فارس والو دَ هغوی نه دَ شام علاقه اذرعات بصریٰ او بلاد جزیره باندے غلبه اوکړله رومیان صرف روم او قسطنطنیه علاقے ته غونډ شول. دا خبر چه مشرکان مکّه واؤریدلو نو هغوی ډیر خوشحاله شول او دَ مکّے دَ مؤمنانو خلاف ئے پراپیګنډے شورو کړے، او ویل ئے چه زمونږ رونړه ستاسو په رونړو باندے غالب شول نو نزدے ده چه مونږ به هم په تاسو باندے غالب شو او ستاسو دین به ختم کړو او مؤمنان پدے باندے ډیر خفه شول نو دَ دوی دَ تسلیٔ دَپاره دا آیاتونه نازل شول. حاصل دا وو چه رومیان اګرچه اوس مغلوب شول لیکن لږ وخت روستو به غالب شی او دغسے اوشوه څکه اوؤه کاله روستو بیا لوے جنګ اوکړے شو او رومیان غالب شول په فارس والو باندے او دَ دوی دَ غلبے ورځ هغه وه چه مؤمنان په غزوه دَ بدر کښ په مشرکین مکّه باندے غالب شول نو په مشرکانو باندے دوه خفګانونه راغلل او په مؤمنانو باندے دوه خوشحالئ راغلے.

فائده ۱: دا ښکاره دلیل دے چه قرآن رښتنے کتاب دَ الله تعالیٰ دے څکه دا دَ غیبو خبر ئے ورکړے وؤ. او هغه رښتیا واقع شو.

بِضْعِ سِنِينَ ۗ لِلَّهِ الْأَمْرُ مِنْ قَبْلُ

پو څو کلونو کښې خاص الله تعالیٰ لره پوره اختیار دے مخکښې

وَمِنْ بَعْدُ ۚ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ

او روستو او په دغه ورځ به خوشحاله شی

الْمُؤْمِنُونَ ﴿۴﴾ بِنَصْرِ اللَّهِ ۚ يَنْصُرُ

مؤمنان په امداد دَ الله تعالیٰ سره امداد کوی

فائدہ ع۲ دا رنګ دا دلیل شو په صداقت دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم باندے. **ع۳** معلومه شوه چه الله تعالیٰ په دنیا کښې دَ کافرانو سره امداد کوی دَ پاره دَ امتحان **ع۴** او الله تعالیٰ دَ بادشاهو انقلابات را دلی. **ع۵** او معلومه شوه چه تاریخ دَ قومونو او جغرافیا (چه هغې ته حاضر العالم وییلے کیږی) دَ علمونو دَ قرآن دَ فهم سره تعلق لری **ع۶** او معلومه شو چه نصرانی کافر چه دَ الله تعالیٰ دَ وجود او دَ توحید اقرار کوی اګر چه نور وجوه دَ کفر په هغوئ کښې شته خو هغوئ په دشمنئ کښې کم دے دَ هغوئ کافرانو چه غیر کتابی دے او دَ الله تعالیٰ دَ وجود نه منکروی یا دَ توحید دَ لفظ نه هم منکر وی او سخت عنادی او متعصب وی لکه دهریان کمیونسټ او یهودیان وغیره.

تشریح روم بن عیص بن اسحاقؑ بن ابراهیم علیه السلام سره مشهور دی نو معلومه شوه چه دوی دَ اولاد دَ یعقوب بن اسحاق علیهما السّلام (چه هغوی ته بنی اسرائیل وییلے کیږی) ترپوران دی. فِي أَدْنَى الْأَرْضِ یعنی دَ رومیانو هغه زمکه (ملک) چه عربو ته نزدے وه په نسبت دَ فارس چه هغهٔ شام او بصریٰ وغیره ده. غَلَبِهِمْ دا مصدر مبنی للمفعول دے یعنی مَغْلُوبِيَّتِهِمْ یا عبارت کښې تقدیر دے غلبته فارس علیهم.

ک :- بِضْعَ دَ عربئ په محاوره کښې دَ دریو نه تر نهه یا لسو پورے عدد ته وییلے کیږی. دَ دے وجے نه مفسرینو دَ ابوبکر رضی الله عنه دَ اُبی بن خلف الجمحی سره کومه واقعه چه ذکر کړے ده نو په هغې ابوبکر رضی الله عنه اول درے کاله پورے شرط لګولے وو نو رسول الله صلّی الله علیه وسلّم اوفرمائیل چه دَ بِضْعَ اطلاق دَ دریو نه تر نهه پورے دے نو دَ اووَ کالو شرط یئے اولګوؤ چنانچه غلبه دَ روم دَ دے ایت دَ نزول نه اووه کاله روستو حاصل شوه (پاتے په بل مخ)

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝۵

هغه چا سره چه او غواړی او خاص هغه زوراور او رحم والا دے

وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ

وعده کړے ده الله تعالیٰ وعده خلاف نه کوی الله تعالیٰ دَ وعدے خپلے نه

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۶

او لیکن ډیر خلق نه پوهیږی

فایده:۔ یو شبه کړے شویده چه ابو بکرؓ چه په کومے طریقے شرط لګولے وؤ داخو قمار (جواری) وؤ۔ جواب داد ے چه دا په هغه وخت کښ جائز وؤ، بیا منسوخ شویدے دا رنګ دَ قتاده نه روایت دے او چا چه ویلے دی چه دا عقد په دارِ حرب کښ دَ کافرانو سره وؤ او دا سے عقود فاسده او ربٰو وغیره دَ امام ابوحنیفه رحمة الله تعالیٰ په مذهب کښ په دارِحرب کښ دَ کافرانو سره جائز دی دا قول صحیح نه دے۔ لِلّٰهِ الْاَمْرُ دلته مراد اختیار دَ غلبے او دَ مغلوبیت دے او دا کلمه دَ توحید ده چه اختیار متدا وَاکدار صرف یو الله تعالیٰ دے۔ مِنْ قَبْلُ مخکښ دَ غلبے دَ رومیانو نه۔ وَمِنْ بَعْدُ روستو دَ غلبے دَ رومیانو نه۔ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ، دا بشارت دے مؤمنانو (صحابهٔ کرامو) ته او په دیکښ بله معجزه ده چه الله تعالیٰ دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم په واسطے سره اَوَّره کاله روانسے دَ بدر په ورځ دَ مؤمنانو دَ خوشحالئ خبر ورکړے وؤ او هغه صحیح ښکاره شو۔

ف:۔ دا یُ چه ایت کښ ذکر کړو اشاره ده چه دلته اوله خوشحالی دَ رومیانو په غالب کیدلو سره ده اګرچه هغے ته مدد دَ الله تعالیٰ نه ویلے کیږی دَ دے وجے نه هغے دَ پاره صرف لِلّٰهِ الْاَمْرُ ذکر کړے وؤ او بِنَصْرِ اللّٰهِ سره خوشحالی دَ ورځ دَ بدر مراد ده او هغهٔ په نصرت دَ الله تعالیٰ سره وؤ۔ او په دے ایت کښ دعویٰ دَ سورت ده۔

ف۲:۔ دا تاکید دَ مخکښ بشارت دے وَعْدَ اللّٰهِ نه روانسے فعل پټ دے وعد هم الله وعدا۔ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ دا صفتِ سلبیه دَ الله تعالیٰ دے۔ لَا يَعْلَمُوْنَ مراد دَ دے نه منکرین دَ مدد دَ الله تعالیٰ دی چه هغوی دا انقلابات الله تعالیٰ ته نسبت هم نه کوی۔ او په دے کښ زجر دے په عدم دَ علم سره۔

يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ
پوهيږي دوی ښکاره په ژوند دَ دُنيا
وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٧
او دوی دَ اخرت نه دوی بےپرواه دی.
اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۗ
ايا دوی سوچ نه کوی په خپلو ځانونو کښ
مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ
نه دی پيدا کړی الله تعالٰی اسمانو نه او زمکه
وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ
او هغه چه په مينځ دَ دوی کښ دی مګر په حق سره او په نيټه
مُّسَمًّى ۭ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ
مقرر سره او يقيناً ډير دَ خلقو نه
بِلِقَاۗئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ۝٨ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا
دَ ملاقات دَ رب خپل نه ضرور منکران دی. ايا او دوی نه ګرځی

ک :. دا دريم زجر دے په علمونو او تجرباتو دَ دنيا سره يعنی دَ کسبونو او تجارتونو او دَ زمينداری او دَ ابادئ وغيره دَ دنيا په کاروتو کښ ډيره تجربه لری او دا رنګ دَ دنيا په غلط سياستونو کښ ښهٔ پوهه دی. دَ حسن بصری نه تفسير سراج المنير کښ نقل کړے دی چه بعض انسان يو روپئ په لاس کښ اونيسی نو دَ هغې صحيح وزن معلوم کړی ليکن مونځ ورله نه ورځی. وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ دا دريم زجر دے په غفلت دَ اخرت نه.

ښ :. دا څلورم زجر دے په انکار دَ توحيد او دَ بعث بعد الموت نه په سبب دَ بے فکره کيدلو سره. فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ دَ دے دوه معنے دی اوله معنٰی دا چه انفس نه مراد زړونه دی او محل دَ فکر کولو زړه دے، او متفکر فيه مَا خَلَقَ اللّٰهُ الخ دے. دويمه معنٰی دا ده چه متفکر فيه اَنْفُسِهِمْ دے يعنی په احوالو دَ خپلو ځانونو کښ فکر نه کوی لکه چه سورة ذاريات ۲۱ کښ ذکر دی (ر پاتے په بل مخ)

فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په زمکه کښې نو چه اوګوری چه څه رنګ وو انجام

الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا أَشَدَّ

دَهغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښې وو هغوی ډیر کلک

مِنْهُمْ قُوَّةً وَأَثَارُوا الْأَرْضَ وَعَمَرُوهَا

دَ دوی نه طاقت والا وو او زمکه ئې اړولے ده او آباده کړے وه زمکه

أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم

زیاته دَ هغې نه چه دوی آباده کړے ده او راغلی وو دوی ته رسولان

بِالْبَيِّنَاتِ ۖ فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ

په ښکاره دلیلونو سره نو نه وُ الله تعالیٰ چه په دوی باندے ظلم کړے وے

وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ⑨

او لیکن دوی په خپلو ځانونو باندے ظلم کوؤ۔

نو مَاخَلَقَ اللّٰهُ اه دا نتیجه دَ فکر ده. اِلَّا بِالْحَقِّ یعنی دَحق ښکاره کولو دَ پاره، او مراد تربه توحید دے۔ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى مراد دَ دے نه فنا دَ دے عالم ده چه په هغې پسے بعث بعد الموت دے او دارنګ په احقاف ۳ کښې هم دی۔ وَاِنَّ كَثِيْرًا اه په دے کښې زجر دے په انکار دَ قیامت سره۔

فائده:- په ۸ کښې ئې اَكْثَرَ النَّاسِ ذکر کړو او په دے ایت کښې ئې كَثِيْرًا ذکر کړو، یو وجه دا ده چه بے علمه او دُنیا پرست ډیر زیات خلق دی لیکن دَ قیامت منکران دَ هغوی په نسبت سره لږ دی دویمه وجه دا ده چه روانړے دَ دلیل ذکر کولو ته اَکثر خلق منکروی او دَ دلیل ذکر کولو نه روستو بیا منکرین دَ مخکښې په نسبت سره لږ کم شی۔

۹:- دا شپږم زجر دے او تخویف دنیوی دے په ذکر دَ عذابونو دَ تیر شوؤ قومونو سره۔ او دارنګ په حٰمٓ مؤمن ۲۱، ۸۲ کښې هم دی. فَيَنظُرُوا ته معلومه شوه چه سیل کول په ملکونو کښې دَ پاره دَ عبرت اخستلو عبادت دے۔ بیا دَ تیر شوؤ قومونو پنځه حالتونه ئې ذکر کړے دی اول كَانُوا اَشَدَّ مِنْهُمْ یعنی بدنونه او قدا و قامت کښې مضبوط وؤ دویم وَاَثَارُوا الْاَرْضَ یعنی په فصلونو کرلو

ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا السُّوْٓاٰى

بیا شو انجام د هغه چا چه بدے ئے کړے دے تاکاره

اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا بِهَا يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۰﴾

(ځکه چه) دروغژن ئے ګڼړلے وو ایاتونه د الله تعالیٰ او دوی وو چه په هغے پورے توقے کولے.

اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ اِلَيْهِ

الله تعالیٰ اول پیدائش کوی بیا به دوباره هم کوی بیا به خاص هغه ته

تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ

اوګرځولے شے تاسو. او په هغه ورځ چه قیامت به قائم شی تا امیده به شی

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ

مجرمان. او نه به وی دوی لره د

او د زمکے نه معدنیات راویستلو کښ ډیر مشغول وؤ دریم وَعَمَرُوْهَا په ابادولو کښ ډیر مصروف وو یعنی دنیاپرست وو او دُنیاوی کارونو کښ ترقی کول ئے کمال ګڼړلو. څلورم وَجَآءَتْهُمْ یعنی الله تعالیٰ د دوی د خیر ورکولو دپاره ډیر رسولان لیږلے وو دپاره د دے چه دینِ الٰهی ته ئے توجه پیدا شی. پنځم وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ یعنی کفر او شرک او بدعات او نور ګناهونه ئے کول او دا په ځان باندے ظلم کول دی ځکه د دے په وجه باندے د دُنیا دغه نعمتونه ئے برباد شول او دوی هلاک شول.

سلا:. دا تخویف اخروی دے هرکله چه عَاقِبَةَ خبر د كَانَ شی او السُّوْٓاٰى اسم د كان شی یعنی العقوبة التی اسوء السیئات، یا نوم د جهنّم دے. او اَنْ كَذَّبُوْا کښ باپټ وی یعنی بان كذبوا. او که چرے السُّوْٓاٰى مفعول مطلق شی د اَسَآءُوْا دپاره او اَنْ كَذَّبُوْا اسم شی د كَانَ دپاره یعنی تکذیب او استهزاء نتیجه شوه د نورو سیئاتو دپاره نو بیا په دے احتمال سره دا ایت تفسیر دے د اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ دپاره.

سلا:. دا مختصر دلیل عقلی دے او دا متعلق دے د ک سره او اثبات د دوباره ژوندا دے.

سلا:. دا تخویف اخروی دے هرکله چه اعاده ذکر شوه نو اوس په دے ایاتونو کښ تفصیل د قیامت ذکر کوی. او د سلا پورے د مجرمانو بخله حالات ذکر کوی. ابلاس ویلے کیږی چپ کیدل او حیرانیدل ریاتے په بل مخ)

شُرَكَآىِٕهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا بِشُرَكَآىِٕهِمْ

شریکانو دَدوی نه سفارشیان او شی به دوی دَ شریکانو نه

كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ

منکران . او هغه ورځ چه قیامت قایم شی

يَوْمَىِٕذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

په دغه ورځ به دوی جدا جدا شی . نو هغه کسان چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِیْ

ایمان ئې راوړے دے او عمل ئې کړے په طریقه دَ نبی نو دوی به په

رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

باغچو کښ وی خوشحالولے به شی . او هغه کسان چه کفر ئې کړے دے

دَ وجے دَ بے دلیل کیدلو نه او مراد دَ دے نه ناامید کیدل دی دَ هرخیر نه یا ناامید کیدل دَ خپلو شرکاؤ دَ مداد کولو نه۔

سـ۱۳ :۔ دا هم تخویف کښ داخل دے او رد دَ شفاعت قهریه شرکیه دے او جواب دَ سوال دے، که اُوپلے شی چه دوی به چپ شی خو دَ دوی معبودان به دَ دوی دَ بچ کولو دَ پاره خبرے کوی او شفاعت به کوی نو دَ هغے رد ئې اوکړو۔ وَكَانُوْا دا نتیجه دَ انکار دَ معبودانو دَ دوی ده دَ شفاعت کولو نه یعنی هرکله چه هغوی دَ دوی دَ شفاعت نه عاجز شی نو دا مشرکان به دَ هغوی دَ معبودیت نه منکر شی. دویم معنیٰ داده چه وَكَانُوْا دَ دنیا حال دے یعنی دوی به دنیا کښ دَ شرکاؤ دَ عبادت په سبب سره کافر شویو۔

سـ۱۴ :۔ دا هم داخل دے په تخویف کښ یعنی روستو دَ ناامیده کیدلو نه به تفرق دَ یو بل نه اوکړی۔

سـ۱۵ :۔ دا بیان دَ تفرق او دَ جدائې دے او په دے ایت کښ بشارت دے مؤمنانو ته۔ رَوْضَةٍ په عرف دَ عرب کښ هغه زمکه وه چه ډیره فراخه وی او ډیرے اوبه او تازه شنه بوټی پکښ وی يُحْبَرُوْنَ ، درے معانی دی ع۱ عزت به ورکیدے شی۔ ع۲ نعمتونه به ورکیدے شی، ع۳ خوشحالی به ورکیدے شی، په دے کښ دَ جنت ټول نعمتونه داخل دی۔

وَكَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ

او دروغژن گڼړی ایاتونه زمونږ او ملاقات دَ اخرت نو دغه کسان په

فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ

په عذاب کښ حاضر کړے شی۔ نو پاکی وایئ دَ الله تعالیٰ

حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ

کوم وخت چه بیګاه کوئے او کوم وخت چه صبا کوئے۔ او خاص هغه لره ستائینه

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ

(خدایئ ده) په اسمانونو او زمکه کښ او په مازیګری کښ او کوم وخت چه

سلا :۔ دا تخویف دَ منکرینو دے او په دے کښ دَ دوی درے جرمونه یئ ذکر کړیدی۔ ۱ کفر تمام شرکیاتو ته شامل دے، ۲ تکذیب انکار دَ ټولو دلیلونو شرعیو ته عام دے ۳ وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ انکار دَ اخرت مراد دے۔

سکا سلا :۔ دا تفریع ده په دعویٰ دَ سورت باندے او دا دعویٰ دَ توحید ده یعنی هر کله چه الله تعالیٰ ستاسو نصرت کوی نو تسبیح وایئ لکه چه سورة نصر کښ هم ذکر دی یا دا بیان دَ سبب دے دَ پاره دَ حصول دَ دعوے دَ سورت یعنی په توحید دَ الله تعالیٰ سره نصرت او مدادِ الٰهی حاصلیګی۔ په دے ایاتونو کښ تسبیح او حمد ته مراد سرهٔ دَ قول ته عمل دَ هغے دے په طریقه دَ مونځ کولو سره څکه مونځ کښ تسبیح او حمد قولاً او عملاً دی او دَ ابن عباس رضی الله عنهما په روایت سره په دے ایاتونو کښ دَ پنځو وختونو دَ مونځ ذکر دے۔ تُمْسُوْنَ کښ ماښام او ماسخوتن داخل دے او تُصْبِحُوْنَ کښ مونځ دَ صبا داخل دے۔ عَشِيًّا کښ دَ مازیګر مونځ داخل دے او تُظْهِرُوْنَ کښ مونځ دَ ماسپخین داخل دے۔ **فائده** هر کله چه اذکار مسنونه کښ تسبیح مخکښ ده دَ حمد نه نو دلته یئ هم تسبیح مقدم کړیده په حمد باندے او هر کله چه توحید په لفظ دَ تسبیح سره نه کامل کیږی نو دَ دے وجے حمد یئ ور سره ذکر کړو۔

فائده ۱ :۔ هر کله چه بیګایئ او صبایئ وخت کښ تیاره وی او تیاره کښ نقصان وی نو دَ هغے سره تسبیح مناسب ده یعنی الله تعالیٰ دَ هر نقصان نه پاک دے او مازیګر او ماسپخین کښ رڼا وی او رڼا کمال دے نو دَ هغے سره حمد مناسب دے۔

فائده ۲ :۔ هر کله چه بیګاه او صبا او ماسپخین کښ ښکاره راتے په بل مخ)

تُظْهِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ
ماسپښین کوئے تاسو. راوباسی الله تعالیٰ ژوندی لره دَ مړی نه
وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْأَرْضَ
او راوباسی مړ لره دَ ژوندی نه او تازه کوی زمکه
بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۹﴾
روستو دَ اوچیدلو نه. او دغسے په راوبیستلے کیدلے شئ تاسو.
وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ
او بعض دَ دلیلونو دَ توحید او قدرت دَ الله تعالیٰ نه دا چه پیدا ئیش ئے شروع کړے دے ستاسو دَ خاورے نه
ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿۲۰﴾
بیا شوئے تاسو بشر ډیر خواره واره شوئے.

اختلاف دے دَ یو حال نه بل ته نقل کیدل دَ توے حالت پیدا کیدی دَ دے وجے نه تُمْسُوْنَ تُصْبِحُوْنَ، تُظْهِرُوْنَ ئے په صیغه دَ فعل سره ذکر کړو چه دَ پاره دَ تجدد (نوے والی راځی) او دَ ظهر او دَ عشی (مازیګر) په مینځ کښ زیات فرق نیشته دَ وخت په لحاظ سره نو دَ دے وجے نه هغه ئے عَشِیًّا سره اسم ذکر کړو (والله اعلم).

سـ۱۹ـ دَ دے ایت نه دویم باب دے تر سـ۲۷ـ پورے په دے کښ یوولس عقلی دلیلونه ذکر کوی دَ پاره دَ اثبات دَ توحید او دا شواهد دی دَ پاره دَ دعوے دَ سورت. او په دے کښ مثال دے دَ پاره دَ رد دَ شرک. بیا ئے اصول ذکر کړے دی دَ پاره دَ حصول دَ دعوے دَ سورت او په مینځ دَ اصولو کښ دَ مشرکانو اَدَوَه قبائح ئے ذکر کړے دی او دَ هغوی تحذیر ذکر کوی او فرق ذکر کوی دَ ربٰو او دَ زکوٰة. او تخویف دنیوی او دَ هغے اسباب ئے ذکر کړیدی.

دا سـ۱۹ـ دلیل عقلی دے دَ پاره دَ اثبات دَ توحید چه په تیر شوی ایا تو کښ ذکر شو په دے کښ او دَ دے نه روستو دلیلو نو کښ انقلاب دَ حالاتو ذکر کوی اشاره ده اثبات دَ دعوے دَ سورت ته. په دے ایت کښ ئے درے احوال انقلابیه ذکر کړیدی او څلورم انقلاب کښ ذکر دَ قیامت دے.

سـ۲۰ـ دا یو دلیل عقلی دے دَ دواړو مقصدونو دَ پاره. مِنْ تُرَابٍ مراد دَ دے نه پیدائش دَ ادم علیه السلام دے دَ خاورو نه او معنیٰ دَ خَلَقَكُمْ، خلق اصلکم یا مراد دَ دے نه هر انسان دے ځکه چه هر انسان دَ نطفے نه پیدا دے او نطفه دَ خوراک نه

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ

او بعضې دَ دليلونو دَ توحيد او قدرت دَ هغه نه دا چه پيدا کړيدی تاسو لره ستاسو دَ

اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا

جنس نه بيبيانې دَپاره دَ دې چه آرام حاصل کړئ هغوی ته

وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ۭ اِنَّ

او پيدا کړې ده ستاسو په مينځ کښې مينه او ترس کول يقيناً

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾

په دې کښې ډير دليلونه دی دَ هغه قوم دَپاره چه سوچ کوی۔

پيدا کيږی او خوراکونه دَ زمکې نه پيدا کيږی او دا سې په سورة حج ۵ کښې هم تير شويدی۔ ثُمَّ اِذَآ دا اِذَآ دَ مفاجات دَپاره دې او دا اکثر دَ فَآء سره مستعمليږی ليکن دلته ئې ثُمَّ راوړيدې ځکه چه دَ تراب نه روستو نورو احوالو او اطوارو ته اشاره ده چه هغه نطفه علقه مضغة وغيره دی لکه چه سورة حج ۵ او مومنون ۱۴ کښې تير شويدی۔ تَنْتَشِرُوْنَ په دې کښې معنیٰ دَ ظهور (ښکاره کيدلو ده) يعنې خاورو کښې پټ وې نو الله تعالیٰ ښکاره کړئ۔

فائده:- په دې سورة کښې دَ اووه اياتونو په اول کښې وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ ذکر کړيدې دَ دې يو وجه داده چه دغه دليلونه په مُدّعا ثابتولو کښې ښه واضح دی۔ دويمه وجه داده چه هر يو دَ هغې نه په حقيقت کښې په ډيرو دليلونو باندې مشتمل دې او هر کله چه اکثر په دغه اياتونو کښې دَ سورت دواړه مقصدونه ښکاره وو نو دَ دې وجې نه په اول دَ ايت او په آخر دَ هغې کښې لفظ دَ اٰيٰتٍ ئې دوه کرته ذکر کړيدې۔

۲۱:- دا يل دليل عقلی دې۔ هر کله چه تير شوی ايت کښې ماده دَ پيدائش اصلی ذکر شوه نو په دې ايت کښې ماده دَ پيدائش ظاهری ذکر کوی او دا رنګ اوّل ايت دليل دَ ايجاد دَ بشر دې نو دا ايت دليل دې دَ بقا (يعنې سلسله دَ بشر دَ قيامت پورې ده) ۔ او اَنْفُسِكُمْ په معنیٰ دَ هم جنس سره دې۔ لِتَسْكُنُوْٓا دا سې حکمت ئې په سورة اعراف کښې هم ذکر کړې او دا دليل دې چه دَ بشر نکاح دَ جن سره نه کيږی۔ مَوَدَّةً دَ زړه ميلان او محبت ته وائی وَرَحْمَةً دَ مينې دَ وجې نه دَ بو بل په مصيبت باندې خفه کيدل او خوشحالې باندې خوشحاله کيدل۔ دې ته شفقت هم وائی

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

او بعض د دليلونو د هغه نه پيدائش د اسمانونو او د زمکے دے

وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ۭ اِنَّ فِيْ

او جدا والے د ژبو ستاسو او د رنګونو ستاسو دے يقينًا په

ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ

دے کښ ډير دليلونه دى پوهه لرونکو له۔ او بعض د دليلونو د هغه نه

مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَابْتِغَاۗؤُكُمْ

خوب کول ستاسو دى د شپے او د ورځے او لټول ستاسو دى

مِّنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

د فضل د هغه نه، يقينًا په دے کښ ډير دليلونه دى

۲۲:۔ دا هم دليل عقلى دے د پاره د دوارو مقصدونو۔ تير شوى دليلونه انفسى وو او دا آفاقى دليل دے۔ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ نه مراد د هغے اوچت والے، مضبوط والے، بے ستنو اودريدل، نه چودل او نه راغورځيدل وغيره دى۔

وَالْاَرْضِ د دے نه مراد د هغے وسعت دے يعنى مختلف رنګونه مختلف صفتونه چه په هغے باندے غرونه، تهرونه، جنګلات وغيره دى۔

وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ، عربى او عجمى او په هغے کښ ډير قسمونه او مختلف آوازونه لهجے، فصاحت بلاغت او په هغے کښ مختلف مرتبے، تر دے پورے چه دوه تنه په داسے او نه موے چه په دے ټولو اوصافو کښ يو شان وى۔

وَاَلْوَانِكُمْ سپين، سور، تور وغيره او مختلف مخونه او سترګے پوزه وغيره هيڅ دوه کسان په داسے ملاؤ نشى چه په صورت کښ پوره پوره برابر وى۔ او د دے دوارو اختلافونو يو حکمت دا دے چه انسان په دے سره د اشخاصو تميز اوکړى د خپل پردى او د دوست دشمن توجه لرے وى يا غائب وى نو جدائى کيدے شى په آواز سره او چه مخامخ شى نو جدائى کيدے شى په شکل او صورت سره۔

لِّقَوۡمٍ يَّسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۳﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ يُرِيۡكُمُ

هغه قوم لره چه غوږ نیسي. او بعض د دلیلونو د هغه دا چه ښائي تاسو ته

الۡبَرۡقَ خَوۡفًا وَّطَمَعًا وَّيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ

بریښنا د ویرې او طمع ته او ورَوي د طرف د اسمان ته

مَآءً فَيُحۡىٖ بِهِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا ؕ

باران نو تازه کوي په هغې سره زمکه روسته د اوچیدلو د هغې نه.

اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ﴿۲۴﴾

یقینًا په دې کښې ډیر دلیلونه دي د پاره د هغه قوم چه عقل لري.

س۲۳: دا بل دلیل عقلي دے، انفسي دے چه متعلق دے د زمانیانو سره چه شپه او ورځ ده او هرکله چه د شپې خوب زیات وي په خوب د ورځے باندے د دے وجے نه الليل ئے مخکښې کړو په النهار باندے. او هرکله چه کسب او طلب د فضل (د روزئ او د علم) په شپه او ورځ دواړو کښې کیږي نو هغه ئے عام ذکر کړے دے.

س۲۴: دا بل دلیل عقلي دے هرکله چه مخکښې ئے عوارض انفسیه ذکر کړل نو په دے دلیل کښې عوارض آفاقیه ذکر کوي چه هغه برق او باران دے. هرکله چه لیدل د برق د باران نه اکثر روانے وي د دے د پاره چه بعض خلق د باران نه د بچ کیدلو انتظام او کړي د ویرے د وجے نه او دا سے خلق ډیر وي او بعض خلق (زمینداران) او بود باران نه زمکه او ورخوته برابر کړي د طمع د وجے نه. د دے وجے نه برق ئے په باران باندے او خوف ئے په طمع باندے مخکښې کړو.

فائده: د دے څلورو آیاتونو په حواصلو کښې تنزل دے د اعلی صفت نه ادنی ته. ځکه اول درجه تفکر دے بیا لاندے د هغې نه علم دے بیا کوز د هغې نه د یل چاند او ریدل او قبول دي بیا خکته د هغې نه عقل لرل دي. متفکرین ډیر لږ وي بیا ورپسے علم والا بیا ورپسے غوږ کیخودونکي د پاره د قبولیت بیا عقل والا (ترتیب دا دے) هرکله چه اول آیت کښې نکاح او د هغې فائدے ذکر کړے چه دا امور پټ باطني دي نو د هغې سره ئے فکر ذکر کړو بیا احوال د آسمانونو او د زمکے او مختلف لغات او ژبے او فرق د صورتونو، په ر پاتے په یل مخ)

وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ

اوبعض د دلیلو د توحید او قدرت د الله تعالیٰ نه دا چه ولاړ دی اسمانونه او زمکه

بِاَمْرِهٖ ؕ ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ

په حکم د هغه سره بیا چه کوم وخت اواز درکړي تاسو ته یو اواز د زمکې نه (د را وتلو د پاره)

اِذَاۤ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ﴿۲۵﴾ وَلَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ

دغه وخت به تاسو ټول را اوځئ - او خاص په اختیار د الله تعالیٰ کښ دی هغه څوک چه په اسمانونو

وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَهُوَ الَّذِیْ

او زمکه کښ دی ټول هغه له تابع دی - او خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے

علم سره معلومیږی نو د هغې سره ئې علم ذکر کړو بیا د خوب د حالاتو نه انسان په چیله نه خبریږی بلکه د بل چا نه په اوریدلو سره معلومیږی نو هغې سره ئې سمع ذکر کړه. بیا برق او باران نه او بوټی د دے په حالاتو باندے هر عقل والا پوهیږی چه د عقل نه کار واخلی نو د هغې سره ئې عقل ذکر کړو۔

سـ۲۵۔ دا یو دلیل عقلی دے د خلق د اسمان او زمکې نه روستو د هغې قیام (ټینګیدل) ذکر کوی۔ او د دے ټولو خبرو نه فنا ته اشاره کوی په اثبات د خروج (روتل) د زمکې نه۔

فائده ع۱ هرکله چه لیدل د برق لږ وخت وی او قیام د اسمان او زمکې هر وخت دے نو د اول سره ئې اَنْ نه دے ذکر کړے او د دویم سره ئې اَنْ ذکر کړو ځکه اَنْ د مَابَعْدْ سره په تاویل د مصدر سره اسم جوړیږی او اسم دلالت کوی په استمرار باندے او بغیر د اَن نه نفس فعل دے چه دلالت کوی په تجدد (نوے والی) باندے۔

فائده ع۲ مِنَ الْاَرْضِ متعلق دے په اِذَا دَعَاكُمْ پورے نه په دَعْوَةً پورے ځکه چه فعل قوی وی په عمل کښ د مصدر نه او هرکله چه د شپیلۍ وهلو سره راوتل د زمکې نه متصل او ناساپه دی د دے وجه نه اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ئې بغیر د ثُمَّ نه ذکر کړے دے۔

سـ۲۶۔ دا یو دلیل عقلی دے روستو د ذکر اسمان او د زمکې او د اهل د هغې نه. كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ د دے نه قنوت تسخیری مراد دے یعنی په ژوندا او مرګ او صحت او مرض وغیره کښ د الله تعالیٰ د حکم د لاندے دی یا مراد د دے نه قنوت اختیاری دے او مراد د دے نه صالحین

يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ط

چه اول پیدائش کوی بیایه دوباره هم کوی او دا (بیرته راوستل) هغه ته اسان دی

وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ج

او خاص الله تعالیٰ لره صفت اوچت دے په اسمانونو کښې او زمکه کښې،

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿۲۷﴾ ع ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا

او خاص هغه زور اور او حکمت واله دے. بیان کړیدے ستاسو د پوهے د پاره مثال

مِّنْ أَنفُسِكُمْ ط هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ

د جنس ستاسو نه ایا شته تاسو لره د هغه چانه چه مالکان دی

أَيْمَانُكُم مِّن شُرَكَاءَ فِي مَا رَزَقْنَاكُمْ فَأَنتُمْ

ښی لاسونه ستاسو د معنوی څوک حصه داران په هغه مال کښې چه موږ تاسو ته درکړیدے نو تاسو

فِيهِ سَوَاءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ط

په هغې کښې برابر اختیارمند یئې چه وېریږئ د دوی نه پشان د ویرے ستاسو د روڼړو ستاسو نه

۲۷:- دا بل دلیل عقلی دے د توحید سره د اثبات د بعث بعد الموت نه وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ضمیر د هُوَ راجع دے دوارو ذکر کړے شوے حالتونو ته په تاویل د مذکور سره نو هیڅ اشکال نیشته او که ضمیر د هُوَ اعادے ته راجع شی نو أَهْوَنُ کښې تفضیل په اعتبار د عقیدے د بشر دے یعنی د دوی په نیز بانده دوباره کار د اول نه زیات اسان وی یا أَهْوَنُ په معنیٰ د هین سره دے او تفضیلی معنیٰ پکښې مراد نه ده۔

الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ یعنی عام قدرت او علم او حکمتونه. او قتاده وایی دی چه لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مراد تربیه وصف د توحید دے۔

فائده:- په دے روستنو دوه ایاتونو کښې اخبار د تصرف د الله تعالیٰ عمومًا او په ابداء او اعاده کښې خصوصًا مقصد دے استدلال مقصد نه دے د دے وجے نه په وَمِنْ آيَاتِهِ سره یې مصدّر نه کړو۔

كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾

دغه شان جلاجلا بيانوو موږ آيا تونه د پاره د هغه قوم چه عقل لري -

بَلِ اتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ

بلکه روان دي هغه خوک چه ظلم ئې کړيدے په خواهشاتو خپلو پسے

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ

بغير د دليل نه نو څوک به هدايت ورکړي هغه چاته چه الله تعالىٰ بے لارے کړے وی

۲۸ :- روستو د اثبات د توحيد نه په دليلونو سره اوس وضاحت کوی په مثال سره . مِنْ اَنْفُسِكُمْ ستاسو د جنس نه ځکه چه مريان هم انسانان دی - يا مراد د ے نه نزدے د خيزونو نه تاسو ته. فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ هرکله چه شرکت کښ برابر ئے نه وی د دے وجے نه دلته ئې مقيد کړو په مساوات سره په اختيار او تصرف کښ بيا ئې بيان د مساوات اوکړو په دے قول سره چه تَخَافُوْنَهُمْ يعنی هر کله چه دوه تنه په شرکت او تصرف کښ برابر وی نو يو تن تصرف بغير د اجازت د بل نه نشی کولے بلکه د هغه د خفگان يا د غضب نه ويره کوی - حاصل د مثال دا دے چه الله تعالىٰ مولىٰ دے او ټول انسانان د هغه مريان او وينځے دی (مملوک دی) نو هرکله چه تاسو خپلو مملوکانو لره خوراک څښاک وغيره ورکوئے ليکن په خپل مال کښ داسے تصرف نه ورکوئے چه تاسو سره برابر شی بلکه په داسے شرکت سره تاسو ډير خفه کيږئ نو څه رنګه وايئے او عقيده لرئے چه الله تعالىٰ بزرګانو اولياؤ وغيره ته په خپل بعض مملوکاتو او مخلوقاتو کښ داسے تصرف ورکړے د ے چه هغوی د الله تعالىٰ پشان په قدرت مستقله سره په هغے کښ تصرف کوی چه کله او غواړی نو څوک مريض کړی نو چا له شفا ورکړی څوک غريب کړی څوک مالدار کړی نو هرکله چه په خپله په داسے حالت باندے خفه کيږئ. نو الله تعالىٰ خو راغنىٰ الشرکاء عن الشرک دے) نو هغه خو خامخا په دے سره خفه کيږی.

فائده:- په دے کښ اول مِنْ ابتدائيه دے او دويم مِنْ تبعيضيه دے او دريم د تاکيد د استفهام د پاره دے او استفهام انکاری دے.

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ هرکله چه په مثال سره وضاحت د ډيرو معانيو او حکمتونو کيږی نو ځکه ئې ذکر دے ته آيات اُويل.

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَقِمْ وَجْهَكَ

او نيشته دوى لره هيڅ مددګاران - نو برابر کړه خپل مخ

لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۭ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ

دين ته کلک په توحيد پاتے (لازم اونيسه) دين دَ الله تعالىٰ هغه چه

فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۭ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ۭ

پيدا کړى دى خلقو لره په هغې باندے، نيشته بدلېدل دَ پيدا وخت دَ الله تعالىٰ

ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ڎ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

دغه دے دين پوخ او ليکن ډير خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٠﴾ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ

نه پوهيږى ورګرځېدونکى يئ هغه ته او يره کوئ دَ هغه نه

س۲۹:۔ دا زجر دے چه سره دَ دے دليلونو او مثالونو نه دَ دے منکرينو دَ انکار سبب اتباع دَ هوٰى ده او په داسے حال کښې چه دَ اتباع دَ خواهش دَ وجے دَ دليلونو او مثالونو نه انکار کوى نو دوى ته هدايت نه نصيب کيږى۔ بِغَيْرِ عِلْمٍ قيد دَپاره دَ تاکيد دَ جهل دَ دوى دے يعنى که چرے دَ اتباع دَ هوٰى سره علم وى نو دَ دے علم په سبب سره کله واپس شى تابعدارئ دَ خواهش نه۔

س۳۰:۔ هرکله چه تيرشوى ايت زجر ذکر کړو په اتباع دَ خواهشاتو سره نو پس پکښې توجه ورکوى تابعدارئ دَ دين حق ته چه دين فطرى دے يعنى توحيد خالص او دَ دے ايت نه اصول ذکر کوى دَپاره دَ حصول دَ نصرت الٰهى چه دعوىٰ دَ سورت ده او قاء سره يئ ذکر کړو ځکه چه دا تفريع ده په تيرشوؤ دليلونو او مثال باندے۔ وَجْهَكَ مراد دَ دے نه ذات دے يا قصد دے۔ او اقامت دَ مخ دا دے چه بل طرف ته توجه مه اړوه ټول قصد او توجه او ټول بدان او قوتونه دين دَ توحيد ته او ګرځوه۔ فِطْرَتَ اللّٰهِ دَ دے نه مخکښې فعل پټ دے يعنى اَلْزِمْ واتَّبِعْ۔ فِطْرَتَ وزن دَ فعلت دے دَ فَطَرَ نه يعنى حال دَ پيدائش چه الله تعالىٰ په دغه حال باندے ټول خلق پيدا کړيدى او هغه دَ انسان طبيعت دے او هغه توحيد دے په دليل دَ حديث صحيح سره (کل مولود يولد على الفطرة فابواه يهودانه او ينصرانه او يمجسانه) هر بچے پيدا کيدے شى په دين (پاتے په بل مخ)

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۳۱﴾

او دَ مونځ پابندی کوئ او مهٔ کیږئ دَ ډلے دَ مشرکانو نه

مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا

یعنی دَ هغه کسانو نه چه ټکړے کړے دے دین خپل او شول

شِيَعًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ﴿۳۲﴾

مختلف ډلے هر یوه ډله په هغه طریقه بانـدے چه دَدوی سره ده خوشحاله ده.

دَ توحید بانـدے نو روستو مور او پلار ز دهٔ لره دَ فطرت نه واړوی) یهودی کړی یا نصرانی یا مجوسی. یعنی که چرے انسان دَپاره څه نور عوارض موانع نه وے نو دے به همیشه دَ توحید په عقیده بانـدے وے. لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ، دَ خَلْقِ اللّٰهِ نه مراد فطرت دے نو معنیٰ دا شوه چه هیڅ انسان دَ توحید نه بغیر په بله عقیده بانـدے نه پیدا کیږی. یا دَ خلق الله نه تقدیر مراد دے یعنی چه الله تعالیٰ چه دَ چا دَپاره سعادت یا شقاوت مقدر کړے وی نو هغه تقدیر نشی بدلیدلے. یا دَ خلق نه مراد دین دَ الله تعالیٰ دے بنا په دے معنیٰ بانـدے چه نفی په معنیٰ دَ نهی دے یعنی مه بدلوئ دین دَ توحید دَ الله تعالیٰ لره په شرک سره. ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ اقامت ئے کړے شوے دے په دلیلونو سره یا دا چه دَ ټولو پیغمبرانو په اتفاق سره کلک شوے دے. وَلٰكِنَّ سره دفع دوهم ده یعنی که څوک وهم اوکړی چه دین توحید دا سے صحیح دین وے نو دا ډیر خلق ترینه ولے مخالفت کوی نو جواب اوشو چه دا مخالفت دَدوی دَ بے علمۍ دَ وجے نه دے. په دے ایت کښ فَاَقِمْ حکم دے او دَ هغے دَپاره درے دلیلونه دی په درے جملو روستنو کښ.

سلا ۳۱. دا نور څلور اصول دی دَپاره دَ تکمیل دَ اقامت للدین انابت، تقوٰی، اقامة الصلٰوة، قطع تعلق دَ مشرکانو سره. مراد دَ انابت نه حق پرستی ده چه دَ ضد او تعصب نه بچ وی. وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ یعنی دَ هغوی سره دوستانه او شرکت په غم ښادئ کښ او مشابهت په هیڅ عمل کښ مه کوئ.

سلا ۳۲. دَ دے ځائ نه دَ مشرکانو اته صفات قبیحه ذکر کوی چه هغهٔ اسباب دی دَپاره دَ لَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ. په دے ایت کښ درے صفات ئے ذکر کړے دی اول تفریق دَ دین دویم تحزب او ډله بازی. دریم په غلط دین

وَإِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُم

او هرکله چه اورسی (رسیږی) خلقوته تکلیف رابلی خپل رب لره

مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُم مِّنْهُ

اخلاص کوونکی وی هغه ته بیا هرکله چه اوڅکوی دوی ته

رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ

دَخپل طرف نه آرام نه‌وخت یوه ډله دَ دوی نه دَ رب خپل سره

يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ

شریکان جوړوی (عاقبت دا) چه ناشکری اوکړی دَهغه نعمت چه موږ دوی ته ورکړے وی

فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ أَمْ أَنزَلْنَا

نومزے اوکړئ (دَدنیا) زرده چه پوهه به شئ. آیا نازل کړے دے موږ

باندے خوشحالی کول.دَ تفریق دَدین دا معنیٰ ده چه هریو خپل دین جدا جدا جوړ کړے دے یعنی عقیدے او عملونه یئ دَ خپل ځان نه جوړ کړیدی او هغې ته یئ دَدین نوم ایښے دے. وَكَانُوا شِيَعًا تشیع نه مراد دَ یو بل سره ملګرتیا او ډله بازی کول دی او دا تعصب دے. او خوشحالی په دین خپل دا ده چه هغه حق ګڼړی او ثواب یئ ګڼړی او په هغې باندے مالی جانی قربانی کوی.

س۳۳:- دا زجر دے او په دے کښ دَ مشرکانو یو صفت ذکر کړے دے یعنی روستو دَ دُعا دَ الله تعالیٰ نه هغهٔ سره شریک جوړول، او دا سے په سورهٔ نحل س۵۴ کښ تیر شوی دی. مُنِيبِينَ نه مراد اخلاص او اقرار دَحق پرستئ دے.

س۳۴:- په دے کښ بل صفت دَ دوی ذکر دے چه هغه کفر (ناشکری) دَ نعمت دَ الله دے لَام دَ عاقبت دے. یعنی شرک کول ناشکری ده دَ نعمت دَ الله تعالیٰ. فَتَمَتَّعُوا په سورهٔ عنکبوت س۶۶ کښ یئ لِيَتَمَتَّعُوا ذکر کړے وُو ځکه چه هلته تکلیف دَ سمندر ذکر کړے دے او هغه سخت تکلیف دے او دَهغې نه دَ مشرک. یځ کول په دے مقصد دی چه په دنیا کښ څه مزے حاصلے کړی ځکه چه مقصد دَ مشرک صرف دَ دُنیا ژوند دے او په دے آیت کښ دَ عام ضرر تکلیف ذکر دے چه دَ هغې نه نجات سبب دے دَ دُنیا دَ مزو حاصلولو دَ پاره نو دا سببیه یئ ذکر کړیدے.

عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوْا بِهٖ

په دوی باندے   دلیل   نو هغه تا یتوی (بیانوی) دَ هغه چا چه دوی ئے دَ الله تعالیٰ سره

يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً

شریکوی۔   او هرکله چه اوڅکو مونږ انسانانو ته   خوشحالی دَ دُنیا

فَرِحُوْا بِهَا ۭ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا

لوئی کوی په هغے سره   او که چرے اورسی دوی ته   بد حالی په وجه دَ هغه عملونو

قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ﴿۳۶﴾

چه مخکښې لیږلے دی لاسونو دَ دوی   دغه وخت دوی   نا امیدی کوی ۔

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

ایا او دوی ته ګوری چه   یقینًا   الله تعالیٰ   فراخوی   روزی

لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

چا لره چه اوغواړی   او تنګوی   یقینًا   په   دے کښې ډیر دلیلونه دی

ف۳۵:۔ په دے کښې هم زجر دے او ذکر دَ بل وصف دَ مشرک دے یعنی دَ مشرکینو سره په شرک باندے هیڅ دلیل منزّله نیشته معلومه شوه چه شرک صرف په تقلید سره کوی۔ اَمْ اَنْزَلْنَا استفهام انکاری دے او اشاره ده چه دَ اثباتِ دَ عقیدے دَپاره نازل کړے شوے دلیل ضروری وی۔

ف۳۶:۔ دا هم زجر دے او په دے کښې دوه صفات دَ مشرکانو ذکر کوی او دا قسم مشرک کافر دَ مخکښنی نه سخت دے په کفر کښې ځکه چه دے په هیڅ حال کښې الله تعالیٰ نه یادوی بلکه په حالت دَ نعمت کښې تکبر او لوئی کوی او په حالت دَ مصیبت کښې نا امیدی داسے کوی چه په ژبه او اندامونو سره دَ هغے اظهار کوی او دے ته قنوط ویلے کیږی۔

لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾ فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ

هغه قوم لره چه ایمان لری - نو ورکوه رشته‌دار ته حق دَ هغه

وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ

او مسکین ته او مسافر ته دا ډیر فایده‌مند دے

لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۫ وَاُولٰٓئِكَ

هغه چالره چه غواړی مخ دَ الله تعالیٰ او دغه کسان

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا

دوی پوره کامیاب دی - او هغه چه ورکوئے تاسو څه مال په نیت دَ زیاتی

لِّيَرْبُوَا فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا

چه زیات شی په مالونو دَ خلقو کښ نو نه زیاتیږی

عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ

دَ الله تعالیٰ په نیز او هغه چه ورکوئے تاسو څه زکوٰة

سـ۳۷:۔ دا دلیل عقلی دَ توحید دے او رد دے په هغه انسان باندے چه دَ هغهٔ حال په مخکښ آیت کښ ذکر کړے شو یعنی فراخی او تنګسیا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه وی نو دے تکبر او نا امیدی کوئے آیاتِ دلیلونه دی په قدرتِ کامله دَ الله تعالیٰ او قِسم قِسم حکمتونو باندے او هغهٔ څخوؤنکی دَ ایمان دی۔

سـ۳۸:۔ دا هم دَ هغه اصولو سره تعلق لری چه دَ سـ۳۳ نه شورو شوی دی۔ تیر شوے اصول دَ اصلاح دَ نفس سره تعلق لری او په دے کښ احسان دَ خلقو سره دَپاره دَ دے چه دعوت دَ حق ته لار آسانه شی۔

او دَ دے آیت ربط دَ نزدے آیت سره دا دے چه فراخی دَ رزق حاصلیګی په صله رحمیٔ او احسان دَ محتاجو سره۔ او دا خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او مراد تربینه امت دے او دا حکم په احتیاج دَ ذوالقربیٰ او په وخت دَ استطاعت دَ ورکوؤنکی کښ واجب دے ځکه چه حقه یُۓ ذکر کړے دے۔

يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ اراده نه مراد نیت کول دی نو اشاره ده چه ثواب په نیت سره حاصلیګی۔

تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ﴿۳۹﴾

چه غواړئ په هغې سره مخ د الله تعالیٰ نو دغه کسان دوی ډیروونکی دی (مالونو او اجرونو لره).

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ئې پیدا کړئ بیا روزي درکړې تاسو ته بیا به

يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ

مړه کوی تاسو بیا به ژوندی کوی تاسو آیا شته ستاسو د شریکانو نه داسے کس

مَّنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ شَيْءٍ سُبْحٰنَهٗ

چه اوکړی د دے کارونو نه څۀ کار. پاک دے الله تعالیٰ

وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۴۰﴾ ظَهَرَ الْفَسَادُ

او بره دے د هغې نه چه دوی ئې شریکان جوړوی. ښکاره شویدی عذابونه

۳۹:۔ دا منع کول دی د مقابل د احسان نه چه ربٰو او ریاء ده۔ او په دے آیت کښ تقابل دے د ربٰو او د زکوٰة په خلاف د گمان د خلقو سره۔ ځکه هغه خلق گمان کوی چه په ربٰو سره مال زیاتیږی نو اوفرمائیل فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ او گمان کوی چه په زکوٰة سره مال کمیږی نو اوئې فرمائیل فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ۔ ربٰو په مکه کښ حرام شوے نه وه لیکن یدی اوقباحتونه د هغې بیانیدل د پاره د دے چه خلق تری ځان بچ کړی یا د ربٰو نه مراد (سپک خوئی دے) چه چا لره هدیه په دے اراده ورکوی چه دے به د دے په وجه ماله زیات را کړی لکه مدارک کښ لیکلی دی۔ زکوٰة د دے نه مراد فرضی زکوٰة دے بنا په قول د هغه مفسرینو چه هغوی وائی دی چه په مکه کښ زکوٰة فرض شویوُ لیکن مقدارونه ئې نوؤ مقرر کړے شوی۔ یا مراد تری نه هره صدقه او هدیه ده په دے نیت سره چه پاک والے او زیات ثواب په هغې سره حاصلوی یعنی د زکوٰة نه معنیٰ لغوی مراد ده۔ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ئې دوباره ذکر کړو د پاره د امر د نیت او ارادے یعنی فرض نفل هر عبادت په نیت پاندے بنا دے۔ الْمُضْعِفُوْنَ په دُنیا کښ مال ئې زیاتیږی ظاهرًا او برکات ئې هم پریږدی او په اخرت کښ ثواب ډیر حاصلیږی۔

۴۰:۔ دا هم دلیل عقلی دے او ترغیب دے چه په هر عبادت کښ اراده د وجه الله کوئ ځکه هغه په تاسو باندے انعام د خلق او د رزق کړیدے

فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ

په اوچه او لوند کښې په وجه د هغه گناهونو چه کړے دی لاسونو د خلقو

لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا

د پاره د دے چه او سکوی دوی ته بعض سزا د هغه عملونو چه دوی کړے دی

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۴۱﴾ قُلْ سِيرُوا

د پاره د دے چه دوی اوګرځی طاعت د الله تعالی ته. ته اووایه اوګرځئ

فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په ملک کښې تو اوګورئ چه څنګه وو انجام

الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ كَانَ أَكْثَرُهُمْ

د هغه کسانو چه دوی نه مخکښې وو ډیر د هغوی نه

اولامات ورک او احیاء د پاره د تخویف ذکر کړیدی او بیائے په دے باندے رد د شرک صراحةً بیان کړیدے او مسئله د توحید ئے ذکر کړے ده. سُبْحٰنَهٗ کښې اشاره ده چه د الوهیت حقه او د شرکت په مینځ کښې عقلی منافات دے او تَعٰلٰی کښې اشاره ده چه الله تعالی اوچت دے او بره دے. او شُرَكَآءِ چه ټول مخلوق کوز دی دوی الله تعالی ته نشی رسیدے.

سلا:- په دے ایت کښې تخویف دنیوی دے سره د ذکر کولو د سبب د عذاب نه، الْفَسَادُ ته مراد نقصان په هره فایده کښې. فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ، هغه طوفانونه چه په هغے سره جهازونه کشتئ غرق شی. ډیر موجونه چه جهازونه نشی چلیدے، دواب د سمندر هلاکیدل د ښکار کمیدل. د باران نه کیدلو د وجے نه ملغلرے په صدفونو کښې نه جوړیدل وغیره دا عذابونه په سمندر کښې راځی.

بِمَا كَسَبَتْ، دا رنګ په سورة شوریٰ ۳۰ کښې هم دی او دا سزا د بعض عملونو ده نوکه مؤمنان وی نو د بعض نه ورته الله تعالی معافی اوکړی او که کافران وی یا مؤمنان ګنهګاران چه توبه او نه باسی نو نور عذاب ورله برزخ کښې او اخرت کښې ورکوی. يَرْجِعُونَ مراد د دے نه توبه کول په زړه کښې او په ژبه سره د پریخودلو د ګناه نه.

مُّشۡرِكِيۡنَ ﴿۴۲﴾ فَاَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّيۡنِ الۡقَيِّمِ
مشرکان وو . تو برابر کره مخ خپل دین پوخ ته

مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّاۡتِىَ يَوۡمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ
مخکښې د دے نه چه راشی ورځ چه نه به وی واپسی د هغې د الله د طرفه

يَوۡمَئِذٍ يَّصَّدَّعُوۡنَ ﴿۴۳﴾ مَنۡ كَفَرَ فَعَلَيۡهِ
په دغه ورځ به ټکړے شی خلق . چا چه کفر کړے دے نو په هغه باندې به سزا

۴۲ . دا تاکید دے د تیر شوی ایت په ذکر د عذابونو د تیر شوے منکرینو سره ، كَانَ اَكۡثَرُهُمۡ مُّشۡرِكِيۡنَ یعنی لوے سبب د عذابونو شرک وؤ او په بعضو قومونو باندے د نورو گناهونو د وجے نه هم عذابونه راغلی دی.

۴۳ . د دے ایت نه تر اخره د سورت پورے اخری باب دے په دے کښې امر دے په ټینګیدلو سره په توحید باندے او تخویف اخروی او بشارت مختصر ذکر کوی په درے ایاتونو کښې . بیا عقلی دلیلونه پنځه ذکر کوی ۴۶ ۴۸ ۴۹ ۵۰ ۵۴ ، او دعویٰ د سورت په ۴۷ کښې او زجر منکرینو ته په ۵۱ کښې او تسلی نبی صلی الله علیه وسلم ته په ۵۲ ۵۳ کښې بیا تخویف اخروی په ۵۵ ۵۶ ۵۷ او زجر په انکار د قران سره په ۵۸ ۵۹ کښې او اختتام ذکر کوی په تسلیٰ سره چه متعلق دے د اوّل د سورت سره په ۶۰ کښې . په دے (۴۳) کښې حکم کوی په اقامت د دین د پاره د دفع کولو د عذاب چه مخکښې ایاتونو کښې ذکر کړے شو . او اَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّيۡنِ الۡقَيِّمِ نه مراد ټینګیدل دی توحید باندے سره د مخالفت د اعمالو د مشرکانو نه . هر کله چه دلیلونه ئے په توحید باندے ډیر بیان کړل او د مشرکانو قباحت ئے هم ذکر کړل او لوے سبب د عذاب ئے ذکر کړو چه شرک دے نو د هغے نه معلومه شوه چه دین د توحید قَيِّم (کلک) دین دے . د دے وجے نه په دے ایت کښې د دین سره ئے قَيِّم راوړو . لَا مَرَدَّ دا مصدر میمی دے . مِنَ اللّٰهِ دا متعلق دے يَاۡتِىَ پورے (یعنی راځی به دا ورځ د طرف د الله تعالیٰ نه) یا متعلق په محذوف پورے چه مَرَدَّ په هغې باندے دلالت کوی یعنی (نشی واپس کولے هغې لره هیڅوک د الله تعالیٰ نه) یا متعلق دے په مصدر پورے یعنی (نیشته واپسی د هغې د طرف د الله تعالیٰ نه) يَصَّدَّعُوۡنَ کښې د ډلو جدا کیدل مراد دی صدع دلالت کوی په شق باندے اشاره ده چه یو بل نه پوره جدا شی.

كُفْرُهٗ ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ

ذکفر د هغه دی او چاچه عمل کړے وی موافق دَ سنّت سره نو دوی خپلو ځانو لره.

يَمْهَدُوْنَ ﴿۴۴﴾ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

بِه ځائے تیار دی دَپاره دَ دے چه بدله ورکړی هغه چاته چه ایمان ئے راوړے دَے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ

او عملونه ئے کړے دی دَ سنّت موافق دَ فضل خپل نه یقینًا الله تعالیٰ

لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ

نه خوښوی کافرانو لره - او بعض دَ دلیلونو دَ توحید او دَ قدرت دَ الله تعالیٰ نه

اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِيُذِيْقَكُمْ

دا چه رالیږی هواګانے زیرے ورکوونکی او دَپاره دَ دے چه او سکوی تاسو ته

مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ

څه حصه دَ رحمت خپل نه او دَپاره دَ دے چه روانے وی کشتۍ په حکم دَ الله تعالیٰ سره

وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾

او دَ دے دَپاره چه اولټوئے دَ فضل دَ الله تعالیٰ نه او دَ دے دَپاره چه شکر اوکړئے تاسو -

---

۴۴:- په دے کښ دَ دواړو ډلو ذکر دے په تخویف او بشارت سره. يَمْهَدُوْنَ ځائے دَ آرام تیاروی دَ ځان دَپاره په قبر کښ او حشر کښ - مَنْ عَمِلَ صَالِحًا دلته عمل عام دے عقیدے (ایمان) او اعمالو ته شامل دے.

۴۵:- دا هم متعلق دے په تیر شوی ایت پورے په لف نشر غیر مرتب سره - لِيَجْزِيَ متعلق دے په يمهدون پورے. مِنْ فَضْلِهٖ اشاره ده چه جزاء محض فضل دَ الله تعالیٰ دے، په الله تعالیٰ باندے واجب نه ده - اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ متعلق دے فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ پورے -

۴۶:- دا یل دلیل عقلی دے او په دے کښ وجه دَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِيْنَ ده یعنی کافر دَ پیکاره ایاتو نه منکر دے او دَ هواګانو دَ رالیږلو ئے پنځه فائدے ذکر کړیدی اول بشارت په باران سره دوئیم رحمت او مراد تری نه او یه او اونے بوټی او په هغے سره خوراک څکاک وغیره دی دریم چلیدل دَ کشتو په هواګانو (پاتے په یل مخ)

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰی

او یقینًا لیږلے دی موږ ستا نه وړاندے رسولان

قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا

قومونو د هغوی ته نو راوړل ئے دوی ته ښکاره احکام نو بدله واخسته موږ

مِنَ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا ؕ وَكَانَ حَقًّا

د مجرمانو نه او دے ضروری

عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ اَللّٰهُ الَّذِىْ

په موږ باندے مدد کول د مؤمنانو سره۔ الله تعالیٰ خاص هغه ذات دے

يُرْسِلُ الرِّيٰحَ فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهٗ

چه رالیږی هواګانے نو را اوچتے کړی ورېځے نو خورے کړی هغے لره الله تعالیٰ

فِى السَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهٗ كِسَفًا

په بره طرف کښ څه رنګه چه اوغواړی او ګرځوی الله تعالیٰ دا ورېځے ټکړے ټکړے ئے باندے

فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ فَاِذَآ

نو وینے ته څاڅکی د باران چه راوځی د مینځ د هغے نه نو کوم وخت

سره لیکن په امر د الله تعالیٰ سره ځلورم طلب د رزق په بحری سفر سره پنځم شکر په دغه انعاماتو باندے۔

سکّ :- هر کله چه ظاهری انعامات ئے ذکر کړل نو اوس باطنی انعام ذکر کوی او مقصد پکښ تائید د دعوے د سورت دے۔

حَقًّا عَلَيْنَا داحق الله تعالیٰ په ځان باندے لازم کړے دے په سبب د وعدے خپلے سره او دینه حق تفضلی ویلے کیږی داحق واجبی نه دے پښان د وجوب په بندګانو باندے او د دے نصرت یو مثال په حدیث د ترمذی کښ ذکر دے (ترجمه) "نیشته یو مسلمان شخص چه حفاظت اوکړی د عزت د یو مسلمان رور مګر حق دے په الله تعالیٰ باندے چه لرے کړی به د هغه نه اُور د جهنم په ورځ د قیامت"۔ بیائے اولوستلو دا آیت وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ۔

أَصَابَ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ إِذَا هُمْ

چه اورسوی هغه لره هغه چاته چه اوغواړی الله تعالیٰ د بندګانو خپلو نه دغه وخت دوی

يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَإِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِ

ډیر خوشحاله شی . اګرچه وو دوی مخکښ

أَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِيْنَ ﴿۴۹﴾

د رالیږلو د باران نه په دوی باندے مخکښ د دے وخت نه ناامیدی کوونکی .

فَانْظُرْ إِلٰٓى اٰثٰرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ كَيْفَ يُحْيِ

نو اوګوره نښو د رحمت د الله تعالیٰ ته چه څه رنګه تازه کوی الله تعالیٰ

الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ إِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ

زمکه روستو د اوچیدلو د هغے نه یقیناً دغه ذات ضرور ژوندی کوونکے د مړو دے

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾ وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا

او هغه په هر څیز باندے قدرت والا دے . او که چرے اولیږو مونږ

سڅ . دا یل دلیل عقلی دے او مثال د نصرت الٰهیه دے لکه چه روستو د ناامیدئ د خلقو نه الله تعالیٰ باران اوکړی او خلق خوشحاله شی نو دا رنګ روستو د کمزورولی د مؤمنانو نه الله تعالیٰ په هغوی له نصرت او فتح ورکوی . او په دے ایت کښ د وریځو مختلف حالات یئ ذکر کړے دی د هغے راپورته کیدل د هغے خوریدل د هغے ټوټے ټوټے کیدل د هغے نه باران راوتل . اشاره ده چه دا ټول تصرف د الله تعالیٰ دے او دا سے حال اکثر د سپرلی په موسم کښ پیدا کیږی .

سڅ . دا تتمه د مخکښ ایت ده . د من قبله ضمیر وریځ ته راجع دے او یا بادو وخت ته راجع دے او یا قرآن ته راجع دے یعنی د قرآن د هدایت نه وړاندے دا خلق د جهل د وجے د سوکړے په وخت به ډیر ناامیده کیدل د رحمت د الله تعالیٰ نه .

سڅ . دا یل دلیل عقلی دے او د تیر شوی ایت سره تعلق لری یعنی اشارة د باران ذکر کوی ځکه چه دلته د رحمة الله نه مراد باران دے او د آثار نه مراد بوټی و نے فصلونه وغیره دی . کَيْفَ يُحْيِ دا د آثار تفسیر دے . إِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى دا اثبات د قیامت دے په حیات د زمکے سره روستو د موت د هغے نه په طریقه د قیاس سره .

بِرِيحًا فَرَاَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ

سیلۍ نو اُوینی دوی فصل لره زیړ نو شوروبه شی روستو ذَ هغه نه چه

يَكْفُرُوْنَ ﴿۵۱﴾ فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَلَا

کفر به کوی - پس یقینًا ته اورول نشے کولے مړوته او

تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۲﴾

اورول نشے کولے کڼرو ته بلنه هرکله چه دوی اوګرځی شا کوونکی -

وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِ الْعُمْیِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ

او نه یې ته هدایت کوونکے ړندوته چه رااُوباسے دَ ګمراهۍ ذَ هغوی نه

۵۱:- دا زجر دے یعنی سرهٔ ذَ نعمت ذَ باران او ذَ فصلونو نه که چرته ذَ دوی کیدلو عملونو په وجه سره په دغه فصلونو باندے سیلۍ ذَ عذاب راشی او مړاوے او زیړ شی نو دوی توبه نه اوباسی بلکه کفر کوی۔

فائده:- ذَ فائدے هواګانے اکثر په صیغه ذَ جمع سره ذکر کیږی رِيَاحٍ لکه چه مخکښ دوه ایاتونوکښ یے ذکر کړو۔ او ذَ عذاب هوا مفرد ذکر کیږی او ذَ دے وجه دا ده چه ذَ رحمت او فائدے هواګانے ډیرے وی او ذَ عذاب سیلۍ کله کله وی۔

۵۲ ۵۳ :- هرکله چه ذَ دلیلونو نه ذَ مخالفینو انکار یے (په تیرشوی ایت کښ) ذکر کړو نو اوس یو اعتراض دفع کوی یعنی که څوک اعتراض اوکړی چه دا انکار ذَ دوی ذَ وجے ذَ نقصان ذَ دلیلونو نه دے نو جواب اوشو چه دلیلونه خو پوره مؤثر دی ځکه چه مؤمنانو ترینه فائدے اخلی لیکن په منکرانوکښ موانع ذَ دوی ذَ طرف نه موجود وی هغه دا چه دوی ټول حواس ځان له بے کاره کړے دی۔ ذَ مړو پشان یا بعض حواس یے بے کاره کړے دی لکه کونړ یا ړوند۔ سورة نمل کښ ذَ انك لا تسمع نه روانده ایاتونه په اِنَّ سره مصدار تیر شوے وو نو ځکه په هغه سورت کښ یے په اِنَّ سره راوړے وو او دا رنګ هغه علت وؤ ذَ یاره ذَ ماقبل او په دے سورت کښ دا تفریع ده په ماقبل باندے او په تفریع باندے فاء داخلیږی۔ او په دے سورت کښ فاء په ۲۷ ۳۰ ۳۸ ۴۳ کښ هم ذکر کړے ده۔

فائده:- هر چه ذَ مړو افهام (پوهه کول) ممکن نه دے نو هغه یے اول

إِنْ تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ

اوروَل نه شئ کولے ته مگر هغه چاته چه یقین لری په آیاتونو زمونږ نو دوی

مُسْلِمُونَ ۞ اَللّٰهُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِنْ

حکموته منی - خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی یئ تاسو دَ

ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضُعْفٍ

کمزورے نه بیا یئ گرځولے دے روستو دَ کمزورئ نه

قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا

طاقت بیا یئ گرځولے دے روستو دَ طاقت نه کمزوری

ذکرکړو بیا دَکوتر افهام ډیر سخت دے نو هغه یئ ورپسے ذکرکړو بیا دړوند لږ سخت دے نو هغه یئ روستو ذکرکړو نو په دے تشبیهاتو کښ تنزّل دے دَ اعلیٰ نه ادنیٰ ته اشاره ده چه دَ قران نه هغه څوک فائده اخستے شی چه په ټولو حواسو سره ورته توجه اوکړی. او دارنګ په دے درے تشبیهاتو کښ دَ کافرانو هغه درے حالاتو ته اشاره ده کوم چه په (خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ وَعَلٰى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ) کښ ذکر دی.

مسئله دَ سماع موتیٰ

(۱- ایا مړی دَ دُنیا والو خبرے اوری او که نه اوری) مقام دَ دے مسئلے (دَ مړو نه اوریدل خبرو دَ ژوندو لره) دا اتفاقی مسئله وه. قول دَ امام شافعی رحمة الله او دَ امام احمد رحمة الله تعالیٰ په مغنی دَ ابن قدامه ص۴۱۵/۲ او په تکمله دَ شرح مهذب للنووی ص۱۹۰/۱۸ کښ ذکر کړیدی او دَ دغوی دلیل یئ آیت دَ سورة فاطر وما انت بمسمع من فی القبور ذکر کړے او دَ امام ابوحنیفه رحمة الله په الکوکب الدری شرح الترمذی ص۳۱۹/۱ کښ او په تفسیر مواهب الرحمان ص۷۸/۲۱ او تفهیم المسائل ص۳۱ کښ ذکر کړے دے او دارنګ په تفسیر دَ آیت انما یستجیب الذین یسمعون والموتیٰ یبعثهم الله (۳۶ سورة انعام) تفسیر خازن ص۱۲/۲ تفسیر نیشاپوری ص۱۳۳/۷ تفسیر ابن جریر ص۱۱۸/۷ کښ لیکلی دی چه مړی نه اوری.

او دارنګ فتح القدیر ص۶۹ کتاب الجنائز کښ ویلے دی چه دَ اکثرو علماؤ احناف قول دا دے. دارنګ عینی په عمدة القاری ص۲۰۲/۸ کښ لیکلے دی چه مړی نه اوری. شیخ رشید احمد گنگوهی لیکلے دی چه دا قول دَ عائشه رضی الله عنها او ابن عباس رضی الله عنهما دے او دا قول دَ ملا علی قاری دے په (پاتے په بل مخ)

شرح فقه اکبر ص۱۵۹ او دا قول دَ تفتازانی دے شرح مقاصد ص ۲/۲۳۲ . او دَ دے نه علاوه نور هم دَ فقهاؤ محدثینو دا قول دے۔ که څوک اعتراض اوکړی چه عبد الله ابن عمر رضی الله عنه (دَ حدیث قلیب بدر) په وجه دَ دے قائل دے نو معلومه شوه چه مسئله کښ دَ صحابه کرامو اختلاف وُو ، اول جواب دا دے چه هرکله عائشه رضی الله عنها دَ هغے حدیث مقصد بیان کړو نو ابن عمر رضی الله عنه دَ هغے جواب نه دے کړے نو اختلاف ختم شو ، دویم جواب دا دے چه دا یو منصوص موضع کښ ابن عمر رضی الله عنه قائل دے۔
هاں اختلاف دَ اهلِ علمو په دے کښ شته چه مواضع منصوصه کښ سماع ثابت ده او که نه ده۔ اکثر احناف وغیره مواضع منصوصه کښ هم دَ سماع قول نه دے کړے بلکه دَ هغے تاویلو نه یې کړیدی لکه چه روستو به ذکر کړیشی۔
او بعض اهلِ علم صرف په مواضع منصوصه کښ دَ سماع قائل دی لکه امام بخاری او صاحب دَ فتح القدیر په سماع دَ قرع النعال قائل دی او شیخ الاسلام ابن تیمیه او ابن قیم رحمهما الله هم په مواضعو منصوصو کښ قائل دی او دا رنګ علامه آلوسی مفسر دَ روح المعانی او شاه انور شاه کاشمیری مصنف دَ فیض الباری شرح بخاری هم په مواضع منصوصو کښ دَ سماع قائل دی۔ او مواضع منصوصه صرف درے دی یو سماع دَ قرع النعال دویم حدیث بدر دا دواړه صحیح احادیث دی او دریم حدیث دَ سلام دے چه په هغے کښ ذکر دَ اوریدلو دَ سلام او جواب ورکول دی لیکن هغه حدیث صحیح نه دے لکه چه روستو به ذکر کړے شی او څوک چه دَ مړی دَ هر وخت دَ اوریدلو عقیده لری نو دَ هغوی هیڅ صحیح دلیل نیشته نو دا عقیده دَ بدعت ده او کله چه دَ دے عقیدے دَ وجے دَ مړی نه شفاعت غواړی نو دا شرک ته ذریعه ده او کله چه دَ مړی نه حاجت پوره کیدل غواړی نو دا خو بالکل شرک حقیقی دے۔ دلیل دَ مړو دَ نه اوریدلو انک لا تسمع الموتی (سورة نمل) فانک لا تسمع الموتی (سورة روم) وما انت بمسمع من فی القبور (سورة فاطر) آیاتونه دی۔ طریقه دَ استدلال یې دا ده چه الله تعالیٰ په دے آیاتونو کښ تشبیه دَ کافرانو (عنادیانو) دَ مړو سره ورکړیده په نه اوریدلو کښ (لکه چه په دے باندے تفسیر ابن جریر دَ دے آیت دَ لاندے تصریح کړے ده او نور مفسرینو هم او صاحب دَ فتح القدیر هم) او وجه شبهه په مشبه به کښ زیاته وی یا مشهور وی نو معلومه شوه چه مړی نه اوری په دے کښ استدلال دے په اشارة النص سره او هغه هم یقینی دے اګر چه عبارة النص دَ دے آیاتونو بیان دَ نه اوریدلو دَ عنادیانو دے بیا په دے استدلال

باندے څو اعتراضونه دی د هغے جوابونه لیکلے کیدلے شی. اول اعتراض په دے
ایاتونو کښ نفی د اسماع ده نفی د سماع خو نه ده؟ اول جواب دا دے چه عائشے رضی الله
عنها په دے سره دلیل نیولے دے د پاره د نه اوریدلو د مړو او هغه اهل لغت
عربیه ده نو که دا استدلال صحیح نه وے نو هغے پرے ولے استدلال کوؤ.
دویم جواب سماع مطاوع او تابع (اثر) دے د پاره د اسماع او په نفی د مطاوع
سره نفی د مطاوع ضرور راځی. دویم اعتراض اسماع په معنی د پیدا کولو د سماع
او د توفیق ورکولو ده لکه چه انک لاتهدی من احببت کښ راغلے دی؟
جواب اول خو دلیل نیول د عائشه رضی الله عنها دے. دویم جواب الزامی دا دے چه
وړیسے فرمائیلے دی ان تسمع الا من یؤمن نو ایا دلته دا معنی صحیح کیږی؟
چه ته سماع نشے پیدا کولے مګر (هغه چا لره پیدا کولے شے) چه ایمان لری
دا معنی خو باطله ده نبی صلی الله علیه وسلم خو هیچا له نه سماع پیدا کولے شی
او نه توفیق ورکولے شی. دریم اعتراض دا تشبیه صحیح نه ده ځکه چه مړی نه
اوری او کافران اوری خو فائده ترینه نشی اغستلے نو معلومه شوه چه مړی اوری
خو فائده نشی اغستلے؟ اول جواب استدلال د عائشه رضی الله عنها دے. دویم
جواب الزامی دے چه هرکله مړے اوری خو فائده نشی اغستلے نو د هغوی سره
خبرے کول عبث کار شو او عبث کار کول ناجائز دی. دریم جواب دا دے چه
تشبیه صحیح ده ځکه وجه شبه جنس نه اوریدل دی او د هغے دوه نوعے دی یو نه
اوریدل مطلقاً او دویمه نوعه نه اوریدل په طریقه د عدم انتفاع سره نو جانب د
مشبه به (یعنی مړی) کښ نه اوریدل دی او په جانب د مشبه (کافرانو) کښ نه
اوریدل په طریقه د نفع اغستلو لکه زید کالاسد کښ وجه شبه شجاعت دے لیکن
په اسد کښ شجاعت د افتراس (خلق شلول او خوړل) دی او په زید کښ صرف
شجاعت دے او تشبیه صحیح ده. څلورم جواب الزامی دے چه دا اشکال خو وړیسے
جمله کښ هم لازمیګی ولاتسمع الصم یعنی کوڼ هغه وی چه هیڅ نه اوری او حال
دا چه تشبیه د کافرانو ئے ورسره کړے ده نو د دے څه جواب دے؟ نو هغه جواب
به په اوله جمله کښ هم کیدے شی.
څلورم اعتراض بعض مفسرینو د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه مراد
د موتی نه موتی القلوب دی یعنی چه زړونه ئے مړه وی او هغه خو کافران دی؟
جواب دا دے چه یو اشارة النص دے (چه هغه د عبارت د رونډ نه معلومیګی)
او بل عبارة النص دے (هغه چه مقصد د عبارت د چلیدلو وی) (پاتے په بل مخ)

اومراد چه چا ذکر کړے دے نو دَ عبارة النص په لحاظ سره او استدلال دَ ښه
اوریدلو په لحاظ دَ اشارة النص سره دے بعضو خلقو اعتراض کړے دے چه فقهاؤ
دَ مړو دَ نه اوریدلو مسئله په باب دَ قسم کښ ذکر کړیده او هرکله چه بنا دَ قسمونو په
عرف باندے وی نو دَ دے نه نه معلومیګی چه مړے بلکل نه اوری۔ اول جواب
دادے چه فقهاؤ دا مسئله په باب دَ تلقین دَ مړی کښ او دَ سلام دَ جنازه کښ هم
ذکر کړیده لکه فتح القدیر او بحر الرائق کښ۔ دویم جواب چه هرکله په عرف کښ
نه اوری، نو معلومه شوه چه شرعًا هم نه اوری، ځکه چه عرف خلاف دَ شرع نه
معتبر نه وی خاص طور په شرعی مسائلو کښ، دریم جواب دادے چه په مغنی د
ابن قدامه او په تکمله دَ شرح مهذب کښ دَ دے مسئلے دلیل یئ دا ایت ذکر
کړے دے وما انت بمسمع من فی القبور عرف یئ نه دے ذکر کړے ځینے احادیث
چه دَ هغے نه دلیل نیولے کیدیشی دَپاره دَ اثبات دَ سماع موتی او دَ هغے جوابونه"!
حدیث اول. سماع المیت قرع النعال (یعنی مړے چه دفن کړے شی او خلق تر ینه
واپس راروان شی نو دے کشار دَ پیزار اوری چه دغه وخت ورته ملائک دَ سوال
وجواب راشی اه) اول جواب دادے چه دا خاص دے په وخت دَ دفن پورے
کوم وخت چه کیښودے شی په قبر کښ لکه چه دا قول دَ ابن همام دے او دا قول
دَ امام بخاری رحمة الله هم دے۔ دویم جواب دادے چه دا جمله تنجیزیه ده ظاهرًا او
تعلیقیه ده معنیٰ دا شوه یعنی لوکان حیًا په کښ پټ دے که دا شخص ژوندے وے
نو اوریدل به یئ کړے وے۔ او دا تعلیق دَ دے وجے نه دے چه ملائکو تراوسه
پورے دهٔ ته روح نه دے راوړے نو دے څه رنګه اوری او دا قول دَ ملا علی قاری
په مرقات شرح مشکوٰة ص۱۹۸ کښ نقل کړے دے۔
دریم جواب دا تمثیل دے دَ زر راتللو دَ ملائکو دے مړی ته دَپاره دَ سوال وجواب
یعنی دا ملائک داسے زر راځی که دے ژوندے وے نو دَ دے خلقو دَ پیزار کشار
به یئ اوریدلے وَے دَ وجے دَ نزدے والی دَ هغے نه دا رنګ په الکوکب الدری
ص۳۱۹ کښ ذکر کړے دی۔ څلورم جواب۔ عبارت دَ دے حدیث انّه یسمع قرع نعالهم
دے یعنی یسمع صیغه دَ مجهول ده او قرع مرفوع دے نائب فاعل دے۔
پنځم جواب دادے چه اوریدل دَ کشار دَ پیزار مستلزم نه دے اوریدلو دَ خبرو لره
ځکه چه یو شخص دَ کوټے دَ چت دَپاسه ګرځی او دروازے بندے وی نو لاندے
شخص دَ دهٔ دَ پښو دَ ګرځیدلو کشار اوری لیکن خبرے یئ نه اوری او دا ښکاره
خبره ده۔ شپږم جواب دادے چه دَ دے حدیث په سند کښ یو راوی

عبدالاعلی بن عبدالاعلی دے او په دهٔ کښې کلام دے لکه چه لسان المیزان ج۴ ص۹ کښې نقل دی۔

حدیث دویم۔ حدیث دَ قلیب بدر دے ریعنی څوارلس مشران دَ قریشو کافرانو لره په کوهی کښې اوغورځولے شو او بیا ورسره دریے ورځې روستو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرے اوکړلے۔ (اھ) اول جواب دا دے چه عایشه رضی الله عنها دَ دے مراد په علم سره بیان کړے دے یعنی دا مړی په هغهٔ عذاب باندے پوهیږی کوم چه ما دوی ته خبر ورکړے وؤ او سمع په معنیٰ دَ علم سره راتلے شی او عایشه رضی الله عنها دلیل نیولے دے په ایت دَ قران سره۔ او امام بخاری په ج۲ ص۵۶۷ کښې ذکر کړے دی۔ دویم جواب دا دے چه دا معجزه ده او خاص ده په نبی صلی الله علیه وسلم پورے او دلیل په دے باندے قول دَ قتاده دے چه امام بخاری په ج۲ ص۵۶۷ کښې نقل کړے دے چه الله تعالیٰ دغه وخت دوی لره ژوندی کړل دَ دے دَپاره چه قول دَ نبی صلی الله علیه وسلم ورته واؤروی۔ دریم جواب دا مختص دے صرف په دغه کسانو پورے کوم چه قلیب بدر ته یے غورځولے وؤ په دلیل دَ الفاظو دَ تخصیص سره چه راغلی دی په دغه حدیث کښې ما انتم باسمع لما اقول منهم یعنی دَ څپل قول تخصیص یے کړے دے۔

حدیث دریم۔ حدیث دَ سلام په قبرونو باندے په صیغه دَ خطاب او حرف ندا سره (یاد) اول جواب دا دے چه صرف خطاب مستلزم دَ اوریدلو ته دے او دَ دے دَپاره په عربیٔ کښې ډیر شواهد موجود دی قران کریم سورة صافات ۹۱، ۹۲ کښې خطاب شته او اوریدل نیشته او دارنګ حرف دَ ندا اوریدلو لره مستلزم نه دے۔ عرب ډیر کرتے ندا دَ نورمقصدونو دَپاره مستعملوی او مړی ته ندا په نیز دَ عربو او نحویانو دَ ندبے (ویرکولو) دَپاره وی په هغے کښې اوریدل مقصد نه وی۔ دویم جواب دا دے چه دَ اسلام دَ تحیه نه دے او اوریدل او جواب نه غواړی بلکه سلام په مړی باندے دُعا دَ سلامتیا وی دارنګ بحرالرائق ص۔ او طحطاوی ص۳۳۳ کښې لیکلے دی۔

حدیث څلورم۔ حدیث دَ سلام په قبر باندے چه قبروالا یے پیژنی او جواب دَ سلام ورکوی؟ جواب دا دے چه دا حدیث ضعیف دے په دے کښې ابن سمعان راوی دے، میزان الاعتدال او تهذیب التهذیب کښې یے دهٔ ته کذاب او وضاع ویلے دی او بل راوی یحیٰ بن یمان دے او هغهٔ ته هم میزان اعتدال لیس بالقوی ویلے دی او دارنګ آلوسی په تفسیر روح المعانی کښې دَ دے ایت په تشریح کښې او الصارم المنکی ص۱۸۶ کښې دے حدیث ته ضعیف ویلے دی۔ (باتے په بل مخ)

وَشَيْبَةً ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ وَهُوَ الْعَلِيمُ

او بوډا والے پیدا کوی څه چه اوغواړی اوخاص الله تعالیٰ په هرڅه پوهه

الْقَدِيرُ ﴿٥٤﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ

او قدرت والا دے ۔ او په کومه ورځ چه قیامت قائم شی قسمونه به کوی

الْمُجْرِمُونَ ۙ مَا لَبِثُوا غَيْرَ سَاعَةٍ ۚ كَذَٰلِكَ

مجرمان نه وو ایسار شوی دوی زیات ذ ساعت نه دغه شان

تنبیه:تفسیر ابن کثیر کښ ډیر احادیث ذکر کړے دی چه دلالت کوی په اوریدلو ذ مړو باندے ؟ اول جواب دادے چه په هغے کښ هیڅ حدیث صحیح متصل نیشته په بعضو ذ هغے باندے تفسیر ابن کثیر روح المعانی کښ حکم ذ ضعف کړے دے او ذهریو په سند باندے کلام کولو سره ډیر اوګد والے راځی ځکه مونږ اختصار اوکړو۔ دوېم جواب دادے الشیخ محمد نسیب الرفاعی په مختصر ذ ابن کثیر ص۴۸۹ ج۲ کښ ویلی دی چه په نسخه ذ ابن کثیر طبع بیروتی دارالاندلس کښ زیاتے راغلی دے (ذ دغه احادیثو وافیو) په بله نسخه ذ ابن کثیر کښ دښ (ذ ځان نه داخل) کړے شوید ے شان ذ ابن کثیر ذدے نه اوچت دے۔

فائده: حافظ ابن حجر فتح الباری کښ عائشه رضی الله عنها رجوع ذکر کړیده ؟ اول جواب دادے چه ابن حجر دا په شک سره ذکر کړیدے (فان کانت محفوظة) دوېم جواب دادے چه په دیکښ یو راوی یونس بن بکیر دے او هغهٔ ته په تهذیب التهذیب ص۴۳۴ ج۱۱ کښ ئے ضعیف اوبے حجته ویلی دی۔

دریم جواب ذ دے په سند کښ محمد بن اسحاق دے او هغه ته امام مالک اوهیشام او سلیمان تیمی وغیره کذاب ویلی دی۔ نو معلومه شوه چه اثبات ذ سماع موتیٰ ذ پاره بغیر ذ حدیث قرع النعال او حدیث قلیب بدر نه بل هیڅ صحیح حدیث نیشته او ذ هغه دواړو جواب ذ تخصیص یا تاویل ذکر کړے شوے دے نو پس ذ دے نه صرف ذ رجالو اوذ اشخاصو په اقوالو (بے دلیله) سره دهوکه کیدل نه دی پکار۔

سټه :۔ دا بل دلیل عقلی دے او په دیکښ انقلاب ذ حالاتو ذ انسانانو ذکر کوی۔ اوتیر شوی ایت سره ربط دادے چه اسماع او هدایت ذ دے وجے نه ذ الله تعالیٰ په اختیار او قدرت کښ دے چه دا انقلاب ذ حالاتو چه په دے ایت کښ ذکر دے دا هم ذ الله تعالیٰ په اختیار کښ دے۔ مِنْ ضَعْفٍ مراد تر ینه نطفه ده چه کمزورے او یه دی

كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

دوی اوړیدلے کیدل دَ حق نه۔ او اوبه وائی هغه کسان چه ورکړے شوے دے علم

وَالْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ

او ایمان یقیناً وخت تیر کړے دے تاسو په لیکلے شوے تقدیر دَ الله تعالیٰ کښ

اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ز فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ

تر ورځ دَ دوباره ژوندے پورے نو دا ورځ دَ دوباره ژوندے دہ

وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۶﴾

لیکن تاسو وئے چه پوهه هم نه لرله۔

لکه چه سورة مرسلات سـ۲۰ کښ (ماءٍ مهين) ویلے دی یا مراد ترینه حالتِ ضعیفه دے په ابتداء دَ ولادت کښ مِنْ په معنیٰ دَ فی دے۔ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ اسم ظاهر ئے ذکر کړو په دے کښ کمزورئے دَ طفولیت ته اشاره ده چه هغه ضعف دَ ابتداء مونو دے۔ او قوت نه مراد طاقت دَ ځوانئ دے۔ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ په دے کښ طاقت دَ عقل او پوهے ته اشاره ده۔ ضُعْفًا دَ دے نه مراد ضعف دَ ټولو قوتونو دے وَشَيْبَةً دَ دے نه مراد ښکاره آثار دَ بوډا والی دی چه سپین والے دَ ویښتو دے۔

۵۵۔ په دے کښ تخویف اخروی دے یعنی دَ تیر شوی آیت نه معلومه شوه چه دے انسان په دنیا کښ تر بوډا والی پورے عمر او ژوند تیر کړے دے لیکن دَ هیبت او دَ رعب دَ قیامت دَ وجے نه یا دَ ضد او عناد دَ وجے نه په دوی انکار کوی او قسمونه په کوی او دا رنګ حال دَ دوی په سورة احقاف سـ۳۵ او په سورة نازعات سـ۴۶ او په سورة طٰهٰ سـ۱۰۴ او په سورة مؤمنون سـ۱۱۲ کښ ذکر دے۔ كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ یعنی په دُنیا کښ دوی دَ حق دَ خبرے نه اوړیدلے وو په جهل او ضد کولو سره دغه شان په ورځ دَ قیامت کښ هم دی.

سـ۵۶۔ دا رد دے دَ دوی په دغه انکار باندے۔ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ هر کله چه ایمان تفصیلی بغیر دَ علمِ قرآن او سنّت نه نهٔ حاصلیګی دَ دے وجے نه علم ئے په ایمان باندے مخکښ کړو۔ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ کتاب نه مراد تقدیر دے یعنی په هغه عمر او رزق وغیره کښ چه الله تعالیٰ ستاسو دَ پاره مقرر کړے وو یا مراد دَ کتاب نه علم دَ الله تعالیٰ دے او په دے کښ احوال دَ قبر او برزخ هم داخل دی۔

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنفَعُ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَعْذِرَتُهُمْ

نو په دغه ورځ نفع به نه ورکوي ظالمانو ته بهانې د هغوی

وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٥٧﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا

او نه به د دوی توبه قبلولې شي. او یقیناً بیان کړیدی مونږ

لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ

خلقو ته په دې قرآن کښې د هر قسم بیان ته

وَلَئِن جِئْتَهُم بِآيَةٍ لَّيَقُولَنَّ الَّذِينَ

او که چرې ته راوړې دوی ته یو آیت نو یقیناً وائي هغه څوک

كَفَرُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ﴿٥٨﴾

چه کفر یې کړے دے چه تاسو نه یئ مګر باطل پرست یئ.

كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الَّذِينَ

د غسې مهر وهي الله تعالیٰ په زړونو د هغه چاچه

۵۷ :- دا هم تخویف کښې داخل دے یعنې روستو د شهادت کولو د اهل علمونه د دوی هیڅ بهانه منظوره نه ده. وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ دا د عتبٰی نه ماخوذ دے په معنیٰ د رجوع کولو سره او مراد د رجوع نه توبه کول دی یعنې د دوی نه به توبه نه طلب کیږي یا د عتاب نه دے او استفعال د پاره د سلب دے یعنې ازاله د عتاب (خفګان) او مراد تری نه رضا کول دی یعنې د دوی نه به رضا کیدل نشي کیدلے.

۵۸ :- په دے کښې اول ترغیب دے قرآن ته او آخری زجر دے متکرینو ته یعنې عذر ورته ځکه نفع نه ورکوي چه الله تعالیٰ د قرآن په ذریعه د دوی عذر زائل کړے دے او بیا هم دوی انکار کوو. مِن كُلِّ مَثَلٍ مراد دے ته مختلف قسمونه د بیان دی. دلیلونه، مثالونه، زجرونه، بشارتونه، تخویفات وغیره.

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ هر کله چه معجزه راوړل صرف د پیغمبر کار دے په اذن د الله تعالیٰ سره او بیا ورسره مؤمنان ملګري شي نو د دے وجے نه جِئْتَهُم کښې مخاطب یې مفرد ذکر کړو او إِنْ أَنتُمْ کښې جمع ذکر کړه.

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۹﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ

نه پوهیږي پس صبر کوه یقینًا وعده دَ الله تعالیٰ حقه ده

وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۶۰﴾ ع

او بې همته نکړي تا لره هغه کسان چه یقین نه لري۔

رکوع ۶

ف۶۰:۔ دا تسلّي ده نبي صلّی الله علیه وسلّم ته او تفریع ده په ټول سورت باندې یعني هر کله چه سورت کښ دلیلونه تفصیلي او مثال او زجرونه وغیره بیان شول او بیا هم دا منکرین ضد او عناد کوي نو صبر کوه دَ دوي په انکار باندې۔ او دا ایت متعلق دې دَ ابتداء دَ سورت سره یعني وَعْدَ اللّٰهِ نه مراد نصرت دے دَ مؤمنانو سره دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه۔ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ مراد دَ دے نه تا بې صبرۍ دَ وجې نه عذاب غوښتل دي په تلوار سره او دعوت او تبلیغ پرېښودل دي۔

تمّ تفسیر سورة روم والحمد لله واستغفر الله تعالیٰ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُورةِ لقمان

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سره په ډیرو وجوهو سره دے. اوله وجه دا چه سورة عنکبوت کښ ترغیب دؤ جهاد او دعوت ته نو سورة روم کښ دَ هغے نتیجه ئے بیان کړه په نصرت او انقلاب سره. نو اوس په دے سورت کښ دَ هغهٔ جهاد طریقه بیانوی په واقعه دَ لقمان سره چه په دے طریقه جهاد اوکړے شی نو نصرت الٰهی به حاصلیگی یعنی لقمان دعوت شورو کړے دے دَ رد دَ شرک نه دا رنګ هغهٔ دعوت دَ عقیدے او دَ اعمالو او دَ اخلاقو کړے دے او دا دین کامل دے او دا رنګ هغهٔ شورو کړے وه دَ قریب نه چه ځوئے دے. دویمه وجه دا ده سورة روم کښ دَ هغه بادشاهانو ذکر ئے کړے دؤ چه دَ هغوی مجاهده صرف دَ دُنیا دَ پاره وه او دَ هغوی دینی امراضو بانندے ئے رد اوکړو نو په دے سورت کښ دَ یو غلام حبشی مسکین مجاهده دینی ذکر کوی او دَ هغهٔ مدحه کوی چه دے خاوند دَ حکمت وؤ. دریمه وجه دا ده چه مخکښ اثبات دَ توحید ئے صرف په عقلی دلیلونو سره کړے وؤ نو په دے سورت کښ دلیل نقلی دَ یو حکیم نه راوړی اشاره ده چه توحید صرف دَ پیغمبرانو مسئله نه ده بلکه دَ حکمتِ عقلیه سره هم موافق ده.

دعوىٰ دَ دے سورت. اثبات دَ توحید دے په دلیل نقلی سره دَ عقلی دلیلونو تفصیلونه او مأخذ دَ دعوے ۱۲ کښ دَ او رد دے په درے قسمونو دَ شرک بانندے شرک فی التصرف او شرک فی العلم او شرک فی الدُعاء.

خلاصه دَ دے سورت - دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته. اول باب دے تر ۱۹ پورے په دے کښ اولاً ترغیب دے قران ته په ذکر دَ څلورو صفاتو دَ قران او څلور صفات دَ اهلِ قران سره تر پنځم ایت پورے بیا زجر دے منکرینو دَ قران ته په شپږ قباحتونو دَ هغوی سره، سرهٔ دَ تخویف او بشارت نه د ۱۱ نه تر ۹ پورے

هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ
هدایت او رحمت دے د پاره د ښائسته کارکوونکو هغه کسان دی

يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ
چه پابندی کوی د مونځ او ورکوی زکوٰة او دوی

بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ عَلٰى
په آخرت باندے یقین لری . دغه صفتونو والا په

هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝
هدایت باندے دی د طرف د رب د دوی نه او دغه کسان خاص دوی کامیاب دی ـ

بیا یو دلیل عقلی تفصیلی دے په ۱۰ ـ ۱۱ کښ بیا دلیل نقلی دے د لقمان نه د هغه فائدو د پاره کوم چه مخکښ بیان کړے شوے تر ۱۹ پورے ـ

تفسیر

۱ :- دا د مقطعاتو نه دے د پاره د اظهار د اعجاز د قران ـ

۲ ـ ۳ ـ ۴ :- په دے آیاتو کښ ترغیب دے قران ته په ذکر د څلورو صفتونو د قران . چه کتاب ، حکیم ، هدی ، رحمت دے او څلور صفتونه د قران والو دی او دغه صفتونه آثار دی د صداقت د قران لفظ الحکیم کښ اشاره ده چه قران کریم د حکمتونو نه ډک دے د دے وجے نه د دے مقصد سره حکیماتو هم موافقت کړے دے ـ اَلْمُحْسِنِيْنَ هغه چاته وائی چه د هغوی عقیده او عمل مشتمل وی په حسن شرعی سره یعنی توحید او اخلاص او اتباع د سنت پکښ موجود وی ـ يُوْقِنُوْنَ ، تفسیر سراج المنیر کښ ویلی دی چه دا هغه کسان دی چه نه کوی داسے کار چه منافی وی د ایمان سره او نه غافل کیږی د آخرت د یاداشت نه رب د ستر ګے په قدار هم ـ

۵ :- دا بشارت دے په سبب د دغه څلورو صفتونو سره او داسے سورة بقره ۵ کښ هم تیر شوے دے او په دے کښ ډیر تاکیدات دی اول لفظ د علٰی چه دلالت کوی په اوچت والی او تمکن (کلکیدلو) باندے ـ هُدًى نکره د پاره د تعظیم ده ـ مِّنْ رَّبِّهِمْ یعنی هدایت په دعوی د دروغو سره نه دے ـ الْمُفْلِحُوْنَ فلاح په قران کښ په پاره د مؤمنانو کښ دے ته وائی چه د هر مضرت او تکلیف نه بچ وی او هر مقصد ئے حاصل شی او دا حالت بغیر د جنت نه نه حاصلیږی او په دخول او که د جنت سره ملاویږی د دے وجے نه د فلاح نه مراد اول داخلیدل دی جنت ته چه د اور د جهنم نه بلکل بچ وی ـ

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ

او بعض دَ خلقو نه داسے دی چه اخلی بے فائدے خبرے

لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ

دَپاره دَ دے چه واړوی خلق دَ لارِ دَ الله تعالیٰ نه بے غیرِ دَ دلیل نه

وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۗ أُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

او گرځوی هغه لره ټوقے دغه کسان دوی لره عذاب

مُّهِيْنٌ ۝۶ وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا

ذلیل کوونکے دے. او کوم وخت چه اولوستلے شی په دغه بانسے ایاتونه زمونږ

وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا كَأَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ

او گرځی لوئی کوونکے گویا کے دغه نه دی اوریدلی (دا ایتونه) گویا کے

سلا. په دے ایت کښ زجر او تخویف دے مخالفینو دَ قران ته او دَ هغوی درے حالات ذکر دی او اشتراء دَ لهوالحدیث. مراد دَ اشتراء نه خوښول او غوره کول دی او اشتراء ئے ذکر کړه اشاره ده چه په دے باندے خپل مال هم قربانوی. او لَهْوَ الْحَدِيْثِ کښ اضافت په معنیٰ دَ مِنْ پټ سره دے یا اضافتِ بیانیه دے او حسن بصری نه روایت دے چه مراد دَ دے نه هرهغه شئے دے چه غافل کوی انسان لره دَ قران کریم نه او دَ بندگئ دَ الله تعالیٰ نه نو داخل دی په دَ کښ، دَ شرکیاتو او بدعاتو قِصّے او دَ فسق وفجور گپ شپ او هغه عملونه دنیوی چه انسان لره دَ قران نه غافل کړی او داخل ده په دے کښ غِنا، مراد دَ غِنا نه غزلے او لوبے ویل دی که دَ هرے ژبے وی او اسباب دَ دمتوب او تې وی وغیره. او خطیب شربینی ویلے دی چه غِنا مال لره ختموی او ربّ تعالیٰ لره خفه کوی او زړهٔ لره بربادوی. لِيُضِلَّ کښ اشاره ده نکه چه دے گمراه دے نو نور خلق هم گمراه کوی. سَبِيْلِ اللّٰهِ نه مراد قران دے. بِغَيْرِ عِلْمٍ کښ اشاره ده چه هر ضال مضل جاهل دَے هُزُوًا دَ دے نه مراد دا دے چه سپک او بے مقصده گنړی قران لره او دا سبب اوگرځی دَپاره دَ مسخره کولو نو دَ دے وجے نه هُزُوًا ته توقه هم وائی.

فِيْٓ اُذُنَيْهِ وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٧﴾
په غوږونو دَده کښې درونوالے دے نو زیرے ورکړه ده لره په عذاب دردناک سره.
اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
یقیناً هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه ئې کړی دی موافق دَ سنت سره
لَهُمْ جَنّٰتُ النَّعِيْمِ ﴿٨﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ
دوی لره جنتونه دَ نعمتونو دی همیشه به وی دوی په هغې کښې
وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٩﴾
وعده کړے ده الله تعالیٰ یقیني ده او خاص الله تعالیٰ زورآور او حکمتونو والا دے.

ﮐ :- په دے کښې نور درے قبائح دَ منکرینو دَ قرآن ذکر کوی سره دَ تخویف نه او په دے کښې ترقی دَ انکار ده یعنې بخپله خو دِے دَ قرآن نه غافل دے لیکن که څوک ده لره دَ غفلت نه بیدارَوی په بیان دَ قرآن سره نو بیشهٔ لوئی کوی. حاصل دا چه دَ قرآن دَ پوهیدلو کوشش نه کوی او بل نه ئې هم نه اوری.

فائده :- تیرشوی آیت عذاب مهین ذکر کړو او په دے کښې ئې عذاب الیم ذکر کړو، وجه دا ده چه اوّل آیت کښې کوم عملونه ئې ذکر کړیدی په هغې کښې اهانت دَ کتاب الله دے دَ طرف دَ دے کافرانو نو سزا ئې په عذاب مهین سره مناسب ده، او په دویم آیت کښې دا سے صفات ئې ذکر کړے دی چه زړهٔ دَ مؤمن لره درد ورکوی نو مناسب دَ دهٔ سره عذاب الیم دے.

ﮒ ﮓ :- په دے آیاتونو کښې بشارت ذکر کوی دَ پاره دَ اول جماعت جَنّٰتُ النَّعِيْمِ دا لفظونه دواړه جمع دی او اضافتِ بیانیه دے او په دے کښې فائده دا ده چه جنتونه ټول نعمتونه دی بے نعمته وخت او ځائے پکښې نیشته او که برعکس ئې ویلے وے یعنې نَعِيْمِ الْجَنّٰتُ نو وهم ترینه پیدا کیدلو چه بعضې حالات دَ جنتونو نعمتونه نه دی. وَعْدَ اللّٰهِ هرکله چه تیرشوے آیت په منزله دَ وعدے کولو دے نو دا مصدر مؤکده ئې ذکر کړلو یعنې وعد الله وعدا. حَقًّا دَ زیادتِ تاکید دَ پاره ئې دا بله جمله ذکر کړیده چه په اصل کښې احقّه حقا دے.

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا وَاَلْقٰى

پیدا کړیدی اسمانونه په غیر دَ ستنونه وینئ تاسو هغهٔ او اچولے دی

فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَبَثَّ

په زمکه کښ پاخه غرونه دے دَپاره چه او نه خوځیګی په تاسو یاندی او خوارہ کړیدی

فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ

په دے کښ هر قسم زندہ سر او راوروَلے دی مونږ دَطرف دَ اسمان نه

مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ⑩

اوبه نوزرغون کړے دی مونږ په هغے کښ دَ هر قسم بوټی فائدہ والا نه۔

هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقَ الَّذِيْنَ

دا پیدائیش دَ الله تعالیٰ دے نواوخایئ ماته چه څهٔ دی هغه چه پیدا کړیدی هغه کسانو

مِنْ دُوْنِهٖ ؕ بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ ضَلٰلٍ

چه سوا دَ الله تعالیٰ نه دی بلکه ظالمان په ګمراهئ

مُّبِيْنٍ ⑪ ع وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ

ښکاره کښ دی۔ او یقیناً ورکړے وُ مونږ لقمان ته پوخ علم (ورته مو ویلے وو)

ع ۱ / ۱۰

سلہ۔ دا اول دلیل عقلی دے دَپاره دَ توحید او په دے کښ شپږ نعمتونه عظیمه ئے ذکر کړیدی چه هغه دلالت کوی چه الله تعالیٰ العزیز الحکیم دے۔ دَ اولے جملے تائید په سورة رعد سکے کښ او دَ دویمے په سورة نحل سھلے او انبیاء سلاکښ تیر شویدے او دریمه جمله په سورة بقره سلا اوخلورمه پنځمه جمله ئے خو ډیر کرته ذکر کړیده۔ زَوْجٍ قسمونه دَ بوټو او اونو نه، او هر کله چه اکثر بوټی دَ یو بل سره مشابهت لری دَ دے وجے نه زوج ئے اُویل۔ كَرِيْمٍ کرامت دَ هغے فائدے دی دَ خوراک پوشاک وغیره۔

سلا۔ دا تفریع ده په مخکښ دلیل باندے او رد دے په مشرکانو باندے یعنی چه ستاسو معبودان خَلْق (پیدائیش) نشی کولے نو څه رنګه حقدار دَ عبادت ئے ګرځئ۔

أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ ۚ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ

چه شکر کوه دَ الله تعالیٰ او چاچه شکر اوکړو نو یقیناً شکر کوی

لِنَفْسِهِ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ⑫

خپلے فائدے لره او چاچه ناشکری اوکړه نو یقیناً الله تعالیٰ بےحاجته ستائیلے شویدے۔

وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ

او کوم وخت چه اُویل لقمان خپل ځوئی ته او وعظ ئے ورته کاؤ اے زما ځویه

سلا:۔ دا دلیل نقلی دے په توحید باندے او اشاره ده چه عقیده او طریقه دَ دے مشرکانو لکه چه انبیاؤ دَ طریقے نه خلاف ده نو دارنګ دَ حکماؤ دَ طریقے نه هم خلاف ده. دارنګ حکمت مقابل دَ ظلم دے ځکه چه ظلم استعمال دَ شی دے په بے مناسبه ځائے کښ او حکمت استعمال دے په مناسب ځائے کښ نو دَ دے وجے نه دَ ظالمانو دَ رد نه بعد دَ حکمت امور ذکر کوی نو ځکه ئے په عطف سره ذکر کړیدے.
لقمان بن باعوراء، دَ دهٔ په باره کښ اختلاف دے چه پیغمبر وؤ او که ولی وؤ صحیح دا ده چه ولی الله وؤ او دَ عکرمه نه په کوم روایت کښ چه نقل ده چه دے نبی وؤ نو دَ هغے په سند کښ جابر جعفی ضعیف راوی دے اکثر مفسرینو لیکلی دی چه دے غلام حبشی نجّار (ترکان) وؤ او لقمان دَ ایوب علیه السّلام خورزئے وو یا دَ ترور ځوئے وؤ او دَ داؤد علیه السّلام نه ئے بعض علمونه حاصل کړے دو او ډیر حکمتونه الله تعالیٰ دهٔ ته په طریقه دَ الهام سره خودلے دی. الحِکْمَةَ هغه علم دے چه پوښ وی په عمل سره او هر شے په خپل مناسب ځائے کښ استعمالول او دَ څیزونو په فائدو باندے پوهه لرل دا حکمت دے۔
او دَ لقمان دَ حکمت ډیر واقعات او اقوال ابن کثیر په تفسیر کښ ذکر کړے دی.
او حکمت دوه قسمه دے حکمت دنیویه او حکمت دینیه. قابل تعریف دا دویم قسم دے دَ دے وجے نه تفسیر دَ الحکمة ئے ذکر کړو په أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ سره یعنی احسانات دَ الله تعالیٰ منل او دَ هغهٔ په رضا سره استعمالول دا لوے حکمت دے او علم بیانول او دعوت کول دا شکر دَ علم دے. أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ یا تفسیر دے دَ حکمة یا دَ دے سره لفظ دَ قلنا له پټ مراد دے. او روستو آیاتونو کښ دَ حکمت او دَ شکر ئے تفصیل کړے دے۔

لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ۭؔ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۳﴾

شرک مهٔ کوه دَ الله تعالیٰ سره یقینًا شرک لوئې ظلم دے.

وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ ۚ حَمَلَتْهُ

او یوخ حکم ورکړو موږ انسان ته دَ مور او پلار سره دَ احسان کولو) پورته کړے وُو دهٔ لره

اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰي وَهْنٍ وَّفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ

مور دَدهٔ په کمزورۍ حال په بل کمزورۍ حال باندې او جدا کول ئې دَ پیودو کولو نه په دوه کاله کښ دی (حکم دا دے)

اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ۭ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿۱۴﴾

چه شکر کوه زما او دَ مور او پلار ستا خاص ماته ستاسو راګرځېدل دی.

ف۱۳ :- دا اول قسم شکر دے یعنی عالم دِ دَ شرک تردید اوکړی او اول دَ خپلوانو اصلاح دِ اوکړی او خصوصًا دَ خپل اولاد اصلاح کول په عقیدهٔ صحیحه سره دا لوے حکمت دے. که څوئې دَ دهٔ مشرک وُو نو دا وعظ دے هغهٔ ته دَ پاره دَ پرېخودلو دَ شرک او که مشرک نه وُو نو وعظ دے دَ پاره دَ تاکید او تثبیت په عقیدهٔ دَ توحید باندے.

اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ دا دَ دے وجے نه چه ظلم خو استعمال دَ شے دے بے ځایه نو په شرک کښ دَ انعاماتو دَ الله تعالیٰ نسبت وی بل چاته لکه په شرک فی التصرف کښ. او عبادت او حقوق دَ الله تعالیٰ ادا کول دی بے ځایه لکه په شرک فی العبادة والدعاء کښ.

او صفتونه دَ الله تعالیٰ بل لره ثابتول او یا دَ هغهٔ صفتونه دَ مخلوق سره مشابه کول یا دَ هغهٔ دَ اسماؤ صفاتو نه انکار کول دا شرک فی الاسماء والصفات دے. دا رنګ دَ الله تعالیٰ علم خاص (یعنی علم غیب) بل چا لره ثابتول لکه په شرک فی العلم کښ. دَ دے وجے نه شرک لوے ظلم دے.

ف۱۴ :- هر کله چه ذکر شو چه اصلاح دَ پلار ځوئې لره دا حکمت دے نو ذکر کوی چه دا رنګ احسان او خدمت او عزت کول دَ اولاد خپل مور او پلار لره دا هم حکمت دے. او دا دوه آیاتونه جمله معترضه ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په مینځ دَ نصیحتونو دَ لقمان کښ او مقصد ئې دَ شرک قباحت ذکر کول دی هغه دا چه مور او پلار سره احسان کول خو فرض دی لیکن په شرک کښ به دَ هغوی خبره نشی منلے کیدے. وَ وَصَّيْنَا، وصیت یوخ حکم ته وئیلے کیږی چه نه منسوخ کیږی.

حَمَلَتْهُ دا ذکر سبب دَ وصیت دے سره دَ تقدیر دَ عبارت نه یعنی (خصوصًا بوالدته لانها حملته اه) یعنی دَ مور حق زیات دے دَ وجے دَ ډیر محنت او مشقت دَ

وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ
او که دوی زور کوی په تا بانده چه شریک جوړ کړې ماسره هغه څوک چه نیشته
لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا
تا ته په هغه بانده دلیل نو مه منه خبره او ته مه منه او ملګرتیا د دوی کوه
فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ
د دنیا په کارکښ نیکه ملګرتیا او روان شه په لار د هغه
أَنَابَ إِلَيَّ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ
چا چه راګرځی ما ته بیا ما طرف ته ستاسو راګرځیدل دی نو خبر به درکړم
بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ⑮ يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ
په هغه عملونو چه تاسو به کوئ. اے زما ځویه یقیناً خصلت (د نیکۍ یا بدۍ) که چیرې وی

هغ نه. وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ، اشاره ده ډیر ضعف د هغې او مشقت د هغې ته. تکلیف د حمل او تکلیف د وضع د حمل لکه سورة احقاف ۱۵ کښ. وَفِصَالُهُ په دے کښ اشاره ده تکلیف د تربیت او پئ ورکول بچی ته او تکلیف د پیو نه پریکول. فِي عَامَيْنِ لکه چه سورة بقره ۲۳۳ کښ ذکر دی او اشاره ده چه د پیو ورکولو مدت دوه کاله دے او دا صریح او صحیح قول دے. أَنِ اشْكُرْ لِي دا متعلق دے د وصینا سره هر کله چه الله تعالیٰ حقیقی منعم دے او بل دا چه د حق د والدینو حفاظت الله تعالیٰ کړے دے او بل دا چه د شکر د والدینو ثواب موقوف دے په شکر د الله تعالیٰ بانده د دے وجے نه ئے ان اشکر لی اول ذکر کړو. هر کله چه لقمان ته حکم د شکر وو نو د هغې د مناسبت د وجے نه دلته هم شکر ذکر کړو او په سورة عنکبوت ۸ کښ مخکښ شکر نه وو ذکر کړے نو د دے وجے حسنا ئے روانده ذکر کړے وو.

۱۵: دا قباحت د شرک دے روستو د بیان د حقوق د والدینو نه یعنی اګر چه د والدینو حق فرض دے لیکن د شرک په مقام کښ د هغوی د اطاعت حق ساقط دے او حدیث کښ عام راغلی دی چه لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق یعنی په هیڅ ګناه کښ د هیڅ مخلوق طاعت نشی کیدے. وَإِنْ جَاهَدَاكَ کښ اشاره ده ډیر تاکید ته یعنی که دواړه مور او پلار متفق وی په دعوت د شرک بانده او (پاتې په بل مخ)

مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ

په قدر دَ دانے دَ اوری نو که وی پټ په ګټه کښ

أَوْ فِي السَّمٰوٰتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللّٰهُ

یا وی (په بل ځائے) دَ اسمانونوکښ یا په زمکه کښ راوړی په هغے لره الله تعالیٰ

إِنَّ اللّٰهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿١٦﴾ يٰبُنَيَّ أَقِمِ الصَّلٰوةَ

یقیناً الله تعالیٰ ویښ باریک څیزونه خبردارے دے. اے زماځویه پابندی کوه دَ مونځ

صرف امر نه کوی بلکه کوشش کوی او زور لګوی لیکن بیا هم دَ هغوی طاعت کول حرام دی. فِي الدُّنْيَا یعنی امور دَ دنیاکښ دَ دوی تعاون کول پکار دی په دے شرط چه معروف وی یعنی دَ شرع نه خلاف نه وی او مصاحبت په معروف سره دا دے چه نیک اخلاق او نرمی ورسره ضروری ده او په دے کښ دعوت الی الحق هم داخل دے. وَاتَّبِعْ ورپسے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه په کار دَ دین کښ مداهنت او نکړے شی. مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ، مراد تری نه مخلص موحد او متبع دَ سنت دے.

فائده: خطیب شربینی ویلے دی چه په دے کښ تنبیه ده قریشو مشرکانو ته په غلطئ دَ هغوی باندے په تقلید دَ اباؤ کښ او پریخودل دَ هغوی اتباع دَ نبی صلی الله علیه وسلم لره. او بله فائده ئے دا ذکر کړے ده چه په دے کښ تیزی ورکول دی په پیژندلو دَ رجالو په حق سره او (امر بحك المشائخ وغيرهم على محك الكتاب والسنة فمن كان عمله موافقالهما اتبع ومن كان عمله مخالفالهما اجتنب)

ترجمه. حکم دے په محلومولو دَ علماؤ وغیره په کسوټے دَ کتاب الله او دَ سنت سره پس دَ چا عمل چه دَ دے دواړو سره موافق وی تابعداری به ئے کیدی شی او دَ چا عمل چه دَ دے دواړو نه مخالف وی نو ډډه به تری نه کیدیشی.

(تنبیه) هر کله چه په دے مقام کښ مقصد زیات قباحت بیانول دَ شرک دی په تائید دَ قول دَ لقمان چه شرک لوے ظلم دے دَ دے وجے نه دلته ئے په علیٰ ان تشرك سره ذکر کړو او سورة عنکبوت کښ صرف جاهده (کوشش کول) دَ مور او پلار ئے ذکر کړے ده دَ پاره دَ شرک کولو دَ اولاد، نو هلته کښ په لِ سره ذکر کړے دی.

سلا:- په دے ایت کښ دفع دَ وهم ده که څوک خیال اوکړی چه کیدے شی موتر ګناه دَ شرک یا دَ مور او پلار ناشکری یا دَ هغوی طاعت په شرک کښ (دا ګناهونه) پټ اوکړو نو چاته به دَ هغے علم وی؟ نو حاصل دَ جواب دا دے چه هیڅ څیز او هیڅ ګناه

وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ
او حکم کوه دَ نیکۍ او منع کوه دَ بدۍ نه او صبر کوه

عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿١٧﴾
په هغه مصیبتونو باندې چه تاته درسیګي یقینًا دا دَ ضروري کارونو نه دی۔

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ
او مه کږه ده انګۍ خپل (په وخت دَ خبرو) دَ خلقو سره او مه ګرځه

دَ الله تعالیٰ نه پټ کیدائے نشي. اِنَّهَا ضمیر خطیئة (ګناه ته راجع دے) او هر کله چه پټ کیدال دَ یو څیز کله دَ ورو کوالی دَ وجے نه او کله دَ پردے دَ وجے نه وی او کله دَ لرې والی دَ وجے نه وی او کله دَ ظلمت (تیرو) دَ وجے نه وی نو دے څلورو ته ئے اشاره اوکړه په ترتیب سره. حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اول ته اشاره صَخْرَةٍ دویم ته اشاره ده فِي السَّمٰوٰتِ دریم حالت ته اشاره ده او فِي الْاَرْضِ څلورم ته اشاره ده. که څوک سوال اوکړي چه صخرة ئے دَ اسمانونو او زمکے په مقابله کښ ذکر کړے دے نو آیا صخره دَ دوی نه بهر ده؟ جواب دادے چه دا تعمیم بعد التخصیص دے تقدیر دَ عبارت داسے دے، فی صخرة (من السمٰوٰت والارض) او فی موضع اٰخر منهما، او دا قول غلط دے چه څوک وائي چه دا کتیه ده دَ زمکو دَ لاندے ده او په هغے باندے غوئے ولاړ دے وغیره وغیره۔
سکا:۔ روستو دَ بیان دَ عقیدے (یعنی دَ رد دَ شرک نه) بیان دَ اعمالو او اخلاقو دے. په دے ایت کښ څلور اعمال ذکر کوی۔
اول اقامة الصلوٰة، اشاره ده چه دا عبادت په ټولو دینونو کښ دے او دا اهم دے په ټولو عباداتو کښ۔
دویم امر بالمعروف او دریم نهي عن المنکر، یعنی دَ خپل کمال نه روستو دَ نورو خلقو دَ تکمیل کوشش کول فرض دی۔ څلورم صبر دے په مصیبتونو بدنیه یا مالیه یا تکوینیه لکه مرضونه او حوادث یا تشریعیة یعنی احکام شرعیه وی نو په هغے صبر پکار دے۔ عَزْمُ الْاُمُورِ۔ عزم په معنیٰ دَ معزوم دے یعنی هغه کارونه چه فرض کړے شوے وی دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه او دَ هغے ادا کوونکو ته اولوالعزم ویلے کیږي۔

فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ

په ځمکه کښې په لوئي او ناز سره يقينًا الله تعالیٰ نه خوښوي هر لوئي کوونکے

مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿١٨﴾ وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ

خپله ستائينه کوونکے او میانه روي کوه په رفتار خپل کښې

وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ

او ښکته کړه بعض اواز خپل يقينًا ډير ناکاره د اوازونو نه

لَصَوْتُ الْحَمِيرِ ﴿١٩﴾ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ

خوامخواه اواز د خر دے. ايا نه ګورئ تاسو چه يقينًا الله تعالیٰ

سـ۱۸ :۔ روستو د بيان د اعمالو نه او اوامرونه ذکر د اخلاقو منهيو دے چه په هغې سره نفرت د خلقو پيدا کيږي. او دا اخلاق (منهيه) د متکبرينو دی. وَلَا تُصَعِّرْ صعر په اصل کښې يو مرض دے چه په اوښانو باندے راځي او په هغې سره يې سټ کوږ شي او مخ يې واوړي. نو په دے کښې اشاره ده تذليل د داسے انسان ته چه په دے خوئي سره د مرضي اوښ پشان شي او مراد ترينه دا دے چه ته چا سره خبرے کوے يا تا سره څوک خبرے کوي نو ته مخ برابر کړه لکه چه دا سنت د نبي صلی الله عليه وسلم دی او چه خبرے د يو کس سره وی او مخ يې ترينه بل طرفته ګرځولے وی دا د متکبر صفت دے. لِلنَّاسِ دا لام د پاره د علت دے يعنی د وجے د توهين (سپک ګڼړلو) د خلقو نه. هاں که د الله تعالیٰ حکم وی چه مخ ترينه واړوه (اعرض عنهم) نو هغې ته دا نه دے شامل. وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا، دا سے سوره اسراء سـ۳۷ کښې تير شويدی هر هغه تلل او ګرځيدل چه د سنت د نبي صلی الله عليه وسلم نه خلاف وی هغه په دے نهي کښې داخل دی. که رقص (ګډا) وی يا په ناز و نزاکت سره ګرځيدل وی. مُخْتَالٍ فَخُورٍ، دا سے سورة نساء سـ۳۶ کښې تير شويدی مُخْتَالٍ هغه دے چه نور خلق سپک ګڼړی د خپل ځان په مقابله کښې او فَخُورٍ هغه دے چه خپل صفتونه بيانوله کوی د پاره د ځان لوے ګڼړلو په نور خلقو باندے.

سـ۱۹ :۔ تير شوي ايت کښې منع وه د هغه کارونو نه چه دلالت کوی په ناکاره صفاتو باطنيو باندے چه هغه تکبر دے نو په دے ايت کښې ذکر د صفاتو ظاهرو دے، اول صفت اقتصاد د مشي، ميانه روی کول يعنی چه ډير تيز نه ځي او ډير په دمه باندے هم نه ځي او ډير نيغ نه ګرځي او کوږ هم نه ګرځي او هر کله چه انسان

سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

په خدمت ستاسو کښې لګولے دي هغه څه چه په آسمانونو کښې دي او هغه څه چه په زمکه کښې دي

وَاَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ؕ

او پوره کړے دي په تاسو باندے نعمتونه خپل ښکاره او پټ

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ

او بعض د خلقو نه هغه دي چه جګړے کوي په توحيد د الله تعالیٰ کښې بغير

عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿۲۰﴾

د دليل نه او د هدايت نه او د کتاب رڼړا کوونکي نه۔

په رفتار کښې د سنّت د نبي صلّی الله عليه وسلّم تابعداري کوي نو معلومه شوه چه په هر کار کښې د سنّت تابع دے۔ دويم صفت آواز ښکته کول۔ مِنْ صَوْتِكَ لفظ د مِنْ دليل دے چه کله آواز اوچتول ثواب دے لکه اذان او تلبيه۔ اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ اشاره ده چه په دے کار کښې نورو خلقو ته تکليف ورکول دي۔ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ د دے تخصيص وجه دا ده چه نور حيوانات آواز د ضرورت په وخت کښې اوچتوي چه بوج پرے راشي يا ستړے شي، او خر بغير د ضرورت نه آواز را اوباسي او کله چه بوج پرے دروند شي يا نور تکليف وي نو بيا آواز نه را اوباسي. او دا دليل دے چه څوک ذکر د الله تعالیٰ په اوچت آواز سره کوي په غير د شرعي دليل نه نو هغه مشابه دے د خر سره۔

س۲۰۔ د دے نه تر آخره پورے دويم باب دے په دے کښې باقي اته عقلي دليلونه دي س۲۰ س۲۵ س۲۶ س۲۷ س۲۸ س۲۹ س۳۱ س۳۲ او زجرونه دي س۲۰ س۲۱ س۳۲ او بشارت س۲۲ او تخويف اخروي س۳۳ او رد د شرك في الدعاء دے په س۳۰ کښې۔

په دے (س۲۰) کښې دويم دليل عقلي دے يعني دا ټول څيزونه ستاسو د فائدے د پاره الله تعالیٰ لګولے دي او دغه فائدے دا سے حکمتونه دي چه لقمان حکيم په هغے باندے پوهيدلو چه دا د الله تعالیٰ د طرف نه دي وَاَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ، يعني دغه فائدے نعمتونه د الله تعالیٰ دي۔ ظَاهِرَةً مراد ترينه هغه دي چه عام خلق هغه پيژني لکه ظاهري بدن او مال د اولاد او شکل وصورت وغيره۔

وَبَاطِنَةً هغه مراد دي چه اهل علم په هغے باندے پوهه دي۔ لکه اسلام، قرآن، محبت د الله تعالیٰ او د رسول او زړه، عقل فهم وغيره۔ (رپاتے په بل مخ)

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا

او کوم وخت چه اُویلے شی دوی ته تابع شئ دَهغه چه نازل کړے دے الله تعالیٰ دوی وائی

بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ط

بلکه موږ تابعداری کوو دَ هغه طریقے چه موندلے دی موږ په هغے باندے مشران خپل

أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ

آیا اګرچه وی شیطان بلل ئے هغوی عذاب دَ اور

السَّعِيرِ ﴿٢١﴾ وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ

لمبو والا ته۔ او چا چه تابع کړو خپل مخ الله تعالیٰ ته

وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ

او دے وی اخلاص کوونکے نو یقیناً کلکه اونیوله دهٔ کړے

وَمِنَ النَّاسِ زجر دے روستو دَ دلیل نه او په دے کښ عنادیان منکرین مراد دی چه حق ورته ښکاره شوے دے او بیا هم جګړے کوی. بِغَيْرِ عِلْمٍ یعنی دا سے پوهه ورسره نیشته کوم چه دَ دلیل یقینی نه حاصل شوے وی یعنی دلیل عقلی. وَلَا هُدًى مراد تری نه هغه هدایت دے چه دَ رسول نه نقل وی یعنی دلیل نقلی ورسره نیشته. وَلَا كِتَابٍ مراد تری نه کتاب دَ الله تعالیٰ دے یعنی دلیل وحی ورسره هم نیشته۔

۲۱:۔ دا بل زجر دے یعنی دلیلونه ورسره نیشته لیکن تقلید دَ پلارانو ورسره شته او دائے دَ بِغَيْرِ عِلْمٍ په مقابله کښ ذکر کړے دے معلومه شوه چه تقلید څه علم نه دے۔ آبَاءَنَا مراد تری نه مشران علماء دی صرف نسبی پلارات تری نه مراد نه دی لکه امام راغب په مفردات کښ ویلے دی. یعنی دوی وائی چه هغه مشران زمونږ نه ښهٔ پوهیدل نو دَ دے دپاره موږ دَ هغوی تابعداری کوو۔

أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ اشاره ده چه دَ دوی دَ مشرانو سره دلیل نهٔ وو بلکه ګمراهان وو نو دَ هغوی تابعداری کول ښکاره باطل کار دے او دا سے آیات په سورة بقره ۱۷۰ مائده ۱۰۴ زخرف ۲۲ ۲۳ کښ هم تیر شوی دی۔

الْوُثْقٰى ۗ وَاِلَى اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۲۲﴾ وَمَنْ
مضبوطه او خاص الله تعالیٰ ته آخری انجام دَ ټولو کارونو دے. او چا چه
كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ ۗ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ
کفر اوکړو نو خفه دِ نه کړی تا لره کفر دَ هغه خاص موږ ته واپسی دَ دوی ده
فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ۗ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ
نو خبر به ورکړو دوی ته په هغه عملونو چه دوی کړی دی یقینًا الله تعالیٰ پوهه دے
بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۳﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ
په هغه خبرو چه په سینو کښ دی. مزے ورکوو موږ دوی ته لګه موده بیا به
نَضْطَرُّهُمْ اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۲۴﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ
مجبورًا اوليګو دوی لره عذاب سخت ته. او که چرے تپوس اوکړے ته دَ دوی نه

سـ۲۲ :- هرکله چه ذکر شو حال دَ مشرک او دَ کمزوری دلیل دَ هغهٔ، نو په دے
ایت کښ ذکر کوی حال دَ مؤحد او دَ پوخ والی دَ دلیل دَ هغهٔ. وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗ
مراد دَ دے نه تابعداری په ظاهر سره ده دَ الله تعالیٰ دَ ټولو حکمونو. وَهُوَ مُحْسِنٌ
مراد دَ دے نه اخلاص دَ باطن دے یا مراد دَ اول نه اسلام او توحید دے او
مراد دَ احسان نه تابعداری دَ سنّت ده الْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى دا په طریقه دَ تشبیه
سره دے څه رنګ چه یو انسان دَ طوفان او سیلاب نه په دے طریقه سره بچ
کیږی "چه کړئ وی او مضبوطه وی" او دے هم ور پورے کلک او نخلی نو دا
رنګ دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه بچ کیدل او دَ تمام فتنو او ګمراهو نه بچ کیدل په
دا سے طریقے سره کیږی چه انسان هغه توحید او قرآن چه مضبوط دے په
سنّت او حدیث سره، په هغے باندے پوره عمل اوکړی او په هغے باندے دلیل
اونیسی هم دا رنګ په سورة بقره سـ۱۱۳ سـ۲۵۶ کښ تیر شویدی.
سـ۲۳ سـ۲۴ :- روستو دَ بیان دَ حال دَ فریقینو نه تسلّی ده رسول الله صلّی الله علیه
وسلّم ته او تخویف دے منکر ینو ته. فَلَا يَحْزُنْكَ مراد دا دے چه په تا باندے
دَ کفر کوونکو دنیوی او اخروی تاوان او ذمه واری نیشته نو غم مه کوه یا مراد
دَ حزن نه دَ نه منلو دَ وجے نه دومره خفګان کول چه دعوت پریږدی دا منع
دے او نفسی حزن خو غیر اختیاری دے دَ هغے نه نهی نشی کیدے. (پانے په بل مخ)

مَنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ

چه چا پیدا کړیدي آسمانونه او زمکه ضرور دوی وائي چه الله تعالیٰ

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۵﴾

ته اُوایه ستائینه دَ خدائیتوب دَ الله تعالیٰ ده بلکه اکثر دَ دوی نه پوهیږي۔

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

خاص دَ الله تعالیٰ په اختیار کښې دي هغه څه چه په آسمانونو کښې او زمکه کښې دي یقیناً الله تعالیٰ

هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ اَنَّمَا فِي

خاص هغه بې حاجته ستائیلې شوي دے۔ او که چرې شی هغه څه چه په

الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ وَّالْبَحْرُ

زمکه کښې دي اونې قلمونه او دا سمندر

نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا دا دنیوی حال دے چه کافرانو لره په دنیا کښې مالونه، اولاد، مرتبې ملاویږي لیکن دا متاع قلیل دے او قَلِيْلًا نه مراد ټول ژوند او مالونه دَ دُنیا دي۔

سبق ۲۵:۔ دا یل دلیل عقلی اعترافی دے او سبب دَ عذاب غلیظ دے چه سرهٔ دَ اقرار نه په خالقیت دَ الله تعالیٰ سره بیا هم دوی شرک کوي۔

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ دا تفریع ده په اقرار دَ مشرکانو په خالقیت دَ الله تعالیٰ یعنی هرکله چه خالق دے نو ټول صفتونه دَ الوهیت دَ هغهٔ دَپاره خاص دي۔ یا دا کلمهٔ دَ شکر ده په دے خبره باندے چه منکرینو اقرار اوکړو په خالقیت دَ الله باندے۔

اَكْثَرُهُمْ دَ دے نه هغه خلق مراد دي چه سرهٔ دَ دے اقرار نه شرک او کفر کوي او هغه خلق ډیر دي۔

سبق ۲۶:۔ دا یل دلیل عقلی دے۔ مخکښې آیت کښې ذکر دَ خالقیت دَ الله تعالیٰ دے نو په دے آیت کښې ذکر دَ تصرف او دَ تدابیر دَ هغهٔ دے۔

الْغَنِيُّ په دے کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ په دے تصرفاتو کښې هیڅ شریک یا ولد یا مددګار ته محتاج نه دے۔

يَمُدُّهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ

لیات کړی دغه لره روستو دختم کیدلونه اووه سمندرونه نوختمیږی به نشی

كَلِمٰتُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۷﴾

کلمی د الله تعالیٰ یقیناً الله تعالیٰ زورور حکمت والا دے.

مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ؕ

نه دے پیدائش ستاسو او نه دوباره ژوندستاسو مګر په شان د یو تن دے

اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۸﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ

یقیناً الله تعالیٰ هرڅه اوری هرڅه وینی. آیا ته نه ګورے چه یقیناً الله تعالیٰ

۲۷:- دا یل دلیل عقلی دے. هرکله چه مخکښ اوفرمائیل چه ما فی السموات او ما فی الارض د الله تعالیٰ دی نو وهم پیدا شو چه دا خو محدود څیزونه دی نو آیا د الله تعالیٰ کلمات به هم محدود وی نو په دے آیت کښ د دے وهم جواب کوی حاصل دا چه کلمات د الله تعالیٰ بے انتها دی دا مضمون سورة کهف ۱۰۹ کښ تیر شویدی لیکن په دے آیت کښ ډیر تاکید دے وجه دا ده چه دلته د لقمان حکمت ذکر شو نو اشاره شوه چه حکمتونه د حکیمانو د الله تعالیٰ د کلماتو احاطه نشی کولے. مِنْ شَجَرَةٍ، مِنْ د پاره د استغراق دے ډیر عموم پیدا کوی.
وَالْبَحْرُ دنیا کښ مسمٰی دے په بحر نو هغه صرف یو دے لیکن په مختلفو علاقو کښ تقسیم دے او مختلف رنګونه دی نو د دے وجے نه په جدا جدا نومونو سره مشهور دے. سَبْعَةٌ، د دے نه مراد ډیر والے دے. او مراد د کلماتو نه عام دے وحی د الله تعالیٰ ملائکوته او انبیاؤ ته او علمونه د هغهٔ او صفتونه د هغهٔ (څکه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی لا احصی ثناء علیك انت کما اثنیت علی نفسك) او عجائبات او حکمتونه د هغهٔ، دے ټولو ته شامل دے.

۲۸:- دا هم دلیل عقلی دے د اثبات د عظیم قدرت د هغهٔ روستو د ذکر د محیط د علم د هغهٔ نه یعنی الله تعالیٰ یو دے او ټول په اول پیدائش او دوباره پیدائش کښ یو شان دے.

يُولِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ

ورننه باسی شپه په ورځ کښې او ورننه باسی ورځ په شپه کښې

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِىٓ

او په خدمت کښې لګولے دی نمر او سپوږمۍ دا ټول چلیږی

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

تر نیټې مقررې پورې او یقینًا الله تعالیٰ ستاسو په عملونو پاندے

خَبِيْرٌ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ

خبر دارے دے - دا بیان دے دَپاره دَدے چه یقین او کړئ چه الله تعالیٰ حق دے او یقینًا

مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ وَاَنَّ اللّٰهَ

هغه کسان چه ددوی ئې بلی سوا دَ الله تعالیٰ نه باطل (بندګی دَ هغوی) او یقینًا الله تعالیٰ

هُوَ الْعَلِىُّ الْكَبِيْرُ ﴿۳۰﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ

پورته دے لوئے ذات دے - آیا ته نه ګورے چه کشتۍ

تَجْرِىْ فِى الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِيُرِيَكُمْ

چلیږی په سمندر کښې په نعمت دَ الله تعالیٰ سره دے دَپاره چه اوخائی تاسو ته

ف ۲۹ :- دا بل دلیل عقلی دے په ذکر دَ تصرف دَ الله تعالیٰ په زمانه کښې او په اسبابو دَ شپه او ورځ کښې او اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى کښې اشاره ده فناکیدلو دَدے نظام ته او تَعْمَلُوْنَ کښې اشاره ده هغه اعمالو ته چه په دے شپه او ورځ کښې موجودیږی -

فائده :- دَ شپے او ورځے سره يُوْلِجُ فعل مضارع ذکر کړے دے او دَ شمس وقمر سره - سَخَّرَ فعل ماضی ذکر کړے دے وجه دا ده چه انقلاب دَ شپے او ورځے متجدد (نوے نوے) کیږی او دَ نمر سپوږمۍ حالت خو مستمر (همیشه یوشان) دے تر فنا پورے -

ف ۳۰ :- دا نتیجه ده دَ تیرشوؤ دلیلونو - بِاَنَّ فعل پټ دے ذٰلِكَ لِتَسْتَيْقِنُوْا بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ یعنی وجود او الوهیت ئې یقینی دے یا په معنیٰ دَ باقی دے - الْبَاطِلُ په معنیٰ دَ فانی دے یا دُعا دَ هغوی نه - او عبادت کول دَ هغوی باطل دی - الْعَلِىُّ صریح دے په علوّ (راوچت والی) دَ الله تعالیٰ کښې -

مِنْ اٰيٰتِهٖ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ
دليلونه خپل يقيناً په دے کښ ډير دليلونه د توحيد دی هر ډير صبرناک
شَكُوْرٍ ۝۳۱ وَاِذَا غَشِيَهُمْ مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ
ډير شکرگذار لره . او هر کله چه راګير کړی دوی لره چپے پشان د غټو وريځو
دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ڬ فَلَمَّا
بلی دوی الله تعالیٰ لره خالص کوی هغه لره بلنه . نو هر کله
نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۭ
چه بچ کړی دوی لره اوچے ته تو بعض د دوی نه حق پرست وی ،
وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُوْرٍ ۝۳۲
او انکار نه کوی د ایاتونو زمونږ نه مګر هر بے لوظه ناشکره .

ف۳۱ :- دا هم دليل عقلی ارضی (د زمکے) دے روستو د دليل وسطی نه .
بِنِعْمَتِ اللّٰهِ مراد د دے نه تعليم د الله تعالیٰ دے بندګانو ته طريقه د جوړولو د کشتئ او د چلولو د هغے او د پيدائش د اجزاؤ د هغے چه لرګی او اوسپنه ده . يا مراد د دے نه معتدله هواده چه بغير د هغے نه کشتئ نشی چليدلے . مِنْ اٰيٰتِهٖ دليلونه د توحيد چه په اوبو کښ او په کشتو چليدلو کښ معلوميږی بے انتها او په ، په هغے کښ قسم قسم حيوانات غټ او دراته جهازونه او کشتئ په سطحه د اوبو باندے ګرځول او نه غرقيدل وغيره . صَبَّارٍ شَكُوْرٍ د سفر په مشکلاتو باندے د صبر کولو نه بغير دا ايات (دليلونه) نه معلوميږی او دا رنګ څوک د دے نعمتونو او قدرتونو نسبت الله تعالیٰ له نه منی نو هغه ته هم ايات د توحيد نه معلوميږی د دے وجے نه ئے دا دواړه صفتونه ذکر کړل او په مبالغے سره ئے د دے وجے نه ذکر کړل چه په بعض مشکلاتو کښ صبر کول او بعض نعمتونو د الله تعالیٰ باندے شکر خو د کافرانو او مشرکانو هم عادت دے خو په هر مشکل کښ صبر کول او د هر نعمت د الله تعالیٰ شکر اداکول دا د مؤمن صفت دے .
ف۳۲ :- په دے ايت کښ زجر دے په ناشکرئ کولو د تير شوی نعمت يعنی د خوف او هيبت د چپو د درياب د وجے نه الله تعالیٰ ته عاجزی کوی او چغے وهی چه يا الله مدد ليکن حال ئے معلوميږی روستو د نجات نه . د دے نه معلومه شوه (پاتے په بل مخ)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ وَٱخْشَوْا۟ يَوْمًا

اے خلقو اوویریږئ دَ رب خپل نه او ویره کوئ دَ هغه ورځ نه

لَّا يَجْزِى وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوْلُودٌ

چه نه به شی دفع کولے پلار دَ اولاد نه او نه اولاد به

هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ

دفع کوونکے وی دَ پلار خپل نه هیڅ څیز یقینًا وعده دَ الله تعالیٰ

حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا

حقه ده نو دهوکه دې نه کړی تاسو لره ژوندُ دنیوی

وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿٣٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ

او دهوکه دې نکړی تاسو لره په الله تعالیٰ باندے دهوکه درکوونکے۔ یقینًا الله تعالیٰ

چه چیری ایمان معتبر نه دے. اودا هم معلومه شوه چه عاجزی او تضرع دَ مشرک هم دَ الله تعالیٰ په نیز سبب دَ قبولیت دَ دُعا کاتو دے۔ مُقْتَصِدٌ دَ قصد نه ماخوذ دے او قصد استقامت او اعتدال ته ویلے کیږی او دا سے سورۃ مائدہ ۶۶ او سورۃ فاطر ۳۲ کښ هم دی نو دلته مقتصد موحد دے چه نه افراط کوی چه دَ وجود دَ الله تعالیٰ نه انکار اوکړی او نه تفریط کړی چه دَ الله تعالیٰ نه سوا نور هم اِلٰهه گنړی۔ خَتَّارٍ ختر غدر ته ویلے کیږی او دا وی دَ وجے دَ بے صبرئ نه نو دا ئے دَ صبار په مقابله کښ ذکر کړو او کَفُورٍ ئے په مقابله دَ شکور کښ ذکر کړلو۔ یعنی سوا دَ موحدینو نه دوه قسمه خلق دی یو هغه چه دَ الله او کَهغهٔ دَ نعمتونو نه مطلقًا منکر وی لکه دهریان نو ختار کښ هغه مراد دی او دویم قسم مشرک چه الله تعالیٰ منی او نعمتونه ئے هم منی لیکن ورسره شریک جوړوی کفور کښ هغهٔ ته اشاره ده۔
۳۳۔ روستو دَ تفصیلی دلیلونو دَ توحید او زجرونو دَ منکرینو نه دعوت عامه ورکوی توحید او تقویٰ ته او تخویف ورکوی دَ عذاب اخروی ته۔ وَاخْشَوْا، مراد دَ دے نه صرف خوف دے دَ عذاب نه۔ لَا يَجْزِى وَالِدٌ، هرکله چه په دے سورت کښ دَ والد او ولد معامله ذکر شوه (چه لقمان او خوئے ئے دے) دَ دے وجے نه دَ والد او ولد تخصیص ئے اوکړلو۔ او دا پشان دَ سورۃ بقره ۴۸ ۱۲۳ دے خو هغه عام دے هر نفس ته او دا خاص دے په اعلی افرادو چه

عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ

خاص دَهغهٔ سره دے علم دَ قیامت ، او رَاوروی باران

وَيَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ

او عالم دے په تفصیلاتو دَهغه چه په رحمونو (بچه دانی) کښ دی او نه پوهیږی هیڅ څوک

مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ بِاَيِّ

چه څه به کوی صبا او نه پوهیږی هیڅ نفس چه په کومه

اَرْضٍ تَمُوْتُ ۖ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿۳۴﴾

زمکه کښ به مړکیږی یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے اوخبردارے دے په پټو خبرو باندے

ع ۴ ۱۳

دَیوبل مصیبت باندے دیرخفه کیږی. او وَالِدٌ په معنیٰ دَ ذوولد دے نو مورته هم شامل دے. لَا يَجْزِيْ په معنیٰ دَ قدیه ورکولو دے او په معنیٰ دَ دفع کولو دَ ضرر او تکلیف دے. وَعْدَ اللّٰهِ دَ دے نه مراد ورځ دَقیامت او دَ هغے احوال دی، حساب، میزان وغیره. او لَا يَجْزِيْ وَالِدٌ اه حالت دے. فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا، دا ترهیب فی الدنیا دے. یعنی دَ دنیا ژوند همیشه او نه کنږے او دَ دُنیا دَمالونو او جاه او مرتبے په وجے سره دَ آخرت نه غافل نشئ او دا خو متاع دَ غرور دے لکه په سورة العمرٰن ۱۸۵ آیت کښ دی. بِاللّٰهِ، مراد دا دے چه درته اُوائی چه الله تعالیٰ نیشته یا اُوائی چه شفعاء او شرکاء دَ الله تعالیٰ شته هغوی به نجات درکوی یا اُوائی چه الله تعالیٰ غفور رحیم دے گناه کوه هیڅ پرواه مکوه یا اُوائی چه الله تعالیٰ ته ضرور وسیله پکار ده نو په وسیله شرکیه کښ دِ اخته کړی یا اُوائی چه الله تعالیٰ یو دے او یو خو صرف یو کار کولے شی نو دَ دے وجے نور معبودان او خالقان او حاجت روا سوا دَ الله تعالیٰ نه هم شته دے.

س ۳۴: دا دلیل عقلی علمی دے او په تیر شوی آیت کښ یَوْمًا لَّا يَجْزِيْ اه، سره تعلق لری. عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ، لفظ دَ عِنْدَهٗ دلیل دے په تخصیص دَ علم دَ ساعة په الله پورے هر کله چه علم دَ علاماتو دَ هغے الله تعالیٰ انبیاؤ علیهم السّلام ته خودلے دے نو مِن وجه علم غیرو ته حاصل شو دَ دے وجے نه لا تدری یے دَ دے سره نه دے وئیلے. وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ، دلته یے فعل (انزال) ذکر کړو چه هر کله دا انزال دَ الله تعالیٰ فعل دے نو معلومه شوه چه هغهٔ پرے ضرور عالم دے یا دا چه دا عطف دے په معنیٰ دَ علم الساعة باندے یعنی عنده علم انزال الغیث او یعلم ما فی الارحام، په دے دواړو کښ اول علامات ښکاره کیږی نو مِن وجه علم بندګانو ته حاصل دے نو دَ دے وجے نه صیغه دَ ریاتے په یل مخ)

تخصیص ئے ذکر نه کړله اګرچه دلته هم تخصیص مراد دے په عطف معنوی سره تقدیریږ دا
دا دے چه عنده علم ما فی الارحام - دلته یو اشکال دے چه په رحم د ښځې علم په الټرا
ذ د اکسرانو سره حاصلیږي نو څه رنګ تخصیص په الله تعالی پورے صحیح کیدیشی؟ جواب دا دے
چه ما فی الارحام نه صرف وجود د بچی یا مذکر مؤنث کیدل مراد نه دی بلکه د هغه بچی
په باره کښ د پوره حالاتو علم دے "چه دے به کوم وخت پیدا کیږی او دے به صالح عمل
کوی او که بد عمل به کوی او د دۀ به څومره ژوند وی کوم کوم وطن ته به سفر کوی څومره
او څه رنګ تکلیفونه به په دۀ باندے راځی. مالدار به وی او که غریب به وی جنتی به
وی او که جهنمی به وی وغیره - دا احوال په هیڅ آلاتو سره هیڅ چاته معلوم نه دی
د دے علم خاص دے په الله تعالی پورے - وَمَا تَدْرِیْ په دے دواړو جملو کښ
دا لفظ دلالت کوی چه دا دواړه په هیڅ علامت او هیڅ آلے سره هیڅ چاته نشی معلومیدلے
سوا د الله تعالی نه -

فائده ۱: بحدیث صحیح کښ دے پنځو امورو ته ئے مفاتیح الغیب ویلے دی ،
اشاره ده چه صرف پنځه څیزونه نه دی بلکه هر یو د دے نه په بے شماره جزئیاتو
باندے مشتمل دے تفصیلی حالات د قیامت تفصیلی حالات د باران تفصیلی حالات
د بچی تفصیلی حالات د اعمالو د صبا تفصیلی حالات د هغه ځائے چه د مرګ دے.
نو دا خزانے د غیب دی -

فائده ۲: بعض ناپوهه کسان اعتراض کوی چه د دے پنځو نه علاوه د نورو
مغیباتو علمونه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړے شوے دی ځکه چه د دے
پنځو تخصیص ئے په ذکر سره کړے دے او دویم دا چه بعض مفسرینو روایات راوړے
دی چه د دے نه علاوه نور علمونه الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړی.
جواب د اول دا دے چه تخصیص په ذکر سره نفی د ماسوا نه نه غواړی لکه چه دا قاعده
مسلّمه ده او دا ئے د دے وجے نه خاص ذکر کړے دی چه مشرکانو په دغه وخت کښ
صرف د دے پنځو خبرو تپوس کړے وو دا رنګ مفسّر الوسی په تفسیر روح المعانی کښ ذکر کړی دی.
جواب د دویم دا دے چه دغه قسم احادیث چه بعض مفسرینو ذکر کړے دی بے سنده
دی او یا په سند صحیح سره نه دی ثابت ، اول دا چه د قرآن کریم د نورو هغه آیاتونو
خلاف دی کوم چه ښکاره دلیل د نفی د علم غیب د نبی صلی الله علیه وسلم نه کوی چه
هغه نفی په دے پنځو پورے په هیڅ آیت کښ نه وه خاص کړے شوے -

تمّ تفسیر سورة لقمان بتوفیقه تعالی ربّنا تقبل منّا
انت السمیع العلیم وتب علینا انک انت التواب الرحیم۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سورة سجدة

دَ دے سورت نور نومونه دادی: سورة الم سجدة، سورة السجدة، سورة المضاجع، سورة سجدة لقمان۔

ربط دَ دے دَ مخکښې سورت سره دا دے ع۱ هر کله چه مخکښې سورت کښې رد او کړے شو په شرک بانـدے په عقلی او نقلی دلیلونو سره نو په دے سورت کښې فرق بیانوی دَ مشرک او موحد په مینځ کښې په دنیا او آخرت کښې۔ ع۲ په دے سورت کښې دَ سورة لقمان دَ آخری آیت تشریح ده دَ اولے جملے (ان الله عنده علم الساعة) تشریح په س۱۰ س۱۱ س۱۲ س۱۳ س۱۴ کښې ده۔ دَ دویمے جملے (وینزل الغیث) تشریح په س۲۷ کښې ده دَ دریمے جملے (ویعلم ما فی الارحام) تشریح په س۸ س۹ کښې ده۔ دَ څلورمے جملے (وَمَا تدری نفس ماذا تکسب غدا) تشریح په س۵ س۱۳ کښې ده۔ دَ پنځمے جملے (وما تدری نفس بای ارض تموت) تشریح په س۱۰ س۱۱ کښې ده۔ ع۳ دا رنګ تیر شوے سورت کښې دَ انسان دَ حمل (په خیټه دَ مور) کښې حالت ذکر کړے وو نو په دے سورت کښې ذکر دَ مبدء او حال دَ قبر او حال دَ حشر ټول ذکر کوی۔

دعویٰ دَ دے سورت ۔ بیان دَ فرق په مینځ دَ حال دَ مؤمن او دَ حال دَ مشرک کښې۔ ماخذ دَ دے په س۱۸ کښې ذکر دے۔ دَ ابتداء نه تر س۱۴ پورے ذکر دَ احوالو دَ منکرینو دے او په س۳ کښې قرآن ته نسبت دَ افتراء دے۔ په س۹ کښې شکر نه کول۔ په س۱۰ کښې دَ دوباره ژوند نه انکار کول او په س۱۲ کښې مرګ راوستل په دوی بانـدے په قیامت کښې او دَ دے مجرمانو حال په س۱۳ س۱۴ کښې ذکر دی۔ احوال دَ مؤمنانو په س۱۵ س۱۶ س۱۷ کښې۔ بیا ذکر دَ فرق دَ س۱۸ نه تر س۲۲ پورے په طریقه دَ جزا او سزا بیا ذکر دَ حال دَ مؤمنانو مخکښې په س۲۳ س۲۴ س۲۵ کښې بیا زجر او تخویف منکرینو ته په س۲۶ س۲۷ س۲۸ س۲۹ کښې ذکر کوی آخری آیت تفریع ده په کل سورت بانـدے۔

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۚ بَلْ هُوَ

دَ مخلوقاتو ته دے. آیا دوی وائی چه دا (قران) ئې دَ خان نه جوړ کړے دے بلکه دا

الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰهُمْ

حق دے ستا دَ رب دَ طرف نه دے دَپاره چه ویره ورکړے هغه قوم ته چه نه دے راغلے

مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿٣﴾

هغوی ته ویره ورکوونکے ستا نه مخکښ دَدے دَپاره چه هدایت او مومی.

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه

فائده:- هرکله چه په دے سورت کښ دَ انسان ټول حالات ذکر دی او بیا ذکر دَ فرق دے او دا فرق په معلومیږی په قبر کښ او بیا په قیامت کښ راو هغه ئې مسمیٰ کړے ده په یوم الفصل او یوم الفتح سره) دَدے وجے نه دَ جمعے دَ ورځے دَ فجر په مونځ کښ په اول رکعت کښ دا سورت لوستل سنّت دی او دا رنګ هره شپه په بستره باندے دَدے ویل استحباب لری او په دے دواړو باندے صحیح احادیث وارد دی.

خلاصه دَ سورت داده. په دے کښ دوه بابونه دی اول باب تر ۱۸ پورے دے. اول ترغیب الی القران ۲ کښ بیا زجر منکرینو ته په ۳ کښ بیا درے عقلی دلیلونه په ۴ ۵ کښ بیا زجر په انکار دَ اخرت باندے بیا تخویف اخروی درے ایاتونو کښ او بشارت په درے ایاتونو کښ.

تفسیر

۱:- دا تنبیه ده په اعجاز دَ قران باندے.

۲:- دا صداقت دَ قران دے دَپاره دَ ترغیب. لَا رَيْبَ فِيْهِ دا جمله معترضه ده په مینځ دَ مبتدا او خبر کښ یا دا خبر اول دے او مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ خبر دویم دے او په دے کښ اشاره ده چه مرتابین اګرچه ډیر دی لیکن دَ هغوی په ارتیاب سره په قران کښ هیڅ ریب نه دے پیدا شوے.

۳:- دا زجر دے منکرینو دَ قران ته. بَلْ هُوَ الْحَقُّ دا اضراب دے دَ دے قول نه. افْتَرٰىهُ او دا اضراب ابطالی دے او دَ دے وجے نه ویلے شوے دی چه قران کښ بَلْ هر مقام کښ دَپاره دَ اضراب انتقالی دے یوا دَ دے مقام نه چه دا ابطالی دے. مِنْ رَّبِّكَ دلته انزل پټ دے او لِتُنْذِرَهُمْ په هغے پورے تعلق لری.

وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ
او هغه چه مینځ د دے کښ دی په اندازه د شپږو ورځو کښ بیا برابر شویدے د عرش د پاسه
مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ أَفَلَا
نیشته تاسو لره سوا د الله تعالیٰ نه هیڅ کوډ ننکے او نه سفارشی آیا پس ولے
تَتَذَكَّرُونَ ④ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى
نصیحت نه قبلوئے . انتظام کوی الله تعالیٰ د کار د آسمان نه (رالیږی)
الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ
زمکے ته بیا ورخیږی هغه ته په یو ورځ کښ چه
مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ⑤
اندازه د هغې زر کاله ده د هغې نه چه تاسو یې شماره کوئے .

مَآ أَتٰهُم مِّن نَّذِيرٍ اشاره ده چه د دوی انذار ډیر سخت دے د وجے د جهل د دوی نه او دا رنګ اشاره ده چه دا قوم ډیر نبی ته ډیر محتاج دے په هدایت کښ.

سکـ :. دا تفصیل د انذار دے په ذکر د توحید سره د دلیل عقلی نه . مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ ، امداد کوونکی دوه قسمه وی یو هغه چه پخپله تصرف کولے شی حاجت پوره کولے شی مصیبت لرے کولے شی او هغهٔ ته ولی ویلے کیږی. دویم هغه چه پخپله کار نشی کولے لیکن مالک او اختیار من ته په کلکه وینا کولے شی چه د دے شخص حاجت پوره کړه نو دهٔ ته شفیع ویلے کیږی نو د توحید د اثبات د پاره د دے دواړو نفی اوکړے شوه .

سھـ :. دا بل دلیل عقلی دے . یعنی هر کله چه ثابته شوه چه الله تعالیٰ خالق دے د عرش د پاسه مستوی دے او پوره اختیار من دے نو اوس ذکر کوی چه د دے عالم نظام چلوونکے هم هغهٔ دے . دا نظام یې چا ته نه دے سپارلے نو معلومه شوه چه قطبان غوثان نیشته چه هغوی د دنیا تدابیر کولے شی . په دے آیت کښ دوه تقسیرونه دی اوّل دا دے چه الْأَمْرَ نه مراد هر کار د کارونو د دے عالم نه او مِنَ السَّمَاءِ د پاره متعلق پټ دے قینزله من السماء یعنی را کوځوی هغه کار د آسمان نه زمکے ته اشاره ده چه دے آیت کښ هغهٔ امور او کارونه مراد دی چه په عالم اسفل کښ انسانانو ته ښکاره کیږی او په دے را ځی په بل مخ)

ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ⑥

دغه ذات دے عالم په هر پټ او ښکاره زورآور او رحم کوونکے دے

الَّذِیْۤ اَحْسَنَ كُلَّ شَیْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ

هغه ذات چه ښائسته ئے جوړ کړے دے هر څیز چه پیدا کړے دے او شروع کړے دے پیدائش

الْاِنْسَانِ مِنْ طِیْنٍ ⑦ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ

د انسان د خټو نه . بیا ئے جوړ کړے نسل د هغه لره

زمکه کښ چلیږی. او يَعْرُجُ په معنیٰ د يرجع دے او ضمير د دغه امر ته راجع دے او رجوع روستو د فناء د عالم ته مراد ده. فِیْ يَوْمٍ متعلق دے په يعرج پورے او مراد د دے نه ورځ د قيامت ده. دويم تفسير دا دے چه الامر نه مراد د حق ده چه په واسطه د جبريل سره راليږلے کيږی د مِنَ السَّمَآءِ سره ئے نزل پټ دے او يَعْرُجُ ضمير جبريل ته راجع دے او فِیْ يَوْمٍ نه مراد ورځ ده د دُنيا د ورځو نه او هر کله چه حديث سره ثابت ده چه په مينځ د اسمان او زمکه کښ پنځه سوه کلونه مسافت دے نو تله او راتله دواړه طرفه زر کلونه شول. او فِیْ يَوْمٍ متعلق دے په دواړو فعلونو پورے (فينزل او يعرج) او مقصود په دے ايت کښ تدبير د وحی شو او اشاره ده صداقت د قران ته.

فائده: په اول تفسير باندے سوال دا دے چه سورة معارج سلا کښ معلوميږی چه مقدار د دغه ورځے پنځوس زره کلونه دے اول جواب دا دے چه د قيامت مواقف او هيبتونه بے حده دی نو د بعضو موقفونو د هيبتونو په لحاظ سره پنځوس زره کلونه دی او د بعضو موقف د هيبت په بنا باندے زر کلونه دی. د دويم تفسير په بنا هم دا سوال دے چه د ايت د سورة معارج نه معلوميږی چه دا ورځ د ختلو پنځوس زره کلونه ده. جواب دا دے چه تر سدرة المنتهیٰ پورے حساب شی نو پنځوس زره کلونه ده او چه تر اول اسمانه پورے حساب شی نو زر کاله دی.

سلا:- دا هم دليل عقلی دے او تائيد د ماقبل دے يعنی الله تعالیٰ تدبير د دے وجے نه کولے شی چه هغه د دے عالم تفصيلی علم لری بغير د دے علم نه تدبير نشی کيدلے.

سک:- دا بل دليل عقلی دے مخکښ دليل افاقی وو او دا دليل انفسی دے. اَحْسَنَ يعنی مضبوط کړے دے هر شے چه پيدا کړے دے. مراد دا چه هر مخلوق ئے په مناسب شکل و صورت او اندامونو سره پيدا کړے دے. وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ.

مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ۞٨ ثُمَّ سَوّٰىهُ

دَ راښکلے شوے اوبو سپکو نه . بيا ئے برابر کړو هغه

وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ

او اوپوکو ئے په هغه کښې دَ روح خپل نه او جوړ کړيدی تاسو لره غوږونه

وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۞٩

او سترگے او زړونه ډير لږ شکريه کوئے تاسو .

هرکله چه عام خلق ئے ذکر کړو نو دَ دے جملے نه دَ انسان دَ پيدائښت ترتيب ذکر کوی .

فائده :- دا صريح دے چه اول انسان ئے دَ خټے نه پيدا کړے دے او دَ سورة حجر او ص نه معلومه ده چه آدم عليه السّلام ئے دَ خټے نه پيدا کړے وو نو منطقی نتيجه را اُوتله چه اول انسان آدم عليه السّلام وو . نو دا نظريه بلکل غلطه ده چه څوک وائی چه آدم اول انسان نه دے بلکه فقط اول پيغمبر دے دارنگ څوک چه دَ ارتقاء قائيل دی نو دا ټول دَ قرآن کريم نه منکر دی .

سـ٨ :- دَ نَسْلَهٗ نه معلومه شوه چه هغکښې آيت کښې آدم عليه السّلام مراد دے . سُلٰلَةٍ په زور را ويستلے شوے ته ويلے کيږی اشاره ده چه کومه نطفه چه دَ شهوت په زور سره دَ ملا او دَ سينے نه را ويستلے شی نو دَ هغے نه ولدا پيدا کيږی دَ هسے نطفے نه انسان نه پيدا کيږی .

سـ٩ :- په دے کښې تتمه دَ خلق دَ انسان ده . سَوّٰىهُ دَ دے نه مراد هغه انقلابات دی تر پوره کولو دَ اعضاؤ پورے کوم چه سورة مؤمنون سـ١٣ سـ١٤ کښې ذکر شوے دی .
رُّوْحِهٖ دَ دے اضافت الله تعالیٰ ته په دے وجه کړے شوے دے چه دَ روح دَ پيدائښت دَ پاره هيڅ ظاهری ماده نيشته قل الروح من امر ربی او دَ عيسیٰ ناقة الله هم ده . او سمع ، بصر ، زړه ، ئے خاص ذکر کړل ځکه چه دا قوتونه هم پټ دی پشان دَ روح اگرچه اعضاء دَ دے ښکاره دی ، او يله وجه دَ تخصيص داده چه دا دَ پوهے او دَ علم اسباب دی . او هرکله چه پوهه دَ غوږونو صرف آوازونه دی چه هغه يوه نوعه ده او پوهه دَ سترگو او دَ زړونو ډير انواع دی دَ دے وجے نه سمع ئے مفرد ذکر کړو او ابصار او افئدة ئے جمع ذکر کړو . او دا انعام ئے په سورة نحل سـ٧٨ ملک سـ٢٣ مؤمنون سـ٧٨ کښې هم ذکر کړے دے (پاتے په بل مخ)

وَقَالُوٓا۟ ءَإِذَا ضَلَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ أَءِنَّا لَفِى

او دوی وائی ایا کله چه موږ ورک شو په خاورو کښ ایا شو به موږ په

خَلْقٍ جَدِيدٍۭ ۚ بَلْ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ كَـٰفِرُونَ ﴿١٠﴾

پیدائښت نوی کښ بلکه دوی د ملاقات د رب خپل نه انکار کوی.

قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى

ته اُوایه ساه به اخلی ستاسو ته ملک د مرګ هغه چه

وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾

مقرر کړے شوے دے په تاسو باندے بیا به ستاسو رب ته تاسو پیش کیدلے شئ.

قَلِيلًا یعنی لږ کسان شکر کنداردی او ما د پاره د تاکید قلت دے یا مراد دا چه لږه شکریه کوئ یعنی په وخت د ډیرے سختے صرف الله تعالیٰ یادوئ. یا مراد د قِلت نه عدم دے.

سلا :- دا زجر دے په انکار د بعث بعد الموت سره. او هرکله چه مخکښ صداقت د رسول او بیا بیان د توحید په دلیلونو سره اوشو نو اوس څلورم مقصد ذکر کوی (یعنی اثبات د آخرت) او هرکله چه تیر شوے دلیلونه د اثبات د قیامت د پاره هم کافی وو. د دے وجے نه د دے د پاره یئ نور دلیلونه ذکر نه کړل. بَلْ هُمْ دا بَلْ د پاره د ترقیٔ دے یعنی صرف تعجب او انکار د بعث نه نهٔ کوی بلکه د قیامت د ټولو حالاتو نه انکار کوی او خاص طور باندے رب ته د پیش کیدلو نه منکر دی.

سلا :- دا جواب د انکار د دوی دے چه مخکښ ایت کښ ذکر شو. حاصل دا چه ستاسو روح د الله تعالیٰ په اختیار کښ دے چه د هغے په قبض کولو باندے ملک الموت مقرر کړے دے نو د داسے قادر ذات د شان نه لرے نه ده چه تاسو دوباره پیدا کړی.

فائده :- اشکال دا دے چه دلته ملك الموت یئ مفرد ذکر کړے دے او په سورة انعام سلا سورة نساء ۹۷ کښ جمع ذکر شوید ے کد ے څه تطبیق دے؟

اول جواب دا دے چه ملك الموت یو دے چه د هغهٔ نوم عزرائیلؑ مشهور دے (اګر چه په هیڅ نص صحیح مرفوع کښ دا نوم زما په علم کښ نیشته) خو د هغهٔ سره نور ملګری تابعدار ملائیک دی نو د بعض د روح قبض کولو د پاره خپله راځی او بعض د پاره نور ملائیک اولیږی. دویم جواب دا دے چه دلته مراد واحد جنسی دے یعنی جنس ملك الموت، او هغهٔ جمع سره هیڅ منافات نه لری. او کوم روایتونه چه

وَلَوْ تَرٰىٓ اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ

لو که چرے اوینے ته هغه وخت چه مجرمانو به ښکته کړے وی سرونه خپل

عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا

په نیز د رب د دوی (وائی به) اے ربه زمونږه اولیدل مونږ او واوریدل مونږ نو واپس اوګرځوے مونږ

نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا مُوْقِنُوْنَ ⑫ وَلَوْ شِئْنَا

چه عمل اوکړو نیک عمل یقینًا مونږ یقین کوؤنکی یو ۔ او که غوښتلے وے مونږ

لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدٰىهَا وَلٰكِنْ

ضرور ورکړے به وے مونږ هر تن ته هدایت د هغه او لیکن پوره شوے ده

حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّیْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ

فیصله د عذاب زما د طرف نه چه ضرور به ډک ووم جهنم لره د پیریانو

د عزرائیلؑ د تصرف عامه او علم عامه د پاره مفسرینو ذکر کړے دی په هغې کښ هیڅ روایت مرفوع صحیح نیشته (والله اعلم)۔

ف۱۲۔ دا تخویف اخروی دے منکرینو لره او ذکر د احوالو د دوی دے روستو د (الیه ترجعون) رجوع الی الله نه ۔ اَلْمُجْرِمُوْنَ نه مراد هغه دی چه د قرآن او رسول او توحید او قیامت نه (چه تیر شوی آیاتونو کښ ذکر شول) انکار کوی۔

نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ دا علامت د ملامتیا او د شرمندګئ او د ذلت دے۔ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا، مراد د دے نه علم د هغه خبرو دے چه دوی په دنیا کښ د هغې انکار کړے وؤ۔ اکثر دوی انکار کوؤ د هغه څه نه چه دوی په سترګو باندے نه لیدلو (چه هغه په یؤمنون بالغیب کښ مراد دی) او دا رنګ دوی وحی د الله تعالٰی او قرآن وحدیث ته نه په دنیا کښ غوږ ږدلو اوس هغه دواړه حالتو ته ورته حاصل شول مجبورًا۔

مُوْقِنُوْنَ یقین حاصلیږی روستو د استعمال د اسبابو د علم ته د دے وجے نه ئے د بصر او سمع نه روستو یقین حاصلول ذکر کړل۔ او طلب د واپسے دُنیا ته په سورة انعام ف۲۷ اعراف ف۵۳ سورة مؤمنون ف۹۹ کښ هم ذکر شوے وؤ سرهٔ د جواب نه۔

وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ⑬ فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ
او انسانانو نه په یو ځائے. (اوبه ورته وئیل شي) نو اوڅکئ په سبب د هیرولو ستاسو

لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَذُوْقُوْا
ملاقات ستاسو د دے ورځے یقینًا مونږ په تاسو هیر کړو او څکئ

عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ⑭ اِنَّمَا
عذاب د همیش والی په سبب د هغه عملونو چه تاسو کول. یقینًا

يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا
ایمان لري په آیاتونو زمونږ هغه کسان چه کله بیان شي دوی ته آیاتونه پریوځي

سُجَّدًا وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ
سجده کوونکي او تسبیح وائي سره د حمد د رب خپل نه او دوی

لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ⑮ السجدة تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ
لوئي نه کوي. لرے کیږي اړخونه د دوی د بسترونه

السجدة ۹

سـ۱۳ ، دا هم تخویف کښ داخل دے او دا متعلق دے په اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا پورے یعنی په دنیا کښ دوی هدایت د دے وجے نه حاصل کړے نه وو چه هغه د الله تعالیٰ په اختیار کښ دے او دا مذهب د اهل سنت دے چه الله تعالیٰ د کافر د ایمان وهدایت اراده نه ده کړے او هیڅ کار د الله تعالیٰ د ارادے نه بغیر نشي کیدلے. وَلٰكِنْ دا دفع د وهم د پاره ده یعنی څه سبب دے چه الله تعالیٰ د دوی د هدایت اراده نه ده کړے؟ جواب دا دے چه فیصله ده د عذاب په وعده د ډکولو د جهنم سره د دے مجرمانو نه. او الله تعالیٰ د خپلے وعدے خلاف نه کوي لکه سورة ص سه۸ کښ ذکر کړے ده.

سـ۱۴ ، دا هم تخویف کښ داخل دے. سبب د عذاب ئے نسیان د قیامت ذکر کړیدے ځکه چه انکار د قیامت سبب دے د نورو کفریاتو د پاره. اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ مراد په دُنیا کښ دے یعنی محروم کول د دوی د هدایت نه یا مراد په آخرت کښ یعنی په عذاب کښ پریښودل پشان د نسیًا منسیًا. په دواړو لفظونو (نسیتم نسیناکم) کښ معنیٰ د پریښودلو قصدًا مراد ده. او ذُوْقُوْا ئے دوه کرته ذکر کړو اشاره ده ډیرو قسمونو د عذابونه.

سـ۱۵ ، دا ذکر د حال د مؤمنانو دے روستو د ذکر کولو د حال د منکرینو نه د پاره د فرق او د بشارت دے. په دے آیت کښ د دوی درے احوال ذکر کړیدی اول عمل د

يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا ز وَّمِمَّا

بلی خپل رب لره یره کوونکی او طمع لرونکی او د هغه نه

رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ

چه مونږ ورکړیدی خرچ کوی - پس نه پوهیږی هیڅ نفس په حقیقت د هغه چه

اُخْفِیَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ج جَزَآءً ۢ بِمَا

پټ ساتلے شویدے دوی د پاره یخ والے د سترګو بدله ده د هغه

اندامونو چه سجدهٔ د. دویم عمل د ژبے چه تسبیح او حمد دے دریم عمل د زړه دے چه تکبر نه کول دی او دا علامات دی د مؤمن بالقران. اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا ،

دا خاص حالت دے یعنی هرکله چه ایاتونه د سجدے او لوستلے شی نو سجده کوی، او ډیره عاجزی او تضرع نه تعبیر ئے اوکړو په خَرُّوْا سره او دا ټول حالتونه هم اشاره ده او بیا د سجدے نه مراد انقیاد او تابعداری کول د قران دی۔

سلا :- تَتَجَافٰی په ایت کښ د ورځے حال ئے ذکر کړو په دے ایت کښ د شپے حال ذکر کوی، او دا هم درے دی اول خپلو بسترو نه د ډیر لرے ساتل مَضَاجِع کښ اشاره ده چه ټوله شپه عبادت نه کوی ځکه بسترے د ارام کولو د پاره شته دے لیکن ټوله شپه په هغے باندے ارام هم نه کوی. او هرکله چه په اوده کیدلو کښ سنت طریقه داده چه په ښی اړخ باندے څملئ د دے وجے نه جنوب ئے ذکر کړے دے او دویم حال يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ دے دا ئے په طریقه د جمله حالیه ذکر کړے دے اشاره ده چه د بسترے لرے کیدل د تورقساتو فجارو پشان نه دی بلکه د عبادت د پاره دی. دعا مغزد عبادت دے او اصل عبادت دے (لکه چه حدیث کښ ثابت دی) د دے وجے نه دُعا ئے ذکر کړه او ټول عبادات بدنیه په کښ داخل دی. خوف ئے ځکه مخکښ کړو چه اسباب د ویرے یعنی ګناهونه اوکوتاهے ډیرے دی او طَمَعًا ئے ذکر کړو رجا ئے نه ده ذکر کړے اشاره ده چه په عملونو هیڅ اعتبار نه کوی صرف د الله تعالیٰ د رحم امید لری او فرق د طمع او د رجا دا دے چه اسباب ئے تیار کړے نو دے ته رجاء ویلے کیږی او چه اسباب ئے نه وی تیار کړے یا اسباب ئے تیار کړے وی خو په هغے باندے نظر نه ساتی نو دے ته طمع ویلے کیږی. او دریم حال وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یعنی سره د عبادات بدنیو نه عبادات مالیه هم کوی او خپل مالونه د الله تعالیٰ په دین او د هغے په دعوت و تبلیغ باندے قربان کوی۔

كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾ أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ

عملونو چه دوی کول . ایا هغه څوک چه مؤمن وی پشان دَ

كَانَ فَاسِقًا ۚ لَا يَسْتَوُونَ ﴿١٨﴾ أَمَّا الَّذِينَ

هغه چا دے چه نافرمان وی برابر نشی کیدے هر چه هغه کسان دی

آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ جَنَّاتُ الْمَأْوَىٰ

ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی دَ ښو سره برابر نو دوی لره باغونه دَ اوسیدلو دی

سکا:- دا بشارت اخرویه دے بناء دے په تیر شوی اسبابو باندے. فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ په دے کښ ډیر تاکید او مبالغه ده دَ عظمت دَ نعمتونو دَ جنت، او حدیث کښ وارد دی چه (مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَىٰ قَلْبِ بَشَرٍ) " نهٔ دَ چا سترګو لیدلے دی او نهٔ دَ چا غوږونو اوریدلے دی او نهٔ دَ چا په زړه باندے تیر شویدی "ځکه چه ادراک دَ دے اندامونو (حواسو) متناهی دے او نعمتونه دَ جنت بے انتها دی .

فائده:- که اوریلے شی چه الله تعالیٰ په قران کښ دَ هغے نه دَ بعضو نعمتونو ذکر په ډیرو ایاتونو (دَ بشارت اخرویه) کښ کړے دے نو علم دَ هغے خو حاصل شویدے نو څه رنګ ئے اوفرمائیل چه فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ جواب دا دے چه قران کریم کښ صرف دَ هغے تعبیرات دَ پوهے دَ مخلوق دَ پاره ذکر کړیدی او هر کله چه حقیقت دَ هغے دَ دُنیا دَ نعمتونو نه جدا دے نو دَ دے وجے نه حقیقت ئے هیڅ نفس ته معلوم نه دے. قُرَّةِ أَعْيُنٍ دَ سترګو یخوالے په عرف کښ کنایه ده دَ پوره خوشحالے نه لکه چه سورة فرقان سکے کښ دا لفظ تیر شویدے.

سلا:- دَ دے ایت نه دویم باب دے تر اخره پورے په دے کښ ذکر دَ تقابل دَ اهل ایمان او اهلِ کفر دے په درے ایاتونو کښ بیا منکرینو ته تخویف دنیوی او زجر دے په دوه ایاتونو کښ بیا ذکر دَ حال دَ موسیٰ او دَ هغهٔ دَ تابعدارانو دے په طریقه دَ دلیل نقلی سره په درے ایاتونو کښ، بیا تخویف او زجر دے په درے ایاتونو کښ، او تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په اخری ایت کښ.

په دے (سلا) کښ دعویٰ دَ سورت ذکر ده . فَاسِقًا دَ دے نه مراد فاسق دے په عقیده کښ یعنی کافر او مشرک . لَا يَسْتَوُونَ صیغه دَ جمع ئے دَ دے وجے نه ذکر کړے ده چه دَ مؤمن او فاسق نه هر فرد دَ دوی مراد دے نو هغه جمع ده. دَ قتاده نه روایت دے چه دوی نه دی برابر په دنیا کښ او نه په وخت دَ مرګ او نه په اخرت کښ.

نُزُلًا بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۹﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ

تیاره میلمستیا ده په وجه د هغه عملونو سره چه دوی کول. او هرچه هغه کسانه دی

فَسَقُوا فَمَأْوَاهُمُ النَّارُ كُلَّمَا أَرَادُوا

چه نافرمانی یې کړے ده نو ځائے د ورتللو د دوی اُور دے هر وخت چه اوغواړی

أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا وَقِيلَ

چه اُوځی د هغې نه واپس به اوګرځولے شی په هغې کښ او اوبه د ویلے شی

لَهُمْ ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّذِي كُنْتُمْ

دوی ته او څکئ عذاب د اُور هغه چه تاسو

بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿۲۰﴾ وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ

د هغې تکذیب کوۀ. او ضرور او به څکوو مونږ دوی ته د عذاب

الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ

نزدے نه مخکښ د عذاب لوے نه د دپاره د دے

سول .. دا تفصیل دَ عدم مساوات دے. نو په دے ایت کښ ذکر دَ حال دَ مؤمنانو دے او بشارت دے دوی ته.

اَلْمَأْوٰی مراد دَ دے نه ځائے دَ همیشه دیره کیدلو دے نو دا مقابل دَ دُنیا شو چه هغه ځائے دَ ارتحال دے.

نُزُلًا یعنی دَ دوی دَ پاره نعمتونه په هر وخت دَ میلمنو پشان وی دا سے نه ده (دَ دُنیا پشان) چه صرف درے ورځے به میلمه وی بیا به دَ کوریه په شان شی.

سـ۲ .. دا ذکر دَ حال دَ دویم فریق دے او دَ هغوی دَ پاره تخویف دے. كُلَّمَا أَرَادُوا أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا په دے جمله کښ اشاره ده همیشه پاتے کیدلو ته په جهنم کښ او دَ دوی اهانت او بے عزتئ ته اشاره ده نو دا دَ نُزُلًا په مقابله کښ دے.

يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ

چه اوګرځي (د ګناهونو نه) . او څوک زيات ظالم دے د هغه چا نه چه بيان کړے شي هغه ته ايانتونه

رَبِّهٖ ثُمَّ اَعْرَضَ عَنْهَا ۭ اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ

د رب د هغه بيا مخ واړوي د هغې نه يقينًا موږ د مجرمانو نه

مُنْتَقِمُوْنَ ﴿۲۲﴾ ع وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

بدله اخستونکي يو . او يقينًا ورکړے وو موږ موسٰی عليه السّلام ته کتاب

فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَاۗىِٕهٖ وَجَعَلْنٰهُ

نو مه کيږه په شک کښ د ملاويدلو د هغه نه اوجوړ کړے وو موږ دا کتاب

هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ ﴿۲۳﴾ ج وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ

هدايت د پاره د بني اسرائيلو . او جوړ کړے وو موږ د دوی نه

ع ۲ / ۱۵

ف۲۱ :- دا هم بيان د حال د دويم فريق دے او تخويف دنيوی دے . او الْعَذَابِ الْاَدْنٰى نه مراد عذاب د دنيا دے ځکه چه ادنٰی په معنٰی د نزدے يا په معنٰی د کم درجے والا دے . دُوْنَ الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ د دے نه مراد عذاب د آخرت دے يا مراد د دے نه عذاب د قبر دے .

فائده :- د ادنٰی په مقابله کښ اقصٰی راځي نو دلته ئے اکبر ولے ذکر کړو؟ د دے وجه دا ده چه د دُنيا په عذاب کښ دوه صفتونه دی يو نزديکت او دويم کموالے . او د آخرت په عذاب کښ هم دوه صفتونه دی يو لرے والے دويم غټ والے نو د دُنيا په عذاب کښ تخويف د پاره مؤثر صفت نزدے والے دے او د آخرت په عذاب کښ د تخويف د پاره مؤثر صفت غټ والے دے .

ف۲۲ :- دا هم بيان د حال د دويم فريق دے په طريقه د زجر سره او بيان د سبب د ماقبل عذاب دے . مُنْتَقِمُوْنَ عذاب د دُنيا او آخرت دواړو ته اشاره ده .

ف۲۳ :- دا ذکر د مؤمنانو سابقينو دے او تعلق لري د سورت د آيت ۲ ۳ سره يعني تائيد دے د صداقت د قرآن او د رسول . فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَاۗىِٕهٖ . په معنٰی د لِقَاۗءِ او په ضمير د هغې کښ او په اضافت کښ ډير اقوال دی ۱ لقاء په معنٰی د ملاقات ۲ تلقي يعني قبلول ۳ اخستل . ۱ او اضافت مفعول ته دے . ۲ يا اضافت فاعل ته دے او ضمير راجع دے موسٰی عليه السّلام ته يا راجع دے کتاب ته يا رب ته .

تفصیل دَ معانی دا دے ۱ پس مه کیږه په شک کښ دَ قبلولو دَ موسٰی علیه السلام نه دغه کتاب لره ۲ پس مه کیږه ته په شک کښ دَ اغستلو ستانه مثل دَ دغه کتاب لره ۳ پس مه کیږه په شک کښ دَ مخامخ کیدلو ستا نه پشان دَ موسٰی علیه السّلام دَ مصیبتونو سره. ۴ پس مه کیږه ته په شک کښ دَ ملاقات کولو ستا نه موسٰی علیه السّلام سره په شپه دَ معراج کښ" یعنی هغه لیدل بالکل حق دی او دغه ملاقات دَ ارواحو دَ هغوی سره وؤ چه په شکل دَ بدنونو دَ هغوی سره جوړ کړے شوے وو ماسوا دَ عیسٰی علیه السّلام نه او دا تفصیل سورة بنی اسرائیل کښ تیر شوے دے. ۵ پس مه کیږه په شک کښ دَ ملاقات ستا دَ خپل رب سره.

ملا ۲۴:- په دے کښ امت دَ موسٰی علیه السّلام ذکر کوی چه په هغوی کښ دعوت او تبلیغ جاری وؤ نو اشاره ده امت دَ آخری نبی صلّی الله علیه وسلّم ته چه دَدهٔ په امت کښ به هم دعوت جاری وی او په دے آیت کښ آئِمَّةً عام دے انبیاؤ دَ بنی اسرائیلو ته او علماؤ دَ هغوی ته لکه سورة انبیاء ۷۳ کښ. او په دے آیت کښ دلیل دے چه په صبر او یقین سره امامت دَ دین حاصلیږی (لکه چه ابن کثیر ویلے دی) په صبر سره دفع دَ شهواتو راځی او په یقین سره زوال دَ شبهاتو حاصلیږی.

ملا ۲۵:- آیت کښ ذکر دی چه په امت دَ موسٰی علیه السّلام کښ ریاتے په یل څ)

فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ ۭ اَفَلَا
په کورونو دَ هغوی کښې یقیناً په دے کښې ډیر دلیلونه دی ایا نو دوی نه
يَسْمَعُوْنَ ﴿۲۶﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَاۗءَ
اوری . ایا دوی نه گوری چه موږ چلوو اوبه (باران)
اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا تَاْكُلُ
زمکے شاړے ته نو راوباسو په هغے سره فصل چه خوری
مِنْهُ اَنْعَامُهُمْ وَاَنْفُسُهُمْ ۭ اَفَلَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۲۷﴾
دَ هغے نه څاروی دَ دوی او ځانونه دَ دوی ایا نو دوی نه وینی .
وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ اِنْ كُنْتُمْ
او دوی وائی چه کله به وی دا فیصله که تا سو

اختلاف پیدا شویوځ نو اشاره ده چه په دے اُمت کښې به هم اختلافات پیدا کیږی لکه په حدیث دَ (ستفترق امتی علی ثلث سبعین فرقة) کښې دا ذکر شویدی .
سلا ۲۶ . دا زجر دے دویم فریق ته چه منکرین دی چه دوی دَ تیر شوؤ منکرینو دَ عذابونو دَ دُنیا نه هیڅ عبرت نه اخلی . يَهْدِ دا په معنیٰ دَ هدایت عقلیه سره دے یعنی ایا نه ده ښکاره شوے دَ دوی عقلونو ته . اَفَلَا يَسْمَعُوْنَ هر کله چه واقعات دَ تیر شوے قومونو دَ اوریدلو سره تعلق لری دَ دے وجے نه زجر ئے په نه اوریدلو سره ذکر کړو .
سلا ۲۷ . دا بل زجر دے چه دا منکرین دَ عقلی دلیلونو نه هم عبرت نه اخلی .
نَسُوْقُ الْمَاۗءَ په دے کښې اشاره ده بارانونو ته . الْجُرُزِ هغه زمکه ده چه بوټی دَ هغے نه اوچ شوے او پریکړے شوے وی نو شاړه پرته وی . خوره تا کے زمکے ته جُرُز نه وئیلے کیږی ځکه چه وریسے فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا ذکر کړے دے یعنی فصل په کښې نه کیدلے شی . اَنْعَامُهُمْ ئے ځکه مخکښې ذکر کړے دے چه په فصلونو او بوټو کښې دَ څاروؤ خوراک زیات وی په نسبت دَ خوراک دَ انسان .
او هر کله چه دا ایات (دلیلونه) دَ لیدلو سره تعلق لری دَ دے وجے نه دَ دے په اخر کښې اَفَلَا يُبْصِرُوْنَ ذکر کړو .

ف ۲۸:۔ داهم زجردے په انکار دَ قيامت سره اودا متعلق دے دَ ف ۲۵ سره چه په هغے کښ دَ فصل (فيصلے دَ قيامت) ذکر اوکړو نو دوی انکارشورو کړو۔ الْفَتْحُ دا ماخوذ دے دَ فَتَّاحَة نه په معنیٰ دَ فيصلے سره دے ځکه چه فتح ښکاره کيدل اوکولاويدلو ته وائی او فيصلے سره هم ښکاره کيدل کيږی۔

ف ۲۹:۔ داجواب دے۔ يعنی دَ دوی مقصد دادے که چرے بالفرض دَ فيصلے ورځ راشی نو بيا به هغه وخت ايمان راوړو نو جواب اوشو چه په هغه ورځ ايمان نه قبليږی ځکه چه دغه ايمان جبری دے۔ يَوْمَ الْفَتْحِ دا ظرف دے دَپاره دَ لا ينفع۔

ف ۳۰:۔ دا تفريع ده په ماقبل زجرونو باندے او تسلّی ده نبی صلّی الله عليه وسلّم ته، او اعراض نه مراد دَ دوی نه بے پرواه کيدل او دَ دوی نه براءت کول دی مُنْتَظِرُوْنَ يعنی دوی ستا دَ مرګ يا قتل انتظار کوی يا منکرين دَ عذاب انتظار کوی دَ مؤمنانو دَپاره يا دا منکرين دَ خپل عاقبت هم انتظار کوی۔

"تمّ تفسير سورة تنزيل السجدة بفضله تعالیٰ"

اے نبی (همیشه) ویره کوه د الله تعالیٰ نه او خبره مه منه د کافرانو

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سُورۃ الاحزاب مدنیة

ربط دَدے دَمخکښ سورت سره په څلور طریقو سره دے۔ اوله طریقه تیرشوی سورت کښ مسئله دَ توحید وه نو په دے سورت کښ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداری ذکر کوی۔ دویمه طریقه مخکښ سورتونو کښ رد دَ شرک وؤ نو په دے سورت کښ رد دے په بداعاتو شرکیو باندے۔ دریمه طریقه تیرشوے سورتونو کښ اثبات دَ توحید وؤ نو په دے سورت تیزی ورکوی په دعوت او تبلیغ دَ دے مسئلے باندے۔ څلورمه طریقه دَهغه سورت اختتام وؤ په امر دَ انتظار سره نو په دے سورت کښ او امر ذکر کوی دَپاره دَ عمل کولو په زمانه دَ انتظار کښ۔

دعویٰ دَدے سورت۔ تیزی ورکول رسول صلی الله علیه وسلم ته په دعوت او په رد دَ بداعاتو باندے په دولس خطاباتو کښ او تیزی ورکول امت ته عموماً او خصوصاً په اطاعت کولو او په توقیر کولو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په شپارس خطاباتو کښ او اثبات دَ توحید په ذکر دَ درے مثالونو سره او په نهه ایاتونو کښ۔

خلاصه دَدے سورت۔ دا سورت تقسیم دے څلورو بابونو ته اول باب تر س۳ پورے دے۔ په دے کښ دعویٰ دَ سورت ده په ذکر دَ څلورو خطاباتو دَ رسول صلی الله علیه وسلم تر س۲ پورے بیا رد دے په درے اقوالو دَ اهل رسومو او اشاره ده مثالونو ته په س۵ کښ۔ او خطاب دے مؤمنانو ته په س۶ س۷ کښ او پنځم خطاب دَ نبی دے په س۸ کښ۔

وَالْمُنٰفِقِيْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ①

او دَ منافقانو یقینًا الله تعالیٰ دے پوهه حکمتونو والا

وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او تابع اوسه دَ هغې چه وحی کیدے شی تاته دَ طرف دَ رب ستا نه یقینًا الله تعالیٰ

كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ② وَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ

دے ستاسو په عملونو باندے خبردار او کړه او سپاره په الله تعالیٰ باندے

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ③ مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ

او پوره دے الله تعالیٰ ذمه وار۔ نه دی جوړکړی الله تعالیٰ هیڅ سړی لره

تفسير

سلسلہ ۳: په دے ایاتونو کښ څلور خطابات دی نبی صلی الله علیه وسلم ته دے اوامر او نواهی ده دَ ټولو حاصل تیزی ورکول دی په دعوت او تبلیغ باندے او هغه اول سبب روحانی باطنی دے (تقوی) دویم دفع دَ موانعو ده وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ او دریم طریقه او مأخذ دَ دعوت دے وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ او څلورم دفع دَ خوف او وجود دَ اخلاص (وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ).

فائده: دَ دے سورت په ابتداء کښ خازن او خطیب شربینی او نورو مفسرینو لیکلی دی چه دَ اُحد دَ واقعے نه روستو دَ مشرکانِ مکه وفد راغے او دَ منافقانِ مدینه سره ئے مشوره اوکړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او هغه سره دَ اتحاد او دَ مصالحت خبره په دے طریقه اوکړه چه ته لات منات وغیره ته بدَ مه وایه بلکه دوی شفعاء قبول که او منه لکه چه زمونږ عقیده ده او مونږ به هم تاته په نورو خبرو کښ رکاوټ نه اچوو خپل نور دعوت کوه او منافقانو هم دَ هغوی تائید اوکړو چه دا اختلاف پریږده او دَ جنګونو نه به هم خلاص شے او دوی به په تا باندے حملے نه کوی (دَ دے ټولو خبرو مقصد ترغیب دَ مداهنت ورکول وو رسول صلی الله علیه وسلم ته) نو دَ دے سورت ابتداء دَ هغوی په جواب کښ نازل شوه۔ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ دا نداء دَ پاره دَ عظمت دَ نبی صلی الله علیه وسلم ده ځکه ئے محمد نه دی ویلے. او په دے کښ اشاره ده چه ته لوے شان والا ئے او خبر ورکوونکے ئے دَ الله تعالیٰ دَ حکمونو دَ دے وجے نه په دے روستو خطاباتو ضرور عمل اوکړه۔ اتَّقِ اللّٰهَ مراد دَ دے نه په تقوی باندے ټینګیدل او همیش والے دے وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ په شرک رباکے په بل مخ)

مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ
بیبیانے ستاسو نه دی جوړ کړی په خیټه دَ هغه کښ او دوه زړونه
الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ
او نه دی جوړ کړی مائیندے ستاسو ظهار کوئے ورسره هغه چه تاسو
اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ۭ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ
ده ستاسو وینا دا ستاسو ځامن (متبنیٰ) شوی بللے خولے په
بِاَفْوَاهِكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي
او هغه روانول کوی حق او الله تعالی وائی په خولو ستاسو (بے دلیله)
السَّبِيْلَ ۝ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَاۗىِٕهِمْ هُوَ اَقْسَطُ
دا ډیر انصاف دے ته دَدوی پلرانو کوونکی نسبت دَدوی اخله نوموته . لارے دَ حق ته

منلو کښ دَ کافرانو تابعداری مه کوه. وَالْمُنٰفِقِيْنَ په مداهنت کولو او دَ حق بیان په پریخودلو کښ دَ منافقانو طاعت مه کوه. مَا يُوْحٰۤى اِلَيْكَ قران پاک او حدیث دے. وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ مراد دَ دے نه نفی دَ خوف ده دَ غیر الله نه. وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا دَ الله تعالی په صفت کښې مراد دَ دے نه هغه ذات چه دَ ټولو کارونو ذمه وار او تدبیر جوړوونکے وی او په دے صفت کښ دَ الله تعالی شریک نیشته دَ دے وجے نه وَكَفٰى ئے ذکر کړے دے.

سـ:. مقصود په دے ایت کښ تردید دَ مشرکانو دے په درے اقوالو باندے. اول قول دَ دوی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم ته ئے ویلے وو چه ته زموږ معبودان شفعاء (قهریه) او منه او موږ به تا سره عظمت او کبریاء دَ الله تعالی تسلیم کړو نو دَ دے رد ئے اوکړو چه دَ عقیدے محل زړه دے او شرک او توحید دوه متضاد عقیدے دی په یو زړه کښ دواړه نشی جمع کیدلے ځکه چه اجتماع دَ ضدینو په یو محل کښ عقلاً محال ده او دوه زړونه خو دَ یو کس دَ پاره کیدے نشی نو معلومه شوه چه یو کس موحد او مشرک په یو وخت نشی کیدے (نو دَ دے ایت تعلق دے دَ اتق الله سره). دویم قول دَ دوی چه زوجه (ښځې) ته به ئے اُویل چه دا په ما باندے په دَ مور پشان وی نو هغه به ئے حقیقتاً مور ګڼړله او همیشه دَ پاره به ئے په ځان باندے حرامه ګرځوله چه دَ هغے تفصیل او تردید به په سورت

عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ

په نیز دَ الله تعالیٰ نو که نه پیژنئ پلارانو دَدوی نو رونړه ستاسو دی

فِي الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ ۭ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ

په دین کښې او مریان (آزاد شوی) ستاسو دی او نیشته په تاسو باندے گناه

فِيْمَآ اَخْطَاْتُمْ بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ

په هغې کښې چه خطا شئ تاسو به هغې سره او لیکن (گناه دے) په هغې کښې چه قصد اوکړی

قُلُوْبُكُمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

زړونه ستاسو او دے الله تعالیٰ بخښنه کوونکے رحم کوونکے ۔

مجادله کښې راځی ۔ مراد دادے چه په یوه ښځه کښې دا دواړه صفتونه متضاد نشی جمع کیدلے چه هم دِ مور وی او هم دِ زوجه دی او په دے کښې اشاره ده په طور دَ مثال سره چه عبد معبود نشی کیدے ۔ دریم قول دَدوی چه دَ بل چا ځوئی ته به یے اُویل چه ته به زما ځوئے یے او هغه ته متبنّیٰ ویلے کیږی نو بیا به یے ویل چه دا ځوئے دے دَ ځوئی احکام به یے پرے چلول او دَ هغه ښځه به یے دَ اِنګور پشان په ځان باندے همیشه حرامه گنړله ۔ نو مراد دادے چه په یو ولد کښې دا صفتونه متضاد نشی جمع کیدلے چه هم دِ دَ یو مور او پلار نه پیدا وی او هم دِ دَ بل مور او پلار نه پیدا وی او په دے کښې هم اشاره ده چه که مشرکان دعویٰ او زعم کوی دَ یو بنده په باره کښې چه دے ولد دَ الله تعالیٰ دے او قریاد رس او معبود دے نو دا اجتماع دَ ضدینو ده او محال ده عقلاً او شرعاً ۔ په روستنو دواړه جملو کښې رد دے دَ مشرکانو په شرک فی التحلیل والتحریم باندے چه حلال شرعی لره په ځان باندے حرام گنړی بغیر دَ دلیل شرعی نه ۔ او دا درے اوهام دَ مشرکانو اعتراضونه وو په نبی صلی الله علیه وسلم باندے چه دَ هغې په سبب سره ددوی هغه لره دَ دعوت او تبلیغ دَ حق نه منع کول غوښتل نو دَ هغې جوابونه اوشول نو دَ دے تعلق دے دَ (ولا تطع الکافرین والمنافقین) سره ۔ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ دا کنایه ده چه دا دینا بے دلیله ده لکه چه یو قول په خولے سره وی او په زړه کښې نه وی نو هغه باطل وی ۔ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيْلَ په دے کښې اشاره ده چه دا درے واړه خبرے عقلاً هم یقینی دی او په شرع دَ الله تعالیٰ سره هم صحیح ثابت دی ۔

ف ۱ ۔ دا اول خطاب دے مؤمنانو ته دَ پاره دَ رد دَ رسم دَ مشرکانو ۔ رباتے په بل مخ ،

النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ

نبي ډير مهربان دے په مؤمنانو پاندے د ځانونو د هغوی نه او بيبيانې د

أُمَّهَاتُهُمْ وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ

ميندے د هغوی دی او رشته داران بعض د دوی حق دار دی نه ډيرتي د بعضو سره

او ذکر د ادب دے په باره د متبنیؓ کښې. او هرکله چه په دے سورت کښې واقعه د زيد بن حارثه ته اشاره وه چه د هغهٔ نه رسول الله صلی الله عليه وسلم متبنیؓ جوړ کړے وؤ او خلقو به ورته زيد بن محمد ويل او بيا چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د زيد طلاق کړے شوے ښځهٔ (زينب) سره په حکم د الله تعالیٰ سره نکاح اوکړو نو مشرکين او منافقانو اعتراضونه کول شور وکړو چه د څنګه پيغمبر دے چه زنګور (د خوئ ښځهٔ) سره يې نکاح اوکړو نو د دے وجے نه په دے سورت کښې د هغوی ترديد اوکړو ايت څلورم کښې اوفرمائيل چه زيد د نبي صلی الله عليه وسلم ځوئي نشي کيدے نو په دے ايت کښې منع کوی چه زيد د ځوئي په طريقه سره نبي صلی الله عليه وسلم ته منسوب کوئے. اَدْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ مراد د دُعا نه ذکر کول د نوم د متبنیؓ دی او دا رنګ هغه ته آواز ورکول يعنی وايئے زيد بن حارثه او آواز کوئے يا زيد بن حارثه.
او د دے حکم د وجے نه د عربو عادت هم دا دے چه اکثر اسم کنيت يئے په ابن فلان سره وی لکه ابن عباس ابن عمر ابن مسعود رضی الله عنهم او دا رنګ روستو علماء لکه ابن تيميه ابن قيم وغيرهما. او هرچه ابو فلان دے نو هغهٔ کله اسم کنيت وی کله چه فلان ځوئے موجود وی لکه ابو العباس ځکه چه عباس ځوئے (د ابن عباسؓ) موجود وؤ او کله د صفت په طور سره استعماليږی لکه " ابو القاسم د نبي صلی الله عليه وسلم په صفت کښې" ځکه چه مراد ترينه وصف د قاسميت دے دا نه ده چه قاسم يئے ځوئے وؤ دا رنګ ويلے شوے دی په باره د ابو حنيفه رحمته الله عليه کښې.
فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ يعنی چه د پلار نوم يئے نوی معلوم نو داسے وايئے يا اخی يا داسے وايئے يا مولیٰ فلان او د مَوَالِيكُمْ دوه معنے دی اوّل معنیٰ دوست يعنی ستاسو دينی دوستان دی. دويمه معنیٰ غلام آزاد کړے شوے لکه زيد لره چه نبي صلی الله عليه وسلم آزاد کړے وؤ نو وايئے مولیٰ رسول الله صلی الله عليه وسلم.
وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ دا عام قانون الٰهی دے که په مسئله د متبنیؓ کښې دی او که په نورو اقوالو کښې وی خو خطاء په ټولو کښې معاف ده. او هرکله چه خطاء معاف ده نو نسيان په طريق اولیٰ سره معاف دے ځکه په خطاء کښې حکم يادوی خو خلاف ترينه بے ارادے اوځی او په نسيان کښې حکم هير وی.

فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُهٰجِرِیْنَ

په حکم دَ الله تعالیٰ کښې دَ مؤمنانو او مهاجرینو نه

اِلَّاۤ اَنْ تَفْعَلُوْۤا اِلٰۤى اَوْلِیٰٓئِكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ

مګر دا چه کول پکار دی دَ دوستانو ستاسو سره نیکی دے

ذٰلِكَ فِی الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿۶﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا

دا (حکم دَ الله تعالیٰ) په کتاب کښې لیکلے شوے. او کوم وخت چه واغستو مونږ

سلا:۔ دا دویم خطاب دے مؤمنانو ته په باره دَ عظمتِ شان دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ بیبیانو دَ هغهٔ کښې۔ اَوْلٰی اوله معنیٰ دا ده چه زیات شفقت کوؤنکے او مهربان دے په مؤمنانو باندے دَ نفسونو دَ دوی نه ځکه چه نفس یې اکثر خواهشاتو ته بلنه کوی او هغه سبب دَ هلاکت دے او پیغمبر په هرحال کښې هدایت او نجات ته بلنه کوی. نو معلومه شوه چه شفقت دَ دهٔ دَ نفسونو بلکه دَ پلارانو نه هم زیات دے۔ دویمه معنیٰ دا ده چه تابعداری کول دَ نبی صلی الله علیه وسلم ډیر غوره او مخکښې ده دَ تابعدارئ دَ نفسونو نه او لحاظ کول دَ نبی غوره دی دَ لحاظ کولو دَ نفسونو نه لکه چه سورة توبه سلا۱۲ کښې دی۔ لیکن دلته اوله معنیٰ غوره ده او په هغې کښې اشاره ده چه پیغمبر ستاسو دَ پلار پشان دے دَ دے وجه نه په قراءت دَ ابیٔ بن کعب رضی الله عنه کښې" وهو ابوهم" راغلی دے نو پلار پسے دَ عیب خبرے کول ناجائز دی۔ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ مراد دے نه تشبیه ده دَ مایندو سره په واجب کیدلو دَ تعظیم دَ هغوی کښې او په همیشه حراموالی دَ نکاح دَ هغوی کښې یعنی دَ هغهٔ په بیبیانو پسے هم دَ عیب خبرے مکوئ پشان دَ مایندو ویئ او ګڼړئ۔

وَاُولُوا الْاَرْحَامِ په دے جملے سره یووهم دفع کوی هغه دا دے چه هرکله نبی صلی الله علیه وسلم پشان دَ پلار دَ امت دے او بیبیانے دَ هغهٔ مایندے دی ستاسو دَ هغوی میراث هم دَ دے امت حق په وی؟ جواب او شو چه دَ میراث تعلق دَ نسب سره دے او مراد دَ اولوالارحام نه قرابت دَ نسب دے۔ فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ، مراد دَ دے نه حکم دَ میراث دے۔ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ دا متعلق دے دَ اولیٰ سره یعنی نسب دَ میراث په باره کښې مخکښې دے دَ ایمان او دَ هجرت نه یا متعلق دے دَ بَعْضُهُمْ سره یعنی مِنْ بیانیه دے۔ او دا دواړه صفتونه دَ دے وجه نه خاص ذکر کړل چه ایمان سبب دَ دوستانے او دَ محبت دے او هجرت سبب دَ حاجت دے یعنی اګرچه (پاتے په بل مخ)

مِنَ النَّبِيّٖنَ مِيْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ
دَ ټولو پيغمبرانو نه لوظ دَ هغوی او خاص ستا نه او دَ

نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسَى ابْنِ
نوح او ابراهيم او موسٰی او عيسٰی ځوئی

مَرْيَمَ ۪ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ۙ﴿۷﴾
دَ مريم عليه السلام نه او اخستلے وُو مونږ دَ دوی نه لوظ پوخ

لِّيَسْئَلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَاَعَدَّ
دے دَپاره چه تپوس به کوی دَ رشتينو نه دَ رشتيا وينا دَ هغوی او تيار کړے دے

لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ
کافرانو لره عذاب دردناک. اے ايمان والو

دادواړه اسباب شته ليکن دا دَ ميراث دَپاره اسباب نشی کيدے. او دَ دے وجے نه تصلئ نه دی ذکر کړی بلکه هغه په المومنين کښ داخل دی. اِلَّآ اَنْ تَفْعَلُوْٓا اِلٰٓى اَوْلِيٰٓئِكُمْ مَّعْرُوْفًا مراد دَ اولياء نه دوستان په سبب دَ ايمان او دَ هجرت سره دی او دَ معروف نه مراد وصيت کول، هديه ورکول او احسان کول دی او دا استثناء منقطع ده يعنی اِلَّا په معنٰی دَ لکن دے او اَن تفعلوا په تاويل دَ مصدر سره مبتدا ده او خبر ئے حذف لکه جائز لفظ دے. الْكِتٰبِ دَدے نه مراد لوح محفوظ دے يا مخکښنی کتابونه دی چه په هغے کښ دا حکم دَ احسان کولو دَپويل سره ذکر کړے شوے دے.

ک ف ۸. په دے کښ پنځم خطاب دے رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په باره دَ دوعنا کښ دَ دعوت کولو دَپاره. او ربط مخکښ ايت سره ئے دا دے چه په هغے کښ ثابته شوه چه نبی زيات شفقت او رحم کوی په امت باندے نو په دے ايت کښ دَ هغے سبب ذکر کوی يعنی دا نبی داعی دے او داعی لره پکار دی چه شفقت کوی پشان دَپلار په اولاد باندے. مِيْثَاقَهُمْ دَدے نه مراد ميثاق دے دَ دعوت او تبليغ توحيد نه او تصديق کولو دَ يو بل نه. وَمِنْكَ دا خطاب دے زمونږ نبی صلی الله عليه وسلم ته او دا دَ النَّبِيّٖنَ نه روستو تخصيص بعد التعميم دے ځکه چه په دے پنځو انبياؤ باندے تکليفونه ډير تير شوی دی او دَ دوی امتونه هم ډير مشهور دی.

آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ

یا دوے نعمت دَ اللّٰہ تعالیٰ پہ تاسو باندے کلہ چہ راغلے تاسو تہ

جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ

لښکرے نو را اولیږلو موندږ پہ دوی باندے سیلئ او لښکرے (دَ ملائیکو) چہ تاسو

تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾

نہ لیدلے او دے اللّٰہ تعالیٰ ستاسو عملونو لرہ لیدونکے۔

مِیْثَاقًا غَلِیْظًا دَ دے نہ مراد اول میثاق دے لیکن دَ تاکید دَ پارہ یئے دوبارہ ذکر کړو او غَلِیْظًا نہ مراد پوخ والے دَ څخ دے پہ حلف باللّٰہ سرہ. یا دَ اول میثاق نہ مراد دعوت او تبلیغ دے او دَ دویم نہ مراد تصدیق دَ اخری رسول دے لکہ چہ سورۃ آل عمران ۸۱ کښ ذکر شوے دے. لِيَسْأَلَ دا علت یا عاقبت دَ میثاق اخستلو دے. صِدْقِهِمْ دَ دے نہ مراد صدق دے پہ دعوت او تبلیغ کښ او سوال دَ انبیاؤ نہ پہ سورۃ اعراف ۶ کښ هم ذکر دے. وَأَعَدَّ دا عطف دے پہ اخذنا باندے پہ تقدیر سرہ پہ عبارت کښ یعنی وعدہ دَ انبیاؤ نہ دَ دعوت پہ بارہ کښ دَ پارہ دَ دے چہ ثواب ورکړی اللّٰہ تعالیٰ مؤمنانو لرہ او تیار کړے دے عذاب دَ پارہ دَ کافرانو. یا پہ عبارت کښ دواړو طرفونو نہ حذف دے تقدیر دا دے لِيَسْأَلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ فَأَثَابَهُمْ وَيَسْأَلَ الْكَافِرِيْنَ عَنْ كِذْبِهِمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيْمًا۔

۹۔ دَ دے آیت نہ تر ۲۷ پورے دویم باب دے پہ دے کښ دوہ خطابات دی مؤمنانو تہ پہ ۹ ۔ ۲۱ کښ، او پہ مینځ کښ تقابل دَ حال دَ مؤمنانو او منافقینو دے او دَ منافقانو خوارنس قبایح ذکر کوی. او بشارتونہ دی مؤمنانو تہ پہ نصرت او غلبے سرہ پہ غزوہ خندق او غزوہ بنی قریظہ کښ. پہ دے ۹ کښ دریم خطاب دے مؤمنانو تہ حاصل یئے دا دے چہ دَ دے نبی صلّی اللّٰہ علیہ وسلّم اطاعت او ادب پہ دے وجہ سرہ کوئے چہ دَ دۀ دَ اطاعت پہ سبب اللّٰہ تعالیٰ تاسو سرہ امداد کړے دے او دَ منافقانو اطاعت دَ دے وجہ نہ مہ کوئے چہ هغوی پہ غزوۂ خندق کښ ستاسو منکر تیا پریخودے دہ۔ پہ دے آیاتونو کښ غزوۂ خندق چہ هغے تہ غزوہ احزاب هم وئیلے کیږی ذکر کوی پہ څلورم کال دَ هجرت کښ قریش او غطفان او یهود بنو قریظہ ټولو پہ یو ځل پہ مدینہ منورہ باندے دَ حملے کولو عزم او کړو نو نبی صلّی اللّٰہ علیہ وسلّم دَ مدینے دَ بچ کولو دَ پارہ دَ سلمان فارسی رضی اللّٰہ عنہ رایہ پہ بل مخ)

إِذْ جَآءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ

هر کله چه دوی راغلل تاسو ته دَ بره طرف ستاسو نه او دَ کوز طرف ستاسو نه

وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ

او کله چه کږې شوې سترګې او اورسیدل زړونه غټو مرو ته

وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا ⑩ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ

او ګمانونه کول تاسو په الله تعالیٰ باندې ګمانونه - دغه وخت ازمائښت اوکړې شو

په رأی سره دَ صحابو په ملګرتیا کښې خندق اوکنستلو او په هغې کښې ډیرو معجزاتو اظهار هم شوې دے. او مسلمانان هم تقریبًا درې زره لښکر وو او یو میاشت تیره شوه چه جنګ دَ دوی په مینځ کښې او نشو بلکه کله کله ویشتل دَ غشو اوکانړو کیدل.

آخرکار الله تعالیٰ په هغوی باندې سیلئ دَ صبا را اولیږله چه دَ هغوی خیمې ئې را اویستلې او دَ هغوی اوروته ئې مړه کړل اوکټوئې ورلړه اوغورځولے او ملائک هم رالیږلے شول چه هغوی دَ تکبیرونو آوازونه دَ دوی په خوا کښې کول او دَ دوی مخونه ئې واړول نو بغیر دَ جنګ نه کافران اوتختیدل او سامانونه ترینه پاتې شول

نِعْمَةَ اللَّهِ دَ دے نه مراد مدد دَ الله تعالیٰ دے رِيحًا مراد دَ دے نه رِيحَ الصَّبَا (بادِ صبا) دے ځکه چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلي دي (نصرت بالصبا واهلکت عاد بالدبور) بادِ صبا دَ مشرق دَ طرف نه راځي او دبور دَ مغرب دَ طرف نه راځي. وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا دَ دے نه مراد ملائک دي او مخکښې جنود نه مراد لښکرې دَ کافرانو دي.

سلـ.. په دے آیت کښې هیبت او سختي دَ هغه وخت ذکر کوي چه بنوغطفان دَ مدینې دَ اوچت طرف نه راغلل یعني دَ مشرق دَ طرف نه او قریش دَ مدینې دَ کوز طرف نه یعني دَ مغرب نه راغلل. وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ دا اشاره ده چه دَ ډیرې یرې او هیبت دَ وجې نه سترګو باندې اثر اوشي او دا رنګ په زړونو باندې هم ډیر اثر اوشو نو دواړه په ظاهر باندې حمل دي یا مراد ترینه زیات رعب او یره ده. الظُّنُونَا مختلف ګمانونه، دَ مؤمنانو ګمان دا وو چه الله تعالیٰ خپله وعده دَ غلبې دَ دین پوره کوي لیکن په موږ باندې امتحان کوي او یریدل دَ بې صبرئ نه او منافقانو ګمانونه کول چه دا رسول حق نه دے ځکه پرې دومره زیات مصیبت راغے او الله تعالیٰ ورسره امداد نه کوي.

الْمُؤْمِنُوْنَ وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا شَدِيْدًا ﴿۱۱﴾

په مؤمنانو باندے او جړ وهلے شول په جړ وهلو سختو سره۔

وَإِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

او کوم وخت چه ویل منافقانو سره او هغه کسانو چه په زړونو د هغوی

مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ إِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲﴾

کښ شک دے چه وعده نه ده کړے موږ سره الله تعالیٰ او رسول د هغه مگر دهوکه۔

وَإِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ

او کوم وخت چه اُویل یو ډلے د دوی نه اے یثرب (مدینے) والو

لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيْقٌ

نیشته طاقت ستاسو نو واپس شئ او اجازت غوختلو یو ډلے

مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ إِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ۛ

د دوی نه د نبی صلی الله علیه وسلم نه دوی ویل یقیناً کورونه زمونږ خالی دی

وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۚ إِنْ يُّرِيْدُوْنَ إِلَّا فِرَارًا ﴿۱۳﴾

او نه دی هغه خالی دوی نه غواړی مگر تختیدل۔

ع

۱۱:۔ داهم اشاره ده سخت والی د دغه حالت ته لیکن دا سے سختے د مؤمنانو مخلصانو د پاره ابتلاء وی عذاب نه وی او ابتلاء سبب د اوچت والی د درجو دے. او د ابتلاء اثر په زړه باندے او په باطنی قوتونو باندے وی او د زلزال اثر په ظاهری اندامونو باندے وی لیکن په دواړو حالتونو کښ مؤمن ثابت قدم وی او خپل دین نه بل طرف ته انتقال نه کوی۔

۱۲:۔ دا بیان د حال د منافقانو دے په دغه واقعه د احزاب کښ او هغوی ته زجرونه دی او د هغوی صفات قبیحه دی دلته مراد د مَّرَضٌ نه مرتبه د شک ده چه هغه هم یو قسم د منافق اعتقادی دے إِلَّا غُرُوْرًا یعنی په وعده د نصرت او فتح سره ئے مونږ د دین د مشرانو نه په دوکه سره را اوبیستلو او س مونږ سره امداد نه کوی او دا کلمه د کفر ده دا د منافق اول قبیح صفت دے۔

۱۳:۔ په دے ایت کښ زجر دے منافقینو ته او د هغوی دوه ډلے ذکر کوی. اوله ډله چه خلق ئے د قتال فی سبیل نه واپس کول او دویمه ډله چه خپله ړیاتے په یل مخ)

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا

او که چرے داخل کړی شی لښکرے په دوی باندے دَ ټولو طرفونو دَ مدینے نه بیا او غوختے شی

الْفِتْنَةَ لَآتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا بِهَا إِلَّا يَسِيرًا ﴿۱۴﴾

دَ دوی نه شرک ضرور او به کړی دوی هغه او حصار به نشی په دے کښ مګر لږ.

دَ جهاد نه په دروغو عذرونو سره پاتے کیدل. اول قسم لږ کسان وو نو هغوی ته یے طائفة اُویل او دویم ډله ډیره وه نو هغوی ته یے فَرِیقٌ اُویل. او په دے ایت کښ دَ منافقانو درے قباحتونه یے ذکر کړے دی. یَثْرِبُ، دَ جاهلیت په وخت کښ مدینے ته یثرب ویلے کیدلو ځکه چه دَ دے اب وهوا خرابه وه او پکښ مرضونه وو او ثراب ملامتیا او خفګان ته ویلے کیږی لکه لا تثریب علیکم الیوم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ دے دَ پاره دُعا اوغوښتله چه یا الله تعالیٰ دَ دے نه تبے او مرضونه جحفے ته نقل کړے (هغه وخت جحفه کښ یهودیان اوسیدل) او دیته یے مدینه او طابة نوم کیخودلو او بعض روایاتو کښ راغلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ یثرب نوم اغستل دَ مدینے نه منع اوکړله. لیکن منافقانو دَ نبی صلی الله علیه وسلم خلاف کوؤ دَ دے وجے نه یثرب لفظ یے استعمالوؤ. او بعض مفسرینو ویلے دی چه دا ښار اول چه کوم سړی اباد کړے وؤ دَ عمالقه نه وؤ او نوم یے یثرب بن عمیل وؤ دَ دے وجے نه دَ دے نوم یے یثرب کیخودلے وؤ. لَا مُقَامَ په پیش دَ میم سره په معنیٰ دَ اقامت دے مراد ترینه دلته طاقت دَ مقابلے دے. فَارْجِعُوا دَ میدان جنګ نه واپس شئ یا دَ دین اسلام نه واپس شئ دین دَ مشرکانو ته. عَوْرَةٌ، عور عیب او نقصان ته ویلے کیږی یعنی محفوظ نه دی دروازے یے نیشته یا دیوالونه یے کوز دی نو دشمن ورته په اسانه سره داخلیدلے شی یا خالی دی دَ حفاظت کوؤنکو نه.

اِنْ یُّرِیْدُوْنَ اِلَّا فِرَارًا یعنی دوی په دے بهانه سره دَ کورونو حفاظت نه غواړی بلکه دَ قتال نه تختیدل غواړی.

۱۴:۔ دا هم زجر دے منافقانو ته او دَ دوی دوه قباحتونه یے ذکر کړے دی اشاره ده لکه چه دوی دَ میدان جهاد نه تختیدلو ته تیار دی داسے دوی دَ دین توحید نه واپس کیدلو ته هم تیار دی. وَلَوْ دُخِلَتْ اشاره ده چه لښکرے دَ کافرانو مدینے ته په احزاب کښ داخل شوے نه وے. الْفِتْنَةَ دَ دے نه مراد شرک کول یا دَ مؤمنانو په مقابله کښ جنګ کول دی بِهَا دا ضمیر راجع دے فتنے ته مراد ترینه اجابت دَ فتنے دے یعنی په قبلولو دَ فتنه کښ دوی حصاریدل نه کوی بلکه زر یے قبلوی یا

وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ

او بېشكه دوى وعده كړې وه د الله تعالىٰ سره د دې نه مخكښ چه نه به ګرځوي

الْأَدْبَارَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ اللّٰهِ مَسْئُولًا ﴿١٥﴾ قُلْ

شاګانې او ده وعده د الله تعالىٰ تپوس له شوې. ته اُوايه

لَنْ يَنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ إِنْ فَرَرْتُمْ مِنَ

چرې نفع به ورنكړي تاسو ته تختيدل كه چرې تختنه كوئ تاسو د

الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ وَإِذًا لَا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٦﴾

مرګ يا د وژلو نه او دغه وخت مزې به ورنكړې شي مګر لږ وخت.

قُلْ مَنْ ذَا الَّذِي يَعْصِمُكُمْ مِنَ اللّٰهِ إِنْ

ته اُوايه څوك دې چه تاسو به بچ كړي د الله تعالىٰ نه كه چرې

أَرَادَ بِكُمْ سُوءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۚ وَلَا يَجِدُونَ

او غواړي په تاسو باندې مصيبت يا اوغواړي په تاسو باندې رحمت نو څوك به يې بند كړي، او اوبه نه مومي دوى

دا ضمير راجع دے مدينې ته يعنې روستو د فتنې قبلولو نه به په مدينه كښ حصار نشي بلكه په عذاب باندے به زر هلاك شي.

ـ۱۵: په دے ايت كښ هم زجر دے منافقانو ته او بو قباحت يې (نقض عهد) ذكر كړے دے. لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَارَ د دے نه روستو تقدير د عبارت دا دے فنقضوا هذا العهد في غزوة الاحزاب (دا لوظ يې په غزوه احزاب كښ مات كړو) وَكَانَ عَهْدُ اللّٰهِ مَسْئُولًا يعنې وفاء عَهْدُ اللّٰهِ او مَسْئُولًا الْوَفَاءُ بِهِ يعنې د وفاء عهد الله به تپوس كيږي شي او د دے جملې فائده دا ده كه څوك وهم اوكړي چه دا دوى كړے وچه نه د دے عهد نه خلاف اوكړو چه دا پوره كول څه واجب نه دى نو جواب اوشو په دغې جملې سره.

ـ۱۶: په دے كښ هم زجر او تخويف دے منافقانو ته د هغوى په بے لوظې باندے چه هغه شا كرځول يعنې تختيدل دى. مِنَ الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ مراد تر ينه ځائے د مرګ او د قتل دے لكه د ميدان جهاد نه تختيدل يا د ځائے د طاعون او د وبا نه تختيدل دا دواړه ګناه ونه دى. او د مرګ نه پرے بچ كيدل هم نه كيږي كه چرے اجل مقرر وى. وَإِذًا يعنې كه چرے څوك او تختي او نيتيه نه وى نو مرګ خو بيا هم نزدے دے او ژوند لږ دے نو د لږ فائدے د پاره د ډيرو فائدو د جهاد نه ځان محروم كول د بے عقلو خلقو كار دے.

لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ قَدْ

ځان لره سوا د الله تعالٰی نه بل څوک نشته او نه امدادی. یقینًا

يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِيْنَ

پیژنی الله تعالٰی منع کوونکی (د جهاد نه) ستاسو نه او وینا کوونکی

لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ

رورونو خپلو ته چه راشئ مونږ ته او نه راځی دوی جنګ کولو ته

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۸﴾ اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖ فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ

مګر لږ بخل کوونکی دی په تاسو باندے نو کله چه راشی ویره

رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ

ویبه ته دوی لره ګوری په تا ته اوړی راوړی سترګے د دوی

ف ۱۷ ۔ دا هم زجر دے یعنی کله څوک اُوائی چه ډیر کرته انسان او تختی نو د مرګ او قتل نه بچ پاتے شی نو په دے ایت کښ جواب ورکوی چه کله چرے الله تعالٰی د دے انسان بل تکلیف او مصیبت او غواړی نو هیڅوک ئے نشی بچ کولے. او په ایت کښ رد د شرک فی التصرف دے چه هیڅ ولی بزرګ وغیره مالک د نفع او د ضرر نه دے اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً هر کله چه د رحمت سره د يَعْصِمُكُمْ مناسبت نيشته نو معلومه شوه چه دلته عبارت کښ تقدير دے يعنی من يصبكم بسوء يا و من يمنعكم رحمته تعالٰی . وَلِيًّا دا متعلق دے د يعصمكم سره نَصِيْرًا متعلق دے د رحمة سره.

ف ۱۸ ۔ په دے ایت کښ زجر دے منافقانو ته او د هغوی درے قباحتونه ئے ذکر کړے دی. مخکښ ذکر شوه چه تیختہ کوی د جهاد نه اوس ذکر کوی چه نورو خلقو لره منع کوی. قَدْ يَعْلَمُ دا قَدْ د پاره د تحقيق دے او مقصود په دے کښ نورته او بیره ورکول دی. الْمُعَوِّقِيْنَ چه د تابعدارے د نبی صلّی الله علیه وسلّم او د قتال فی سبیل الله نه خلقو لره منع کوی. هَلُمَّ په لغت د اهل حجاز کښ دا لفظ د مفرد او تثنیے او جمع د پاره یو شان استعمالیږی.

اِلَّا قَلِيْلًا مراد د دے نه د ریاء او دنیوی مقصد د پاره جنګ ته راتلل دی او په دے کښ اشاره ده چه کوم عبادت چه غلط نیت سره وی نو که ډیر وی نو هم د الله تعالٰی په نیز لږ دے.

كَالَّذِيْ يُغْشٰى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا

پشان دَ هغه چا چه بے هوشی وربانده راوستلے شی دَ مرګ دَ وجے نه نو کله چه

ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ

لاړه شی ویره نو تکلیف درکوی تاسو ته په تیرو ژبو سره

اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ۭ اُولٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوْا

حرص کوونکی دی په مال باندے دغه کسانو ایمان نه دے راوړے

فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

نو برباد کړل الله تعالٰی عملونه دَ دوی او دے دا کار په الله تعالٰی باندے

يَسِيْرًا ⑲ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوْا ۚ

آسان ګمان کوی دوی په ډلو دَ کافرانو باندے چه هغوی نه دی تلی

وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ

او که چرے راشی دغه ډلے نو غواړی (دا منافقان) چه ارمان دے چه دوی دیره وے

سا۱۹:- په دے ایت کښ دَ منافقانو نور پنځه قبائح ذکر کوی اَشِحَّةً جمع دَ شحیح ده. بُخل او حرص ته وائی او دا متعلق دے دَ مخکښ ایت سره چه دوی تاسو منع کوی دَ جهاد نه او پخپله هم نه کوی دا دَ دے وجے نه چه دوی بخل کوی ستاسو دَ فائدے او دَ خیر په باره کښ یعنی چه تاسو ته څه خیر او فائده او نه رسیږی۔

فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ اه په دے کښ دَ دوی بُزدلے ته اشاره ده مراد الْخَوْفُ نه خبر دَ قتال او دَ حملے کولو دَ دُشمنانو دے۔

كَالَّذِيْ يُغْشٰى اه یعنی دَ ځنکدن په وخت کښ دَ سترګو حرکت بے اختیاره شی۔

سَلَقُوْكُمْ سلق په اصل کښ بسط (راوګډولو) دَ لاس او دَ ژبے ته وائی په طریقه دَ سختئ او تکلیف ورکولو سره. مراد دا دے چه تیرے او دَ چالاکۍ خبرے کوی چه موږ تاسو سره شریک وو نو موږ له په غنیمت کښ حصّه راکړئ۔

اَشِحَّةً دا په معنٰی دَ حرص دے یعنی حرص کوونکی دی په حاصلولو دَ مال باندے۔

فِي الْأَعْرَابِ يَسْأَلُونَ عَنْ أَنْبَائِكُمْ ۖ وَلَوْ

په باتهو کښې تپوسونه ئې کولے ستاسو د خبرونو نه او که چیرے

كَانُوا فِيكُمْ مَا قَاتَلُوا إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢٠﴾ لَقَدْ كَانَ

وے دوی په تاسو کښې نو جنګ به نه وو کړے دوی مګر لږ . یقیناً شته دے

لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ

ستاسو دپاره په ذات د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې نمونه د تابعدارئ د ښه دے هغه چا دپاره

كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ

چه عقیده لری د الله تعالیٰ (د توحید) او د ورځې روستنۍ و یاد وی الله تعالیٰ ئې

كَثِيرًا ﴿٢١﴾ وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا

ډیر . او هرکله چه اولیدلے مؤمنانو ډلے د کافرانو دوی اُوئیل

ف۲۰ : دا هم زجر دے او په دے ایت کښې د دوی درے قبائح ذکر کوی او په دیکښې هم اشاره ده بزدلے د دوی ته یعنی که دوی ته اُویلے شی چه دشمنان لاړل نو دوی د ډیرے یرے د وجے نه دا نه منی . يَوَدُّوا لَوْ أَنَّهُمْ بَادُونَ فِي الْأَعْرَابِ یعنی اول کرتے چه احزاب راغلل نو دوی بعض کسانو شرکت اوکړو د مؤمنانو سره د وجے د بے خبرئے نه او که چیرے دوباره احزاب راغلل نو دوی به د ډیرے یرے د وجے نه مدینه هم پریږدی باتهو ته به لاړ شی . يَسْأَلُونَ عَنْ أَنْبَائِكُمْ دا هم د منافقت د وجے نه یعنی تپوسونه کوی چه غنیمت مؤمنانو حاصل کړو دے د پاره چه حصه تری نه اوغواړی . یا د دے د پاره چه بیا به په مؤمنانو باندے احسان واچوی چه مونږ خو ستاسو تپوسونه کول ستاسو د حال نه مونږ ځان خبرساتلو . إِلَّا قَلِيلًا دلته هم مراد د قلیل نه ریاکاری ده هغکښې ایت (ف۱۸) کښې د جهاد نه د غیر حاضرے حالت مراد وو په دے ایت کښې د حاضرے وخت مراد دے .

ف۲۱ : دا څلورم خطاب مؤمنانو ته او تاکید دے په تابعدارئے د نبی صلی الله علیه وسلم باندے او رد دے په منافقانو باندے چه هغوی په جهاد کښې شرکت نه کوؤ او چا چه شرکت کوؤ هم په اخلاص سره نه وو نو په دے کښې رد د هغوی دے چه نبی صلی الله علیه وسلم په جهاد کښې شرکت په اخلاص سره کوی د هغه تابعداری اوکړئے په دے ایت کښې په اتباع د رسول صلی الله علیه وسلم ډیر تاکیدات دی اول حرف لام ،

هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ

(دا هغه څیز دے چه وعده کړے وه مونږ سره الله تعالیٰ او رسول دَ هغهٔ او رشتیا ویلے دی الله تعالیٰ

دویم قَدْ ، دریم کَانَ چه دلته په دوام باندے دلالت کوی څلورم لفظ دَ فِیْ چه داخل دے په رسول باندے یعنی فِیْ اَمْرِهٖ وَنَهْیِهٖ نه دے ویلے اشاره ده چه دَ نبی په ذات کښ زیعنی دَ هغه صورت او سیرت ته ، او امرونو ته کول یا پر بخودل رفتار گفتار هر څه ته شامل دے) ستاسو دپاره تابعداری کول دی . پنځم لفظ دَ رَسُوْلُ اللّٰهِ دے یعنی دهٔ دَ الله تعالیٰ پیغام راوړے دے نو دَ دهٔ اقتداء دا دَ الله تعالیٰ دَ حکم اطاعت دے . شپږم لفظ دَ اُسْوَةٌ دے . دالفظ ځکه خاص دے په هغه اقتداء پورے چه په هغے کښ برابری وی یعنی پوره تابعداری کوی او په هغے کښ دَ زړه علاج او تسلّی وی ځکه چه اسی کښ معنیٰ دَ علاج او دَ دواهم پرته ده یعنی دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم پوره اقتدا لازم ده او دارنګ دَ هغهٔ اقتداء کول دَ زړونو دوائی او تسلّی هم ده اووم لفظ دَ حَسَنَةٌ ، یعنی فائده مند ده په دنیا او اخرت اتم لفظ دَ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ دا بدل دے دَ لَكُمْ نه یعنی په چا کښ چه دا صفتونه وی نو هغهٔ به ضرور اقتداء دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم کوی یعنی په ایمان بالله والیوم الاخر او په ټولو عبادتونو کښ دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم اقتداء به کوی یا دا (لِمَنْ كَانَ) متعلق دے په حَسَنَةٌ پورے یعنی فائدهٔ او ثواب دَ اقتداء دَ هغه چا دپاره ده چه عقیده دَ هغهٔ په الله تعالیٰ او اخرت باندے وی . يَرْجُوا په معنیٰ دَ یرے او په معنیٰ دَ عقیدے او دَ یقین دے اُمید ته دے مراد ځکه چه صرف په امید سره درجه دَ ایمان نه حاصلیږی . نهم وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ . لسم ذِكْرِ اللّٰهِ كَثِيْرًا ، او مراد دَ ذکر نه تمام عبادات دی ځکه چه ذکر دَ ټولو عبادتونو نه افضل عبادت دے . دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم نه تپوس اوکړے شو چه کوم بندہ افضل او اوچتے درجے والا دے په نیزد دَ الله تعالیٰ په ورځ دَ قیامت ، هغهٔ اوفرمائیل " چه ذکر کوونکی دَ الله تعالیٰ نارینه او زنانه " ، اُویلے شو چه یا رسول الله دَ غازی فی سبیل الله نه هم غوره دی هغهٔ جواب اوکړو " که غازی په خپله توره باندے مشرکان او کافران داسے اُوهی چه دَ هغه توره ماته شی او دَ وینو نه ککړه شی بیا هم ذکر کوونکے دَ هغهٔ نه افضل دے " (مشکوٰة ص۲۱۵)

اوکَثِیْرًا دَ دے نه مراد ذکر دے په شرعی شرطونو سره چه په طریقه دَ اخلاص او په تابعدارئ دَ سنّت سره او سرهٔ دَ فهم دَ معنیٰ سره وی داسے ذکر اګرچه لګ وی لیکن دَ الله تعالیٰ په نیز ډیر دے نو کوم ذکر چه دَ بدعت په طریقے سره وی لکه په چغو سره ذکر کول او دَ ځان نه تخصیص کول ریاتے په یل مخ)

وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا ﴿۲۲﴾

او رسول دَ هغه او نه زیاتوی دوی لره مگر ایمان او تابعداری کول۔

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ

بعض دَ مؤمنانو نه سړی دی چه پوره کړے ده هغه وعده چه کړے وه الله تعالیٰ

عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ

سره نو بعض دَ دوی نه هغه دی چه پوره یئے کړو حاجت خپل او بعض هغه دی

دَ وخت اودَ حال دَ هغے یا ذکر مفرد (یعنی صرف الله الله) یا چه په معنے پاندے نه پوهیږی نو دا ذکر غیر مقبول دے لکه چه بعض تشریح تفسیر روح المعانی کښ دَ ۱۳ ایت دَ لاندے کړے ده۔ نو حاصل دَ ایت دَ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اه نه دا دے چه څوک ایمان په الله تعالیٰ اوپه ورځ دَ اخرت لری او عمل دَ الله تعالیٰ دَ پاره کوی نو دَ دے رسول تابعداری او اقتداء دے کوی۔ اودَ ذکر په لفظ سره یئے دَ دے وجے نه راوړو چه څوک ذاکروی نو دَ هغهٔ زړهٔ بیداروی نو دَ دے وجے نه تابعدارئ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تیار وی اوڅوک چه غافل وی نو هغهٔ په تابعدارئ کښ سست وی۔ په سورۃ ممتحنه ۴ کښ اقتداء دَ ابراهیم علیه السلام او دَ هغهٔ دَ ملګرو صرف په براءت دَ مشرکانو کښ ذکر کړے ده ، او سورۃ ممتحنه ۶ کښ ذکرالله کثیراً نه دے ذکر کړے ځکه چه دا امت دَ ابراهیم علیه السلام په اقتداء دَ ټولو اعمالو پاندے مکلف نه دے۔

۲۲۔ دا ذکر دَ حال اودَ تثبت دَ مؤمنانو دے په مقابله دَ حال دَ منافقانو کښ او په دَ کښ دَ مؤمنانو درے صفات دی۔ هٰذَا اشاره ده هغه حال ته چه په ۱۰ کښ تیر شویدے او مراد دَ دے نه مصیبتونه راتلل دی په مؤمنانو پاندے دَ پاره دَ ابتلاء لکه سورۃ بقره ۲۱۴ سورۃ العمران ۱۴۲ سورۃ عنکبوت ۲ کښ۔
وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ دا په مقابله دَ قول دَ منافقانو کښ دے چه په ۱۲ کښ تیر شوے دے۔ وَمَا زَادَهُمْ اه په دے کښ اشاره ده چه دا قول دَ مؤمنانو صرف دَ ژبے نه نه دے په شان دَ منافقانو بلکه په زړه او په اندامونو پاندے دَ هغے اثر موجود دے۔ او ایت دلیل دے چه په ذکر کولو سره ایمان کښ زیاتے او مضبوطوالے راځی۔

مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ لِّيَجْزِيَ اللّٰهُ

چه انتظار کوی او نه دی بدل کړی (دین د الله تعالیٰ) په هیڅ بدلولو. د دې دپاره چه بدله ورکړی الله تعالیٰ

الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ

رښتینو خلقو ته په سبب د رښتیاؤ د هغوی عذاب ورکړی منافقانو ته

اِنْ شَآءَ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

که چرې اوغواړی یا توفیق د توبې په ورکړی هغوی ته یقینًا الله تعالیٰ دے

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

بخنه کوونکے رحم کوونکے . او واپس کړل الله تعالیٰ کافرانو لره

س۲۳ :۔ دا د مؤمنانو څلور صفات دی اولاً دا صفتونه د صحابه کرامو دی بیا چه څوک د هغوی تابعدار وی. رِجَالٌ په دے لفظ کښ د هغوی کمال رجولیت ته اشاره ده. صَدَقُوْا مراد د دے کلک کیدل په وعده او په هیځ باندے وفاء کول دی چه هغه وعده د قتال کولو فی سبیل الله ده او نورو ټولو احکامو شرعیو ته شامل ده. فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ، نحب نذر ته وائی او مراد تری نه مرګ د شهادت دے او موت ته ئے د دے وجے نه نذر اُویل چه هغه صحابه کرامو دا شهادت په ځان باندے نذر منلے وو یا د دے وجے نه چه مرګ په هر نفس باندے داسے لازم دے لکه نذر چه لازم وی. یا دا چه نحب اجل د موت ته وئیلے کیږی یا قضٰی نحبه نه مراد کوشش صرف کول دی د عهد په وفا کولو کښ او مصداق د دے په صحابه کرامو کښ حمزه او مصعب او انس بن نضر رضی الله عنهم دی او نورو شهیدانو د بدر او اُحد ته هم شامل دے. وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ مراد دا چه دوی کوشش کوی د مرګ د شهادت په حصول کښ لکه باقی صحابه کرام شول. وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا دا جمله عامه ده عهد او ټول دین د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شامله ده. معلومه شوه چه کوم صحابه کرام وو نو هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دین کښ هیځ بدعت نه دے جوړ کړے او دین د هغه ئے نه دے پریخودلے او کوم چه مرتد دی نو هغه (په تعریف شرعی) کښ صحابه نه دی.

س۲۴ :۔ دا متعلق دے په محکښ ذکر کړے شوے عملونو د صحابه کرامو پورے او خصوصًا وَمَا بَدَّلُوْا پورے او غوره دا ده چه لام د پاره د عاقبت دے او بِصِدْقِهِمْ کښ سبب د جزا ذکر کړے دے او صدق نه مراد تیر شوی اعمال د صحابه کرامو دی. او مُنٰفِقِيْنَ نه مراد هغه څوک دی چه د ذکر کړے شوے صفاتو د صحابه نه خلاف وی. او مراد د يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ نه توفیق دے د توبے کولو د منافقت نه.

بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا ۚ وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ

سره دَ خپې دَ هغوی نه چه نه ئې وه حاصل کړے هيڅ فائده او بس کړه الله تعالیٰ مؤمنانو لره

الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا ﴿٢٥﴾ وَأَنْزَلَ

دَ جنګ کولو نه او الله تعالیٰ دے قوت والا زور اور - او راکوز ئې کړل

الَّذِينَ ظَاهَرُوهُمْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ

هغه کسان چه مدد ئې دَ هغوی سره کړے وو دَ کتابيانو نه

مِنْ صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ

دَ قلعګانو دَ هغوی نه او واچوؤ په زړونو دَ هغوی کښې

الرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا ﴿٢٦﴾

هيبت يو ډله تاسو وژله او قيدا کوله تاسو بله ډله.

ف۲۵. دا بيان دَ جزاءِ دنيوی دے مؤمنانو لره يعنی دَ دوی دَ صدق دَ وجے نه احزاب دَ کافرانو بغيرِ دَ مقصده واپس شول. خَيْرًا يعنی خير دَ دنيا او دَ آخرت ئې حاصل نه کړو. وَكَفَى اللَّهُ الْقِتَالَ يعنی سيلئ او ملائک په کافرانو باندے راغلل نو هغوی ئې اوزغلول او قتال کولو دَ مؤمنانو ته څه حاجت پاتے نشو.

ف۲۶:. دا هم په جزا کښې داخل دے چه الله تعالیٰ دَ مؤمنانو سره امداد اوکړو په غزوه دَ بنی قريظه کښې هر کله چه بنو قريظه دَ نبی صلّی الله عليه وسلّم سره لوظ مات کړو او دَ نورو کافرانو سره ئې په غزوهٔ خندق کښې ملګرتيا اوکړه، نو نبی صلّی الله عليه وسلّم ته حکم راغے چه دَ بنو قريظه سره جنګ دَپاره لاړ شه هغوی دَ يرے نه په خپلو قلعګانو کښې پټ شول او مؤمنانو دَ دوی پنځويشت ورځے محاصره اوکړه آخری دوی تنګ شول او رضا شول په فيصله دَ سعد بن معاذ رضی الله عنه باندے نو هغه فيصله اوکړه چه ځوانان دے قتل کړے شی، او بچی او ښځے دے قيد کړے شی او نبی صلّی الله عليه وسلّم دَ دهٔ دَ فيصلے تائيد اوکړو نو په هغه فيصله باندے عمل اوکړے شو. فَرِيقًا تَقْتُلُونَ دَ دے فريق انتخاب ئې مخکښې اوکړو نو دوی خاص کړے شو دَپاره دَ قتل کولو، دَ دے وجے نه فَرِيقًا ئې دلته مخکښې ذکر کړو او باقی پاتے شول دَپاره دَ قيد کولو نو په هغے کښې تقديم دَ فَرِيقًا ته ضرورت نه وو.

وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ

او درکړے دہ تاسو ته زمکه دَ هغوی او کورونه دَ هغوی او مالونه دَ هغوی

وَأَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ

(او دریه کړی) داسے زمکه چه تاسو قدم نه دے ایخودلے په هغے باندے او الله تعالیٰ دے په هر

شَيْءٍ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ

څیز باندے قدرت والا۔ اے نبی اُوایه خپلو بیبیانو ته

إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا

که چرے تاسو غواړئ ژوندا دنیوی او ښائست دَ هغے

فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا

نو راشئ چه سامان درکړم او رخصت کړم تاسو لره په رخصتے

جَمِيلًا ﴿٢٨﴾ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

خائسته سره۔ او که چرے تاسو غواړئ الله تعالیٰ لره او رسول دَ هغه لره

۲۷ :۔ دا هم په جزا کښں داخل دے۔ یعنی تیرشوی ایت کښں غلبه په نفسونو دَ کتابیانو کافرانو باندے ذکر کړے شوہ نو په دے ایت کښں غلبه دَ هغوی په مالونو باندے ذکر کوی۔ او مراد دَ دے نه غنیمتونه دَ بنی قریظه دی۔ اَرْضَهُمْ مراد دَ دے نه باغونه او پټی دی۔ وَاَمْوَالَهُمْ مراد دے نه دَ دوی خاروی نقد او وسلے او سامانونه وغیرہ دی وَاَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا مراد دَ دے نه وعدہ دہ دَ غنائمو دَ خیبر یا ټولو فتحونو نه دَ مسلمانانو چه تر قیامته پورے وی او داسے په سورة فتح ۲۰ کښں هم دی۔

۲۸ :۔ دَ دے ایت نه تر ۳۴ پورے دریم باب دے په دے کښں درے خطابات نبی صلّی الله علیه وسلّم ته ذکر کوی ۲۸ ۲۷ ۳۸ او څلور خطابات بیبیانو دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته دَ ۳۱ تر ۳۴ پورے دوہ خطابات عامو مؤمنانو ته په ۳۶ ۴۷ کښں او ذکر دَ بشارت دے په ذکر دَ لس صفتونو سره په ۳۵ کښں۔

په دے (۲۸) کښں تهم خطاب دے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته۔ او مراد دَ دے نه دا دے که بیبیانے دَ دعوت دَ دین په کار کښں مانع جوړیږی نو دَ هغوی پریخودل ضروری دی لیکن دعوت دَ حق به نه پریخودلے کیږی۔ او ربط دا دے چه هرکله دَ دشمنانو حال ذکر کړے شو چه هغوی دَ دعوت حق په لار کښں ړپاتے په بل مخ)

وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ

او کور روستنی نو یقینا الله تعالی تیار کړیدی خائسته عمل کوونکو له

مقابله او مخالفت کوونکے وو نو اوس حال دَ قریبی ملګرو (بیبیانو) ذکر کوی او دیته ایت دَ تخییر ویلے کیږی یعنی ښځے ته اختیار ورکول چه دَ خاوند نه جدائی غواړے او که نه غواړے ستا اختیار دے نو په دے کښ قول صحیح دادے چه په دے سره هیڅ طلاق نه واقع کیږی هاں که په جواب کښ اُوائی چه ما ځان غوره کړے یعنی جدائی م خوښه ده نو په دے کښ اختلاف دے دَ سلف صالحینو چه څه رنګ طلاق واقع کیږی. او دَ دے ایت دَ نزول سبب دا وو چه هر کله نبی صلی الله علیه وسلم دَ زینب رضی الله عنها سره نکاح اوکړو دَ پاره دَ دے چه رسم دَ جاهلیت ختم شی په باره دَ تحریم دَ ښځے دَ متبنیٰ کښ نو نورے بیبیانے دَ غیرت دَ ینتوب دَ وجے نه رچه دا طبعی امر دے) نبی صلی الله علیه وسلم ته راجمع شوے او دَ ډیرے نفقے مطالبه ئے شورو کړله نو نبی صلی الله علیه وسلم ترینه خفه شو او اوویل ئے چه څه یوه میاشت تاسوته نه نزدے کیږم او په دغه ورځو کښ نبی صلی الله علیه وسلم دَ سورلے نه راغورځیدلے وو نو اړخ ئے زخمی شو یوؤ او خپه ئے اوړیدلے وه نو په بالاخانه کښ ځانله اوسیدلو، هر کله چه دا ایت دَ تخییر نازل شو او میاشت دَ یوکم دیرش ورځو پوره شوه نو نبی صلی الله علیه وسلم دَ بالاخانے نه راکوز شو او دا ایا تونه ئے بیبیانو ته پیش کړل نو هغوی په جواب کښ اُویل چه مونږ الله تعالی او رسول او اخرت خوخوؤ دَ دے په باره کښ احادیث صحیحه راغلے دی.

لِّاَزْوَاجِكَ دَ نبی صلی الله علیه وسلم بیبیانو تعبیر ئے " په ازواج سره کړے دے دا دلیل دے چه هغوی دَ هغهٔ سره پوره موافق وے او په دغه وخت کښ دَ هغهٔ نهه بیبیانے وے پنځه قریشیے وے ۱ عائشه لور دَ ابوبکر رضی الله عنهما ۲ حفصه لور دَ عمر رضی الله عنهما. ۳ ام حبیبه لور دَ ابوسفیان رضی الله عنهما ۴ ام سلمه رضی الله عنها لور دَ ابو امیه ۵ سوده رضی الله عنها لور دَ زمعه. او څلور غیر قریشیے وے ۱ زینب رضی الله عنها لور دَ جحش دَ اسد قبیلے ۲ میمونه رضی الله عنها لور دَ حارث دَ هلال قبیلے ۳ صفیه رضی الله عنها لور دَ حی بن اخطب دَ خیبر کتابیه ۴ جویریه رضی الله عنها لور دَ حارث دَ بنو مصطلق قبیلے. الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا مراد دَ دے نه ترقی دَ دُنیا ده په اعتبار دَ ډیر نفقے او مالونو سره. وَزِيْنَتَهَا مراد دَ دے نه خائسته لباس او کالی وغیره دی. فَتَعَالَيْنَ لفظ دَ تَعَالَ په اصل کښ دلالت کوی چه دَ برے نه کوز طرف ته راپلے کیږی یا دَ کوز نه بر طرف ته راپلے کیږی او اکثر په معنیٰ دَ صرف حاضریدلو سره

مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ

چه تاسو نه ثواب لوے . اے بیبیانو د نبی (صلی الله علیه وسلم) چاچه راتلل اوکړه

مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ

ستاسو نه په بدے ښکاره سره دوچنده به ورکیدے شی هغے ته عذاب

ضِعْفَيْنِ ۗ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾

دوچنده او دے دا کار په الله تعالیٰ باندے آسان .

استعمالیږی . اُمَتِّعْكُنَّ مراد تربنه متعه د مطلقاتو ده چه په سورة بقره ۲۳۶ کښ ذکر ده . وَاُسَرِّحْكُنَّ تسریح په اصل کښ آزاد پریخودلو ته وائی لکه خاروی صبائی وخت صحرا ته پریخودل د څرے دلو دپاره مراد تربنه طلاق دے بغیر د رجوع کولو نه.

ښ ۲۹ :- دا د تخییر دویم طرف دے . تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مراد د دے نه رضا او طاعت کول د دے دواړو دی . وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ مراد د دے نه جنت دے چه په طاعت د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره حاصلیګی . لِلْمُحْسِنٰتِ مراد د دے نه دوام او همیشه پاتے کیدل دی په دغه دویمه اراده باندے تر مرګه پورے. مِنْكُنَّ مِنْ بیانیه دے مراد تربنه ټولے بیبیانے د پیغمبر دی لیکن د دوی د تخویف دپاره ئے مِنْ ذکر کړے دے او هرکله چه دا حکم د امت نورو بیبیانو ته هم شامل دے او د نبی صلی الله علیه وسلم بیبیانے د هغوی نه بعض دی نو د دے وجے نه ئے هم مِنْ ذکر کړے دے.

ښ ۳۰ :- دا خطاب دے بیبیانو د نبی صلی الله علیه وسلم ته (او ضمنًا خطاب دے امت د) هرکله چه دوی الله تعالیٰ او رسول صلی الله علیه وسلم او جنت لره غوره کړو نو اوس دوی ته هغه امور ذکر کوی چه په هغے باندے د عمل کولو په سبب سره رضا د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او جنت حاصلیږی . په دے آیت کښ تاکید دے په اجتناب د هر فحشاء سره که قول وی او که عمل وی نافرمانی د خاوند ، بد اخلاقی ، دنیا پرستی وغیره . مُبَيِّنَةٍ یعنی د هغے ناکاره والے شرعًا او عقلًا دواړه ښکاره وی هیڅ احتمال د جواز په کښ نه وی . ضِعْفَيْنِ لفظ د ضعف هم دلالت کوی په دوچند کیدلو باندے لیکن تثنیه د تکرار د تاکید دپاره ده . اشاره ده چه د چا مرتبه اوچته وی نو د هغه جرم هم اوچت شمیرکیږی او عتاب او عذاب ئے هم زیات وی . وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا په دے کښ رد دے په بل مخ)

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

او چا چه تابعداري کوله ستاسو نه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه

وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ

او عمل يې کوؤ دَ سنت موافق نو ورکوو مونږ هغې ته ثواب دَ هغې دوچنده

وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ

او تيار کړے ده مونږ هغې لره روزي عزت والا ۔ اے بيبيانو دَ نبي

لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ

نه يې تاسو پشان دَ هيچا دَ نورو زنانوؤ نه که چرے تاسو تقوىٰ لرئ

فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ

نو جوټيل دَ خبرے مه کوئ نو طمع به اوکړی هغه څوک

اشاره ده چه نسبت دَ دے بيبيانو نبي صلى الله عليه وسلّم ته په وخت دَ گناه کولو کښې يې کوؤنکے دَ عذاب نه نه دے صحيح حديث کښې راغلے دی "من لم يسرع به عمله لم يسرع به نسبه" يعنی هرکله چه چل عمل کښې کوتاهي وی نو په نسب سره کمال نه حاصليږی ۔

ف۳۱:۔ دَ زيادت دَ عذاب نه روستو زيادت دَ ثواب دَ هغوی ذکر کوی ليکن په اعتبار دَ عمل صالح سره نه په نسب سره او دا بشارت دے ۔ يَقْنُتْ مراد دَ دے نه اطاعت قلبيه دے او درجه دَ نيت ده ۔ وَتَعْمَلْ نه مراد اعمال ظاهريه دی په شرط دَ صالحيت يعنی په اتباع دَ سنّت سره ۔

فائده :۔ په مقام دَ اجر کښې نسبت الله تعالیٰ ته په نُّؤْتِهَا کښې او په مقام دَ عذاب کښې مجهول ذکر کول په يضاعف سره دليل دے چه رحمت دَ الله تعالیٰ غالب دے په غضب باندے ۔

رِزْقًا كَرِيْمًا، مراد دَ دے نه رزق دَ جنّت دے په نيز دَ اکثرو مفسرينو ځکه چه مراد دَ کريم نه بے کړاوه او فائدے والا چه هيڅ ضرر او نقصان پکښې نه وی، او دا سے رزق صرف په جنّت کښې به وی ۔ او بقاعی او خطيب شربينی رزق دَ دُنيا او آخرت دواړه مراد کړيدی او مراد دَ کريم نه برکت والا دے، او دَ "يرزقه من حيث لا يحتسب" په طريقه باندے دے ۔

فِىْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾

په زړه د هغه کښې مرض دے او وائې وینا د شرع موافق ۔

وَقَرْنَ فِىْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ

او اوسئ په کورونو خپلو کښې او مه ښکاره کوئ ډول سنګار

۳۲۔ دا دویم خطاب دے بیبیانو ته او په دے کښې بیان د ادب د وینا کولو او د خبرو کولو دے ۔ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ، دا تفریع ده په تیر شوی خطاب باندے چه هرکله په عذاب او په ثواب کښې فرق ثابت شو نو معلومه شوه چه په حال او مرتبه کښې فرق دے ۔ او ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے په معنیٰ د دے کښې چه " نه دے قدر ستاسو په نیز زما پشان د قدر د نورو زنانو " ستاسو مرتبه او ثواب په نیز زما د نورو نه زیات دے ۔ اَحَدٍ، لفظ د احد یئ د دے وجے نه ذکر کړو، چه دا لفظ شامل دے یو، دوه او جماعت ته او مذکر او مؤنث ته یعنی نه یئ تاسو پشان د هیڅ یو زنانه او نه د جماعت د زنانو پشان په مرتبه او عزت کښې ۔ لیکن شرط د فضیلت نسبت نه دے بلکه تقویٰ ده د دے وجے نه یئ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ ذکر کړو او مراد د تقویٰ نه په دے تیر شوے دوه آیاتونو باندے عمل کول دی ۔ فَلَا تَخْضَعْنَ دا تفریع ده د لوے شان د دوی چه مخکښې بیان کړے شو یعنی په ویناکښې نازو نزاکت خوږوالے مه پیدا کوئ په داسے طریقه چه د هغے نه د مخاطب (فاسق) سړی په زړه کښې بد اثر پیدا شی ۔ فَيَطْمَعَ تعبیر په طمع سره یئ د دے وجے نه اوکړو چه په اصل کښې د بیبیانو د نبی صلی الله علیه وسلّم د طرف نه د دے خواهش پیدا کولو هیڅ سبب نیشته ۔ مَرَضٌ مراد د دے نه فسق وفجور او میلان د سړی د ښځو سره خبرے کول او شوق د مجالست د هغوی ۔ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا په دے کښې اشاره ده چه د مخکښې نهی مطلب دا نه دے چه بد اخلاقی او کنځل اوکړئ بلکه داسے ویناکوئ چه په هغے سره مقصد دینی یا دنیوی معلوم شی او نور بد آثار تربینه پیدا نشی ۔ او آیت کښې دا هم داخل ده چه منافقانو خلقو به د بیبیانو د نبی صلی الله علیه وسلّم نه تپوس ته کول چه نبی صلی الله علیه وسلّم د زینب سره نکاح ولے کوی (دا خو د دوی د رواج نه خلاف وه) نو بیبیانو ته ادب او خودلے شو چه داسے کوزه خبره اونکړئ چه د منافق په زړه کښې دا طمع پیدا شی چه دا بیبیانے هم د نبی صلی الله علیه وسلّم نه مخالف دی یعنی په خبرو کښې د نبی د عمل نه هیڅ خفګان او مخالفت مه ښکاره کوئ بلکه قول معروف اوکړئ یعنی داسے اووائې چه نبی صلی الله علیه وسلّم باندے هیڅ اعتراض نیشته هغهٔ هیڅ کار د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر نه کوی ۔

الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ۖ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ

پښان د جاهلیت — زوړ — او پابندی کوئ د مونځ — او ورکوئ

الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ

زکوٰة — او تابعداری کوئ د الله تعالیٰ او د رسول د هغه — یقیناً خواړی — الله تعالیٰ

لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ

چه لرې کړی — ستاسو نه — پلیتی — اے کورونو د نبی صلی الله علیه وسلم او — پاک کړی تاسو

تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ

په پوره پاک والی سره۔ — او — یاد وئ — هغه چه لوستلے کیږی — په — کورونو ستاسو کښ

۳۳:۔ دا یاں خطاب دے بیبیانو ته، مخکښ قولی آداب ذکر وو اوس عملی آداب ذکر کوی۔ وَقَرْنَ په دے لفظ کښ دوه قراءتونه دی (زبر د قاف او زور د قاف) چه په زبر سره وی نو خوره داده چه د وقار نه اغستے شوے دے او معنیٰ دا ده چه وقار او اطمینان کوئ په خپلو کورونو کښ اگرچه دا هم جائز ده چه د قرار نه واغستلے شی۔ او چه په زور سره وی نو د قرار نه اغستلے شوے دے چه په اصل کښ اِقْرَرْنَ وو زور د اولنی ر نقل شو او قاف ته ورکړے شو او د اجتماع ساکنین د وجے نه یو ر حذف شو او همزه د عدم حاجت د وجے نه هم حذف شو نو قَرْنَ پاتے شو یعنی قرار او نیسئ په خپلو کورونو کښ، تینګے شئ په کورونو کښ بغیر د حاجت شرعی د کور نه بهر مه اوځئ لکه چه حدیث د سوده رضی الله عنها کښ راغلے دی چه هغه نفلی حج او عمره کړې وه هم د کور نه وتلے نه وه او ویل یې چه مونږ ته الله تعالیٰ فرمائیلی دی (وقرن فی بیوتکن)۔ وَلَا تَبَرَّجْنَ تبرج معنیٰ د خپل زیب و زینت او کالی ښکاره کول او په گفتار او رفتار کښ ناز ښکاره کول دی۔ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ، د دے نه مراد یو خاص زمانه نه ده بلکه د اسلام نه روانے په هره زمانه کښ چه بے دینی تیره شوې ده هغے ته جاهلیت اولیٰ ویلے کیږی۔ او د اولیٰ په مقابله کښ په حالت د اسلام کښ د جاهلیت طریقے چورول دا دویم جاهلیت دے۔ یا دلته اولیٰ دا لفظ دے چه مقابل نه غواړی عرب کله اولیٰ صرف زوړ ته وائی۔ او تَبَرُّج د جاهلیت اولیٰ دا وو چه زنانه به سر او مخ ښکاره کړے وو او بازارونو کښ او د سړو په روانے به گرځیدله چا به لاس نه او مخ هم ښکاره کړے وو او د لارے په مینځ کښ به روانے وے تاریخ ته به یې لار نه پریخودله لوپټه به یې نه اچوله بلکه یې ادګو یانے

مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

دَ آیاتونو دَ الله تعالیٰ او حدیث دَ نبی نه یقیناً الله تعالیٰ

ــه اویزانه کړې وه او چه بازار یا ګرزے ته به تلله نو ځان به یې ښائسته کړو. نو افسوس دے په تن مسلمانانو باندے چه دا ټول کارونه دَ جاهلیت یې شروع کړے دی بلکه دَ هغې نه زیاتے شوے دی او دیته ګناه نه ویلے کیږی (روالله المستعان والی المشتکی). وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ هرکله چه دَ ناکاره اعمالو نه منع اوکړه نو ښه په خیښته اعمالو سره امر ورکوی او دَ دے نه معلومه شوه چه دَ زنانو دَ مونځونو سی ئے کورونه دی دَ دے وجه دَ قرن فی بیوتکن نه روستو یې ذکر کړو.
وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ په دے کښې بشارت دے چه الله تعالیٰ به په تاسو باندے مالی وسعت راولی نو زکوٰة به درکوئ او اکثر مال دَ زنانه دَ هغې زیورات وی نو معلومه شوه چه دَ هغې په کالوکښې زکوٰة فرض دے. وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ دا تعمیم بعد التخصیص دے یعنی ټولو اوامرو باندے عمل کول او دَ ټولو منهیاتو نه بچ کیدلو ته شامل دے او دا رنګ اشاره ده چه مخکښې بیان کړے شوے عملونوکښې اطاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول شرط دے. اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ په دے کښې دَ تیر شوے ذکر کړے شوؤ عملونو فائده بیانوی او دَ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ مفعول پټ دے (یعنی الحمل منکم بهذه الاحکام) یعنی غواړی الله تعالیٰ ستاسو نه عمل کول په تیر شوے احکامو باندے. لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ دا لفظ شامل دے باطلے عقیدے او اعمالو او اخلاقو دَ فسق و فجور او طریقے دَ منافقت ته هم ځکه چه منافقانو ته یې اِنَّهُمْ رِجْسٌ تو به سورة کښې ویلے دی او رجس عذابونو دَ دُنیا او اٰخرت ته هم شامل دے. اَهْلَ الْبَيْتِ دَ لغت په لحاظ سره دَ دے معنیٰ ده لائق دَ ښځے تیرونو نو اصل مصداق دَ دے ښځه (زوجه) ده لکه سورة هود ۷۳ کښې زوجه دَ ابراهیم علیه السلام مراد ده او دلته هم اول صرف بیبیانو دَ نبی صلی الله علیه وسلم ته خطابات ذکر شویدی نو معلومه شوه چه اهلِ بیت نه اول بیبیانے مراد دی بیا روستو اولاد وغیره ته شامل دے، ځکه چه دو یمه معنیٰ دَ اهلِ بیت دا ده چه کور ته دَ راتلوحق نری او دا صریح رد دے په شیعه ګانو باندے چه هغوی بیبیانے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ اهلِ بیت نه خارج ګڼړی او دا دَ دوی جهل دے هاں که رسول الله صلی الله علیه وسلم، حسن او حسین او فاطمه او علی رضی الله عنهم ته اهلِ البیت ویلے دی نو په دے کښې اشاره وه دیته چه لفظ دَ اهلِ بیت صرف بیبیانو پورے مخصوص نوئے. وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا مخکښې یې سلبی فائده ذکر کړه او دا ثبوتی فائده ده یعنی په دغه احکامو باندے عمل کول دوه (پاتے په بیل مخ)

لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿۳۴﴾ اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ

باریک خیزونه وبق او خبردار دے. یقیناً مسلمانان سړي او مسلمانانې زنانه

وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ

او مؤمنان سړي او مؤمنې زنانه او تابعداري کوونکي سړي او تابعداري کوونکې زنانه

وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ

او رشتیا ویونکي سړي او رشتیا ویونکې زنانه او صبر کوونکي سړي او صبر کوونکې زنانه

وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ

او عاجزي کوونکي سړي او عاجزي کوونکې زنانه او صدقه ورکوونکي سړي او صدقه ورکوونکې زنانه

وَالصّٰٓئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ

او روژه نیوونکي سړي او روژه نیوونکې زنانه او ښه ساتونکي عورتونو خپلو لره سړي

فائدے دی اوّل دَ رجس او رزائیلو نه بچ کیدل او دویم دَ طهارتِ باطنیه او فضائیلو حاصلیدل او دا لوے فضیلت دے دَ اهلِ بیتو دَ نبي صلی الله علیه وسلّم په شرط دَ عمل کولو سره په مخکښنی حکمونو باندے لیکن دَ دے نه مراد عصمت نه دے لکه چه شیعه گان وائی۔

۳۴:۔ دا بل خطاب دے بیبیانو دَ نبي صلی الله علیه وسلّم ته او هرکله چه دَ اعمالو بناء په علم باندے ده او بغیر دَ علم نه عمل غلط وی دَ دے وجے نه په دے کښ دَ علم ترغیب ورکوی۔ او نصاب دَ علم ئے ذکر کړے دے مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ چه قرآن کریم دے۔ وَالْحِكْمَةِ مراد ترینه سنّت او حدیث دَ نبي صلی الله علیه وسلّم دے وَاذْكُرْنَ مراد دَ دے نه لوستل او درس وتدریس کول دی۔ فِیْ بُیُوْتِكُنَّ په دے کښ اشاره ده چه درسگاه دَ زنانه دَ پاره دننه کمره او کوټه ده او دا لفظ متعلق دے په واذکرن پورے یا متعلق دے په یتلی پورے۔ لَطِيْفًا خَبِيْرًا په دے کښ اشاره ده چه الله تعالی پیژنی هغه څوک چه اهل دی دَ زوجیت دَ نبي صلی الله علیه وسلّم دَ پاره او کوم اعمال او احکام چه دَ دوی دَ شان سره مناسب دی او چه کوم اسباب دی دَ پاره دَ طهارت او دَ بچ کیدلو دَ رجس او پلیتئ نه۔

فائده: دَ ۳۳ نه تردے پورے اگرچه خطاب بیبیانو دَ نبي صلی الله علیه وسلّم ته دے لیکن په دے احکامو سره زنانه دَ امت هم تبعاً مکلف دی ځکه چه اعلیٰ ته حکم وی نو هغه ادنیٰ ته هم شامل وی۔

وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ

او پخ ساتونکے زنانه او یادوونکے الله تعالیٰ لره سپری ډیر او یادوونکے زنانه

اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۳۵﴾

تیار کړے دے الله تعالیٰ دَدوی دَپاره بخشش او ثواب لوے۔

۳۵: په دے ایت کښ بشارت دے په جمع کولو د لس صفاتو خائیستو سره او هر کله چه تیر شوے ایاتو کښ احوال دَ بیبیانو دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم ذکر کړو او هغوی ته ئے خاص بشارت ذکر کړو نو په دے ایت کښ دَ عامو ناریئو او زنانو صفات او بشارت ذکر کوی او په دے کښ اشاره ده چه دا صفتونه په بیبیانو دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم کښ هم موجود وو۔ اول صفت اسلام یعنی هغه ناریینه او زنانه چه په تابعدارئے دَ الله تعالیٰ او دَرسول الله صلّی الله علیه وسلّم کښ عقیدةً او قولاً او عملاً پوره داخل وی۔ دویم صفت ایمان هر کله چه اسلام کله صرف ظاهری انقیاد ته ویلے کیږی نو په دے صفت سره ئے واضحه کړه چه انقیاد باطنی یکښ پوره شته دے نو معلومه شوه چه په دے ایت کښ اسلام خاص دے او ایمان عام دے ځکه چه ایمان سره کله عمل وی او کله نه وی او اسلام سره په شرعی معنیٰ کښ ضرور ایمان قلبی وی او دا مغایرت دَ خصوص او عموم) دَ عطف دَپاره پوره دے۔ دریم صفت قنوت دے دلته قنوت په معنیٰ دَ اخلاص دے یعنی کله په عمل یا دعویٰ دَ ایمان کښ اخلاص نه وی نو دا صفت ئے دَ دے وجے نه ذکر کړو۔ څلورم صفت صدق دے هر کله چه قنوت کله صرف طاعت ته ویلے کیږی اگرچه په دَروغو سره وی یا سکوت ته ویلے کیږی نو په صدق سره ئے ښکاره کړه چه په طاعت کښ صدق ملګرے دے۔ او سکوت دَ صدق نه نۀ کوی بلکه دَ دروغو نه ساکت دے اشاره ده چه دروغ ویل دَ مسلمان صفت نۀ کیدے۔ پنځم صفت صبر دے هر کله چه صدق کښ دوام او همیشه والے ضروری دے او چه رشتیا همیشه ویلے کیږی نو مصیبتونه او تکالیف یکښ راځی نو دَ هغے دَپاره ئے علاج صفت دَ صبر ذکر کړو۔ شپږم صفت خشوع ده او تفصیل دَ هغے په تفسیر دَ سورة مؤمنون کښ ذکر شوے دے هر کله چه صبر بعض وخت دَ انسان طبیعت وی یا دَ کمزورئے دَ وجے نه صبر کوی نو خشوع ئے ذکر کړه یعنی سبب دَ صبر تواضع ده الله تعالیٰ ته په زړه او اندامونو سره۔ اووم صفت تصدق کول په مال سره فرضی او نفلی هر کله چه دَ مالدارئے دَ وجے انسان دَ خشوع دَ صفت نه اکثر خالی وی بلکه تکبر کوی نو دَ هغے علاج ئے ذکر کړو چه رپاتے په بل مخ)

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ

او نه دی مناسب مؤمن سړی لره او مؤمنې زنانه لره کله چه فیصله کړیده الله تعالیٰ

وَرَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ

او رسول دَهغه دَیو خبرې دا خبره چه دی دې دوی لره خوښه خپله

تصدّق په مال سره سبب اودلیل دَخشوع دے. اتم صفت صوم روژے نیول هرکله چه تصدّق بالمال کله بغیر دَجذبهٔ ایثار نه وی اوکله تصدّق کولو کښ نقسانی برخه وی نو دَ هغے دَپاره یے صوم ذکر کړو دَپاره دَدے چه ایثار پیدا شی اودَ نفس هیڅ حظ (برخه) رانشی. نهم صفت حفظ الفروج دے هرکله چه مقصد دَروژے نیولو کسر (ماتول) دَشهوت دی نو دَ هغے نتیجه یے ذکر کړه چه خپل ځان دَبدکارۍ نه ساتل بلکه خپل عورتو نه دَ بے ځایه ښکاره کولو نه بچ ساتل. لسم صفت ذکرالله دے هرکله چه دَدے اعمالو سبب او باعث اوخاص طور باندے دَحفظ الفروج سبب دَ الله تعالیٰ ذکر کښ مشغولیدل دی نو ځکه په ذکر سره توجه الله تعالیٰ ته اوکنټرول دَاندامونو او دَ ژبے او دَ زړه حاصلیږی نو دا صفت یے په اخر کښ ذکر کړو او په ۳۵ ایت کښ دَذکر کثیر بعض تفسیر ذکر کړے شوے کړے دی چه چا ټول کارونه خپل الله تعالیٰ ته اوسپارل نو هغه په المسلمین کښ داخل دے او چاچه اقرار اوکړو چه الله تعالیٰ زمارب دے او محمد صلّی الله علیه وسلّم زما رسول او زړهٔ یے دَ ژبے نه خلاف نه وی نو هغه په المؤمنین کښ داخل دے اوچاچه دَ الله تعالیٰ طاعت اوکړو په فرض کښ اونبی صلّی الله علیه وسلّم طاعت یے اوکړو په سنتو کښ نو هغه په القانتین کښ داخل دے اوچاچه خپلے خبرے دَ دروغو نه بچ اوساتلے نو هغه په والصادقین کښ داخل دے اوچاچه صبر اوکړو په طاعاتو باندے او په مصیبتونو باندے نو هغه په الصابرین کښ داخل دے اوچاچه مونځ کوۀ په داسے طریقه چه خپل ښی طرف ته اوګس طرف ته څوک نه پیژنی نو دے په الخاشعین کښ داخل دے اوچاچه هره هفته کښ یو درهم خیرات کوۀ نو دے په المتصدقین کښ داخل دے او چاچه په هره میاشت کښ ایام بیض روژے نیولے نو هغه په الصائمین کښ داخل دے اوچاچه خپل عورت دَ حرامو نه بچ اوساتلو نو هغه په الحافظین فروجهم کښ داخل دے اوچاچه په پنځو مونځونو همیش والے کوۀ نو په الذاکرین کښ داخل دے او دَ بعضے سلفو صالحینو نه نقل ده چه کوم اذکار او دُعاګانے په سنّت سره په مختلفو اوقاتو

أَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ

په کار د دوی کښې او چاچه خلاف اوکړو د حکم د الله تعالی او د رسول د هغه نه نو یقینًا

ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾ وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِيٓ

ګمراه شو په ګمراهئ ښکاره سره. او کله چه ویل تا هغه چا ته

أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ

چه نعمت کړیدے الله تعالی په هغه باندے او نعمت کړیدے تا په هغه باندے او ساته

عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ

د ځان سره بی بی خپله او ویره کوه د الله تعالی نه او پټه ساتله تا په زړه خپل کښې

کښې ثابت دی په هغې باندے چه څوک همیشګیری کوی نو هغه په الذاکرین الله کثیرا کښې داخل دے۔

فائده:- په دے صفتونو کښې درے صفتونه قلبی دی ایمان، قنوت، خشوع، دا عبادات قلبیه دی. او درے عبادات بدنیه ظاهریه دی اسلام (عام دے ټولو عبادتونو ته)، او صبر او صوم، او په دے کښې دوه عبادات لسانیه دی صدق او ذکر. او یو عبادات مالیه دے تصدّق کول او یو عبادت د ترک المنکرات دے یعنی حفظ الفروج.

مَّغْفِرَةً، دا دلیل دے چه په دے عباداتو کښې هر عبادت سره ګناهونه بخلے کیږی.

وَأَجْرًا عَظِيمًا دا دلیل دے چه هر یو عبادت سبب د لوے ثواب دے۔

۳۶:- په دے آیت کښې خطاب دے ټولو مؤمنانو نارینو او زنانو ته یعنی د الله تعالی او د رسول د فیصلے او د نص په مقابله کښې خپله یا د بل چا رائے او اختیار مه چلوئے دا عصیان او ګمراهی ښکاره ده. او د مخکښې آیت سره ئے ربط دا دے چه تیر شوی صفات هله حاصلیږی چه د نص د قرآن او حدیث نه خلاف په بله رائے او قول باندے د عمل کولو نه ځان بچ کړیشی. لفظ مؤمن او مؤمنة د پاره د تعمیم د دے حکم دے. إِذَا قَضَى اللَّهُ هغه فیصلو او حکمونو ته شامل کوم چه په قرآن کریم کښې دی. وَرَسُولُهُ او فیصلو او حکمونو ته شامل دے چه په سنّت صحیحه سره قولًا او عملًا ثابت وی.

أَمْرِهِمْ دا ضمیر راجع دے مؤمن او مؤمنة ته د وجے د عموم د هغې نه ځکه چه نکره په سیاق د نفی کښې واقع ده یا ضمیر راجع دے الله تعالی او رسول ته.

وَمَنْ يَعْصِ دلته د عصیان نه مراد خپل رائے او اختیار مقدّم کول دی په نص د قرآن او د سنّت باندے. ضَلَٰلًا مُّبِينًا په مبین کښې اشاره ده (پاتے په بل مخ)

مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ

هغه خبره چه الله تعالیٰ ښکاره کول او ویره کوله تا د خلقو نه او الله تعالیٰ ډیر حقدار دے

اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا

چه د هغهٔ نه ویره اوکړے نو هرکله چه پوره کړو زید د هغې نه حاجت

زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

نو په نکاح سره موږ درکړه تاته دپاره د دے چه نه وی په مؤمنانو باندے

حَرَجٌ فِيْۤ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا

تنګسیا په باره د نکاح کولو د بیبیانو د متبنّٰی ګانو د دوی کښ هر کله چه پوره کړی دوی

مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾

د هغوی نه حاجت او دے حکم د الله تعالیٰ پوره کړے شوے.

چه د دې په ضلال باندے یں دلیل ته حاجت نیشته بلکه عمل په خلاف نص باندے دلیل د دې د ګمراهۍ دے.

سکا:- داخطاب دے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته ځکه چه لفظ د ان تخشاه او زوجنکها کښ خطاب هغهٔ ته دے. ربط د هغکښ ایت سره دا دے چه هرکله تابعدارئ د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته ترغیب بیان شو نو په دے ایت کښ د هغهٔ د تابعدارے فائده بیانوی چه هغهٔ د حرج نه بچ کیدل په تابعدارئ د رسم شرکی کښ چه حرمت د تبنّٰی د مکبنی دے. او په دے ایت کښ د زید بن حارثه بعضے حالاتو ته اشاره ده هغهٔ دا چه زید بن حارثه په وړوکوالی کښ د مور سره روان وو په سفر باندے نو بد معاشانو په لاره کښ هغهٔ لره د مور نه په زور سره واغستلو او د عکاظ میلے ته ئے راوستلو او ویل ئے چه دا مرئے دے د خرڅ دپاره نو حکیم بن حزم چه وکیل تجارت وو د خدیجة رضی الله عنها هغهٔ د دوی نه په څلور سوه درهم باندے واغستو او د خدیجة رضی الله عنها سره اوسیدلو بیا چه د نبی صلّی الله علیه وسلّم د خدیجة رضی الله عنها سره نکاح اوشو نو هغې زید نبی صلّی الله علیه وسلّم ته اوبخلو. په دغه زمانه کښ د زید پلار وغیره د هغهٔ په طلب کښ ګرځیدل نو مکے معظمے ته راغلل نو زید ئے د نبی صلّی الله علیه وسلّم سره اومندلو نو د هغهٔ نه ئے طلب کړو هغهٔ او فرمائیل چه د زید نه تپوس اوکړئ که هغوی سره په تلله خوښه وی نو ځه ئے نه منع کوم

مَاكَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا

نه دے دی په نبي صلی الله علیه وسلّم باندے تنګسیا په رسولو ڈه ده حکم کبن

نو هغهٔ اُویل چه څه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم په مقابله کبن پلار او رونړه نه غوښتوم نو بیا نبی صلّی الله علیه وسلّم هغهٔ ته اُویل چه ماته ازاد کړے او دَ هغهٔ وخت دَ رواج په موافق سره ئے اُویل چه زید زما ځوئے شو یعنی متبنیٰ ئے تربنه جوړ کړو دَ هغے نه روستو به دهٔ ته زید بن محمّد (صلّی الله علیه وسلّم) ویلے کیدلو. بیا نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ زید نکاح دَ زینب بنت جحش رضی الله عنها سره او تړلو. لیکن دَ دوی دَ کورنئ تعلق پوره جوړ رانغے نو زید او غوښتله چه زهٔ دے له طلاق ورکوم نو رسول الله صلّی الله علیه وسلّم هغهٔ لره دَ طلاق ورکولو نه منع کړو.
او رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته په وحی سره معلوم شوے وه چه روستو دَ طلاق ورکولو دَ زید نه نبی صلّی الله علیه وسلّم به دَ دے سره نکاح کوی. او په نکاح کولو کبن دَ منافقانو او مشرکانو دَ طرف نه دا بدنامه وه چه دَ ځوئی دَ ښځے سره ئے نکاح اوکړه نو دَ دے بدنامے نه نبی صلّی الله علیه وسلّم یریدلو نو هغهٔ ته ئے اُویل چه دے لره طلاق مه ورکوه. لیکن هغهٔ طلاق ورکړو او عدت ئے تیر شو نو الله تعالیٰ دَ زینب نکاح دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم سره اوکړلو. أَنْعَمَ اللَّهُ، په توفیق ورکولو دَ ایمان او په صحبت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم. وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ، په ازادولو سره او په ځوئے جوړولو سره. أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ یعنی هغهٔ ستاسو مشوره طلب کړه په باره دَ طلاق دَ هغے کبن او دَ زوجے نوم زینب رضی الله عنها وو. یعنی اګرچه په تاباندے بوج او تکلیف په وی لیکن دَ هغے سره ګذاره کوه. وَاتَّقِ اللَّهَ یعنی دَ هغے حقوق پوره اداکوه. وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ کوم څیز چه الله تعالیٰ ښکاره کړو هغهٔ نبی صلّی الله علیه وسلّم په زړهٔ کبن ساتلو او الله تعالیٰ خو دا ښکاره کړه چه هر کله زید طلاق ورکړو زینب رضی الله عنها ته او عدت ئے هم تیر شو نو الله تعالیٰ دَ هغے نکاح دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم سره اوکړو. نو معلومه شوه چه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم په زړهٔ کبن داخبره وه دَ دے وجے نه چه الله تعالیٰ ته دَ حکمت نه خبر رالیږلے وو. وَتَخْشَى النَّاسَ مراد دَ دے نه خشیت اعتقادی نه دے (چه په عقیده دَ تعظیم او تعبد سره یره کوی څکه دغه خو صرف دَ الله تعالیٰ نه کیدے شی لکه چه ولم یخش الا الله (توبه ۱۸) کبن مراد ده) بلکه مراد دَ خلقو دَ ملامتیا او دَ طعنو نو نه ځان بچ کول دی څکه چه دلته مفسرین دوه معنے کوی اول دا چه تا حیا کوله دَ خلقو نه. دویم دا چه یره کوله تا رپاتے په بیل مخ)

فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ سُنَّةَ اللّٰهِ فِى الَّذِيْنَ خَلَوْا

چه فرض کړيدے الله تعالىٰ په دهٔ باندے پشان دَ طريقے دَ الله تعالىٰ په هغه کسانو کښ چه تير شويدی

دَ ملامتيا دَ خلقو نه. او وَتَخْشَى النَّاسَ علت دے دَ اَمسِك عليك دَ پاره چه تا هغهٔ ته ويل چه طلاق مه ورکوه داڅ دے وجے چه يريدے دَ خلقو دَ طعن نه که تا ورته ويلے وے چه طلاق ورکړه اوبيا دِ په نکاح باندے اغستله نو خلقو به ويل چه دائې دَ ځان دَ پاره دَ هغهٔ دَ نکاح نه اراده کړله يا علت دے دَ تخفى فى نفسك دَ پاره او بيائې هم دغه مطلب دے. وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشَاهُ. تفسير سراج المنير کښ ويلے دی چه دَ دے دا مطلب نه دے چه نبى صلى الله عليه وسلم دَ الله تعالىٰ نه يره نکوله بلکه حديث صحيح کښ راغلے دی انا اخشاکم لله واتقاکم له بلکه معنىٰ دا ده چه دا سے حالاتو کښ چه يو طرف ته دَ خلقو نه يره کول وو او بل طرف ته دَ الله تعالىٰ نه ويره دی نو په دے کښ به دَ الله تعالىٰ نه يره کول مخکښ وی په يره کولو دَ خلقو باندے. (تنبيه) بعض مفسرينو په دے مقام کښ دا سے قصے ليکلے دی چه دَ نبى صلى الله عليه وسلم دَ شان سره نه خائيګى يعنى په زړه دَ نبى صلى الله عليه وسلم کښ محبت دَ زينب پيدا کيدل او زړه کښ دا تمنا کول چه زيد زينب له طلاق ورکړى او زهٔ ئې په نکاح سره واخلم وغيره نو دَ هغے په باره کښ په دَ ايت کښ پخپله ترديد موجود دے اول دا چه اَمْسِكْ عَلَيْكَ ئې ويلے دی نو که دَ نبى دا سے محبت او تمنا وے نو پکار وو چه هغهٔ ته ئې ويلے وے چه طلاق ورکړه. دويم مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ که دَ رسول په زړه کښ دا محبت او تمنا دے نو ضرور الله تعالىٰ په هغهٔ ښکاره کړے وے ځکه چه الله تعالىٰ دَ هيچا نه يره نه کوى. دريم زَوَّجْنٰكَهَا لِكَىْ لَا که دَ هغهٔ محبت وے نو الله تعالىٰ به فرمائيلے وے زَوَّجْنَا لَهَا اِنَّكَ تُحِبُّهَا، (ستا دَ محبت دَ وجے نه مو په نکاح سره درکړه). دا رنګ محققينو مفسرينو هم په دغه قصه باندے رد کړے دے تفسير ابن کثير کښ ويلے دی "چه ذکر کړيدی ابن ابى حاتم او طبرى بعض اثار دَ سلف نه مونږ دَ هغے نه مخ ګرځوؤ پس نه ئې ذکر کوؤ". او تفسير قرطبى کښ ليکلے دی چه بعضو مفسرينو روايت کړے دے چه نبى صلى الله عليه وسلم په ښځه دَ زيد باندے مئين شو او بعضو بکواس کوؤنکو ويلے دی چه عاشق شو نو دا دَ هغهٔ چا نه صادريګى چه دَ نبى دَ عصمت نه جاهل وى يا سپک والے کوى دَ حرمت دَ نبى. بيا تفسير قرطبى يو سوال ذکر کړيدے چه هرکله نبى صلى الله عليه وسلم ته معلومه وه چه زينب به دَ زيد نه ضرور جدا کيږى نو بيائې ورته ولے اُويل چه امسك عليك زوجك دا خو تناقض دے؟

مِنْ قَبْلُ ۚ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا مَّقْدُوْرًا ﴿۳۸﴾

دَدهٔ نه مخکښ او دے حکم دَ الله تعالیٰ تقدیر مقرر کړیشوے

جواب ئې ذکر کړے دے چه داد نورو مقاصدو صحیحو دَپاره حجت قائمول وو عاقبت دَ خبرے پېژندل لکه چه الله تعالیٰ ته دَ یوکس باره کښ علم وی چه دے ایمان نه راوړی او بیا هم ورته دَ ایمان راوړلو امر کوی. فَلَمَّا قَضٰی زَیْدٌ مِّنْهَا دَ زید رضی الله عنه دا ډیر لوے منقبت دے چه دَهغهٔ نوم په قران کریم کښ لوستلے کیږی دَبل صحابی دا صفت نیشته او علماؤ دَ دے حکمت دا ذکر کړے دے چه هر کله دَدهٔ نسبت دَ زید بن محمدؐ نه بدل کړیشو زید بن حارثه ته نو په دے سره دَدهٔ زړه ته ډیر خفگان اورسیدلو نو دَ هغے دَ جبیرے دَپاره دَدهٔ نوم ئې په قران کښ نازل کړو. وَطَرًا مراد ترینه حاجت دَ یو ځائے کیدلو دَ ښځی سره او بیا طلاق ورکول دی ځکه چه په حدیث دَ مسلم کښ ثابت ده چه نزدیکت نه روستو ئې طلاق ورکړیدے او دے طلاق ورکولو کښ هم دَ زید ضرورت او حاجت پوره کیدل دی دَ دے وجے دَ هغې نه ئې تعبیر اوکړو په وطر سره. زَوَّجْنٰكَهَا دَ دے نه معلومه شوه چه دَ نکاح دَپاره ولی دَ نکاح پکار دے خو دا اختلافی مسئله ده. او په نسبت کښ الله تعالیٰ ته اشاره ده چه دَ دے نکاح الله تعالیٰ په اسمانونو کښ کړے دے لکه چه په حدیث دَ نسائی کښ راغلی دی چه دے به فخر کوؤ په نورو بیبیانو باندے چه الله تعالیٰ زما نکاح په اسمان کښ کړیدے او دا دَ نبی صلی الله علیه وسلم خصوصیت دے چه لِكَیْ لَا یَكُوْنَ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ حَرَجٌ اه دا لویه فائده شرعیه ده په نکاح دَ زینب کښ چه هغه رد دَ شرک فی التحریم دے او تردید دَ رسم ورواج دَ مشرکانو دے چه هغوی به دَ متبنیٰ دَ ښځے سره نکاح کول همیشه دَپاره حرام گنړل.

۳۸ :- دا بل خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته په صیغه دَ غائب سره دَپاره دَ احترام. ربط دا دے هر کله چه نکاح دَ زینب کښ دَ خلقو دَ طعنو نه یره وه نو په دے ایت کښ ترغیب دے چه په دے نکاح کښ قرینهٔ دَ الله تعالیٰ مخلوق ته رسول دی چه هغه دَ رسم شرکی تردید کول دی نو نبی صلی الله علیه وسلم لره نه دی جائز چه په دے کار کښ هغهٔ هیڅ حرج محسوس کړی. اَلنَّبِیّ مراد دَ دے نه زموتږ نبی صلی الله علیه وسلم دے. حَرَج مراد دَ دے نه تنگسیا او خفگان دے په تبلیغ دَ رسالت کښ. فِیْمَا فَرَضَ اللّٰهُ دَ دے نه مراد تبلیغ او دعوت دے چه فرض دے په انبیاؤ باندے لَهٗ په معنیٰ دَ عَلَیْهِ دے یا مراد دَ حرج نه گناه دے په نکاح دَ زینب رضی الله عنها باندے په بل مخ)

الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ

دا هغه کسان دي چه رسوی پیغامونه دَ الله تعالیٰ او ویریګی دَ هغه نه

وَلَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

او نه ویریګی دَ هیچا نه سوا دَ الله تعالیٰ نه او پوره دے الله تعالیٰ

حَسِيْبًا ﴿۳۹﴾ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ

حساب کوونکے۔ نه دے محمد صلی الله علیه وسلم پلار دَ هیچا دَ

رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ

نارینو ستاسو نه لیکن رسول دَ الله تعالیٰ دے او آخری دے

کښ لکه سورة اعراف ۱۰۲ کښ او فَرَضَ نه مراد تقدیر دَ الله تعالیٰ دے دَ دے نکاح دَ پاره دَ نبی صلی الله علیه وسلّم، او لَهٗ په خپله معنیٰ دے. سُنَّةَ اللّٰهِ مراد دَ دے نه طریقه دَ الله تعالیٰ ده په ټولو انبیاؤ علیهم السّلام باندے دَ لرے کولو دَ حرج په تبلیغ او دعوت کښ یا مراد دَ دے نه طریقه دَ وسعت ده په باره دَ نکاح کښ په مخکښنو انبیاؤ علیهم السّلام باندے لکه داؤد او سلیمان علیهما السّلام شو. او سُنَّةَ نه مخکښ حرف دَ کاف حذف دے یعنی کسُنّة (یشان دَ طریقے) یا فعل سَنَّ پټ دے یا اِتَّبِعْ پټ دے. قَدَرًا تیر شوی آیت کښ مَفْعُوْلًا ذکر کړو ځکه چه هلته مراد نکاح دَ زینب سره وه او هغه پوره کړے شوا و په دے آیت کښ ئے قَدَرًا ذکر کړو ځکه چه فَرَضَ کښ معنیٰ دَ تقدیر ده. او مَقْدُوْرًا دَ تاکید دَ پاره دے یعنی هیڅ تبدیلی او خلاف په هغے کښ نه واقع کیږی.

۳۹:۔ دا صفت یا بدل دے دَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ نه او ذکر دَ شان دَ تیر شوؤ انبیاؤ دے په درے صفتونو سره. ۱۔ رسول دَ ټولو پیغامونو دَ الله تعالیٰ چه په هغے کښ ئے هیڅ کمے زیاتے دَ ځان نه نه دے کړے. ۲۔ دَ الله تعالیٰ نه یره کول یعنی دا خشیت الٰهی سبب دے دَ پاره دَ پوره دین رسولو. ۳۔ او بل چا نه یره نه کول یعنی دَ چا دَ ویرے نه په دین دَ الله تعالیٰ کښ هیڅ خیانت، کِتمان، تلبیس نه کول. وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا دا یره ده هغه کسانو ته چه پیغمبرانو باندے اعتراضونه کوی یعنی الله تعالیٰ به دَ دوی سره حساب اوکړی چه په څه سبب سره دوی اعتراضونه کول.

النَّبِيّٖنَ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾

دَ پیغمبرانو ته او دے الله تعالیٰ په هر څیز ، باندے علم لرونکے.

رکوع ۵

ف:- دا خطاب دے مؤمنانو ته او په دے کښ جوابونه دَ هغه اعتراضونو دی چه خلقو په نکاح دَ زینب رضی الله عنها په وجه سره په نبی صلی الله علیه وسلم باندے کول. اول اعتراض. چه دے نبی دَ ځپل ځویٔ دَ ښځے سره نکاح کړے ده؟
نو جواب ارشو مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ. یعنی دَ نبی په نارینه اولاد کښ سړیتوب یعنی بلوغ ته هیڅ یو نه دے رسیدلے ځکه چه نارینه اولاد دَ یٔ په وړوکوالی کښ مړه شوی دی هاں لونړه یٔ څلور بلوغ ته رسیدلے وے او واده شوے وے،
او رِّجَالِكُمْ کښ اشاره ده چه ستاسو نه یوکوک دَ هغهٔ ځویٔ نشی جوړیدلے، نو په دے کښ نفی دَ حقیقی بالغ ځویٔ او مجازی یعنی دَ متبنیٰ دواړو مراد ده. دویم اعتراض! چه څه ضرورت دؤ چه دهٔ دَ زینب سره نکاح کوؤ اگرچه اِنکوریٔ نه ده خو خلق طعنونه کوی؟
جواب اوشو وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ یعنی دا مسئله (چه رد دَ رسم شرکی دے) رسول ضروری دی او دے پیغمبر دے په دهٔ باندے دا رسول فرض دی. دریم اعتراض! څه ضرورت دؤ چه دهٔ دا خبره رسوله بلکه دَ دهٔ نه روستو به بل پیغمبر راغلے وے نو هغه به رسولے وے؟ جواب اوشو وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ یعنی دے آخری نبی دے دَ دهٔ نه روستو بل نبی نه راځی. څلورم اعتراض چا ته علم دے چه بل نبی روستو نه راځی کیدے شی چه راشی؟ جواب اوشو وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا یعنی الله تعالیٰ ته علم دے او هغه دا خبر راکړے دے.
فائده:- دَ آیت دَ مضمون او روند نه صریح معلومه شوه چه خاتم النبین نه مراد دا دے چه دا آخری نبی دے دَ دهٔ نه روستو بل نبی راتلونکے نیشته او دا رنګ په حدیث صحیح کښ راغلے دی "وانا خاتم النبیین لا نبی بعدی" (ابو داؤد) او بل حدیث صحیح کښ دی "وانا العاقب والعاقب الذی لیس بعده نبی" او دَ دے نه علاوه ډیر احادیث شته نو معلومه شوه چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ خاتم معنیٰ په آخر سره کړے ده. او دا رنګ په لسان العرب (کتاب دَ لغت) کښ ویلے دی "خاتم النبین آخرهم".

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿۴۱﴾

اے ایمان والو یادوئ الله تعالی په یادولو ډیرو سره

وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿۴۲﴾ هُوَ الَّذِي

او پاکي وائئ دَ هغه سبائی او بیگائی الله تعالی هغه ذات دے

نو دا ایت قطعي نص دے په دے باره کښې چه زمونږ نبي اخري نبي دے دَدهٔ نه روستو بل نوے نبي جوړیدونکے نیشته دَ دے نه انکار کول دَ قطعي نص نه انکار کول دی او دا انکار کفر دے او دَ عیسیٰ علیه السلام په نزول باندے دَ اسمان نه احادیث متواتر راغلی دی لیکن دَ هغهٔ په راتللو سره ختم نبوت ته هیڅ نقصان نه رسی ځکه هغه زوړ ځکنے نبي دے او هر کله چه راشی نو نوے وحی به ورته نه راځی بلکه فیصله به زمونږ دَ نبي صلی الله علیه وسلّم په شریعت سره کوی. او دَ دے په خلاف کښې دَ بعض اهل علمو لغزشات ته اعتبار نیشته لکه ابن حجر هیتمي په فتاوی حدیثیه کښې دَ ابراهیم ابن النبي صلی الله علیه وسلّم دَ نبوت امکان ذکر کړے دَ لکه چه مفسر الوسی په هغه باندے رد کړیدے. او دا رنګ تفسیر قرطبي کښې رد دے په کتاب الاقتصاد دَ غزالی باندے او مرزا غلام محمد وئیلے دی چه خاتم په معنیٰ دَ مُهر دے یعنی زمونږ دَ نبي راتلل دَ نورو پیغمبرانو تصدیق دے اول جواب دا دے چه مخکښې ذکر شوه چه صحیح احادیثو کښې او دَ لغت په کتابونو کښې خاتم په معنیٰ دَ اخر دے. دوېم جواب دا دے که خاتم په معنیٰ دَ مُهر شی نو مطلب دا دے چه دَ اخري نبي دے ځکه چه مُهر په اول یا په مینځ کښې نه وی بلکه په اخر کښې وی او دَ مبرد قول دا دے چه خاتم فعل ماضی دے یعنی ختم کړیدے دے نبي سلسله دَ نورو پیغمبرانو او نبي دَ رسول نه عام دے نو هر کله چه ثابت شوه چه دے اخري دَ انبیاؤ دے او بل نبي دَ دهٔ نه روستو نشی راتللے نو لازمًا معلومه شوه چه رسول خو بالکل نشی راتللے.

۴۱ ـ ۴۲ :- دَ دے ایت نه تر اخره دَ سورت پورے څلورم باب دے په دے کښې باقي پنځه خطابات دی نبي صلی الله علیه وسلّم ته ۴۵ ـ ۴۸ ـ ۵۰ ـ ۵۲ ـ ۵۹ کښې او اووه خطابات دی مؤمنانو ته ۴۱ ـ ۴۲ ـ ۴۹ ـ ۵۳ ـ ۵۶ ـ ۶۹ ـ ۷۰ کښې او تخویفات دی په انه ایاتونو کښې ۵۷ ـ ۵۸ ـ ۶۴ ـ ۶۵ ـ ۶۶ ـ ۶۸ ـ ۷۲ کښې او زجر دے منافقانو ته په سوال غیر ضروری باندے په ۶۳ کښې.

په دے (۴۱ ـ ۴۲) کښې خطاب دے مؤمنانو ته په دوه اوامرو سره. ۱- ذکر کثیر او ۲- تسبیح هر وخت. ربط دَ مخکښې ایت سره دا دے هر کله چه هغه وهمونه او اعتراضونه ئې دفع کړل کوم چه په نبي صلی الله علیه وسلّم باندے خلقو کول

يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ

چه پورته کوی شان ستاسو (په رحمتونو سره) او ملائک ئے هم په دُعاګانو سره دے تیاره چه اوباسی تاسو لره د تیارو نه

اِلَى النُّوْرِ ۭ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴿٤٣﴾

رڼا ته او دے په مؤمنانو باندے خاص رحم کوونکے دے.

نو په دے ایتونو کښ دَ شکونو او وهمونو دَ زائل کولو دَپاره علاج ذکر کوی. ذِکْرًا، دا عام لفظ دے عبادات بدنیه مالیه قلبیه، لِسانیه ټولو ته شامل دے. کَثِیْرًا ډیر هغه دے چه په اخلاص دَ زړه او په سنت طریقے سره وی. دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه مفسرینو روایت راوړے دے چه الله تعالیٰ په بندګانو باندے چه کومه فریضه ایخے ده نو دَ هغے انداز ئے مقرر کړے دے ماسوا دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه دویم دا چه دا ئے په هرحالت او په هرځائے کښ لازم کړے دے په ولاړے په ناسته په ملاسته په شپه او ورځ، اوچه، دریاب، صحت، بیماری په اقامت او سفر کښ وغیرها. وَسَبِّحُوْهُ دا خاص ذکر دے روستو دَ عام نه. اشاره ده چه په ذکرونو کښ روستو دَ قرآن کریم نه افضل ذکر تسبیح او حمد دے او په دے کښ اشاره ده چه دَ الله تعالیٰ په هیڅ حکم باندے (او په نکاح سره ورکولو دَ زینب نبی صلّی الله علیه وسلّم ته) اعتراض کول جائز نه دی. بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا دَ دے دواړو وختونو فضیلت ډیر دے دَ دے وجے نه ئے دا خاص ذکر کړل نور اوقات هم مراد دی یا مراد دَ دے نه ورځ او شپه ده او مراد دَ تسبیح نه سبحان الله ویل په ژبه باندے سره دَ عقیدے نه او دا رنګ مونځ کولو ته شامل دے.

٤٣: په دے ایت کښ سبب دے دَپاره دَ ماقبل یعنی ذکر او تسبیح دَ دے وجے نه کوئے چه هغه په تاسو باندے سره دَ ملائکو ته صلاة رالیږی یا دا نتیجه او تفریع ده یعنی هرکله چه تاسو هر وخت دَ الله تعالیٰ ذکر او تسبیح کښ مشغول یئ نو الله تعالیٰ په تاسو باندے صلوٰة رالیږی او صلوٰة دَ الله تعالیٰ او ملائک سبب دے دَپاره دَ وتلو دَ ظلماتو نه نُور ته او هغه بیا سبب دے دَپاره دَ خاص رحمتِ اِلٰهیه -

صلوٰة په اصل کښ رعایت او عنایت کول دی او هغه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه رحمت کول او نیک ذکر دَ هغهٔ په بندګانو کښ اشاعت کول او دَ ملائکو دَ طرف نه استغفار غوښتل دی ځکه چه ملائک مستجاب الدعوات دی (یعنی دَ هغوی دُعاګانے قبلیږی) او دا استغفار سبب دَ رفع درجات دے او دَ مؤمنانو دَ طرف نه دُعا غوښتل په الفاظو دَ صلوٰة سره یا صرف دُعا غوښتل دَپاره دَ رحم دَ الله تعالیٰ. ظلمات، مراد دَ دے نه تیارے دَ منافقت او اعتراضونه او طعنونه کول دی په

(پاتے په بل مخ)

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلٰمٌ ۚ وَاَعَدَّ لَهُمْ

پیشکش د دوی به په هغه ورځ چه ملاقات شی الله تعالیٰ ته سلام به وی او تیار کړیے دے دوی لره

اَجْرًا كَرِيْمًا ﴿۴۴﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ

ثواب عزت والا اے نبی یقینًا لیږلے یے مونږ ته

شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۴۵﴾ وَّدَاعِيًا

بیان کوونکے او زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے او بلنه کوونکے

اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴿۴۶﴾

الله تعالیٰ ته په حکم د هغه سره او چراغ بلیدونکے.

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

او زیرے ورکړه مؤمنانو ته چه یقینًا دوی لره د طرف د الله تعالیٰ نه

اهل حق بانده اوکفر وشرک اوجهل ته هم شامل دے. او نُوْر نه مراد یقین او کامل ایمان او توحید اوسنت دے. وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا، كَانَ دلالت کوی په دوام اواستمرار بانده اولفظ دَ بالمومنین دلیل دے چه سبب دَ رحمت وصف دَ ایمان دے.

۴۴:۔ په دے کښ بشارت اخرویه دے. تَحِيَّةٌ هغه قول ته وائی چه سبب دَ خوشحالیٔ دَ مخاطب وی نو هغه دُعا لفظ دَ حَيَّاكَ الله ته شامل دے او السلام علیکم ویلو ته شامل دے او دَ الله تعالیٰ نسبت دَ خاشته صفاتو ته شامل دے. په دے ایت کښ مراد القاظ دَ خوشحالیٔ دی او سَلام نه مراد سلامتیا او مبارکی ورکول په سلامتیا بانده.

۴۵ ۴۶ ۴۷ ۴۸ په دے ایاتو کښ نبی صلی الله علیه وسلم ته پنځه خطابات دی او دَ نبی صلی الله علیه وسلم پنځه نومونه ذکر دی. شَاهِدًا مراد دَ دے نه شهادت دَ هغهٔ دے په اُمت خپل بانده په رسالت اوتبلیغ سره یا مراد دَ دے نه بیان کوونکے دے او دا دواړه معانی لِسان العرب کتاب کښ لیکلے دی. دویمه معنیٰ دلته غوره ده ځکه چه روستو دوه صفتونه تشریح دَ بیان کولو دی. وَدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ، مدعیٰ یے ورته نه دے ویلے ځکه چه مدعیٔ هغه وی که خپله دعویٰ پر یږدی نو پریږدے شی او هرچه داعی دے نو هغهٔ ته دَ دعوت پریخودلو اجازت نیشته. بِاِذْنِهٖ په دے کښ اشاره ده چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ ځان نه هیڅ نه دی جوړ کړی. سِرَاجًا شمس یا قمر یے ورته نه دی ویلی ځکه هغوی چه غائب شی نو بیا یے فائده دَ رڼا نه وی.

فَضۡلًا كَبِيۡرًا ﴿۴۷﴾ وَلَا تُطِعِ الۡكٰفِرِيۡنَ وَالۡمُنٰفِقِيۡنَ

فضل لوئی دے . او خبره مهٔ منه ذ کافرانو او منافقانو

وَدَعۡ اَذٰىهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

او پریګده ضرر ذ دوی او ځان سپاره په الله تعالیٰ باندے او پوره دے الله تعالیٰ

وَكِيۡلًا ﴿۴۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا نَكَحۡتُمُ

ذمه وار . اے ایمان والو هر کله چه نکاح اوکړئ

الۡمُؤۡمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقۡتُمُوۡهُنَّ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ

ذ مومنو زنانو سره بیا طلاق ورکړئ تاسو هغوی لره مخکښ ذ

تَمَسُّوۡهُنَّ فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٍ

په ځائے کیدلو نه. ذ هغوی سره نو نیشته تاسو لره په هغوی باندے هیڅ عدت

اوسراج نه بل څوک خپل ځان دپاره رڼړا اغستلے شی اګرچه سراج مړ شی لیکن رڼړا یئے باقی وی او دغه شان ذرسول الله صلّی الله علیه وسلّم دے. مُنِيۡرًا مراد دا چه رڼړا یئے تیزه او چمک دار؟ ده که چرے ذ سراج په رڼړا کښ کموالے وی نو ذ انسان طبیعت پرے خفه وی. وَبَشِّرِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ دا ذکر ذحال ذ هغه کسانو دے چه ذ سراج منیرنه یئے رڼړا حاصل کړے ده او ذ دے معطوف علیه محذوف دے یعنی ته لحاظ کوه ذاحوالو ذ امت خپل. وَلَا تُطِعِ دا ذکر ذحال ذ هغه کسانو دے چه محروم دی ذ رڼړا نه. او هرکله چه په سبب ذ نکاح ذ زینب سره ذ کافرانو او منافقانو ذ طرف نه (رازی) تکلیف ورکول وو نبی صلّی الله علیه وسلّم ته او په هغه پسے یئے خبرے کول شروع کړل نو دلته یئے اوفرمائیل وَدَعۡ اَذٰىهُمۡ یعنی ذ دوی بد وئیل او طعنو ته کول په هیڅ کښ مه شماره صبر پرے کوه جواب هم مه ورکوه -

مفسر قرطبی ذ قاضی ابوبکر نه نقل کړیدی چه ذ نبی صلّی الله علیه وسلّم اووه شپیته [۶۷] نومونه دی او بل روایت یئے ذکر کړے دے چه ذ هغه یوسل اتیا [۱۸۰] نومونه دی لیکن چا چه ذ هغه یو کم سل [۹۹] نومونه لیکلی دی نو دا دوی تشبیه ذ نبی صلّی الله علیه وسلّم کوی ذ الله تعالیٰ سره -

تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا

چه شمارئ تاسو هغې لره نو سامان ورکړئ هغوی لره او رخصت کړئ هغوی لره په رخصتے

جَمِيْلًا ﴿۴۹﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ اَزْوَاجَكَ

ښائسته سره. اے نبي يقينًا حلال کړے دي موږ تا لره بيبيانے ستا

الّٰتِيْٓ اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ مِمَّآ

هغه چه ورکړے دي تا مهرونه د هغوي او هغه وينځے چه مالک يے دے ښے لاس ستا د هغو زنانو نه چه

۴۹:- دا خطاب دے مؤمنانو ته. ربط دا دے چه د کافرانو او منافقانو پشان مه کيږے په اذيت ورکولو کښ بلکه هغه بيبيانے چه تاسو ترينه هيڅ فائده نه ده حاصل کړے چه په هغوي باندے ستا هيڅ حق هم نه دے پاتے شوے ليکن د هغوي سره په احسان کوئے او اذيت يه نه ورکوئے نو معلومه شوه چه د چانه تاسو فائده دينی حاصلوئ هغه ته يه په هيڅ طريقه اذيت او تکليف نه ورکوئے د دے وجے نه دلته حال د غير مدخول بها ذکر کړو ځکه چه هغه ادنیٰ درجه ده نو معلومه شوه چه د مدخول بها سره به په طريق اولیٰ سره احسان کوئے.

فائدے:- آيت کښ اشاره ده چه طلاق مخکښ د نکاح نه نيشته لکه چه روايت د جابر رضی الله عنه دے "لا طلاق قبل النکاح" نيشته طلاق ورکول مخکښ د نکاح نه". اوکه داسے اووائي چه هره هغه ښځه که ما ورسره نکاح اوکړو نو هغه دے په ما طلاقه وی، او ديته د کلما طلاق ويلے کيږی دا مسئله اختلافيه ده په مينځ د صحابه کرامو او د ائمو مجتهدينو کښ ليکن غوره قول دا دے چه په هغے سره هم طلاق نه واقع کيږی. دا رنګ په دے آيت کښ اشاره ده چه به غير د جماع نه عدت په طلاق سره نه لازميږی او په بابت د وجوب د عدت کښ په خلوت صحيحه سره حديث مرفوع صحيح زما په علم کښ نيشته. اجتهادی مسئله ده.

فَمَتِّعُوْهُنَّ، دا شامل دے نصف مهر ته که چرے مخکښ د طلاق نه مهر مقرر کړے وی. اوکه نه وی مقرر نو صرف جوړه جامه، لوپټه، پيزار او پړونے وغيره مراد دے. او سراح جميل دا دے که څه يے ورکړے وی نو د حسن اخلاق تقاضا دا ده چه هغه ترينه واپس نه غواړی.

أَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَبَنٰتِ عَمِّكَ وَبَنٰتِ

مهربانی کړے ده الله تعالیٰ په تا باندے (د مالِ د کافرانو نه) او لونړه د ترهٔ ستا او لو نړه

عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ خَالِكَ وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ الّٰتِىْ

د ترورگانو ستا او لونړه د ماما ستا او لونړه د ماسی گانو ستا هغه چه

هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ

هجرت ئے کړے وی تا سره او زناته مؤمنه که چرے اوبخی

نَفْسَهَا لِلنَّبِىِّ اِنْ اَرَادَ النَّبِىُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ق

ځپل ځان نبی صلی الله علیه وسلم ته که چرے غواړی نبی چه په نکاح سره واخلی هغے لره

خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ط قَدْ عَلِمْنَا

(دا) صرف تا لره دہ نیشته نورو مؤمنانو لره یقیناً پوهه یو مونږه

مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِىْ اَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ

په هغه څیز چه فرض کړے دے مونږ په دوی باندے په باره د بیبیانو د دوی کښ او د هغه وینځو کښ چه مالک دی

اَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ط وَكَانَ اللّٰهُ

ښی لاسونه د دوی د پاره د دے چه نه وی په تا باندے تنگسیا او دے الله تعالیٰ

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝٥٠ تُرْجِىْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِىٓ

بخنه کوونکے رحم کوونکے (د نمبر نه) روستو کولے شے ته هغه بی بی چه غواړے ته د دوی نه او بو ځائے کولے شے

سنه :- دا خطاب دے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته په وسعت د منکوحاتو او د وینځو سره د پاره د دے چه په دین رسولوکښ هغه ته اسانتیا راشی - په دے ایت کښ ئے څلور قسمه ذکر کړیدی اول قسم هغه زنانه چه نبی صلّی الله علیه وسلّم هغے سره په عوض د مهر سره نکاح کوی یا ئے کړیدے - دوېم قسم هغه چه په مالِ غنیمت کښ حاصله شوے وی او بیا ئے ازاده کړے وی او نکاح ئے ورسره کړے وی یا بغیر د ازادو لو د نکاح کولو نه په طور د وینزے د هغے نه فائده اخلی لکه صفیه ، جویریه ، ریحانه رضی الله تعالیٰ عنهن - دریم قسم د پلار د طرف نه خپلوانے یعنی د ترهٔ یا د ترور لونړه او د مور د طرف نه خپلوانے یعنی د ماما یا د ماسی لونړه ، د اول نه مراد قریشیه دی او د دوېم نه مراد د بنی زهره قبیلے دی او هجرت ئے د دے وجے نه (پاتے په بل مخ)

إِلَيْكَ مَنْ تَشَآءُ ۖ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ

(ته ځان سره هغه چه غواړې، او هغه بي بي چه طلب کوې ته (ړو ګاڼې ګڼې) له هغو (ښځو) څخه چه جدا کړې دي تا (نو هیڅ) نه

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ

تو نیشته ګناه په تا باندې، دا ښه نږدې ده چه یخې شي په سترګې د دوی

شرط کړیدې چه په غیر د هجرت نه ایمان ناقص وی او پیغمبر د پاره کمال ایمان والا پکار ده او بعض اهل علمو دا شرط خاص کړے دے په نبی صلی الله علیه وسلم پورے او دا قول خطیب شربینی په سراج المنیر کښ ذکر کړے دے او بعضو علماؤ ویلے دی چه دا د ټولو مؤمنانو د پاره دے په دلیل د ایت ۷۲ انفال سره۔

فائده: عم (تره) او خال (ماما) ئے مفرد ذکر کړو ځکه چه هغه په معنیٰ د جنس دے او عمات او خالات ئے جمع ذکر کړے دی ځکه چه عمة او خالة د پاره د جنس نه استعمالیږی. څلورم قسم هغه زنانه چه ځپل ځان نبی صلی الله علیه وسلم ته او بخی بغیر د مهر نه او بغیر د ولی نه۔ اِنْ اَرَادَ، د دے نه مراد قبلول دی ځکه چه بغیر د قبلولو نه نکاح نه صحیح کیږی اګرچه په لفظ د هبه سره وی، خَالِصَةً لَّكَ یعنی حلال کیدل د دے شمارو بیبیانو په دے څلورو قسمونو کښ خاص دی په نبی صلی الله علیه وسلم پورے یا متعلق دے په څلورم قسم پورے فقط۔ لیکن اول قول غوره دے۔ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ یعنی نورو مؤمنانو لره زیات د څلورو نه بیبیانے نه دی جائز او دا رنګ بغیر د مهر او د ولی نه نکاح د یو ښځے سره هم دوی له نه دے جائز۔ او د دے ایت د لاندے تفسیر قرطبی او سراج المنیر کښ د نبی صلی الله علیه وسلم ډیر خصوصیات ذکر کړی دی۔

فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ۔ په باره د ازواجو کښ په مؤمنانو باندے مهر او ګواهان د نکاح او ولی د نکاح فرض دے او په باره د وینزو کښ نفقه شرط ده۔

لِكَيْلَا يَكُوْنَ، دا متعلق دے د احللنا یا د خالصة سره او دا حکمت دے د کثرة زوجاتو د نبی صلی الله علیه وسلم یعنی د بیبیانو په ډیر والی سره د ډیرو خاندانونو سره مصاهرت (سخرګنی) پیدا شی نو د دین تبلیغ اسان شی بله دا چه دا بیبیانے به عامو زنانو ته د دین پوهه ورکوی خاص طور سره په هغه مسئلو کښ چه د ناریته نه پردے زنانه د هغے تپوس نشی کولے۔

فائده: بعض منکرینو د رسول صلی الله علیه وسلم په باره کښ وئیلی دی چه دا نبی ډیر شهوت والا وؤ د دے وجے نه ډیرے ښځے ئے کړے وے؟ جواب دا دے چه اګرچه د نبی صلی الله علیه وسلم شهوت د څلورو زرو ناریتو

وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ

او نه به خفه کیږی او رضا به وی په هغه څه چه ته ورکوے دوی ته دا ټولے

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِیْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

او الله تعالیٰ عالم دے په هغه څه چه په زړونو ستاسو کښ دی او دے الله تعالیٰ

عَلِيْمًا حَلِيْمًا ۝۵۱ لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْۢ بَعْدُ

پوهه او صبر واله. نه دی حلال ستا دپاره زنانه روستو دَ دے څلورو قسمونو نه.

سره برابر وؤ (لکه چه بعض احادیثو کښ ذکر دی) لیکن سرهٔ دَ دے نه په نهو ازواجو باندے اکتفاء کول دَ هغهٔ دَ عفت، او صبر دلیل دے خو دَ ډیر والی دَ بیبیانو حکمت دَ تبلیغ دَ دین نه حرج لرے کول دی.

ف۵۱ :- دا دَ مخکښ خطاب سره متعلق دے یعنی هغه ایت کښ فراخی په باره دَ نکاح کښ دَ نبی صلی الله علیه وسلم دپاره ذکر کړے شوه اوس په دے ایت کښ فراخی په باره قسم دَ بیبیانو دَ هغهٔ کښ ذکر کوی دپاره دَ دے چه په نبی صلی الله علیه وسلم باندے حرج نه وی. قسم، دَ ازواجو په عام مؤمنانو باندے واجب دے یعنی که دَ یو سړی دَ یوے نه ډیرے بیبیانے وی نو په حقوق اداکولو کښ به عدل کوی او په شپه تیرولو کښ به هم مساوی حصه هر یوے لره ورکوی هاں نزدیکت حسب خواهش دے په هغے کښ مساوات امکان نه لری لکه چه دَ زړه بے اختیاره محبت کښ برابری هم دَ انسان دَ وس نه بهر ده. په نبی صلی الله علیه وسلم باندے قسم (دَ دے ایت په تقاضا) واجب نه وو لیکن سرهٔ دَ دے نه به هغهٔ اهتمام دَ قسم کوؤ. تُرْجِیْ، مراد دا دے که نمبر دَ یو بی بی روستو کوے نو تا لره اختیار دے. دَ تُؤْوِیْ، مراد دا چه یو بی بی ځان ته بے نمبره راغواړے نو هم ستا اختیار دے. دَ مَنِ ابْتَغَیْتَ، مراد دا دے که یوه بی بی تا دَ نمبر نه دیستلے وی او بیا یې په نمبر کښ داخلول غواړے نو هم ستا اختیار دے. لکه سوده رضی الله عنها خپل نمبر عائشه رضی الله عنها ته بخلے وؤ او د نمبر نه وتلے وه. ذٰلِكَ اَدْنٰی، په دے کښ فائدے بیانوی چه هر کله په تا باندے قسم واجب نه دے او سرهٔ دَ دے نه دَ هغوی حقوق برابر اداکوے نو په دے کښ درے فائدے دی اوله فایده دا چه اَنْ تَقَرَّ اَعْيُنُهُنَّ یعنی هر کله چه ته په خپله رضا دَ هغوی حق اداکوے نو هغوی به خوشحاله وی. تَقَرَّ ماخوذ دے دَ قرار نه یعنی دَ خوشحاله انسان سترګے په ځائے ولاړے وی ډیرے نه اوړی راوړی او دَ غمژن سترګے ډیرے اوړی راوړی یا ماخوذ دے دَ قر مقابل دَ حر (ګرمئ) نه (پاتے په بل مخ)

وَلَآ اَنۡ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ اَزۡوَاجٍ وَّلَوۡ اَعۡجَبَكَ

او نه دی جائز چه بدلے کړے په دوی سره نورے (قسمونه) بیبیانے اګرچه خوشحاله دی تا لره

حُسۡنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتۡ يَمِيۡنُكَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

ښائست د هغوی سوا د هغه نه چه مالک دے ښے لاس ستا او دے الله تعالیٰ

عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ رَّقِيۡبًا ﴿۵۲﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

په هر څیز باندے نګهبان . اے ایمان والو

ع ۳ / ۶

یعنی د خوشحاله انسان سترګے یخے وی او د غمژن سترګے ګرمے وی. دویمه فائده وَلَا یَحۡزَنَّ یعنی که څه وخت جدا شی نو خفګان به نه ورځی. دریمه فائده وَیَرۡضَیۡنَ، یعنی که ته لږ حق ادا کوے نو هم به رضا وی یعنی وائی به چه زمانو په دهٔ باندے څه زور یا وجوب نیشته. وَاللّٰهُ یَعۡلَمُ مَا فِیۡ قُلُوۡبِکُمۡ، په دے کښ اشاره ده د زړه بے اختیاره محبت ته چه د یوے بی بی سره زیات وی او بلے سره کم وی لیکن په حقوقو کښ فرق نه کوی نو په دے کښ هیڅ مواخذه نیشته لکه زیات محبت د نبی صلّی الله علیه وسلّم د عائشه رضی الله عنها سره وو.

سـ۵۲ :- دا بل خطاب دے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته. د دے ایت د حکم په باره کښ اختلاف دے یو قول دا دے چه دا منسوخ دے او محکښ (سـ۵۰) ایت ئے ناسخ دے مقصد دا دے چه کوم وخت دا ایت نازلیدلو نو د نبی صلّی الله علیه وسلّم په نکاح کښ نهه بیبیانے وے نو اویلے شو چه د دے نهو نه زیاتے بیبیانے تا لره جائز نه دی او دا رنګ د دوی په بدل کښ هم نه دی جائز نو بیا څه موده روستو (۵۰) ایت نازل شو چه تا له هر څومره بیبیانے چه کوے نو جائز دی، په دے قول باندے دا اعتراض دے چه ناسخ منسوخ کښ قاعده دا ده چه منسوخ مقدّم وی او ناسخ مؤخر وی او دلته خو برعکس دے جواب دا دے چه دلته تقدیم تاخیر په ترتیب د لیکلو کښ دے په نزول کښ نه دے. دویم قول دا دے چه دا ایت منسوخ نه دے بلکه مراد د ایت دا دے چه د دغه څلورو قسمونو نه (کوم چه سـ۵۰ کښ ذکر شویدی) علاوه نور قسمونه تا له جائز نه دی بلکه یهودیه، نصرانیه، مجوسیه، وثنیه او چه مؤمنه وی خو هجرت ئے نه وی کړے او نه اعرابیه او نه غریبه او دا قول نقل کړے دے خطیب په سراج المنیر کښ عکرمه نه او ضحاک او ابی بن کعب او ابو صالح او مجاهد. مِنۡ بَعۡدُ یعنی سوا د دغه څلورو قسمونو نه.

لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ اِلَّا اَنْ يُّؤْذَنَ

مۀ ننوځئ کورونو دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم ته مګر هغه وخت چه اجازت اوکړېشی

لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نٰظِرِيْنَ اِنٰىهُ ۙ وَلٰكِنْ

تاسو ته دپاره دَ خوراک نه په دې انتظار کوونکی دَ پخېدلو دَ خوراک لیکن

اِذَا دُعِيْتُمْ فَادْخُلُوْا فَاِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا

کله چه او بللے شئ نو ورننوځئ نو کله چه خوراک اوکړئ نو خواره شئ

وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ

(او نه په اساریګے) مینه کوونکے دَ خبرو کولو یقینًا دا کار

كَانَ يُؤْذِى النَّبِىَّ فَيَسْتَحْىٖ مِنْكُمْ ؗ

دے چه خفه کوی نبی صلّی الله علیه وسلّم لره نو حیا کوی ستاسو نه

وَاللّٰهُ لَا يَسْتَحْىٖ مِنَ الْحَقِّ ؕ وَاِذَا

او الله تعالٰی حیا نه کوی دَ بیان دَ حق نه او کله چه

سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْــَٔلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ

غواړئ دَ دوی نه سامان نو غواړئ تر شا نه

حِجَابٍ ؕ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ

دَ پردے نه ، دا طریقه ښۀ پاک ساتونکے ده زړونو ستاسو

وَلَاۤ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ ، مراد دَ تبدیل نه دا دے چه یوه بی بی طلاقه کړی او دَ هغے په بدله کښی دَ بلے سره نکاح اوکړی . او دا رنګ دَ عرب جاهلیت طریقه داوه چه دَ یو بل سره به ئے بیبیانے بدلولے .

رَقِيْبًا ، عالم چه هر وخت حالاتو ته نظر کوی چه دَ هغه نه پرده او پټیدل هم نه کیږی . نو دَ دے خطاب حاصل دا دے چه دَ دے اقسامو نه علاوه په نکاح کولو سره دعوت دَ دین کښی تنګسیا راځی وسعت نه راځی دَ دے وجے نه منع دی .

وَقُلُوبِهِنَّ ۚ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ

او زړونو د دوی لره او نه دی جائز تاسو لره چه خفه کړئ رسول الله لره

وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا ۚ

او نه په نکاح کوئ د هغه د بیبیانو سره روستو د مرګ د هغه نه هیچرے،

إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا ﴿۵۳﴾

یقیناً دا په تیز د الله تعالی لوے ناکاره کار دے۔

۵۳:۔ دا خطاب دے مؤمنانو ته۔ په دے ایت کښ اته نواهی او اوامر ذکر دی او دا اداب د طعام د دعوت ولیمے او د ضیافت دی د نبی صلی الله علیه وسلم په کورونو کښ او عموماً د نورو مسلمانانو په کورونو کښ هم۔ او دا رنګ مسئله د حجاب (پردے) ده۔ او په اول کښ مقصد دا دے چه نبی صلی الله علیه وسلم د دعوت و تبلیغ په کار کښ مشغول دے نو بے فائدے مجلسو سره د هغه اوقات مه ضائع کوئ۔ او دا رنګ چه بے پردګے کښ هر څوک کور ته داخلیږی نو په دے سره هم د انسان زړه ته خفګان رسیږی او د دین د دعوت په کار کښ لوے حرج پیدا کیږی۔ تفصیل د ادابو دا دے اول ادب په صیغه د نهی سره چه د نبی صلی الله علیه وسلم کورونو ته بے د اجازت نه مه داخلیږئ، او دا حکم د عامو مؤمنانو په باره کښ هم دے لکه سورة نور ۲۷ کښ ذکر شویدی او تخصیص د طعام کښ اشاره ده چه اجازتونه د دخول هم بغیر د سخت ضرورت نه مه غواړئ۔ دوئم ادب غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ، دا په طریقه د نهی سره دے یعنی دومره وختی (د وخت نه مخکښ) مه داخلیږئ چه طعام پوخ شوے نه وی او تاسو د هغې په انتظار کښ ناست یئ او په دے کښ کور والا ته هم تکلیف دے او دا مخکښ تلل د مدعو انسان په حرص د خوراک باندے دلیل دے إِنَاهُ. إِنَا مصدر دے په معنی د پخیدو سره دے۔ دریم ادب وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا، یعنی بغیر د دعوت نه هم په طریقه د طفولیت سره مه داخلیږئ ځکه چه بغیر د دعوت نه د چا طعام خوړل ګناه دے حدیث کښ یئ د هغه تشبیه د سارق او مغیر (لوټ کوونکی) سره ورکړے ده۔ څلورم ادب فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا یعنی د خوراک د فراغت نه روستو زر واپس کیدل او خوریدل پکار دی د استراحت د پاره حصار یدل نه دی جائز۔ پنځم ادب وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ دا عطف دے په غیر ناظرین باندے یعنی روستو د خوراک نه د ګپ شپ د پاره هم مه حصاریږئ۔

إِنْ تُبْدُوا شَيْئًا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ

که چرته ښکاره کوئ تاسو څه څيز يا ئې پټ کوئ نو يقيناً الله تعالیٰ په

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿۵۴﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِي

هر څيز باندے ښهٔ پوهه دے. نيشته ګناه په دوی (زنانو) باندے په

دَ عائشه رضی الله عنها نه روايت دے چه دا دَ رونړا رو او دَ نارا ستو په رد کښې دے او په دے کښې دَ داعی او دَ مدعو دَ دواړو دَ وخت دَ ضائع کولو نه بچ کيدل دی. إِنَّ ذَٰلِكُمْ الخ، دا علت دَ پاره دَ تير شوے احکامو دے. وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي، استحياء صفت دَ الله تعالیٰ دے دَ هغهٔ دَ شان سره مناسب بغير دَ تشبيه او دَ تاويل نه، دا صفت کله ثبوتی راځی لکه حديث کښې وارد دی چه "ان الله تعالی حيی کريم" او کله سلبی خصوصی راځی لکه په دے جمله کښې. شپږم ادب وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا الخ، يعنی که دَ بيبيانو دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم يا دَ نورو زنانو نه څه ضروری تپوس کوئے يا څه ضروری څيز ترينه غواړئے نو دَ ديوال او دَ دروازے دَ شا ته نه غواړئے او دَ دے نه معلومه شوه چه په کور باندے دروازه يا پرده لګول ضروری دی او واجب دی. او دا ايت په باره دَ نزول دَ حجاب کښې دے تفسير قرطبی کښې ويلے دی چه لفظ دَ مَتَاعًا عام دے دنيوی او دينی ټولو ضروريات ته شامل دے نو معلومه شوه چه دَ ضرورت دَ وجے نه دَ پردے زنانو سره خبرے کول جائز دی. ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ دا ئے فائده دَ مخکښې ادب ذکر کړه او اطهر ئے ځکه او وئيل چه کله که يو انسان متقی دَ يو زنانه سره محارم خبرے کوی کيدے شی چه زړه کښې ئے څه وسوسه راشی ليکن چه محارم نه وی نو زړونه دَ دواړو به دَ وسوسو نه بالکل پاک وی. اووم ادب وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ، يعنی په هيڅ طريقه نبی صلی الله عليه وسلم ته تکليف مه ورکوئے. اتم ادب وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ الخ، يعنی هغه زنانه چه دَ نبی صلی الله عليه وسلم په نکاح کښې وی دَ هغهٔ تر وفات پورے او دَ هغهٔ دَ وفات نه روستو هم دَ هغوی سره نکاح کول حرام دی او بعض اهل علمو شرط لګولے دے چه صرف هغه بيبيانے چه نبی صلی الله عليه وسلم ورسره دخول کړے وی او دَ دے يو وجه دا ده چه دوی امهات المؤمنين دی او دويمه وجه دا ده چه دا به بيبيانے وی دَ نبی صلی الله عليه وسلم په جنت کښې دريمه وجه دا ده چه زوجه خو دَ اخری خاوند سره به وی په جنت کښې او څلورمه وجه دَ نبی صلی الله عليه وسلم احترام او شرافت دے. نو معلومه شوه چه دَ نبی صلی الله عليه وسلم په وفات سره نکاح دَ هغهٔ نه دے منقطع شوے ليکن دَ دے نه دليل نيول دَ هغهٔ په حيات باندے (چه هغه ته حيات دنيويه) باطل پرست خلق وائی) دا غلط دے.

سلام:- دا ايت متعلق دے دَ تير شوی ايت سره يعنی کوم منهيات (پاتے په بل مخ)

آبَآئِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخْوَانِهِنَّ وَلَآ

په پلارانو د دوی او نه په ځامنو د دوی او نه په ورونړو د دوی او نه

أَبْنَآءِ إِخْوَانِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ أَخَوَاتِهِنَّ وَلَا

په زویونو د ورونړو د دوی کښې او نه په زویونو د خوریانو د دوی کښې او نه

نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ وَاتَّقِينَ اللَّهَ

په زنانه مؤمنو کښې او نه په هغه چا کښې چه مالک دی شی لاسونه د دوی او ویره کوی د الله تعالیٰ نه

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾

یقیناً الله تعالیٰ په هر څیز باندے حاضر ناظر دے۔

چه په دغه ایت کښې بیان شول په هغې باندے عمل کول یا خلاف کول که پټ کاره وی اوکه پټ وی نو الله تعالیٰ په هغې باندے خبر دے جزا یا سزا به ورکوی۔

۵۵:۔ هرکله چه مخکښې ایت کښې حجاب کول د زنانه فرض شول یعنی نارینه به حجاب نه دننه نه ورداخلیږی نو په دے ایت کښې د هغې نه د بعض کسانو استثناء ذکر کوی۔ یعنی دا مذکوره کسان د پردے دننه په حال د خلوت کښې داخلیدلے شی پلار که نسبی وی اوکه رضاعی وی۔ خوئے که نسبی وی اوکه رضاعی وی دارنګ رور او وراره او خوریئے او عامے زنانه مسلمانانے او د کافرو زنانو نه به پرده کوی۔ او ﴿مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ﴾ نه وینزے مراد دی او د بعض اهل علمو په نیز مریئان په کښې هم داخل دی د وجے د کثرتِ طواف نه (یعنی خدمت د پاره تلل راتلل)۔

فائده ۱:۔ وراره ئے په خوریئے باندے مخکښې ذکر کړو ځکه چه پلار د وراره محرم د نیغ دے او پلار د خوریئے محرم د نیغ نه دے۔

فائده ۲:۔ ترونه او ماماګان ئے نه دی ذکر کړی۔ د اکثر اهلِ علمو په نیز هغوی هم په دے کښې داخل دی اشارةً ځکه چه بنی الأخ (وراره) محرم دے د ترور د پاره نو تره هم محرم شو د رویرے د پاره او بنی الاخت (خوریئے) محرم دے د ماسی د پاره نو ماما هم محرم شو د خورزے د پاره او د بعض په نیز باندے تره او ماما په دے حکم کښې داخل نه دی لکه چه سخر او ینزے وغیره هم په دے کښې داخل نه دی۔

فائده ۳:۔ فرق په مینځ د دے ایت او د ایت سورة نور ۳۱ په مضمون کښې دا دے چه په سورة نور کښې د هغه کسانو ذکر کول مقصد دے چه هغوی ته زینت ښکاره کول جائز دی برابره خبره ده که خلوت کول ورسره

إِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ط

يقينًا الله تعالىٰ او ملايكې د هغه صلوٰة (درود) وائي په نبي صلى الله عليه وسلم باندې

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا

اے ايمان والو صلوٰة وائې په هغه باندې او سلام وائې

تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

سلام پوره - يقينًا هغه كسان چه خفه كوي الله تعالىٰ او رسول د هغه

جائز وی اوکه نوی جایز او په دے ایت کښ مراد هغه کسان دی فقط چه خلوت
کول ورسره جایز دی او دوی لرِ دی په نسبت د هغوی سره۔

۵۶:۔ دا یل خطاب دے مؤمنانو ته په دے ایت کښ ذکر کوی عزت او شرافت
او منزلت د نبی صلی الله علیه وسلم په ملاء اعلیٰ کښ او دغه عزت فرض کوی
په ملاء ادنیٰ باندے د دے د پاره چه هیڅوک د هغهٔ نبي د ذات او د هغهٔ د بیبیانو
په باره کښ هیڅ ناکاره فکر هم په زړه کښ رانولی دا تائید دے د تیر شوی حکم۔
صلاة د الله تعالیٰ په نبی باندے رحمتِ خاصه کول، عزت ورکول، د گناهونو نه
معصومساتل، او مغفرت کول او لویئ درجے ورکول دی او صلاة د ملائیکو د هغهٔ
د پاره دُعاگانے غوښتل د هغهٔ اعزاز او احترام کول او مغفرت طلب کول دی۔
او د دے ټولو ته یو مشترک جال ته هم صلاة ویلے کیږی چه د هیڅ ته تعبیر
کیدے شی په (اعتنا بالشان) سره یعنی عظمت شان د هغهٔ او شاباشے او آفرین
ویل په هغهٔ باندے۔ صَلُّوْا عَلَيْهِ دا صیغه د امر ده په فرضیت باندے دلالت کوی
او په فرضیت د درود کښے درے اقوال دی اول دا چه په عمر کښ یو ځل فرض دے
دویم دا چه د موخ په آخره قعده کښ فرض دے دریم دا چه د هغهٔ د نوم سره
ویل فرض دی۔ او مراد د دے نه صرف دُعا نه ده بلکه هغه الفاظ د درود مراد دی
په دلیل د روایت د کعب بن عجره او ابوحمید الساعدی او نور صحابه کرامو رضی الله
عنهم سره نقل دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس کړے شوے وُئیه وخت
د نزول د دے ایت کښ چه سلام کول خو مونږ رسنا ته) پیژندلے دی یعنی السلام
علیك ایها النبی ورحمة الله وبرکاته لیکن صلوٰة به په تا باندے په کومه طریقے سره
وایو نو هغهٔ ورته تعلیم ورکړو د هغه الفاظو کوم چه په آخره قعده کښ لوستلے
کیږی۔ (تنبیه) الفاظ د درود به هغه معتبر وی کوم چه په (پاتے په بل مخ)

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ

لعنت کړے دے پہ دوی باندے اللہ تعالیٰ پہ دنیا او اخرت کښ او تیار کړے دے دَپارہ دَ دوی

عَذَابًا مُّهِیْنًا ﴿۵۷﴾ وَالَّذِیْنَ یُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِیْنَ

عذاب ذلیلوؤنکے ۔ او هغه کسان چه خفه کوی مؤمنان سړی

صحیح احادیثو سره نقل وی ذکوموالفاظو چه نقل نیشته لکه درود تاج درود لکھی یاالصلوٰة علیك یارسول اللہ نو دَ دے لوستل منع دی ځکه چه بنا دَ عباداتو او اذکارو پہ نقل او پہ اتباع باندے دہ۔ دا رنګ کوم احادیث چه صحیح نه دی نو دَ هغے الفاظو نه هم ځان ساتل ضروری دی پہ دے مقام کښ امام قرطبی پہ خپل تفسیر کښ دَ ابن عربی نه ډیر مفید کلام نقل کړے دے چه دَ هغے معنیٰ دا دہ، ابن عربی ویلی دی" دَ دے روایاتو نه بعض ضعیف دی او اَمّوهغه دے چه امام مالک رحمة اللہ روایت کړے دے نو پہ هغے باندے اعتماد کوئے او نور روایتونه چه پہ هغے کښ زیادت دَ لفظ رحمت وغیرہ راغلے دے دَ درود سره قوی نه دی او یقینًا لازم دی پہ خلقو باندے چه نظر دِ کوی پہ بارہ دَ دین کښ لکه چه نظر کوی پہ مالونو کښ او دوی نه اخلی پہ تجارتونو کښ عیبناک اشرفی بلکه غوره کوی کره اشرفی نو دا رنګ شی اغستلے کیدے پہ روایاتو کښ مګر هغه چه صحیح ثابت وی دَ نبی صلّی اللہ علیه وسلّم نه ستد دَ هغے داځکه چه داخل نشی پہ دروغو کښ پہ نبی صلّی اللہ علیه وسلّم باندے، نو دے به فضیلت لټوی او اَلتہ به پہ نقصان بلکه خسران مبین کښ پریوځی" (انتهیٰ)۔ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا مراد دَ دے نه تحیه دَ اسلام دہ چه السلام علیك ایها النبی ورحمة اللہ وبرکاته او دا رنګ داخل دی پہ دے کښ تابعداری کول دَ هغهٔ او دَ هغهٔ ځائے ته صفتونه کول۔ او پہ سلام کښ ئے تاکید پہ تسلیمًا سره ذکر کړو مراد ترینه تسلیم شرعی دے او پہ صلوا کښ ئے تاکید ذکر نه کړو ځکه چه هلته تاکید موجود وو پہ مخکنی جملے سره چه ان اللہ وملائکته یصلون علی النبی نو بیا تاکید ته ضرورت نیشته۔

سے۵ :- پہ دے ایت کښ تخویف دے پہ عدم احترام دَ اللہ او دَ رسول سره روستو دَ ذکر کولو دَ احترام دهغهٔ نه۔ ایذا دَ اللہ تعالیٰ نسبت کول دی هغهٔ ته دَ ولد او دَ شریک او دَ نیځے او توصیف دَ هغهٔ دَ صفتونو او اسماؤ سره لکه چه یهودیانو ویل ید اللہ مغلولة، ان اللہ فقیر۔ او دا رنګ هر قسم شرک کول او دَ هغه دَ صفتونو نه انکار کول او دَ هغهٔ تشبیه کول دَ مخلوق سره، او مخالفت کول (پاتے پہ بل مخ)

وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا

او مؤمنې زنانه به غیر د جرم نه چه دوی کړے وی نو یقیناً پورته کړه دوی (په څټونو بانډې)

بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ

بد نامه او گناه ښکاره - اے نبي اُووایه

د هغهٔ د اوامرو او د نواهي نه هم شامل دے - او حدیث د ابو هریره رضی الله عنه کښې دی چه هغه خوک الله تعالیٰ ته کنځل کوی چه دهر ته یعنی زمانے ته د خیر او د شر نسبت کوی نو دا د ربوبیت صفت ورکوی دهر ته - او رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته ایذاء ورکول په اقوالو سره دا ده چه هغهٔ ته ساحر، کاهن، شاعر، مجنون وغیره وائي او دا رنګ د هغهٔ صفتونه د الله تعالیٰ سره مشابه کوی یا په هغهٔ بانډے اعتراضونه او طعنونه کوی - او ایذاء په اعمالو کښې دا ده چه په اُحد کښې د هغهٔ سر مبارک او غ مبارک او غاښ مبارک زخمی کړے او مات کړے وؤ او په مکه کښې د هغهٔ د پاسه یئ لری او کلیے د ځناورو اچولے وے او د هغه نوره بے عزتی یئ کړے وه او دا رنګ ایذاء په عملونو کښې د هغهٔ د سنّت طریقے نه خلاف کول او د هغهٔ په سنّت بانډے د بل عالم، شیخ، استاد، پیر وغیره طریقے مخکښې کنړل دی.

فِي الدُّنْيَا اشاره ده چه په دنیا کښې به د دوی نه داسے کارونه کیږی چه اسباب د لعنتونو به وی.

۵۸:- په دے کښې هم تخویف دے په تکلیف رسولو سره مؤمنانو ته که سړی وی او که زنانه وی - اذیت د اهلِ ایمان په اقوالو او افعالو دواړو سره حرام دے اقوال دا دی کنځل کول، توهین کول، غیبت کول، بهتان تړل په هغوی بانډے، د نسب په وجه سره سپکول وغیره او افعال دا دی وهل د هغوی، هغوی ته سپک کتل. په مؤمنانو زنانو پسے ګرځیدل او هغوی ته کتل د هغوی بے پردے کول وغیره - قرطبی ویلے دی چه الله تعالیٰ اذیت د الله او د رسول کفر ګرځولے دے او اذیت د مؤمنانو یئ ګناهِ کبیره ګرځولے دے - بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا په دے کښې اشاره ده چه د مؤمنانو نه کله کله داسے جرم اوشی چه د هغے قولی یا فعلی تعزیر یا حد ورکولے شی. په دے ایت کښې لوئے تخویف دے شیعګانو او روافضو او دشمنانو د صحابهٔ کرامو ته چه هغه په اعتماد کولو سره په موضوعي او ضعیف تاریخي روایتونو سره په پیغمبر او صحابهٔ کرامو پسے بد رد وائي -

لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ

بیبیانو خپلو ته او لونړو خپلو ته او بیبیانو د مؤمنانو ته

يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ

چه راویزان کړی د ځان د پاسه د لویو پړونو خپلو نه دا

أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ

نزدے ده چه دوی په اوپیژندلے شی نو نه به شی تنګولے او دے الله تعالیٰ

غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ

بخښه کوونکے رحم کوونکے. که چرے منع نه شول منافقان

۵۹ :- دا بل خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلّم ته. هرکله چه د اذیت د ایمان والو نه منع اوکړے شوه اوس د دفع د اذیت د پاره طریقه ذکرکوی او دا مختص دے په زنانو پورے یعنی په وخت د سترکولو د زنانو کښ منافقان فاسقان به دوی ته اذیت نشی ورکولے لکه چه په دے ایت فَلَا يُؤْذَيْنَ کښ یے (سبب) ذکر کړے دے. بیبیانے د نبی صلی الله علیه وسلّم په وخت د وفات د هغهٔ کښ نهه وے. او لونړه د هغهٔ زینب، رقیه، ام کلثوم، فاطمه رضی الله تعالیٰ عنهن وے. يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ دا حکم په هغه وخت کښ دے چه دوی د خپل حاجت او د ضرورت د پاره د کورنه بهر اوځی. مفسر قرطبی لیکلی دی چه د جاهلیت په وخت کښ به د زنانو مخونه ښکاره وو او بهر به ضرورت د پاره وتلے نو په دے ایت کښ حکم اوشو چه مخونه به پټه وی. او د ابن عباس رضی الله عنهما نه قرطبی او خطیب شربینی او نورو مفسرینو روایت کړے دے چه طریقه د جلباب (پړونی) اغوستلو دا ده چه تول سر او مخ او بدان ترخپو پورے په پټ ساتی صرف یوه سترګه به ښکاره وی او بل روایت کښ دواړه سترګے یے ویلے دی. معلومه شوه چه د مخ پټول هم واجب دی. او جلباب برابره خبره ده که پړونے وی یا بورقه وی یا اوګډ قمیص وی خو چه سر او مخ او خپے پټوی. ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ یعنی د ستر په سبب سره به پیژندلے کیږی چه دا ښځے اصیله او شریفه زنانه ده، وینزه او فاحشه ښځه نه ده نو هیڅوک به یے نشی تنګولے.

وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْمُرْجِفُوْنَ

او هغه کسان چه په زړونو د دوی کښې مرض دے او دروغ خبر خورووُنکی دی

فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ

په مدینه کښې نو ضرور اوبه لسوم تا لره د دوی جنګ ته بیا به نشی اوسیدلے د دوی تا سره

فِيْهَا إِلَّا قَلِيْلًا ﴿۶۰﴾ مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ أَيْنَمَا ثُقِفُوْا

په هغے کښې مګر لږ ۔ لعنت به کړے شوے دی کوم ځائے چه او موندلے شی

أُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ﴿۶۱﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ

او به نیولے شی او او به وژلے شی په وژلو سره ۔ پشان د طریقے د الله تعالیٰ

فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ

په هغه کسانو کښې چه تیر شوے دی د دوی نه مخکښې، او چرے او به نه مومے ته طریقے

اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۶۲﴾ يَسْأَلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۖ

د الله تعالیٰ لره بدلی ۔ تپوس کوی ستا نه خلق په باره د قیامت کښې

سنه ۶۰ سنه ۶۱ سنه ۶۲ په دے ایاتونو کښې زجر او تخویف دنیوی دے منافقینو ته د پاره د تاکید د تیر شوی حکم ۔ المنافقون دا درے ایتونه عطف د صفت دے په صفت باندے او ذات یو دے یعنی منافقان چه د هغوی په عقیده کښې نفاق دے یعنی کفر دے او د هغوی په زړونو کښې مرض دے یعنی میلان پردو ښځو ته او د هغوی تنګول او هغوی پسے دروغ پراپیګنډے کونکی دی یعنی د مؤمنانو د پریشان کولو د پاره غلط خبرونه خوروی یا په مؤمنانو باندے د بد نامے لګولو د برخوروی نو دا ټول صفتونه د اهل نفاق دی ۔ لَنُغْرِيَنَّكَ ضرور مسلط به کړو تا لره د دوی په قتال کولو او تیزی، ترغیب او امر به در کړو تا ته د دوی په قتلولو سره ۔

سُنَّةَ اللّٰهِ یعنی چاچه د انبیاؤ مخکښنو ارجاف کړے دے په هغوی باندے ئے طعنونه اعتراضونه کړے دی نو الله تعالیٰ هغوی مغلوب ملعون کړی دی او د دنیا عذابونه ئے ورکړے دی ۔ په دے ایاتونو کښې ئے تخویف مؤکد کړے دے په اووه طریقو سره ۔

قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَا يُدْرِيكَ

ته اُووایه یقیناً علم دَ هغې دَ الله تعالیٰ سره دے او څه څیز تاله خبر درکولے شي

لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾ إِنَّ اللّٰهَ

ر په باره دَ قیامت کښې) یقیناً قیامت دے نزدے۔ یقیناً الله تعالیٰ

لَعَنَ الْكَافِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾

لعنت کړے دے په کافرانو باندے او تیار کړے دے دوی لره اور لمبو والا

خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٦٥﴾

همیشه به دی دوی په هغې کښې همیشه نه به مومی بچ کوونکے او نه امداد ی۔

۶۳:۔ دا هم زجر دے منافقینو ته۔ هرکله چه دوی په عذاب سره او یرولے شول نو دوی دَ قیامت په باره کښې تپوسونه شورو کړل دَ پاره دَ تلبیس اچولو په مؤمنانو باندے او دَ پاره دَ چپ کولو دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ جواب نه۔ وَمَا يُدْرِيكَ په دے کښې استفهام انکاری دے او مفعول حذف دے معنیٰ دا "څه شے خبر درکولے شي په باره دَ وخت دَ قیامت کښې"۔ یعنی سوا دَ الله تعالیٰ نه هیڅوک تاته وخت دَ قیامت نشي خودلے۔ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا دا مستقل کلام دے قریبا مذکر صیغه ده ځکه چه مراد دَ دے نه فی زمن قریب دے او دا ظرف زمان دے او امام بخاری وئیلی دی چه دا لفظ واقع شی دَ پاره دَ مؤنث په طریقه دَ توصیف یا اخبار نو دا به مؤنث وی یعنی قریبة۔ او کله چه واقع شی په طریقه دَ ظرف یا بدل نو مذکر به راځی۔ فائده :۔ کوم ځائے چه ومایدریك ذکر کړے وی نو هلته علم نه وی ورکړے شوے لکه وخت دَ قیام ساعة او کوم چه ما ادراك ذکر کړے شوے وی نو هلته علم ورکړے وی لکه احوال او هیبتونه دَ قیامت۔

۶۴ ۶۵ ۶۶ ۶۷ ۶۸ په دے ایتونو کښې تخویف اخروی دے په اته طریقو سره۔ لعنت، سعیر، خلود، ابد، لا یجدون ولیا، ولا نصیرا، ارمان په اطاعت دَ الله او رسول پسے۔ براءت دَ الهة باطلو نه۔

تُقَلَّبُ ډیر اړول راړول لکه غوښه چه ړوَ تلے شی۔ أَطَعْنَا اللّٰهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَ هرکله چه دَ دے سورت مقصد ترغیب اطاعة الله والرسول وو نو دَ هغې په مناسبت سره ئے دا تخویفه ذکر کړو۔ او دا تمنا په دَ سبب سره ده چه دَ دوی یقین راغے چه نجات صرف په اطاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه کښې دے

يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ

په دغه ورځ کښې اړولے راړولے به شي مخونه دَدوی په اُور کښې وائي به دوی

يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ۝٦٦ وَقَالُوْا

هائے ارمان دے چه تابعداری کړے وے مونږه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم. او وائي به دوی

رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا

اے ربه زمونږه یقیناً مونږ تابعداری کړے وه دَ سردارانو خپلو او غټانو خپلو نو ګمراهان ئے کړهِ مونږه

السَّبِيْلَا ۝٦٧ رَبَّنَآ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ

دَ حق لارے نه. اے ربه زمونږه ورکړے دوی ته دوچنده دَ عذاب نه

وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ۝٦٨ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او لعنت اوکړه په دوی باندے لعنت لوے. اے ایمان والو

ع ۵

سَادَتَنَا مراد دَ دے نه هغه پیران او ملایان دی چه دوی ته ئے دعوت دَ کفر او شرک او بدعاتو ورکړے وؤ او دوی دَ هغوی تقلید کړے وؤ. كُبَرَآءَنَا مراد ترینه اقتدار والا دی چه په رعیت کښې ئے دَ فسق و فجور او خلاف دَ کتاب الله او سنت رسول الله صلّی الله علیه وسلّم نه احکام او قوانین جاری کړے وی او رعیت دَ هغوی تابعداری کوی. فَاَضَلُّوْنَا دغه تقلید سبب اوګرځیده دَ منع دَ اتباع دَ حق نه. السَّبِيْلَا الف لام په کښې عهدی دے لار دَ توحید او دَ سنت مراد ده. ایت اګرچه صریح دے په تقلید کولو دَ ګمراهانو کښې لیکن دلالةً په کښې هغه تقلید شخصی داخل دے چه یو عالم خطا شوے وی اجتهاداً او مقلّد دَ هغهٔ ته معلوم شی چه دا قول دَ دهٔ خلاف دے دَ قرآن او سنّت نه یعنی بے دلیله دے لیکن بیا هم هغه قول نه پریږدی نو دا هم تقلید مذموم دے. ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ هکښې دَ دے سبب ذکر کړو چه دوی خو پخپله هم ګمراهان وو او مونږ ئے هم ګمراهان کړے وو نو دوه ګناهونه شول. لَعْنًا كَبِيْرًا هرکله چه دَ عامو ګمراهانو دَپاره عام لعنت وؤ چه په ۶۴ کښې ذکر شویدے نو دَ دوی دَپاره ئے دَ خاص لعنت دُعا اوکړه چه هغه لوے او ډیر لعنت دے.

اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ

مه کیږئ پشان دَهغه کسانو چه تکلیفونه ئې رسول موسیٰ علیه السلام ته نو بچ اوساته الله تعالیٰ

مِمَّا قَالُوْا وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ﴿۶۹﴾

دَهغې نه چه دوی ویل او دے وُو په نیز دَالله تعالیٰ مخور یــز۔

سـ ۶۹ ؛۔ دا بل خطاب دے مؤمنانو ته۔ هرکله چه ذکر شوه سزا دَ اذیت ورکونکو نبی صلی الله علیه وسلّم ته او معلومه شوه چه دا عادات دَ کافرانو او دَ منافقانو دی نو اوس منع کوی مؤمنانو لره دَ ایذاء دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه او دَ تشبیه دَ یهودیانو نه۔ لَا تَكُوْنُوْا مه کیږئ په اذیت ورکولو کښ دے رسول ته۔ یعنی دهٔ ته اذیت مه رسوئ لکه چه منافقانو ورته اذیت ورکړے وُو چه زینب سره نکاح کول دا دَ انګور سره نکاح کول دی؟۔ او نبی صلی الله علیه وسلم صدقات تقسیم کول نو ذوالخویصره ویلے وُو "اے محمد! انصاف کوه په تقسیم کښ انصاف دِ اونکړو"۔ بل روایت کښ دی دوی اویل ما ارید بها وجه الله، او دَ دے قسم نورې طریقې دَ اذیت هم دی۔ كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى۔ ایذاء موسیٰ علیه السّلام ته یو دا وه چه انکار اوکړو دوی دَ قتال نه او اویل "اذهب انت وربك فقاتلا اِنَّا هٰهُنَا قاعدون"، او دے ته اشاره ده په سورة صف کښ۔ دویمه ایذاء دا وه چه په هغهٔ باندے ئې بدنامه لګولے وه چه دهٔ خپل رور هارون علیه السّلام قتل کړے دے۔ دریمه هغه ده چه امام بخاری حدیث دَ ابوهریره رضی الله عنه نقل کړے دے چه موسیٰ علیه السّلام دَ بنی اسرائیلو نه جدا په تنها ئې کښ غسل کوؤ او دوی به په یو ځائے غسل کوؤ نو دوی اویل چه موسیٰ علیه السلام زمونږ نه جدا دَ دے وجے نه لامبی چه دهٔ باندے مرض دَ اُدرة (خُصیے پړسیدل) دے یا په دهٔ باندے مرض دَ برص (برګے) دے۔ نو الله تعالیٰ دَ هغهٔ براءت اوکړو دَ دے بدنامے نه یعنی یو ځل ئې یو ځائے لامبل او جامے ئې په کَټه باندے کیخودلے نو کَټه هغه جامے او تختولے نو دے ورپسے تیز روان شو او عصا ورسره وه کَټه مخکښ او دَے ورپسے مجلس دَ بنی اسرائیلو ته اورسیدو هغوی اوکتل نو په دهٔ باندے هیڅ مرض نه وُو او موسیٰ علیه السلام هغه کَټه په عصا باندے او وهله او کپړے ترینه را واخستلے۔ په دے باندے سوال دا دے چه موسیٰ علیه السلام وَلے بربنډ غسل کوؤ او بیا الله تعالیٰ دَ دهٔ بے عزتی دا سے ولے اوکړه چه بنی اسرائیلو ته ئې بربنډ راوستلو؟ جواب دا دے چه په حالت دَ تنهائی کښ هم تستر کول (پاتے په بل مخ)

افضل کار دے ځکه چه ډیر احادیث په دے بانډے دلالت کوی او دا استحیاء د الله تعالیٰ او دَ ملائکو ته - او انبیاء علیهم السّلام په افضل طریقه بانډے عمل کوی نو ظاهره داده چه موسیٰ علیه السّلام دَ غسل په وخت کښ لنګ استعمال کړے وو او په دا سے لنګ کښ کوم چه په غسل کښ استعمالیږی هم دَ مرض دَ برص او اُدرة پته لګیدے شی۔

وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا یعنی دوی په دے بدنامو لګولو سره دَ هغهٔ بے عزتی کول غوښتل لیکن هغهٔ دَ الله تعالیٰ په نیز بانډے عزت من وو نو دَ دا سے شخص عزت هیڅوک نشی کمولے۔ وَجِيْهًا چه مرتبه ئے اوچته وی دُعا ګانے ئے قبلیږی۔ محبوب وی عزت من وی۔

ف:- دا آخری خطاب دے مؤمنانو ته په تقویٰ سره لکه چه اول خطاب دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ سورة په اول کښ په تقویٰ سره وو او تقویٰ جامع لفظ دے هغه احکام چه دَ دے سورت په خطابا تو کښ دی په هغه ټولو بانډے عمل کولو ته شامل دے۔ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا یعنی دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم او دَ نکاح دَ زینب او دَ نورو بیبیانو او لونړو دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم او دَ عامو مؤمنانو سره او بنځو په باره کښ دَ شرع موافق قول کوئے دَ پاره دَ دے چه هغوی ته اذیت او نه رسیږی او دا رنګ دا لفظ شامل دے کلمے دَ لَا اِلٰهَ اِلَّا الله او نورو کلمانو شرعیو ته۔

وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧١﴾ اِنَّا عَرَضْنَا

او دَ رسول دَ هغه تو یقیناً کامیاب شو په لویه کامیابۍ سره - یقیناً موږ وړاندې کړه

الْاَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ

ذمه داری په اسمانونو باندې او زمکه باندې او غرونو باندې

فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَ

نو معذوری ځان یې کړو دَ خیانت کولو نه او ویریدل دَ خیانت دَ هغې نه او

حَمَلَهَا الْاِنْسَانُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا جَهُوْلًا ﴿٧٢﴾

دَ پورته کولو دَ هغې نه (خیانت کولو نه په هغې کښې) انسانانو یقیناً دغه انسان ډیر ظالم او جاهل دے۔

سلـ :- دا دَ تقویٰ او دَ قول سدید دوه فائدې ذکر کوی۔ يُصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ مراد دے نه په عملونو کښې حسن پیدا کول او عملونه قبلول دی۔ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ اختتام دَ احکامو کښې یې دا جمله ذکر کړې ده ځکه چه دَ ټولو اساس اطاعت دَ الله او دَ رسول دے۔

سلـ :- هرکله چه په سورت کښې اداب، اخلاق او احکام بیان شول او هم دا امانت دَ الله تعالیٰ دے په ذمه دَ انسان باندے نو اوس زجر ذکر کوی هغه انسان ته چه په دا سے امانت کښې خیانت کوی۔ دا رنګ تیر شوی ایت کښې دَ اطاعت کوونکو حال یې ذکر کړے دے نو اوس دَ خیانت کوونکو حال ذکر کوی۔ په دے ایت کښې یو اشکال دے هغه دا دے چه انسان امانت دَ الله تعالیٰ پورته کړو او قبول یې کړو نو پکار وو چه دَ هغه مدح او تعریف یې کړے وے لیکن هغه ته یې لوے ظالم او ډیر جاهل اویل او هرکله چه مراد دَ انسان نه خاص ادم علیه السلام شی بیا خو ډیره بعیده ده چه هغه ته ظلوم او جهول ویلے کیږی دَ دے یو جواب دا سے کړے شوے دے چه اِنَّهٗ ضمیر دغه انسان ته نه دے راجع بلکه بل خیانت کر انسان ته راجع دے لیکن دا جواب دَ بلیغ کلام سره مناسب نه دے دویم جواب دا سے کړے شوے دے چه ادم علیه السلام ته ظلوم جهول په معنیٰ لغوی سره ویلے شوی دی لیکن دا هم مناسب نه دے غوره جواب دا دے چه امانت نه مراد یو مناسب ذمه داری ده۔ اسمانونه چه الله تعالیٰ دَ کوم کارونو او فائدو دَ پاره جوړ کړل او دا رنګ زمکه او غرونه او انسان هم نو دوی دَ پاره امانت (ذمه واری) او احکام شرعیه دی چه هغه دَ دوی مناسب دی نو اسمانونو او زمکې

لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ
ذپاره دَدے چه عذاب ورکړی الله تعالٰی منافقانو سره او منافقو زنانو ته
وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ
او مشرکانو سره او مشرکو زنانو ته او توفیق دَ توبې ورکوی الله تعالٰی
عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَكَانَ اللّٰهُ
مؤمنانو سره او مؤمنو زنانو ته او دے الله تعالٰی
غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۷۳﴾
بخنه کوونکے رحم کوونکے۔

او غړونو دا او منل لکه سورة حٰم سجده سلا او سورة حج سط کښ دی او انسانانو کښ اکثریت په خپل امانت کښ نقصان اوکړو نو دے ظالم او جاهل دے بنا په دے توجیه سره حَمل په معنیٰ دَ خیانت کولو دے دا رنګ تفسیر قرطبی او نورو مفسرینو دَ زجاج نه نقل کړے دے یعنی حمل د روند بوج پورته کولو ته وائی او امانت کښ چه خیانت اوشی نو درونډ بوج تر ینه جوړشي. او دَ دے وجے نه پہ روستو ایت کښ اول ئے دَ خیانت والو عذاب ذکر کړے دے۔ او حسن بصری نه هم قرطبی روایت کړے دے چه حملها الانسان نه مراد کافر او منافق دے دَ مطلق انسان یا آدم علیه السّلام مراد نه دے او ظلوم جهول دَ مبالغے صیغے دی دَ کافر او منافق سره مناسب دی۔

۷۳:- دا دَ امانت په باره کښ دَ دواړو جانبینو نتیجے ذکر کوی. متعلق دے په حمل پورے یعنی دَ خیانت کولو نتیجه دا ده چه خیانت کوونکو له به عذاب ورکوی چه چا پټ خیانت کړے وی هغه منافقان دی او چا چه ښکاره کړے وی هغه مشرکان دی۔ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ متعلق دے په مقدر پورے یعنی بعض انسان خیانت نه دے کړے تو خیانت نه کول سبب دَ توبے دے یعنی الله تعالٰی په هغه باندے رحم کوی او دَ زیات ترغیب دَ پاره ایت ئے ختم کړو په غَفُوْرًا رَّحِيْمًا باندے۔

تمّ تفسیر سورة الاحزاب بتوفیق الملك الوهاب

بسم الله الرحمن الرحیم

سورة سبا

فائده: د دے سورت نه تر اخر د قران کریم پورے څلورمه حصه ده په الحمد لله سره شورو ده او په دے حصه کښ رد د شفاعة قهریه او د هغے د تفریعاتو چه رد د شرک فی العبادة والدعاء دے ذکرکوی او ذکر د احوالو د قیامت او د احوالو د هغے دے په تفصیل سره او په دے حصه کښ دولس بابونه دی اول باب کښ درے سورتونه دی سبا ، فاطر اویٰس په دے سورتونوکښ رد د شفاعة قهریه په عقلی او نقلی دلیلونو سره ردکوی۔

ربط د دے سورت د ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه تیرشوی سورت کښ ترغیب وو اطاعت د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نو په دے سورت کښ ردِشدید دے د هغوی په مخالفینو باندے او د هغوی عذاب او د هغوی قبائح ذکرکوی دویمه وجه داده چه په هغه سورت کښ شان او عزت د رسول ﷺ ذکر کړو نو په دے کښ اثبات د رسالت د هغه دے په دفع د شبهاتو سره د توحید او رسالت نه۔ دریمه وجه داده چه د سورة احزاب په اخرکښ تخویف د عذاب د منافقانو او مشرکانو ذکرکړے وو نو په دے کښ علت د عذاب ذکرکوی۔

دعوی د دے سورت۔ اثبات د مقاصدو څلورو د توحید او رسالت او صداقت د قران او اثبات د اخرت دے، اثبات د توحید دے په رد د څلور طریقو د شرک سره او په نقلی دلیلونو سره د انبیاؤ او ملائکو او جناتو نه یعنی اثبات د عجز د هغوی او په رد د څلورو قسمونو د شرک فی العلم او فی التصرف او فی العبادة او فی الدعاء دے او په ذکر د نولس اسماء حسنیٰ د الله تعالی سره۔ او اثبات د رسالت دے په ۲۸ کښ او په دفع د شبهے سره په ۳۴ ۳۵ کښ او په ذکر د طریقو

وَمَا فِي الْأَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْآخِرَةِ ط
او هغه څه چه په زمکه کښ دی او خاص هغه لره هم دا صفتونه دی په آخرت کښ
وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ① يَعْلَمُ مَا يَلِجُ
او هغه حکمتونو والا خبردار دے۔ عالم دے په هغه څه چه ورننوځی

دَ تعلیم سره چه په اول کښ لفظ دَ قل راغلے دے۔ او اثبات دَ صداقت قرآن په ۶ او په تخویف سره منکرینو ته په ۳۱ او په زجر سره په ۴۳ کښ او اثبات دَ قیامت دے په قسم سره په ۳ او په زجر سره منکرینو ته په ۷ او په ۴۵ کښ او په ذکر احوالو دَ قیامت سره۔

خلاصه دَ سورت چه دا سورت تقسیم دے څلورو بابونو ته اول باب ترسره پورے دے په دے کښ اول دعویٰ دَ توحید دَه او په ۲ عقلی دلیلونه په ۱ ۲ کښ بیا اثبات دَ قیامت په قسم سره په ۳ کښ بیا بشارت او تخویف په ۴ ۵ کښ بیا اثبات دَ صداقت دَ قرآن په دلیل نقلی سره په ۶ کښ بیا زجر منکرینو دَ قیامت او دَ رسول ته په ۷ ۸ بیا تخویف دنیوی په ۹ کښ ذکر کړے دے۔

تفسیر

۱ :- په دے کښ دعویٰ دَ توحید دَه او په هغے کښ دلیل عقلی دَ توحید دے دَ تصرف۔ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْآخِرَةِ اول الحمد لله حمد دَ دنیا ته اشاره دَه تو ورپسے حمد دَ آخرت ذکر کړے دے یعنی په آخرت کښ به هم ټول ښکلان خاص الله تعالیٰ دَ پاره حمد وائی لکه سورة زمر ۷۵ کښ او دارنګ آخرت کښ ټول نعمتونه او تصرفات او اختیارات صرف دَ الله تعالیٰ دَ پاره دی۔

وَهُوَ الْحَكِيمُ یعنی تقسیم دَ نعمتونو الله تعالیٰ دَ حکمت مطابق کړے دے۔ الْخَبِيرُ یعنی دَ هرچا په ظاهر او باطن باندے خبر دے نو حقدار دَ هر نعمت پیژنی۔

فائده :- سورة فاتحه کښ حمد په نعمتونو دَ دنیا او دَ آخرت باندے ذکر کړے دے بیا په سورة انعام کښ نعمتونه دنیویه دَ ایجاد ته اشاره دَه او سورة کهف کښ نعمتونو دنیویه دَ ابقاء (تربیت) باندے حمد ذکر کړے دے او س په سورة سبا کښ نعمتونه اخرویه دَ ایجاد ته اشاره دَه دَ دے وجے نه الاخرة یٔ ذکر کړو او ورستو دریم ایت کښ اثبات دَ آخرت یٔ ذکر کړے دے او سورة فاطر کښ به حمد په نعمتونو اخرویو دَ ابقاء ذکر کوی۔

فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ

په زمکه کښې او په هغه څه چه را اوځي د هغې نه او په هغه څه چه راکوزيږي د اسمان نه

وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۚ وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ﴿٢﴾

او په هغه څه چه ورخيژي اسمان ته او هغه رحم کوونکے بخنه کوونکے دے۔

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ ۖ

او وائي هغه کسان چه کفر ئې کړے دے نه راځي مونږ ته قيامت،

قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ ۖ

ته اُووايه ولې قسم دے په رب زما راځي به قيامت، عالم دے الله تعالیٰ په ټولو غيبو باندے

لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ

نشي پټيدلے د هغه نه په وزن د يو ذرے په اسمانونو کښې

وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِنْ ذَٰلِكَ

او نه په زمکه کښې او نيشته ورکوکے د دے نه

سلے :- دا دويم دليل عقلي دے اول دليل د تصرف دے او دا دليل علمي دے ځکه چه تصرف بغير د علم نه نشي کيدلے. او په دے دليلونو سره اثبات د توحيد او اثبات د قيامت دواړه مقصود دی. مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ اوبه، تخم، مالونه او مړکا وغيره مراد دی وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا اوبه، معدنيات، بوټي او نے وغيره مراد دی. وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وحی، ملائک، اوبه وغيره مراد دی وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ملائک، نيک اعمال او کلمات طيبه وغيره مراد دی. هر کله چه احوال د زمکے مونږ ته نزدے دی نو هغه ئې مخکښې ذکر کړل دويم دا چه تخم په زمکه کښې واچولے شي نو روستو باران ته محتاج وی. يعرج فيها د فيها په راوړلو کښې اشاره ده قبوليت د اعمالو ته چه د دنيا اسمان ته ورخيژی که اليها ويلے وے نو صرف رسيدل به مراد وے او دا سے په سورة حديد سے کښې هم شته.

وَهُوَ الرَّحِيمُ دا ټول نعمتونه دليل د رحمت د هغهٔ دے او منتهٰی د رحمت مغفرت دے ځکه ئې الغفور وروستو ذکر کړے دے.

وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ③ لِّيَجْزِيَ
او نه لوے مګر په کتاب ښکاره کښې دی. د دے دپاره چه بدله ورکړی
الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ
هغه چه ایمان یې راوړے دے او عمل یې کړے دے د سنت موافق دغه کسان
لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ④ وَالَّذِينَ
دوی لره بخشش او رزق عزت والا دے. او هغه کسان
سَعَوْ فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ
چه کوشش کوی په ایاتونو زمونږ کښې مقابله کوونکی دغه کسان دوی لره
عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ⑤ وَيَرَى الَّذِينَ
عذاب دے د سخت عذاب نه درد ناک. او عقیده لری هغه کسان

ف ۳:۔ روستو د ذکر د اخرت نه په دے کښې زجر دے منکرینو د هغې ته او د هغې اثبات کوی په قسم کولو سره په خپل ذات باندے او دا دریم سورت دے چه په هغې کښې قسم دے په ذات د رب باندے په باره د قیامت کښې۔ عَالِمِ الْغَيْبِ صفت د رب دے یعنی عالم دے په ارواحو او په اجسامو او د هغې په اجزاؤ اګرچه بعض ټکړے د ذرے په مقدار وی او بعضې د هغې نه غټې ټکړے وی او بعضې د هغې نه نرے ټکړے وی ذَرَّةٍ نرے سور میږے دے چه په نظر باندے په مشکله سره راځی او د عربو په نیز د ورکوالی دپاره د دغې مثال پیش کیږی۔ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ یعنی مګر عالم نه دے بلکه په لوح محفوظ کښې لیکلے هم دی۔

ف ۴:۔ په دے ایت کښې بشارت دے او ذکر د علت دے دپاره د قیامت۔ اولنا تیتکم پیټ دے۔ په ایت کښې ایمان او عمل صالح ذکر کړے دے نو جزاء کښې ئې هم (مغفرت او رزق کریم) دواړه په ترتیب سره ذکر کړل۔ كَرِيمٌ یعنی د فائدا و نه ډک دے هیڅ نقصان په کښې نیشته او په حاصلولو کښې ستړے والے هم نیشته او حساب په کښې هم نیشته۔

ف ۵:۔ دا تخویف اخروی دے هغه چاته چه د ایاتونو د الله تعالیٰ سره مقابله کوی فِي آيَاتِنَا په باطلولو د ایاتونو کښې او په تحریف د هغې کښې او مُعَاجِزِينَ قید دے د سَعَوْ دپاره۔ یعنی کوشش د هغې د ایزده کولو نه کوی بلکه مقابله ړاتے په بل مخ)

وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ الَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ

چه ورکړے شویدے هغوی ته علم چه هغه کتاب نازل کړے شویدے تاته ستا د رب د طرف نه

هُوَ الْحَقَّ وَيَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿٦﴾

هغه حق دے او هدایت کوی لارے د زورآور او ستائیلے شوی ذات ته.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ

او وائی کافران (یو بل ته) آیا او ښایو مونږ تاسو ته

رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ

داسے سړے چه خبردرکوی تاسو ته چه هرکله ذرے ذرے شئ تاسو په پوره ذرے کیدلو سره

إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿٧﴾ أَفْتَرَىٰ

یقینًا تاسو به په نوی پیدائش کښ یئ. آیا جوړ کړیدی

کوونکی دی یا عاجز کوونکی دی الله تعالیٰ لره دَ رانیولو دَ دوی نه په خپل گمان کښ. هرکله چه دَ عذاب مختلف قسمونه وو دَ دے وجے نه دلته ئے مِن لفظ راوړو.

سـ۶:- دا دلیل نقلی دے دَ اهل کتابو نه په مقابله دَ مُعَاجِزِيْنَ کښ یعنی دوی مصدِّقین (تصدیق کوونکی) دی. وَيَرَى عطف دے په لِيَجْزِيَ باندے یا دَ سره (مستانف) کلام دے او دا غوره خبره دهٔ او رویت نه مراد رویتِ عملی دے.
الَّذِيَ أُنزِلَ مفعول اول دے او هُوَ الْحَقَّ مفعول ثانی دے. الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَ دے نه مراد توحید والا دی که کتابی وی او که غیر کتابی وی. يَهْدِيَ فاعل دَ دے قرآن دے یا الله تعالیٰ دے.

سـ۷:- په دے کښ زجر دے په انکار دَ قیامت باندے سره دَ انکار دَ رسول نه. رَجُلٍ ئے مجهول ذکر کړو دَ پاره دَ استهزاء او مسخرے.
كُلَّ مُمَزَّقٍ مصدر میمی مفعول مطلق دے دَ پاره دَ مبالغے یعنی پوره ذرے چه یوه ذره هم دَ بلے ذرے سره یو ځائے پاتے نشی یا صیغه دَ ظرف ده یعنی هر ځائے دَ ذرے کیدلو ته دا ذرات او رسیږی.

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ بَلِ الَّذِيْنَ
په الله تعالیٰ باندے دروغ (په قصد سره) یا په دهٔ باندے لیونتوب دے (تو دروغ وائی بے اراده) بلکه هغه کسان
لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِى الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ
چه ایمان نه لری په آخرت باندے په عذاب کښ دی او په ګمراهئ
الْبَعِيْدِ ۞ اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ
لرے کښ دی۔ آیا نو دوی نه ګوری هغه څه ته چه وړاندے د دوی دی
وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ
او روستو د دوی دی چه آسمان او زمکه ده ، که چیرے اوغواړو مونږ نو به کړو
بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا
دوی لره په زمکه کښ یا به راواوغورځوو مونږ په دوی باندے ټکړے

ﻫ :۔ دا هم زجر کښ داخل دے۔

اَفْتَرٰى، دا هم د قال الذین د لاندے داخل دے او یو همزة د باب افتعال په کښ محذوف دے او تقابل په مینځ د دواړه جملو کښ دا دے چه افتراء نه مراد دا دے چه سره د عقل او د قصد نه ئے په الله تعالیٰ باندے دروغ جوړ کړی وی او اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ مقصد دا دے چه عقل پکښ نیشته نو بغیر د قصد او د ارادے نه ئے دروغ ویلے دی یعنی دروغ ئے ضرور ویلے دی لیکن یا ئے قصدًا جوړ کړے دی یا بے قصده۔ بَلِ الَّذِیْنَ یعنی دغه دواړه نسبتونه غلط او باطل دی بلکه دوی په عذاب کښ به وی په دنیا او آخرت کښ او په ګمراهئ کښ دی په دنیا کښ او تباهئ کښ به وی په آخرت کښ۔ ضَلَال په معنیٰ د ضیاع او د تباهئ دے او هغه دُنیا او آخرت دواړو ته شامل دے۔ او په دے جمله کښ رد دے د هغوی د قول په لف نشر مرتب سره یعنی دوی چه نسبت د افتراء کوی صادق او بَرِّیّ ته نو دا دوی د پاره ضرور سبب د عذاب دے۔ او دوی چه عاقل هوښیار ته نسبت د جنون کوی نو دا سبب او علامت د ضلال د دوی دے۔ بَعِیْدِ دا سے ګمراهی چه د حق سره هیڅ مناسبت نه لری او دلے تباهئ چه منتهیٰ ئے نه ده معلوم۔

مِنَ السَّمَآءِ ۭ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّكُلِّ

دَ اسمان نه یقینًا . په دے کښې ضرور علامت دے دَپاره دَ هر

عَبْدٍ مُّنِیْبٍ ۝۹ وَلَقَدْ اٰتَیْنَا دَاوٗدَ مِنَّا

بنده دَحق طلبګار . او یقینًا ورکړے دے مونږ داؤد علیه السّلام ته زمونږ د طرف نه

فَضْلًا ۭ یٰجِبَالُ اَوِّبِیْ مَعَهٗ وَالطَّیْرَ ۚ وَاَلَنَّا لَهُ

غوره والے (وویلے وو مونږ) اے غرونو تسبیح وائیځ دده سره او تابع کړے وو مونږ مارغان او نرمه کړے وه مونږ ده له

الْحَدِیْدَ ۝۱۰ اَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ

اوسپنه چه جوړه ووره زغرے او انداز ساته

فِی السَّرْدِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ۭ اِنِّیْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

په یوځائے کولو دَ کړو کښې او عمل کوئے نیک یقینًا زهٔ ستاسو عملونو له

سـ۹ :. په دے ایت کښې تخویف دنیوی دے هر کله چه تیر شوی ایت کښې دَ عذاب ذکر اوشو نو په دے ایت کښې دَ عذاب دَ قسمونو ذکر کوی۔
مِنَ السَّمَآءِ دابیان دے دَ مابین ایدیهم ځکه چه دَ انسان دَ سترګو په وړاندے دے.
وَالْاَرْضِ دابیان دَ ماخلفهم دے او مراد دَ مابین ایدیهم او وما خلفهم نه ټول طرفونه دی یعنی په انسان باندے اسمان او زمکے دَ هر طرف نه احاطه کړے ده ۔ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ اه دا لف نشر غیر مرتب دے یعنی دَ زمکے نه عذاب خسف دے او دَ اسمان نه عذاب ټکړے راغورځیدل دی۔
مُنِیْبٍ ، هغه انسان چه حق طرفته ګرځی په دلیل سره او هیڅ ضد تعصب پکښې نه وی او انابت شرط دے دَ پاره دَ تابعدارے دَ دلیل ۔
سـ۱۰ :. دَ دے ایت نه دویم باب دے تر سـ۲۲ پورے په دے کښې حالات دَ داؤد او سلیمان علیهما السّلام او حال دَ جنات ذکر کوی دَ پاره دَ دفع دَ شبهاتو په توحید یا ندے او دلیلونه نقلیه هم دی په بیان دَ احتیاج او دَ عبدیت دَ دوی سره بیا مثال دَ اصحاب سبا ذکر کوی دَ پاره دَ تخویف دنیوی او بیا عداوت دَ شیطان ذکر کوی چه سبب دَ شبهاتو او دَ نزول دَ عذاب دے۔
په دے سـ۱۰ کښې واقعه دَ داؤد علیه السّلام ده او په دے کښې جواب دَ سوال دے چه دَ داؤد علیه السلام دَ حالاتو نه معلومیږی چه دَ (باقی په بل مخ)

بَصِيْرٌ ⑪ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّ

لیدونکے یم ۔ او تابع کړے وه مونږ سلیمان علیه السّلام لره هوا مزل دَ صباؤ دَ هغې یو میاشت وو او

هغهٔ ډیر طاقت او قدرت وؤ په غرونو اومارغانو او اوسپنه باندے نو معلومه شوه چه دَ حاجت روا یئ قدرت یئ هم لرلو او شفیع قهری هم کیدے شي حاصل دَ جواب دادے چه غرونه او مارغان تابع کول او اوسپنه نرمول دا ټول کار او قدرت دَ الله تعالیٰ دے دَ داؤد علیه السّلام په هغې کښ اختیار نه وؤ دا معجزات دي او دَ نبي قدرت په معجزاتو کښ نه وي او دَ دے وجے نه په دے کارونو کښ الله تعالیٰ ځان ته نسبت کړیدے ۔ اوبل مقصد په دے واقعه کښ ذکر دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے په ذکر دَ امور خلاف دَ عادت نه نو دلیل شو چه الله تعالیٰ په دوباره ژوندی کولو قادر دے ۔ او دا رنګ دا دلیل نقلي دے په توحید باندے۔

فَضْلًا مراد دَدے نه نبوت او بادشاهي او نور معجزات دي ۔ يٰجِبَالُ دا بیان دَ فضل دے او قلنا په دے کښ پټ دے ۔ اَوِّبِيْ مَعَهٗ ۔ تاویب، رجوع اوکرځیدو ته وائي مراد دَدے نه تسبیح ویل دي ۔ وَالطَّيْرَ په دے کښ فعل پټ دے یعني سخرنا معه الطیر یا عطف دے په محل دَ یاجبال باندے ۔ او جبال او طیر یئ دَ دے وجے نه ذکر کړل چه غرونه ډیر سخت دي او مارغان دَ انسان نه ډیر نفرت کوؤنکي دي لیکن هرکله چه دوی دَ داؤد علیه السّلام ملګرتیا کوله نو معلومه شوه چه اونے او بوټي وغیره یئ هم تابع وو ۔ لیکن هغه انسانان چه دَ کمو نه یئ زړونه ډیر سخت وي نو هغوی یئ مخالفت کوؤ ۔ وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ دَ غرونو نه ډیر سخت خیز اوسپنه ده نو دَ هغې تسخیر هم ذکر کوي ۔ هرکله چه داؤد علیه السّلام دَ جهاد سره محبت ډیر لرلو او دا رنګ دَ خپل لاسو ګټه یئ خوښه وه نو الله تعالیٰ ورته اوسپنه نرمه کړله بغیر دَ اور او بغیر دَ ټکولو نه په ګوتو او سټکونو سره به یئ دَ هغې نه کړۍ جوړه وله۔

سلا :۔ اِنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ دا بیان دَ علت دَ نرم والي دَ او سپنے دے په صیغه دَ امر سره او په دے صیغه کښ اشاره ده چه دا کار یئ په امر دَ الله تعالیٰ سره دَ هغهٔ دَ رضا دَ پاره کولو ۔ سٰبِغٰتٍ نه مخکښ موصوف پټ دے یعني ذروعًا (زغرے) چه ټول بدن پرے پټیږي ۔ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ سرد په معنیٰ دَ جوړولو دَ زغرو دے او کړۍ په یو بل کښ ورکول دي ۔ او دَ قَدِّرْ دوه معنے دي اوله معنیٰ دا چه کړۍ په اندازه جوړوه نه ډیرے فراخ او نه ډیرے تنګے او نه

رَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ ۖ وَمِنَ

مزل دَ ماز یګری یو میاشت وۀ او بهیولے وه مونږ هغه لره چینه دَ تانبے او دَ

الْجِنِّ مَنْ يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ

پیریانو نه داسے کسان وو چه کار به ئے کوۀ دَ هغه په مخکښ په حکم

رَبِّهِ ۖ وَمَنْ يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ

د رب دَ هغه سره او څوک چه به کوږ شو دَ دوی نه دَ حکم زمونږ نه او به څکوۀ مونږ هغه ته

مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ ﴿١٢﴾ يَعْمَلُونَ لَهُ

دَ عذاب دَ اور لمبو والا نه. جوړول به دوی هغه لره

ډیرے غټے او نه ډیرے نرۍ ځ دَ پاره دَ دے چه غشے او توره وریاندے اثر نه کوی او نه په بدان باندے درنے دی او بقاعی ویلے دی چه "په دغه زغرو کښ میخونه نه وو بعضو- چه لیدلے وے نو داسے خبرئے راکړے دے اوداد دے وجے نه چه او سپینه ترمه وه نو میخونه وهلو ته حاجت نه وۀ" دویمه معنیٰ دا ده چه دا کسب دنیوی دے نو دَ دے دَ پاره ورځ او وخت اندازه کړه تو له ورځ په دے مه لګوه بلکه ډیر وخت دَ عمل صالح دَ پاره صرف کړه چه هغه مقصد اصلی دے دَ دے وجے نه وروستو او فرمائیل وَاعْمَلُوا صَالِحًا او په دے کښ اشاره ده چه داؤد علیه السّلام لوے شان او مرتبے والا وۀ، معجزاتو والا وۀ، لیکن بیا هم مکلف وۀ په عباداتو سره عبد وۀ نو شفیع قهری نشی کیدے.

سلا. په دے کښ دویمه واقعه ده په جواب دَ شبهه کښ چه دَ سلیمان علیه السّلام بادشاهی په هوا او په جناتو او مارغانو باندے دلالت کوی چه دے دَ لوے تصرف او قدرت مالک وۀ! حاصل دَ جواب دا دے چه دا قدرت دَ الله تعالیٰ وۀ دَ سلیمان علیه السلام په هغے کښ اختیار نه وۀ دَ دے وجے نه الله تعالیٰ ځان ته نسبت کوی او دا رنګ واقعه دلیل نقلی دے په توحید او په بحث بعد الموت باندے وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ. فعل دَ سخّرنا دَ دے نه مخکښ پټ دے هر کله چه تسخیر صرف دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے نو ذکر نه ئے حاجت نیشته.

غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ. قرطبی دَ حسن بصری نه روایت کړے دے چه صبائی به روان شو دَ دمشق نه نو دَ غرمے آرام به ئے اوکړو په اصطخر کښ او دَ دوا ړو په مینځ کښ دَ یو مے میاشت پیاده مزل دے ریاتے په بل مخ)

مَا يَشَآءُ مِنۡ مَّحَارِيۡبَ وَتَمَاثِيۡلَ وَجِفَانٍ

څه به چه غوښتل عبادت خانے او نمونے د ابادے او خانکونه

كَالۡجَوَابِ وَقُدُوۡرٍ رّٰسِيٰتٍ ؕ اِعۡمَلُوۡۤا اٰلَ

چیشان د حوضونو ود او دیګونه ولاړ په ځیل ځائي پاتدے عمل کوئے اے اولاد

دَاوٗدَ شُكۡرًا ؕ وَقَلِيۡلٌ مِّنۡ عِبَادِيَ الشَّكُوۡرُ ﴿۱۳﴾

د داؤد علیه السّلام د شکر کولو او لږ دي د بندګانو زما نه شکر ګذار۔

بیا یه د اصطرنه روان شو نو شیه یه ئے اوکړه یه کابل کښ او دا هم د میاشت مزل دے۔ وَاَسَلۡنَا لَهٗ عَيۡنَ الۡقِطۡرِ یعنی تانبه په خپل کان کښ د چینے د اوبو پشان بهیدونکے وه د پاره د ابادئ وغیره په اور باندے ویلے کولو ته ضرورت نه وؤ او دا هم معجزه وه نو الله تعالیٰ ځان ته نسبت کړے دے۔ وَمِنَ الۡجِنِّ عطف دے په الریح باندے یعنی وسخرنا من الجن۔ مَنۡ يَّعۡمَلُ بَيۡنَ يَدَيۡهِ بعض عملونه روستو ایت کښ ذکر کوی او بعض په سورة ص ۳۷ کښ ذکر دی۔ بِاِذۡنِ رَبِّهٖ په دے کښ اشاره ده چه د هغه سره (سحر) جادو نه وؤ لکه چه یهودیان وائی بلکه د الله تعالیٰ اذن وؤ۔ وَمَنۡ يَّزِغۡ مِنۡهُمۡ عَنۡ اَمۡرِنَا۔ امر د سلیمان علیه السلام امر د الله تعالیٰ دے من عَذَابِ السَّعِيۡرِ مراد ترینه اور د جهنم دے یا مراد په دنیا کښ چه ملائک په دے جناتو باندے مقرر وو چا یه چه د حکم د سلیمان علیه السّلام نافرمانی اوکړله نو د اور په چابک (کروړه) باندے یه ئے وهلو۔

۱۳: په دے کښ تسخیر د جن او د هغوی کارونه ذکر کوی۔ مَحَارِيۡبَ۔ محراب په بنی اسرائیلو کښ خاص عبادت خانه د امام او عالم د پاره وه یا مراد ترینه او چتے ابادئ دی یا مراد ترینه مساجد دی او په دے کښ مسجد بیت المقدس هم داخل دے چه دا هم جناتو جوړ کړے وؤ لیکن محراب زمونږ د زمانے ترینه مراد نه دے۔ وَتَمَاثِيۡلَ مراد د دے نه نقش و نګار دے د اونو او بوټو په شکلونو جوړ ولو سره۔ او چا چه ویلے دی چه مراد د دے نه تصاویر د انبیاؤ او بزرګانو وؤ چه دوی به په عبادت خانو کښ کیخودل صرف د رغبت د پاره او دا د دوی په دین کښ جائز وو دا قول صحیح نه دے دلالت کوی د دے په خلاف باندے هغه حدیث صحیح اولئك اذا مات فيهم الرجل الصالح بنوا على قبره مسجداً وصوروا فيه تلك الصور اولئك شرار الخلق عند الله (مشکوٰة) د دے نه (پاتے په بل مخ)

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ

نو هرکله چه فیصله اوکړه مونږ په هغه باندے دَ مرګ نو خبر ورنکړو دوی ته هېڅ

مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ

مرګ دَ هغهٔ مګر یو چینجی دَ زمکے (رویته) چه خوړله ئې همسا دَ هغه

فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا

نو هرکله چه هغه راپرېوتلو ښکاره شو حال دَ پیریانو چه که چرے دوی

معلومیږی چه مسجدونه په قبرونو باندے جوړول او په هغے کښ دَ نیکانو تصاویر جوړول دواړه کارونه دَ شرک اودَ فساد عمل دے۔

وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ جفان جمع دَ جفنه دے لوے خانک (پرات) ته وائی۔ جَوَابِ جمع دَ جوبهٔ دے لوے حوض ڈاوبو ته وئیلے کیږی۔ یعنی لښکر او نوکران او میلمانه به دَ سلیمان علیه السّلام ډیر زیات وو دَ هغوی دَ خوراک دَپاره لوے لوښی پکار وو۔ وَقُدُورٍ رَّاسِيَاتٍ هرکله چه دَ خانکونو حال ئې بیان کړو نو اوس دَ دیګونو حال بیانوی چه هغه دومره غټ وو چه دَ ځائے نه به چا نه شو خوځولے صرف ځلے په یکښ کیدلو بل طرق ته ئې اوړل او نقل کول ګران کار وؤ۔

اِعْمَلُوا آلَ دَاوُودَ یعنی دَ لوے حکومت او ډیرو معجزاتو سره هم هغه مکلّف وو په عبادیت دَ الله تعالیٰ سره۔ شُکْرًا په دے کښ تفسیر سراج المنیر شپږ ترکیبو نه ذکر کړیدی۔ یعنی مکلّف وو په شکر کولو سره۔

وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ۔ شکور ئې په صیغه دَ مبالغے سره دَ دے وجے نه ذکر کړو چه لږ شکر کوؤنکی خو مشرکان او کافران هم دی هغوی هم په حالت دَ اضطرار کښ دَ الله تعالیٰ شکر کوی لیکن چه هر وخت او په هر نعمت او په هر قوت یعنی په ژبه او زړه او اندامونو او مال سره دَ الله تعالیٰ شکر اداکوی نو دا ډیر لږ خلق دی دَ دے وجے نه قرآن کښ دَ مشرکانو او ناشکرو او بے عقلو او بے علمو ذکر ئې په لفظ دَ اَکْثَرْ سره کړے دے۔

يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ

پوهیدے په غیبو باندے نو نه به وو ایسار شوی په سخت کار ذلیل

الْمُهِينِ ﴿۱۴﴾ لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ

کوونکی کښې . یقینًا وو دَپاره دَ سبا والو په کورونو دَ هغوی کښې

۱۴ :- په دے ایت کښې ذکر کوی عجز دَ سلیمان علیه السلام په دوه طریقو سره اول داچه په دهٔ باندے مرګ راغلے دے دَ مرګ نه یُے ځان نه شو بچ کولے دوېم داچه روستو دَ مرګ نه هیڅ حرکت او اختیار و قدرت په کښې نه وو ځکه چه همسا کمزورے شوه دَ دهٔ دَ تینګولو نه نو دے په زمکه باندے راوغورځیدلو نو معلومه شوه چه مرده ګان دَ هیچا مداد او حاجت روائي نه شی کولے دَ ځان اختیار نه لری نو دَ بل چا سره په څه امداد اوکړی.

او دا رنګ په دے ایت کښې ذکر کوی حال دَ جنّاتو چه دوی هم په غیب باندے نه پوهیږی نو په دے سره جواب دَ دریم شبهے دے په باره دَ جناتو کښې چه دَ بعضو خلقو په بنی اسرائیلو او دا رنګ په دے امت کښې هم دا عقیده ده چه پیریان په غیبو باندے خبر دی نو په دے ایت کښې دَ هغوی جواب اوشو چه دَ سلیمان علیه السّلام دَ مرګ نه تر یو کال پورے هم دوی خبر نه وو . بیا دَ دے اسباب مفسرینو دوه ذکر کړیدی اول داچه په انسانانو کښې په هغه وخت کښې مشهوره وه چه جنات په غیب باندے پوهیږی نو سلیمان علیه السّلام دَ خپل مرګ په وخت کښې دا سے کار اوکړو او دَ الله تعالیٰ نه یُے سوال هم اوکړو چه زما مرګ دَ دوی نه پټ اوساتے دَپاره دَ دے چه دَ خلقو دَ زړونو نه دا غلطه عقیده ختم شی .

دوېم سبب دا وو چه سلیمان علیه السلام دَ جناتو په ذریعه سره دَ بیت المقدس ابادی کوله اګرچه ابادی دَ هغه په ژوند کښې ختم شوه لیکن دَ هغے دَ کمال او اتمام باره کښې څه عمل دَ پیریانو باقی پاتے شو ے وو نو دهٔ دَ الله تعالیٰ نه دُعاء اوکړه چه زما مرګ دَ جناتو نه یو کال پورے پټ اوساتے دَپاره دَ دے چه دا کار پوره کړی ځکه چه هغوی دَ سلیمان علیه السّلام دَ ویرے نه کار ونه کول . او دَ نسائي دَ حدیث صحیح نه معلومیږی چه سلیمان علیه السلام ابادئ دَ مسجد نه فارغ شوے وو لیکن دَ هغے متعلق څه اعمال باقی پاتے وو . او قرطبی نقل کړے دی چه صحیح سندونو سره ثابت ده چه سلیمان علیه السّلام تر یو کال پورے په همسا باندے ولاړ وؤ . تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَنْ یو معنی دا ده چه پیریانو ته (پاتے په بل مخ)

آيَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ ۬ كُلُوْا

دليلونه دَ توحيد باغونه دوه دَ ښي طرف او دَ ګس طرف نه خورئ

مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ بَلْدَةٌ

دَ روزئ دَ رب ستاسو نه او شکر کوئ هغه لره دا ښار ستاسو

طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ﴿۱۵﴾ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا

دَ مزو نه ډک دے او رب بخنه کوونکے دے - نو دوی مخ واړوه دَ توحید نه نو رالیږل مونږ

خپل حال ښکاره شو چه دوی علم غیب نه لری دویمه معنیٰ دا ده چه انسانانو ته ښکاره شوه په باره دَ پیریانو کښ چه دوی په غیب باندے نه پوهیږی په روسته معنیٰ باندے اَنْ لَّوْ كَانُوْا بدل اشتمال دے دَ الجن نه - الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ، مراد دَ دے نه آبادئ او نور سخت کارونه دی چه جناتو به دَ سلیمان علیه السّلام دَ ویرے کول ځکه ئې تعبیر په عذاب سره کړے دے -

سـ۱۵ :- دا نمونه ده دَ تخویف دنیوی په حال دَ اهل سبا سره دَ پاره دَ منکرینو روستو دَجواب دَ شبهاتو نه اوپس دَ دلیل نقلی نه - او دا رنګ مخکښ حال دَ هغه بادشاهانو ذکر شو چه شکر ګذار وو اوس حال دَ هغه مالدارو ذکر کوی چه نا شکره وی. لِسَبَاٍ دا نوم دَ مشر دَ قبیلے وؤ چه هغه سبا بن عبد شمس بن یشجب بن یعرب بن قحطان وؤ او دَ هغهٔ نسل ته هم اهل سبا ویلے کیږی - بعضے روایاتو کښ راغلی دی چه دَ سبا لس ځامن وو شپږ په یمن کښ آباد وو او څلور په شام کښ - فِيْ مَسْكَنِهِمْ په دے لفظ کښ اشاره ده چه دَ دوی په ملک کښ ډیر اسباب دَ ارام وو - مفسرینو ویلے دی چه دا دَ صنعاء الیمن نه درے فرسخه مآرب مقام دوؤ او بقاعی ویلے دی چه دغه علاقه او صحراء دے صنعاء ته نزدے ده

آيَةٌ دلیلونه دَ قدرت او دَ توحید دَ الله تعالیٰ - مَسْكَنَ او آيَةٌ مفرد په معنیٰ دَ جنس سره دے - جَنَّتٰنِ مراد دَ دے نه ډیر اقسام دَ باغونو دی صرف دوه نه دی مراد - بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ - آب وهوا ئې صحت مند وه زهریلی حیوانات پکښ نه وؤ خوره تاکه زمکه پکښ نه وه - وَرَبٌّ غَفُوْرٌ بخنه کوی شکر کوونکو لره اګرچه مالدار وی -

عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ

په دوی باندے سیلاب دَ بند ترلے شوی او ورکړمونږ دوی ته په بدل دَ باغونو دَ دوی کښ

جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّاَثْلٍ وَّشَيْءٍ

نور باغونه چه په هغے کښ بے خونده میوے وے او غزان وو او یو قسم وڅ

مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ⑯ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ

دَ بیرو نه لګے وے۔ دا سزا ورکړه موږ دوی ته

سلا۔ په دے ایت کښ یې سبب دَ عذاب او تفصیل دَ عذاب ذکر کړے دے فَاَعْرَضُوْا دا سبب دَ عذاب دے۔ بعض روایاتو کښ دی چه دوی ته دیارلس انبیاء راغلی وو او دوی ته یې توحید بیان کړے وو لیکن دوی ترینه مخ اوګرځوو۔ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ دا ذکر دَ عذاب دے یعنی دوی یو لوئے بند جوړ کړے وو او په هغے کښ بارانی اوبه یا دَ یو سیند اوبه جمع کړے وے او دَ هغے نه یې نهرونه جدا کړے وو په هغے سره یې باغونه فصلونه اوبه کول او دیته دیم ویلے کیږی۔ نو هغه بند (دیوال) کښ سورے اوشو او بند مات شو او اوبه دَ سیلاب په طور سره دَ دوی په باغونو او ابادو باندے راغلی او هرکله چه دا عذابِ الٰهی وو نو هغه اوبو کښ زهریلی ماده هم پیدا شوه هغه باغونه یې بے کاره کړل او دَ هغے میوو نه یې خوږوالے ختم شو او بے خونده شوے۔ اُكُلٍ خَمْطٍ مبرّد وائی چه میوه داسے حالت ته بدله شی چه اشتها ورته دَ چا نه کیږی نو هغے ته خمط وائی۔ او ابو عبید وائی هر او نه ازغی داره چه ترخه وی خوړلے کیدے نشی هغے ته خمط وائی۔ وَاَثْلٍ دا عطف دے په اُكُل باندے ځکه چه دَ غز او نه کښ میوه نیشته او دَ هغے لرګے او سورے بے فائدے وی۔ او په دے کښ یو قسم دے هغے ته طرفاء ویلے کیږی دَ هغے دَ لرګی نه منبر دَ نبی صلی الله علیه وسلّم جوړ کړے شوے وو۔ سِدْرٍ قَلِيْلٍ دا دوه قسمه دی یو ته بیره ویلے کیږی دَ هغے میوه کوکنړے دی او بل قسم ته جاړه ویلے کیږی په هغے کښ ازغی زیات وی او دانے یکښ نوی یا بیکاره وی او په صحرا کښ وی دلته دا روستو قسم مراد دے او هغه هم ډیرے لږے وی ځکه چه شَيْءٍ او قَلِيْلٍ دواړه په کموالی باندے دلالت کوی۔

بِمَا كَفَرُوا ۖ وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ ﴿۱۷﴾

په وجه دَ کفرکولو دَدوی او دا سے سزا نه ورکوو موږ مګر چې منکر ته.

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا

او جوړ کړے موږ په مینځ دَدوی او دَ هغه کلو کښې چه برکات اچولے دی موږ

فِيهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ ۖ

په هغے کښې کلی یو بل ته ښکاره او اندازه کړے وُو موږ په هغے کښې منزل

سِيرُوا فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا آمِنِينَ ﴿۱۸﴾

ګرځئ په هغے کښې دَ شپے او دَورځے په امن سره.

سـ۱۷ :- په دے کښې تفسیر دَ اعرضوا دے یعنی اعراض کفر دے۔ وَهَلْ نُجَازِيَ إِلَّا الْكَفُورَ په دے کښې اشکال دا دے چه ... دے جملے نه معلومه شوه چه سزا صرف کافرانو پورے خاص ده مؤمن ته په ګناه کولو هیڅ سزا نه ورکیږی او دا دَ نورو ایاتونو او احادیثو نه خلاف ده۔ اول جواب دا دے چه دلته مراد دَ سزا نه استیصالی ردَ بیخ کندے) سزا ده لکه چه په اصحاب سبا باندے راغلے وه دغه سزا خاص ده په کافرانو پورے۔ دوېم جواب دا دے چه مجازاة ویلے کیږی پوره سزا ته یعنی هیڅ ګناه ورته معاف نه کړی بلکه دَ هر ګناه سزا ورکړی دا خاص ده په کافر پورے ځکه چه دَ مؤمن بعضے ګناهونه په عبادتونو یا په صرف فضل دَ الله تعالیٰ سره معاف کیږی دَ هر ګناه سزا نه ورکوی۔

سـ۱۸ :- په دے ایت کښې ذکر دَ بل انعام دے په اهل سبا باندے، چه مراد دَ هغے نه امن دے په سفر کښې چه دَ یمن نه تر شام پورے په لارے باندے هیڅ تکلیف او یره نه وه او دارنګ دَ سفر توښه اوړلو ته هم حاجت نه وُو کلی او ابادی یو بل ته نزدے وو۔ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا، مراد دَ دے نه شام، فلسطین، اردن وغیره وو چه په هغے کښے میوے غلے ډیرے وے اب وهوا ئے هم ښه وه او اوسیدونکی پکښې هم ډیر وو۔ قُرًى ظَاهِرَةً مراد دَ دے نه دا دے چه کلی یو بل ته داسے نزدے وو چه دَ یو کلی نه په مسافر او تلو نو بل کلے به ورته ښکاره کیدلو او هغه کلے په اوچت اباد وُو۔ بعض مفسرینو لیکلے دی چه دَ یمن (سبا) نه تر شام پورے په لارے باندے څلور زره اووه سوه کلی اباد وو۔ وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ۔ یعنی دَ یو کلی نه تر بل کلی پورے دَ اندازے سفر وُو

فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا وَظَلَمُوْٓا

نو دوی اُویل اے ربه زمونږ لرے والے راولے په مینځ د سفرونو زمونږ کښې او ظلم اوکړو دوی

اَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ

په ځانونو خپلو باندے نو اوګرځول مونږ دوی قیصے د عبرت او ذرے ذرے مو کړل

كُلَّ مُمَزَّقٍ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

په پوره ذرے کولو سره، یقینًا په دے کښې دیر دلیلونه دی

لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ⑲ وَلَقَدْ صَدَّقَ

هر دیر صبرناک شکرګذار لره۔ او یقینًا رشتنی اومونڼلو

چه مسافر به په هغې کښې نه ستړے کیدو او نه لوږه تنده وه بلکه د یو کلی نه تر بل کلی پورے اته میله یا دولس میله مسافت وو۔ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ د شپې په سفر کښې خطره زیاته وی لیکن دوی ته هیڅ خطره نه وه د دے وجے نه لیالی یې مخکښې ذکر کړو یعنې پوره امن وو۔

س۱۹: په دے ایت کښې د دوی ناشکری او بیا عذاب ذکر کوی۔ او د نعمت د بدلیدلو سوال داسے وو لکه چه بنی اسرائیلو د من او سلوی په بدل کښې د زمکے نباتات غوښتلے وو او کافرانِ مکه د امن په بدل عذاب د الله تعالیٰ غوښتلے وو لکه سورة انفال س۳۲ کښې، نو د دوی دُعا کانے قبولے شوے او هغه کلی اباد یې کیے شوے او ورانے شوے او د یو بل نه لرے شول۔ وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ یعنې د نعمتونو د الله تعالیٰ ناشکری اوکړه نو په ځان یې هغه نعمتونه بند کړل۔ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ۔ یعنې قصّے د عبرت چه خلق یې په خپلو خبرو کښې په طریقه د مثال سره ذکر کوی۔ وَمَزَّقْنٰهُمْ یعنې په مختلفو ملکونو کښې تقسیم شول څوک شام ته لاړل څوک عمان ته څوک عراق ته څوک تهامه ته لاړل او عمرو بن عامر چه د اوس او خزرج نیکه وو هغه مدینے منورے ته راغے۔ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ مراد د دے نه مؤمن دے ځکه چه لږ صبر او شکر کله کله کافر او مشرک هم کوی۔ یعنې څوک چه سره د وسعت او فراخ د مالونو نه د الله تعالیٰ په توحید او اطاعت باندے کلک او پوخ وی او د نعمتونو پوره شکرګذار وی نو هغه د دے واقعے نه دیر عبرتونه حاصلولے شی۔

عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا

په دوی باندے ابلیس گمان خپل نو روان شول په هغه پسے مگر یو ډله

مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۲۰﴾ وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِم

دَ مؤمنانو نه. او نه وؤ ابلیس لره په دوی باندے

ف۲۰ په دابیان دَ سبب دَحال دَ سبا والو دے یعنی دوی اعراض او ناشکری اوکړه او عذاب وریاندے راغے دا په سبب دَ تابعدارے دَ ابلیس سره وَلَقَدْ صَدَّقَ یعنی وجدہ صادق یعنی کوم گمان یئے چه کړے وؤ هغه یئے رشتیا اومنلو خطا نه شو. صدق مقابل دَ خطا دے. عَلَيْهِمْ ضمیر اهل سبا ته راجع دے یا عام انسانانو ته راجع دے. ظَنَّهُ په دے کښ اشکال دادے چه ابلیس چه دَ اولاد آدم دَ گمراه کولو دَ پاره کومے صیغے استعمال کړے دی هغه ټولے په لام او نون ثقیله سره مؤکد دی لکه سورة اعراف ف۱۶ ف۱۷ سورة حجر ف۳۹ سورة بنی اسرائیل ف۶۲ سورة نساء ف۱۱۸ ف۱۱۹ کښ دلالت کوی په یقین باندے نو ظن یئے ولے اوئیل؟ جواب دادے چه په راتلونکے زمانه کښ کوم کار مخلوق کوی هغه یقینی نشی کیدے ځکه چه مخلوق په غیب باندے نه پوهیږی لیکن دَ پوخ عزم او ارادے په وجه باندے هغه صیغه دَ تاکید استعمالوی. فَاتَّبَعُوهُ دا بیان دَ صدق دے. إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ په دے کښ دوه قولونه دی اول دا چه مِنْ بیانیه دے ټول اهل ایمان مراد دی او اتَّبَعُوهُ نه مراد تابع کیدل دی په شرک او کفر کښ معنیٰ داده چه تابعداری اوکړه دوی دَ ابلیس په شرک او کفر کښ مگر یوه ډله چه مؤمنان دی هغوی دغه تابعداری نه ده کړے.

دوئم قول دادے چه مِنْ دَ تبعیض دے بعض مؤمنان مراد دی او اتبعوه نه مراد تابعداری کول په هر قسم گناه کولو کښ، معنیٰ داده چه دوی پوره تابعداری دَ ابلیس اوکړه مگر یوه ډله دَ مؤمنانو نه چه هغوی معصوم او پاک دی او هغه پیغمبران دی. نو دا آیت دلیل دے په عصمت دَ انبیاؤ علیهم السلام باندے ځکه چه هغه فریق چه دَ ابلیس هیڅ قسم تابعداری یئے نه وی کړی دَ انبیاؤ نه سوا بل څوک کیدے نشی او که انبیاء گنهگار ثابت شی نو په انبیاؤ باندے به دَ بل چا فضیلت راشی او دا باطله خبره ده.

مِنْ سُلْطٰنٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْاٰخِرَةِ

هیڅ نه ؤ مګر (مقرر کړے دے مونږ) دَ دے دَپاره چه جدا کړو مونږ هغه خلق چه ایمان په آخرت باندے لري

مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِيْ شَكٍّ ؕ وَرَبُّكَ عَلٰى كُلِّ

دَ هغه خلقو نه چه دَ هغې نه په شک کښ دي، او ستا رب په هر

شَيْءٍ حَفِيْظٌ ﴿۲۱﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ

څیز حفاظت کوؤنکے دے۔ ته اُووایه را اوبلې هغه کسان چه ګمان کوئے تاسو معبودان

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

سِوا دَ الله تعالیٰ نه اختیار نه لري په قدر دَ یوے ذرے

فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ

په آسمانونو کښ او نه په زمکه کښ او نیشته دوی لره

۲۱ :- په دے سره وهم دفعه کوی یعنی دا وهم څوک اونه کړی چه ابلیس په دے خلقو باندے په خپل اختیار سره مسلط او مقرر دے ؟ دَ سُلْطَانٍ نه مراد تسلط او مقرر کیدل دی دا دَ ابلیس په اختیار کښ نه دے بلکه الله تعالیٰ مسلط کړو دَپاره دَ امتحان دَ بني آدمو او علیهم ضمیر بنو لو بني آدمو ته راجع دے نو اِلَّا لِنَعْلَمَ سره تقدیر دَ عبارت دا دے یعنی لکن سلّطناه علیهم لتعلم اه - یا دَ سلطان نه مراد حجت دے یعنی دَ ابلیس دَپاره په دے بني آدمو ګمراه کولو باندے هیڅ حجت نیشته لیکن بے حجته ئے ګمراه کوی - یا دَ سلطان نه مراد ګمراه کول کوی او علیهم ضمیر فریقا من المؤمنین ته راجع دے چه دوی لره تشی ګمراه کولے نکه سورة حجر ۴۲ کښ تیر شویدی - لِنَعْلَمَ ، فراء بغوی ویلے دی چه دا علم په معنیٰ دَ تمیز سره دے او علم خو الله تعالیٰ ته دَ دے نه روانده شته - او هر کله چه اصل مقصد دَ ابلیس دَ وړچه خلقو لره دَ قیامت په باره کښ شک کښ واچوی (ځکه چه ټولو ایمانیاتو او عباداتو دارومدار په عقیده دَ قیامت کښ دے) نو دَ دے وجے نه دلته ئے من یومن بالآخرة اه ذکر کړے دے او معلومه شوه چه شک کول دَ قیامت په باره کښ هم کفر دے۔

فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَالَهُ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيرٍ ﴿۲۲﴾

په دے دواړو کښې هيڅ برخه او نشته الله لره د دوی نه څوک مددګار۔

۲۲۔ د دے آیت نه تر ۳۴ پورے دریم باب دے په دے کښې د څلورم شبهې جواب دے چه هغه بیان د عجز د ملائکو دے او د شرک د بندولو څلور طریقې ذکر کړے دی۔ بیا درے طریقې د تبلیغ او تعلیم۔ بیا د منکرینو د رسالت جوابونه او زجرونه دی بیا تخویف اخروی دے په براءت د الٰهو باطلو د عابدانو خپلو نه۔ په دے (۲۲) کښې ذکر د طریقې د رد دے په مشرکانو باندے په درے طریقو سره او ربط ئې د مخکښې سره دا دے چه د ابلیس اول تصدیق د ظن دا دے چه انسان ئې په شرک کښې مشغول کړے وی نو د هغوی پوهه کول په دے طریقې سره پکار دی چه قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ او ادعو حکم د پاره د زورنے دے۔ او د زَعَمْتُمْ مفعول حذف دے (چه دوی الٰهه دی) یعنی دوی ته رامن دشه او ائې د پاره د دے چه تاسو ته نفع در کړی یا درته تکلیف لرے کړی لکه چه ستاسو خیال دے نو جواب د دے پټ دے چه دوی د دے اختیار او طاقت نه لری د دے وجے نه چه لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ اه هر کله چه حاجتونه د انسانانو د آسمان او زمکے سره تعلق لری د دوی نه بهر نیشته د دے وجے دواړه ذکر کړل۔ دا رنګ د دوی الٰهه بعضے آسمانی دی لکه ملائک او بعضے د زمکے دی۔

وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ یعنی که څوک اوائې چه د دے الٰهو اګرچه ملکیت نیشته لیکن کیدے شی چه الله تعالیٰ ورته حصّه ورکړے وی چه هغه ته حصه دار او برخے والا ویلے کیدے شی نو په دے جملے سره ئې جواب اوکړو چه الله تعالیٰ دوی لره هیڅ برخه هم نه ده ورکړے نو دوی به تاسو له څه درکړی؟

وَمَا لَهُ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيرٍ یعنی که څوک خیال اوکړی چه دوی به د الله تعالیٰ سره په څه کار او تدبیر د دنیا کښې مدد او ملګرتیا کړے وی د دے وجے نه کیدے شی چه دوی بل چاله څه حاجت پوره کړی نو په دے جملے سره د دے جواب ئې اوکړو او دا سے جواب سورة کهف ۵۱ کښې هم موجود دے۔

وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُۥ ط

(او نفع نه ورکوی سفارش په نیز د الله تعالیٰ مګر هغه چاته چه اجازت ورکړی د هغه دپاره (دوی به ویره کښ وی))

حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُوا۟ مَاذَا ۙ قَالَ

(تر هغې پورې چه لرې کړې شی ویره د زړونو د هغوی نه وائی دوی څه اُویل)

رَبُّكُمْ ۖ قَالُوا۟ ٱلْحَقَّ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٢٣﴾

(رب ستاسو اوبه وائی پورته ملائیک چه اُویل ئې حق او هغه پورته دے ډیر لوی ذات دے.)

۲۳: په دے کښ رد دے په هغه شبهه خلورمه چه ملائک خو شفیع (رقهری) کیدے شی نو دوی دَ بندګئ حق داردی نو عجزد ملائکو ذکر کوی او دا رنګ دَ مشرکانو دَ خلورے عقیدے رد دے دوی وائي چه دا الهه اګرچه مخپله هیڅ ملکیت نه لری لیکن زمونږ حاجتونه په الله تعالیٰ باندے مجبوراً پوره کوی په طریقه دَ سفارش کولو سره الله تعالیٰ دَدوی دَ محبت یا محوریزے (عظمت) نه مجبوره شی دَ جواب حاصل دادے چه بغیر دَ اذن دَ الله تعالیٰ نه دَدوی سفارش کول نیشته او نه ئې فائده شته او دَ الله تعالیٰ عادتِ کریمه دادے چه دَ مشرکانو دَپاره دَ سفارش کولو اذن چالره نه ورکوی. وَلَا تَنفَعُ په دے کښ نفی دَ اثر او دَ فائدے دَ شفاعت ده ځکه چه مقصد دَ شفاعت غوښتو نکو نفع ده لیکن مراد تر بیته نفی دَ شفاعت ده. حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ اه. دا حال دَ شفعاؤ دے په وخت دَ نزول دَ اذن دَ شفاعت کولو کښ. یعنی دوی لره چه کوم وخت اذن دَ شفاعت ورکیدے شی نو دوی به په دغه وخت کښ په ډیر فزع او هیبت کښ وی دَ وجے دَ عظمت دَ الله تعالیٰ نه نو هرکله چه (لږ ساعت روستو) دا هیبت دَ دوی دَ زړونو نه لرے کړیشی نو دوی به هغه ملائکو نه تپوس اوکړی څوک چه دوی لره اذن دَ الله تعالیٰ (رسوی چه الله تعالیٰ څه حکم اوکړو نو هغه ملائیک به دوی ته اوائي چه (الحق) یعنی دَ مؤحدینو دَ شفاعت دَپاره ئې اذن اوکړو. دویمه توجیه دا ده چه دا حال دَ ملائکو دے په دنیا کښ، هرکله چه الله تعالیٰ څه حکم نازلوی نو دا ملائک په ډیر هیبت کښ وی نو هرکله چه دا هیبت دَ دوی دَ زړونو نه لرے کړے شی نو (لاندنی ملائک دَ بره ملائکو (حکم راوړونکو نه) تپوس اوکړی چه الله تعالیٰ څه حکم اوکړو نو هغوی ورته اوائي چه (الحق) (البته دے حق حکم. او هم دا رنګ حدیث دَ ابو هریره رضی الله عنه مرفوع امام ترمذی روایت په بل مخ)

نقل کړیدی ـ حاصل دَ دواړه توجیهاتو دادے چه شفاعت کوونکی خو پېر عاجز دی ویره کوونکی دی دَ الله تعالیٰ نه نو دوی به څرنګه شفاعت څهرېږي (بے اجازته) اوکړیشی لکه چه مشرکان یئے عقیده لری ـ فُزِّعَ دا فعل په معنیٰ دَ سلب الماخذ دے یعنی اُزِیل الفزع (لرے به کړے شی هیبت) ـ

سک۲۴:- روستو دَ رد کولو دَ طریقو دَ شرک نه الزامی او اعترافی دلیل ذکرکوی په رد دَ مشرکانو چه دَ رزق انتظام کوونکے صرف الله تعالیٰ دے نو بیا دَ هغهٔ نه سِوا دَ نورو نه ولے حاجتونه غواړئے ؟

قُلِ اللّٰهُ یعنی دوی به دَ عناد دَ وجے نه چپ وی دَ جواب کولو نه ، نو ته ورته جواب اوښایه ـ

وَاِنَّآ اَوْ اِیَّاکُمْ دا طریقه دَ تعلیم او تبلیغ ده یعنی مشرکان چه اوائی چه مونږ او تاسو یو شان یو هیڅ فرق نیشته یا اوائی چه دا اختلافی مسئلے دی مونږ په دے اختلافی خبرو کښ برخه نه اخلو نو جواب یئے دادے چه دا سے نه ده بلکه دا دواړه فریقه دَ یو بل سره متضاد دی یو فریق په هدایت او بل په ګمراهئ کښ دے یعنی دا اصولی اختلاف دے فرعی اختلاف نه دے په دے کښ به تاسو ضرور یو طرف ته کیږئے ـ

(تنبیه) دَ هدایت سره یئے علیٰ ذکرکړو او دَ ضلال سره فی، اشاره ده چه هدایت والا اوچت وی او کلک وی په هدایت باندے او ګمراهئ والا ډوب او غرق وی په تیارو دَ ګمراهئ کښ ـ

س۲۵:- دا بله طریقه دَ تعلیم ده او په دے کښ بیان دَ براءت دے۔ یعنی که دوی اوائی چه ته دعوت کوے توحید ته دا لوئے جرم دے حاصل دَ جواب دے که دا جرم زموږ وی نو تاسو باندے ذمه واری نیشته۔ او دا هم طریقه دَ دعوت ده چه خپل ته یے جرم اوویل (دَ هغوی په ګمان) او دَ هغوی طرف ته یے صرف دَ عمل نسبت اوکړو۔

س۲۶:- دا بله طریقه دَ تعلیم ده۔ یعنی فیصله دَ دے خبرے چه کوم یو مجرم دے او کوم یو حق باندے دے په قیامت کښ به کیږی۔

س۲۷:- دا بله طریقه دَ تعلیم ده او رد دے په شرک باندے یعنی طلب دَ دلیل دے چه ستاسو په شرکاؤ کښ کوم وصف دے چه په هغے سره تاسو دوی دَ الله تعالیٰ سره شریکان جوړ کړے دی۔ او کَلَّا نه مخکښ عبارت پټ دے (دوی څه حاجت پوره کولے شی)۔

وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾

او ډېره درکوونکی لیکن ډیر د خلقو نه پوهیږی ۔

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ

او دوی وائی کله به وی دا وعده که چرې تاسو یئ

صٰدِقِيْنَ ﴿۲۹﴾ قُلْ لَّكُمْ مِّيْعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَاْخِرُوْنَ

رشتنی ۔ ته اُوایه تاسو لره نیټه مقرد د یو ورځې ده چې نه به شاته وسئوکیدلی

عَنْهُ سَاعَةً وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَقَالَ

د هغه نه یو ساعت او نه به مخکښ کیدلے ۔ او وائی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ

کافران چیرے ایمان نه راوړو مونږ په دے قرآن

ف۲۸:۔ روستو د اثبات د توحید نه دا اثبات د رسالت دے ۔ كَآفَّةً دا په معنیٰ د عامةً او جميعًا دے حال د النَّاسِ نه او دا حال جوړیدل د الناس نه ابوحیان په البحر المحیط کښ صحیح ثابت کړے دے او رد ئے کړے دے په مفسر بیضاوی بانندے او خطیب شربینی هم په تفسیر السراج المنیر کښ په دے باندے اعتماد کړے دے او دا رنګ په حدیث کښ هم وارد دی چه كَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ اِلٰى قَوْمِهٖ خَاصَّةً وَّبُعِثْتُ اِلَى النَّاسِ عَامَّةً ۔ او دویمه توجیه دا ده چه کافة په معنیٰ د جامعًا دے حال دے د کاف د ارسلناک نه یعنی جمع کوونکے خلقو لره دین د توحید ته او ة د پاره د مبالغے ده او دریمه توجیه دا ده چه کافة په معنیٰ د مانع دے یعنی منع کوونکے خلقو لره د شرک او کفر نه ۔

ف۲۹:۔ هر کله چه صداقت د نبي بیان شو نو اوس زجر ورکوی منکرینو د رسالت او د قیامت ته یعنی د دوی خیال وو که ته رسول یئ نو غیب دان به یئ نو د دے وجے مونږ له د عذاب د وخت نه خبر راکړه هغه عذاب چه هغے کښ په نَذِيْرًا کښ یا په يجمع بيننا سره اشاره شوی ده ۔

ف۳۰:۔ دا جواب د ما قبل دے لیکن سوال د دوی عنادی وو په طریقه د استهزاء کولو نو جواب یئ هم په طریقه د تهدید او د زورنے سره دے یَوْمٍ مراد د دے وخت نه مرګ یا ورځ د عذاب یا ورځ د قیامت ده ۔

وَلَا بِالَّذِیْ بَیْنَ یَدَیْهِ ؕ وَلَوْ تَرٰٓی اِذِ الظّٰلِمُوْنَ

او نه په هغه کتابونو چه ددهٔ نه مخکښ دی، او که چرے اُوینے ته هغه وخت ظالمان به

مَوْقُوْفُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚۖ یَرْجِعُ بَعْضُهُمْ

او دردے شی په نیز د رب دَ دوی، ورگرځوی به بعضے دَ دوی

اِلٰی بَعْضِ اِلْقَوْلَ ۚ یَقُوْلُ الَّذِیْنَ اسْتُضْعِفُوْا

بعضو ته جوابونه به وائی هغه کسان چه کمزورے گنړلے شوی دی

لِلَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْا لَوْلَآ اَنْتُمْ لَکُنَّا مُؤْمِنِیْنَ ﴿۳۱﴾

هغه کسانو ته چه لوئی یې کړے ده که چرے نه وے تاسو نو وے به مونږ مؤمنان .

سـ۳۱۔ دا یل زجر دے په انکار دَ قرآن او دَ نورو کتابونو اِلٰهیو سره. مخکښ په دوی په اهل کتابو باندے اعتماد کوؤ لیکن هرکله چه دَ هغوی نه یې واوریدل چه زمونږ په کتابونو کښ رد دے په شرک باندے او ذکر شوید ے صفت دَ دے رسول صلّی الله علیه وسلّم نو دے مشرکینو دَ هغوی دَ کتابونو نه هم انکار شوروکړو او تابعداری دَ خپلو مشرانو په دلیل کښ اونیوله۔ وَلَوْ تَرٰٓی دا تخویف اخروی دے په براءت دَ اِلٰهو باطلو چه دَ دوی مشران وو او دَ لَوْ جزا پټه ده یعنی که دا حال دهٔ اولیدلو نو اوبه وینی ډیر هیبت ناک حالت لره۔ الظّٰلِمُوْنَ تابعداران او دَ دوی متبوعین (مشرکان او میتدعین) یَرْجِعُ یعنی یو بل ته به جوابونه ورکوی دَملامته کولو او جهګړه به کوی۔ یَقُوْلُ الَّذِیْنَ دا تفصیل دَ یرجع دے۔ اسْتُضْعِفُوْا یعنی دوی په علم او په عقل کښ کمزوری وو او دَ مشرانو تابعداری یې کوله او صیغه دَ مجهول یې دَ دے وجے نه ذکر کړه چه دے مشرانو دوی ته علم نه خودلو جاهل یې پریخودل دَپاره دَ دے چه هغوی ترینه خپلے فائدے حاصلوی۔
اسْتَکْبَرُوْا دَ حق منلو نه یې ځان لوئے گنړلو او په خپل علم او مال یې فخر کولو او دوی متبوعان دی۔ لَوْلَآ اَنْتُمْ یعنی که تاسو مونږ لره دَحق نه نه منع کولے او مونږه مونه گمراه کولے نو مونږ به ایمان راوړے وے۔

قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْٓا

اوپه وائي هغه کسان چه لوئي کړے ده هغه کسانو ته چه کمزوری کړے شوے وو

اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ

آیا موږه منع کړے وے تاسو دَ هدایت نه روستو دَ هغه نه چه تاسو ته راغے

بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

بلکه تاسو وئے مجرمان ۔ او اوپه وائي هغه کسان

اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ

چه کمزوری کړے شویو هغه کسانو ته چه لوئي ئے کړے ده بلکه (منع کړے وو موږ ئے) دعوت ستاسو دَ شپے

وَالنَّهَارِ اِذْ تَاْمُرُوْنَنَآ اَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ

او دَ ورځے کله چه تاسو موږ ته بیان کوئ چه کفر دِ اوکړو په الله تعالیٰ باندے

وَنَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ

او جوړ دِ کړو موږه هغه لره شریکان ۔ او پټکاره به کړی پښیمانی

لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ؕ وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ

هر کله چه اُوینی عذاب لره او واچوو موږ طوقونه په سټونو

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا

دَ کافرانو کیږی. بدله نه شی ورکیدے مگر

۳۲:۔ دا جواب دے دَ طرف دَ مشرانو نه یعنی موږ تاسو باندے څه زور نه دے کړے او نه هم څه صحیح دلیل پیش کړے دے بلکه تاسو دَ جرم کارونه خوښ کړے وو نو دَ دے وجے نه موږ پسے بے دلیله راروان وئے

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ

دَ هغه عملونو چه دوی کول۔ او نه دے لیږلے مونږ په هیڅ کلی

مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ

کښ ویره ورکوونکے مګر اوبه ویل بډمستو خلقو یقیناً مونږ په هغه څیز چه تاسو رالیږلے شوی یئ

بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٤﴾ وَقَالُوْا نَحْنُ اَكْثَرُ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا

په هغې انکار کوونکی یو۔ او دوی ویل مونږ ډیر مالونو او اولاد والا یو

۳۳: دا جواب دَ طرف دَ کشرانو نه دے یعنی تاسو په شپه او ورځ مونږ سره پټ چلونه کول او دعوت او تبلیغ به مو کولو نو هغه زمونږ دَ منع کیدلو سبب شو۔ او اِذْ تَاْمُرُوْنَنَا دا دَ مکر تفسیر دے۔ وَتَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا دا دَ کفر تشریح ده۔ وَاَسَرُّوا دا لفظ دَ اضداد دو نه دے پټولو نه هم ویلے شی یعنی په زړونو کښ به پښیمانه شی ځکه چه پښیمانه کیدل دَ زړه وصف دے او ښکاره کولو نه هم وائی ځکه چه اساریر الوجه نه ماخوذ دے یعنی دَ پښیمانتیا نښے به دَ دوی تندو او مخونو کښ ښکاره شی۔ او دا پښیمانتیا دَ دواړو ډلو به وی تابعداران به په ړوند تقلید دَ مشرانو باندے پښیمانه شی او مشران به په دعوت کولو دَ ګمراهئ باندے پښیمانه شی۔ وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ مفسر قرطبی لیکلی دی چه اغلال په اصل کښ هغه پړئ ته ویلے کیږی چه دَ څرمنے وی او په هغے باندے ویخته وی او بیا پکښ سیږے پیدا شی نو دا دَ ذلیلانو خلقو نښه ده او سپو ته اچولے کیږی۔ او هغه طوق نه ویلے کیږی چه لاس دَ ستی سره راجمع کوی۔

۳۴: دَ دے آیت نه تر آخره پورے خلورم باب په دے کښ زجر دے په انکار دَ رسالت باندے او دَ انکار سبب ذکر کوی او دَ هغے جواب سره دَ بشارت او تخویف نه تر ۳۹ پورے دے بیا تخویف اخروی په رد دَ مشرکین بالملائکه سره بیانوی بیا زجر دے په انکار دَ قرآن سره او تخویف دنیوی دے۔ بیا پنځه طریقے دَ تعلیم دی او په آخر کښ تخویف اخروی دے۔

په دے (۳۴) کښ زجر دے په انکار دَ رسالت سره او هر کله چه مخکښ آیاتونو کښ ذکر شوه چه ګمراهانو مشرانو دا خلق ګمراه کړے دی په دعوت دَ شرک سره نو اوس ذکر کوی چه دغه مشرانو دعوت دَ انکار رسالت هم کړے دے دَ پاره دَ ګمراه کولو دَ کشرانو۔ مُتْرَفُوْهَا هغه کسان سرمایه دار چه هر وخت په نشه او مستئ دَ دنیا کښ مشغول وی نو دحق نه جاهل وی۔

وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿٣٥﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ

او نه يو موږ عذاب راکړے شوی . ته اُوايه يقينًا رب زما فراخه وی

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

روزی چالره چه او غواړی او تنګوی لیکن ډیر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَمَآ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ

پوهه نه لری . او نه دی مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو

بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰٓى اِلَّا مَنْ

په داسے حال چه رانزدے کړی تاسو موږ ته په نزدیکت سره مګر هغه څوک

اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ

په ایمان یٔ راوړے دے او عمل یٔ کړے دے د سنت موافق ، نو دغه کسان دوی لره

جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا وَهُمْ

بدله دوچندا ده په وجه د عملونو د دوی او دوی به

فِى الْغُرُفٰتِ اٰمِنُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَالَّذِيْنَ يَسْعَوْنَ

په بنګلو کښ وی امن والا به وی . او هغه کسان چه کوشش کوی

ف ٣٥ :- په دے ایت کښ دلیل دَ متکبرینو ذکر کوی چه زمونږ مالونه او اولاد ډیر دی او په موږ باندے هیڅ عذاب نیشته دا دلیل دے چه په حقه باندے یو- وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ یعنی اوس هم په موږ باندے عذاب نیشته او هرکله چه په حقه باندے یو نو راتلونکے وخت په دنیا او په اٰخرت کښ به هم په موږ باندے عذاب نه راځی -

ف ٣٦ :- دا دَ دوی دَ دلیل اول جواب دے چه دَ الله تعالیٰ نظام دے چه په تاسو کښ چالره فراخ رزق ورکړے دے او چاله تنګ رزق دا امتحان دے دا خو دلیل دَ حقانیت نه دے. وَيَقْدِرُ کښ اشاره ده که چرے تاسو ټول په حقه باندے وئے نو په تاسو کښ بعضو له تنګ رزق ولے ورکړے شوے دے. او په دے ایت کښ دَ لِمَنْ يَّشَآءُ نه مراد کافران دی -

ف ٣٧ :- دا دویم جواب دے یعنی دَ کفر او دَ شرک په موجودګئ دَ چا مال او اولاد سبب دَ نزدیکت الله تعالیٰ ته نشی کیدے یعنی که مالونه یٔ

فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ فِي الْعَذَابِ

په آیاتو زموږ کښې مقابله کوونکي د دغه کسان په عذاب کښې به

مُحْضَرُوْنَ ﴿٣٨﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

حاضر کړے شي . ته اُوایه یقینًا رب زما فراخوي روزي

لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ

چا لره چه اوغواړي د بندګانو خپلو نه او تنګوي هغه لره او هغه چه تاسو خرچ کړئ

مِّنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهٗ وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٣٩﴾

څه څیز . نو هغه په درکوي د هغه او الله تعالیٰ غوره د روزئ ورکوونکو نه دے.

ډیروي یا مالونه خرچ کوي او دا رنګ که اولاد یې ډیروي یا اولاد ورته دعاګانې
کوي خو دَ کافرانو دَپاره په دے سره قربت او ثواب نه حاصلیږي . بِالَّتِيْ دا خبر
دَ مَا دے او په دے خبر کښې کله کله بَا دَ تاکید دَپاره داخلیږي زُلْفٰٓى مفعول مطلق
من غیر لفظه دے لیکن معنیٰ یې نزدیکت دے . اِلَّا مَنْ اٰمَنَ دا استثناء منقطع
ده په معنیٰ دَ لکن سره او خبر یې فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ دے یا استثناء متصل ده یعنی
مګر مالونه او اولاد دَ مؤمن هغه له نزدیکت الله تعالیٰ ته ورکولے شي چه
مالونه دَ الله تعالیٰ په لارے کښې خرچ کړي او اولاد یې صالح وي نو دا دَ هغهٔ
دَپارهٔ سبب دَ قربت او ثواب دے . جَزَآءُ الضِّعْفِ مراد دَ ضعف نه زیادت دے
صرف دوچنده دے مراد ، ځکه چه دَ حسنې جزاء دَ لس چنده نه شروکیږي.
الْغُرُفٰتِ دا یې جمع ذکر کړه دَپارهٔ دَ دے چه دلالت اوکړي په کثرت باندے.
س۳۸:- دا تخویف دے هغه مالدارو ته چه دَ مال او اولاد په ذریعه دَ الله تعالیٰ
دَ دین مقابله کوي . يَسْعَوْنَ دا صیغه یې دَ دے دَپارهٔ راوړه چه دلالت اوکړي
په نوے نوے طریقو دَ مقابله کولو باندے . مُعٰجِزِيْنَ یعنی اراده لري دَ
عاجزکولو دَ مؤحدینو دَ اشاعت دَ توحید نه یا اراده لري دَ عاجزکولو دَ الله تعالیٰ
په خپل ګمان سره .
س۳۹:- دا دریم جواب دے یعنی مالداری غریبي دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په ایمان
والو کښې هم شته نو ستاسو دَپارهٔ دلیل دَ فضیلت نشي کیدلے . او دا ایت په
بارهٔ دَ مؤمنانو کښې دے په دے وجه چه مِنْ عِبَادِهٖ یې ذکر کړے او روستو
دواړه جملے هم دَ مؤمنانو سره تعلق لري . (پاتے په بل مخ)

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ

او په هغه ورځ چه راجمع به کړي ټول بيا به اوائي ملائکو ته

أَهٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا سُبْحٰنَكَ

ايا دا هغه کسان دي چه تاسو له ئې عبادت کوو . دوی به اوائي پاکي ده تالره

أَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُونِهِمْ ۚ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ

ته زمونږ واکدار ئې دا خلق نه دی بلکه دوی بندګي کوله

الْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَالْيَوْمَ

د پيريانو ډيرو د دوی په هغوی باندے يقين لرلو نو نن ورځ

فَهُوَ يُخْلِفُهُ يعنې مؤمن چه خرچ کوی نو الله تعالیٰ هغه لره عوض ورکوی په دنيا او اخرت کښ لکه چه حديث د صحيح مسلم کښ راغلے دی. اللهم اعط منفقا خلفا.
وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ هر کله چه انسانانو کښ دا صفت هم استعماليږي چه پلار اولاد له رزق ورکوی بادشاه لښکر له رزق ورکوی نو د دے وجے نه رازقين ئې جمع صيغه راوړه. او خَيْرُ د دے وجے نه دے چه د الله تعالیٰ رزق ورکول هميشه دی او هغه پيدا کوونکے د اسبابو د رزق دے او هغه پرے عوض نه غواړی.
سلا :- دا تخويف اخروی دے رد دے په مشرکين بالملائکه باندے -
أَهٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ دا تپوس د پاره د توبيخ او ملامته کولو د مشرکانو دے لکه تپوس کول د عيسیٰ عليه السلام نه په سورة مائده سلا کښ. يعنې مشرکانو دعویٰ کوله چه مونږ ته دے ملائکو ويلے وو چه زمونږ عبادت کوئے نو دا په هغوی باندے رد دے.
سلا :- دا جواب دے د طرف د ملائکو نه په ترقیٔ سره چه مونږ اے الله بغير ستانه بل متصرف حق دار د بندګئ نه ګڼړو نو څنګه دوی ته دعوت د شرک ورکړو؟-
مِنْ دُونِهِمْ په دے کښ اشاره ده قطع د تعلق د دوی ته د مشرکانو نه -
بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ يعنې پيريانو به دوی ته شکلونه جوړ کړه او ورته به ئې ويل چه مونږ ملائک يو او ستاسو مدد کوو. بَلْ أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُؤْمِنُونَ يعنې دوی دوه قسمه دی اول هغه قسم چه د پيريانو عبادت کوی په دے عقيده باندے چه دا ملائک دی او دا قسم لږ خلق دی -او دويم قسم هغه دی چه په پيريانو باندے عقيده لري چه دوی متصرف دی او غيب دان دی او د هغوی عبادت کوی او دا قسم ډيردی.

لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ

اختیار نه لری بعض ستاسو د بعضو دپاره د نفع او نقصان

وَنَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ

او وایه موږ هغه کسانو ته چه شرک ئې کړے دے اوڅکئ عذاب د اور

الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿۴۲﴾ وَاِذَا تُتْلٰى

هغه چه وے تاسو د هغې انکار هم کوۓ . او کوم وخت چه اولوستلے شي

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا

په دوی باندے ایاتونه زموږ ښکاره دوی وائي نه دے دا مګر

رَجُلٌ يُّرِيْدُ اَنْ يَّصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ

یو سړے دے غواړی چه واړوی تاسو لره د بندګئ د هغه چا نه چه بندګی کوله

اٰبَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّآ اِفْكٌ مُّفْتَرًى ؕ

مشرانو ستاسو او دوی وائي نه دی دا مګر دروغ جوړ کړے شوی ،

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ

او وائي هغه کسان چه کفر ئې کړے دے په باره د حق کښ چه دوی ته راغے

سـ۴۲ـ دا نتیجه دَ ماقبل ده بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ شامل دے ملائکو او پیریانو ته۔ نَفْعًا شفاعت او نجات۔ وَلَا ضَرًّا عذاب او هلاکت ضرر رَسَوَل یا ضرر دفع کول دواړه مراد کیدیشی۔

فائده :۔ سورة سجده سـ۲۰ کښ (الـذی کنتم به تکذبون) ذکر کړیدے او دلته بها تکذبون دے دَ دے وجه دا ده چه هلته ضمیر راجع دے عذاب ته او هغه مذکر دے او دلته ضمیر راجع دے نار ته او هغه مونث دے او بیا وجه دَ فرق دا ده چه سورة سجده کښ ذکر دَ داسے وخت دے چه دوی اور ته داخل شوے دی نو عذاب ئې اولیدلو نو دَ هغې انکار ختم شو او دلته دَ حشر حالت دے اور ته نه دی داخل شوی نو اول به دوی اور اوینی ځکه چه هغه محسوس دے ښکاریږی نو انکار دَ اور نه به ختم شی۔

إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٣﴾ وَمَا آتَيْنَاهُم

نه دے دا مګر جادو ښکاره دے. او نه دي ورکړي مونږ دوی ته

مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا ۖ وَمَا أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمْ

کتابونه چه دوی به یې لولی (دپاره د اثبات د شرک) او نه لیږلے دے مونږ دوی ته

قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ الَّذِينَ مِن

ستا نه مخکښ هیڅ ویره ورکوونکے. او تکذیب کړے وو هغه کسانو چه د

قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوا مِعْشَارَ مَا آتَيْنَاهُمْ

دوی نه مخکښ وو او نه دی رسیدلی (دا موجوده خلق) لسمې حصې د هغه مالونو ته چه مونږ هغوی ته ورکړے وو

فَكَذَّبُوا رُسُلِي ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾

نو تکذیب اوکړو هغوی د رسولانو زما نو څه رنګ شو عذاب زما.

ع ۵ ۱۱

۴۳:- دا زجر دے په انکار د قرآن او د رسول صلی الله علیه وسلم په ذکر کولو د درے اعتراضونو سره اول دا چه مونږ د مشرانو د لارے نه اړوی یعنی دوی د قرآن په مقابله کښ تقلید د اباؤ پیش کوی. دویم دا چه إِفْكٌ دے یعنی هغه دروغ چه حقیقت پکښ بالکل بدل شوید ے. مُّفْتَرًى یعنی الله تعالیٰ ته یې په دروغه سره نسبت کوی.

فائده:- اول او دویم انکار د توحید او د قرآن دے نو هغه د شرک او د جهل کار دے او دریم انکار د رسول دے دا د کفر او د ضد د وجے نه نو په دے وجه یې د آخری اعتراض سره وقال الذین کفروا اوئیل.

۴۴:- دا رد دے د دوی په ما قبل اقوالو باندے یعنی د دوی سره هیڅ منزّل دلیل نیشته د دوی په شرک باندے او نه ورسره د مخکښنیو رسول قول په دلیل کښ شته. په دے کښ اشاره ده چه دلیل شرعی د الله کتاب وی یا د رسول سنّت وی.

۴۵:- په دے کښ تخویف دنیوی دے په ذکر د عذاب سره په تیرشوؤ قومونو باندے مِعْشَارَ معشار عشر د عشیر ته وائی او عشیر عشر د عشر ته او عشر لسمې حصې ته وائی نو مراد تر ینه زرمه حصّه شوه نو دا ډیره مبالغه شوه. یعنی د دے موجوده کافرانو سره د مخکښنو په نسبت (د پاتے په بل مخ)

قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ

ته اُوایه یقیناً زه یځ کووم تاسو دَ عذاب نه په یو کلمے سره (چه تو دیا تاکی) او دریږئ دَ الله تعالیٰ دپاره

مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا بِصَاحِبِكُمْ

دوه دوه او یو یو بیا سوچ او کړئ (په دے کلمه کښ) نیشته ستاسو په خیرخواه باندے

مِّنْ جِنَّةٍ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ

هیڅ لیونتوب نه دے دے مگر ویره درکوونکے دے تاسو لره مخکښ

عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴿۴۶﴾ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ

دَ عذاب سخت نه - ته اُوایه هغه چه غوښتے وی ما ستاسو نه څه مزدوری

زَرمه حِصّه دَ قوت دَ بدن او مال او هنر او اوګدوالے دَ عمر نیشته - په دے ایت کښ یځ تکذیب دوه کرته ذکر کړے دے اول تکذیب دَ توحید او دَ ایاتونو دے او دویم دَ رسولانو دے - نَكِيْرِ مراد دَ دے نه انکار کول دَ چا دَ بد عمل دے په طریقه دَ عذاب ورکولو سره -

سلا؛ دا طریقه دَ دعوت او دَ تعلیم ده یعنی متکرین وائی چه ته مونږ په ډیرو خبرو سره تنګوے نو نه مجنون یځ حاصل دَ جواب دا دے چه زه وعظ کوم او تاسو دَ عذاب نه یځ کووم صرف دَ یو کلمے په بیان سره چه هغه کلمه دَ توحید ده خو جامع ده ټولو ایمانیاتو لره -

اَنْ تَقُوْمُوْا لام پکښ مقدار دے او مراد دَ قیام نه توجّه کول دی حق ته - لِلّٰهِ مراد دَ دے نه اخلاص کول دی - مَثْنٰى وَفُرَادٰى یعنی چا چه په ځان اعتماد او کړو چه زما عقل او رائ پوره ده نو هغه دِ یواځے توجه اوکړی او څوک چه په ځان پوره اعتماد دَ یوځ نه لری نو دَ بل ملګری سره دِ شی - او هر کله چه دَ اکثرو انسانانو یواځے رائ او عقل کښ نقصان دے نو دَ دے وجے نه مُثْنٰى یځ مخکښ ذکر کړو - ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا یعنی دَ اخلاص نه روستو فکر اوکړئ په هغه توحید کښ چه دے رسول صلی الله علیه وسلّم په هغې باندے راتلل کړے دی نو تاسو ته به ښکاره شی چه مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ -

فَهُوَ لَكُمْ ۭ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۚ وَهُوَ

نو هغه د ستاسو شي ته دے زما اجر (مزدوري) مګر په الله تعالى باندے ده او الله تعالى

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۴۷﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَقْذِفُ

په هر څيز باندے حاضر او ناظر دے - ته اُوايه يقيناً رب زما ورګذاري

بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿۴۸﴾ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ

حق لره (په باطل باندے) عالم دے په ټولو غيبو باندے - ته اُوايه حق راغے

وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ﴿۴۹﴾ قُلْ

او نه شي پيدا کولے باطل (د حق په مقابله کښ) اول پيدائش او نه دوباره پيدائش کولے شي - ته اُوايه

۴۷:- دا بله طريقه دَ دعوت ده يعني منکرين که دا خيال اوکړي چه دَ ليونے نه دے ليکن دَ دُنيا دَمال غرضي دے نو جواب ئے ورکړو - مَاسَاَلْتُكُمْ الخ دا ئے په جمله شرطيه سره ذکر کړو دَ تاکيد دَ پاره يعني که ما چرے ستاسو نه عوض غوښتلے وي نو په ما باندے دَ هغے اثبات اوکړئ نو زما عادت تاسو ته معلوم دے چه څه په دين باندے ستاسو نه هيڅ عوض نه غواړم -

۴۸:- دا بله طريقه دَ دعوت او دَ تعليم ده يعني منکرين وائي چه هر کله ستا دنيوي غرض نيشته نو بيا دَ څه وجے نه زمونږ دَ مشرانو دَ دين خلاف کوے حاصل جواب دا دے چه دا دَ الله تعالى کار دے چه په حق سره باطل باندے ګذار ونه کوي دَ باطل دَ ختمولو دَ پاره لکه سورة انبياء ۱۸ کښ تير شوے دي - او الله تعالى حق او باطل باندے عالم دے څکه چه علام الغيوب دے -

۴۹:- دا بله طريقه دَ دعوت ده يعني منکرين وائي چه ته رد کوے زمونږ په طريقه او دين باندے چه زمونږ دين باطل او خپل حق ګڼړے نو دَ دے رد کولو څه فائده اوشوه ؟ جواب اوشو چه په دے سره حق ښکاره شو او باطل ختم شو (يعني تر دے ده چه دين توحيد به په شرک باندے غالب شي) لکه چه روايت دَ ابن مسعود رضى الله عنه (چه خطيب شربيني ذکر کړے دے) کښ راغلے دي چه نبي صلى الله عليه وسلم دَ فتح مکے په وخت چه راغے او دَ کعبے نه چاپيره دَ درے سوه شپيته بتان وو نو هر يو به ئے په څوکه باندے نيغ دهلو او ويل به ئے "جاء الحق وزهق الباطل وجاء الحق ومايبدى الباطل ومايعيد"

مَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ، دا کنايه ده دَ هلاکت نه يعني (ريانے په بلخ)

اِنۡ ضَلَلۡتُ فَاِنَّمَاۤ اَضِلُّ عَلٰی نَفۡسِیۡ ۚ

که چرے زهٔ بے لارے یم نو یقینًا بے لارے کیږم وبال به زما په ځان باندې وی

وَ اِنِ اهۡتَدَیۡتُ فَبِمَا یُوۡحِیۡۤ اِلَیَّ رَبِّیۡ ؕ اِنَّهٗ

او که چرے زهٔ هدایت والا یم نو په دے سره چه وحی کړے شوه ماته رب زما یقینًا هغه مرځه

سَمِیۡعٌ قَرِیۡبٌ ۞ وَ لَوۡ تَرٰۤی اِذۡ فَزِعُوۡا

اوری نزدے دے او که چرے اوینے ته هغه وخت چه دوی په کبراؤ شی

فَلَا فَوۡتَ وَ اُخِذُوۡا مِنۡ مَّکَانٍ قَرِیۡبٍ ۞

نو نه به وی بچ کیدال او اوبه نیولے شی دوی دَ مکان (ځائے) نزدے نه

باطل دَحق په مقابله کښ دا سے هلاک شوچه نه اوس سر ښکاره کولے شی او نه په بیا سر ښکاره کړی تفسیر سراج المنیر دَدے په تائید کښ قول دَ عبید ذکر کړے دے۔

دویمه توجیه دَحسن بصری نه نقل ده چه باطل معبود خپل عابدانو ته نه په اول (دنیا) کښ نفع ورکولے شی او نه په آخرت کښ۔

دریمه توجیه داده چه باطل معبود نه اول پیدا ئش کولے شی او نه دوباره پیدا کول، نو دَ هغوی عبادت دَ توحید په مقابله کښ نشی ښکاره کیدا لے۔

ف: دا بله طریقه دَدعوت او دَ تعلیم ده یعنی منکرین وائی چه تا دین دَ مشرانو ته باطل اویل نو معلومه شوه چه ته گمراه یئ؟

حاصل دَ جواب دا دے چه بالفرض که زهٔ گمراه یم نو په تاسو باندے دَ هغهٔ وبال نیشته لیکن یل طرف ته هم غور او کړئ که زهٔ په هدایت باندے یم نو ما سره حجت شته او تاسو منکر یئ نو بیا خو به په تاسو باندے وبال او عذاب راځی۔

ف: دا تخویف دے یعنی چه عذاب په تاسو باندے راشی ځکه چه تاسو دَ هدایت نه انکار کوئ نو بیا بچ کیدل نیشته۔ فَزِعُوۡا دا عام دے دَ دنیا عذاب او دَ قبر او دَ حشر عذاب ټولو ته شامل دے۔ مَکَانٍ قَرِیۡبٍ یعنی هر ځائے الله تعالیٰ ته نزدے دے۔

وَقَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖ ۚ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ

او دوی به اُوائی ایمان راوړے دے موږ په دے باندے او کله به وی دوی لره رانیول دَ ایمان

مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ۚ ﴿۵۲﴾ وَّقَدْ كَفَرُوْا بِهٖ

دَ ځائے لرے نه ۔ او حال دا چه دوی کفر کړے دے په دے باندے

مِنْ قَبْلُ ۚ وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ

د مخکښ نه او ویشتلے دوی دَ توک خبرے دَ

مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۵۳﴾ وَحِيْلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ

ځائے لرے نه ۔ او پرده به راشی په مینځ دَ دوی او دَ هغه

ف۵۲ :۔ دا دقع دَ وهم ده یعنی دوی به وائی چه موږ به په هغه وخت کښ ایمان راوړو نو بے به شو دَ عذاب نه جواب اوشو په دے قول سره۔
وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مَكَانٍۭ بَعِيْدٍ یعنی دنیا دَ آخرت نه لرے پاتے شوے ده چه دَ هغه لرے ځائے نه به څرنگه ایمان حاصل کړئ یعنی دَ ایمان دَ حاصلولو ځائے دنیا وه او هغه دَ دوی نه لرے پاتے شوه۔

فائده :۔ هرکله چه قیامت راتلونکے څیز قریب وی نو دَ دے وجے نه یئے په دیرو آیاتو کښ قیامت ته قریب ویلے دے لکه لعلّ الساعة تکون قریبا. اقتربت الساعة۔ اوکوم څیز چه تیر شی نو هغه لرے شی دَ دے وجے نه په دے آیت کښ دنیا ته بعید اویلے شو نو معلومه شوه چه دَ دے آیاتو په مینځ کښ هیڅ اختلاف نیشته۔
ف۵۳ :۔ دا دَ مخکښ آیت دَپاره وجه ذکر کوی یعنی دَ دوی ایمان اوس نه قبلیږی چه دوی مخکښ کفر کوؤ او هیڅ دلیل ورسره نه وؤ۔ وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ دا کنایه ده دَ توک او اټکل (بے دلیله) فتوؤ او حکمونو نه په باره دَ قرآن او رسول او قیامت کښ۔ مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ دا هم کنایه ده چه دَ بے دلیله حکمونو مثال داسے دے لکه چه دَ لرے ځائے نه په یو څیز باندے دَ غشو یا گولو گذارونه کوی او ورته نه ښکاریږی۔ نو بعید کنایه ده دَ غائب نه۔

۵۴:- دا هم تخویف کئیں داخل دے یعنی په وخت دَ عذاب دَ دنیا او اٰخرت کښں دَ دوی تمنا کانے به بے فائدے شی یو تمنا دا چه په وخت دَ عذاب کښں به اٰمنّا اوایو تو نجات به حاصل شی بله دا چه جنت به حاصل کړو یا دا چه دنیا ته به واپس اوکرځولے شو - حَیل او فعل هغه فعلونه چه فاعل ئے ماده دَ فعل وی یعنی وقعت الحیلولۃ و فُعِل الفعل -
مُرِیْبٍ دَ پاره دَ تاکید دَ شک دے یعنی هغه شک چه انسان لره انکار ته اورسوی -

خَتَم شو تفسیر دَ سورۃ سبا په فضل وکرم دَ مولا -

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة فاطر۔ او دَ دے بل نوم سورة الملائکه دے

ربط۔ دَ دے سورت دَ سورة سبا سره په څو طریقو دے اوله طریقه دا ده چه په هغه سورت کښ نقلی دلیلونه په اثبات دَ توحید باندے وو نو په دے سورت کښ دیارلس عقلی دلیلونه ذکر کوی۔ دویمه طریقه دا ده چه په هغه سورت کښ رد وو دَ شبهاتونو پیدا سورت کښ تفریع ده په هغے باندے په رد دَ شرک فی التصرف والدعاء سره۔ دریمه طریقه دا ده چه دَ هغه سورت اختتام وو په انهم لفی شك مریب سره او شک دا دے چه حق باطل کښ فرق نه ګنړی نو په دے سورت کښ دا سے دلیلونه او مثالونه ذکر کوی چه دلالت کوی په عدم مساوات او په اختلاف دَ حق او باطل باندے۔

دعویٰ دَ دے سورت۔ رد دَ شرک فی الدعاء دے په عقلی دلیلونو او مثالونو سره۔

خلاصه دَ سورت۔ په دے سورت کښ درے بابونه دی۔ اول باب ترښا پورے دے په دے کښ دعویٰ دَ توحید په دوه تعبیرونو سره ده۔ الحمد لله۔ لا اله الا هو۔ او اته عقلی دلیلونه دی په خائسته ترتیب سره او په مینځ دَ دلیلونو کښ تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او تحذیر دَ دوه دهوکو ورکوونکو او تخویف او بشارت دے او اخر کښ تفریع ده په رد دَ شرک فی الدعاء سره۔

ثُلٰثَ وَرُبٰعَ ؕ يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ؕ

دريے دريے او څلور څلور زیاتوالی کوی په پیدائش کښې څومره چه اوغواړی

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ①

یقیناً الله تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت وَالا دے۔

مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا

هغه چه پرانزی الله تعالیٰ خلقو لره څه رحمت نو نیشته

په دے ایت (۱) کښې دعوی دَ توحید ده په الحمد لله سره او دا پنځم سورت دے په قرآن کریم کښې چه په اول کښې ئے حمد ذکر دے۔ فاطر السموٰت والارض۔ فطر په اصل کښې دا دے چه یو څیز او چوی او بل څیز تری نه ښکاره شی لکه چه جامه او چوی او غاښ تری نه راوځی یا زمکه اوچوی او او په تری نه راوځی نو دلته دوه توجیه دی اول دا چه دَ عدم (نیشت والی) نه ئے وجود ته راښکاره کړل او دا معنیٰ مشهوره ده او دویمه توجیه دا ده چه اسمان ئے اوچولو (دروازے په کښې جوړ کړے دی) نو ملائک تری نه راکوزیګی او وحی نازلیګی او دَ بره طرف نه بارانونه نازلیګی او زمکه ئے اوچوله نو چینے دَ اوبو، خزانے دَ سرو او سپینو او تیلو او بوټی او نے تری نه راوباسی۔ او روستو جمله هم دَ دے معنے سره مناسبت لری۔ جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا دا ذکر دَ هغه مخلوق دے چه په هغوی سره ربط دے په مینځ دَ اسمان او زمکه کښې۔ رُسُلًا یعنی دَ ملائکو په ذریعه وحی رالیګی انبیاء علیهم السّلام ته او الهام او رشتنی او صالح خوبونه راځی اولیاؤ ته او دَ ملائکو په واسطه دَ نیکو بندګانو عملونه لیګی او دَ دے ملائکو په واسطه دَ بعض بندګانو حفاظت کوی۔ دا ټول په دے ایت کښې داخل دی۔ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ دَ وزرو په لحاظ سره په ملائکو کښې تفاوت دے يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ اشاره ده چه دَ بعض ملائکو وزرے زیاتے دی لکه چه حدیث دَ مسلم کښې وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلّم جبرائیل علیه السّلام لره په اصلی شکل کښې اولیدلو چه دَ اسمان غاړے ئے پټے کړے وے او دَ هغه شپږ سوه وزرے وے۔ او دَ دے وزرو په تفصیلی کیفیت باندے الله تعالیٰ عالم دے او دا رنګ مفسرینو په دے کښې داخل کړے دی دَ ملائکو او دَ انسانانو په قد وقامت کښې تفاوت او په پوره والی دَ اعضاؤ او په ښائست کښې او فصاحت او بلاغت دَ خبرو کښې او نورو اوصافو کښې۔

مُمْسِكَ لَهَا ۚ وَمَا يُمْسِكْ ۙ فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ

بندوونکے د هغې او هغه چه بند کړی نو نيشته ازادوونکے د هغې

مِنْ بَعْدِهٖ ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ②

روستو د بندولو د هغه نه او الله تعالیٰ زور اور او حکمت والا دے.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۭ

اے خلقو یاد کړئ احسان د الله تعالیٰ په تاسو باندے

هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ

آیا شته دے پیدا کوونکے سوا د الله تعالیٰ نه چه روزی درکړی تاسو لره

مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۭ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۡ ۖ

د اسمان او زمکے نه نيشته حق دار د بندگۍ سوا د هغه نه

فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ③ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ

نو څه رنگ اړولے کيدئ تاسو د توحید نه. او که چرے دروغژن وائی

۲: دا دویم دلیل عقلی دے. روستو د خلق د اعیانو نه ذکر د حالاتو د وسعت او د تکلیف دے. رَحْمَةٍ دا لفظ وسعت د رزق او صحت د عافیت او خوشحالۍ او بارانونه او هر قسم نعمت دنیویه او نعمت دینیه ته شامل دے. او په دے ایت کښ رد دے په شرک فی التصرف باندے او فَلَا مُمْسِكَ او لَا مُرْسِلَ عام دے یعنی هیڅوک نبی او ولی او ملک او جن او بتان او ټول معبودان من دون الله د هیچا د نفع او ضرر او فائدے ورکولو او د نقصان دفع کولو قدرت او اختیار نه لری.

۳: دا دریم دلیل عقلی دے او په دے کښ خطاب عام دے یعنی نور نعمتونه د الله تعالیٰ بے شماره دی په زړه او په ژبے سره ئے یاد کړئ یعنی د الله تعالیٰ د طرف نه ئے اوګڼړے او هغه ته ئے نسبت کوئ. هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ دا په مینځ کښ جواب د سوال دے یعنی که څوک وهم او کړی چه نعمتونه مور او پلار او نور سخیان خلق هم ورکوی؟ نو حاصل د جواب دا دے چه هغوی د دے نعمتو نو پیدا کوونکی نه دی نو نعمت د هغوی د طرف نه نه دے. او لوئے نعمت رزق پیدا کول دی نو هغه ئے په تخصیص سره ذکر کړو. لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ دا نتیجه د تیرشوی دلیلونو ده فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ دا زورنه ده او طلب د دلیل دے د مشرکانو نه چه په کوم دلیل د توحید نه شرک ته اړولے شوی یئ.

فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ۚ وَ
او مخکښ ستا نه ډیر رسولانو ته دروغژن ویلے شوے دی نو یقیناً
إِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ④ يَا أَيُّهَا النَّاسُ
خاص الله تعالیٰ ته گرځولے کیدے شی ټول کارونه ۔ اے خلقو
إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ
یقیناً وعده دَ الله تعالیٰ حقه ده نو نه دِ دهوکه کوی تاسولره ژوندا
الدُّنْيَا ۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ ⑤
دنیوی او نه دِ دهوکه کوی تاسو په الله تعالیٰ باندے دهوکه ورکوونکے ۔
إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ
یقیناً شیطان تاسو لره دُشمن دے نو او نیسئ هغه لره په دُشمنئ سره

سـ : په دے ایت کښ صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلّم ذکرکوی روستو دَ بیان دَ توحید نه او تسلّی هم ده هغهٔ ته ۔ فَقَدْ كُذِّبَتْ جزاء دَ شرط په اصل کښ محذوف ده یعنی فَاصْبِرْ (صبرکوه) او دَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ نه روستو هم صبروا حذف دے یعنی هغوی هم صبر کړے وو۔

فَائِدَه :- رُسُلٌ ئے نکره ذکرکړو یعنی ډیر رسولان وو او ډیرے معجزے او ایات ورسره وو او ډیرو عمرونو والا وو او ډیر مصیبتونه پرے راغلی وو۔ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ یعنی عذاب به ورکوی مکذبینو ته او ثواب به ورکوی صبرکوونکو ته ۔

سـ : په دے کښ ذکر دَ اثبات دَ قیامت دے سره دَ تحدید دَ اسبابو دَ انکار دَ هغے نه ۔ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ په دے کښ مراد هغه رجوع الی الله ده چه مخکښ ایت کښ ذکر کړے شوه ۔ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا مراد دَ دے نه مشغولیدل دی په مال دَ دنیا او په مزو دَ هغے او شهواتو دَ هغے باندے تر دے پورے چه انسان غافل شی دَ اخرت او دَ مرگ نه یا منکر شی دَ اخرت نه ۔ بِاللَّهِ الْغَرُورُ دا سے سورة لقمان ۳۳ کښ هم تیر شوے دی ۔ الْغَرُورُ شیطان انسی او جنّی دواړوته شامل دے ۔

إِنَّمَا يَدْعُوا حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَبِ

یقیناً بلي هغه خپله ډله د دې د پاره چه اوګرځي د اور

السَّعِيرِ ⑥ اَلَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ عَذَابٌ

والو. هغه کسان چه کفر ئې کړے وی دوی لره عذاب

شَدِيدٌ ۖ وَالَّذِينَ اٰمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

سخت دے او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه ئې د سنت موافق

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيرٌ ⑦ اَفَمَنْ

دوی لره بخښش دے او ثواب لوے دے. آیا هغه څوک چه

زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ فَرَاٰهُ حَسَنًا ۭ فَاِنَّ اللّٰهَ

ښائسته کړے شوے دی هغه لره بد عمل د هغه نو وینی ئې لره ښائسته نو یقیناً الله تعالیٰ

يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۡ

ګمراه کوی چا لره چه ئې غواړی او هدایت ورکوی چا ته چه ئې غواړی

فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ۭ

نو لاړه نشي ساه ستا په دوی پسے د دیر افسوسونو نه.

سلا: دا علت دے د ماقبل د پاره. فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا یعنی په عقائدو او اعمالو کښ د هغه دا سے مخالفت کوئ لکه چه د دشمن مخالفت کید یشی. او قشیری نه نقل دی چه د دغه دشمن نه په مدد د الله تعالیٰ سره ځان بچ کوئ لکه چه هغه ستاسو د دشمنئ نه غفلت نه کوی نو تاسو هم د الله تعالیٰ نه په مدد غوختلو کښ هیڅ وخت غفلت مه کوئ. او قرطبی د ابن سماک نه نقل کړے دی "هائے تعجب دے د هغه چا نه چه نافرمانی کوی د خپل محسن پس د پیژندلو د احسان د هغه نه او طاعت کوی د لعین پس د پیژندلو د دشمنئ د هغه نه". لِيَكُوْنُوْا د دے نه مخکښ دا لفظ پټ دے (رائے الضلال والکفر والشرك).

سک: په دے آیت کښ بیان د عاقبت د حزب الشیطان او د حزب الرحمان دے اوّل ته تخویف او دویم ته بشارت دے. او مغفرت په عوض د ایمان کښ دے او اجر کبیر په بدل د عمل صالح کښ دے.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ⑧ وَاللَّهُ الَّذِي

یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے په هغه کارونو چه دوی کوی۔ او الله تعالیٰ هغه ذات دے

أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَاهُ إِلَىٰ

چه رالیږی هواګانے نو پورته کوی وریځے نو او چلوو مونږ هغه

بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا

ځمکے اوچے ته نو تازه کړو په هغے سره ځمکه روستو دَ اوچ والی دَ هغے نه

كَذَٰلِكَ النُّشُورُ ⑨ مَن كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ

دَ غسے دوباره پیدائش ستاسو دے۔ هغه څوک چه غواړی عزت

۸:۔ په دے ایت کښ تسلی ده نبی صلّی الله علیه وسلّم ته او بیان دَ حال دَ فریقینو دے۔ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ دا عام دے ټولو کفارو او مشرکینو او مبتدعینو ته۔ بد عملونه دَ دوی عناد کول دی دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم او دَ هغه دَ تابعدارو سره اوشرک کول دَ دوی او مخالفت کول دَ سنت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم نه۔ دا کارونه دوی نه خائسته ښکاری چه دا سبب دَ ثواب او دَ قربت الهیه دے یا دا کارونه سبب دَ فخر او دَ لویئ او دَ غیرت دی دَ دے وجے نه همیشه ئے کوی او توبه تری نه اوباسی۔ او سعید بن جبیر نه خطیب شربینی نقل راوړے دے چه دا ایت په باره دَ اصحاب هوی او بدعتیانو کښ دے۔

فائده:۔ دَ دے شرط جزاء محذوف ده کسائی وئیلی دی (تذهب نفسک علیهم) په قرینه دَ ما بعد سره او زجاج وئیلی دی (کمن هداه الله) یا (کمن هو لیس کذلک)۔ فَإِنَّ اللَّهَ يُضِلُّ دا علت دے دَ پاره دَ عدم مساوات دَ دوی فَلَا تَذْهَبْ اه دا تفریع ده په عدم مساوات او په یضل من یشاء باندے یعنی هرکله چه دَ دوی هدایت او ضلال په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دے نو ته دومره غمژن کیږه مه چه دَ غم دَ وجے نه مړ شے ځکه ستا دا غم او مرګ هیڅ فائده نه کوی۔ حَسَرَاتٍ مفعول له دے یعنی دَ وجے دَ ډیرو افسوسونو او خفګانونو نه۔ حَسْرَةٌ وئیلے کیږی سخت خفګان کولو ته په فوت شوے څیز باندے۔ يَصْنَعُونَ صناعت هغه عمل ته وئیلے کیږی چه همیشه ئے کوی دَ دے وجے چه هنر ئے جوړ کړے وی یا دین ئے ګڼړلے وی نو دا دَ راه حسنا سره مناسب دے۔

۹:۔ دا څلورم عقلی دلیل دے دَ پاره دَ پوهه کولو (رپاتے په بل مخ)

فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ۭ اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ

پس عزت ټول د الله تعالیٰ په اختیار کښې دے (د الله تعالیٰ ته یې غواړے) خاص هغه ته درخیږي کلمے

الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ ۭ وَالَّذِيْنَ

پاکے (د اخلاص) او عمل د سنت موافق پورته کوی الله تعالیٰ هغه لره او هغه کسان

يَمْكُرُوْنَ السَّيِّاٰتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۭ

چه چلونه جوړوی د بد کارونو هغوی لره عذاب سخت دے،

وَمَكْرُ اُولٰۗىِٕكَ هُوَ يَبُوْرُ ۝۱۰ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ

او هر چل د دے کسانو به بے کاره کړے شی - او الله تعالیٰ ستاسو پیدا ایښ شروع کړے

د هغه کسانو چه زُيِّنَ لَهٗ سُوْۗءُ عَمَلِهٖ کښې مراد وو او په دے کښې یې درے تصرفات الٰهیه ذکر کړے دی ۱ هوا گانے رالیږل او په هغې سره وریځې پورته کول ۲ شاړے زمکے ته چلول ۳ باران کول او بوټی پیدا کول - اَرْسَلَ نه مراد د عدم نه وجود ته راوستل دی. هر کله چه هوا گانے راتلل یو عادتی کار دے او په هغې سره وریځې پیدا کول کله کله وی نو اَرْسَلَ یې فعل ماضی ذکر کړه او تُثِيْرُ فعل مضارع ذکر کړے ده.
او هر کله چه د وریځو نقل کول او باران کول بوټی راویستل پوره دلالت کوی په اختصاص باندے د دے وجے د غائب نه یې انتقال اوکړو متکلم ته. او هر کله چه تیر شوے ایاتونو کښې آفاقی علوی او انفسی دلیلونه ذکر وو نو په دے ایت کښې یې وسطی تصرفات ذکر کړے دی. كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ په دے جمله کښې اثبات د قیامت دے په طریقه د قیاس سره په بوټو راویستلو سره د وچے زمکے نه او دا رنګ تذکیر د قیامت دے په وخت د لیدلو د فصلونو او باغونو کښې - او دا تشبیه په درے طریقو سره ده اوّل لکه چه اوچے زمکے تازګی قبول کړه دا سے بدن د انسان به ژوند قبول کړی دویم لکه چه هوا گانے وریځې متفرقے راجمعه کوی دا رنګ به متفرق اندامونه هم راجمعه کړیشی دریم لکه چه الله تعالیٰ هوا او وریځې اوچے زمکے ته رالیږی نو د غسے به ارواحو لره بدنونو ته را اولیږی او ژوند به ورله ورکړی -
سے ۱:- دا پنځم عقلی دلیل دے او دلیل انفسی دے د نفسونو د حالاتو سره تعلق لری او مخکښې ایت سره یې مناسبت هم دا دے لکه چه اوچه زمکه کښې الله تعالیٰ ژوند پیدا کوی او دا ترقی ده نو دا رنګ عزت انسانانو ته ورکوی - او په دیکښې مقصد رد دے په مشرکانو باندے چه هغوی عزت (او مدد) د خپلو الهو باطلو

مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ

دَ خاورو نه بیا دَ نطفې نه بیا جوړ کړی یې تاسو

دَطرف نه کتړی لکه سورة مریم سا۸ کښ دی. او رد دے په منافقانو باندے چه عزت دَ کافرانو په دوستانو کښ کتړی لکه سورة نساء س۱۳۹ کښ ذکر دی نو په اوله جمله کښ رد دے په مشرکانو چه اختیار دَ عزت ورکولو صرف دَ الله تعالیٰ سره دے او دویمه جمله (الیه یصعد الکلم اه) کښ رد دے په منافقانو باندے چه مسبب دَ عزت، توحید او عمل صالح دے - مَنْ كَانَ اه دَ دے جزا حذف ده (فلیطلبها من الله یعنی دَ الله تعالیٰ نه دِ غواړی) اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ - الیه یصعد دلالت کوی چه الله تعالیٰ اوچت او پورته دے او کیفیت دَ هغې دَ متشابهاتو نه دے. الْكَلِمُ الطَّيِّبُ مراد دے نه توحید دے او کلم مفرد دے پشان دَ کلام یا مراد دے نه اقوالِ طیبه یعنی کلمات دَ توحید او دَ ذکر دَ الله تعالیٰ دی او کلم اسم جنس یا اسم جمع دے. وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ په ضمیر مرفوع دَ دے کښ احتمالات دی اول احتمال دا الله تعالیٰ ته راجع دے او ضمیر مفعول یې عمل صالح ته راجع دے. دویم احتمال کلم طیب ته راجع دے چه هغه په معنیٰ دَ توحید دے یعنی عقیده دَ توحید عمل صالح لره پورته کوی مقام دَ قبولیت ته ځکه چه بناء دَ اعمالو په عقیده باندے ده دریم احتمال ضمیر فاعل راجع دے کلم طیب ته چه هغه په معنیٰ دَ اقوالو طیبه سره دے یعنی دَ عمل صالح په وجه سره اقوال طیبه قبلیږی ځکه چه قول بغیر دَ عمل نه نه قبلیږی او تفسیر قرطبی کښ دَ دے دَ تائید دَ پاره یو حدیث غیر مستند ذکر کړے دے "لا یقبل الله قولا الا بعمل (نه قبلوی الله قول لره بغیر دَ عمل نه) ولا یقبل قولاً ولا عملاً الا بنیة (او نه قبلوی الله تعالیٰ قول او عمل لره مگر په نیت سره) ولا یقبل قولاً ولا عملاً ولا نیةً اِلّا باصابة السنة (او نه قبلوی قول او عمل او نیت لره مگر په موافق دَ سنت سره". وَالَّذِيْنَ يَمْكُرُوْنَ السَّيِّاٰتِ - یعنی الله تعالیٰ چه موحدینو ته عزت ورکړی نو مشرکان او حاسدان دَ هغوی دَ دے عزت کولو کوششونه کوی نو دا دَ هغوی سزا ذکر کوی. یا دَ سیئات نه مراد شرک او کفر او بد اعمال دی مخالف دَ کلم طیب او عمل صالح نه -

أَزْوَاجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا

جوړې ئې | او حمل نه اخلي | يو | زنانه | او نه يې ځوروي | مګر

بِعِلْمِهِ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُعَمَّرٍ وَلَا يُنْقَصُ

په علم د الله تعالی سره | او نه عمر | ورکیږے شي يو عمرددرکړے شوي ته | او نه کمے د ے شي

مِنْ عُمُرِهِ إِلَّا فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ

د عمر | د هغه نه | مګر | په | کتاب (تقدير) کښ دی | يقيناً دا کار | په الله تعالی باندے

يَسِيرٌ ﴿١١﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرَانِ ۖ هَٰذَا

آسان دے . | او نه دی برابر دوه قسمه | دریابونه | دا | يو

سالا :- دا شپږم دليل عقلی انفسی دے نو راحوالِ انسانيه ذکر کوی او مناسبت ئې د مخکښ سره دا دے چه د عزت اختيار د الله تعالیٰ سره ځکه دے چه خالق د دے انسان او عالم او تقدير دے او په دے آيت کښ د انسان د پيدائش مادهٔ بعيده (خاورے) او مادهٔ قريبه (نطفه) ذکر کړه او د زياتيدلو د انسانانو د پاره ئې تزويج ذکر کړو او د بيان د قدرت سره ئې علم د الله تعالیٰ ذکر کړے دے په دے جمله کښ چه وما تحمل من انثیٰ اه - بِعِلْمِهٖ يعنی د حمل په مقدار او وخت او نوعه او شکل و صورت او سعادت او شقاوت وغيره حالاتو باندے الله تعالیٰ عالم دے - بيا ذکر د تقدير او کمالِ ارادے د الله تعالیٰ کوی په دے جمله سره وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُعَمَّرٍ اه مراد په دواړه جملو سره يو سړے دے يعنی د يو سړی عمر په تقدير کښ ليکلے شوے دے مثلاً شپيته کاله بيا يو يو ورځ کميږی نو په بل کتاب کښ هغه نقصان ليکلے کيږی تر اختتام د عُمر پورے - يا مراد د دے نه دوه کسان دی يعنی د يو کس عمر زيات دے او د بل کس عمر کم دے دا دواړه په تقدير کښ ليکلے شوے دی ليکن هر کله چه دا زياتے او کمے بندګانو ته په مستقبل کښ معلوميږی نو د دے وجے نه صيغه د مضارع ذکر کړے شوه - دريم قول دا دے چه مراد د زيادت او نقصان نه زياتے کمے په برکت او په بے برکتئ کښ دے په سبب د نيکو عملونو او بدو عملونو سره -

۱۲:۔ دا اُوم دلیل عقلی دے او دا دَ عالمِ سفلی دلیل دے مناسبت ئې ھغې سره دا دے
لکه چه انسانانو کښې دَ عمر په لحاظ سره مساوات نیشته دا رنګ په اوبو کښې هم
مساوات نیشته او په دے کښې لطیفه، اشاره ده فرق ته په مینځ دَ مؤحد او مشرک
کښې۔ اَلْبَحْرَانِ یو بحر سمندر دے چه دَ هغې اوبه مالګینې دی او دا دَ زمکے اوبه دی دویم
دَ آسمان اوبه دی چه دَ بارانونو په ذریعه زمکے ته راځی او دَ هغې نه خوږ وته سیندونه
جوړ شوے دی او بیا سمندر ته او رسیږی لیکن دغه اوبه دَ سمندر دَ اوبو سره نه خلط
کیږی او دا خوږے اوبه وی نو په دے وصف کښې دوی برابر نه دی۔
وَمِنْ كُلٍّ الخ په دے کښې اشاره ده چه په دے دوه فائدو کښې دوی برابر دی
لیکن فائده اصلی چه څښل دَ اوبو دی په هغې کښې دوی برابر نه دی اشاره ده که
مؤحد او مشرک په صفت دَ شجاعت سخاوت وغیره کښې چرته برابر شی لیکن دَ دوی
په اصل اعتقاد کښې برابری نیشته وَتَسْتَخْرِجُوْنَ الخ دلته دَ لفظ دَ مِنْ كُلٍّ نه۔ او په
سورة رحمٰن ۲۲ کښې دَ لفظ منهما نه معلومیږی چه جواهرات لؤ لؤ مرجان وغیره دَ
دواړو دَ اختلاط نه حاصلیږی دَ هغې طریقه دا ده چه دَ سمندر په سطحه باندے صداف
کهلاؤ پروت وی نو په هغې کښې دَ باران څاڅکی راغورزیږی نو صداف بند شی نو څه
وخت روستو دَ هغې نه لؤلؤ مرجان جوړ شی۔ تَلْبَسُوْنَهَا۔ لباس عام دے چه غاړے
او لاسونو ته ئې اچوی یا ئې په جامو پورے اولګوی۔ (رپانے په یال مخ)

وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ

او ننه باسی ورځ په شپه کښې او په خدمت کښې لګولې ئې دی نمر

وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى

او سپوږمۍ هر یو روان دے د پاره د نیټې مقررې

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ وَالَّذِيْنَ

دغه صفتونو والا الله تعالیٰ ستاسو رب دے خاص هغه لره بادشاهی ده او هغه کسان

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ۝

چه رابولئ ئې په خپلو حاجتونو کښې بې د الله نه کوی نه اختیار نه دی د پوستکی د هډوکی د کجورې۔

یائې په بستره کښې ونګوی. وَتَرَى الْفُلْكَ فِيْهِ دا فائده په سمندر پورې خاص ده ځکه دے وجې فِيْهِ ئې مفرد ذکر کړو او مراد د فلک نه عنې جهازونه دی په قرینه د مواخر سره۔ او هرکله چه پورتنئ دواړه فائدے عموختقونه رسیږی اګرچه د سمندر نه لرے دی او روستنئ فائده خاص ده په هغه چاپورے چه سمندر کښې سورلی کوی د دے وجې نه اول دواړه صیغې ئې جمع ذکر کړے دی او روستنئ صیغه ئې مفرد ذکر کړیده۔ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ یعنې په فضل د الله تعالیٰ او په ټولو سره د غرقیدلو نه شکر اوکړئ۔

۱۳:۔ دا اتم دلیل عقلی وسطی زمانی دے. شپه او ورځ اجزاء د زمانې کښې او نمر سپوږمۍ د دے د اختلاف سبب دے د دے وجې نه ئې یوائې ذکر کړل. لِأَجَلٍ مُّسَمًّى مراد د دے نه هرشپه او ورځ د دے دواړو غروب دے یا مراد دے نه ورځ د قیامت ده۔ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ دا نتیجه ده د ټولو دلیلونو او د ذکر د نعمتونو چه په هغې کښې تصرف او علم د الله تعالیٰ ذکر شویدے او د رب نه مراد معبود او حاجت روا دے۔ لَهُ الْمُلْكُ مخکښې ئې تصرف ذکر کړو نو په دې کښې بادشاهی (تدبیر) د الله تعالیٰ ذکر کوی۔ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ دا رد دے په شرک فی الدعا باندے په د نفی د ملک سره د هر معبود من دون الله نه۔ وَالَّذِيْنَ دا لفظ حقیقت دے په ذوی الروح او ذوی العقولو کښې او بتانو ته مجازا شامل دے نو دے کښې تمام معبودات من دون الله داخل دی او تفسیر روح المعانی کښې هم دغسې لیکلی دی۔ قِطْمِيْرٍ هغه نرے پوستکے چه د هډوکی د کجورې نه چاپیره وی دا د عرب په اصطلاح کښې په مثال د قلت د ملکیت کښې ذکر کیږی۔

إِنْ تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا
که چرے تاسو بلئ دوی لره (دپاره دَ حاجت پوره کولو) نو نه اوری بلته ستاسو او که فرض کړو چه اوری
مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ
نو نشی پوره کولے حاجت ستاسو او په ورځ دَ قیامت کښ به انکار اوکړی
بِشِرْكِكُمْ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴿۱۴﴾
ستاسو دَ شرک نه او خبر نشی درکولے تاته پشان دَ خبردار ذات (چه الله تعالیٰ دے)

اوفتیل او نقیر په قلت دَ خیز کښ ذکر کیږی اگرچه ملکیت ورسره نوی ذکر کړے او په دے کښ اشاره ده چه دا معبودان مِن دون الله خو دا قدرت هم نه لری چه دغه پوستکے دَ هډوکی دَ کجورے نه روغ او سالم راجدا کړی۔

سکا:۔ دارد دے په شرک فی الدعا په طریقه په نفی دَ علم او دَ استجابت دَ دُعا دَ معبود من دون الله نه۔ او تفسیر قرطبی او روح المعانی او نور مفسرینو لیکلی دی چه دا ایت ملائکو، جناتو، انبیاؤ، شیاطینو او بتانو ټولو ته شامل دے۔

لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ، مفسر الوسی روح المعانی کښ لیکلی دی چه بُتان خو ځکه نه اوری چه جمادات دی او ملائک انبیاء او اولیاء (ژوندی) دَ دے وجے نه اوری چه لرے وی دَ دے مشرکانو نه او اسباب هم مینځ کښ نیشته یا دَ دے وجے نه چه الله تعالیٰ دَ هغوی غوږونه بچ ساتی دَ داسے شرکی او قبیح اوازونو نه دَ پاره دَ دے چه خفه نه شی (او په تفسیر دَ سورة احقاف کښ لیکلی دی) چه کوم معبودان چه مړهٔ دی هغوی نه اوری ځکه چه مړی اوریدل نشی کولے۔

فائده :۔ دا ایت قطعی الدلالة دے په دے مسئله کښ چه مړی بزرګان دَ مشرکانو شرکی اوازونه بالکل نه اوری که نزدے وی او که لرے وی۔ لفظ دَ دُعاءکم په دے باندے دلیل دے چه مراد دَ دے نه حاجت غوښتل دی او هرچه په مسئله دَ نفی سماع موتیٰ مطلقاً کښ ده نو دا صریح نه دے بلکه احتمالی دے۔ او دَ دے وجے نه عائشه رضی الله عنها او امام ابوحنیفه رحمة الله دا ایت په دلیل دَ نفی سماع موتیٰ کښ نه دے ذکر کړے۔ وَلَوْ سَمِعُوا لو دَ پاره دَ فرض کولو راځی یعنی سماع نیشته لیکن که فرض کړو چه شته نو مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ یعنی مقصد دَ مشرک خو حاجت پوره کیدل دی او هغه خو دا معبودان بالکل نشی کولے۔

فائده :۔ استجابت شامل دے دُعا غوښتلو ته یعنی که ته (باقی په بل مخ)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِ ۖ

اے خلقو تاسو ټول محتاج یئ الله تعالیٰ ته

وَٱللَّهُ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ

او الله تعالیٰ خاص هغه بے حاجته ستائیلے شویدے۔ که چرے اوغواړی فنا به کړی تاسو

وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٦﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ

او رابه ولی مخلوق نوے او نه دے دا کار په الله تعالیٰ باندے

بِعَزِيزٍ ﴿١٧﴾ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ

گران۔ او نه شی پورته کولے یو پیټی والا پیټے (دګناهونو) دبل چا

دوی ته اُولیُ چه زما دَپاره دُعا اوغواړے نو دُعا هم نشی غوختلے نو معلومه شوه چه څوک وائي چه هر کله ثابته شی چه مړی اوری نو بیا دُعا غوختل ترینه هم جائز شو دا غلطه خبره ده په دے کښ ملازمه نیشته او داسے په حدیث دَبدر کښ هم راغلی دی چه دوی اوس اوری لیکن جواب نشی ورکولے۔ بِشِرْكِكُمْ مراد دَ شرک نه طلب دَحاجت دے دَدوی نه ځکه چه دا شرک فی الدعا دے او دا انکار دَدوی ذکر شویدے په سورة یونس ۲۹ کښ او په سورة احقاف ۵ ۶ کښ۔ مِثْلُ خَبِيرٍ مراد دَخبیر نه الله تعالیٰ دے یعنی که څوک سماع او استجابت دَ دے معبودانو من دون الله ثابتوی په اقوالو دَاهلِ علم وغیره سره نو جواب دا دے چه دَ هغوی قول دَ خبیر ذات په مقابله کښ هیڅ حیثیت نه لری۔

۱۵۔ دَ دے ایت نه تر ۳۸ پورے دویم باب دے په دے کښ دوه عقلی دلیلونه دی بیا تخویف اخروی بیا مثالونه بیا تسلی نبی صلی الله علیه وسلّم ته بیا تفصیلی بشارت او تخویف دَ پیرکے ۱۵ کښ تهم عقلی دلیل دے۔ الْفُقَرَآءُ معرف دلالت کوی په کامل فقر باندے په هر څیز او په هر حالت کښ که نبی وی یا ولی یا مالدار وی یا مسکین وغیره۔ إِلَى اللّٰهِ لفظ دَالی دَانتها دَپاره دے یعنی دَیو انسان احتیاج که بل انسان ته وی نو هم دَ هغے اخری انتهاء الله تعالیٰ ته ده او اخری انتهاء ته اعتبار دے۔ الْغَنِىُّ دا یُ هم معرف ذکر کړه ځکه چه مراد تربے کامله غنا ده چه هغه عدم احتیاج دے او انسان که ډیر مالدار وی نو هم محتاج دے۔ الْحَمِيدُ دا صفت یُ دَ دے وجے نه ذکر کړو چه یو انسان چه دَخلقو نه ځان بے پروا کړی نو دَ هغه بدی ویلے کیږی او دَ الله تعالیٰ سره دَغنا کامل نه حمد ویلے کیږی ځکه چه مخلوق له نعمتونه او فائدے ورکوی۔

۱۶ ۱۷ دا دواړه دَ مخکښ دلیل سره متعلق دی یعنی تصرف کلّی او غناء کامله

وَاِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ اِلٰى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ

او كه چرے آواز وركړي يو دروند بارے خپل بارته نو نشي پورته كيدے د هغه نه

شَيْءٌ وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ؕ اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ

هيڅ څيز اگر چه خپلوے والا دى يقيناً ستا ويره اثر كوي په هغه كسانو باندے

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ

چه ويريږي د رب خپل نه په حالت د نه ليدلو كښ او پابندي كوي د مونځ

وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ؕ

او چاچه ځان پاک كړو نو يقيناً پاكول كوي د پاره د فائدے د ځان خپل

وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۱۸﴾ وَمَا يَسْتَوِى الْاَعْمٰى

او خاص الله تعالىٰ ته گرځيدل دى ۔ او برابر نه دے روند

د هغه ذكر كوي اِنْ يَّشَاْ اشاره ده چه ستا سو په فنا كولو كښ د بل چا مشيت اوخوښے ته محتاج نه دے هم دا سے سورة ابراهيم سـ۱۹ ـ۲۰ كښ تير شوے دى۔

سـ۱۸:۔ روستو د دليلونو د توحيد او د رد د شرک نه تخويف دے يعني لكه چه د مشرک حاجت روائي په دنيا كښ معبودان من دون الله نشي كولے نو دارنگ په آخرت كښ هم د دهٔ پيټے د گناه هغه مشركان پيران وغيره نشي پورته كولے چا چه دهٔ ته شرک خودلے۔ وَاِنْ تَدْعُ الخ په اوله جمله كښ مطلب دا وو چه بغير د طلب نه هيڅوک پيټے نشي اوچته ولے او په دے جمله كښ مطلب دا دے چه په طلب او منت زارئ سره هم د مشرک پيټے بل څوک نشي پورته كولے۔ دارنگ په اول كښ تول پيټے پورته كول مرادي او په دويمه جمله كښ بعضے حِصّه د پيټي مراد ده۔

اِنَّمَا تُنْذِرُ الخ تسلي ده نبي صلى الله عليه وسلم ته يعني د گناه (وزر) نه بچ كيدلو د پاره بله لاره نيشته سِوا د انذار نه۔ دارنگ هركله چه دليلونه تفصيلاً بيان شول خو ليكن مشركانو ضد يانو ته فائده نه وركوي نو نبي صلى الله عليه وسلم ته ئے تسلي وركړه چه ستا انذار خشيت والو ته فائده وركوي۔ او د خشيت ظاهري نخه اقامة الصلوٰة دے نو اَقَامُوا الصَّلٰوةَ ئے د دے وجے نه ذكر كړو۔ وَمَنْ تَزَكّٰى دا د انذار فائده ده۔

وَالْبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّورُ ﴿٢٠﴾

او لیدونکے او نه تیارے او نه رڼا

وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ

او نه سوړے او نه ګرمی. او نه دی برابر ژوندی

وَلَا الْأَمْوَاتُ ۚ إِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَّشَاءُ ۚ

او نه مړی یقینًا الله تعالی اوروِل کوی چا ته چه او غواړی

وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِي الْقُبُورِ ﴿٢٢﴾

او نه یې ته اوروِدُنکے هغه چا ته چه په قبرونو کښ دی.

س۱۹ س۲۰ س۲۱ :- دا علّت دے دَپاره دَ تخصیص دَ انذار په خشیت والو پورے یعنی خشیت والو ته انذار فائده ورکوی او نورو ته فائده نه ورکوی ځکه چه دَ دوی په حالاتو کښ ډیر فرق دے۔ او دا مثالونه دَپاره دَ اثبات دَ فرق په مینځ دَ مؤحد (خشیت کوؤنکی) او ضدی عنادی کښ دی۔ اول مثال چه دا عنادی پشان دَ ړوند دے او مؤحد پشان دَ بینا دے لکه چه دَ دے دواړو په مینځ کښ په لیدلو دَ رڼا او تیرو او په لیدلو دَ مضرّاتو او مفید څیزونو او صحیح لار او غلطه لار وغیره کښ فرق دے نو دا رنګ دَ مؤحد او مشرک په مینځ کښ هم په دغه امورو کښ فرق دے۔
دویم مثال یعنی کفر او شرک او دَ هغے دلیلونه پشان دَ ظلماتو دی او توحید دَ ایمان او دَ هغے دلیلونه پشان دَ نُور دی۔ دریم مثال یعنی دَ توحید او دَ ایمان نتیجه او عوض په دنیا او آخرت کښ آرام دے او هغه په شان دَ سوری دے او دَ کفر و شرک عاقبت په دنیا او آخرت کښ عذاب او سخت ژوند دے او هغه پشان دَ حرور (سخته ګرمی) دے۔ حاصل دا چه دَ دوی په مدعاګانو او دلیلونو او نتیجو دریے واړو کښ فرق دے، او دے ته فرق کامل ویلے کیږی۔
س۲۲ :- دا څلورم مثال دے او مؤحدین (خشیت کوؤنکی دَ الله تعالیٰ نه) پشان دَ ژوندو دی چه ټول قوتونه او حواس یے کارکوی (اوریدل، لیدل، پوهیدل) او مشرکان عنادیان پشان دَ مړو دی چه ټول قوتونه او حواس یے بےکار شویدی یعنی مړی نه اوری او نه ویلی او نه پوهیږی نو دا رنګ عنادی مشرک هم (صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ) دے۔
فائده :- په دے څلورم کښ مَا يَسْتَوِي یے دوباره ذکر کړو دَ دے وجے نه چه

إِنْ أَنْتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ

ته نۀ ته مګر ویره ورکوونکے ئې. یقیناً لیږلے ئې مونږ ته په حقه سره

بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ وَإِنْ مِنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا

زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے او نیشته دے هیڅ امت مګر تیر شوے دے په هغې کښې

نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ

ویره ورکوونکے. او که دوی تا ته دروغژن وائي نو یقیناً دروغژن ویلي (پیغمبرانو ته) هغه کسانو

دَمړی او ژوندی په مینځ کښې من کل الوجه فرق دے او هرچه ځمکنی درے دی نو کله کله یو بل ته نزدے کیدے شي لکه چه اعمٰی دَپاره دَ زړه بصیرت وی نو بصیر ته نزدے شي او چه په تیرو کښې چراغ اولګی نو نُور ته نزدے شي او په ګرمے کښې دیخنئ اسباب استعمال شي نو سوری ته نزدے شي لیکن په مړو کښې دا سے تغیّر نشي راتللے چه هم دے مړوی او هم دے په هغه کښې دَ ژوندی صفت پیدا شي. او مراد دَ حیاة نه حیاة دنیویه دے. إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَنْ يَشَاءُ ۖ وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ دا پنځم مثال دے سره دَ تسلّئ دَ رسول صلّی الله علیه وسلّم نه او متعلق دے دَ انما تنذر سره. دَ دے مثال مطلب او حاصل دا دے چه هغه کافران ضدیان مشابه دی دَ هغه بدنونو سره چه په قبرونو کښې دفن کړے شوے دی چه په هغوی کښې روح نیشته او نه اوری نه وینی او نه پوهیږی دَ دنیا په حال باندے. نو دا رنګ دا کافران هم نه اوری او نه پوهیږی نو ته دوی ته اورول نشې کولے بلکه اورول دَ الله تعالیٰ په قدرت کښې دی. دا آیت هم دلیل دے چه مړی دَ دنیا والو خبرے نه اوری او نه دوی لره پیږنی. دَ دے تشریح په تفسیر دَ سورة روم کښې ذکر کړے شویده.

فائده:۔ مَنْ فِي الْقُبُورِ. په قبر کښې صرف بدان پروت دے هغه بالکل نه اوری او هرچه روح دے نو په قبر کښې نیشته او حیات او اوریدل خو په روح سره کیږی.

س۲۳:۔ دا هم تسلّی ده چه ستا کار انذار دے او اورول ستا ذمه واری نه ده.

س۲۴:۔ دا هم تسلّی ده او تفصیل دَ صفت دَ انذار دے او مراد دَ نذیر نه پیغمبر دے دَ دے وجے نه تیر شوے امت ته ئې ذکر کړل.

مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

چه دَ دوی نه مخکښ وو راغلي وو هغوی ته رسولان دَ هغوی په ښکاره دليلونو

وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ اَخَذْتُ

او دَ وعظ په خبرو او په کتاب رڼا والا سره - بيا او نيول ما

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٢٦﴾

هغه کسان چه کفر ئې کړے وو نو څه رنګه شو عذاب زما

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ

آيا نه ګورے ته چه يقينًا الله تعالیٰ راوړلے دی دَ آسمان دَ طرف نه اوبه

فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ؕ

نو راوباسو مونږ په هغې سره ميوے (غلے) چه مختلف دی رنګونه دَ هغې

وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ ۢ بِيْضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ

او دَ غرونو نه ټکړے سپينے او سرے مختلف دی

اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ

رنګونه دَ هغوی او دَ کارغانو پشان تک تور دی - او دَ انسانانو

٢٥ ـ ٢٦ :- دا هم تسلّي ده او جواب دَ شرط حذف دے يعني (فاصبر،صبر کوه) -
البَيِّنٰتِ مراد دَ دے نه معجزات دی يا ښکاره احکام چه په صرف عقل سره معلوميږی
چه دا صحيح دی يعني عقلي دليلونه - وَالزُّبُرِ واړه کتابونه يعني صحيفے يا دَ وعظ او
نصيحت خبرے - والكِتٰبِ الْمُنِيْرِ مراد ترينه غټ کتاب دے لکه تورات انجيل او نسبت
دَ درے واړو څيزونو ټولو انبياؤ ته دے په طريقه دَ مجموعه سره يعني بعضے انبياؤ
په دے کښ يو څيز راوړے دے او بعضو دوه څيزونه راوړيدی او بعضو درے واړه
راوړيدی لکه موسیٰ عليه السّلام - ثُمَّ اَخَذْتُ په دے سره تخويف دے منکرينوته-
٢٧ :- دا اسم دليل عقلي دے په دے کښ هم اختلاف دَ ثمراتو او اختلاف دَ غرونو
په رنګونو کښ ذکر کوی هر کله چه په تير شوے دليلونو کښ عام خطاب مشرکانو
ته ذکر شو ليکن هغوی ترينه فائده نه اخلی او دَ هغوی تکذيب ذکر کړے شو
نو اوس خاص خطاب کوی نبی صلّی الله عليه وسلّم ته او هغه چاته چه دَ دے

وَالنَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ كَذٰلِكَ ؕ

او د خلقو او ځناورو او څارویو نه مختلف دي رنګونه د هغوی دغه شان

اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ اِنَّ

یقیناً ویریږي د الله تعالیٰ نه د بندګانو د هغه نه عالمان یقیناً

اللّٰهَ عَزِيْزٌ غَفُوْرٌ ﴿۲۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ

الله تعالیٰ زورآور او بخښه کوونکے دے. یقیناً هغه کسان چه لولي

خطاب اهلیت لري۔

فائده :- هرکله چه په میوو او غلو کښې د اختلاف قسمونه بے شماره دي نو صرف اجمالي اختلاف ئې ذکر کړو او په غرونو کښې اختلاف لګ دے. بیا اصول د رنګونو درے دي سپین، سور او تور. بیا د ګډون د سپین او سور نه نور رنګونه هم جوړیږي نو د هغې نه روستو مختلف الوانها ذکر کړل. جُدَدٌ د مختلفو لارو ته وائي او مختلفو ټکړو ته هم وئیلے کیږي. غَرَابِيْبُ سُوْدٌ، سود بدل دے د غرابیب نه ځکه چه غرابیب د غراب نه دے او په غراب (کارغه) کښې بعضے څړ رنګ وي نو په سود سره ئې د هغه وضاحت اوکړو چه دلته تور مراد دي او هرکله چه سپین او سور یو بل سره مناسبت لري او تور د هغې نه ډیر مخالف رنګ دے د دے وجه نه غرابیب ئې جدا ذکر کړو.

ف ۲۸ :- دا یو ولسم دلیل عقلي دے په دے کښې اختلاف د اهل روح ذکر کوي په رنګونو کښې. او هرکله چه مِنْ په معنیٰ د بعض دے نو ضمیر د مذکر ئې په اَلْوَانُهٗ کښې هغې ته راجع کړو او د دے د پاره چه فرق وا ضح شي په مینځ د ذوي الروح او غیر ذوي الروح کښې. اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا دا متعلق د انما تنذر الذین یخشون ربهم سره دے یعنی هرکله چه مثالونه او دلیلونه بیان شول نو سوال پیدا شو چه د دے نه اثر قبولوونکي څوک دي؟ نو په دے جمله کښې د هغې جواب دے چه د تاثیر د قرآن د پاره علم ضروري دے. یعنی خشیت موقوف دے په معرفت د قدر او د شان د مخشي (هغه څوک چه د هغه نه ویره کیدے شي) پورے نبي صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي اني لاعلمکم بالله واخشاکم له. او معرفت د قدر او شان په علم سره دے نو څوک چه د الله تعالیٰ شان، قدر، اسماء او صفتونه نه پیژني نو هغه د الله تعالیٰ نه نه ویریږي اګرچه په خولے

باقي په بل مخ

كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا
کتاب دَ اللّٰہ تعالیٰ او پابندی کوی دَ مونځ او خرچ کوی دَ هغې نه

رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً
چه ورکړے دی مونږ دوی ته پټه او ښکاره امید لری دَ سوداګرئ

لَّنْ تَبُوْرَ ﴿۲۹﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ
چه نه بیکاره کیږی. دَدے دپاره چه پوره ورکړی دوی ته اجرونه دَدوی او زیات ورکړی دوی ته

باندے دعوے دَایمان کوی. دا آیت صریح دلیل دے په فضیلت دَ علم باندے دَهغه عبادت نه چه بغیر دَ علم نه وی.

فائده: - سفیان ثوری رحمۃ اللّٰہ نه ابن کثیر نقل کړیدی چه علماء درے قسمه دی اول قسم عالم بالله وبامرالله یعنی هغه چه دَ اللّٰہ تعالیٰ اسماء او صفات او عظمت شان باندے علم لری اودا په قرآن کریم سره حاصلیږی او هغه چه فرائض او حدود او احکام پیژنی اودا په حدیث او فقه سره حاصلیږی اودا اعلیٰ قسم دے. دویم قسم عالم بالله فقط یعنی دَ اللّٰہ تعالیٰ دَ اسماؤ او صفاتو نه ښهٔ علم لری لیکن دَ احکام او حدود علم ورسره تفصیلی نه وی یعنی په قرآن باندے عالم وی لیکن احادیث او فقه باندے پوره علم نه لری. دریم قسم عالم با مرالله فقط یعنی په احکامو او فرائضو باندے پوره عالم وی لیکن دَ اللّٰہ تعالیٰ اسماء او صفاتو او دَ عظمت نه پوره علم نه لری. نو په دے مقام کښ دَ علماء نه مراد اول او دویم قسم دے چه هغوی دَ اللّٰہ تعالیٰ نه ویره کوی اګرچه اول زیات خشیت لری په نسبت دَ دویم او هرچه دریم قسم دے نو دَ هغه په زړه کښ خشیت نه وی او دَ دے وجے نه هغهٔ علماء چه په فقه او فنون کښ مهارت لری لیکن دَ قرآن او حدیث نه پوره واقف نه وی نو په هغوی کښ شرک او بدعات ډیروی او هغه په تیز دَ اللّٰہ تعالیٰ عالم نه دے.

س ۲۹ :- هرکله چه مخکښ خشیت والا ذکر کړل چه دا علماء دی نو په دے آیت کښ دَ هغوی کردار او بشارت ذکر کوی. يَتْلُوْنَ مراد دَ دے نه دوام دَ تلاوت او دَ درس و تدریس دَ آیاتو دے سرهٔ دَ علم او عمل کولو نه.

فائده: - خشیت عبادت قلبیه دے او تلاوت عبادت لسانیه دے او اقامة الصلوٰة عبادت بدنیه دے او انفاق عبادت مالیه دے. تِجَارَةً مراد ترینه

مِّنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۳۰﴾

دَ فضل خپل نه يقيناً الله تعالىٰ بخښه کوونکے دے قبلوونکے دے.

وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ

او هغه چه وحى در ليږلے ده مونږ تا ته چه کتاب دے

هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۭ

هغه حق دے رشتیا کوونکے دے دَ هغه کتابونو چه دَ دهٔ نه مخکښ دى

اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۳۱﴾ ثُمَّ

يقيناً الله تعالىٰ په بندګانو خپلو باندے خبردار دے ليدونکے دے. بيا

اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۚ

ورکړه مونږ کتاب هغه کسانو ته چه غوره کړے دى مونږ دَ بندګانو خپلو نه

فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ

نو بعض دَ دوى نه ظلم کوونکى دى په ځان خپل باندے او بعض دَ دوى نه ميانه روه دى

رع (نکته) دَ تجارت ده او دا ذکر دے په سورة توبه ۱۱۱ کښ يعنى تجارت يُ الله تعالىٰ لره کړيدے نو دَ هغےَ دَ کټے اوميدونه لرى۔

سنہ ۳۰:۔ دا لام دَ عاقبت دے متعلق دے په يرجون پورے يا لام صله ده دَ فعل پټ يعنى فعلوا ذٰلك لِيُوَفِّيَهُمْ۔ غَفُوْرٌ غټ او وړه ګناهونه بخى او شَكُوْرٌ لګ عمل صالح هم قبولوى يا دا لف نشر مرتب دے۔

سنہ ۳۱:۔ هر کله چه تير شوى آيا تو نو کښ بشارت دَ عالمانو دَ آياتِ الٰهيه ذکر کړو نو په دے آيت کښ دَ آياتِ الٰهيه چه کتاب الله دے دَ هغےَ صداقت او مرتبه ذکر کوى۔ مِنَ الْكِتٰبِ مِن تبعيضيه دے يا بيانيه دے په لفظ دَ مِنْ کښ اشاره ده چه دَ قرآن هر جزء حق دے۔

وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

او بعض دَدوی نه وړاندې کېږي په ښو کارونو سره په توفيق دَ الله تعالیٰ سره

ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿۳۲﴾ جَنّٰتُ

دا چه دے فضل ډير لوے دے۔ باغونه

عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ

دَهيشوالی چه داخلیږي په هغې ته کالی به اچولے کیږي دوی ته دَ بنګړو

مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا

دَ سرو زرو نه او ملغلرے او جامے دَدوی په هغې کښ

سـ۳۲: په دے ایت کښ دَ اصحاب قرآن درے درجے ذکرکوی او هغوی ته بشارت دے۔ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ ثم دَپاره دَ تعقیب ذِکری دے نه دَپاره دَ تراخی دَزمان ځکه چه هغکښ یے دَقرآن نزول ذکرکړے دے او دا دَ هغے تفصیل دے۔
الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا صحابه کرام دی او روستو دَ هغوی تابعداران۔ اَوْرَثْنَا په معنیٰ دَ ورکولو سره دے لیکن په آرث سره تعبیر کولو کښ اشاره ده چه دوی دَ قرآن مستحق دی لکه وارث چه دَ میراث حق داروی۔ او اَصْطَفَاء نه مراد دادے چه دوی له یے توفیق دَدین اسلام دَ منلو ورکړے دے لکه چه كنتم خير امة او كذلك جعلناكم امة وسطا کښ ذکرشویدی فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ دا تقسیم دے په الـذين اصطفينا کښ ضمیر یے راجع دے الذين ته۔ او مفسر قرطبی او خطیب شربینی او نورو مفسرینو حدیث مرفوع نقل کړیے چه دا ټول به جنت کښ داخلیږی۔ او قرطبی دَ شپږ صحابه کرامو نه نقل کړیدی چه دا ټول قسمونه په مؤمنانو کښ دی او مراد دَ ظَالِمٌ نه هغه مؤمن دے چه ګناهونه یے ډیر دی دَ نیک اعمالونه او لِنَفْسِهٖ کښ اشاره ده چه ظلم دَده یل چاته متعدی نه دے یعنی بل څوک مراق ته نه رابلی او مُقْتَصِدٌ نه مراد هغه دے چه ګناهونه او طاعتونه یے برابر دی او سَابِقٌ هغه دے چه ګناهونه یے لږ دی په نسبت دَ طاعاتو او په دے کښ ثعلبی او قرطبی تر شپاړسو پورے اقوال ذکرکړے دی۔ او ظالم یے مخکښ راوړے دے ځکه چه په امت کښ اول قسم ډیر دی دَ دویم نه او دویم ډیر دی دَ دریم نه او یادا ترقی ده دَ ادنیٰ نه اعلیٰ ته۔ بِاِذْنِ اللّٰهِ مراد دادے چه دا مرتبے دَ الله تعالیٰ په تقدیر سره حاصلے شویدی ذٰلِكَ اشاره ده اصطفاء ته یا کتاب ورکولو ته۔

حَرِيْرٌ ﴿۳۳﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىٓ اَذْهَبَ

ريښم دی . او دوی به وائي دَ خدائے مقتونه دی الله تعالیٰ دی هغه ذات چه لرے ئے کړو

عَنَّا الْحَزَنَ ۗ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ۙ ﴿۳۴﴾

زمونږ نه ټول غم يقيناً رب زمونږ ضرور بخنه کوونکے قبلوونکے دے .

الَّذِىٓ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ

هغه ذات دے چه رادنه ئے کړو مونږه کور دَ ديره کيدلو ته دَ وجے دَ فضل خپل نه

لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا

نه به رسيږی مونږ ته په دے کښ هيڅ تکليف او نه به رسيږی مونږ ته په دے کښ

لُغُوْبٌ ﴿۳۵﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ

ستړے والے . او هغه کسان چه کفر ئے کړيدے دوی دَپاره اُور

جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا

دَ جهنم دے فيصله به نه کيږی په دوی باندے (دَ مرګ) چه مړه شی

۳۳ ۳۴ ۳۵ :. په دے ايا تو کښ بشارت دے درے واړه اقسامو ته په بيان دَ لس حالاتو دَ خوشحالئ سره او دَ ايت په اول کښ لفظ دَ لهم مقدر دے يعنی لهم جنات عدن. اَسَاوِرَ په دے تخصيص کښ اشاره ده چه دوی به دَ کارکولو نه فارغ وی ځکه چه په لاسونو کښ کالی دَ هغه چاوی چه بچيله هيڅ خدمت او کار نه کوی. وَلُؤْلُؤًا دا عطف دے په محل دَ اساور باندے او هر کله چه دا دَ ټول بدن سره تعلق لری دَ دے وجے نه دا ئے دَ اساور نه په بلے طريقے سره ذکر کړو. الْحَزَنَ مراد دَ دے نه ټول غمونه دَ دنيا او دَ اخرت دی. غم دَ اور دَ جهنم غم دَ مرګ غم دَ ګناهونو غم دَ حساب غم دَ ميزان غم دَ زوال دَ نعمتونو غم دَ روزئ غم دَ عاقبت. دَارَ الْمُقَامَةِ په دے کښ اشاره ده چه جنت ته رواندے دنيا او قبر او ميدان حشر ټول دَ انتقال ځايونه دی نَصَبٌ ستړے کيدل دَ بدن په محنت يا په مرض وغيره. لُغُوْبٌ ستړے کيدل دَ نفس په غمونو او تکليفونو سره.

۳۶ :. دا تخویف اخروی دے منکر یٖنو لره په درے حالتو نو سره. لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ یعنی په دوی باندے دَ دویم مرګ حکم نشی کیدلے اګرچه دوی به مطالبه کوی و نادوا یا مالک لیقض علینا ربك (زخرف ۷۷) او اشاره ده چه مرګ بغیر دَ حکم دَ الله تعالیٰ نه نشی راتللے.

۳۷ :. دا هم تخویف دے په ذکر دَ غلورو طریقو سره. غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ دا لفظ دلیل دے چه دوی به خپلو عملونو ته صالح وئیل (و یحسبون انهم یحسنون صنعا) او س ورته معلومه شوه چه هغه عملونه صالح نه وو ځکه دا قید یې اولګوؤ. اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ دَ دے نه مخکښ یقال پټ دے یعنی اویه ویلے شی دوی ته په ډیره زور نے سره. مَا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ حدیث دَ بخاری چه چالره الله تعالیٰ شپیته کاله عمر ورکړے دے نو دده هره بهانه یې روکه کړے ده. النَّذِيْرُ مراد دَ دے نه پیغمبر دے یا کتاب الله دے یا هر داعی دَ حق دے یا بوډا والے (سپین ولے دَ ویختو دے).

إِنَّهٗ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿۳۸﴾ هُوَ الَّذِيْ
یقیناً هغه پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو د خلقو کښ دی۔ خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے
جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ فِي الْاَرْضِ ؕ فَمَنْ كَفَرَ
چه جوړ کړے یئے تاسو بویل پسے آبادوونکی په زمکه کښ نو چا چه کفر اوکړو
فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ؕ وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ
نو په هغه باندے به سزا د کفر د هغه وی او نه زیاتوی کافرانو لره
كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ اِلَّا مَقْتًا ۚ وَلَا يَزِيْدُ
کفر کول د هغوی په نیز د رب د هغوی مګر غصه او نه زیاتوی
الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ اِلَّا خَسَارًا ﴿۳۹﴾ قُلْ
کافرانو لره کفر کول د هغوی مګر تاوان۔ ته اُوایه۔

۳۸:۔ دا دریم باب دے تر آخره د سورت پورے په دے کښ درے عقلی دلیلونه دی او طلب د دلیل دے د مشرکانو نه او زجر دے اهل شرک ته او په آخر کښ تخویف دنیوی تفصیلی دے۔ په دے (۳۸) کښ یو وُلسم عقلی دلیل دے په باره د علم غیب د الله تعالیٰ کښ۔ او په دے کښ اشاره ده جواب د مشرکینو ته یعنی الله تعالیٰ عالم دے په دے خبره باندے که تاسو دنیا ته واپس اوګرځوی نو بیا هم تاسو عمل صالح نه کوئے۔

۳۹:۔ دا دولسم دلیل عقلی دے یعنی هر کله چه الله تعالیٰ عالم دے په هر څیز باندے نو د دے وجے نه تاسو له یئے د استعداد موافق خلافت درکړے دے۔ خَلٰٓئِفَ یعنی بو یل پسے آبادوونکی د زمکے یا روستنی امتیان خلیفګان دی د تیر شوؤ امتونو۔ خَلِيْفَه هغه څوک چه نائب وی د بل چا نه په کار چلولو د هغه کښ۔ او هر کله چه الله تعالیٰ نائب ته محتاج نه دے د دے وجے د ابوبکر رضی الله عنه لفظ یا خلیفة الله یئے انکار کړے دے او خلیفة رسول الله صلی الله علیه وسلم یئے غوره کړے دے او دا تفسیر قرطبی کښ ذکر دی۔ فَمَنْ كَفَرَ یعنی خلافت په تاسو باندے نعمت او احسان د الله تعالیٰ دے او سره د دے نه چه چا کفر او ناشکری اوکړه نو وبال د کفر به خاص په هغهٔ باندے وی۔ وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ یعنی څومره چه په کفر کښ ترقی کوی نو دومره د الله تعالیٰ غضب په هغه باندے زیاتیږی د پاڅے په بل مخ

أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ

ایا پوهه یئ تاسو په باره دَ شریکانو ستاسو هغه چه تاسو یئ بلنه کوئ

مِن دُونِ اللَّهِ ۖ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا

بیوا دَ الله تعالیٰ نه او ښایئ ماته چه څه پیدا کړیدی

مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَاوَاتِ

دوی دَ زمکے نه ایا دوی لره برخه ده په آسمانونو کښ

أَمْ آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ

او یا ورکړے دے مونږ دوی ته کتاب تو دوی په ښکاره دلیل باندے دی دَ دغه کتاب نه

بَلْ إِن يَعِدُ الظَّالِمُونَ بَعْضُهُم بَعْضًا

بلکه وعدے نه کوی ظالمان بعض دَ دوی دَ بعضو سره

إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾ إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ

مګر دَ دهوکے . یقیناً الله تعالیٰ راټینګوی آسمانو ته

او دَ غضب الٰهی په سبب دَ دے کافر خسران او تاوان زیاتیږی ځکه چه سرمایه دَ عمر یئ بے ځایه خرچ کیږی. او غضب الٰهی سبب دے او خسران مسبّب دے دَ دے وجے نه غضب یئ په خسران باندے مخکښ راوړے دے.

ف۴ :- په دے ایت کښ زجر دے مشرکینو ته (چه مخکښ ایت کښ په من کفر سره ذکر شول) او طلب دَ دلیل دے په شرک باندے اول دلیل عقلی سفلی دویم دلیل عقلی علوی دریم دلیل نقلی او وحی دَ نازل کړے شوی کتاب نه دا رنګ په سورة احقاف ف۴ کښ هم ذکر دی. دَ سموات سره یئ شرک ذکر کړو خلق یئ نه دے ذکر کړے ځکه چه بره په آسمانونو کښ دَ شرکاؤ دَ خلق هیڅ امکان نیشته هاں دَ برخے دَ تصرف کولو دعوے کیدے شی.

آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا دا دلیل دے چه کتاب الٰهی دلیل کیدے شی بل کتاب دلیل نه دے

بَلْ إِن يَعِدُ الظَّالِمُونَ یعنی دلیلونه نیشته بلکه خالص تقلید دے دَ اکثران په مشرانو ګمراهانو پسے بے دلیله روان دی او ګمراهان (مشرکان) ورله دهوکه ورکوی باطله خبره ورته حقه ښکاره کوی شرک ورته توحید او بدعت ورته سنت ښکاره کوی.

وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَاۚ وَلَئِنْ زَالَتَآ اِنْ

او زمکه د خوځیدلو د ځیل ځائے نه او که چرے دوی او خوځیدال نشی

اَمْسَكَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ اِنَّهٗ

را ټینګولے دوی لره هیڅوک روستو د خوځیدلو نه یقینًا الله تعالیٰ

كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ﴿۴۱﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ

صبر ناک بخښه کوونکے دے . او قسمونه کړے دی دوی په الله تعالیٰ باندے

جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ

پاخه قسمونه ځیل که چرے راغے دوی ته ویره ورکوونکے

لَّيَكُوْنُنَّ اَهْدٰى مِنْ اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ

ضرور دوی به شی هدایت والا د هر یو د امتونو نه

فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ مَّا زَادَهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ۙ ﴿۴۲﴾

نو هر کله چه راغے دوی ته ویره ورکوونکے نو زیات یې نه کړ دوی لره مګر نفرت -

۴۱ :- دا دیارلسم دلیل عقلی دے هر کله چه د معبودان من دون الله عجز او کمزوری بیان شوه نو اوس الله تعالیٰ ځیل عظمت شان بیانوی. اَنْ تَزُوْلَا مفعول له دے یعنی لِئلا تزولا او کراهیة ان تزولا یا مفعول ثانی دے یعنی من ان تزولا یا بدل اشتمال دے د ما قبل نه. وَلَئِنْ زَالَتَآ یعنی که مشرکان اوائی چه معبودان من دون الله تعالیٰ د ځهٔ عذر د وجے نه اول امساک نشی کولے هغه یې الله تعالیٰ ته پریخودلے دے لیکن نور تصرفات کولے شی نو په دے جمله کښ د هغے جواب اوشو او اشاره ده چه د اسمانونو او زمکے زوال د ځپلو ځایونو نه ممکن دے په انشقاق او زلزلے سره. اِنْ اَمْسَكَهُمَا دا جواب قسم دے چه معنیٰ د لام ده او جواب شرط چه اِنْ دے هغهٔ محذوف دے. اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا یعنی د مخلوق د ګناهونو د وجے نه نزدے ده چه اسمانونه او زمکه زائله شی لیکن الله تعالیٰ حلیم دے د مخلوق نه (چه مستحق د عذاب دی) عذاب روستو کوی.

۴۲ :- دا زجر دے په انکار د رسالت او په ماتولو د قسم سره. هر کله چه مشرکین عرب ته معلومه شوه چه یهودیانو او نصاریٰ د ځپلو رسولانو نه انکار کړے دے نو دوی قسم اوکړو چه که چرے مونږ ته رسول راغے ر پاتے په بل مخ)

اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ط

دَ وجې دَ لوئي كولو نه په زمكه كښې (او كوي دوى) ناكاره چلونه ،

وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ط

او نه راګېرېږي ناكاره چل ول مګر حقدار دَ هغې ،

فَهَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ ج

نو انتظار نه كوي دوى مګر دَ طريقې دَ مخكېنو خلقو ،

فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۚ

نو اوبه نه مومې ته طريقې دَ الله تعالى لره بدلېدل

وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾

او هيچرې او به نه مومې ته طريقې دَ الله تعالى لره اوړېدل -

نو مونږ به دَ هغهٔ پوره تابعداري كوؤ - او ربط دَ مخكښې ايت سره دا دے چه يهوديانو ته رسولانو دَ زمكے او اسمانونو دَ امساك (ټينګولو) په باره كښې كوم خبر وركړے وؤ نو دوى بدل كړے وؤ لكه چه تفسير قرطبي كښې دَ تير شوى ايت په تفسير كښې دَ ابن مسعود او ابن عباس رضى الله عنهم نه نقل كړے دى چه هغوى دَ كعب الاحبار نه واورېدل چه اسمانونه دَ يو ملك (فرشتې) په اوګه باندے ګرځي نو هغوى پرے رد اوكړو. إِحْدَى الْأُمَمِ دا اضافت دَ پاره دَ استغراق دے يعني دَ هر يو امت دَ امتونو مخكنو نه چه يهود او نصارىٰ دى - نُفُورًا اشاره ده تشبيه ته دَ اوښانو سره لكه چه يو اوښ دَ مالك نه او تختي او هغه ته رابلي نو دَ دهٔ تختېدل نور هم زيات تيزيږي -

سـ۴۳ :- اسْتِكْبَارًا بدل دے دَ نفورا نه او علت دے دَ پاره دَ نفرت كولو يا مفعول مطلق دے دَ پاره دَ فعل محذوف يعني يستكبرون استكبارا - يا په معنىٰ دَ اسم فاعل دے او حال دے يعني مستكبرين - فِي الْأَرْضِ په دے كښې اشارة چه په كوز مكان كښې چه زمكه ده لوئي كول متضادين جمع كول دى - وَمَكْرَ السَّيِّئِ په دے كښې هم هغه درے احتمالونه دى كوم چه په استكبارا كښې وو او دا اضافت دَ موصوف دے صفت ته يعني مكر ناكاره - مراد دَ دے نه مؤمنانو او نبي صلى الله عليه وسلم سره دهوكے كول او دَ هغوى دَ تكليف وركولو يا

أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ
ایا دوی نه گرځي په ملک کښ چه اوګوری چه څه رنګ
كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوا
شو آخری انجام دَ هغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښ وو او وو هغوی
أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ
ډیر سخت دَ دوی نه په قوت کښ. او نه دے الله تعالیٰ چه بے وسه کړی هغه لره
مِن شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ
هیڅ څیز په اسمانونو کښ او نه په زمکه کښ،
إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿۴۴﴾
یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے قدرت والا دے۔

قتل کولو دَپاره چلوته جوړول یا هغوی ته خیرے کول دی۔ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ یعنی دَ هغې چلونو او دهوکو اثر به واپس په دوی باندے پریوځی او بد دُعائي به واپس په دوی باندے راځی تفسیر قرطبی کښ ویلے دی چه کعب الاحبار یوځل ابن عباس رضی الله عنهما ته اویل چه په تورات کښ لیکلے دی چه من حفر لاخیه حفرة وقع فیها (څوک چه رور ته کنده اوکنی نو دے به پکښ پریوځی) نو ابن عباس رضی الله عنهما ورته اویل چه دا سے په قرآن کریم کښ هم شته او دا جمله یئ اولوستله۔ فَهَلْ يَنظُرُونَ الخ دا تخویف دنیوی دے۔ تَبْدِيلًا او تَحْوِيلًا کښ فرق دے په څو وجوهو سره اوله وجه دا ده چه تبدیل دا دے چه عذاب لرے کړی او نعمت او عافیت راولی او تحویل دا دے چه عذاب کښ تخفیف راولی، دویم فرق دا دے چه څوک طاقت نه لری چه عذاب دَ الله تعالیٰ بدل کړی او دا رنګ طاقت نه لری چه عذاب دَ ځان نه واړوی بل چاته او دریم فرق تبدیل په اجل دَ عذاب کښ او تحویل په صفت دَ عذاب کښ۔

سـ۴۴ :- دا هم تخویف دنیوی دے هرکله چه سنة الاولین یئ ذکر کړو نو په دے ایت کښ دَ هغې نه دَ عبرت حاصلولو طریقه ذکر کوی چه هغه سیل کول او نظر کول دی او تنبیه ورکوی چه دَ الله تعالیٰ سره (یا تے په بل مخ)

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا

او كه چرے نيولے الله تعالیٰ خلقو لره په وجه دَ هغه كارونو چه دوی كړے دی

مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ وَّلٰكِنْ

نه به ئے وو پريخودلے په شا دَ زمكه باندے هيڅ زنده سر ليكن

يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ

روستو كوی دوی لره تر نيټے مقرر پورے نو كله چه راشی نيټه دَ دوی

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ۴۵

پس يقيناً الله تعالیٰ دے بندګانو خپلو لره ليدونكے.

په هيڅ طريقه مقابله نشی كيدلے. ليعجزه دَ دے نه مخكښ خبر دَ كان پټ دے يعنی ماكان الله ضعيفا ليعجزه. او مِنْ شَیْءٍ كښ مِنْ دَپاره دَ استغراق او تاكيد دَ نفی دے.
۴۵: دا هم داخل دے په تخويف دنيوی كښ او هركله چه منكرينو عذاب په تا دے سره طلب كوؤ نو په دے ايت كښ دَ هغے جواب دے. النَّاسَ كدے نه مراد ګناه ګار انسانان دی كه مؤمنان وی او كه مشركان وی. بِمَا كَسَبُوْا يعنی په ټولو ګناهونو دَ دوی چه بوهم ورته نه معاف كوی. او ټول دَ دے وجے نه مراد دی چه په بعض ګناهونو سره په دنيا كښ بعضے عذابونه راځی لكه په سورة روم ۴۱ كښ تير شو بيدای. مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا، انسانان چه دَ زمكے په كوم طرف باندے سكونت كوی نو دَ دے مثال دَ مركوبے (سورلے) دے چه دَ هغے په شا باندے سورلی كيږی نو دے نه ئے دَ دے وجے نه ظَهْر اويل. او دا رنګ دَ دے وجه الارض هم ويلے كيږی ددے وجے نه چه مخ په بدن كښ ښكاره وی نو دا دَ استوګنے حصه دَ زمكے دا او بونه ښكاره ده. مِنْ دَآبَّةٍ كے سوال اوكړے شی چه ګناهونه انسانانو كړے دی نو اثر دَ هغے په دواړو (زنده سرو) باندے ولے پريوځی؟ اول جواب دا دے چه دَ ګناهونو دَ عذاب په وجه سره باران نه كم شی يا بند شی او بوټی هم كم شی او اوچ شی نو دغه زنده سر دَ لوږے او تندے دَ وجے نه مړه شی او دليل دا دے چه بوسړی ويلے وو چه بوظالم په خپل ظلم صرف ځان ته نقصان وركوی نو دَ هغوٰ او تبليغ ته ضرورت نيشته نو ابوهريره رضی الله عنه ورته اويل دروغ دِ اويل قسم په الله تعالیٰ چه زانړے (مرغی) په خپلو جالو كښ دَ ظالمانو دَ ظلم په وجه سره خوارے او تږے شی تو مړه شی. دويم جواب دا دے چه دواب دَ انسانانو دَ پاره لوئے نعمت دے نو دَ انسانانو دَ ظلم په وجه سره دا نعمت په دَ دوی نه واخستلے شی. فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ دَ دے جزاء محذوف ده يعنی چه نيټه راشی نو ټول به مړه شی بيا دَ هر چا په مناسب جزاء وركولے شی بيا دَ الله تعالیٰ علم.

تفسير دَ سورة فاطر په فضل دَ الله تعالیٰ سره ختم شو.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة یٰسٓ :- دَ دے سورت نور نومونه دا دی - سورة قلب القرآن ، سورة المعمّه ، سورة المدافعة ، سورة القاضیة ، سورة العزیزه او سورة العظیمة ،

ربط دَ دے سورة دَ مخکښ سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورة کښ دَ رد دَ شفاعة شرکیه دَپاره عقلی دلیلونه وو نو په دے سورت کښ دلیل نقلی ذکر کوی ، دویمه وجه دا ده چه دَ هغه سورت په آخر کښ تخویف دنیوی ذکر وو نو په دے سورت کښ دَ تخویف دنیوی یو نمونه ذکر کوی . دریمه وجه دا ده چه په مخکښ سورت کښ مسئله ثابت شوه په دلیلونو سره نو په دے سورت کښ تشجیع ورکوی په دعوت باندے او دَ هغې طریقه هم ذکر کوی -

دعویٰ دَ سورت - اثبات دَ صداقت رسول دے عمومًا او په رد دَ شفاعة شرکیه کښ خصوصًا دا دعویٰ په آیت ۳ کښ ده او مقصد دَ دعوے عمومًا په ۶ او دَ دعوے خصوصًا په ۲۳ ۴۳ ۷۵ کښ دے .

خلاصه دَ سورت - په دے کښ درے بابونه دی اول باب تر ۳۲ پورے دے په دے کښ شهادت دَ قرآن ذکر کوی په دعویٰ باندے او مقصد دَ دعوے ذکر کړے دے او زجر او تخویف دے په څلورو آیاتونو کښ بیا بشارت او دلیل عقلی مختصر دَپاره دَ اثبات دَ توحید او قیامت ذکر کوی - بیا دلیل نقلی دے -

تفسیر

۱ - یٰسٓ دا دَ مقطعاتو نه دے لویه فائده په دے کښ تنبیه ده په اعجاز دَ قرآن کریم باندے او دَ بعضو نه نقل دی چه دا په معنیٰ دَ یا سیّد البشر دے لیکن دا چه مشهوره ده چه دا نوم دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم دے نو دا په صحیح روایت سره ثابت نه ده کوم روایت چه قرطبی او ماوردی را وړے دے دَ هغې سند او ضعیف دے .

۲ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيمِ واو دَپاره دَ قسم دے او قرآن کلام الله دے

پاتے په بل مخ

لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳﴾ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴﴾

ضرور دَ رسولانو نه ئې په لارے نیغے باندے.

تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿۵﴾ لِتُنْذِرَ

(نازل کړے دے په تا باندے) نازلول دَ زور اور ذات چه رحم کوونکے دے. د دے دَپاره چه ویره ورکړے

مخلوق نه دے بلکه صفت دَ الله تعالی دے نو دا قسم په مخلوق باندے نه دے.
که څوک سوال اوکړی چه دَ قسم مقصد خو دا وی چه کَ چرے زه دروغژن
یم نو مقسم به ماله نکره او سزا راکړی او دا دَ الله تعالی دَ شان سره نه ځائیږی
جواب دا دے چه صفتونه او کارونه دَ الله تعالی په مخلوق باندے نه قیاس کیږی
قسم دَ الله تعالی دَ تاکید او شهادت دَپاره وی په دعوی باندے په طریقه دَ
دلیل سره. او دارنګ خطیب شربینی په تفسیر سراج المنیر کښ ویلی دی چه دا مجرد
حلف نه دے بلکه دلیل دے په شکل دَ قسم کښ ځکه چه قرآن معجزه او دلیل دے
دَ رسالت دَ رسول صلی الله علیه وسلم. که څوک سوال اوکړی چه دلیل ئې په
صورت دَ قسم کښ دَ څه حکمت دَپاره ذکر کړو خالص دلیل ئې ولے نه راوړو؟ جواب دا دے
چه په دے کښ ډیر حکمتونه دی اول حکمت دا دے چه قسم کول دَ لوئے ذات دَ طرفه
دلیل وی چه مقسم علیه امر عظیم دے نو مخاطب ورته په شوق سره غوږ ږدی،
دویم حکمت دا دے چه دَ عربو هم عقیده وه چه په دروغه باندے قسم کول سبب دَ
تباهۍ دے او نبی صلی الله علیه وسلم په ډیرو حالاتو کښ قسمونه کړے دی
او هیڅ مصیبت ورته نه دے رسیدلے نو معلومه شوه چه دے صادق دے.
دریم حکمت دا دے چه دلیلونه په تیر شوے سورت کښ ډیر بیان شول او دَ هغې
باوجود دوی سخت انکار اوکړو چه هغه دَ سورة فاطر په آیت ۴۲ کښ ذکر دے
نو دَ دے وجے نه رجوع اوکړے شوه قسم ته یعنی دلیلونه دوی ته فائده نه ورکوی
نو قسم کول ضروری شو.
۳:۔ دا جواب قسم او دعوی دَ سورت ده دَ دے وجے نه په اِنَّ او په لام دَ تاکید
باندے مشتمله ده.
۴:۔ دا ذکر دَ صفت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ دویم جواب قسم دے یعنی روستو
دَ وصف دَ رسالت نه بیان دَ مسلک دَ رسول دے او دا دلیل دے چه طریقه او سنت
دَ نبی صلی الله علیه وسلم صراط مستقیم ده.
۵:۔ دا دریم جواب قسم دے او فعل محذوف دے یعنی نُزِّلَ تنزیلا یعنی دَ قرآن

قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ﴿۶﴾

هغه قوم ته چه ویره نه وه ورکړے شوے مشرانو ددوی ته نو دوی بے پرواه دی۔

لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ

یقینًا پوره شوے دے حجت په ډیرو ددوی باندے نو دوی

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۷﴾ اِنَّا جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ

ایمان نه راوړی۔ یقینًا اچول موږ ددوی په ستونو کښ

اَغْلٰلًا فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ مُّقْمَحُوْنَ ﴿۸﴾

طوقونه نو هغه په تر زنو پورے وی نو سرونه ددوی په پورته کړے شوے وی۔

حکمتونه شهادت کوی چه دا د الله تعالیٰ (چه عزیز او رحیم دے) کتاب دے۔ تر دے پورے مرسَل او طریقه د مرسَل او مرسِل ذکر شول۔

ف۶:۔ په دے کښ ذکر د مقصد د رسالت او د مرسَل الیهم دے او په دے کښ اشاره ده چه دا آخری نبی په داسے وخت کښ رالیږلے شوے دے چه اهل دنیا د دهٔ رسالت ته ر د د وجے د غفلت نه) محتاج وو او دا هم د دے پیغمبر عظمت شان دے او داسے په سورة سبا ف۲۸ او سورة سجده ف۳ کښ تیر شویدی۔

ف۷:۔ هرکله چه مقصد د رسالت ذکر شو چه انذار دے نو سوال راغے چه دا تول خلق ولے ایمان نه راوړی نو په دے آیت کښ د هغے جواب کوی په ذکر د مانع سره۔ لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ مراد د دے نه فیصله د عذاب ده چه هغه په سورة هود ف۱۱۹ او سورة صٓ ف۸۵ کښ ده۔ او فیصله د تقدیر ده یا مراد ترینه حجت پوره کول دی په رالیږلو د نذیر سره۔

ف۸:۔ په دے آیت کښ درے توجیهات دی اول توجیه عامو مفسرینو واقعه د ابوجهل او د نورو کافرانو لیکلے ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وهلو او د مانځه او دعوت نه منع کولو کوشش یې کولو نو لاسونه یې د ستونو سره او تختل۔ نو ربط دا دے چه دا یو قسم حجت چه په دوی باندے قائم شو په طریقه د معجزے سره نو دا تفسیر د حق القول دے۔ دویمه توجیه دا ده چه دا یې په قیامت کښ د دے کافرانو حال د عذاب وی نو دا تخویف اخروی شو، دریمه توجیه دا ده چه دا تمثیل دے د مانع د دوی د ایمان راوړلو نه او دویم جواب او وجه د دوی د ایمان نه راوړلو یعنی اغلال په ستونو کښ کنایه ده (رپاتے په بل مخ)

وَجَعَلْنَا مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ

او جوړ وو په مینځ د دوی مخې ته دیوال او د

خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا

دوی نه رسټو ته دیوال نو راګیر په کړو دوی لره نو دوی په

يُبْصِرُونَ ۞ وَسَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ

مینځ ته وینی. او برابر دے په دوی باندے ویره درکول ستا دوی لره

دَ تقلید دَ مشرانو گمراهانو ته بغیر دَ دلیل ته. لکه چه پلن طوق دَ یو انسان سټ ته پروت وی نو سر ئے اوچت وی اولاړے ته کتلے نشی نو تکړے وی اوکله په کنډه کښ غورزیګی نو دارنګ دوی دَ مشرانو دَ تقلید شرکی په وجه سره دَ هدایت نه محرومه دی. فَهِيَ إِلَى الْأَذْقَانِ ضمیر راجع دے اغلال ته یعنی اغلال دومره پلن دی چه دَ زنو پورے تول سټ ئے بند کړے دے یا ضمیر راجع دے لاسونو ته چه دلالت معلومیږی یعنی لاسونه ئے دَ سټو سره په اغلالو کښ بند دی.

س۹:. په دے ایت کښ هم هغه درے توجیهات دی اوله توجیه داده چه کافرانو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَ ویشتلو اراده اوکړه نو الله تعالیٰ په دیوالونو کښ راګیر کړل نو دا معجزانه حجت پرے قائم شو لیکن بیا هم ایمان نه راوړی. دویمه توجیه داده چه دا په جهنم کښ دَ دوی حال وی نو تخویف اخروی دے. دریمه توجیه داده چه دا تمثیل دے اوذکر دَ دریم مانع دے دَ هدایت نه یعنی لکه چه دَ یو انسان مخ او روستو ته دیوال وی نو مخکښ او روستو نشی تللے او سترګے ئے هم پټے وی. دارنګ دَ دوی دَ قیامت باره کښ دیوال دَ شبهاتو دے او دَ دنیا په باره کښ دیوال دَ شهواتو دے نو دَ حق نه راګرځیدلی دی او دَ هدایت نه محروم دی.

که څوک سوال اوکړی چه مخ او شا ته ئے دیوال ذکر کړو نو ښی طرف او ګس طرف ته ئے ولے ذکر نه کړو؟

نو جواب دا دے چه کله ښی طرف یا ګس طرف ته مخ کړی نو بیا هم یو طرف مخے ته شو او بل طرف شا ته شو نو بین ایدیهم او خلفهم دے ته هم شامل دے.

أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾ إِنَّمَا

او ویره نه ورکول دوی لره ایمان نه راوړی ۔ یقیناً

تُنذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ الرَّحْمَٰنَ

ویره ورکوے ته (فائده ناکه) هغه چا ته چه تابعداری کوی دَ نصیحت او ویره کوی دَ رحمان نه

بِالْغَيْبِ ۚ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿١١﴾

په حال دَ نه لیدلو کښې نو زیرے ورکړه دهٔ لره په بخنه او ثواب عزت من ۔

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا

یقیناً موږ په ژوندی کوو مړی او لیکو موږ هغه عملونه چه دوی مخکښې لیږلے دی

وَآثَارَهُمْ ۚ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ

او پستو کارونه دَ دوی او هر څیز راګیر کړے دے موږ

فِي إِمَامٍ مُبِينٍ ﴿١٢﴾ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا

په کتاب ښکاره کښې ۔ او بیان کړهٔ دوی ته عبرت ناکه واقعه

ع ۱ ۱۳ ۱۸

سلا :۔ دا څلورم مانع او جواب دے چه دوی ته دَ عناد او دَ ضد دَوجے ته انذار ورکول او عدم انذار برابر دی۔

سلا :۔ هر کله چه معلومه شوه چه ضد یان عنادیانو ته انذار فائده نه ورکوی نو سوال راغے چه دَ انذار ورکولو څه فائده ده؟ حاصل دَ جواب دا دے چه انابت والو ته فائده ورکوی او دَ هغوی دوه صفتونه یئے ذکر کړیدی یو اتباع دَ قرآن او دویم خشیت دَ رحمٰن. خشیت یئے روستو ذکر کړو نو اشاره ده چه هغه خشیت مراد دے کوم چه دَ قرآن نه حاصلیږی او دوه جزاګانے ذکر کړیدی ۔ کریم دَ دنیا په اجرت کښې ذلت محسوس کیږی او دَ آخرت اجر کښې کرامت او عزت دے۔

سلا :۔ په دے کښې وخت دَ اجر ذکر کوی چه هغه حیات بعد الموت دے او دا دلیل عقلی دے دَپاره دَ توحید ۔ إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَىٰ معنیٰ ظاهری مراد ده دَپاره دَ اثبات دَ قیامت او دَ ضحاک او حسن نه نقل دے چه په دے سره ایمان بعد الکفر مراد دے ۔ وَنَكْتُبُ دا کتابت دَ احیا بعد الموت نه مخکښې دے لیکن هر کله چه مقصد دَ احیاء بعد الموت حساب دَ عملونو دے دَ دے رپاتے په بل مخ)

أَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ إِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۱۳﴾

دَ ښار والو کله چه راغله هغې ته رسولان

إِذْ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا

کله چه اولیږل مونږ هغوی ته دوه کسان نو هغوی ورته دروغژن وویل

وجه نه مقصد ئې په احیاء پسې ذکر کړو. دَ دے کتابت نه مراد کتابت دَ کراماً کاتبین دے چه هغوی اعمال په خپلو صحیفو کښې لیکی. یا دَ کتابت نه مراد تقدیر کښې لیکل دی او مضارع په معنیٰ دَ ماضی ده. مَا قَدَّمُوْا په اول معنیٰ سره مراد دَ دے نه هغه عملونه دی چه انسان کړے وی نو آخرت ته ئې رواندے لیګلے دی او په دویمه معنیٰ سره ما قدموا واخروا مراد دے یعنی ټول اعمال مراد دی.
وَاٰثَارَهُمْ مراد دے نه قدمونه اغستل دی مسجد ته دَ عبادت دَ پاره یا هرهغه قدمونه چه کارِ خیر دَ پاره ئې انسان اخلی. یا مراد دَ دے نه هغه نیک یا بدعملونه دی چه انسان ئې دَ روستو خلقو دَ پاره پریږدی او روستو خلق په هغې باندے عمل کوی تفسیر قرطبی دَ هغې دا مثالونه ویلے دی، عِلم چه دَ هغې تدریس ئې کړے وی یا ئې کتاب تصنیف کړے وی یا ئې وقف کړے وی یا مسجد، مسافرخانه، پُل وغیره ئې جوړ کړے وی دا نیک عملونه دی او دَ بدو عملونو مثالونه دا دی ټیکسونه چه بعضے ظالمانو بادشاهانو په مسلمانانو مقرر کړے وی او لارے چه په هغې کښې مسلمانانو ته نقصان ورکړے وی یا هغه غزل خوانے او دَ لوبو کارونه چه په هغې سره دَ الله تعالیٰ دَ لارے نه خلق منع کیږی. او دا رنګ هره طریقه خائسته یعنی سنت جاری کول یا ناکاره طریقه لکه بدعات ایجاد کول او جاری کول. وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُّبِيْنٍ په دویمه معنیٰ دَ نکتب سره دا تعمیم بعدالتخصیص دے په باره دَ تقدیر کښې او په اوله معنیٰ دَ نکتب سره دا ذکر دَ لیکلو دَ تقدیر دَ هرشئ دے او بیا روستو لیکل دَ ملائکو دی دَ دے وجه ئې أَحْصَيْنَاهُ فعل ماضی راوړه او نکتب فعل مضارع ځکه چه کتابت دَ ملائکو دَ تقدیر نه روستو دے. إِمَامٍ هرهغه څیز ته ویلے کیږی چه په هغې پسے اقتدا کیږی دَ دے وجه نه ئې تورات ته هم امام ویلے دے سورة هود ۱۷ کښې او هر کله چه روستو ټول کارونه دَ تقدیر (دَ لوح محفوظ) تابع دی نو دَ دے وجه نه هغې ته ...
۱۳، دا متعلق دے په لتنذر پورے. دا مثال دَ انذار (تخویف دنیوی) دے او دلیل نقلی دے په توحید باندے او دا رنګ په دے کښې په انذار کولو باندے تشجیع ده سره دَ ذکر دَ طریقې دَ انذار (دعوت) نه. الْمُرْسَلُوْنَ دا اجمال دے دَ دے وجه نه جمع ئې ذکر کړو.

فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا اِنَّآ اِلَيْكُمْ

نو کلک کړه موږ په دريم سره نو دوی اُویل يقيناً موږ تاسو ته

مُّرْسَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ

رالیږلے شوے یو۔ دوی اویل نه يئ تاسو مګر بندګان يئ

مِّثْلُنَا ۙ وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ مِنْ شَيْءٍ ۙ

زموږ پشان او نه دے نازل کړے رحمان هيڅ څيز

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَكْذِبُوْنَ ﴿۱۵﴾ قَالُوْا رَبُّنَا

نه يئ تاسو مګر دروغ وايئ دوی اُویل رب زموږ

يَعْلَمُ اِنَّآ اِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَمَا

پوهه دے چه يقيناً موږ تاسو ته خامخا رالیږلے شوے یو۔ او نیشته

س۱۴:۔ دا دَ اِذْ كَذَّبُوْا نه بدل دے او تفصیل بعد الاجمال دے۔ تیرو شوؤ زمانو کښ یو یو کلی ته به اکثر ډیر رسولان په یو ځائے رالیږلے کیدل. او په دے کښ تسلّی ده رسول اللّٰه صلّی اللّٰه علیه وسلّم ته چه ستا نه مخکښ هم دَ رسولانو تکذیب کړے شوے دے۔

س۱۵:۔ دا تفصیل دَ تکذیب دے په درے طریقو سره. دَ دے نه معلومه شوه چه دَ بشریت دَ رسول نه انکار کول دَ مشرکانو زړه جاهلانه عقیده ده۔
وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ مِنْ شَيْءٍ مراد دا چه په بشر باندے رحمان ذات وحی چرے نه ده رالیږلے یا دَ شَيْءٍ نه مراد وحی دَ توحید ده۔ تَكْذِبُوْنَ یعنی په مسئله دَ توحید او په دعویٰ دَ رسالت کښ تاسو دروغژن يئ۔

س۱۶:۔ رَبُّنَا يَعْلَمُ دا جمله دَ قسم په ځائے باندے قائم ده دَ دے وجے نه دَ يَعْلَمُ مفعول يئ نه دے ذکر کړے او جواب يئ مؤکد کړے دے په لام سره. او دَ دے لام دَ وجے نه دَ یعلم نه روستو اِنَّ په زیر سره راوړے دے۔

عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿١٧﴾ قَالُوْٓا إِنَّا
په موږ باندې مګر رسول ښکاره دی - دوی اُویل یقیناً
تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا
موږ سپېره حاله شو ستاسو دَ وجې نه که چرې منع نه شوئې
لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ
نو سنګسار به کړو تاسو او خامخا ادبه رسیږی تاسو ته زموږ دَ طرف نه عذاب
أَلِيْمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوْا طَآئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ۭ
دردناک - دوی اُویل سپیره والے ستاسو ستاسو دَ وجې نه دَے
أَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ۭ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿١٩﴾
ایا چه تاسو ته نصیحت درکیږی نو انکار کوئې بلکه تاسو قوم یئې دَحد نه تیریدونکی -

۱۷ :- یعنی هرکله چه موږ رسولان یو نو دَ رسول ذمه واری صرف تبلیغ دے که تاسو منل کوئې یا نه کوئې۔

۱۸ :- دا دَ هغوی دَ تکذیب بله طریقه ده یعنی دوی ویل چه ستاسو تبلیغ باطل دے ځکه چه دَ دے دَ وجې نه په موږ باندے بدحالی راغله بیمارے قحط مالی ګرانی دَ نرخونو وغیره. او دا سے نسبت یئې موسیٰ علیه السلام ته هم کړے وو لکه سورة اعراف ۱۳۱ کښ۔ لَنَرْجُمَنَّكُمْ نه په کانړو ویشتل یا کنځل او زورنه کول مراد دی۔ عَذَابٌ أَلِيمٌ نه قتل کول، اندامونه پریکول یا سخت وهل مراد دی۔

۱۹ :- طَآئِرُ دَ انسان مقرر برخے ته ویلے کیږی چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه راځی مراد تری نه بدحالی ده مَعَكُمْ تاسو پورے لازم ده ستاسو دَ ناکاره عملونو دَ وجے نه او هرکله چه دا بدحالی په حکم دَ الله تعالیٰ سره راځی او دَ هغهٔ دَ طرف نه مقرروی دَ دے وجے نه سورة اعراف ۱۳۱ کښ عند الله فرمائیلے دے او هرکله چه سورة اعراف کښ فرعونیانو باندے رد دے او هغوی دَ دیر طغیان دَ وجے دَ عند ایو نو نسبت الله تعالیٰ ته نه منلو نو دَ هغوی په جواب کښ عند الله او ویلے شو او په دَ ایاتونو کښ دے قوم دَ خپلو عملونو سزا نه منله په دے وجے سره دلته معکم او ویلے شو -أَئِنْ ذُكِّرْتُمْ دَ دے جزاء پټه ده یعنی تاسو په تذکیر سره تطیر کوئې یعنی په نصیحت کښ سپیرهٔ والے ګڼئې

وَجَآءَ مِنۡ اَقۡصَا الۡمَدِیۡنَةِ رَجُلٌ یَّسۡعٰی

او راغے دَ لرے طرف دَ ښار نه یو نارینه منډې وهلے

قَالَ یٰقَوۡمِ اتَّبِعُوا الۡمُرۡسَلِیۡنَ ﴿۲۰﴾ اتَّبِعُوۡا

اوئیل ئې اے قومه زما تابعداری کوئے دَ پیغمبرانو تابعداری دَ هغه چا

مَنۡ لَّا یَسۡـَٔلُکُمۡ اَجۡرًا وَّهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ﴿۲۱﴾

چه نه غواړی ستاسو نه هیڅ بدله او هم دوی هدایت والا دی۔

بَلۡ اَنۡتُمۡ په دے کښ تصریح ده چه سبب دَ بدحالے ستاسو اسراف یعنی شرک اوکفر او دَ دین نه خلق منع کول دی۔

فائده:۔ دَ دے ایاتونو نه معلومه شوه چه تَطَیُّرْ یعنی بدحالی بیمارے وغیره په هر انسان دَ هغهٔ دَ عمل دَ وجے نه راځی دَ هغے نسبت مکان یا زمانے ته یا بل سړی ته کول جائز نه دی دَ دے وجے نه رسول الله صلی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی لاطیرة فی الاسلام یعنی اسلامی اصول دادی چه دَ خپلے بدحالے سبب په دَ بل چا عمل یا صفت نه گرځوئے بلکه خپل عمل به دَ هغے سبب گرځے۔

سلا۔۔ دا رنگ په سورة قصص سلا کښ تیر شویدی هغه سورت کښ رجل منکښ ذکر کړے دے او دلته رجل روستو ذکر دے وجه دا معلومیږی چه په هغه سورت کښ حفاظت دَ نبی دے دَ قتل نه او په دے سورت کښ حفاظت دَ انبیاؤ دے دَ تکذیب نه او اول کار ډیر اهم دے په نسبت دَ دویم سره او حفاظت دَ رجولیت (سړیتوب) په وصف سره دے یعنی هغه انسان نر دے چه دَ انبیاؤ حفاظت او ملگرتیا کوی۔ اتَّبِعُوا الۡمُرۡسَلِیۡنَ په اُمتی باندے لازم دی چه دَ نبی تابعدارئے نه خلق رااوغواړی۔

سلا۔۔ دا ذکر دَ دوؤ علتونو دے دَ پاره دَ لزوم دَ اتباع دَ رسولانو۔ اول دَ عوض طمع نه کول دَ انساتانو نه او دا دلیل دَ اخلاص دے او داسے انسان حق هم نه پټوی دوېم اهتداء یعنی په دلیل دَ وحی پسے تلل او دَ وحی موافق عمل کول او دا دلیل دَ حقانیت دے۔

وَمَالِیَ لَآ اَعْبُدُ الَّذِیْ فَطَرَنِیْ وَاِلَیْهِ

او څه دلیل دے زما چه بندګی نه خاص کوؤم د هغه ذات چه ما ئې د اول سر نه پیدا کړے یم او خاص هغه ته

تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۲﴾ ءَاَتَّخِذُ مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً

به اوګرځولے شئ . ایا اونیسم زهٔ سوا د الله تعالیٰ نه نور معبودان

اِنْ یُّرِدْنِ الرَّحْمٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّیْ

که چرے اوغواړی ما لره رحمان ذات څه ضرر نو نه شی لرے کولے زما نه

شَفَاعَتُهُمْ شَیْـًٔا وَّلَا یُنْقِذُوْنِ ﴿۲۳﴾ اِنِّیْٓ

سفارش د دوی هیڅ ضرر او نه دوی ما لره خلاصولے شی . یقینًا زهٔ به

ف۲۲ :- په دے کښ د عوت د ے توحید ته په احسن طریقے سره د دے وجے نه چه د خبرے سر ئې ځان طرف ته شورو کوی د پاره د دے چه مخاطب پرے اونګنړی او د خبرے اخر سر مخاطب ته اړوی . او دا جواب د سوال دے یعنی قوم ورته په زور ته اوئیل چه ته هم د دوی سره ملګرے یې نو هغه جواب اوکړو چه هاں د دوی ملګرتیا پریخودلو د پاره زما څه عذر او دلیل نیشته . او فَطَرَنِیْ کښ دلیل د توحید فی العبادة دے وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ کښ عقیده د بعث بعد الموت ده . په مَالِیَ کښ عدم د مانع ذکر دے او فَطَرَنِیْ کښ مقتضی او سبب ذکر دے او عدم د مانع ممکن پکار دے د وجود د سبب نه او د دے دواړو په جمع کیدلو سره حکم واجب کیږی ۔

ف۲۳ :- مخکښ ایت کښ اثبات د توحید وو او په دے ایت کښ رد د شرک دے او جواب دے د دویم سوال د مشرکانو چه د الله تعالیٰ د معبودیت سره د نورو شرکت هم جائز دے ؟ حاصل جواب دا دے د الله تعالیٰ نه سوا په بل چا کښ وصف د معبودیت نشی کیدے او هغه دوه خبرے دی اول دا چه د الله تعالیٰ ارادے لره په سفارش کولو سره اوګرځوی او دے قسم ته شفاعت قهریه ویلے کیږی چه عقیده او ساتی چه څوک د الله تعالیٰ په نیز داسے محبوب او عزتمند وی چه د الله تعالیٰ ارادے لره بدل کړی یا داسے دوست او محبوب مطلق وی چه الله تعالیٰ د هغهٔ د سفارش منلو ته مجبوره شی او خپله ارادے لره پریږدی دا بو هم نشی کیدے دویم خبره دا دے چه په خپل طاقت او زور سره د الله تعالیٰ اراده بدله کړی او یو انسان لره د الله تعالیٰ د ارادے په خلاف د څه مصیبت نه بچاؤ ورکړی ۔

إِذًا لَّفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ

دا سے وخت کښې خامخا په گمراهۍ ښکاره کښې یم - یقیناً ما ایمان راوړے دے ستاسو په رب باندے

فَٱسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾ قِيلَ ٱدْخُلِ ٱلْجَنَّةَ

نو دا واورئ زما خبره . اُوویلے شو (پس دَ مرګ دَ هغه نه روح ته) داخل شه جنّت ته

قَالَ يَٰلَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

اُوویل هغه هائے افسوس دے چه قوم زما پوهه لرلے -

سك٢٤ :- دا دَ دریم سوال جواب دے هغوی اوویل چه په دے عقیدے لرلو سره هیڅ نقصان نه راځي جواب یې ورکړو چه دا ښکاره ګمراهي ده .

سك٢٥ :- دا دَ څلورم سوال جواب دے چه ته زمونږ مخالفت کښې (رد دَ شرک کښې) ولے دومره کلک یې جواب یې اوکړو چه دا دَ مؤمن دَ ایمان تقاضا ده چه په شرک باندے صریح رد کوی. فَاسْمَعُونِ مراد دَ دے نه فکر کول او دَ ده نصیحت قبولول دی او بل دا تنبیه ده قوم ته چه بیا او نه وا یې چه تا مونږ ته حق نه وو بیان کړے -

سك٢٦ :- اکثر مفسرینو لیکلی دی چه مشرکان په دے سړی باندے راجمع شول تو پونه یې ورباندے اوهل دَ هغه کولمے یې بهر را اووستلے . په کاڼو باندے اوویشتلو. کوهي ته یې او غورځولو ردے خلقو ته اصحاب الرس ویلے کیږی) او په مرګ کښې یې ورله سورے اوکړو او دَ هغه ښار په چوک کښې یې اوېزان کړو- په اره باندے دوه ټکړے کړو دا مختلف اقوال دی مطلب یې یو دے چه شهید یې کړو- او هر کله چه صحیح حدیث سره ثابت دی چه روح دَ شهید په جنّت کښې داخلیږی دَ دے وجے نه اوویلے شو قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ بدن یې په مزکه مړ پروت وو لیکن روح ته یې خطاب اوشو او دَ قِيلَ نه مراد عموم دے یعنې دَ هر طرف نه دَ الله تعالیٰ او دَ ملائکو اوازونه وو چه جنت ته داخل شه -
قَالَ يَالَيْتَ ، په جنت کښې یې دَ قوم دَ ایمان ارمان اوکړو دا دَ ده نهایت اخلاص وو -

بِمَا غَفَرَ لِیْ رَبِّیْ وَجَعَلَنِیْ مِنَ الْمُکْرَمِیْنَ ﴿۲۷﴾

په هغه خبره باندے چه بخښنه پرے اوکړه ماته ربا زما او زه ئے اوګرځولم د کرامت والا نه ۔

وَمَا اَنْزَلْنَا عَلٰی قَوْمِهٖ مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ

او نه دے رالیږلے موږ په قوم د هغه باندے روستو د مرګ د

جُنْدٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا کُنَّا مُنْزِلِیْنَ ﴿۲۸﴾

هغه نه هیڅ لښکر د اسمان نه او نه یو موږ نازلوونکی (په داسے وخت کښ)

ف۲۷:۔ بِمَا غَفَرَ لِیْ مراد د دے نه مسئله د توحید ده چه سبب د بخښش دے او سبب د کرامتونو دے یعنی افسوس دے چه قوم زما په دغه مسئله باندے علم او عقیده لرلے۔ الْمُکْرَمِیْنَ معلومه شوه چه لوے کرامت د توحید په وجه باندے شهادت دے او جنت ته داخیدل دی او دا قول د دهٔ د اُحد د شهیدانو د قول پشان دے چه جنت کښ د دوی ارواح داخل شول نو دوی اویل "یَا لَیْتَ اِخْوَانَنَا یَعْلَمُوْنَ مَا صَنَعَ اللّٰهُ تَعَالٰی بِنَا لِئَلَّا یَزْهَدُوْا فِی الْجِهَادِ وَلَا یَنْکُلُوْا عَنِ الْحَرْبِ" نو الله تعالیٰ او فرمائیل چه زه به ستاسو خبر اورسوم نو د سورة آل عمران آیت د شهداؤ نازل کړے شو۔ او داسے قول د شهداؤ د بیر معونه هم دے "بَلِّغُوْا عَنَّا قَوْمَنَا اَنَّا لَقِیْنَا رَبَّنَا فَرَضِیَ عَنَّا وَاَرْضَانَا"۔

ف۲۸:۔ په دے آیت کښ د هغه قوم هلاکت په سپک والی سره ذکر کوی یعنی الله تعالیٰ فرمائی چه د دوی په هلاکولو کښ زه لښکرو رالیږلو ته محتاج نه ووم دوی د الله تعالیٰ د قدرت په مخکښ د یو وزر حیثیت هم نه لری۔ مِنْۢ بَعْدِهٖ په دے کښ اشاره ده سبب د غضب د الله تعالیٰ ته چه هغهٔ قتل کول د هغه مؤمن وو یعنی الله تعالیٰ د یو مؤحد په بدل کښ ټول قوم تباه کړو۔ وَمَا کُنَّا مُنْزِلِیْنَ یعنی دا زموږ عادت نه دے چه د یو قوم د هلاکولو د پاره لښکرے رالیږو۔ که څوک سوال اوکړی چه په غزوه بدر، احزاب، حنین کښ ئے ملائک رالیږلے دی او هغوی ته ئے جنود ویلے دی جواب دادے چه هلاکول دوه قسمه دی یو د ټول قوم په یو ځل تباه کول نو په دے آیت کښ مراد دادے چه د دے د پاره الله تعالیٰ لښکر نه رالیږی دویم قسم هلاکول د لږو کسانو دی په حالت د جنګ کښ په هغه حالت کښ د نصرت په حیثیت د ملائکو لښکرے رالیږی او الله تعالیٰ حکمتونو والا دے۔

إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ ﴿۲۹﴾ يٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ

نه وؤ هلاکت د دوی مګر یوه چغه ده نو دغه وخت دوی مړهٔ او غورځېدل۔ هائې افسوس دے په دا سے بندګانو باندے

۲۹:۔ په دے ایت کښ عذاب د هغهٔ قوم ذکر دے مفسرینو لیکلی دی چه جبرئیل علیه السلام راغے او د دغه قوم د ښار د دروازے درشلے او نیولے او هیبتناک چغه ئې اوهله په هغے سره هغوی مړهٔ شول په لفظ د وَاحِدَةً او خَامِدُونَ کښ د هغوی سپکوالی ته اشاره ده۔ خَامِدُونَ کښ تشبیه ده د اور مړکیدلو سره یعنی د دوی غُصّه او تکبّر وغیره دا سے مړه کړے شوه لکه اور چه مړ شي او ایرے جوړے شي۔

فائده :۔ اکثر مفسرینو د دے واقعے په باره کښ لیکلی دی چه دغه رسولان د عیسیٰ علیه السلام د طرف نه قاصدان وو۔ او انطاکیه ښار ته ولیږلے شول او بیا ورسره یو سړے (رجل مؤمن) ملګرے شو او هغهٔ شهید کړے شو نو بیا په هغه ښار باندے عذاب د چغے راغے او د دے په تائید کښ یو حدیث هم ذکر کوی چه هغه زمخشري کشاف کښ مرفوع نقل کړے دے " او طبراني هم روایت کړے دے چه سبقیت کوونکی (چه یو رپ د سترګے ئې هم کفر نه دے کړے) انبیاؤ ته هغه درے کسان دی یو شخ علیه السلام موسیٰ علیه السّلام ته سبقیت کړے وؤ او صاحب یٰسٓ عیسیٰ علیه السلام ته او علی رضی الله عنه محمد صلی الله علیه وسلّم ته "۔ لیکن مفسر ابن کثیر په دے باندے رد کړے دے په دیرو وجوهو سره اوله وجه داده چه اذارسلنا الیهم۔ فعززنا بثالث۔ انا الیکم مرسلون او ورپسے جملے ښکاره دلالت کوی چه دوی د الله تعالیٰ د طرف نه رالیږلے شوی وو۔ دویمه دا چه هغوی په دوی باندے په بشریت سره اعتراض کړے وؤ ویلے وو ان انتم الا بشر مثلنا د بنده په قاصد باندے د بشریت اعتراض نشي کیدلے دریمه وجه دا چه تاریخ لیکلی دی چه انطاکیه اول ښار دے د هغه څلورو ښارونو نه چه په عیسیٰ علیه السلام ئې ایمان راوړے وؤ قدس، انطاکیه، اسکندریه، رومیه نو هرکله چه ایمان ئې راوړے وؤ نو بیا ولے هلاک کړے شول او څلورمه وجه داده چه د سورة قصص ایت ۴۳ په تفسیر کښ د اکثر سلفو نه نقل کړے شوی دے چه روستو د انزال د تورات نه په یو امت باندے استیصالی عذاب نه دے راغلے او په دے واقعه کښ خو راتے په یل مخ)

مَا يَأْتِيهِمْ مِّنْ رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ

چه نه راځي دوی ته هیڅ رسول مګر دوی هغه پورې

يَسْتَهْزِءُونَ ۝٣٠ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا

ټوقې کوی . آیا دوی نه ګوری چه څومره هلاک کړي دي موږ

قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ

د دوی نه مخکښې د پیړو نه چه هغوی به دوی ته

لَا يَرْجِعُونَ ۝٣١ وَإِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ

واپس (دنیا ته) نه راځي او نیشته هیڅ یو مګر ټول به

تصریح ده چه هغه قریه (کلے) ټوله هلاکه شوه. او هرچه حدیث دَ طبرانی او دَ زمخشری دے نو هغه حدیث منکر دے دَ هغې په سند کښې حسین بن الحسین الاشقر دے او هغهٔ شیعی او پریخودے شوے راوی دے. نو معلومه شوه چه دا واقعه دَ موسٰی علیه السّلام نه پوانده دَ یو قوم واقعه ده. او کیدے شی چه دَ هغهٔ قوم دَ کلی نوم هم انطاکیه وؤ.

ست۳ :- یا حسرة علی العباد دلته سوال دا دے چه حسرة دَ الله تعالیٰ دَ شان سره مناسب نه دے ځکه چه حسرت پښیمانه کیدل او سترے ولے ښکاره کول دی په یو غیر مناسب کار کولو باندے نو دَ دے دیر جوابونه دی اول جواب دا چه حسرة په معنٰی دَ ویل او دَ هلاکت دے دا دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه یو روایت دے،

دویم جواب دا اختیار دے دَ حسرة دَ بندګانو نه په خپلو ځانونو باندے یعنی په دلے وخت کښې بندګان په خپل انکار او تکذیب باندے افسوس نه کوی.

دریم جواب، عباد نه مراد انبیاء علیهم السلام دی کافرانو او ویل هائے افسوس دے چه موږ دَ دے بندګانو تکذیب وکړو. څلورم دا قول دَ ملائکو دے پنځم دا قول دَ هغهٔ درے رسولانو دے لیکن دَ ملائکو او دَ رسولانو افسوس دَ هغه خلقو په انکار کولو باندے دے لکه چه وروستو جمله کښې "مَا يَأْتِيهِمْ مِّنْ رَّسُولٍ اه" ذکر دے ځکه چه دَ هغوی په عذاب باندے افسوس کول منع دی لکه فلا تأس علی القوم الکافرین سورة مائده ست۶۸.

ست۳۱ :- دَ دے آیت نه دویم باب دے تر سلک پورے په دے کښې اول زجر دے بیا لس عقلی دلیلونه دی تر ست۴۴ پورې او په دیکښې درے قسمه زجرونه دی.

ع۱ زجر بالاعراض ع۲ زجر بالاستهزاء ع۳ زجر با نکار الحشر. بیا تخویف اخروی

لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ

زموږ مخې ته حاضر کړے شي. او لوے دلیل د توحید د دوی دپاره زمکه

الْمَيْتَةُ ۖ اَحْيَيْنٰهَا وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا

وچه ده چه تازه کړو موږ هغه او را اوباسو د هغې نه دانے

فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ

نو بعض د هغې نه دوی خوري. او پیدا کړي دي موږ په دے کښې باغونه

مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا

د کجورو او انګورو نه او بهولے دي موږ په هغې کښې

مِنَ الْعُيُوْنِ ﴿۳۴﴾ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ

د چینو نه دپاره د دے چه اوخوري څه میوے د هغې نه

دے د ۳۱ نه تر ۴۸ پورے او په مینځ کښې بشارت دے او اخر کښې د یو شبهے جواب دے چه تعلق لري د ابتداء د سورت سره. په دے (۳۱) کښې زجر دے سره د تخویف دنیوي نه او دا ایت بنکاره دلیل دے چه کوم خلق مړه شو یدي هغوی دنیا ته واپس نه شي راتللے لکه چه سورة مؤمنون ۱۰۰ او سورة انبیاء ۹۵ کښې تیر شویدي.

۳۲:. دا تخویف اخروي دے. اِنْ نافیه دے كُلٌّ لَّمَّا مبتدا ده په معنیٰ د اِلّا سره دے جَمِيْعٌ خبر اول دے په معنیٰ د مجموعون دے.

۳۳:. دا ایت او د دے نه روستو تر ۴۴ پورے دلیلونه دي دپاره د رد د شفاعت شرکیه او دپاره د اثبات د حشر هم دي. او په دے دلیلونو کښې نعمتونه ذکر کوي حَبًّا دانے د غنمو، اوربشو، جوارو، رودنو وغیره چه د غذا سره تعلق لري.

۳۴:. په دے ایت کښې هغه نعمتونه ذکر کوي چه د میوو سره تعلق لري او په مخکښې ایت کښې او په د باران ذکر کړے وے او په دے ایت کښې او په د چینو ذکر کړے دي او دا احسن ترتیب دے. نَخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ دا دوه قسمونه په عربو کښې ډیر وو او نخیل یې د دے وجے نه مخکښې راوړو چه په هغې کښې فائدے ډیرے وي غذا هم ده فاکهه هم او دا رنګ د هغې لرګي پا نړے پوستکي سانګے او میوے بسر او رطب او تمر ټول نعمتونه فائدو والا دي او زینت

وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ۭ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۵﴾

او نه دی جوړ کړی دے لره لاسونو دَ دوی تو آیا شکر نه کوی دوی.

سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا

پاکی ده دَ هغه ذات چه پیدا کړیدی قسمونه ټول

مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا

دَ هغه نه چه راټوکوی یئے زمکه او دَ نفسونو دَ دوی نه او دَ هغه څیزونو نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚ

چه دوی نه پوهیږی په هغے باندے. او لوے دلیل دَ توحید دوی دَ پاره شپه ده

هم په کښې دا دے چه یا تړے یئے نه غور زیګی. وَفَجَّرْنَا په ځ دَ زمکه باندے بعضے اویه او دَ زمکے په باطنی رګونو کښې اویه چلول دے دواړو ته دا لفظ شامل دے فِيْهَا ضمیر زمکے ته یا جَنّٰتٍ ته راجع دے.

۳۵:- مِنْ ثَمَرِهٖ ضمیر په تاویل دَ مذکور سره جَنّٰتٍ یا دواړو ته راجع دے یا الله تعالیٰ ته راجع دے وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ مَا موصوله دے او عطف دے په ثمره باندے او مراد ترینه هغه رس جوس او مشروبات دی کوم چه دَ میوؤ سته جوړیږی او دوډئے او تیل وغیره چه دَ دا تو ته راؤباسی یا ما نافیه دے او رد دے په مشرکینو باندے یعنی دا میوے خو انسانانو او الهو باطلو دَ دوی نه دی جوړے کړی.

۳۶:- دا بل دلیل عقلی دے سره دَ دعوے دَ توحید نه په لفظ دَ سبحان سره په تیر شوے آیاتونو کښې صرف پیدائش دَ زمکے دَ اشیاؤ یئے ذکر کړے دے او په دے کښې دَ هغے ازدواج او انواع ذکر کوی. الْاَزْوَاجَ جمع دَ زوج ده قسم ته ویلے کیږی او مراد ترینه اختلاف دَ رنګونو شکلونو او خوندونو دے او دے اختلاف ته ازدواج ویلے کیږی یا مراد دے نه نر او ماده دی ځکه چه علم النباتات کښې ثابت کړے شویده چه په ټولو بوټو کښې نر او ماده شته او آیت دَ سورة ذاریات ۴۹ هم په دے باندے دلیل دے.

وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ په اوچه او دریابونو او زمکه او آسمانونو کښې داسے مخلوق شته چه دَ انسانانو په علم کښې نیشته بلکه دَ ملائکو په علم کښې هم نیشته.

۳۷:- دا یل دلیل عقلی دے تیر شوے دلیلونوکښ نعمتونه مکانی اوسفلی وو، او په دے کښ نعمتونه زمانی وسطی ذکر کوی او په آیة ۷۳ سره ئے ذکر کړو ځکه چه دا په توحید باندے ښکاره دلیل دے۔ نَسْلَخُ سلخ په اصل کښ پوستکے ویستل دی دَ ذبح کړے شوے خاروی نه نو دا ئے په طریقه دَ تشبیه سره ذکر کړے دے یعنی شپه پښتان دَ بدن دَ خاروی ده او ورځ دَ هغه دَ پاسه پښتان دَ څرمن ده۔ په دے کښ شپه اصل اوګرځوله ځکه چه ظلمت عدمی دے او اصل په ممکناتو کښ عدم دے اودَ دے وجہ نه شپه دَ ورځے نه مخکښ حسابیګی دَ میاشتو په حساب کښ۔ مُّظْلِمُوْنَ په تیاره کښ آرام حاصلیږی او دَ قیام اللیل لذت په کښ حاصلیږی نو دا ئے هم په نعمتونو کښ ذکر کړو۔

۳۸:- دا یل دلیل عقلی دے او دا ذکر دَ مسبّب ظاهری دے روستو دَ مسبّب نه یعنی سبب ظاهری دَ شپے اودَ ورځے ګردش دَ نمر او سپوږمۍ دے۔

لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا، مراد دَ دے نه تحت العرش دے یا وخت دَ راښکاره کیدلو دَ نمر دَ مغرب نه چه هغه قریب دَ فناء دَ دنیا دے او په دے دواړو باندے حدیث صحیح دلیل دے (تنبیه) سوال، حدیث دلالت کوی چه دا شمس سجده کوی لاندے دَ عرش نه بیا اذن طلب کوی دَ الله تعالیٰ نه نو اذن ورته کیدے شی او حال دا چه حسًا او عقلًا معلومیږی چه دا شمس په هیڅ ساعت کښ حرکت نه پریږدی بلکه هروخت روان دے اګرچه دَ یو علاقے نه غائب شی لیکن په بله علاقه کښ غائب نه وی نو دَ دے حدیث څه مراد دے؟ جواب دا دے چه سجده دَ شمس دَ حرکت دَ هغه سره منافات نه لری په حال دَ حرکت کولو کښ هم تابع دَ حکم دَ الله تعالیٰ دے۔ اودَ اذن طلب کولو نه مراد دا دے چه په هره لمحه کښ په اذن دَ الله تعالیٰ سره روان دی۔

وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ

مقرر کړي دي مونږه منزلونه تر دے چه واپس اوګرځی پشان دَ څانګے دَ کجورے

الْقَدِيْمِ ﴿۳۹﴾ لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَا

زړے ۔ نه دے نمر چه اسان شی هغه لره

اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ

چه رسکاے کړی سپوږمۍ او نه شپه مخکښ کیدونکے ده دَ ورځ نه

وَكُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۴۰﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمْ

او ټول په ځائے دَ ګرځیدلو کښ لامبو وهی ۔ او لوے دلیل دَ توحید دَ پاره دَ دوی

ف۳۹ ۔ دا یل دلیل دے مَنَازِلَ هره شپه چه سپوږمۍ په جدا جدا ځائے کښ شکاره کیږی نو هغې ته منازل ویلے کیږی او هغه اته ویشت[۲۸] دی او که میاشت دَ دیرشو دی نو دوه شپے دا سپوږمۍ پټه وی او که دَ یو کم دیرشو وی نو یوه شپه پټه وی ۔ حَتّٰی عَادَ یعنی دَ اولے شپے نه دَ دے شورو اوشی نو په څوارلسمه شپه یاندے کامله شی نو بیا په نقصان کښ شورو شی نو په اخر کښ پشان دَ اول حال اوګرځی ۔ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ خانګه دَ کجورے چه زړه شی او اوچه شی نو نرۓ اوکږه او زیړه شی نو دارنګ سپوږمۍ هم اوګرځی ۔

ف۴۰ ۔ دا یل دلیل دے مراد دا دے چه دَ شپے او ورځے او دَ نمر، سپوږمۍ نظام نه بدلیږی ۔ په ایت کښ درے جملے دی دَ اولے جملے مطلب دا دے چه دَ سپوږمۍ رفتار تیز دے عو هغې ته نشی رسیدلے نو اشاره شوه چه ورځ په شپه باندے سبقیت نشی کولے په داسے طریقه چه دواړه په یو وخت کښ راجمع شی ۔ او دَ دویمے جملے مطلب دا دے چه شپه دَ ورځے سره نشی جمع کیدلے (سوال) که اویلے شی چه پکار وو چه داسے یۓ ویلے وے چه وَلَا الْقَمَرُ يُدْرِكُ الشَّمْسَ؟ (جواب) سپوږمۍ په خپل رفتار کښ دَ نمر نه مخکښ کیدلے شی لیکن دَ هغې دَ وجے نه دَ شپے دَ ورځے اختلاط نه راځی دَ دریمے جملے مطلب دا دے چه نمر او سپوږمۍ دواړه حرکت او رفتار کوی او فَلَكٍ نه مراد (مدار) ځائے دَ ګرځیدلو دَ دوی دے او هغه دَ اسمانونو نه خکته دے او کوم ایاتونو کښ چه فی السماء راغلے دے نو مراد دَ هغې نه دا دے چه دا نمر، سپوږمۍ دَ اسمان په طرف کښ دی او داسے په سورة انبیاء ف۳۳ کښ هم تیر شویدی ۔ فلك ماخوذ دے

یاتے پرین

أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿۴۱﴾

دا چه اوچتو موږ نسل د دوی په کشتئ ډکه کښې

وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِ مَا يَرْكَبُونَ ﴿۴۲﴾

او پیدا کړیدی موږ د دوی دپاره د هغې په شان هغه څیزونه چه دوی سورلی کوی په هغې باندې

وَإِن نَّشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ

او که چرې او غواړو موږ نو غرق به کړو دوی لره نو نه به وی فریادرس دوی لره

وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ ﴿۴۳﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا

او نه به دوی خلاص کړې شی مګر د رحمت د وجې نه او فائدې ورکول

إِلَىٰ حِينٍ ﴿۴۴﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا

تر یو وخت پورې . او کله چه اُویلې شی دوی ته ځان بچ کړئ

د فلکة المغزل نه هغه سرخ ته ویلې کیږی چه په هغې سره د مالوچو او وړئ نه تارونه جوړیږی د هغې حرکت چاپیره وی نو معلومه شوه چه د نمر سپوږمئ حرکت هم چاپیره دے۔

سلم ۴۲ :- دا بل دلیل عقلی دے او نعمت د دریابونو ذکر کوی روستو د اوچې نه ذُرِّيَّتَهُمْ تمام نوع انسانی ته ویلې کیږی که مشران وی او که اولاد وی مذکروی او که مؤنث وی۔ او مراد د دے نه نوح علیه السلام او د هغه ځامن دی چه په کشتئ کښې بچ کړے شوے وو د طوفان نه او د مِّثْلِهِ نه مراد کشتئ او لا بچونه وغیره دی د پاره د روستو خلقو۔ یا مراد د ذریة نه مطلق مشران دی او د فلك مشحون نه مراد مطلق کشتئ دی او د مثله نه مراد د سورلئ اسباب دی که په اوچه کښې وی او که په لوندہ کښې وی۔

سلم ۴۳ :- مقصد په دے کښې رد دے په شفاعة شرکیه باندے صَرِيخَ په معنیٰ د فریاد رس او د مغیث او غوث دے۔

إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا دا استثناء ده په تقدیر سره یعنی بچ کوو موږ دوی لره د وجې د رحمت نه یعنی په الله تعالیٰ باندے د دوی بچ کول واجب نه دی او نه په کښې د الله تعالیٰ فائده ده۔

مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ

دَ هغه عذاب نه چه مخکښ ستاسو دے او هغه چه روستو ستاسو دے دَ پاره دَ دے چه

تُرْحَمُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ

په تاسو باندے رحم اوکړے شی - (نو دوی مخ واړوی) او نه راځی دوی ته هیڅ نښه دَ

اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۴۶﴾

نښو دَ رب دَ دوی نه مګر دوی دَ هغے نه مخ ګرځونکی دی -

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ

او کله چه اُوېلے شی دوی ته خرچ کوئ دَ هغے نه چه درکړے دے تاسو ته الله تعالیٰ

قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

وائی کافران په باره دَ مؤمنانو کښ

اَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗ

آیا خوراک ورکړو مونږ هغه چاته که غوښتلے الله تعالیٰ نو خوراک به ئے ورته ورکړے دَ

۴۵ تا ۴۶ :- دا زجر دے په اعراض کولو دَ دوی دَ عمل دَ تقویٰ او دَ آیاتو نه. یعنی دَ عذاب دَ ویرے نه هم ایمان نه راوړی او دَ آیت او معجزے په لیدلو سره هم ایمان نه راوړی ربط دَ مخکښ سره دا دے چه دَ عذاب دَ غرق نه خو دَ الله تعالیٰ په رحم سره نجات حاصلیږی لیکن دَ عام عذابونو نه نجات او سبب دَ حصول رحمتِ خاصه تقویٰ ده -

مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ دَ اول نه مراد عذاب دَ دنیا دے پشان دَ عذاب دَ تیر شوے قومونو مکذّبینو او دَ دویم نه عذاب دَ آخرت دے دویم قول دَ دے برعکس دے او دَ اِذا جزا محذوف ده چه اعرضوا دے په قرینه دَ دویم آیت سره -

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٧﴾

نه یئ	تاسو	مګر	په	ګمراهئ	ښکاره کښې

ف ۲۹: دا دویم زجر دے په انکار دَ دوی دَ امر دَ الله تعالیٰ نه په باطل علت سره أَنفِقُوا مراد دَ دے نه انفاق شرعی دے یعنی دَ الله تعالیٰ په نوم سره په مسکینانو باندے خرچ کوئ دَ غیرالله په نوم په منجوړانو دَ بتانو او دَ قبرونو باندے خرچ مه کوئ ځکه چه هغه انفاق نه دے بلکه اسراف دے او عام مسکینان په مکه معظمه کښې په هغه وخت کښې مؤمنان وو نو معلومه شوه چه دا امر دے په توحید سره په عبادتِ مالیه کښې صرف په صدقه ورکولو سره مشرک مخاطب نه شی کیدے۔ قَالُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ په دے قول کښې درے احتمالونه دی اول دا چه استهزاء ده یعنی دوی دَ مؤمنانو نه اوریدل چه الله تعالیٰ رازق دے او دا رنګ اوریدل ئې چه مؤمنان هرڅه دَ الله تعالیٰ په اراده پورے معلق کوی نو دوی اویل چه ستاسو دَ قول مطابق چه الله تعالیٰ دَ دوی دَ فقیرئ اراده کړے ده او هغه ورله روزی نه ورکوی نو مونږ ورله څه رنګه ورکړو۔ دویم احتمال، ابن عطیهؒ ویلے دی چه دوی اقرار کولو دَ موافقت دَ الله تعالیٰ سره چه الله تعالیٰ چاله روزی نه ورکوی نو مونږ هم نه ورکوو دَ یو بانړی واقعه ده چه هغه به ساړیه اوښان په څه وخو او شنه زمکه کښې سَرَول او خوار اوښان به ئې په شاړه او اوچه زمکه کښې سَرَول چا ترینه دَ دے په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه ورته اویل "چه اکرام کووم دَ هغې چه الله تعالیٰ ورته اکرام ورکړے دے او بے عزتی کوؤم دَ هغې چه الله تعالیٰ بے عزتی ورکړے ده" او دا قول دَ دوی جهل دے ځکه چه الله تعالیٰ ابتلاء او امتحان کوی دَ بندګانو خپلو په امر دَ انفاق سره دریم احتمال قرطبی وغیره لیکلے دے چه دا قول دَ دوی فی نفسه صحیح دے لیکن حجت نیول په دے سره غلط کار دے او دَ قبیلې (کلمة حق ارید بها الباطل) دَ دوی مقصد صرف بخل او شومتیا کول وو دَ الله تعالیٰ په مشیت باندے رضا ښکاره کول دَ دوی مقصد نه دے۔ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ دا قول دَ کافرانو دے مؤمنانو ته یعنی تاسو دَ الله تعالیٰ دَ ارادے خلاف کوئ او مونږ ته دَ الله تعالیٰ دَ مقابلے کولو حکم راکوئ نو تاسو ګمراه یئ یا دا قول دَ الله تعالیٰ دے کافرانو ته چه دا قول ستاسو دَ وجے دَ ګمراهئ نه دے ځکه چه تاسو دَ الله تعالیٰ دَ حکم نه انکار کوئ (پاتے په بل مخ)

وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ

او دوی وائی چه کله به وی دا وعده که چرے تاسو یئ

صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ مَا يَنْظُرُوْنَ اِلَّا صَيْحَةً

رشتنی ۔ انتظار نه کوی دوی مګر دَ چیغے

وَّاحِدَةً تَاْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ ﴿۴۹﴾

یوے چه اونیسی دوی لره او دوی په جګړے کوی ۔

فائده :۔ امر دے په صیغه دَ انفقوا سره او دَ دوی انکار ذکر دے په لفظ انطعم سره دَ دے وجه داده چه انفاق عام دے او اطعام په هغے کښ یو خاص اهم فرد دے نو په دے کښ اشاره ده دَ منکرینو ډیر بخل او خساست ته چه عام انفاق خو نه کوی لیکن دَ هغے معمولی فرد چه خوراک ورکول دی هغه هم نه کوی۔

۴۸ :۔ دا دریم زجر دے په انکار کولو دَ بعث بعد الموت سره او متعلق دے دَ ما بین ایدیهم او ما خلفهم سره ۔

۴۹ :۔ هر کله چه دَ دوی دا سوال عنادی وو نو جواب ورکوی په ذکر دَ هیبت دَ ورځ دَ فنا سره ۔ صَيْحَةً وَّاحِدَةً مراد دَ دے نه اوله شپیلئ وهل دی دَ پاره دَ فنا دَ ټول عالم او وَاحِدَةً نه مراد دے په یو ځل سره شپیلئ وهل او فنا کیدل دا نه چه دویمه نفخه نیشته ۔ او دَ هیبت دَ پاره یئ صیحه ذکر کړے ده په ځائے دَ نفخه بائدے وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ یعنی دوی به دَ دنیا په خیزونو کښ بحثونه او جګړے کوی نو په ته او یا سی حدیث مرفوع کښ وارد دی "قیامت به قائم کیږی په داسے حال کښ چه دوه سړو به یو کپړه خوره کړے وی او سودا به کوی نو را نغښتلے به یئ نه وی چه قیامت به قائم شی" او یو سړی به یو اخور دَ اوبو بائدے دَ څښے یا سیمنټو پلستر کړے وی لیکن څاروی به ترینه اوبه کړے نه وی چه قیامت به قائم شی او یو سړی به تله کوزه نیولے وی لا او چته کړے یه یئ نه وی چه قیامت به قائم شی او یو سړی به نوړئ دَ خوراک خولے ته پورته کړے وی لا تیره کړے به یئ نه وی چه قیامت به قائم شی "

فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَّلَآ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ

تو دوی به نه لری د وصیت کولو او نه به خپلې کورنۍ ته

يَرْجِعُونَ ﴿٥٠﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُم

واپس کیدے شی . او پوکے به ورکړیشی په شپیلۍ کښې نو دغه وخت به دوی

مِّنَ الْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾

د قبرونو نه خپل رب طرف ته ورزغلیږی .

قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَن بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا ۜ

دوی به وائی هائے تباهی ده چا اوچت کړو مونږ د ځائې د سملاستو ځمونږ نه

هَٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ ﴿٥٢﴾

دا هغه وخت دے چه وعده ئې کړے ده رحمان او رشتیا وئیلې وو رسولانو .

سن۵۰ ۔ مقصد دا دے چه هغه ځائې کښې به سمدستی مړه شی کوم ځائې کښې چه دوی معاملې کوی مهلت دوی ته نه ملاویږی .

سن۵۱ ۔ تخویف اخروی تفصیلاً ذکر کوی . په دے آیت کښې د دویمې شپیلۍ ذکر دے چه هغه د پاره د بعث بعد الموت ده او حدیث مرفوع کښې راغلی دی چه د دوارو شپیلو ترمینځ په څلویښت کاله فاصله وی .

سن۵۲ ۔ مَرْقَدِنَا رسوال) مرقد ځائې د خوب ته وئیلې کیږی نو معلومه شوه چه په دوی باندے په قبرونو کښې هیڅ تکلیف او عذاب نه وو او حال دا دے چه ډیر نصوص دلالت کوی په عذاب قبر باندے نو اول جواب دا دے چه د ابن عباس رضی الله عنهمانه روایت دے چه عذاب د قبر تر اولې نفخې پورے دے بیا تر دویمې نفخې پورے عذاب نیشته دویم جواب دا دے چه مرقد په معنیٰ د ځائې د مرګ دے په طریقه د مجاز سره چه خوب رور د مرګ دے دریم جواب دا دے چه د قیامت هیبتونه په دوی باندے دومره زیات شول چه عذاب د قبر دوی ته د هغې په مقابله کښې آرام ښکاریږی . هَٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ دا قول د الله تعالیٰ یا د ملائکو دے یا قول د منکرینو دے په طریقه د اعتراف جرم سره وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ معلومه شوه چه بعث بعد الموت د ټولو رسولانو دعوت دے .

إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَإِذَا هُمْ
نه ده دا مګر چغه يوه نو دغه وخت به دوی

جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿۵۳﴾ فَالْيَوْمَ
ټول زموږ په مخکښې حاضر کړے شی - نو نن ورځ

لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَّلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا
ظلم به نشی کیدے په هیڅ نفس باندے هیڅ او نه به جزا درکیدلشی تاسو ته مګر

مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۵۴﴾ إِنَّ أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ
هغه چه تاسو کوم عملونه کول - یقینًا جنتیان به

الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فٰكِهُونَ ﴿۵۵﴾ هُمْ
نن ورځ په مشغولتیا کښې دی خوشحاله به وی - دوی

وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلٰلٍ عَلَى الْأَرَآئِكِ
او د دوی بیبیانے به سورو کښې دی په پالنګونو باندے

مُتَّكِـُٔونَ ﴿۵۶﴾ لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَّ
تکیه د هونکی - دوی ډپاره په هغے کښې میوے دی او

سـ۵ه سـ۵۴ :- په دواړه اياتونو کښې ذکر د احوالو د قيامت دے كَانَتْ ضمير د نفخة ثانيه ته راجع دے چه لفظ د نفخ په هغے باندے دلالت کوی۔
۵۵ ۵۶ ۵۷ سـ۵۸ :- په دے اياتونو ذکر د بشارت دے مؤمنانو لره په اول ايت کښې مزے د نعمتونو او په دويم ايت کښې ذکر د ارام او د راحت د ژوند او په دريم ايت کښې ذکر د خوراکونو او په څلورم کښې ذکر د سلامونو دے فِي شُغُلٍ دا لفظ عام دے هغه ټولو لذتونو نعمتونو ته شامل دے چه مشغولوی به دوی لره د دنيا د نعمتونو او د اُوروالو نه اګرچه د دوی اقرباء (خپلوان) وی فَاكِهُونَ تفسير دے د شغل يعنی دا مشغولا د غمونو د وج نه نه ده بلکه د مزو د وج نه ده. ظِلَالٍ کنايه ده د ډير راحت او ارام نه۔ اَرَآئِكَ اريکه پالنګ د ناوے ته ويلے کيږی۔ مُتَّكِـُٔونَ اشاره ده چه دوی به فارغ وی د محنت کولو نه (اتکاء) مائل کيدل دی په يو اړخ باندے

لَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿۵۷﴾ سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ
دوی لره هغه څیز دے چه دوی غواړی - سلام دے ویلا به کیږی د طرف د رب
رَّحِيْمٍ ﴿۵۸﴾ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۵۹﴾
رحم والا نه - (اوبه ویلے شی) او جدا شئ نن اے مجرمانو -
اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اَنْ لَّا
آیا ما مخکښ له نه ده کړے تاسو ته اے اولاد آدم چه مه کوئ
تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۶۰﴾
بندګی (په طاعت کولو بے دلیله) د شیطان یقیناً هغه تاسو لره دشمن ښکاره دے -

سرهٔ د اعتماد نه په یو څیز باندے یا کیناستل په طریقه د پرلت وهلو سره.
فَاكِهَةٌ نکره ده د پاره د ډیر قسمونو د میوؤ او په دے کښ اشاره ده چه خوراک
به د تفکه (مزے) د پاره کوی د لوږے د وجے نه به نه کوی يَدَّعُوْنَ په معنیٰ د
تمنّا او د اشتهاء سره دے سَلٰمٌ مبتدا ده خبر ئے حذف دے یعنی لهم سلام
یا بدل دے د لفظ د مَا نه یا صفت دے د مَا يَدَّعُوْنَ او په معنیٰ د مسلّم او خالص سره.
سنه ۵۹ :- د دے ایت نه تر سنه ۶۵ پورے تخویف اخروی دے . او دلته دا لفظ محذوف
دے ویقول للکفرة او اوبه وائی کافرانو ته جدا شئ اے مجرمانو.
اَلْيَوْمَ د دے وجے نه او یل چه په دنیا کښ دوی مخلوط وو مسلمانان او کافران
نو آخرت کښ به ئے د بویل نه جدا اکړی یا دا چه اے مجرمانو د بویل نه جدا
شئ یعنی دوی به مختلف ډلے شی.
سنه ۶۰ :- يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ د دے وجے نه ذکر کړو چه منع د شرک او امر په توحید
سره د آدم علیه السلام د وخت نه شورو دے او ټول اولاد د آدم علیه السلام
په دے سره مکلف دی.
اَنْ لَّا تَعْبُدُوا عبادت په معنیٰ د طاعت دے یعنی د الله تعالیٰ د طاعت پشان
د شیطان طاعت کول دا د شیطان عبادت دے یا دا چه هره بندګی د
غیر الله عبادت د شیطان دے ځکه چه د هغه په وسوسے سره دے.

وَّاَنِ اعْبُدُوْنِیْ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴿۶۱﴾

او دا چه بندګي خاص کوئ مالره دا لار ده نیغه

وَلَقَدْ اَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِیْرًا ؕ اَفَلَمْ

او یقینًا بے لارے کړے دی (په وسوسو سره) شیطان ستاسو نه ډلے ډیرے آیا پس

تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۲﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ

تاسو دَ عقل نه کار نه اخستلو۔ دا جهنم دے هغه چه

كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ اِصْلَوْهَا الْیَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ

تاسو سره ئے وعده کیدے شوه۔ ورننوځئ دیته نن په وجه دَ دے چه

تَكْفُرُوْنَ ﴿۶۴﴾ اَلْیَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰۤی اَفْوَاهِهِمْ

تاسو کفر کوؤ۔ نن ورځ به مهر اُوهو مونږ په خُلو دَدوی باندے

وَتُكَلِّمُنَاۤ اَیْدِیْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ

او خبرے به کوی مونږ سره لاسونه دَ دوی او ګواهي به کوی خپے دَ دوی

۶۱:۔ دا امر دَ توحید دے او دا دلیل دے چه صراط مستقیم توحید ته
ویلے کیږی۔

۶۲:۔ دا علت دے دَ دشمنئ دَ شیطان او زورته ده مشرکینو ته چه دَ تیر شوؤ
ګمراه قومونو دَ حالت نه تاسو عبرت ولے نه حاصلوؤ۔
جِبِلًّا مراد دَ دے نه خلق او ډلے دی او تفسیر سراج المنیر کښ ذکر کوی
چه په دے لفظ کښ اشاره ده چه دا مخلوق دَ غرونو پشان غټ وو لیکن
سره دَ دے نه شیطان دهوکه کړل۔

۶۳ ۶۴:۔ یعنی جهنم به ورته ښکاره کړیشی نو دا سے خطاب به ورته
اوکړیشی نو معلومه شوه چه مخکښ حال دَ میدانِ حشر وؤ او بیا به ئے
جهنم ته داخل کړی۔

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا

په هغه کارونو باندے چه دوی کول۔ اوکه چرے اوغواړو مونږ نو ورانے به کړو

عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَاَنّٰى

سترگے د دوی نو رواندے کیږی به لارے ته نو څه رنگ به

۶۵:۔ په دے تخویف کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ به په آخرت کښې فیصلے صرف په خپل علم سره نه کوی بلکه د دنیا د فیصلو پشان به فیصلے په اقرار او په شهادتونو سره کوی۔ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ د دے مشهوره وجه داده چه دوی به انکار اوکړی د شرک نه لکه چه په سورة انعام ۲۲ او حم مؤمن ۷۴ کښې دی او دا انکار ئے دروغ دے نو خولے به ورله بندے کړی یا د دے وجے چه اقرار د غیر ناطق پوره حجت دے په نسبت د اقرار د ناطق سره۔ او د دے آیت تشریح په حدیث د مسلم او ترمذی کښې شته چه ډیرو مفسرینو دلته نقل کړیدی۔

(فوائد) اوله فائده:۔ نسبت د ختم الله تعالیٰ ځان ته کړے دے او نسبت د کلام د لاسونو ئے ځان ته نه دے کړے اگرچه کلام د لاسونو او خپو هم په قدرت د الله تعالیٰ سره دے په دے کښې اشاره ده چه کلام د لاسونو او خپو په جبر سره نه دے بلکه په اختیار سره دے او ختم د خولے په جبر د الله تعالیٰ سره دے۔

دویمه فائده:۔ لاسونو ته نسبت د کلام او خپو ته ئے نسبت د شهادت اوکړو وجه داده چه اکثر عملونه په لاسونو سره کیږی او خپے حاضرے وی نو قول د کوونکی اقرار وی او قول د حاضر شهادت وی۔

دریمه فائده:۔ که سوال اوشی چه لاسونو او خپو چه ناکاره عملونه کړی دی نو دوی فاسقان دی او شهادت د فاسق نه قبلیږی۔

اول جواب دادے چه دوی دا کارونه په اختیار سره نه دی کړی نو دوی ته نسبت د فسق نشی کیدلے۔

دویم جواب دادے چه د دوی د شهادت د رد کولو په ضمن کښې د شهادت قبولول دی ځکه چه دوی به د غه ورځ یا رشتیا وائی یا دروغ که رشتیا وائی نو جرمونه په دوی باندے ثابت شول او که دروغ اوائی نو ضرور به دوی په دنیا کښې هم گناهونه کړے وی۔ لکه چه یو فاسق ته اوویلے شی که تا دروغ ویلے دی په نن ورځ کښې نو زما مریئے د آزاد وی نو که هغه اووائی ر پاتے په بل مخ)

يُبْصِرُوْنَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى

او كه چرے او غواړو موږ نو بدل به كړو شكلونه دَ دوی روان به وی به ځايونو د دوی

مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٦٧﴾

خپلو ځايونو باندے نو طاقت به نه لری دَ ځكيں تللو او نه به واپس راګرځيدے شی.

چه مانن دروغ ويلے دی نو مرئيۓ آزاد شو ځكه كه دهٔ واقعی دروغ ويلے وی نو شرط موجود شو او كه دروغ نه وی ويلے او بيا هم وائی چه ما دروغ ويلے دی نو بيا هم شرط موجود شو نو جزاء به واقع كيږی.

س۶۶:۔ دا تخويف دنيوی دے ربط ئے دا دے هر كله چه تير شوی ايت كښ بندول دَ خلو ذكر كړل نو په دے ايت كښ ذكر كوی چه په دنيا كښ هم الله تعالىٰ قادر دے چه دَ دوی سترګے بندے كړی او دا په شان دَ ولو شاء الله لذهب بسمعهم وابصارهم (بقره س۲۰) دے. يعنی لكه چه الله تعالىٰ دَ دوی باطنی سترګے دَ هدايت نه ړندے كړے دی دا رنګ قادر دے چه دَ دوی ظاهری سترګے هم بندے كړی. دويم تفسير دا دے چه الله تعالىٰ او غواړی نو دَ دوی دَ ګمراهئ سترګے به بندے كړی او دَ ګمراهئ نه به ئے هدايت ته واړوی ليكن هر كله چه الله تعالىٰ دا سے نه دی كړی نو فانّٰی يبصرون.

لَطَمَسْنَا طمس په اصل كښ هغه ړوندوالی ته ويلے كيږی چه دَ سترګو چودونه ئے هم نه وی او زيږے او باڼړه ئے هم نه وی.

س۶۷:۔ دا دويم تخويف دنيوی دے تير شوی ايت كښ صرف دَ سترګو طمس وو نور صورت انسانيه باقی دے او په دے ايت كښ ټول صورت او شكل انسانی مسخ كول مراد دی چه ګڼه شی يا شادو او خنزير ته ئے جوړ شی.

عَلٰى مَكَانَتِهِمْ يعنی دَ مسخ كولو نه مخكښ چه په كوم مكان كښ ولاړ يا ناست وی نو دَ هغه ځائے نه دَ خوزيدو نه رواندے به مسخ شی يا مراد دَ ئے مكان دَ ګناه كولو دے. مُضِيًّا رواندے تلل وَلَا يَرْجِعُوْنَ روستو راتلل مراد دی يا دا سے ځناور ترينه جوړ شی چه دَ فائدے ځائے نه پيژنی نو حيران په خپل ځائے باندے ولاړ وی.

وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِى الْخَلْقِ ؕ اَفَلَا

او هغه څوک چه زیات عمر ورکړو موږ هغه ته نو کمزوری به پیدا کړو موږ په اندامو ګردو کښ ایا نو دوی

يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِىْ

عقل نه لری۔ او نه دے ښودلے موږ دے (نبی ته) شعر جوړول او نه مناسب دے

لَهٗ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّ قُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۶۹﴾

دهٔ لره، نه دے دا کتاب مګر نصیحت او قرآن ښکاره دے۔

س ۶۸:۔ دا دلیل دَ ماقبل دے یعنی دَ قوتونو په زائل کولو باندے الله تعالیٰ قادر دے ځکه چه دَ بوډا والی په حالت کښ ټول طاقتونه ظاهری او باطنی کمزوری کوی لیکن انبیاء علیهم السّلام دَ دے نه بچ دی اَلْخَلْقِ دَ دے نه مراد شکل او اندامونه او قوّتونه دی۔

س ۶۹:۔ په دے آیت کښ صداقت دَ قرآن او دَ رسول ذکر کړی متعلق دَ دَ ابتدا دَ سورت سره او جواب دَ اعتراض دَ مشرکانو دے هغوی ویل چه دا قرآن شعر دے او دا نبی شاعر دے او شاعران اکثر دروغژن وی۔

او ربط دَ دے دَ تیر شوی آیت سره دا دے چه تیر شوی آیت کښ دَ عامو خلقو ظاهری او باطنی کمزورئ ذکر او شو نو په دے آیت کښ دَ پیغمبر شان ذکر کړی چه په هغه ضعف نیشته۔ وَمَا يَنْۢبَغِىْ لَهٗ یو معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ تعلیم دَ شعر جوړولو نه دے ورکړے نو دهٔ لره دَ هغے جوړول آسان نه دی۔ دویمه معنیٰ دا ده چه شعرونه جوړول دَ دهٔ دَ شان سره مناسب نه دی ځکه چه په شعر جوړولو کښ تکلّف وی او دا دَ ما انا من المتکلفین نه خلاف دے او دارنګ شعرونه اکثر دَ حقیقت نه خلاف مضمون باندے مشتمل وی او هرچه فصاحت او بلاغت دے نو هغه الله تعالیٰ نبی صلّی الله علیه وسلم ته په اعلیٰ مرتبه کښ ورکړیدے۔

فائده:۔ په دے سورت کښ نفی دَ شعر ئے صرف اوکړه نفی دَ کهانت او دَ سحر ئے نه ده کړے وجه دا ده چه کاهن به دوی هغه وخت ویل چه څه اخبار بالغیب به ئے ورکړے وو او ساحر به ئے هغه وخت ویل چه څه معجزه به ئے پیش کړے وه او شاعر به دوی هغه وخت ویل چه فصاحت بلاغت سره به مضمون ذکر شو نو په دے سورت ر پاتے په بل مخ)

لِّيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ

ذ دے ذپارہ چہ ویرہ ورکړي ډے هغه چا ته چه ژوندے وی (زړه ذهغه) اوپوره به شی حجت

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۞ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا

په کافرانو باندے. آیا او دوی ته گوری چه یقیناً پیدا کړی دی مونږ

لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ اَنْعَامًا فَهُمْ

دوی لره د هغه قسم نه چه جوړکړیدی لاسونو زمونږ څاروی نو دوی په

لَهَا مٰلِكُوْنَ ۞ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا

هغے لره مالکان وی. او تابع گرځولے دی مونږ هغے لره ذدوی ذپاره نوبعض ذ هغے نه

رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ۞ وَلَهُمْ

سورلئ ذدوی دی او بعض ذ هغے نه خوری دوی. او دوی لره

کښ اولنی دواړه (اخبار بالغیب او معجزه) نه وه بلکه دریم څیز په کښ دے نو
دوی اعتراض اوکړو چه دا شعر دے نو ذ هغے نفی ئے ئمانړه ذکر کړه.
سنځ. په دے ایت کښ دوه فائدے ذکر کوی په لف نشر مرتب سره یعنی
هرکله چه ذکر دے نو فائده ذ دے انذار دے او هرکله چه
قرآن (رسول) ښکاره دی نو حجت به قائم شی په کافرانو باندے.
حَيًّا مراد تری نه حیات ذ قلب دے چه ذ هغوی ذکر ذ سورة په سلا
کښ شوید ے.
سلا سنځ سټک ذ دے ایت نه تر آخر پورے دریم باب دے په دے کښ دره
عقلی دلیلونه دی په رد ذ شفاعت شرکیه باندے بیا زجر دے مشرکینو ته
او تسلی ده رسول صلی الله علیه وسلم ته بیا زجر دے منکرینو ذ بعث بعد
الموت ته او شپږ عقلی دلیلونه دی په اثبات ذ قیامت باندے. په دے درے
آیاتونو کښ انعامات ذکر کوی په باره ذ څارووُ کښ په اول ایت کښ
نعمت ذ ملکیت ئے ذکر کړے دے او دا ملکیت ظاهری دے او په دوئم
ایت کښ درے نعمتونه ذکر کړیدی تذلیل (تابعداری کیدل) او سورلی
او خوراک. او په دریم ایت کښ دوه نعمتونه ذکر کړیدی منافع ذ
هغوی دینته درے پشم څرمنے هډوکی چربی وغیره ومشارب ئے جمع ذکر

فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

په هغې کښې نفع دی او د څکلو څیزونه دی ایا نو دوی شکر نه کوی.

وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لَّعَلَّهُمْ

او جوړ کړے دی دوی سیوا د الله تعالیٰ نه حق دار د بندګئ د دے د پاره

يُنصَرُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ

چه دوی سره مداد اوکړیشی. طاقت نه لری هغوی د مداد کولو د دوی

وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ ﴿٧٥﴾ فَلَا يَحْزُنكَ

او دوی هغوی لره لښکر دے حاضر کړے شوے. نو غمژن دِ نه کړی تا لره

کړیدے اشاره ده اختلاف د اقسامو ته چه پئ، لسی، شوملے وغیره دی.
مِمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا مِنْ بیانیه دے د انعاماً د پاره یعنی انعام (څاروی) الله تعالیٰ
په خپلو لاسونو سره جوړ کړیدی د بل چا پکښې هیڅ دخل نیشته اشاره ده
رد کولو ته په مشرکینو باندے چه د دوی شفعاؤ په دے څاروؤ کښې
هیڅ عمل نه دے کړے نو دا مشرکان د څه وجے نه د هغوی په نوم باندے
دا څاروی منخته کوی یا د هغوی پئ په پؤلسمه کښې ورکوی یا د هغوی
په نوم یئ ذبح کوی او دا مقصد دے په أَفَلَا يَشْكُرُونَ کښې ځکه چه د
شکر نه مراد توحید دے.
ﻫ۷۴: دا زجر دے په شرک سره او دا تفصیل د لا یشکرون دے.
لَعَلَّهُمْ يُنصَرُونَ معلومه شوه چه لوے مقصد د شرك فی الالوهیة مداد د
الهو نه حاصلول دی د دے وجے نه امداد شه اوازور نه کوی.
ﻫ۷۵: دا رد دے د دوی په امید رد نصرت) باندے. وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ
مُّحْضَرُونَ اول ضمیر راجع دے عابدانو (مشرکانو ته) او دوئم ضمیر راجع دے
الهو ته مراد دا دے چه دا مشرکان د دے معبودانو د پاره پشان د پولیس
او د فوج دے چه د هغوی څوکیداری کوی چه څوک ترینه څه څیز
او نه تختوی او نقصان ورته او نه رسوی او دا رنګ که څوک موحد د هغوی
عجز بیانوی نو دوی په هغوی باندے غصه کیږی او موحد لره بے عزتی کوی
او دا حال بعینه د قبر پرستو خلقو دے او دوئم احتمال دا دے چه اول ضمیر
راجع دے معبودانو ته او دوئم عابدانو ته په دے کښې (پاتے په بل مخ)

قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾

وینا دَ دوی یقینا موږ پوهیږو په هغه څیز چه دوی ئې پټوی او هغه چه دوی ئې ښکاره کوی۔

أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ

آیا نه گوری انسان چه موږ پیدا کړے دے دَ نطفے نه

فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا

نو ناگاهه دے جګړه مار ښکاره دے۔ او ذکر کړے دے زمونږ دپاره یو

مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ

اعتراض او هیر کړے دے پیدائش خپل وائی څوک به ژوندی کړی هډوکی

وَهِيَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي

او حال دا چه دا به ذرے ذرے وی۔ ته اُوایه ژوندی به کړی دے لره هغه ذات

بیا دوه توجیهات دی اوله توجیه دا ده چه دا دَ دے مشرکانو په زعم او په عقیده باطله باندے بنا دے دویمه توجیه دا ده چه لام په معنیٰ دَ علیٰ سره دے یعنی دَ الهه به دَ دوی په ضد او مخالفت کښ لښکرے حاضروی په ورځ دَ قیامت کښ لکه چه سورة مریم ۸۲ ویکونون علیهم ضدا او سورة احقاف ۶ کښ دی۔

۷۶ :۔ دا تسلی ده رسول صلی الله علیه وسلم ته۔ قَوْلُهُمْ مراد دَ دے نه دَ دوی اقوال شرکیه او تکذیب دَ رسول دے او انکار دَ قیامت دے چه هغه په روستو آیت کښ ذکر دے۔

۷۷ :۔ دا زجر دے په انکار دَ قیامت سره۔ او په دے کښ عام منکر انسان مراد دے او په دے زور نه کښ سختی ده په یو څو وجوهو سره۔

اوله وجه دا ده چه دے خپل خالق سره جګړه کوی۔

دویمه وجه دا چه دے ډیر سپک او ادنیٰ دے او دَ لوے اعلیٰ ذات نه مخالفت کوی۔

او دریمه وجه دا ده چه دَ لوے نعمت ناشکری کوی۔

۷۸ :۔ دا بیان دَ خصومت دَ هغه دے وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا مراد دَ دے نه صرف ذکر کول دَ عجیبه خبرے دی ځکه چه انکار کول دی، دَ ریالے په بل مخ

قدرت او دَ علم دَ الله تعالیٰ ته ډیره عجیبه ده. یا مراد دا چه ډے انسان قدرت او علم دَ الله تعالیٰ دَ خپل قدرت او دَ علم پشان ګنړلے دے۔
وَنَسِیَ خَلْقَهٗ مراد دَ نسیان نه ذهول او غفلت دے۔

س۷۹:- دا جواب دَ قول دَ دغه منکر دے په ذکر دَ قدرت دَ الله تعالیٰ په قیاس کولو سره په اول پیدائیش باندے او په ذکر دَ علم دَ الله تعالیٰ سره په ټولو ذرّاتو دَ مخلوق باندے نو په ذرّاتو دَ هډوکو دَ مړو باندے هم علم لري او په دے آیاتونو کښ اشاره ده چه دَ مرګ او ژوند حلول په هډوکښ هم شته دے او دا اول دلیل دے په اثبات دَ حشر باندے

س۸۰:- دا بل دلیل دے په اثبات دَ قیامت باندے یعنی لکه چه اور پیدا کوی دَ شنے اونے نه او دا ډیر عجیبه ده ځکه چه په یو ځائے کښ اوبه او اور او لرګے یئے جمع کړیدی نو دا رنګ دَ اوچو خاورو نه دوباره انسان لره پیدا کولے شی۔

الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ مراد دَ دے نه هر شنه اونه ده۔ حکماؤ ویلے دی په هره اونه کښ اور شته سوا دَ عنّاب (مخزنړے) نه او دا وجه ده چه دَ بجلئ تار په شنے اونے کښ شاټ (کرنټ) پیدا کوی ځکه چه دوه اوړونه یو ځائے شول۔ یا مراد دَ دے دوه قسمه اونے دی چه مرخ او عفار ورته ویلے کیږی پا نړه یا لرګے دَ مرخ (چه مذکر دے) په عفار باندے (چه مؤنث ده) او څولوی نو اور ترے پیدا شی۔

اَلسَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ

اسمانونه او زمکه قدرت لرونکے په دے خبره باندے پیدا کړی

مِثْلَهُمْ ۚ بَلٰى ۚ وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۱﴾

دَ دوی پشان او هغه ډیر پیدائش کوونکے او ښهٔ پوهه دے

اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ

یقیناً حکم د هغه کله چه اوغواړی پیدا کول دَ یو څیز چه اُوائی هغے ته او شه

فَيَكُوْنُ ﴿۸۲﴾ فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ بِيَدِهٖ

نو هغه اوشی ۔ نو پاک دہ دَ هغه ذات چه په لاس دَ هغه کښ

مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾

بادشاهی دَ هر څیز دہ او خاص هغه ته به اوګرځولے شئ تاسو۔

وقف غفران

ع ۵

سلا :۔ دا بل دلیل دے په اثبات دَ بعث بعد الموت باندے۔ مِثْلَهُمْ ضمیر متکرینوته راجع دے او مراد دَ مثل نه نفسونه اوذوات دَدوی دی دا سے په سورۃ اسراء سـ۹۹ـ کښ تیر شوے دی او سورۃ احقاف سـ۳۳ـ کښ هم شته۔ او هرکله چه په دے ایت کښ ذکر دَ اسمانونو او دَ زمکے دے چه غټ مخلوق او ډیرو اجزاؤ والادی نو دَ دے وجے نه خلّاق او علیم ئے دَ مبالغے صیغے په صفاتو دَ الله تعالیٰ کښ ذکر کړے دی۔

سـ۸۲ـ :۔ دا هم دلیل دے په اثبات دَ قیامت باندے دلته دَ اَمْرُهٗ نه مراد صفت او شان دَ الله تعالیٰ دے یا مراد ترینه امر دَ ساعت (قیامت) دے یعنی امر دَ الله تعالیٰ په باره دَ قیامت کښ لکه چه سورۃ نحل سـ۷۷ـ کښ دی۔

سـ۸۳ـ :۔ دا هم دلیل دے او نتیجه دہ دَ ټولو دلیلونو تیر شوؤ په بیان دَ توحید سره په سبحان کښ او په ذکر دَ قیامت سره په الیه ترجعون کښ۔ دَ مَلَكُوْتُ نه مراد ملکیت او تصرف ظاهری او باطنی دے۔

ختم شو تفسیر دَ سورۃ یٰسٓ په توفیق دَ الله تعالیٰ سره

په تاریخ ۲۰ ذوالقعدہ ۱۴۱۵ ھ مطابق ۱۸ اپریل ۱۹۹۵ء کښ۔

سُوْرَةُ الصّٰفّٰت ۳۷ مَكِّيَّةٌ ۵۶	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۸۲ — رُكُوْعَاتُهَا ۵

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ﴿۱﴾ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ﴿۲﴾

قسم دے په هغه ملائکو باندے چه صفونه جوړوی صفونه. بیا هغه چه شړونکی دی په شړلو سره.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الصَّافَّاتِ

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورت کښ رد وُو په شفاعتِ قهریه (شرکیه) باندے نو په دے سورت کښ دَ هغے علت ذکر کوی چه هغه عجز او احتیاج دَ نیکانو بندګانو دے. دویمه وجه دا ده چه مخکښ سورت کښ عقلی دلیلونه وو نو په دے سورت کښ نقلی دلیلونه ذکر کوی. دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ اثبات بعث بعد الموت وُو په دلیلونو سره نو په دے سورت کښ ذکر کوی حالات دَ خلقو په ورځ دَ قیامت کښ تخویفًا وبشارةً.

دعویٰ دَ سورت. اثبات دَ توحید دے په ذکر کولو دَ احتیاج او دَ عجز دَ ملائکو او احتیاج او عبدیت دَ پیغمبرانو او ذلت دَ جنّاتو سرهٔ دَ رد دَ شرك بالملائكه والجن والانبیاء نه او رد دَ شرک فی العبادة والدعاء دے.

احوال دَ ملائکو په ۱ نه ۲ نه ۳ نه ۱۶۴ نه ۱۶۵ نه ۱۶۶ کښ او احوال دَ جنّاتو ۷ نه ۸ نه ۹ نه ۱۵۸ نه ۱۶۰ کښ ذکر کوی. او احوال دَ اووهٔ پیغمبرانو، نوح او ابراهیم او موسیٰ سرهٔ دَ هارون او الیاس او لوط او یونس علیهم السلام نه او ماخذ دَ دعوے په آخر دَ سورت ۱۸۱ کښ دے چه انبیاء علیهم السلام محتاج دی الله تعالیٰ ته په سلامتیا کښ او دعویٰ دَ توحید ۱۸۰ نه ۱۸۲ کښ ذکر کړه.

خلاصه دَ سورت. په دے کښ درے بابونه دی. اول باب تر ۷۴ پورے دے په دے کښ احوال دَ ملائکو دَ پاره دَ شهادت په توحید باندے دی بیا تذلیل دَ جنّاتو ذکر کوی تر ۱۰ پورے بیا څلور قسمه زجرونه ذکر کوی تر ۲۰ پورے بیا براءة دَ الٰهو باطلو او دَ عابدانو ریاتے په بل مخ)

فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ﴿٣﴾ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴿٤﴾

بیا هغه چه لوستونکی دی ذکر لره (په طریقه دَ شهادت سره په ذکبره پاتلے) چه یقیناً حق دار دَ بندگئ ستاسو یوذات دے

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ

رب دَ آسمانونو او دَ زمکے او دَ مینځ دَ دِ دواړو دے او رب

دَ هغوی دَ یوبل نه ذکر کوی تخویفاً تر ۳۲ پورے بیا بشارت تفصیلیه تر ۶۱ او تخویف اخروی تفصیلی تر ۶۲ پورے ذکر کوی۔

تفسیر

۱ ۲ ۳ ۴ :- په دے کښ صفات دَ ملائکو دی او دا غوره قول دے چه ملائک دَ الله تعالیٰ بندگے دَ پاره په صفونو کښ ولاړ دی لکه چه صحیح حدیث کښ وارد دی چه "صفونه دَ دے امت دَ پاره دَ موځے دَ جماعت په شان دَ صفونو دَ ملائکو دی چه اولنی صفونه پوره کوی او دَ یوبل سره پیوست ولاړ وی"۔ او ملائک زجر کوی (شړی) شیطانانو لره دَ آسمان نه او شړی ورځو لره دَ یو طرق نه بل طرق ته او منع کوی مؤمنانو لره دَ گناهونو نه په الهام دَ خیر سره۔ او ملائک تلاوت کوی دَ وحی او ذکر کوی الله تعالیٰ لره په تسبیح او حمد او تقدیس سره۔ او دویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه جماعتونه دَ مؤمنانو چه دا درے کارونه کوی۔ او دَ دے قسم کارکولو تفصیل په ابتدا دَ سورۃ یٰسٓ کښ تیر شوید ے چه دا په طریقه دَ استشهاد سره دے یعنی دا حالات دَ ملائکو (چه دَ عجز او دَ عبدیت لله تعالیٰ دی) شهادت کوی په توحید دَ الله تعالیٰ باندے چه دا ملائک او نور مخلوق هم دَ الله تعالیٰ سره شریک نشی کیدے۔

فائده :- فا په ۲ او ۳ کښ دَ پاره دَ ترتیب وجودی ده یعنی اول صفونه جوړول بیا شړل دَ شیاطینو دی او بیا تلاوت او ذکر کول دی یا فا دَ پاره دَ تفاوت دَ دے صفتونو ده یا دَ پاره دَ فرق دَ موصوفاتو ده۔

الْمَشَارِقِ ﴿۵﴾ إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا

دَ مشرقونو دے . یقینًا خائسته کړے دے مونږ اسمان نژدے

بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ ﴿۶﴾ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ

په خائست سره چه ستوری دی او ساتلے دے مونږ په ساتنے سره دَ هر

ف۵ :- دا دلیل عقلی دے دَپاره دَ توحید روستو دَ دلیل نقلی او دَ قسم نه ..
الْمَشَارِقِ دا ئې جمع ذکر کړے ده لکه په سورة معارج ف۴۰ کښ دی
ځکه چه مراد دَ دے نه دَ هرے یوے ورځ دَ نمر ښکاره کیدلو ځائے دے او
هغه درے سوه ۳۶۵ او پنځه شپیته دی لکه چه امام قرطبی ذکر کړے دی
او درے سوه ۳۶۰ شپیته خطیب شربینی ذکر کړے دی او یو سل ۱۸۰ اتیا ابن
عطیه په محرر الوجیز کښ ذکر کړے دی والله اعلم لیکن مشهور قول
اول دے . او المغارب ئې نه دے ذکر کړے ځکه چه ذکر دَ مشرق
دلالت کوی په مغرب باندے او بله وجه دا چه مقصود دَ نمر نه رنړا ده
او هغه په ښکاره کیدلو دَ نمر سره ده او دَ دے وجے نه مطالع ئې نه دی ویلے
او بله وجه دا ده چه په نمر ښکاره کیدلو کښ استدلال ښکاره دے په نسبت
دَ غروب دَ هغهٔ سره .

ف۶ :- دا هم دلیل عقلی دے په توحید باندے او تمهید دَپاره دَ حال دَ پیریانو
دے چه دوی عاجز او ذلیل دی نو څه رنګ دَ الله تعالیٰ سره شریک کیدے
شی یا زور اور سفارشی جوړیدے شی او رد دے په مشرکین بالجن باندے
او دا رنګ دا رد په مشرکین بالکواکب باندے هم دے ځکه چه ستوری صرف دَ
زینت او دَ حفاظت دَ پاره پیدا کړے شوی دی معبودان نشی جوړیدے
او په دے ایت کښ ئې دَ ستورو یوه فائده ذکر کړه یعنی زینت دَ
اسمان او هم دغه په سورة حجر ف۱۱ کښ تیر شویدی . او هر کله چه دا ستوری
دَ لاندے نه انسانانو ته دَ اسمان سره پیوست ښکاریږی اګرچه دَ اسمان نه
کوز دی لکه نورو روایاتو او علم هیئت سره معلوم شویدی نو زینت ئې اسمان
ته منسوب کړو او دلالت کوی چه یو جائز څیز صرف دَ زینت دَپاره استعمال
جائز دی په دے شرط چه دَ حد شرعی نه بهر نه وی -

شَيۡطٰنٍ مَّارِدٍ ۝٧ لَا يَسَّمَّعُوۡنَ اِلَى الۡمَلَاِ

شیطان سرکش نه . غوګ نشي ګېخودلے مجلس

الۡاَعۡلٰى وَيُقۡذَفُوۡنَ مِنۡ كُلِّ جَانِبٍ ۝٨

بره ته او ویشتلے کیدے شي د هر طرف نه.

دُحُوۡرًا وَّلَهُمۡ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ۝٩ اِلَّا

رټلے کیدیشي په رټلو سره او دوی لره عذاب پیوست کیدونکے دے مګر

مَنۡ خَطِفَ الۡخَطۡفَةَ فَاَتۡبَعَهٗ شِهَابٌ

هغه څوک چه او تختوي څه خبره په تختولو سره نو رواناشي په هغه پسے شعله

ثَاقِبٌ ۝١٠ فَاسۡتَفۡتِهِمۡ اَهُمۡ اَشَدُّ

بلیدونکے - نو تپوس اوکړه آیا دوی پوخ

ت ۸ ۹ تا ۱۰ - په دے آیاتونو کښې دویمه فائده دَ ستورو ذکر کوي لکه سورة حِجر ۱۸ کښې تیر شویده او په دے کښې دَ شیطانانو اَته حالتونه ئې ذکر کړے دي. مَارِدٍ خالي دَ خیرنه (م رد) دلالت کوي په خالي والي باندے لکه اَمرد (دَ ګیرے نه خالي) - الۡمَلَاِ الۡاَعۡلٰى مجلس دَ اشرافو او دَ افضل ملائکو چه هغوي دَ الله تعالیٰ دَ وحی په باره کښې مجلس کوي- وَاصِبٌ همیشه او هغه چه اثر ئې زړه ته ورسیږي. الۡخَطۡفَةَ يعني یوه خبره دَ خبرو دَ ملائکو نه په پټه غوږ سارے سره را او تختوي. اِلَّا مَنِ استرق السمع سورة حِجر ۱۸ کښې تیر شویدے - شِهَابٌ هغه شغله دَ اور چه دَ ستوري نه راجدا کړے شي او رڼا کوي-

فائده ۱- دَ نبوت دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم نه مخکښې هم شیاطین په دا شغلو سره ویشتلے کیدل لیکن هغه لږ وو او روستو دَ شور وکیدلو دَ نزول دَ قرآن نه دا شغلے ډیرے شوے دَ هر طرف دَ اسمان نه شو رو شوے دَ دَ پاره چه دَ کاهنانو دَ خبرو دَ وجے نه په قرآن کریم کښې تلبیس پیدا نشي او دَ حفاظت دَ قرآن دَ وجے او دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم دَ همیشه صداقت دَ پاره دا معامله دَ شیاطینو سره روستو دَ وفات دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم نه هم باقي ده .او بعض بحث دَ دے په آخر دَ سورة شعراء کښې هم تیر شوے دے-

خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ۭ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ

پیدائش والا دی او که هغه څوک چه موږ پیدا کړیدی . یقیناً پیدا کړیدی موږ دوی لره دَ

طِيْنٍ لَّازِبٍ ⑪ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ⑫

خټې نه چه سلېښناکه وه . بلکه ته تعجب کوې او مسخرې کوی (دوی) .

وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا يَذْكُرُوْنَ ⑬ وَاِذَا رَاَوْا

او کله چه دوی ته نصیحت کیدیشی نو نصیحت نه قبلوی . او کله چه اُوینی

اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ⑭ وَقَالُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ⑮

معجزه نو یو مسخره ترینه جوړه کړی . او دوی وائی نه دے دا مگر جادو ښکاره دے .

۱۱ :. دا زجر دے منکرینو دَ بعث بعد الموت ته او مراد دَ مَنْ خَلَقْنَا نه ملائک او مشرق او ستوری او شیاطین او شهابونه (رشخلی) دی چه مخکښ ذکر شول چه الله تعالیٰ دَ دے غټو غټو پیدائش باندے قادر دے نو دوباره پیدا کولو دَ انسانانو باندے هم قادر دے لکه سورة نازعات ۲۸ او سورة غافر ۵۷ کښ دی یا مراد دَ من خلقنا نه تیر شوے اُمتونه دی چه هلاک کړے شویدی چه الله تعالیٰ دَ هغوی په هلاکولو قادر وؤ نو دَ دے موجوده منکرینو په اِهلاک باندے هم قادر دے . لَّازِبٍ هغه خټه چه ډیر وخت پرے تیر شی خمیره شی او بیا لاسونو پورے انښلی او هغه ته سلیښ ناکه ویلے کیږی .

۱۲ :. دا زجر دے په انکار دَ رسالت سره وَيَسْخَرُوْنَ واو حالیه دے یعنی په حال دَ مسخرو کولو په تا پورے او په قرآن پورے ته تعجب کوے دَ انکار او دَ مسخرو دَ دوی نه یا واو عاطفه دے یعنی تعجب کوے دَ انکار دَ دوی دَ توحید او دَ قیامت نه او دوی مسخرے کوی .

۱۳ ۱۴ ۱۵ :. په اول ایت کښ زجر دے په انکار دَ قرآن او دویم ایت کښ زجر دے په انکار دَ معجزے او دَ رسالت .

يَسْتَسْخِرُوْنَ باب استفعال دَ طلب دَ پاره دے یعنی یو بل ته طلب کوی چه په دے پورے مسخره اوکړئ .

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۱۶﴾

آیا کله چه مونږ مړه شو او خاورے او هډوکی شو آیا مونږ دوباره پیدا کیدے شو

اَوَ اٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿۱۷﴾ قُلْ نَعَمْ وَاَنْتُمْ

او آیا پلاران زمونږ زاړه - ته اُووایه هاو او تاسو

دَاخِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَاِنَّمَا هِیَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا

به ذلیل یئ - نو یقینًا دا تیزه چغه ده یوه نو دغه وخت به

هُمْ یَنْظُرُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَقَالُوْا یٰوَیْلَنَا هٰذَا

دوی گوری - او وائی به هائے تباهی ده زمونږ دا

یَوْمُ الدِّیْنِ ﴿۲۰﴾ هٰذَا یَوْمُ الْفَصْلِ

ورځ دَ جزا ده۔ (او به ویلے شی) دا ورځ دَ فیصلے ده

الَّذِیْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۱﴾ اُحْشُرُوا

هغه چه تاسو هغه دروغ گنړله - راجمعه کړئ (اے ملائکو)

الربع ۵

س۱۶ س۱۷ س۱۸ س۱۹ س۲۰ س۲۱ :۔ په دے آیاتونو کښ زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت سره - دَ رَے کرته ئے همزه دَ استفهام راوړے دے دَ وجے دَ ډیر استبعاد نه - داخِرُوْنَ په دے کښ اشاره ده چه دوباره ژوندِ کښ ستاسو اختیار نیشته بلکه ذلیل او عاجز به یئ امر دَ الله تعالیٰ ته - ینظرون داعام دے یعنی یو بل ته به نظر کوی خپل حالت ته به گوری یا په معنیٰ دَ انتظار دَ جزاء دے - یا نظر کنایه ده دَ ژوندی کیدلو نه - امام بقاعی ویلے دی چه نظر ئے خاص کړو په ذکر سره چه نظر بغیر دَ حیات نه نه موجودیږی او نور حواس کله کله بغیر دَ حیات نه هم موجودیږی لکه چه اوریدل په مړو کښ په خرقِ عادت سره موجود شویدی په واقعه دَ بدر کښ - دارنگ خطیب شربینی ویلے دی چه نابلس کښ یو ازغی داره او نه وه هر کله چه دَ هغے په خوا کښ اویلے شو چه لور راوړے چه دا پریکړو نو دَ هغے پانړے به مړاوے شوے - داسے په دے ملک کښ هم یو بوټے دے (چُھئی می ناټ) چه لاس ورته نزدے کړے نو پانړے ئے راغونډے شی. (والله علی كلِّ شیءٍ قدیر)۔ هٰذَا یَوْمُ الْفَصْلِ دا قول دَ منکرینو دے

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا
هغه کسان چه ظلم ئې کړے دے او دَ دوی ملګری او هغه کسان چه دوی ئې

يَعْبُدُوْنَ ﴿۲۲﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَاهْدُوْهُمْ
بندګی کوله سوا دَ الله تعالیٰ نه نو روان کړئ هغوی

اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ ﴿۲۳﴾ وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ
لارے دَ جهنم ته . او اودروئ دوی یقیناً دَ دوی نه

مَّسْئُوْلُوْنَ ﴿۲۴﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ﴿۲۵﴾
تپوس کیدے شی . څه وجه ده تاسو لره چه دَ یو بل سره مدد نه کوئ.

بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَاَقْبَلَ
بلکه دوی په نن ورځ تابعدار وی . او مخامخ به شی

یو بل ته یا قول دے دَ طرف دَ الله تعالیٰ ته.

فائده:- په دے ایا تونو کښ دَ قیامت دوه نومونه ذکر کړے شول یوم الدین . او یوم الفصل . هرکله چه په تقسیم دَ جزاء او سزا سره جدائی راځی دَ دے وجے نه الدین ئې دَ الفصل نه مخکښ ذکر کړو.

۲۲ سے ۲۳ سے ۲۴ سے ۲۵ سے ۲۶ :- په دے ایا تونو کښ تخویف اخروی په پنځه حالاتو سره ذکر کړو . حشر . دَ جهنم لارے ته روانه دے کول . حصار ول دَ تپوس دَ پاره . یو بل سره نصرت نه کول . ذلیل او متقادیدل په مجبورئ سره.

وَاَزْوَاجَهُمْ مراد دَ دے نه هغه کسان دی چه مشابه دی یو بل سره په نوعه دَ ظلم او ګناه کښ . یعنی مشرک یا لملائکه په دَ مشرک بالملائکه سره او بُت پرست په دَ بت پرست سره او مشرک دَ ستورو دَ ځېل مشابه سره او قبر پرست دَ قبر پرست سره او زانی دَ زانی سره او شرابی دَ شرابی سره او بدعتی دَ بدعتی سره به یوځائے کړے شی او دے ته په عام عرف کښ پیریایان ویلے کیږی . وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ دَ دے نه مراد هغه پیران او ملایان دی چه عوامو دَ دوی طاعت کړے دے په شرک او بدعاتو او ګناهونو کښ او دوی پرے رضا وو لکه دوی چه مراد وو په سورة انبیاء ۹۸ کښ.

اُحْشُرُوْا امر دے دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ملائکو ته (پاتے په بل مخ)

يَّتَسَآءَلُوْنَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ﴿۲۷﴾

بعض دَ دوی په بعضو باندے تپوسونه به کوی۔

قَالُوْٓا اِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَاْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ ﴿۲۸﴾

وائی په (کشران) يقيناً تاسو ئے چه راتلئ مونږ ته (په منع کولو سره) دَ (دين) حق نه۔

قَالُوْا بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۹﴾

او په وائی (مشران) بلکه نه وئے تاسو ايمان راوړونکی۔

وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ بَلْ

او نه وو مونږ لره په تاسو باندے هيڅ زور (دليل) بلکه

وَقِفُوْهُمْ يعنی په لار دَ جهنم چه روان شی او لاړ به دَ جهنم دَ پاسه پوُل وی (جسر جهنم) نو دَ هغے دَ پاسه به حصار کړيشی۔ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ دا شامل دے تپوس کولو ته دَ ټولو گناهونو په باره کښې او دے ته حساب ويلے کيږی۔ مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ دا هم داخل دے په تپوسونو کښې او وارد دے دَ دوی په دعویٰ باندے په دنيا کښې چه دا معبودان به زمونږ امداد کوی او دلته مراد دَ نصرت نه دَ عذاب نه بچ کول دی۔

ـ۲۷ ـ ۲۸ ـ ۲۹ ـ ۳۰ ـ ۳۱ ـ ۳۲ (ربط) هرکله چه معلومه شوه چه دوی به دَ تپوس دَ جواب نه چُپ وی نو وهم راځی چه آيا دوی به چاړا کان وی ژبے به ئے بندے وی؟ نو دَ دے وهم ازاله کوی چه دوی به يو بل لره ملامته کوی او په دے آيا تونو کښې تخويف اخروی دے په طريقه دَ براءت دَ الهو باطلو او دَ عابدانو دَ هغوی دَ يو بل نه په ورځ دَ قيامت کښې۔ الْيَمِيْنِ، دَ مجاهد نه نقل دے چه يمين دين حق او نيکو کارونو ته ويلے کيږی او تَاْتُوْنَنَا په معنیٰ دَ منع کولو دَ خير نه دے او نفرت پيدا کول دَ هغے نه۔ او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړے شوے دی چه يمين په معنیٰ دَ قسم سره دے يعنی تاسو به مونږ ته قسمونه کول چه شرک او کفر حق دے۔ بل قول دا دے چه يمين په معنیٰ دَ قوّت او دَ قدرت سره دے يعنی تاسو به مونږ ته خپل زور او قوّت ښکاره کوو په غرسونو کولو او نور زيب و زينت سره۔ بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ يعنی تاسو دَ ابتداء نه بے ايمانه وئے نو مونږ څه رنگه تاسو دَ ايمان نه راواړولے۔

سُلْطَانٍ په معنیٰ دَ حجت او دلیل دے یعنی مونږ تاسو ته هیڅ حجت او دلیل په شرک باندے نه دے پیش کړے یا مراد دَ سلطان نه زور او جبر کول دی.

طَاغِيْنَ مراد دَ طغیان نه بے حجّته کارونه کول دی۔ قَوْلُ رَبِّنَا تفسیر دَ هغے لَاَمْلَئَنَّ جهنم من الجنّة والناس اجمعین دے او اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ دَ قول نه بدل دے۔

فَاَغْوَيْنٰكُمْ۔ حاصل دا چه مونږ په تاسو زور نه دے کړے او نه هم درته دلیل پیش کړے صرف دعوت دَ گمراهئ مو درته کړے دے دَ دے دَ پاره چه زمونږ ملګری دَ گمراهئ ډیر شی نو تاسو زمونږ دعوت په خپله خوښه باندے قبول کړے دے او دا رنګ سورة قصص کښ او سورة سبا کښ هم تیر شوی دی۔

۳۳ ۳۴۔ هر کله چه ثابته شوه چه دواړه ډلے په غوایت کښ شریک دی نو لازمه ده چه په عذاب کښ به هم شریک وی۔

نَفْعَلُ په دے کښ اشاره ده چه په ورځ دَ قیامت یو بل لره ملامته کول دَ دوی او په گمراهئ باندے اقرار کول او عذاب ورکول دا دَ ټولو مجرمانو سزا ده په یو قسم متبوعینو او تابعینو پورے تخصیص نیشته۔

إِنَّهُمْ كَانُوٓا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ

دوی ته ... بیشته حقه اردینه کړی سوا د الله تعالیٰ نه نو دوی په لوئی کوله ۔ او دوی په ویل

أَئِنَّا لَتَارِكُوٓا۟ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍۭ ﴿٣٦﴾

آیا مونږ پریګدو معبودان خپل د دجه د شاعر لیونی نه ۔

بَلْ جَآءَ بِٱلْحَقِّ وَصَدَّقَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٣٧﴾

بلکه راوړے دے حق او تصدیق ئے کړے دے د رسولانو ۔

إِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا۟ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَلِيمِ ﴿٣٨﴾

یقیناً تاسو خامخا څکونکي د عذاب دردناک ئے

وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٩﴾

او بدله نه ورکیدے تاسو ته مګر د هغه عملونو چه تاسو کول ۔

ف۳۵ :۔ دا علّت د ماقبل عذاب دے او زجر دے په انکار د توحید سره ۔ معلومه شوه چه مشرک د الله تعالیٰ ته او د هغهٔ د صفتونو او عباداتونو نه انکار نه کوی لیکن صرف د توحید نه انکار کوی لکه چه سورة اسراء ف۴۶ کښ تیر شویدی او سورة ص ف۵ او زمر ف۴۵ کښ به راشی۔

ف۳۶ :۔ دا دویم علّت د عذاب دے او زجر دے په انکار د رسول صلّی الله علیه وسلّم او د هغهٔ په سپک والی سره چه شاعر دے او مجنون دے او دا خود دے خلقو حماقت دے ځکه چه مجنون خو شعرونه نشی جوړولے او دوی د دواړو صفتونو په جمع سره هغهٔ ته نسبت کوی ۔

ف۳۷ :۔ دا رد دے په دغه منکرینو باندے ۔ د حقّ نه مراد توحید دے ۔ او صَدَّقَ کښ اشاره ده چه توحید د ټولو انبیاء علیهم السلام یو دین دے نو د دے رسول نه انکار کول د ټولو رسولانو نه انکار کول دی۔

ف۳۸ ف۳۹ :۔ دا تخویف دے او تفریع ده په تیر شوی دواړه علتونو باندے د دے وجے نه دویم ایت کښ اشاره او کړه چه د دے جزا سبب د دوی عملونه دی چه کوم مخکښ ذکر شول ۔

إِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿۴۰﴾ أُولٰٓئِكَ لَهُمْ

مګر بندګان دَ الله تعالیٰ چه بیخ ساتلے شوی دی. دغه کسان دوی لره

رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴿۴۱﴾ فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ مُّكْرَمُونَ ﴿۴۲﴾

روزی ده معلوم صفتونو والا میوے دی او دَ دوی به عزت کیدے شی

فِي جَنّٰتِ النَّعِيمِ ﴿۴۳﴾ عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِينَ ﴿۴۴﴾

په جنتونو دَ نعمتونو کښې. په تختونو به دوی یو بل ته مخامخ.

يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَأْسٍ مِّنْ مَّعِينٍ ﴿۴۵﴾

ګرځولے به شی په دوی باندے کاسے ډکے دَ خاص شرابو نه.

بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِينَ ﴿۴۶﴾ لَا فِيهَا

سپین مزه ورکوونکی به وی څکونکو ته. نه به وی په هغے کښې

غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُونَ ﴿۴۷﴾ وَعِنْدَهُمْ

اذیتونه او نه به دوی له دَ هغے (شرابو) نه اُلټے ورځی. او دوی سره به وی

سل :- دا استثناء ده اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوْنَ نه او ظاهره دا ده چه استثناء منقطع ده. اَلْمُخْلَصِيْنَ نه مراد هغه کسان دی چه الله تعالیٰ خالص کړے او غوره کړے دی دَ توحید او دَ دین او دَ دوستلی دَ ځان دَپاره.
دَ سلا نه تر سلا پورے په دے آیاتونو کښې بشارت ذکر کوی په څوارلس انعاماتو خاصو سره. مَعْلُوْمٌ دلته یو سوال دے چه سورة الم سجده سلا کښې اخفی لهم من قرة اعین تیر شوے هغه دلالت کوی چه دَ جنت نعمتونه هیچا ته نه دی معلوم او دلته فرمائی رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ؟
جواب دا دے چه معلوم دی بعض صفتونه دَ هغے چه همیشه دی او بُكْرَةً وعشیًّا دی او تفصیلی حقیقت یئے نه دے معلوم. فَوَاكِهُ دا بیان دَ رزق دے نو معلومه شوه چه رزق دَ جنت ټول دَ لذت او دَ مزے دَپاره دے دَ لوږے دَ وجے نه نه دے. مُكْرَمُوْنَ عزت دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په رفع دَ درجاتو سره او په دیدار دَ الله تعالیٰ او په کلام دَ الله تعالیٰ سره دے. مُتَقَابِلِيْنَ یعنی دَ یو بل شا به نه وینی کنایه ده چه دَ یو بل نه به نه خفه کیږی. یا مراد دا دے چه دا تختونه به چاپیره ګرځی رپاتے په یل مخ)

قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ﴿۴۸﴾ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ

(یعنی) بند لرونکی به وی نظر خپل لره خاوندانو ته خائیسته سترګو والا به وی ګویا دوی اګی

مَّكْنُوْنٌ ﴿۴۹﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

پټې ساتلې شوی دی. نو مخامخ به شی بعض د دوی په بعضو باندې

يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۵۰﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّىْ

تپوسونه به کوی. ادبه وائی یو ویونکې د دوی نه یقینًا

كَانَ لِىْ قَرِيْنٌ ﴿۵۱﴾ يَّقُوْلُ اَئِنَّكَ

وو ما لره یو ملګرے هغه به ویل چې ایا ته

تویوبل ته به تشا ته ګرځي. کَأْسٍ هر کله چه ډک وی دَ شرابو نه نو کاس وِرته وِيلے کیږی او چه خالی وی نو کاس وِرته نه ویلے کیږی.
مَّعِيْنٍ دَ معن نه دے جاری ته ویلے کیږی یا دَ عین نه دے یعنی په سترګو به ښکاریږی. لِذَّةٍ په معنیٰ دَ لذیذة دے او هرچه شراب دَ دنیا دی نو کریه او بد مزه وی. غَوْلٌ په ضرر ته ویلے کیږی نو دا شامل دے درد سر او درد دَ خیټې او نورو مرضونو ته. وَلَا هُمْ يُنْزَفُوْنَ په معنیٰ دَ فساد دَ عقل دے په سبب دَ نشه کیدلو سره او دا تخصیص بعد التعمیم دے ځکه چه لفظ غَوْل هم نشې ته شامل دے او نشه کیدل لوئے آفت دے.
قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ دا دَ زنانو بهترین صفت دے په دنیا او آخرت کښې چه دَ خاوندانو نه علاوه بل چاته سترګې نه اړوی. عِيْنٌ خائسته سترګو والا یعنی چه غټې وی په اندازې سره او سپین والے دَ هغې ښه سپین وی او تور والے دَ هغې ښه تور وی. بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ مراد دَ دے نه اګې دَ شترمرغ دَه چه پټه وی دَ چیړو او دَ غبارنه او مائله وی زیړوالی ته یا مراد دَ دے نه هغه اګې دَه چه روغه او ئیشولے شی او بیا تریه دَ پاسه پوست لرے کړیشی نو لاتر صفا سپین وی. یا مراد دے نه مطلق اګې دَه چه پټه ساتلے شوی وی او دَ زنانو تشبیه دَ هغې سره په تناسب دَ اجزاؤ کښې ورکیدے شی. تر دے ځائے پورے نعمتونه دَ خوراک او دَ رهائش او څکاک او دَ بیبیانو په باره کښې ذکر شول.
دَ دَه نه تر ۶۱ پورے دا هم په بشارت کښې داخل دے ځکه چه عذاب په دشمن باندے او بچ کیدل دَ سبب دَ عذاب ته لوے نعمت دے.

لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ ﴿۵۲﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا

خامخا منونکو نه یئے رد توحید او د قیامت). آیا چه مړه شو مونږ او شو مونږ

تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِيْنُوْنَ ﴿۵۳﴾ قَالَ

خاورے او هډوکی آیا مونږ له به جزا راکیدے شی. او به وائی

هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ﴿۵۴﴾ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ

آیا تاسو یئے وړبنکاره کیدونکی. نو ښکاره به شی نو اوبه وینی هغه لره

فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۵۵﴾ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ

په مینځ د دوزخ کښ. ورته به وائی قسم دے په الله تعالیٰ باندے یقیناً نزدے وے ته

لَتُرْدِيْنِ ﴿۵۶﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ

چه زهٔ دے ارغړولے وے او که نه وے احسان د رب زما خامخا زهٔ به وے

مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۵۷﴾ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿۵۸﴾

د حاضر کړے شوو نه په عذاب کښ. آیا نه یو مونږ مړهٔ کیدونکی.

اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۵۹﴾

مگر مرگ زمونږ دے پدمیے. او نه یو مونږ عذاب راکړے شوی

فَاَقْبَلَ دوی خو یو بل ته مخامخ دی ځکه چه متقابلین ویلے شوے دی لیکن دَدے اقبال نه مراد په دے تساؤل کښ شورو کول دی.

قَرِيْنٌ دَدے نه مراد مقابله کوونکے دے یو عمر والا همزولے ځکه چه قرین په اصل کښ یو قرن والا ته ویلے کیږی. سَوَآءِ په معنیٰ دَ وسط دے ځکه چه هغه ته بټول طرفونه برابروی. نِعْمَةُ رَبِّيْ مراد دَ دے نه. بچ کول دی دَ شرک او دَ انکار دَ قیامت نه او مضبوط والے دے په ایمان باندے.

الْمُحْضَرِيْنَ احضار په شر کښ استعمالیږی. اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ هر کله چه سبب دَ بچ کیدلو دَ عذاب نه ذکر کړو نو اوس بچ کیدل دَ عذاب نه (چه هغه مسبّب دے) ذکر کوی. همزه دَ استفهام داخل دے په فاء عاطفه باندے نو معطوف علیه محذوف دے انحن مخلدون منعمون فما نحن بميتين او استفهام تقریری دے. (پاتے په بل مخ)

إِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هٰذَا

یقینًا دا خامخا کامیابي لویه ده - دَپاره دَ دغې جزا،

فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُونَ ﴿٦١﴾ أَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا

پس عمل دِ کوی عمل کوؤنکي . ایا دا غوره دی په میلمستیا کښ

أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً

او که اُونه دَ زقوم - یقینًا گرځولے ده مونږ هغه امتحان

لِّلظّٰلِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ

دَپاره دَ ظالمانو - یقینًا هغه اُونه ده چه راوځی

فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَأَنَّهُ

په ویخ دَ دوزخ کښ . خلګے دَ هغې ګویاکے چه

إِلَّا مَوْتَتَنَا الْأُولٰى استثناء منقطع ده یعنی اول مرګ زمونږ وُو په دنیا کښ لکه سورة دخان ۵۶ کښ دی . إِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ اه دا قول دَ الله تعالیٰ دے دنیاوالو ته دَپاره دَ ترغیب ورکولو . یا قول دَ جنتی دے په طریقه دَ تحدیث نعمت سره . لِمِثْلِ هٰذَا یعنی دَ دنیا دَ مقصدونو او شهواتو دَپاره محنت نه دے پکار بلکه دَ جنت دَ نعمتونو دَ حصول دَپاره کراؤ ضروری دے .
دَ ۶۲ نه تر ۶۸ پورے په دے ایاتونو کښ تخویف اخروی دے نُزُلًا هغه غذاء ته ویلے کیږی چه صالح وی چه خلق دَ هغې دَپاره نازل شي او دیره شي او دا هغه خوراک دے چه تیار یږی دَپاره دَ نازل (میلمه) . فِتْنَةً په معنیٰ دَ عذاب او دَ محنت دے یا په معنیٰ دَ امتحان او دَ ابتلاء دے یعنی هرکله چه مشرکانو دا واوریدل چه په جهنم کښ اُونه ده نو هغوی مسخره شوروکړه چه په اور کښ ختګه اُونه کیدے شي . طَلْعُهَا طلع په کجوره کښ هغه شئے دے چه اوّل ښکاره شي بیا ترے غنچک جوړ شي .
كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيٰطِينِ مراد دَ دے نه سرکش ماران دی چه هیبت ناک شکلونه لری یا مراد دَ دے نه ابلیس او دَ هغه اولاد دی او هغوی اګرچه په اصل صورت او شکل انسانانو لیدلے نه دی لیکن په عرف کښ مشهور دی په بد شکلے سره لکه راغلے دی یو مثل کښ چه یو بوډۍ دَ یو زرګرته (مصوّر)

نه مطالیه اوکړه چه ماله دَ شیطان شکل جوړکړه نوهغه ورته اویل چه ماله نمونه راوړه ماخوشیطان نه دے لیدلے نوهغې یوړے جاحِظ عالم (مشهور اهل لغت ادیب معتزلی وؤ) راوسته راوهغه ډیر بدصورته وؤ) نوزړه کړته یې اویل چه دَدهٔ په مِثل ماله شیطان جوړکړه. نو دا تشبیه دَ وجې دَ شهرت نه ده لکه تشبیه دَ حُسن دَ پاره دَخاپیرو سره ورکیږی اګرچه خاپیری چانه دی لیدلی دارنګ دَیوسف علیه السّلام تشبیه دَ مَلَك سره ورکړے شوے وه اګرچه مَلَك هغه زنانو لیدلے نه وؤ.

فَمَالِئُوْنَ اشاره ده چه دا خوراک دَ مړه ولو فائده ته ورکوی لیکن صرف خیټه به ډکه وی اودَ ډکے خیټے نه ډیر تکلیفونه او مرضونه پیدا کیږی بیا هر کله چه دَ خوراک سره ډکیدل دَ خیټے متصل دی نو فاء یې ذکر کړے دے اوهرکله چه اوبه څکل دَ خوراک سره متصل ضروری نه دی نو په ثُمَّ سره یې ذکر کړه ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَیْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِیْمٍ یعنی دَاوبو ګرموالے اودَاوبے ترېخوالے به دواړه ګډ شی. یا داچه دا اوبه به دَ وینو زوؤ دَ جهنمیانو سره ګډے کړے شی. ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ هرکله چه دَخوراک اوڅکاک طبقه په جهنم کښ جدا ده او په اور سره دَ سوزیدلو طبقه (جحیم) جدا ده نو دَ دے وجے نه یې او فرمائیل چه روستو دَ خوراک اوڅکاک نه دَ دوی واپسی جحیم ته ده.

إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ

یقیناً دوی موندلے وو مشران خپل گمراهان نو دوی په

عَلَىٰ آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ ضَلَّ

دَ هغوی په قدمونو پاندے زغلیدلے شول. او یقیناً گمراه شوے وو

قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا

دَ دوی نه مخکښ ډیر دَ زړو خلقو نه او یقیناً لیږلے وو مونږ

فِيهِمْ مُنْذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ

په هغوی کښ ویره درکوونکی. نو اوګوره چه څه رنګے شو

عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ

آخری انجام دَ ویره ورکړے شوو. مګر بندګان دَ الله تعالیٰ

الْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾ وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ

چه بچ ساتلے شوے دی. او یقیناً اواز راکړے وو مونږ ته نوح علیه السّلام نو ډیر ښهٔ

ع ۲ ۵۳

سلا ۶۹ سلا ۷۰: په دے آیاتو کښ سبب ذکر کوی دَ عذابِ سابق چه هغه تقلید دَ گمراهانو دے بغیر دَ غور او فکر او دلیل نه۔ يُهْرَعُونَ دا مجهول دے په معنیٰ دَ معلوم سره لیکن مجهول ئے په دے وجه ذکر کړے دے چه گویا که چه دَ دوی زغلونکے دَ دوی جهل او خواهش دے۔
سلا ۷۱ سلا ۷۲ سلا ۷۳ سلا ۷۴: دا تخویف دنیوی دے منکرینو ته په عذابونو دَ تیرشوے مکذبینو سره او تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په راتللو دَ عذاب سره په مخالفینو باندے او نجات موندلو دَ موحدینو سره۔
إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ دا استثناء ده دَ منذرین نه استثناء متصل ده یا دَ اولین استثناء منقطع ده۔

الْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ الْكَرْبِ

جواب درکوونکی دو ۔ او خلاص کړو مونږ دے او کورنۍ دَدۀ دَ غم

الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ الْبَاقِينَ ﴿٧٧﴾

لوے نه ۔ او اوګرځوو مونږ اولاد دَدۀ باقي په دنیا کښ ۔

۷۵ دَ دے ایت نه تر ۱۳۹ پورے دوېم باب دے په دے کښ حالات دَ
اوو پیغمبرانو ذکر کوی چه دوی محتاج وو الله تعالیٰ ته او دَ هغۀ
بندګان وو لفظ دَ نَا ضمیرجمع متکلم (چه مراد تری نه الله تعالیٰ دے) دَ دوی
په واقعاتو کښ ذکر کوی اشاره ده چه دوی په دغه حالاتو کښ الله تعالیٰ
ته محتاج وو۔ هغه انبیاء علیهم السّلام نوح، ابراهیم، موسیٰ اوهارون، الیاس
لوط او یونس علیهم السّلام وو۔ او ربط دَ دے دَ المخلصین سره دے چه
هغه پیغمبران او دَ هغوی تابعداران وو۔ نَادَانَا، مراد دَ دے نه دُعاګانے دَ
نوح علیه السلام دی چه په سورة نوح کښ تفصیلاً ذکر شوی دی ۔
فَلَنِعْمَ فاء دلالت کوی په دغه دعا په ډیر اخلاص او تضرع سره چه
سبب دَ اجابت وو ۔

۷۶ ۔ دا دَ اجابت دَ دعا یوه طریقه ده چه دَ غرق نه بچ کیدل دی یعنی
په دے نعمت کښ الله تعالیٰ ته محتاج وو۔
الْكَرْبِ الْعَظِيمِ غرق کیدل دَ ټول قوم لوئے واره دا غټ غم دے
یا مراد دَ دے نه عذاب دَ ورځ دَ قیامت دے ۔

۷۷ ۔ دا بل انعام دے په نوح علیه السلام باندے چه په دے کښ هم
هغه الله تعالیٰ ته محتاج وو مراد دَ دے دا دے چه دَ نوح علیه السّلام
نه روستو ټول دنیا والا اولاد دَ دۀ دی او په دے کښ اشاره ده چه په
کشتۍ کښ صرف دَ دۀ اولاد وو او نور خلق ټول غرق شول۔ او دا رنګ
سورة یونس ۷۳ کښ تیر شوی دی۔ مفسرینو لیکلی دی چه دَ دۀ درے ځامن
بچ شول حام، سام، یافث، نو دَ حام اولاد سندھ، هند، نوب، زنج، حبش
او قبط او بربر وغیره دی او دَ سام اولاد عرب، فارس او روم او بنی
اسرائیل وغیره دی او دَ یافث اولاد ۔ ترک صقلب یاجوج ماجوج
چین وغیره دی۔

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿۷۸﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ

او پریخودلے دے موږ په دهٔ باندے په روستو خلقو کښې۔ سلام دے په

نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ ﴿۷۹﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي

نوح علیه السلام باندے په عالمو کښې۔ یقینًا موږ دغه شان بدله ورکوو

الْمُحْسِنِينَ ﴿۸۰﴾ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿۸۱﴾

خائسته عمل کوؤنکو ته۔ یقینًا دے دَ بندګانو زموږ نه وؤ چه مؤمنان دی۔

ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ ﴿۸۲﴾ وَإِنَّ مِنْ

بیا غرق کړل موږ روستنی خلق۔ او یقینًا دَ

شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ ﴿۸۳﴾ إِذْ جَاءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ

هغه دلے نه خامخا ابراهیم علیه السّلام وؤ۔ کله چه راغے خپل رب ته په زړه

۷۸ ۷۹ ۸۰ ۸۱ ۸۲ په دے کښې تورانعامات ذکر کړے شوے دی۔ ترکنا دَ دے مفعول حذف دے یعنی الثناء الحسن والذکر الجمیل۔ سَلَامٌ دَ دے مفعول حذف دے او معنیٰ دَ سلام داده چه دَ بد ذکر نه بچ او سالم دے په روستو خلقو کښې او په دے کښې هم تقدیر دے یعنی سَلَامٌ مِنَّا یعنی دا سلامتیا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ده۔ الْعَالَمِينَ مراد دَ دے نه ملائک او جن او انس دی۔ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ په دے کښې اشاره ده تسلّی دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم ته او دلیل دے چه سبب دَ دے انعاماتو احسان دَ نوح علیه السلام دے او احسان نه مراد دعوت الی الحق دے په اخلاص سره۔ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ دا هم تفسیر دَ احسان دے او تصریح ده چه نوح علیه السّلام دَ الله تعالیٰ دَ خاص بندګانو نه یو خاص بنده وؤ او محتاج وؤ۔

۸۳۔ دا دویمه واقعه ده دَ ابراهیم علیه السلام او دلیل نقلی دے په دے کښې ذکر دَ عبدیت دَ ابراهیم السلام ذکر کوی په دوه طریقو سره، اول مجاهده کول په دعوت دَ توحید کښې او په مصیبتونو باندے صبر کول دویم دَ الله تعالیٰ په امر سره خپل ځوئے قربانی کول۔ او ذکر کوی احتیاج ددهٔ الله تعالیٰ ته په سلامتیا او بشارت او برکاتو کښې چه دے الله تعالیٰ ته محتاج وؤ۔ شِيعَتِهِ یعنی ابراهیم علیه السلام په مجاهده کولو کښې دَ توحید دَ دعوت دَپاره دَ ډلے دَ نوح علیه السلام نه وؤ یعنی دَ هغهٔ پشان وؤ۔

سَلِیۡمٍ ﴿۸۴﴾ اِذۡ قَالَ لِاَبِیۡهِ وَ قَوۡمِهٖ مَاذَا
روغ سوچ . کله چه اُویل ئے پلار خپل او قوم خپل ته دَ څه څیز دَ

تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۸۵﴾ اَئِفۡکًا اٰلِهَۃً دُوۡنَ اللّٰهِ
عبادت کوئے تاسو . آیا دروغ معبودان سِوا دَ الله تعالیٰ نه

تُرِیۡدُوۡنَ ﴿۸۶﴾ فَمَا ظَنُّکُمۡ بِرَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۸۷﴾
غواړئے تاسو . نو څه گمان دے ستاسو په رب دَ عالمینو باندے .

۸۴:۔ دا بیان دَ تابعدارئے دَ دهٔ دے جَآءَ رَبَّهٗ دَ دے نه مراد توجه کول دی رب ته په دعوت کولو سره توحید ته. سَلِیۡمٍ خالی دَ شرک نه او دَ شبهاتو دَ شرک نه او دَ میلان کولو نه مشرکانو ته. مخلص په دعوت کولو کښ. (یره کوؤئے دَ الله تعالیٰ نه چه رپیگی دَ ویرے دَ وجے نه لکه چه انسان او چیچلے شی او رپیگی ردا تول احتمالونه دی).

۸۵:۔ مَاذَا مراد دَ دے نه تپوس کول دَ دلیل دَ شرک دی او طلب دَ وصف دَ معبودیت دے دَ دوی په معبودانو باطلو کښ لکه چه سورة مریم ۴۲ کښ تیر شوی دی.

۸۶:۔ هر کله چه هغوی عاجز دی دَ ذکر دَ دلیل نه او دَ اثبات دَ وصف دَ معبودیت دَ هغوی نه نو ابراهیم علیه السلام ورته دا اویل اَئِفۡکًا اٰلِهَۃً په دے عبارت کښ اول ترکیب دا دے. تریدون فعل دے دون الله ظرف دے او اٰلِهَۃً مفعول به دے افکًا مفعول له دے. معمولات ئے په عامل باندے دَ اهتمام دَ وجے نه مخکښ کړے دی او مفعول له کښ تصریح ده په بُطلان دَ طریقے دَ دوی نو هغه ئے په سر کښ ذکر کړو. دویم ترکیب دا دے افکًا مفعول به دے مبدل منه، اٰلِهَۃً دَ هغے نه بدل دے په طریقه دَ مبالغے سره. دریم دا دے چه اٰلِهَۃً مفعول به دے او اَئِفۡکًا په معنیٰ دَ آفکین سره حال دے دَ مفعول نه. افک په اصل کښ اوړیدلو ته وائی یعنی هغه سخت دروغ چه دَ حقیقت نه بالکل خلاف وی.

۸۷:۔ زجر دے په شرک باندے دلیله په دے کښ توجیهات دی. اوله دا ده آیا تاسو گمان کوئے چه الله تعالیٰ دے عاجز مخلوق لره دَ ځان سره شریک کړے دی. دویمه توجیه دا ده آیا تاسو گمان کوئے چه الله تعالیٰ دَ جنس دَ مخلوق نه دے چه تاسو دَ هغه تشبیه ورکوئے دَ مخلوق سره. (پاتے په بل مخ)

فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ ﴿۸۸﴾ فَقَالَ إِنِّي

نو نظر یئے اوکړه یو نظر په ستورو کښې نو اُویل یئے یقیناً زه

سَقِيمٌ ﴿۸۹﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿۹۰﴾

ناجوړه یم - نو روان شول دوی دَ هغه نه شاګرځوونکی -

دریم توجیه په طریقه دَ تخویف سره یعنې تاسو په الله تعالیٰ باندے څهٔ ګمان
کوئ چه په حالت دَ شرک کښې مړهٔ شئ او هغه ته به پیش شئ۔
۸۸ ۸۹ سنو۔ مراد دا دے چه په رد دَ شرک دَ هغوی کښې استدلال یئے اوکړو
یو څل استدلال دَ ستورونه او تفصیل دَ هغې په سورۃ انعام ۷۶ کښې تیر شوے دے
بیا یئے اویل زه بیمار یم یعنې زړهٔ م خفه دے ستاسو دَ شرک دَ وجے نه۔
یا مراد دا دے چه دوی ورته دعوت ورکړو چه زموږ دَ الهو عرس
دے موږ سره لاړ شه چه زموږ اثر قبول کړے نو هغه دَ دوی دَ خبرو
او دَ کارونو په مختلفو حصو کښې فکر او چلوو دَ پاره دَ دے چه څان ترینه په
څه بهانه سره پاتے کړی نو اویل یئے چه إِنِّي سَقِيمٌ۔ یا مراد دا دے چه ستورو
ته یئے اوکتل په اراده دَ دے چه دَ الله تعالیٰ دَ قدرت نمونے دی لیکن
دوی خیال اوکړو چه ابراهیم زموږ په طریقه سره ستورو ته کتلے دی۔ بنا په
روستو توجیه سره دا توریه عملی دہ او إِنِّي سَقِيمٌ توریه قولی دہ۔ مراد دَ
توریئے دا دے چه " متکلم یو خبره اوکړی او صحیح معنیٰ ترینه په خپله
اراده سره مقصود کړی لیکن مخاطب دَ هغې نه بله معنیٰ اراده کړی"
نو دلته هم سَقِيمٌ نه ابراهیم علیه السّلام خفګان دَ زړه مراد کړے دے
یا په معنیٰ سأسقم (زر دے چه بیمار به شم) او هر انسان ضرور بیماریږی
نو دا رښتیا دہ او هغهٔ قوم دا مراد واخستلو چه دَ دهٔ بدن بیمار دے او دوی
به دَ هرے بیمارے نه تفرت کوؤ نو دَ دے وجے هغه ته یئے شاګانے اوګرځولے
او روان شول۔ (سوال) که څوک اوائی چه په حدیث صحیح کښې دے لفظ سَقِيمٌ
ته کذب ویلے شویدی او حال دا دے چه انبیاء علیهم السّلام خو دَ ګناهونو
نه پاک دی؟
اول جواب دا دے چه کذب په معنیٰ دَ توریئے سره دے یعنې هر کله چه
دا معنیٰ دَ هغوی دَ مراد نه مخالف وه نو دَ دے وجے نه مجازاً یئے ورته
کذب اویل۔ دویم جواب دا دے چه مفسر رازی ویلے دی چه اطلاق دَ کذب

فَرَاغَ اِلٰٓى اٰلِهَتِهِمْ فَقَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٩١﴾
نو پټ راغۍ د دوی په معبودانو پسې نو اُوییل ئې ایا نه خورئ تاسو.
مَالَكُمْ لَا تَنْطِقُوْنَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ
څه وجه ده تاسو لره چه خبرې هم نه کوئ. نو متوجه شو په هغوی
ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ ﴿٩٣﴾ فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ
په وهلو سره په ښی لاس باندې. نو متوجه شو هغه خلق ده طرف ته
يَزِفُّوْنَ ﴿٩٤﴾ قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ مَا تَنْحِتُوْنَ ﴿٩٥﴾
منډې وهلې. اُوییل ئې ایا بندګی کوئ تاسو د هغه څیزونو چه په لاسو ئې تراش کړي

راوی دَ ځان نه جوړکړے دے په طریقه دَروایت بالمعنیٰ سره ځکه چه نسبت کول دَ خطائې روایت کوؤنکی ته غوره دی دَ نسبت کولو دَ دروغو ویلو نه ابراهیم علیه السّلام ته۔

سلو سلا :۔ دا ذکر دَ مجاهدے کولو دَ ابراهیم علیه السّلام دے دَپاره دَ رد دَ شرک۔
رَاغَ پټ راتللو دَپاره دا لفظ استعمالیږی،دے هم دَ قوم نه پټ راغے۔ او هغه قوم دَ دے اِلٰهو په وړاندے خوراکونه کیخودل دَپاره دَ دے چه برکت پکښ پیدا شی بیا به ئې لګ دَ هغې نه دَ تبرک دَپاره ځان له راوړو او باقی به ئې مجورانو ته پریخودو نو ابراهیم علیه السلام په دے خطابونوکښ دا خبره ثابته کړه چه دوی خوراک او خبرے نشی کولے نو دوی دَ عبادت لائق نه دی او دا خطابونه اګرچه بتانو ته دی لیکن الزام دے په دغه مشرکانو باندے۔ رویلے کیږی یو ته اوروے کیږی بل ته) دا مثل دے۔
سلا :۔ هرکله چه په وهلوکښ معنیٰ دَ ضرر ده دَ دے وجے نه ئې دلته دَ فَرَاغَ په صله کښ علیٰ ذکرکړو۔ بِالْیَمِیْنِ نه ښے لاس مراد دے ځکه چه په هغې کښ قوت ډیروی یا قسم مراد دے هغه چه سورة انبیاء سكه کښ ذکر دے او باء سببیه ده۔ یا عدل ته ئې ویلے دے یعنی هغه عدل (توحید) چه بیعت ئې کړے وو دَ الله تعالیٰ سره په ورځ دَ میثاق کښ۔
سلا :۔ یَزِفُّوْنَ په تیزے سره راتلل په ابراهیم علیه السلام پسے روستو دَ خبریدلو دَ دوی په دَ واقعه باندے۔ یا مراد دا دے چه په تکبر سره راتلل۔ دَ زفاف دَ ناوے نه ماخوذ دے۔
سلو سلا :۔ دا رد دے دَ هغوی په شرک باندے په دوه طریقو سره (یا ته په بل مخ)

وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾ قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ
او الله تعالیٰ پیدا کړی یئ تاسو او ستاسو عملونه - اُوییل دوی جوړ کړئ دده دپاره

بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ ﴿٩٧﴾ فَاَرَادُوْا بِهٖ
آبادی نو او غورځوئ دهٔ لره په اُور کښ - نو او غوښتلو دوی (چه اوکړی) هغهٔ

كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿٩٨﴾ وَقَالَ اِنِّيْ
چل ول نو اوګرځول مونږ دوی ذلیلان - اُوییل هغه یقیناً زه

اوله طریقه تَنْحِتُوْنَ یعنی تاسو دا بُتان دَ لرګو اوګټو وغیره نه په خپلو لاسو نو جوړ کړیږی نو هغه دَ عبادت حق دار نشی کیدے او په دے کښ هغه قبرونه هم داخل دی چه په چونه او سیمټو سره پاخه کړے شوے وی اوچه ولی کړے شوے وی او بیا ورته سجدے لګوی او حاجات ترینه غواړی.
دویمه طریقه وَمَا تَعْمَلُوْنَ یعنی ستاسو او ستاسو دَ عملونو خالق صرف الله تعالیٰ دے او په دے کښ دا معبودان باطله او دَ هغوی بندګی کول هم داخل دی.
او دا دلیل دَ اهلِ سنت والجماعة دے په دے عقیده باندے چه الله تعالیٰ خالق دَ هر عمل دے که خیر وی او که شر وی او اختیاری وی او که غیر اختیاری وی دَ دے وجے نه اضلال او هدایت او دَ ختم او طبع نسبت الله تعالیٰ ته په حقیقت باندے بنادے او اعمالو اختیاریو کښ کسب دَ بنده لره دخل شته دے حساب دَ بنده سره دَ هغهٔ دَ کسب دَ وجے نه کیږی او قدریه معتزله وائی چه افعالِ اختیاری دَ بندګانو، مخلوق دَ بندګانو دے نو دوی دَ الله تعالیٰ سره په صفت دَ خلق کښ شریک جوړ کړو او جبریه وائی چه دَ انسان کسب لره هیڅ دخل نیشته مجبورِ محض دے او حال دا دے چه په مینځ دَ کټے او دَ انسان ژوندی کښ او هم دا شے په مینځ دَ روغ لاس او ګوزن والی لاس کښ فرق تمام اهلِ عقل منی نو دَ دوی دا قول دَ عقل نه هم خلاف دے.
۹۷ ۹۸:- هر کله چه دَ دوی سره دلیل نوؤ په شرک باندے نو دَ ظلم لار یئ اختیار کړه او مشوره یئ اوکړه چه یو لویه آبادی (دَ تنور په شکل باندے) جوړه کړئ، نو هغه یئ جوړه کړه او دَ خاشاک نه یئ ډکه کړه او اور یئ پکښ بل کړو او ابراهیم علیه السلام یئ پکښ او غورځوؤ او دے ته لے کارنامے ته یئ کَیْدًا اوویل لیکن هر کله چه په

ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ﴿۹۹﴾ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۰۰﴾ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾

ځمه طرف دَ رب خپل ته خامخا ماته لار اوخاښي - اے ربه زما اوبخښه ماته (ولد) دَ نیکانو ته - نو زیرے ورکړو مونږ هغه ته په هلک صبرناک سره

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّيْ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى ؕ قَالَ يٰاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِيْ

نو هرکله چه اورسیدلو دَ هغه سره کار کولو ته اوویل هغه اے ځویه زما یقیناً زه وینم په خوب کښ چه ذبح کوم تا نو سوچ اوکړه چه څه رائے لرے ، هغه اُوویل اے پلاره زما اوکړه هغه چه تاته څه حکم کیږي .زر دَ او به مومے ته ما لره

دلیل هم ذوی پرهٔ شول او اوریئے بے اثره شو دَ دے وجے ته ئے اوویل الاَسْفَلِيْنَ او هرکله چه مال او خشاک او وخت یئے بے فائدے شول نو دیته ئے په سورة انبیاء سے کښ الاخسرین ویلے وو .

س۹۹ :- په دے کښ دوه اقوال دی اول دا چه اورته ئے بوتللو نو دا کلمه ئے اوویله نو معنیٰ دا ده "زه روان یم هغه ځائے ته چه رب زما مقرر کړے دے زر دے چه ما لره په طریقه دَ نجات جوړه کړی". دویم قول دا دے چه روستو دَ بچ کیدلو دَ اور ته عزم دَ هجرت ئے اوکړو او په سورة عنکبوت س۲۶ کښ هم دَ دے تائید دے او اِلٰى رَبِّيْ کښ الیٰ په معنیٰ دَ لام دے دَپاره دَ رضا دَ رب یا په معنیٰ دَ هغه ځائے چه امر کوی ماته رب زما. مفسرین وائی چه اول هجرت دَ رب دَپاره ابراهیم علیه السّلام کړے دے او هجرت ئے کړے وو ملک شام ته .

س۱۰۰ س۱۰۱ :- هر کله چه دَ دین دَ بقا دَپاره دَ اولاد ضرورت دے چه دَ دین دعوت جاری او ساتلے شی دَ دے وجے نه دَ ځوئی په باره کښ ئے دُعا اوغوښتله او هغه دعا قبوله شوه او لفظ حَلِيْم کښ اشاره ده چه دے به بلوغ ته وررسیږی ځکه چه صفت دَ صبر دَ بالغانو په مدح کښ ویلے کیږی .

إِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٠٢﴾ فَلَمَّا

که چیرے الله تعالیٰ اوغواړی دَ صبر ناکو نه - نو هرکله

سّٰعُیْ :- دَ دے آیت نه دَ بلے ابتلاء دَ ابراهیم علیه السّلام واقعه ذکر کوی. السَّعْیَ یعنی داسے عمر ته اورسیدلو چه دَ پلار سره کاروبار ئے کولے شو او عبادت ئے هم کولے شو او په داسے عمر کښ دَ اولاد مرګ دَ ډیر غم سبب وی. اَرٰی فِی الْمَنَامِ دا دلیل دے چه رویا دَ انبیاء علیهم السّلام قطعی وحی ده چه په هغے باندے عمل کول فرض دی. فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰی دا دَ رائے نه ماخوذ دے. (سوال) هرکله چه حکم دَ الله تعالیٰ واجب العمل دے نو دَ ځوئی سره پکښ مشوره ولے کوی؟ جواب، دا دَ دے دَپاره چه دَ ځوئی صبر او طاعت دَ امر دَ الله تعالیٰ معلوم کړی نو زړه به ئے ډیر خوشحاله شی. لفظ دَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ سبب دے دَپاره دَ توفیق دَ صبر.

(بحث دَ ذبیح) اختلاف دے دَ اهل علمو چه ذبیح اسماعیل علیه السلام دے او که اسحاق علیه السّلام دے په دے کښ درے قولونه دی.

۱ اول قول دَ توقف دے زجاج وغیره دَ دلیلونو دَ تعارض دَ وجے نه په دے کښ توقف کړے دے. ۲ دویم قول دا چه ذبیح اسحاق علیه السّلام دے او دا روایت دے دَ عبد الله بن مسعودؓ او دَ ابن عباسؓ او علیؓ بن طالب او عکرمه او سعید بن جبیر او مجاهد او شعبی وغیرهم نه، او دا غوره کړے دے ابن جریر او قرطبی. (دلیلونه دَ دے قول دا دی) دلیل اول احادیث موقوفه دی چه په هغے کښ وارد دی یوسف بن یعقوب بن اسحاق ذبیح الله بن ابراهیم خلیل الله. دلیل ثانی حدیث مرفوع په واسطه دَ عباسؓ بن عبد المطلب چه ذبیح اسحاقؑ دے. دلیل ثالث عبارت دَ تورات دے اذبح ولدك وحيدك اسحاق. لیکن درے واړه دلیلونه ضعیف دی هرچه اول دے نو مفسر ابن کثیر فرمائیلی دی چه دغه ټول اقوال په اصل کښ نقل دی دَ کعب الاحبار نه دَ هغهٔ نه په صحابه کرامو او تابعینو نقل کړیٔ دَ روایاتو اسرائیلیو او امام بخاری ذکر کړے دی چه دَدهٔ په روایتونو کښ به اکثر دروغ وو. هرچه دویم دلیل دے نو په سند دَ دغه حدیث مرفوع کښ حسن بن دینار بصری او علی بن زید بن جدعان دے اول راوی متروک دے او دویم منکر الحدیث دے. هرچه دریم دلیل دے نو ابن قیم

أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ وَنَادَيْنَاهُ أَنْ

چه غاړه کیښوده دواړو حکم د الله تعالیٰ ته او غملولے هغه لره په اړخ د سر باندے ۔ او اواز وکړو موتږ هغه ته چه

الجوزیه په اغاثة اللهفان ص۳۲۸ ج۲ کښ ثابت کړے ده چه دا په تورات کښ تحریف لفظی د یهودیانو دے په اصل کښ وحیدك اسماعیل وو نو دوی د اسماعیل په ځائے باندے اسحاق اولیکو ۔ ۳ دریم قول دا دے چه ذبیح اسماعیل علیه السلام دے او دا قول د عبد الله بن عمرؓ او ابی هریرةؓ او علیؓ او ابو الطفیل او سعید بن مسیب وغیرهم دے او اکثر مفسرینو هم ئیئو دا قول صحیح گرځولے دے، (دلیلونه د دے قول) اول دلیل احادیث موقوفه د ابن عباس او د ابن عمر او روایات د مجاهد او د شعبی او محمد بن کعب قرظی او د حسن بصری دی او ابن کثیر نقل کړے دی په دے روایتونو کښ تصریح ده چه ذبیح اسماعیل علیه السلام دے او یهودیانو ویلے دی چه اسحاق علیه السلام دے لیکن هغوی دروغ وائی ۔ دویم دلیل ابراهیم علیه السلام د دے (ذبیح) ولد په باره کښ دعا کړے وه رب هب لی من الصالحین او اسحاق علیه السلام په غیر د دُعا د هغه نه پیدا شوید ے ۔ دریم دلیل د اسحاق علیه السلام په باره کښ قرآن کریم کښ غلام علیم ویلے شوید ے او دلته غلام حلیم دے معلومه شوه چه دا اسماعیل علیه السلام دے ۔ څلورم دلیل په دے ایاتونو (د سورة صافات) کښ دوه کرته بشارت ذکر دے دویم بشارت کښ تصریح ده په اسحاق علیه السلام باندے نو اول بشارت کښ چه هم دے مراد کړے شی نو تکرار به راشی ۔ پنځم دلیل په اتفاق سره ثابته شویده چه واقعه د ذبح په مکه کښ په منیٰ کښ شویده او هلته کښ مقیم اسماعیل علیه السلام وو سره د مور نه ۔ شپږم دلیل د اسحاق علیه السلام په باره کښ چه بشارت دے نو په هغے کښ ورسره بشارت په یعقوب علیه السّلام سره ذکر دے چه هغه ځوئے د اسحاق علیه السلام دے نو د هغے نه معلومیږی چه اسحاق علیه السّلام به نه مړکیږی چه څو پورے د هغه ځوئے یعقوب علیه السّلام نه وی پیدا شوے نو ابتلاء په ذبح سره نشی کیدے ۔ اووم دلیل حدیث د انا ابن الذبیحین دے یو ذبیح عبد الله وو پلار د رسول الله صلی الله علیه وسلّم چه نذر کړے وو خپل پلار عبد المطلب او په باره د ذبح د هغه کښ ئے بیا د هغه په ځائے سل اوښان یا یو کم ذبح کړو ۔ (باقی په بل مخ)

يٰۤاِبْرٰهِيْمُ ﴿۱۰۴﴾ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ اِنَّا

اے ابراهيم يقيناً رښتيا کړو تا خوب لره يقيناً

كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِنَّ

دغه شان بدله ورکوو موږ ښائسته عمل کوونکو ته . يقيناً

هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ﴿۱۰۶﴾ وَفَدَيْنٰهُ

دا خامخا ازمائښت ښکاره دی . او بدله ورکړه موږ هغه ته

او دوېم ذبيح اسماعيل عليه السّلام دے . (دا مضمون دَ اغاثة اللهفان نه راغستلے شوے دے) نو معلومه شوه چه ذبيح اسماعيل عليه السّلام دے او مقابل قول ضعيف دے .

۱۰۳ تا ۱۰۵ :. اَسْلَمَا دواړه حکم دَ الله تعالیٰ ته تابع شول يعنی ابراهيم عليه السلام اسباب دَ ذبح کولو تيار کړل او اسماعيل عليه السّلام منا يوحيت دَ پاره تيار شو.

لِلْجَبِيْنِ جبين دَ تندی هر دواړو طرفونو ته ويلے کيږی او جبهه تندی ته ويلے کيږی يعنی په اړخ باندے واچوؤ لکه چه ذبح کولو دَ پاره عامه طريقه ده او جزا دَ لمّا پټه ده (فديناه بکبش) يا (كان ما كان من حالهما) " او شول هغه کار و نه چه کيدل " او جزاء ئے حذف کړے ده دَ دے وجے نه چه په هغے تفصيل او حقيقت باندے يو الله تعالیٰ عالم دے.

قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا (سوال) ذبح نه ده شوے نو څه رنګ خوب رښتينے شو؟ (جواب) خوب کښ ئے اذبحك ويلے دی ذبحت ئے نه دے ويلے يعنی ذبح کولو ته تياری کول ئے په خوب کښ ليدلے وه. او هغه معلومه شوه اَسْلَمَا سره. اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ يعنی اخلاص کوونکی په بندګئ دَ الله تعالیٰ کښ دَ هغوی بندګی الله تعالیٰ قبلوی او په هغوی باندے اسانتيا راولی .

۱۰۶ :. بلاء په معنیٰ دَ امتحان او ابتلاء دے او دا معنیٰ ظاهره ده يا په معنیٰ دَ نعمت او احسان دے او هذا اشاره ده روستو ايت ته يعنی بدله پکړی سره

بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿۱۰۷﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ

په حلال شوي لوي ـ او پريښودلو موږ په هغه پاتې

فِي الْآخِرِينَ ﴿۱۰۸﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿۱۰۹﴾

په روستنو خلقو کښې ـ (داچه) سلام دے په ابراهيم عليه السّلام پاتې ـ

كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۱۰﴾ إِنَّهُ

دغه شان بدله ورکوو موږ ښايسته عمل والو ته ـ يقينًا دے دۀ

مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۱۱﴾ وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ

زموږ دَ بندګانو مؤمنانو نه ـ او زيرے ورکړو موږ دۀ ته په اسحاق عليه السّلام سره

نَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿۱۱۲﴾ وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ

نبي دۀ دَ نيکانو نه دۀ ـ او برکتونه واچول موږ په هغه پاتې

سنا ۱۰۷: وفديناه فديه ورکول دَ يو بندیوان دَ خلاصولو دَپاره وي يعني ابراهيم عليه السّلام خوئي لره ته پريښودلو ليکن موږ ترينه په فديه سره خلاص کړو. ذِبح په زير دَ ذال سره په معنیٰ دَ مذبوح دے او په زور سره مصدر دے. عَظِيم يعني قدر او مرتبه ئې لويه وه ځکه چه دَ لوئے سړي په بدله کښې ئې لوئے سړی لره ورکړو او هغه یو ګډ وو چه الله تعالیٰ دَ غيبونه را اوليږلو او ابراهيم عليه السّلام ته امر او شو چه دے ذبح کړه. دا دليل دے چه قرباني کول په ګډ سره افضل دي. او بعض مفسرينو ويلي دي چه دا قرباني کول چه سنّت دَ ابراهيم عليه السّلام په ټولو امتونو کښې جاري دے دا ذِبح عظيم دے. او دا رنګ دَ ديته عبد الله بن عباس رضي الله عنهما استدلال کړے دے چه چا نذر اوکړو په ذبح دَ ولد سره نو په ذبح کولو دَ ګډ سره به نذر پوره کړي ليکن دا هغه وخت چه ذبح کول دَ ولد حلال نه ګنړي که حلال ګنړي نو دا نذر دے په ګناه سره هغه خو صحيح نه دے.

سنا ۱۰۸ سنا ۱۰۹ سنا ۱۱۰ سنا ۱۱۱ په دے ايا تونو کښې ذکر کړے دے احتياج دَ ابراهيم عليه السّلام الله تعالیٰ ته په سلامتيا او جزا کښې او ذکر دے عبديت دَ هغه دَپاره دَ الله تعالیٰ. نور تفسير مخکښې تير شويدے.

سنا ۱۱۲: دا دويم بشارت دے معلومه شوه چه اول (ياتے په بل مخ)

وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ؕ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ

او په اسحاق علیه السلام باندے او د اولاد د دوایړو نه څوک ښائسته عمل والا دی

وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ﴿۱۱۳﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا

او څوک ظلم کوی په خپل ځان باندے ښکاره - او یقینًا احسان کړیدے مونږ

عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَنَجَّيْنٰهُمَا

په موسٰی علیه السلام او هارون علیه السلام باندے. او خلاص کړل مونږ دوی

وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۱۵﴾

او قوم د دوی د غم لوئے نه

وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۶﴾

او مدد اوکړو مونږ د دوی سره نو دوی شول زورور

بشارت په اسماعیل علیه السّلام سره وؤ - مِنَ الصّٰلِحِيْنَ دا صفت روستو د نَبِيًّا نه د پاره د تاکید دے په کمال صلاحیت سره په کمال د نفس خپل او په تکمیل سره د غیر کښ .

سـ۱۱۳ :۔ اشاره ده چه دوی په برکاتو کښ الله تعالیٰ ته محتاج وؤ۔ د برکت نه چه روستو عَلٰٓى راغلی نو دلالت کوی چه اثر د دے برکاتو په ظاهر کښ هم دے لکه چه په باطن کښ دے او فیه چه راغلی نو دلالت کوی په برکاتو باطنیو باندے او دلته برکت ظاهریه دا دے چه الله تعالیٰ دے دوایړو ته ډیر اولاد ورکړل او پیغمبران ئے د دوی په اولاد کښ پیدا کړے دی.

وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا یعنی د دوی اولاد دوه ډلے دی مؤحدین او غیر مؤحدین۔ او په دے کښ اشاره ده چه پیدا کیدل د پیغمبرانو د پلار د پاره سبب د نجات نه دے کله چه هغه ظالم او مشرک وی او دارنګ مشرک او ظالم کیدل د اولاد پلار ته نقصان نه رسوی کله چه هغه پخپله صالح وی۔

د سـ۱۱۴ نه تر سـ۱۲۲ پورے دا دریمه قصه ده په دے کښ ذکر کوی احتیاج د موسٰی او هارون علیهما السّلام په ټولو نعمتونو او کمالاتو کښ الله ﷻ ته. اول احسان د نبوت دویم نجات د غرق نه دریم نصرت او غلبه څلورم

وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَهَدَيْنٰهُمَا

و ورکړو مونږ دوی ته کتاب بیان کاره حکمونو والا ۔ او پاخه کړے مونږ دوی دواړه

الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۱۸﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا

په لاره تیخه باندے ۔ او پریخودلے دے مونږ په دے دواړو باندے

فِى الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى

په روستو خلقو کښ سلام دے په موسٰی

وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۰﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲۱﴾

او هارون علیهما السلام باندے ۔ یقینًا دغه شان بدله ورکوو مونږ ښائسته عمل والو ته

اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ وَاِنَّ

یقینًا دا دواړه زمونږ د بندګانو مؤمنانو نه وو ۔ او یقینًا

اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ قَالَ

الیاس علیه السلام خامخا د رسولانو نه وو ۔ کله چه اُویل ئے

لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اَتَدْعُوْنَ

قوم خپل ته ایا نه بچ کیږے د شرک نه ۔ ایا رابلئ تاسو په حاجتونو کښ

کتاب اللہ نعم هدایت دَ صراط مستقیم شیرم ثناءِ حسن او سلامتیا اووم جزاء دَ احسان او اخلاص او په اخرکښ ذکر دے عبدیتِ خاصه دَ دے دواړو ، نو دا دلیل دے چه دوی شفعاءِ شرکیه (الِهه) نشی کیدلے ۔
لکَرْبِ الْعَظِيْمِ مراد دَ دے نه غرق دے یا غلامی دَ فرعونیانو ۔
وَنَصَرْنٰهُمْ ضمیر موسٰی او هارون علیهما السّلام او قوم ته راجع دے ۔
الْمُسْتَبِيْنَ چه پوره نور پکښ وی او جامع وی دَ علومو او حکمتونو نه او هغه تورات وو وَهَدَيْنٰهُمَا مراد دَ دے نه سنت دَ دے دواړو دے چه هغه شرحه وه دَ تورات دَ پاره ۔
دَ ۱۲۳ نه تر ۱۳۲ پورے دا څلورمه قصه ده ۔ په دے کښ ذکر کوی عبدیت دَ الیاس علیه السلام په طریقه دَ دعوت کولو دَ هغهٔ توحید ته او رد کول په شرک باندے او بیا ذکر کوی رباتے په بل مخ)

بَعۡلًا وَّتَذَرُوۡنَ اَحۡسَنَ الۡخٰلِقِيۡنَ ﴿۱۲۵﴾
بعل لره او پریږدئ تاسو ښائسته د شکل جوړوونکو نه
اللّٰهَ رَبَّكُمۡ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۱۲۶﴾
چه الله دے رب ستاسو او رب د مشرانو ستاسو پخوانو دے.
فَكَذَّبُوۡهُ فَاِنَّهُمۡ لَمُحۡضَرُوۡنَ ﴿۱۲۷﴾ اِلَّا
نو دروغژن ئے اوبلل هغه ته نو یقینًا دوی به خامخا حاضر کړیشی په عذاب کښ مګر
عِبَادَ اللّٰهِ الۡمُخۡلَصِيۡنَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ
بندګان د الله تعالیٰ چه ساتلے شوی. او پریښودو مونږ په دهٔ پاندے
فِى الۡاٰخِرِيۡنَ ﴿۱۲۹﴾ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلۡ يَاسِيۡنَ ﴿۱۳۰﴾
په روستو خلقو کښ سلام دے په الیاسین علیه السّلام باندے.

احتیاج دَ دهٔ الله تعالیٰ ته په ثناءِ حسن او سلامتیا کښ او آخر کښ ذکر کوی عبدیتِ خاصه ددهٔ - وَاِنَّ اِلۡيَاسَ اتفاق دے دَ مفسرینو چه دا رسول وؤ په بنی اسرائیلو کښ هرکله چه هغوی په شرک کښ اخته شول او دَ عکرمه او ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دے چه دَ دهٔ نوم ادریس وؤ نو کیدے شی چه الیاس ئے لقب وی او ادریس ئے عَلَم وی یا په عکس سره او دَ دهٔ په باره کښ چه کوم حدیث قرطبی او نورو ذکر کړے دے چه هغه ژوندے دے او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره ملاقات شویدے نو سیوطی دَ امام ذهبی نه نقل کړے دی چه دا حدیث موضوع دے دارنګ حدیث دَ ژوند دَ خضر او دَ الیاس علیهما السلام صوفیاؤ بے سنده ذکر کړے دی او هرکله چه دهٔ دَ شرک ښکاره مقابله کړے وه نو دَ دے وجے نه ئے وصف دَ لَمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ذکر کړو. اَلَا تَتَّقُوۡنَ مراد دَ تقویٰ نه دَ شرک نه بچ کیدل دی. اَتَدۡعُوۡنَ دا تفسیر دَ عدم تقویٰ دے. بَعۡلًا مفسرینو لیکلی دی چه بعل بُت (شکل) دَ سپینو وؤ دَ سرو زرو نه ئے جوړ کړے وؤ او شل ذِ راعه اوګد وؤ او دَ هغے څلور سوه منجوران خدمتګاران وو او شیطان به کله کله په هغه بُت کښ د ننه داخل شو او دَ دوی سره به ئے دَ ګمراهئ خبرے کولے - او بَکۡ دَ هغه ځائے

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣١﴾

یقیناً دغه شان بدله ورکوو موږ خاېسته عمل والو ته۔

إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾ وَإِنَّ

یقیناً دے زموږ د بندګانو مؤمنانو نه وو۔ او یقیناً

لُوطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٣﴾ إِذْ نَجَّيْنَاهُ

لوط علیه السّلام وو خامخا د رسولانو نه۔ کله چه خلاصے ورکړو موږ دهٔ لره

وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿١٣٤﴾ إِلَّا عَجُوزًا

او کورنئ د دهٔ ټولو لره مګر بوډۍ ده

بادشاه وؤ او دَ خپل ښار توم ئې بعلبک کېخودے وؤ۔
وَتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ وذر په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه روستو دَ تعلق نه ئې پریږدی نو هر مشرک دَ الله تعالیٰ سره، سرهٔ دَ تعلق ساتلو نه شرک کوی۔ الْخَالِقِيْنَ خلق په معنیٰ دَ تصویر دے لکه چه سورة مؤمنون ۱۴ کښ هم ذکر شویدی۔ لَمُحْضَرُوْنَ مطلق احضار دَ عذاب په ځائے کښ استعمالیږی۔ اِلْيَاسِيْنَ غوره داده چه مراد په دے سره الیاس دے لیکن عرب په اسماءِ عجمیه کښ ډیر تصرفات کوی چه په هغے سره مقصد ته نقصان نه رسیږی۔ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ صحیح داده چه دا استثناء ده دَ ضمیر دَ كَذَّبُوْهُ نه۔
دَ ۱۳۳ نه تر ۱۳۸ پورے۔ داپنځمه قصه ده په دے کښ احتیاج دَ لوط علیه السلام ذکر کوی په خپل نجات کښ او دَ اهل په نجات کښ او په هلاکت دَ قوم کښ سرهٔ دَ زجر او تخویف نه منکرینو ته۔
مُصْبِحِيْنَ وَبِالَّيْلِ په دے کښ خطاب دے اهلِ مکه ته چه هر کله به دوی شام ته تلل په سفر دَ تجارت سره نو چه دَ مکے نه به مابنام روان شول نو صبائی وخت کښ به کلو دَ قوم لوط علیه السلام ته اورسیدل او که صبا وخت به ئې سفر شورو کړو نو دَ شپے وخت کښ به هلته اورسیدل۔ او مصبحین ئې په صیغه دَ اسم سره ذکر کړو اشاره ده چه اوله طریقه دَ سفر چه دَ شپے سفر دے دا به ډیر وؤ په نسبت دَ سفر دَ ورځے ځکه قافلے اکثر دَ شپے سفر کوی۔ (پاتے په یل مخ)

فائده :- په دے واقعه دَ لوط علیه السّلام کښ (سلام) او (انه من عبادنا) ئې نه دے ذکر کړے اشاره ده چه نوح او ابراهیم او موسٰی او الیاس علیهم السّلام هغه انبیاء وو چه دَ هغوی دَ قتل کولو اراده قومونو کړے وه لیکن دَ الله تعالٰی دَ طرف نه هغوی ته سلامتیا او حفاظت ورکړے شوے وو او دَ لوط علیه السّلام دَ قتل کولو دَ اراده ذکر نه دے کړے شوے. او دارنګ تیر شوے انبیاء علیهم السّلام هغه وو چه په دعوت الی التوحید کښ ډیر تکالیف ئې برداشت کړے وو او روستو دَ وفات کیدلو دَ هغوی نه بعض خلقو دَ هغوی دَ الوهیت عقیده ساتلے وه او دَ لوط علیه السّلام حال داسے نه وو دَ دے وجے نه دلته ئې (انه من عبادنا) ذکر نه کړو او نورو سره ئې ذکر کړے وو (والله اعلم بالصواب).

دَ ۱۳۹ نه ۱۴۸ پورے دا شپږمه قصّه ده او په دے کښ ذکر کوی تفصیلی حال دَ یونس علیه السّلام په بیان دَ عبدیت دَ هغه په پنځه طریقو سره. رسول وو. ئې اجازته تلے وو. خسړی اچولو کښ پرشو. مهی (کب) تیر کړو. تسبیح ئې ویله. او احتیاج دَ ده ئې ذکر کړے دے په څلورو طریقو سره. راویستل دَ خیټے دَ مهی نه. اُو نه دَ هغه دَ

فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَالْتَقَمَهُ

نو شو دَ پہ شوؤ نه .

نو تیر کړه دهٔ لره

الْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ

مهی او دے وؤ ځان ملامته کوُنکے . نو که چرے نه وے دے

مِنَ الْمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ

دَ تسبیح ویونکو نه

نو حصار شوے به وؤ په خیټه دَ مهی کښ

إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤٤﴾ فَنَبَذْنَاهُ بِالْعَرَاءِ

تر ورځے دَ دوباره ژوندی یورے .

نو اوغورځوؤ مونږ دهٔ لره په ډاګه باندے

وَهُوَ سَقِيمٌ ﴿١٤٥﴾ وَأَنْبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً

او دے ناجوړه وؤ . او دا اوتوکوله مونږ په دهٔ باندے اُونه

مِنْ يَقْطِينٍ ﴿١٤٦﴾ وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ مِائَةِ

دَ قسم دَ کدُو نه . او او لیږلو مونږ دے یو لاکھ

دَپاسه زرغونه ول بیا لیږل په رسالت سره ، متاع ورکول ، نو دا ټول دلیلونه دی چه یونس علیه السلام دَ الله تعالیٰ سره شریک نه شی کیدے او نه شفیع قهری کیدے شی . اَبَقَ بغیر دَ اجازت دَ مولیٰ نه تللو ته اباق ویلے کیږی . دے هم هرکله چه نا امیده شو دَ ایمان دَ قوم نه او وخت دَ عذاب دَ هغوی هم نزدے شو نو اجتهاد ئے اوکړو چه پیغمبران خو دَ قوم دَ عذاب په وخت کښ دَ هغه کلی نه اوځی نو دے دَ دے وجے نه دَ هغه کلی نه بهر لاړو او دَ الله تعالیٰ دَ خاص حکم انتظار ئے اونکړو نو یو کشتۍ کښ سور شو چه په هغے کښ سورلے ډیرے وے هرکله چه کشتۍ دَ دریاب مینځ ته اورسیده نو دَ ډیر درونوالی دَ وجے نه غرقیدلو ته نزدے شوه نو کشتۍ والو فیصله اوکړله چه دَ دے نه یوه سورلی کمه ول ضروری دی چه کشتۍ سپکه شی نو دَ دریاب په مینځ کښ دَ کشتۍ نه غورځولو ته هیڅوک تیار نه وو نو دوی اتفاق اوکړو چه قرعه اندازی به اوکړو چه دَ چا قرعه راوځی نو هغه به مجبوراً دَ کشتۍ نه اوغورځوو نو قرعه دَ یونس علیه السّلام راوتله دا مطلب دے دَ دے قول فساهم فکان من المدحضین (رپاتے پہ بل مخ)

اَلْفٍ اَوْ يَزِيْدُوْنَ ﴿۱۴۷﴾ فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ

خلقو ته بلکه زیاتیدل ـ نو ایمان راوړو دوی نو مزه ورکړے مونږ هغوی ته

اِلٰى حِيْنٍ ﴿۱۴۸﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ

تر یو وخت پورے ـ پس ته تپوس اوکړه د دوی نه آیا ستا رب لره لونړه دی

فائده :- قرعه کول په هغه حالت کښ شرعًا جائز دی چه د هر سړی حق هغه ته او رسیږی لیکن د رواتړ والی او روستو والی د پاره یا د معمولی فرق د وجے نه د پاره د تطیب قلب قرعه اوکړے شی او هیڅوک د خپل حق نه محروم نشی نو دا جائز ده هم دا رنګ چه حق واجبه د څپاټه دی لیکن د انعام او د احسان په طور سره په ډیرو کسانو کښ یو شخص له انعام ورکوی نو د هغه تعیین اوکړیشی په قرعه کولو سره ـ او مفسر قرطبی لیکلی دی چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه درے مواضعو کښ قرعه کول ثابت دی ـ ۱ په حال د سفر کښ د بیبیانو په مینځ کښ قرعه کول چه کوم یوه ځان سره یوځی ـ ۲ یو شخص وو شپږ مریان ئے آزاد کړے وو او نور مال ئے نوو نو نبی صلی الله علیه وسلم د ثلث د پاره قرعه اوکړه یعنی دوه ئے د هغ نه آزاد کړل ۳ په تقسیم د میراث کښ ـ او هر چه واقعه د یونس علیه السلام ده نو دا مختص وو په هغه وخت پورے او په هغ کښ د الله تعالیٰ ډیر حکمتونه وو او س زمانه کښ که داسے واقعه راشی نو نه دی جائز چه یو تن لره د دریاب نه اوغورځولے شی بلکه صبر به کوی په قضا د الله تعالیٰ باندے او الله تعالیٰ ته به التجاء کوی ـ
مُلِيْمٌ ځان لره ملامته کوونکے وو په اقرار کولو سره چه انی کنت من الظالمین ـ الْمُسَبِّحِيْنَ مراد دا دے چه دے د مخکښ وخت نه ډیر ذکر کوونکے وو نو دا مصداق دے چه اذکروا الله فی الرخاء یذکرکم فی الشدة ریادوئ الله تعالیٰ لره په حالت د فراخے کښ نو الله تعالیٰ به یاد کړی تاسو په سختئ کښ) یا مراد دا دے چه د ماهی په خیټه کښ لا اله الا انت سبحانك ذکر ئے کولو ـ او په دے کښ ترغیب دے ذکر کولو د الله تعالیٰ ته په کثرت سره په هر حالت کښ او په سبب د هغ سره مصیبتونه دفع کیږی ـ فَنَبَذْنٰهُ وَهُوَ سَقِيْمٌ یعنی ماهی ته الله تعالیٰ حکم اوکړو نو هغه د دریاب په غاړه باندے اوغورځولو ـ الْعَرَآءِ میدان نه

وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۱۴۹﴾ اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ

او دوی لره ځامن دی ایا پیدا کړي مونږ ملائک

خالي مکان او غاړے دَ دریاب ته ویلے کیږي. سَقِیْمٌ چه بدن ئے بیماروی لکه چې
چه دَ مور ته پیدا شي او بدن ئے کچه وی .رسوال) سورة قلم ۴۹ کښ دی
رلولا ان تدارکهٔ نعمة من ربه لنبذ بالعراء وهو مذموم) دَ دے دواړو
ایاتونو په مینځ کښ په ظاهر کښ تعارض دے جواب ذا دے چه دَ
سورة قلم مطلب دا دے چه دَ مذموم حالت نه بچ او ساتلے شو او دَ دے ایت
مطلب دا دے چه په غاړه باندے ئے او غورځوؤ صرف بیمار وؤ لیکن مذموم
او بدحاله نه وؤ بلکه الله تعالیٰ دَ هغهٔ حفاظت او کړو شجره (راوته) ئے دَ
هغه په څوا کښ پیدا کړه دَ هغې په پاڼړو سره ئے په هغهٔ باندے سورے
او کړو او دَ هغې دَ وجے نه دَ دهٔ بدن ته چیان هم نشو نژدے کیدلے او
مشهوره دا ده چه اونه (بوټی) دَ یَقْطِیْنٍ وؤ یعنی کدو. وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى
مِائَةِ اَلْفٍ په دے کښ مقصد دوباره واپس راليږل دی خپل قوم ته اګر
چه دے دَ مخکښ نه هم رسول وؤ او کوم روایت چه بعض مفسرینو
نقل کړے چه دے دَ کب دَ خیټې دَ راوتلو نه روستو رسول کړے شو
دا روایت ضعیف دے په هغې کښ شهر بن حوشب راوی دے او هغه
متروک او ضعیف دے. اَوْ يَزِيْدُوْنَ اَوْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دے یعنی دَ
دے نه روستو الله تعالیٰ هغه قوم وخت په وخت زیاتی کولو او برکات ئے
پکښ واچوؤل. فَاٰمَنُوْا (سوال). سورة یونس ۹۸ کښ تیر شوی دی
چه دوی ایمان راوړو په وخت دَ لیدلو دَ علاماتو دَ عذاب کښ او دلته نه
معلومه شوه چه روستو ئے ایمان راوړو ؟ جواب دا دے چه دلته مراد
دے چه یونس علیه السّلام واپس راغے نو دوی تفصیلي ایمان راوړو
او مخکښ ئے صرف اجمالي ایمان راوړے وؤ.

دَ ۱۴۹ نه تر ۱۵۷ پورے دَ دے نه دریم باب دے تر اٰخر دَ سورت
پورے. په دے کښ رد دے په مشرکین بالملائکه باندے او مشرکین
بالجن باندے. بیا بیان دَ ملائکو دے په طریقه دَ رد په عابدانو دَ
دوی باندے او زجر دے منکرینو ته او بشارت دے او تسلّی ده
رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته سرهٔ دَ تخویف دَ منکرینو ته او په
اٰخر کښ دعویٰ دَ توحید ده او دعویٰ دَ سورت ده (پاتے په بل مخ)

إِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ ﴿۱۵۰﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ مِّنْ

دَ وجے دَ دوی یقیناً خبر شئ

زنانه او دوی حاضر ود -

إِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَدَ اللّٰهُ ۙ

ولد نیولے دے الله تعالیٰ

دروغو دَ دوی نه خامخا وائی

وَإِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۵۲﴾ أَصْطَفَى الْبَنَاتِ

ایا غوره کړے دی الله تعالیٰ لوڼره

او یقیناً دوی خامخا دروغژن دی -

عَلَى الْبَنِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ مَا لَكُمْ ۟ قف كَيْفَ

څه دلیل دے ستاسو څه رنګ

په خامنو باندے

تَحْكُمُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ أَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۵﴾ أَمْ لَكُمْ

ایا تو تاسو نصیحت نه اخلئ یا تاسو لره شته

فیصله کوئ تاسو -

سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵۶﴾ فَأْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ

نو را وړئ کتاب ستاسو

دلیل ښکاره

إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۵۷﴾ وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ

او جوړکړے دے دوی په مینځ دَ الله تعالیٰ

که چرے تاسو رشتینی یئ -

په ذکر دَ احتیاج دَ رسول نو الله تعالیٰ ته په سلامتیا کښ۔ دا رسل (۱۴۹) متعلق دے دَ ابتدا دَ سورت سره او رد دے دَ مشرکین بالملائکه په درے عقیدو باندے اول تقسیم چه الله تعالیٰ لره بنات (لوڼره) ثابتوی او دَ ځان دَپاره ځامن۔ دوېم ملائکو ته مؤنث وائی۔ درېم ملائک دَ الله تعالیٰ لوڼره ګڼړی یعنی هغهٔ لره ولد ثابتوی۔ وَهُمْ شٰهِدُوْنَ یعنی ذکورة او انوثة دَ مشاهدے سره تعلق لری نو دوی خو دَ هغوی پیدائش نه دے لیدلے دا رنګ سورة زخرف ۱۹ کښ راځی۔ مِنْ إِفْكِهِمْ یعنی دا دواړه تیرے شوے عقیدے دَ دوی خو دَ حقیقت نه بالکل مخالف دی او دغه سبب دے دَپاره دَ درېم قول چه (ولد الله) او په دے قول کښ هم کاذب دی او دَ کاذب په قول باندے اعتبار نشی کیدے۔

مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ دا مطالبه دَ دلیل عقلی ده دَ دوی نه یعنی عقل خو دا

وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا ؕ وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ

دَ پیریانو کښې نسب او یقینًا پوهیږي پیریان

اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا

چه دوی به خامخا حاضر کړے شي په عذاب کښې پاک دے الله تعالیٰ دَ هغې نه چه دوی

یَصِفُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِیْنَ ﴿۱۶۰﴾

بیانوي. مګر بندګان دَ الله تعالیٰ چه بیخ ساتلے شویدي.

یعني چه الله تعالیٰ چه افضل نوع رتاریه اولاد) پریږدي اولوټره دِ خوره کوي دا فیصله بے دلیله ده. اَمْ لَکُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِیْنٌ په دے کښې طلب دَ دلیل نقلي دے دَ تیرشوو انبیاء علیهم السّلام نه فَاْتُوْا بِکِتٰبِکُمْ په دے کښې مطالبه دَ دلیل وحي ده ځکه چه مراد دَ کتاب نه کتاب دَ الله تعالیٰ دے.

۱۵۸ ۱۵۹ ۱۶۰ :- په دے آیاتونو کښې رد دے په مشرکین بالجن باندے یعني هغه خلق چه جنات یې دَ الله تعالیٰ سره شریکان ګڼړلي دي په صفاتو دَ علم غیب او پناه ورکولو کښې او په عبادت کولو کښې لکه چه سورة سبا وسورة جن کښې معلومیږي او بعض مفسرینو ویلي دي چه دا رد دے په مجوسیانو باندے چه هغوي ویلي دي چه الله تعالیٰ او شیطان (ابلیس) دواړه رونړه دي یوخاوند دَ خیر دے او بل خاوند دَ شر دے نو دَ نَسَبًا نه مراد په اوله توجیه باندے نسبت دَ شرکت دے اودا قول دَ حسن بصري نه نقل دے او په دویمه توجیه باندے اخوت (رورولي) مراد دے. اِنَّهُمْ ضمیر راجع دے جناتو ته ځکه چه هغه جنات چه دوی دَ الله تعالیٰ سره شریک جوړول ګمراهان او مفسدان وو یا ضمیر راجع دے مشرکانو ته. عَمَّا یَصِفُوْنَ مراد وصف نه نسبت دَ ولد او شریک دے الله تعالیٰ ته او الله تعالیٰ دَ دے نه پاک دے. اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِیْنَ په دے استثناء کښې درے وجوه دي اوله وجه دا چه استثناء ده دَ ضمیر دَ جعلوا نه دویمه دا چه استثناء ده دَ یصفون نه دریمه دا چه استثناء ده دَ لمحضرون نه او په میځ کښې جمله معترضه ده او ظاهر دا ده چه استثناء په ټولو حالاتو کښې متصله ده.

فَاِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ

نو يقيناً تاسو او هغه كسان چه تاسو بندګي كوئے دَ هغوي ته نه ئے تاسو په هغې باندے

يِفٰتِنِيْنَ ﴿۱۶۲﴾ اِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيْمِ ﴿۱۶۳﴾

ګمراه كوونكي چالره مګر هغه چالره چه هغه داخليدونكے وي اُور ته.

وَمَا مِنَّآ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۱۶۴﴾ وَّ

او نيشته زمونږ نه هيڅوك مګر هغه دَپاره ځائے معلوم دے. او

اِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ ﴿۱۶۵﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ

يقيناً مونږ خامخا صفونه جوړ وو. او يقيناً مونږ

۱۶۱ ۱۶۲ ۱۶۳ :- دا تفريع ده په ماقبل باندے يعنی هركله چه ملائك او انبياء عليهم السّلام او جنات عاجز او محتاج مخلوق دے نو دوی او تاسو هيچا لره ته شئ ګمراه كولے يعنی عقل والا پوهيږي چه دا عاجز مخلوق دَ الله تعالیٰ شريك نشی كيدے ليكن هغه څوك چه الله تعالیٰ دَ هغه دَپاره جحيم مقرر كړے وی نو هغه به ګمراه او مشرك شی. او دَ دے ايات نه معلومه شوه چه هدايت او ضلال په اختيار دَ الله تعالیٰ كښ دے. او دا رد دے په منكرينو دَ تقدير باندے او مفسر قرطبي دَ دے ايت په تفسير كښ روايت دَ عمر بن عبد العزيز رحمة الله نقل كړے دے. عَلَيْهِ ضمير راجع دے الله تعالیٰ ته يعنی په مقابله دَ الله تعالیٰ كښ يا راجع دے ما تعبدون ته او علیٰ په معنیٰ دَ باء سره دے.

۱۶۴ ۱۶۵ ۱۶۶ :- دا دليل نقلی دے دَ ملائكو نه يعنی ستاسو معبودان دَ ګمراه كولو نه عاجز دی ځكه چه هغوی بذاتِ خود الله تعالیٰ ته عاجزی كوی او دلته عبارت كښ تقدير دے يعنی تقول الملائكة او دا رد دے په مشركين بالملائكه باندے پشان دَ ابتداء دَ سورت او بعض مفسرينو دا قول دَ نبی صلی الله عليه وسلّم كرځولے دے پس دا علت دَ ماقبل دے يعنی تاسو مونږه نشئ ګمراه كولے ځكه چه مونږ په توحيد باندے مضبوط يو. مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ حديث دَ ترمذی نه ثابت ده چه په اسمانونو كښ دَ سپك او دَ ليشت ځائے هم خالی نيشته بلكه په هغې باندے ملك ولاړ دے يا سجده كوونكے دے

اوبیا ئې طریقه دَ قیام ذکر کړه یعنې په صفونو باندے ولاړ دی او حدیث صحیح سره ثابت دی چه زمونږ صفونه په موغ کولو کښ پشان دَ صفونو دَ ملائکو دی اولنی صفونه پوره کول دی نو بیا وروسته صفونه جوړول او دَ یو بل سره جوخت پیوست او دریدل، او بیا ئې دَحالت دَ قیام او سجدے ذکر راوړو چه هغه تسبیح ده- حدیث کښ ذکر ده چه ملائک تسبیح وائي سبوحٌ قدوس- نو معلومه شوه چه ملائک عابدان او عاجزی کوونکے دی نو هغوی معبودان او شفعاء قهریه نشی کیدلے.

۱۶۷ ۱۶۸ ۱۶۹ ۱۷۰: دا زجر دے مشرکینو ته روستو دَ اثبات دَ حجت نه په هغوی باندے- ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ مراد دَ دے نه واقعات او قِصّے دَ تیرشوو انبیاء علیهم السّلام دی لکه چه په دے سورة کښ ذکر شول نو دَ دوی تمنّا پوره شوه بیا هم ایمان نه راوړی یا مراد دَ ذکر نه کتاب دے دَ جنس دَ کتابونو مخکنو نه یعنې نازل کړے شوے کتاب دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه، او دوی ته هغه کتاب راغے چه قران کریم دے لیکن دوی پرے کفر اوکړو نو دَ عذاب انتظار دے اوکړی.

لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ

دَ بندګانو زمونږ سره چه رسولان دي - يقيناً خامخا دوی

الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿۱۷۲﴾ وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ

سره به مدد کيدے شي - او يقيناً لښکرے زمونږ خامخا دوی به

الْغٰلِبُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى

غالب دي - نو مخ واړوه دَ دوی نه تر يو

سـ۱۷۱ سـ۱۷۲ سـ۱۷۳ :- دَ زجر او تخويف دَ منکرينو نه روستو بشارت دنيويه دے رسولانو او مؤمنانو ته او داسے ذکر دے په سورة غافر سـ۵۱ او سورة مجادله سـ۲۱ کښ۔ نصرت، په پيدائش دَ اسبابو او په نصرت غيبيه سره او دنيوی او اخروی دواړو ته شامل دے دارنګ غلبه پس دَ نصرت نه نتيجه غلبه ده ظاهری او دنيوی غلبه يا په حجت سره يا اخروی غلبه دے ټولو ته شامل ده۔

سوال :- په قرآن کريم کښ لس آياتو کښ دَ قتل دَ انبياؤ ذکر په طريقه دَ اخبار سره موجود دے نو دا خو دَ نصرت او دَ غلبے سره منافی ده؟۔ جواب :- دَ دے په ډيرو وجوهو سره دے اول۔ خطيب شربيني او نورو مفسرينو ذکر کړے دی چه نصرت او غلبه کله کله په حجت سره وی او کله کله په دولت او استيلاء سره وی او کله کله په دوام او اثبات دَ دين سره وی پس مؤمن ګرچه مغلوب وی په بعض اوقاتو کښ په سبب دَ ضعف دَ احوالو دَ دنيا خو دے به غالب وی په آخرت کښ نو حکم په اعتبار دَ اغلب سره دے نو دا منافی نه دے دَ قتل دَ بعض انبياؤ او دَ هزيمت دَ ډيرو مؤمنانو سره (ترجمه عبارت سراج المنير)!

دوئم جواب دا دے چه دا وعده دَ رسولانو دَ اصحابو دَ شرائعو سره ده او قتل دَ انبياء يعنی غير اصحاب الشرائع ثابت دے او دا قول دَ حسن بصری نه قرطبی نقل کړے دے او دَ دے وجے نه دَ نصرت په آياتو کښ لفظ دَ رسولانو ذکر دے او دَ قتل په آياتو کښ صفت دَ نبوّت ذکر دے او دا غوره جواب دے!

دريم جواب دا دے چه وعده دَ نصرت او غلبے خو دَ مؤمنانو سره هم

حِيْنٍ ﴿۱۷۴﴾ وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۵﴾

وخت پورے او گوره دوی ته زر دے دوی به هم اوگوری ۔

اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۷۶﴾ فَاِذَا نَزَلَ

آیا عذاب زموږ په تادئ سره غواړئ ۔ نو کله چه راکوزشی

بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۷﴾

د دوی په میدانونو بانده نو بد دے صبا د ویره ولو شو خلقو ۔

شویداه اوحال داد ے چه د مؤمنانو د قتل او هزیمت نه خو انکارکول
جهل دے نو د هغ چه څنګه تطبیق اوجواب دے نو هغه په باره د
پیغمبرانو کښې هم دے ۔ او څوک چه د دے ایاتونو د نصرت په بنا د پیغمبرانو
د قتل نه مطلقا انکارکوی او د قتل د ایاتونو تاویلونه کوی نو
دا تحریف معنوی سره مشابهت دے قرآن د داسے بعید تاویلونو
نه بری دے او حدیث هم په دے باب کښې صریح دے راشد الناس
عذابا یوم القیامة من قتل نبیًا اوقتله نبی (نهایه ابن اثیر ص ۱۳)۔
۱۷۴ ۱۷۵ ۔ روستو د بشارت نه دا تسلی ده ۔ حِيْنٍ د دے نه مراد یو
وخت مقرر دے په علم د الله تعالیٰ کښې که فتح مکه وی او که غزوه بدر
یا نور عذابونه د دُنیا ۔ اَبْصِرْهُمْ په معنیٰ د انتظار دے فَسَوْفَ داد
وعید د پاره دے تبعید د پاره نه دے ۔
۱۷۶ ۱۷۷ ۔ هرکله چه د عذاب ذکر اوشو نو منکرینو استهزاء شورو
کړه چه عذاب دِ زر راشی نو په هغ بانده زجر دے او تخویف دے ۔
بِسَاحَتِهِمْ ساحة په اصل کښې صحن د کورته وائي مراد تری نه عذاب
راتلل دی ناساپه په داسے طریقه سره چه د خلاصۍ روترے نه موقی ۔
صَبَاحُ اکثر عذابونه د الله تعالیٰ په وخت د صبا کښې راغلی دی چه په
دغه مبارک وخت کښې دا منکرین غافل وی ۔ او حدیث کښې وارد دی
چه نبی صلی الله علیه وسلّم به کله په یو قوم بانده د شپې راغے نو
انتظار د صبا به ئے کوؤ نو هر کله چه په خیبر والو د شپې راغے او
صبا ئے کړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلّم اوفرمائیل" الله اکبر
خربت خیبر انا اذا نزلنا بساحة قوم فساء صباح المنذرین"

وَّتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۸﴾ وَّاَبْصِرْ

او مخ ترینه واړوه تر یو وخت پورے او گوره

فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ سُبْحٰنَ رَبِّكَ

زر دے دوی به هم اوگوري - پاکی ده رب ستا لره

رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى

چه رب دَ عزت دے دَ هغه نه چه دوی بیانوي - اوسلام دے (دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه) په

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾

رسولانو باندے - او صفتونه دَ خدائے دی الله تعالیٰ لره چه رب دَ عالمینو دے۔

---

۱۷۸ ۱۷۹ :- په دے کښ هم تسلّی ده لیکن اول کښ دَ حِيْنٍ نه مراد عذاب دَ دنیا وو او دلته عذاب اخروی مراد دے نو تکرار نیشته -

فائده :- اول ئے اَبْصِرْهُمْ ذکر کړے وو او دلته ئے بغیر دَ ضمیر نه ذکر کړو اشاره ده چه دَ دنیا عذاب په بعضو خاصو خلقو باندے او دَ قیامت عذاب په ټولو منکرینو باندے راځی نو تخصیص ته حاجت نیشته -

۱۸۰ ۱۸۱ ۱۸۲ :- دا تفریع ده په کل سورت باندے او دعوی دَ توحید ده یعنی هر کله چه دَ ملائکو او دَ انبیاء علیهم السّلام او دَ جنا تو عجز او احتیاج ثابت شو نو معلومه شوه چه دوی دَ الله تعالیٰ سره شریک نشی کیدے او شفعاء قهریه هم نشی کیدے دا مراد دے دَ تسبیح نه -

رَبِّكَ کښ اشاره ده کمال رحمت دَ الله تعالیٰ ته په بندګانو صالحانو باندے -

رَبِّ الْعِزَّةِ اشاره ده کمال قدرت او غلبے دَ الله تعالیٰ ته -

سوال :- عزت دَ صفاتو دَ ذات نه دے لکه قدرت نو دَ ربّ اضافت هغه ته نه صحیح کیږی لکه رب القدرة صحیح نه دے ؟

جواب اول، چه رب په معنیٰ دَ مالك متصف دے یعنی موصوف دے په عزت سره !

جواب دویم دا دے چه عزة کله صفت دَ ذات وی لکه فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا او کله صفت دَ فعل وی دلته دویمه معنیٰ مراد ده یعنی عزت ورکول دَ بندګانو په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ وی لکه چه په دے

سورت کښې عزت دَ ملائکو او دَ انبیاء علیهم السّلام ذکر شو نو دا په اختیار دَ الله تعالیٰ کښې دے۔ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ دا دعویٰ دَ سورت ده یعنی دَ انبیاء علیهم السّلام کمال دا دے چه هغوی له سلامتیا دَ عذاب دَ دُنیا او دَ آخرت نه الله تعالیٰ ورکوی. په عبارت کښې تقدیر دے سلام من الله تعالیٰ علی المرسلین۔

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ دا هم دعویٰ دَ توحید ده اشاره ده چه هلاکت دَ کافرانو او نصرت دَ پیغمبرانو چه په دے سورت کښې ذکر شو په دے باندے دَ الله تعالیٰ حمد دے او دا نعمتونه دی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه۔ معالم التنزیل کښې دَ علی رضی الله تعالیٰ عنه نه مرفوعًا نقل کړے دی چه څوک خوشحالیږی په دے خبره باندے چه الله تعالیٰ هغه ته په پوره پیمانه باندے دَ قیامت په ورځ کښې ثواب ورکړی نو دَ مجلس په اختتام کښې دِ دا درے آیاتونه اولولی او قرطبی دَ موځ په اختتام کښې روایت مرفوعه نقل کړیدے۔

(تفسیر دَ سورة صافات ختم شو په توفیق دَ الله تعالیٰ سره)

اللہ تعالیٰ دَ دے په مطلب بنهٔ پوهه دے۔قسم دے په قرآن باندے چه نصیحت والا دے۔ بلکه کافران

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سُورۃ صٓ مکیه ۔

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیرو طریقو سره دے اوله طریقه داده، تیرشوی سورت کښ عجز او احتیاج دَ نیکانو بندګانو ذکر کړے شو نو په دے سورت کښ په هغوی باندے ابتلاءات ذکرکوی دَ پاره دَ دلالت په دے خبره باندے چه دوی شفعاء قهریه نشی کیدے. دویمه طریقه داده مخکښ سورت کښ دَ توحید نه استکبار دَ مشرکینو ئے ذکرکړو نو په دے سورت کښ وجه دَ استکبار ذکرکوی. دریمه طریقه داده چه سورت صافات کښ ذکر دوؤ دَ براءت دَ عابدانو دَ یو بل نه په یو طریقه سره نو په دے سورت کښ ذکرکوی دغه براءت په بله طریقے سره ۔

دعویٰ دَ سورت ۔ اثبات دَ توحید په ذکر دَ ابتلاءاتو سره په انبیاء او ملائیک علیهم السّلام باندے سره دَ ابتلاء نه په ابلیس باندے۔ او دعویٰ دَ توحید ۶۵ ۔ ۶۶ کښ۔ او دا ابتلاءات تفصیلیه ئے دَ پیغمبرانو باندے ذکرکړے دی اوله ابتلاء په پاره دَ اجتهادی خطائے کولو سره په احکام شرعیو کښ او هغه ګناه نه دے دویمه ابتلاء په ترک دَ انشاء الله تعالیٰ نسیاناً او هغه ګناه نه دے۔ دریمه ابتلاء بدنی او مالی دَ پاره دَ ابتلاء دَ صبر اګرچه هیڅ ګناه ئے نه دے کړے۔ او دا درے انبیاء علیهم السّلام دَ روم په علاقه باندے تیرشویدی اولنی دواړه دَ نبوت دَ صفت سره بادشاهان وو او دریم دَ صفت دَ نبوت سره مالدار وؤ۔

خلاصه دَ سورت ۔ دا سورت تقسیم دے درے بابونو ته اول باب تر ۱۸ پورے دے په دیکښ اولاً شهادت دَ قرآن کریم او تخویف ذکرکوی بیا زجرونه په انکار دَ خلورو مقصدونو سره انکار دَ توحید او دَ رسالت او دَ قرآن او بعث بعد الموت نه او زجر دے په اسبابو دَ انکار سره او دَ تخویف دنیوی دَ پاره ذکر دے دَ اقوام مکذبو اجمالاً ۔

فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ② كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ

په تکبر او دشمنئ کښې دي. ډیر هلاک کړي دي مونږ مخکښې د دوی نه

مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ③

پیړئ نو چغې اووهلې هغوی او نه وو دغه وخت د خلاصې

وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ ز وَقَالَ

او تعجب کوی دوی د دې نه چه راغلے دے دوی ته ویره ورکوونکے د دوی نه او اویل

تفسیر

سـ ۲ :- صٓ د مقطعاتو نه دے او د دے په باره کښې مفسرینو دیارلس اقوال ذکر کړے دی لیکن غوره دا ده چه د دے په معنیٰ باندے الله تعالیٰ عالم دے او لوئے حکمت پکښې دلیل او تنبیه ده په اعجاز د قران کریم باندے ذی الذکر یعنی مشتمل دے په بیان د توحید او نورو اوامر او نواهی د الله تعالیٰ باندے او جواب قسم کښې ډیر اقوال دی او غوره دا ده (چه نیشته شریک او شفیع قهری د الله تعالیٰ لکه چه مشرکان گمان کوی) بیا ذکر کوی سبب د انکار د کافرانو چه هغه عزت او شقاق دے.

مراد د عِزَّتٍ نه ځان عزت مند گنړل او د هغې په وجه د حق منلو نه تکبر کول او شِقَاقٍ نه مراد د حق نه مخالفت کول په سبب د ضد او عناد سره او عِزَّةٍ وصف باطنی دے او شِقَاقٍ حالت ظاهری دے او دواړه یئ نکره راوړل د پاره د عظمت او د ډیروالی.

سـ ۳ :- دا تخویف د دیوی شقاق کوونکو ته روستو د زجر نه هغوی ته. فَنَادَوْا آوازونه اوچت کړل په توبه او استغفار کولو سره یا په فریادونو او مدد غوښتلو سره. وَلَاتَ بعض نحویانو ویلے دی دا لَا دے او تَا په کښې زیاتی راغلے بنا په عادت د عربو سره لکه ثم کښې ثمت او قول د سیبویه دا دے چه لات مشابه د لیس سره دے او ضمیر د اسم پکښې پټ دے یعنی لیس الحین. مَنَاصٍ په معنیٰ د روستوالی د عذاب او په معنیٰ د تختیدلو او په معنیٰ د خلاصی سره دے.

الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۴﴾ اَجَعَلَ

کافرانو دا جادوګر ډیر دروغژن دے ۔ ایا جوړ کړے دی ده

الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ

ډیر معبودانو لره معبود یو ، یقینًا دا خیز

عُجَابٌ ﴿۵﴾ وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا

ډیر ناآشنا دے ۔ او روانه شوه یوه ډله د دوی نه چه ځئ

وَاصْبِرُوْا عَلٰٓی اٰلِهَتِكُمْ اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ

او کلک شئ په (ربتنګئ) د خپلو معبودانو باندے، یقینًا دا خامخا یو کار دے

س۴ :۔ دا تفصیل د تکبر او د شقاق د دوی دے او زجر دے په انکار د رسالت سره۔ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ یعنی بشر دے د جنس د دوی نه ـــــ نو دوی د هغه د رسالت نه تعجب اوکړو لکه سورۃ یونس س۲ کښ دی ۔ وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ په دے لفظ کښ اشاره ده چه پیغمبر لره دروغژن ګڼړونکے یقینی کافر دے او مراد د کافر نه انکار کوونکے دے په ضد او عناد سره. سَاحِرٌ نه مراد دهوکه ورکول په باطل د کلام سره یا جادو کوونکے دے او چه خلقو کښ تفرقه اچوی په سبب د جادو کولو یا معجزے ته ئے نسبت د جادو کوو ۔ كَذَّابٌ یعنی په مسئله توحید کښ او په دعویٰ د نبوت کښ دروغژن دے۔

س۵ :۔ دا زجر دے په انکار د توحید سره ۔ اول ذکر د تعجب وو د دعویٰ د نبوت نه سره د بشریت نه او دا تعجب دے د مسئلے د توحید نه اول تعجب کول خفیف وو نو په صیغه د فعل سره ئے ذکر کړو او دویم تعجب ډیر ثقیل دے نو په صیغه د مبالغے سره ئے ذکر کړو ځکه چه خلیل امام د لغت فرق کړے دے په صیغۂ د عجیب او د عجاب کښ یعنی عجاب هغه شے دے چه د حد د تعجّب نه ئے تجاوز کړے وی۔

مقصد دا دے چه مشرکانو د هر حاجت روا ئے د پاره او د هر قوم د پاره جُدا جُدا معبود او حاجت روا جوړ کړے وو عقیده ئے داوه چه یو ذات دا ټول کار نه شی کولے او قیاس ئے کوو په مخلوق باندے نو پیغمبر توحید ته دعوت ورکړو یعنی ټول حاجتو نه پوره کوونکے او د ټول مخلوق الٰه یو الله تعالیٰ دے نو دوی د دے نه تعجب اوکړو او انکار ئے اوکړو، دا د دوی لویه بے عقلی او جهل دے ۔

يُرَادُ ۝٦ مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ إِنْ

په قصدا کړے شویدے. نه دی اوریدلے موږ دا په دین روستنی کښ ، نه دی

هٰذَآ إِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝٧ ءَأُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ

دا مگر دروغ جوړ کړیشوی. آیا نازل کړے شویدے په دهٔ باندے وحی

مِنْ بَيْنِنَا ۚ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِي ۚ

دَ مینځ زموږ نه. بلکه دوی په شک کښ دی دَ وحی زما نه

بَلْ لَّمَّا يَذُوقُوا عَذَابِ ۝٨ أَمْ عِنْدَهُمْ

بلکه تر اوسه نه دے څکلے دوی عذاب زما. آیا دوی سره

ــ۶ :. روستو دَ انکار دَ توحید نه په شرک باندے کلک کیدال ذکر کوی او دَدے ایت په تفسیر کښ مفسرینو واقعه دَ قریشو دَ ابوطالب په مخکښ دَ نبی صلی الله علیه وسلم ذکر کړے ده وَانْطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ یعنی دَ توحید دَ مسئلے په اوریدلو سره ئے نفرت ډیر شو او روان شو لکه چه سورة اسراء ــ۴۶ کښ تیر شویدی او انطلاق نه مراد په تلوار سره تلل دی. امْشُوا مراد دَدے نه دَ مجلس دَ توحید نه تلل دی یا روانیدل دی همیشه په لار دَ شرک باندے. او زمخشری ویلے دی چه مراد دَ دے دادے چه ګرځئ او ډیر راغونډ شئ دَ پاره دَ مقابلے دَ پیغمبر. إِنَّ هٰذَا اشاره ده توحید ته یعنی دَ دے نبی مراد زمونږ دادے چه توحید او منو. یا اشاره ده صبر کولو ته په شرک باندے یعنی دَ شرک کولو او په دے باندے دَ کلک پاتے کیدلو اراده کول پکار دی نو بنا په اول باندے تقدیر دَ عبارت دا دے لشئ یراد منا او په دویم باندے تقدیر ینبغی ان یراد هذا فقط لا غیر.

ــ۷ :. دا وجه دَ تعجب او دَ انکار ده چه دوی دَ مشرانو نه دا مسئله نه ده اوریدلے الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ مراد دَدے نه عام دے یعنی دَ دوی مشران او دارنګ متأخرین نصاری او یهودیان ځکه چه دے ټولو دَ توحید نه انکار کړے وؤ او توحید ئے نه وؤ بیان کړے. لکه اوس زمانه کښ هم جاهلان وائی چه موږ زمسئله دَ توحید او سنت) نه منو ځکه چه زمونږ مشرانو ملایانو دا نه ده بیان کړے.

ــ۸ :. دا زجر دے په انکار کولو سره دَ قران نه. مِنْ بَيْنِنَا یعنی دَ دے نه ډیر مشران او اشراف او مالداران شته په موږ کښ. هغوی باندے دا وحی ولے نه نازلیږی نو سبب دَ انکار دَ دوی حسد او دُنیا پرستی ده.

خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ ﴿۹﴾ أَمْ

خزانې دي د رحمت د رب ستا چه زورور دے بخښش ورکوونکے دے.

لَهُم مُّلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا

دوی لره بادشاهي د اسمانونو او زمکې او د مینځ د دے دواړو ده.

فَلْيَرْتَقُوا فِي الْأَسْبَابِ ﴿۱۰﴾ جُندٌ مَّا هُنَالِكَ

نو او دې خیژي په اندرپایو کښې - د دوی لښکرے پردغه وخت به ویشکیږے شي

مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابِ ﴿۱۱﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ

شکست دوی د جنس د عنادیانو د دلو نه دي - تکذیب کړے وؤ مخکښې د دوی نه قوم

بَلْ هُمْ فِي شِقَاقٍ د دے حانئ نه رد دے په دے منکرینو باندے په څلورو طریقو سره اوله طریقه دا ده یعنی دوی خو دے نبی صلی الله علیه وسلم ته تراوسه پورے رشتنے او امین وئیلو لیکن هرکله چه دهٔ قران او مسئله د توحید شورو کړه نو دے خلقو د دهٔ نه انکار اوکړو د وجے د شک نه په توحید کښې. یعنی شک د توحید سبب د انکار د رسالت او د قران دے بَلْ لَّمَّا يَذُوقُوا دا دویمه طریقه ده یعنی سره د انکار او د شک نه دوی ته مهلت ورکړے شوے دے او عذاب ورباندے نه دے راغلے نو دوی خیال کوی چه مونږه په حقه لار باندے روان یو -

سـ۹ـ:- دا دریمه طریقه ده یعنی ذکر نازلیدل رحمت د الله تعالی دے نو آیا د رحمت خزانے د دوی په اختیار کښې دی چه دوی وائي چه دے رسول لره رسالت پکار نه وؤ او دا سے په سورة زخرف ۳۲ کښې هم راځي - الْعَزِيزِ کښې اشاره ده چه دا خزانے د الله تعالی نه هیڅوک په زور نشي اغستلے او چا لره چه د دے رحمت نه څه حِصّه ورکړی ده نو دا د چا زور نه دے بلکه په هبه (بخښش) سره یې ورکړے ده ځکه چه الوهاب دے -

سـ۱۰ـ:- دا څلورمه طریقه د رد ده یعنی که چرے د دوی سره بادشاهی د اسمانونو او د زمکے وی او دوی خو اسمانونو ته نازلیږی نو دوی دې بره اسمانونو ته اوخیژی او وحی نازلیدل په د پیغمبر باندے دې بند کړی. الْأَسْبَابِ هر هغه څیز چه یل څیز ته رسول کوی نو هغے ته سبب وئیلے کیږی که دروازه وی او که لاره وی نو مراد تری نه دروازه او لارے د اسمانونو دی. او لفظ د اسباب کښې اشاره ده چه د اسمان څیزونه نمر، سپوږمۍ، ستوری او وریځې وغیره الله تعالی اسباب گرځولے دی د پاره د تاثیراتو په حکمته عالم کښې.

سـ۱۱ـ:- په دے کښې تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته په اهلاک د رپاتے په یل مخ)

نُوۡحٍ وَّعَادٌ وَّفِرۡعَوۡنُ ذُو الۡاَوۡتَادِ ﴿۱۲﴾ وَثَمُوۡدُ وَقَوۡمُ

...
نوح علیه السلام او عادیانو او فرعون میخونو والا او ثمودیانو او قوم

لُوۡطٍ وَّاَصۡحٰبُ لۡـَٔیۡکَةِ ؕ اُولٰٓئِکَ الۡاَحۡزَابُ ﴿۱۳﴾ اِنۡ

...
د لوط علیه السلام او بنړ والو ، دغه وو عادیان ډلے ډلے . نه وو

کُلٌّ اِلَّا کَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿۱۴﴾ ع

...
دا ټول مګر تکذیب یې کړے وؤ د رسولانو نو یقینی راغے په دوی باندے عذاب زما.

قریش مکّه سره یعنی زرده چه دوی به په دغه ځائے کښ (چه مکه ده) چه دوی په هغے کښ انکار کوی شکست خورده شی نو د دوی په دے انکاری خبرو باندے پرواه مه کوه.
جُنۡدٌ خبر د مبتدا محذوف دے یعنی هم جُنۡدٌ لفظ ما صفت د جند دے د پاره د تحقیر یعنی معمولی لښکر دے. هُنَالِکَ صفت ثانیه د جند دے یعنی دا سے لښکر دے چه په مکّه مکرّمه کښ او سیږی یا ظرف دے د مهزوم د پاره او مهزوم صفت دے د پاره د جند یعنی شکست به ورکړے شی دوی ته په دغه ځائے کښ کوم ځائے کښ چه د انکار خبرے کوی چه هغه مکّه ده او دا دلیل دے چه په دے ایت کښ مراد فتح د مکے دے چه دوی په خپل کلی کښ شکست او متدالو. مِنَ الۡاَحۡزَابُ دا هم صفت د جند دے یعنی د جنس د هغه جانه دی چه د انبیاء علیهم السّلام په مخالفت کښ یه یې ډله بازی او تعصب کوؤ.
۱۲ ـ ۱۳ ـ ۱۴ :- دا تخویف دنیوی په ذکر د قومونو تیر شوؤ سره دے چه هغوی تکذیب کړے وؤ د مسئلے د توحید نه پشان د تکذیب د موجوده کسانو او لکه چه هغه قومونه خپلو مرادونو ته نه وو رسیدلی نو دا موجوده هم نشی رسیدلے او لکه چه هغوی په مختلفو عذابونو سره هلاک کړے شول نو دوی به هم په یو عذاب سره هلاک کړے شی. او دوی خپل خپل مختلف قوّتونه د پیغمبرانو په خلاف کښ استعمال کړے وو لیکن هیڅ مقصد ته او نه رسیدل. دا سے ذکر په سورة ق ۱۲ کښ هم شته لیکن په دے سورت کښ د دغه قومونو قوّتونو او په مختلف طریقو سره د انبیاء علیهم السّلام سره مقابلے کول مراد دی نو د دے وجے نه لفظ الاحزاب یې ذکر کړو او ترتیب د قوّتونو ته یې اشاره اوکړه قوم د نوح علیه السّلام کښ کثرت سرکشی، عادیانو کښ قوّت د بدانونو، فرعونیانو کښ قوّت د بادشاهۍ او کثرت ظلم کول او ثمودیانو کښ قوت د کاریګرۍ (صنعت کاری) او قوم د لوط علیه السّلام کښ قوّت جهل او خباثت او اصحاب الایکة کښ قوّت مالی او تجارت وؤ د دے قوتونو په سبب یې تکذیب کړے وؤ او د انبیاؤ علیهم السّلام مقابلے یې کولے. ذُو الۡاَوۡتَادِ د فرعون دیر ظلم ته (پاتے په بل مخ)

وَمَا يَنْظُرُ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً

او انتظار نه کوی دا خلق مګر د چغې یو ے

مَّا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ ﴿۱۵﴾ وَقَالُوْا رَبَّنَا عَجِّلْ

چه نیشته هغې نره هیڅ ایسارېدل ۔ او دوی وائي اے ربه زمونږه زر راکړه

لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۱۶﴾ اِصْبِرْ

موتږ له برخه زمونږ مخکښې د ورځې د حساب نه ۔ صبر کوه

اشاره ده چه چالره به ئې سزا ورکوله یا خاص مؤحدینو ته تو په لاسونو اوخپو باندے ئې ورله میخونه ټک وهل او قوّت د بادشاهئ ته هم اشاره ده ځکه چه د میخونو خاوند ویلے کیږی مضبوط او محکم نه

سلا ۱۵:۔ دا تخویف اخروی ذکر کوی روستو د تخویف دنیوی نه او په د کښې زجر هم دے په انکار د قیامت سره صَيْحَةً وَّاحِدَةً مراد تربیه اوله شپیله وهل دی د پاره د فنا د عالم لکه سورة یٰسٓ سلا ۴۹ کښې ذکر شویدی یا مراد تربیه چغه د عذاب د دنیا ده چه په هغې سره به یو ځل باندے هلاک کړیشی ۔ مَا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ

فَوَاقٍ په اصل کښې دا دے چه اوښه یا غوا لکه یو ځل اولشی بیا ورته بچے پریږدی د پاره د دے چه نور پئ را پریږدی نو دو باره ئې اولشی نو مراد دا دے چه دا شپیلے چه شروع شی نو په مینځ کښې به وقفه او دمه کول نه وی بلکه اوګده او ممتده به وی ۔ یا مراد دا دے چه دوی له به مهلت نشی ورکیدلے په مقدار د فواق سره لکه چه تیر شویدی ـ فاذا جاء اجلهم لا يستأخرون ساعة ولا يستقدمون ۔

سلا ۱۶:۔ دا هم زجر دے په استهزا کولو د دوی په قیامت پورے ۔ قِطَّ ټکړے د خیر ته ویلے کیدیشی یعنی برخه او کتاب او روزئ وغیره ته شامل دے ۔ یعنی دوی ویل چه حصّه د نعمتونو د جنّت مونږ له په دنیا کښې راکړه یا حصّه د عذاب زمونږ په دنیا کښې راکړه لکه چه سورة انفال سلا ۳۲ کښې تیر شویدی یا عملنامه زمونږ په دنیا کښې را کړه او دا ټول په طریقه د استهزا سره به دوی ویل ۔

عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ

په هغه چه دوی وائی او یادکړه بنده زمونږ داؤد علیه السّلام

ذَا الْاَيْدِ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ﴿۱۷﴾ اِنَّا سَخَّرْنَا

صبت والا وؤ یقیناً دے ډیر رجوع کوونکے وؤ الله تعالیٰ ته۔ یقیناً مسخرے کړی وو مونږ

ک۱:۔ دَ دے ایت نه دویم باب دے تر ۶۹ پورے په دے کښ تسلی ده
نبی صلی الله علیه وسلم ته په ذکر کولو دَ درے ابتلاءاتو سره په
درے انبیاء علیهم السّلام باندے خصوصاً او تفصیلاً او په شپږو باندے
اجمالاً۔ او روستو دَ ذکر د ابتلاء اوّل ته زجرونه دی۔ او روستو دَ بحث دَ
ابتلاءاتو نه بشارت او تخویف اخروی تفصیلی دے او په اخر دَ دے باب
کښ دعوی دَ توحید ده۔ په دے رک۱) کښ اولاً امر دے په صبر کولو
سره روستو دَ ذکر کولو دَ خلورو انکارونو دَ متکرینو نه۔ او بیا امر دے
په ذکر دَ انبیاء علیهم السّلام سره یعنی لکه چه په دغه انبیاء علیهم السّلام
(داؤد او سلیمان او ایوب) علیهم السّلام باندے سره دَ بادشاهئ او مالدارئ
او نبوت دَ دوی نه ابتلاءات راغلے وو لیکن هغوی صبر کړے وؤ نو ته
هم صبر کوه۔ یا دا چه دوی دَ توحید نه انکار کوی او وائی چه بزرګان
زمونږ شفعاء دی نو په دے کښ ذکر کوی چه په دے بزرګانو باندے
ابتلاءات راغلے وو او په چا باندے چه ابتلاءات راځی نو هغه شفیع
قهری په الله تعالیٰ باندے نشی جوړیدلے۔
فائده:۔ دا ابتلاءګانے درے قسمه دی اول قسم په باره دَ تعلق دَ
بندګانو سره په باره دَ شرعی فیصلو دَ هغوی۔ دویم قسم په باره دَ تعلق
بالله تعالیٰ په ترک دَ انشاءالله تعالیٰ (چه ذکر الٰهی دے) او دریم ابتلاء
په باره دَ نفس خپل کښ په مصیبتونو بدنی او مالی سره۔ دَ ابتلاء ذکر
کولو نه روانده مدحه په ذکر دَ اوصافو عالیو دَ داؤد علیه السّلام
سره کوی اشاره ده که ډیرے لوئے بندګان وی لیکن دَ ابتلاءاتو
نه نشی بچ کیدلے۔ نو په دے ایت کښ درے صفتونه دَ داؤد علیه السّلام
ئے ذکر کړیدی ۱: عبدنا مراد تربنه عبدیت خاصه دے۔
۲: ذَا الْاَيْدِ۔ اَيْدِ اسم مصدر دے قوت ته ویلے کیږی مراد تربنه قوت
دَ عبادت دے چه حدیث کښ وارد دی "چه ډیره محبوبه طریقه په روژو

الْجِبَالَ مَعَهٗ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ ﴿۱۸﴾

غرونه د دهٔ سره تسبیح به ئې ویله بیگاه او د نمر ختلو په وخت کښې.

وَالطَّيْرَ مَحْشُوْرَةً ۭ كُلٌّ لَّهٗٓ اَوَّابٌ ﴿۱۹﴾

او مارغان راغونډ کړے شوے وو ټول وو هغه ته راګرځیدونکی.

کښې روژے د داؤد علیه السّلام وے یو ورځ به ئې روژه نیوله او بله ورځ به ئې افطار کاؤ او ډیره محبوبه طریقه په مونځونو کښې طریقه د داؤد علیه السّلام وه تر نیمے شپے به ئې خوب کاؤ بیا به دریمه حِصّه د شپے مونځ کاؤ بیا به اخری شپږمه حِصّه کښې ئې ارام کاؤ. یا مراد تری نه قوّت د بادشاهۍ د هغه دے ۳ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ هغه چا ته اواب وائي چه هرکله یو ګناه کول ئې په زړه کښې تیر شي نو زر استغفر الله اووائي یا ئې ګناه کړے وی او توبه ئې تری نه ویستلے وی لیکن هرکله چه هغه ګناه ور ته وریاد شي نو بیا استغفار غواړی.

۱۸:- په دے ایت کښې د هغه څلورم صفت دے په طریقه د معجزے سره یعنی غرونه چه په مخلوق کښې ډیر سخت مخلوق دے لیکن هرکله چه داؤد علیه السّلام به تسبیح ویله یا به ئې زبور تلاوت کاؤ نو غرونو به ورسره هم تسبیح او تلاوت د زبور کوؤ. بِالْعَشِيِّ ویلے کیږی روستنی نصف د ورځے ته مازیګر، ماښام او ماسخوتن پکښې داخل دی. اِشْرَاق په دے کښې صلوة الاشراق (چه هرکله نمر یو نیزه دوه نیزے د غرونو نه راوچت شي) ته اشاره ده او دا رنګ اشاره ده صلوة الضحٰی ته چه هغې ته صلوة الاوابین هم ویلے کیږی. او څوک چه د ماښام نفل مونځ ته صلوة الاوابین وائي دا صحیح نه ده.

۱۹:- دا بل معجزانه صفت دے. لَهٗٓ ضمیر راجع دے داؤد علیه السّلام ته یعنی د وجے د تسبیح د هغه نه یا ضمیر راجع دے الله تعالی ته د اَوَّابٌ سره متعلق دے او كُلٌّ لَّهٗٓ اَوَّابٌ په اوله معنی صفت دے د داؤد علیه السّلام او مرغان په مخلوق کښې ډیر نرم زړه والا دی نو مقابل دی د غرونو. یعنی ډیر سخت او ډیر نرم دواړه د هغه سره یو ځائے تسبیح ویلو کښې ملګری وو.

وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ

او مونږه کلکه کړے وه مونږ بادشاهی دَ دهٔ او ورکړے وه مونږ هغه ته پوهه دَ دین او فیصله کونکے

الْخِطَابِ ﴿۲۰﴾ وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ

خبرے۔ او آیا راغلے دے تا ته خبر دَ جګړه کوونکو

اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿۲۱﴾ اِذْ دَخَلُوْا عَلٰى

کله چه اوختل دوی په دیوال دَ عبادت خانے باندے کله چه داخل شول په

دَاوٗدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوْا لَا تَخَفْ ج

داؤد علیه السلام باندے نو ګبراؤ شو دَ دوی نه دوی اُویل مهٔ ویریګه۔

ف۲۰: په دے ایت کښ دَ هغه نور درے صفتونه ذکر کوی ۱: شَدَدْنَا مُلْكَهٗ۔ مُلْكَ کثرة دَ مِلکیت کښ استعمالیږی دَ دهٔ لښکرے ډیرے وے او هیبت او رعب ئے په خلقو باندے وو او ورسره تائید او نصرتِ الهیه هم وو ۲: وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ علم دَ کتاب الله او دَ سنت۔ معرفة دَ دقائقو او لطائفو په نصوصو او احکامو شرعیو کښ ۳: فَصْلَ الْخِطَابِ دا لفظ شامل دے مختصر او جامع کلام ته او دَ حمد و صلوٰة نه روستو کلمے دَ اَمَّا بَعْدُ ته هغه علم کامل ته چه دَ مدعی او مدعا علیه ترمینځه فیصله کولے شی۔ او په دے باره کښ مفسر قرطبی واقعات دَ علی رضی الله عنه او دَ امام ابوحنیفه رحمة الله نقل کړے دی۔

ف۲۱: روستو دَ ذکر دَ صفاتو دَ داؤد علیه السلام نه چه دلالت کوی دَ هغه په عزت دَ لوئے باندے ذکر کوی ابتلاء دَ هغه او بیا رجوع دَ هغه الله تعالیٰ ته۔ هَلْ استفهام دے لیکن مراد تری نه ترغیب ورکول دی اوریدلو دَ مابعد واقعے ته۔ الْخَصْمِ دا اسم جنس دے مفرد تثنیه او جمع مذکر او مؤنث ټولو ته عام دے۔ اِذْ تَسَوَّرُوا تثنیه ته ضمیر دَ جمع راجع کول هم جائز دی۔ او دا دَ سور نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ دیوال دَ قلعے دے۔ الْمِحْرَابَ په شرع دَ بنی اسرائیلو کښ دَ خاص بنګلو دَ عبادت ځائے به مستقل او جدا وو هغے ته به ئے محراب ویل او محراب ئے ځکه دے وجه نه ویل چه هغه مکان دَ مقابلے کولو دَ شیطان وو او دا سے سورة آل عمران کښ تیر شوی دی۔

خَصۡمٰنِ بَغٰى بَعۡضُنَا عَلٰى بَعۡضٍ فَاحۡكُمۡ
موتږ دعویداران یو په یو بل باندې، زیاتے کړے دے یو په بل باندے تو فیصله اوکړه

بَيۡنَنَا بِالۡحَقِّ وَلَا تُشۡطِطۡ وَاهۡدِنَاۤ اِلٰى سَوَآءِ
زموږ په مینځ کښ حقه فیصله او د حده نه زیاتے مکوه او ۔ خودنه اوکړه موږ ته د برابر

الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾ اِنَّ هٰذَاۤ اَخِىۡ لَهٗ تِسۡعٌ وَّ
لارے ۔ یقینًا دا زما رور دے ده لره یو کم

تِسۡعُوۡنَ نَعۡجَةً وَّلِىَ نَعۡجَةٌ وَّاحِدَةٌ
سل گډے دی او زما یوه گډه ده

۲۲:۔ هرکله چه دروازے دَ عبادت خانے بندے وے او دا کسان (خصمان) فیصلے ته محتاج وو نو دوی مجبورًا په دیوال باندے را اوختل۔
فَفَزِعَ مِنۡهُمۡ په نا اشنا طریقه باندے بے اجازته داخلیدل ضرور سبب دَ ویرے او دَ کیراهټ وی۔
فَزَعَ دے ته ویلے کیږی چه دَ ویرے آثار په ظاهر بدن باندے ښکاره شی هرکله چه دوی دَ آثارو نه معلومه کړه چه دے زموږ په وجه او یریدلو چه کیدیشی دا په دشمنان وی نو هغوی اوّل تسلّی ورکړه په لَا تَخَفۡ سره او بیا ئے خپل حال پیش کړو چه خَصۡمٰنِ مراد تثنیه مدعی او مدعا علیه دی او اجمالی سبب دَ خصومت ئے ذکر کړو په دے قول سره بَغٰى بَعۡضُنَا عَلٰى بَعۡضٍ ۔ بَغٰى دَ بل چا حق باندے ظلمًا تعدّی کولو ته ویلے کیږی۔
فَاحۡكُمۡ بَيۡنَنَا په دے کښ طلب دَ فیصلے دَ انصاف دے او دا دَ خصمانو عادت وی چه دَ تاکید دَ پاره دَ حاکم ته عدل مطالبه کوی اګرچه هغه پوره عادل وی وَاهۡدِنَاۤ په دے کښ اشاره ده چه روستو دَ فیصلے کولو نه موږ ته داسے آداب اوخیه چه آئنده دَ پاره جنګ نه پیدا کیږی او دا دَ هوښیار حاکم طریقه وی۔

فَقَالَ أَكْفِلْنِيهَا وَعَزَّنِي فِي الْخِطَابِ ﴿٢٣﴾

نو دے وائی دا ماته اوسپاره او زور اور دے په ما باندے په خبرو کښ۔

قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَىٰ

اوئیل هغه یقیناً دهٔ ظلم کړے دے په تا باندے په سبب دَ طلب کولو دَ ګډے ستا

نِعَاجِهِ ۖ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي

ګډو خپلو ته او یقیناً ډیر دَ شرکت کوؤنکو نه خامخا ظلم کوی

بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ

بعضے دَ دوی په بعضو باندے مګر هغه کسان

آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ ۗ

چه ایمان ئے راوړے دے او عمل ئے کړیدے په موافق دَ سنت سره او لږ دی دوی

وَظَنَّ دَاوُودُ أَنَّمَا فَتَنَّاهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهُ

او ګمان اوکړو داؤد علیه السلام چه یقیناً امتحان کړے دے موږ په دهٔ باندے نو بخښنه ئے اوغوښتله دَ رب خپل نه

وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ ۩ ﴿٢٤﴾ فَغَفَرْنَا لَهُ

او پریوتلو رکوع کوؤنکے او اوګرځیدو الله تعالیٰ ته ـ نو بخښنه اوکړه موږ دهٔ ته

۲۳ :- دا تفصیل دَ خصومت دے او تیر شوی آیت کښ دَ خصمانو شریک بیان وؤ او په دے آیت کښ دَ یو خصم بیان دے نو لفظ قال احدهما پکښ مقدر دے او دا مدعا علیه دے ځکه چه هغه بل خصم دَ دهٔ په یوه ګډه باندے دعویٰ کړیده او دے ترینه منکر دے اَخِیٔ رورنسبی وؤ یا دینی وؤ دواړه احتماله شته. وَعَزَّنِي فِي الْخِطَابِ وجه دَ غلبے په خبرو داده چه هغه فصیح او چالاک وؤ یا دَ مالدارے دَ وجے نه غالب او زوراور وؤ۔

۲۴ :- مفسر قرطبی دَ ابو عبدالله حلیمی نه نقل کړے دے چه داؤد علیه السلام په شکایت کوؤنکی کښ آثار دَ کمزورے اولیدل نو یقین ئے راغے چه دے مظلوم دے او دا سبب اوګرځیدلو دَ دے خبرے چه دَ هغه بل خصم نه ئے هیڅ تپوس اونکړو او دَ عجلت نه ئے کار واخستلو او فیصله ئے اوکړله. لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِ او هغه بل

ذٰلِكَ ط وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ

دَ دغه خبرے | او | یقیناً | دهٔ لره | زمونږ سره | خاځا نژدے والے او ښایسته ځائے

ته یٔ ظالم اویل او دا مصداق دَ فتنے دے چه روستو ذکر کیږی ځکه دا سے عجلت دَ نبی دَ شان سره مناسب نه دے بلکه دَبل جانب نه تپوس کول ضروری وو- لیکن نعمت دَ الله تعالیٰ ورسره دا اوشو چه بغیر دَ نسبت دَ ظلم نه یٔ نوره سزا او عقوبت هغه ته ورنه کړو او دَ دے نعمت په شکریه کښ داؤد علیه السلام سجده کړیده او دَ دے وجے حدیث کښ وارد دی چه داؤد علیه السلام دا سجده دَ شکر کړے ده او مونږه یٔ دَ هغه دَ اقتدا دَ وجے نه کاو. دا روایت قرطبی ذکر کړیدے لیکن صحیح روایت دا دے چه داؤد علیه السّلام دا سجده دَ توبے په طور کړیده او مونږ یه دَ شکر په طور سره کوو او دَا ابن کثیر په روایت دَ امام نسائیؒ سره نقل کړے دے او ویلے دی چه دا سند صحیح دے. وَاِنَّ كَثِيْرًا په دسره زجر ورکوی دے مدعا علیه ته اشارهٌ چه تاوَلے دَ دے سړی سره چل مال کړا کړے دے ځکه چه مال ګډه وَل اکثر سبب دَ بغی جوړ شی او دا په تجربے او په تعامل دَ خلقو سره ثابته خبره ده - اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په دے کښ اشاره ده مانع دَ بغی ته سرهٔ دَ اختلاط ته یعنی چه کمال دَ ایمان وی نو بیا په هیڅ حالت کښ په یو بل باند ے ظلم نه کوی په دے کښ زورَنه دَ دواړو ته چه تا سو کښ په دَ ایمان نقصان وی دَ دے وجے نه یو بل سره جګړے کوئے. وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ما دَپاره دَ تاکید دَ قلت دے او دا سے سورۃ سبا ۱۳ کښ هم دی. مفسر قرطبی لیکلے دی چه عمر رضی الله تعالیٰ عنه دَ یو سړی نه په دعا کښ واوریدل اللهم اجعلنی من عبادك القلیل هغه ورته اویل چه دَ دے دعا څه مطلب دے نو هغه سړی په دے ایت سره جواب ورکړو. وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ مصداق دَ فتنے تعجیل کول وی په فیصله کښ لکه چه اوس تیر شول او مراد تر ینه خطا کیدل دی په سبب دَ عجلت کولو سره اګر چه دا معصیت نه دے ځکه چه دَ هغه په شرع کښ دا واجب نه وه چه دَ بل جانب نه دِ تپوس کیدے شی لیکن مناسب وه نو دا ترك اولیٰ دے چه انبیاء علیهم السّلام په دے باند ے هم خفه کیږی ځکه چه حسنات الابرار (باقی په بل مخ)

مَاٰبٍ ﴿۲۵﴾ يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً

(دَ راتلو دے . اے داؤد یقیناً مونږ گرځولے یې ته خلیفه (فیصلے کوونکے)

سیئات المقربین یعنی دَ عامو نیکانو یو جائز کار دَ خاص بندګانو په نسبت بدګڼلے کیږی۔ یا مصداق دَ فتنے دا وؤ چه داؤد علیه السّلام خپل اوقات تقسیم کړے وو چه یو ورځ به یے فیصلے دَ خلقو کولے او دویمه ورځ به یے عبادت خانه کښ خلوت نشینی کوله دَپاره دَ عبادت دَ الله تعالیٰ او دا دَ هغه اجتهاد وؤ لیکن په دے واقعے سره الله تعالیٰ هغه ته تنبیه ورکړه چه هرکله ستا دَ عبادت په ورځ دَ جاګړه راشی او فیصلے شرعی ته محتاج وی نو دا فیصله په ځوک کوی او حال دا چه دَ شرعی فیصلے کولو ثواب او اجر دَ نفلی عبادتونو نه بهتر دے لکه چه ابن کثیر دَ امام احمد په سند سره حدیث نقل کړے دے چه "الله تعالیٰ ته ډیر محبوب دَ خلقو نه او ډیر نزدے په اعتبار دَ مجلس سره امام عادل دے"۔ او دا رنګ حدیث دَ سبعة یظلهم الله کښ یے اول شخص امام عادل ذکر کړے دے نو دَ تنبیه دَ الله تعالیٰ نه داؤد علیه السّلام ته معلومه شوه چه دا تقسیم زما دَ طرف نه مناسب نه دے او دا خلاف اولیٰ دے. دَ دے وجے نه ګمان یے اوکړو چه څه په فتنه کښ واقع شوم۔ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ استغفار دَ انبیاؤ علیهم السّلام دَ ګناه نه نهٔ وی ځکه چه هغوی معصوم دی لیکن دا استغفار تعبداً دی یعنی ځان دَ الله تعالیٰ خاص بنده اوګڼړی او بعضے حالات خپل مناسب او نه ګڼړی نو دَ هغے نه توبے اوباسی۔ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ. رکوع په معنیٰ دَ سجدے ده په دلیل دَ لفظ دَ خَرَّ سره او په لغت کښ رکوع او سجود دواړه په معنیٰ دَ انحناء سره راځی دَ دے وجے نه دَ یو بل په معنیٰ سره استعمالیږی یا دا چه اول په رکوع شو نو بیا په سجده کښ ورپریوتو یعنی دَ حالت دَ رکوع نه په سجده کښ ورپریوتلو۔

۲۵:۔ اوله نتیجه دَ استغفار ده او دویمه نتیجه دَ سجدے کولو ده او دریمه نتیجه دَ انابت الے الله تعالیٰ ده۔

فائده :۔ دَ دے ایت په تفسیر کښ اکثر مفسرینو قصه دَ اوریا دَ ښځے ذکر کړیده او په هغے کښ دَ دوی څلور اقوال دی۔

اول قول دا دے چه داؤد علیه السّلام یو ځل یو مرغے پسے په اوختلو نو دَ اوریا ښځه یا نسے نظر او لګیدلو او هغے غسل کوؤ نو دَ ده ورسره

فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ

په ملک کښې تو فيصله کوه په مينځ د خلقو کښې په حق سره

محبت پيدا شو بيا يې عزم اوکړو چه اوريا په يو ذريعه قتل کړېشي نو سختو محرکو ته يې ليږلو آخر هغه قتل کړے شو دَ عدت دَ تيريدلو نه روستو دَ هغې سره يې نکاح اوکړو او سليمان عليه السّلام ترينه پيدا شو نو الله تعالىٰ ملائک په شکل دَ خصمان را اوليږل دَ پاره دَ تنبيه داؤد عليه السلام ته چه ستا يو کم سل ۹۹ ښځې شته او بيا هم دَ اوريا دَ ښځې په طمع کښې دِ ظلم اوکړو نو هغه توبه اويستله (العياذ بالله).
دويم قول دا دے چه دَ دهٔ دَ هغه ښځې سره محبت بے اختياره پيدا شو نو زړه کښې يې اراده اوکړه چه اوريا مړ شي يا قتل شي نو دا ښځه به زه په نکاح پاندے واخلم اګرچه دَ هغه دَ قتل اراده يې نه وه کړے
دريم قول دا دے چه دهٔ دَ اوريا نه طلب اوکړو چه دا ښځه دِ ما ته پرېږده نو هغه طلاق ورکړل او دهٔ ورسره نکاح اوکړو او دا عادت وؤ په هغه زمانه کښې.
څلورم قول دا دے چه دَ دغه ښځې خطبه (غوښتنه دَ نکاح) اوريا کړے وه ليکن داؤد عليه السّلام بغير دَ پوس نه دَ هغه دَ پاسه خطبه اوکړه او هغه خلقو داؤد عليه السلام ته ورکړه. ليکن دا اقوال باطل دي په دے کښې نسبت دَ ګناه کبيره يا صغيره يا وهم او شبه دَ ګناه راځي په داؤد عليه السّلام باندے او انبياء عليهم السّلام دَ داسے امورو نه معصوم دي دَ قول اول ابطال په ډيرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه الله تعالىٰ امر کړے دے زمونږ نبي صلّى الله عليه السلام ته دَ قصے په سر کښې اصبر او اذکر سره يعنې دَ داؤد عليه السلام پشان صبر اوکړه او دا واقعات دَ صفت دَ صبر نه خلاف دي. دويمه وجه تير شوی نهه صفتونه دَ هغهٔ چه ذکر شويدي نو هغه قول دَ دے واقعے سره منافات لري لکه چه امام رازی تفسير کبير کښې تفصيل کړے دے. دريمه وجه دا ده چه دَ دے واقعے په سند کښې يزيد الرقاشي دے او ابن کثير ويلي دي چه دا يزيد اګرچه دَ صالحينو نه دے خو په حديث کښې ضعيف دے او دا واقعه دَ اسرائيلياتو نه ده. څلورمه وجه دا ده قرطبي ويلي دي چه اکثر ددے راوايانو نه صحيح او متصل الاسناد نه دي

وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

او تابعداری اونکړے دَ خواهش نو وایه ړوی تالره دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه

و نه دی مناسب چه بغیر دَ صحت دَ هغے نه په داسے خبرو باندے څوک جرأت اوکړی۔ پنځمه وجه په دے کښ نسبت دَ عزم دَ قتل دَ مسلمان و محبت او عشق دَ پردے زنانه سره پیغمبر ته منسوب دی او انبیاء علیهم السّلام دَ گناهونه قبل النبوة او بعد النبوة معصوم او پاک دی او دا مسئله تفصیلاً په خپل ځائے کښ راځی او ابو حیان اندلسی په تفسیر البحر المحیط کښ په دے مقام کښ ذکر کړیدی چه قطعاً معلومه ده چه انبیاء علیهم السّلام معصوم دی دَ خطایانه۔ امکان نه لری چه دوی په گناهونو کښ واقع شی ځکه چه دا گناهونه کول دَ انبیاؤ نه صادر کیدل امکان او لری نو شریعتونه به باطل شی او دَ دوی په وحی باندے اعتماد باقی نه پاتے کیږی (صفحه ۳۹۳)۔ شپږمه وجه دا ده حارث الاعور او سدی دَ علی رضی الله عنه نه روایت کړے دے چه دا واقعه په داسے طریقه بیان کړه لکه چه قصاصان یئے بیانوی او په دے باندے عقیده لری نو هغه به زه یو سل او شپیته دُرّے او هم ردا روایت اگرچه دَ سند په لحاظ سره ضعیف دے لیکن دَ تیر شوے وجوهو دَ تائید دَ پاره مفسرینو ذکر کړیدے۔ اوومه وجه دا ده چه دا قصه په قرآن او په حدیث صحیح مرفوع کښ نیشته نو څه باعث دے چه دَ قرآن ظاهر لره پریږدو او دا قصه تفسیر اوگرځوو۔ اتمه وجه دا ده چه په دے توجیها تو کښ دَ پیغمبر دَ بیبیانو تشبیه ورکول دَ گډو سره بے ادبی ده او دا وینا دَ ملائکو چه خصمان یعنی بعضنا علی بعض هم تاویل ته محتاج دے بغیر دَ ضرورت نه تاویلونه په کلام الله تعالیٰ کښ بے مناسبه کار دے۔ دویم قول په دے وجه باطل دے چه په هغے کښ هم نسبت دَ محبت غیر شرعی دے پیغمبر ته او اخری وجه (چه مخکښ ذکر شوه) هغه هم پکښ ده۔ دریم قول او خلورم قول هم په اخری وجے سره باطل دی او ابن کثیر لیکلی دی چه دَ قرآن کریم آیاتونه په ظاهری معنیٰ باندے جاری کول پکار دی دَ دغه قصو نه پکښ پرهیز کول ضروری دی۔ بیا پوهه شه چه دَ اوریا دَ قصے نه علاوه مفسرینو وجه دَ فتنے او ابتلاء په درے طریقو سره

إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ

يقيناً هغه كسان چه اوړى د لارې د الله تعالىٰ نه

ليكلى دى. اوله طريقه داده چه دا دوه كسان دَ فيصلى دَپاره په ديوال بانىے راوړيدل نو داؤد عليه السّلام په دوى باندے گمان اوكړو چه دوى زما دَ قتل دَپاره راغلى دى ځكه چه دَ هغه دشمنان هم په هغه وخت كښ موجود وو هركله چه پس دَ فيصلى نه هغوى واپس لاړل نو معلوم شوه چه په دغه گمان كښ داؤد عليه السّلام خطا شوے وُو دے خطا كيدلو ته يے فتنه اويل او استغفار يے اوغوښتلو دا طريقه دَ قرآن دَ ظاهر سره ښه مناسب ده. دويمه طريقه محققين مونږ ذكر كړيده چه داؤد عليه السّلام دَ ورځو تقسيم كړے وُو او دا تقسيم كول الله تعالىٰ ته خوښ نه وُو نو دا واقعه ورباندے راوستله چه داؤد عليه السّلام پوهه شى چه دا تقسيم كول مناسب كار نه دے او ديته يے فتنه اويل دا طريقه هم دَ قرآن دَ ظاهر سره مناسبت لرى بغير دَ څه تاويل كولو نه. دريمه طريقه هم محققين ذكر كړے شويده چه داؤد عليه السّلام دَ يو شخص په بيان سره په يل باندے فيصله اوكړه عجلت يے اوكړو ليكن دَ علماؤ ظاهريو دَ بيان كوونكى نه يے استنباط كړے وُو په دے طريقه باندے بعض مفسرينو رد كړے دے چه دا هم دَ نبى دَشان سره مناسب نه ده چه هغه دِ دَ دواړو بيان نه اورى او فيصله دِ كوى ليكن جواب دادے چه هركله دَ علماؤ نه هغه استنباط اوكړو نو دَ بل طرف بيان اوريدلو ته يے ضرورت محسوس نكړو او يله دا چه دَ طرفينو نه بيان اوريدل دَپاره دَ فيصلى كولو زمونږ په ملت كښ ضرورى دى كيدے شى چه دَ هغه په ملت كښ ضرورى نه وو او دا توجيه هم دَ قرآن دَ ظاهر سره مناسب ده هيڅ تاويل ته ضرورت نه لرى. اوبيا په دے دريے طريقو باندے نعجه نه مراد ظاهرى معنى ده او خصمان نه مراد هم انسانان دى چه دَ هغوى جګړه هم په حقيقت كښ وه تمثيل او تشبيه نه وه.

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌۢ بِمَا نَسُوا يَوْمَ

دوی لره عذاب سخت دے په دے وجه چه دوی هیره کړے ده ورځ

الْحِسَابِ ﴿۲۶﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ

دَ حساب . او نه دی پیدا کړی مونږ اسمان او زمکه

۲۶: ربط دَ دے ایت تقاضا کوي چه ما قبل واقعه دَ فیصلے کولو سره تعلق لری نکه چه روستو دوه طریقے بیان شوی دی او دَ واقعے دَ اوریا سره هیڅ تعلق نه لری او په دے ایت کښې تثبیت دے داؤد علیه السّلام ته اوادب او طریقه خودل دی دَ شرعی فیصلو کولو او تنبیه ده نورو خلقو ته دَ اتباع دَ خواهش په باره کښې او هرچه داؤد علیه السّلام دے نو هغه خو معصوم دے دَ هغه نه دا خطره نیشته چه تابعداری دَ خواهش به یئے کړے وی یا به ایننده دَ پاره اوکړی داسے مفسر الوسی په تفسیر روح المعانی کښې لیکلے دی نو کومو مفسرینو چه ویلے دی چه دا تنبیه داؤد علیه السّلام ته ورکوی ځکه چه هغه دَ اوریا دَ ښځے په حصول کښې اتباع دَ هوی ته دخل ورکړے وؤ نو دغه مفسرینو دَ انصاف نه پهر خیره کړے ده او دا یئے دَ انبیاؤ په شان کښې گستاخی کړیده.

خَلِيفَةً فِي الْاَرْضِ خطیب شربینی لیکلے دی چه دَ خلیفه دوه معانی دی اوله معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ ته دَ تیر شوے انبیاؤ علیهم السّلام نه نائب گرځولے یئے په دعوة الی الله تعالیٰ او په سیاست دَ خلقو کښې او دویمه معنیٰ دا چه تا له طاقت درکړے دے چه احکام دَ الله تعالیٰ په زمکه کښې نافذ کړے نو په دے معنیٰ باندے خلیفة الله ویل جائز دی نو خلافت په معنیٰ حقیقی چه اوله معنیٰ ده په حق دَ الله تعالیٰ کښې ممتنع دے نو داسے نشی ویلے کیدے چه فلان نائب دَ الله تعالیٰ دے.

فائده: په خلیفة الله لفظ استعمالولو کښې درے قولونه دی اوّل قول دَ جواز مطلقًا په دلیل دَ قول دَ علی رضی الله عنه سره دے اولئك خلفاء الله فی ارضه او په قول دَ راعی سره چه خطاب یئے ابوبکر رضی الله عنه ته کړے وؤ خلیفة الرحمٰن انا معشر. حنفاء نسجد بکرة واصیلا. دویم قول دَ منع دے مطلقًا په دلیل دَ قول دَ ابوبکر رضی الله عنه سلست بخلیفة الله و لکنی خلیفة رسول الله صلی الله علیه وسلم او په دلیل

باقی په بل مخ

وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ الَّذِينَ

او هغه چه د دے په مینځ کښ دی بے فائدے دا گمان د دے د

كَفَرُوا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا

کافرانو لره تباهی ده کافرانو لره

مِنَ النَّارِ ﴿٢٧﴾ أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا

د اُور نه - آیا گرځوو مونږ هغه کسان چه ایمان یې راوړے دے

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ

او عملونه یې کړی دی موافق د سنت سره پشان د هغه کسانو چه فساد کوی په ملک کښ

دَ دے چه معنیٰ حقیقی دَ خلافت دَ الله تعالیٰ په باره کښ ممتنع او محال ده او دریم قول که مراد دَ اضافة (خلیفة الله) نه نائب وی دَ الله تعالیٰ نه نو منع دے او که اضافت نه مراد داوی چه الله تعالیٰ دے خلیفه جوړ کړے دے دَ یل چانه نو دا جائز دے. لیکن هر کله چه دا لفظ موهم دے او دلیل شرعی صحیح دَ دے دَ جواز دَ پاره نیشته نو دَ دے وجے نه صحیح داده چه دا لفظ استعمالول شرعاً منع دی او دَ دے مسئلے تفصیل ابن قیم رحمة الله په مفتاح دارالسعادة ص۱۶۵ او زادالمعاد ص۳ کښ کړے دے۔
ت۲۷:- ربط دَ دے آیت مخکښ سره دا دے چه مخکښ تخویف وو په نسیان دَ یوم الحساب نو په دے آیتونو کښ رد په منکرینو دَ یوم الحساب او اثبات دَ قیامت دے۔ بَاطِلًا مراد دَ دے نه عبث او لوبے دی چه دَ هیڅ فائده نه وی بلکه فائده ضرور شته او کامله فائده به په دویم ژوند کښ ښکاره کیږی چه بعث بعد الموت دے ځکه چه دَ دنیا منافع خو کالعدم دی۔ نو معلومه شوه چه پیدائش دَ دے مخلوق دلیل دے په دوباره ژوند باندے۔ او دا آیت دلیل دے چه څوک دا مخلوق عبث او لوبے گڼړی نو هغه کافر دے او دا گمان یې سبب دَ جهنم دے۔

أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ ﴿۲۸﴾ كِتَٰبٌ

ايا گرځوو مونږ متقيانو لره پشان دَ نافرمانو - دا كتاب دے

أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ

نازل كړے دے مونږ تاته بركتونو والا دِے دَ پاره چه ددى سوچ اوكړى په ايانونو دَ دهٔ كښ

وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ الْأَلْبَٰبِ ﴿۲۹﴾ وَوَهَبْنَا لِدَاوُۥدَ

او دَپاره دَ دے چه نصيحت واخلى خالص عقل والا - او اوبخو مونږ داؤد عليه السّلام ته

سـ۲۸:- اودا دوېم رد دے په منكرينو دَ قيامت باندے يعنى جزا او سزا چه حق نوى نو بيا خو مؤمن او غير مؤمن پوشان به دى او دا بے انصافى اوظلم دے - په دے آيت كښ افساد په معنىٰ دَ كفر او شرک او دَ خلاف سنّت دے - او تكرار دَ عدم مساوات ئے ذكر كړو په جدا جدا صفتونو سره اشاره ده چه هر يو دَ صفاتو دَ ايمان او دَ افساد، او دَ تقوىٰ او دَ جرم ښكاره علّت دے دَ پاره دَ عدم مساوات.

سـ۲۹:- ترغيب دے قرآن كريم ته دَ پاره دَ اثبات دَ توحيد او دَ پاره دَ تاكيد دَ قيامت او دَ پاره دَ اثبات دَ فرق په مينځ دَ دواړو فريقو كښ چه مخكښ آيت كښ ذكر وو. مُبٰرَكٌ تفسير نيشاپورى كښ په تفسير دَ سورة انعام كښ ويلے دى چه خير دَ قرآن ډير دے نفع هميشه ده باعث دے په ښۀ كارونو او منع كوونكے دے دَ بدكارونو نه. او دَ الله تعالىٰ سنّت جارى دے چه څوک شغل دَ قرآن سره لرى او تمسك كوى په دهٔ باندے نو هغه به عزت والا وى په دنيا او آخرت كښ او دا په تجربے سره ثابته ده.

لِيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ مقصد دَ قرآن كريم صرف تلاوت نه دے بلكه په هغے باندے ځان پوهه ول دى او سوچ كول دى او قرطبى ليكلى دى چه په دے كښ دليل دے چه معانى دَ قرآن ايزده كول واجب دى او دَ ارتكى ترتيل (په آرام آرام سره لوستل) افضل دى دَ تيز لوستلو نه وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ الْأَلْبَٰبِ روستو دَ تدبر او فكر كولو نه بعض خلق نصيحت قبول كړى او بعض نه قبلوى چا چه قبول كړو نو هغه ته ئے خالص عقل والا او ويل. اشاره ده چه دَ علم دَ قرآن نه مقصد عمل كول دى.

سُلَيْمٰنَ ۭ نِعْمَ الْعَبْدُ ۭ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ۝۳۰ اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ

سلیمان علیه السّلام بنهٔ بنده وو یقیناً دے الله تعالیٰ ته ډیر رجوع کوونکے وو. کله چه پیش کړے شو په مخ باندے

بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ۝۳۱ فَقَالَ اِنِّيْٓ اَحْبَبْتُ

په مازیګر کښ په درے خپو باندے ولاړ اسونه کره . نو اُویل هغه یقیناً زهٔ محبت کوم

حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ ۚ حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ۝۳۲

محبت دَ مال (اسونو) سرهٔ دَ وجے دَ یاد لو دَ رب (زمانه ربه دے سبب سره) تر دے پورے چه پټ شو په پرده کښ.

۳۰:. دا دویمه قصّه ده په دے کښ ذکر کوی ښائسته صفات دَ سلیمان علیه السّلام او ورپسے ذکر کوی ابتلاء دَ هغه دَ پاره دَ رد په مشرکینو چه ابتلاء په چا باندے راځی نو هغه شفیع قهری نشی کیدے اګرچه ډیر لوئے بزرګ وی. وَوَهَبْنَا دا بخښش داسے دے لکه چه موسیٰ علیه السّلام ته دَ هغه رور هارون علیه السّلام ئے بخښش ورکړے وو نو مراد دا دے چه هغه ئے نبی اوګرځوو دَ پاره دَ دے چه په کار دَ نبوت کښ دَ داؤد علیه السّلام سره مدد اوکړی او روستو دَ وفات دَ هغه ته سلیمان علیه السّلام نبی هم وو او بادشاه هم شو. نِعْمَ الْعَبْدُ دا ئے اول صفت دے چه ډیر طاعت او عبدیت کوونکے وو. اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ دا ئے دویم صفت دے دَ دے تفسیر مخکښ تیر شویدے.

۳۱:. په دے کښ دریم صفت دَ هغه ذکر کوی یعنی دَ جهاد فی سبیل الله او دَ رباط فی سبیل الله سره محبت کول یعنی اسونه دَ جهاد دَ پاره ساتل او دَ هغے خدمت کول سبب دَ لوئے اجر دے ومن رباط الخیل سورة الانفال او رابطوا په سورة العمران کښ تیر شویدے. اَلْعَشِيِّ روستو دَ زوال نه تر غروب پورے وخت ته عشی ویلے شی او عشاء روستو دَ غروب دَ نمر او غروب دَ شفق ته ویلے کیږی. الصّٰفِنٰتُ هغه اسونه دی چه ولاړ وی نو دریواړه خپے ئے مضبوطے او دَ څلورمے خپے سوه ئے سسته نګولے وی او ذکره او تیز رفتار آس علامت دے. اَلْجِيَادُ کرهٔ تیز رفتار یا اوګلاسپ والا ته ویلے کیږی.

۳۲:. په دے کښ جواب دَ وهم کوی که څوک اعتراض اوکړی چه دَ دنیا دَ څیزونو سره مینه محبت کول ګناه ده او دا دَ پیغمبر دَ شان سره مناسب نه دے نو په دے ایت کښ دَ هغے جواب دے حاصل جواب دا دے چه دا محبت دَ وجے دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه دے. عَنْ ذِكْرِ په معنیٰ دَ من اجلیه سره دے. اَلْخَيْرِ مال حلال ته ویلے کیږی او دلته مراد اسونه دَ جهاد دی او ذِكْرِ نه جهاد فی سبیل الله دے حَتّٰى تَوَارَتْ دا متعلق دے دَ عُرِضَ سره یعنی اسونه په صفونو سره هغه ته پیش شول او معلومات ئے کول چه دا دَ جهاد کولو دَ پاره لائق دی او که نه تر دے پورے چه لرے لاړل دَ هغه دَ نظر نه پټ شول.

رُدُّوْهَا عَلَيَّ ۚ فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ ﴿۳۳﴾

[واپس یې کړئ په ما باندې نو شروع شو چه لاس یې وهلو په پنډو او په ستونو (د اسونو) باندې۔]

وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا

[او یقینا امتحان کړے دے مونږ په سلیمان علیه السلام باندې او اچولے دے مونږ په کرسئ د هغه باندې یو جسد]

۳۳:- روستو د مسابقې نه اسونه یې دوباره طلب کړه لکه چه دا عادت دے د اسونو د تربیت کوونکو نو د هغې پنډې او ستونو ته یې په خپله صاف کړل د دوړو نه او اوږې تپه ول لکه چه دا عادت عامه دے او دا دلیل د نهایت محبت د جهاد دے چه د هغې د اسپابو خدمت سلیمان علیه السلام په خپله لاسونو باندې کوی او دا سې حدیث کښ وارد دی چه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم به خپل آس په خپل څادر سره صفا کوؤ او بل حدیث کښ امر راغلے دے چه د دے اسونو تندی او روستو حصّه د بدن پاکوئ نو سلیمان علیه السلام هم دغسے کړیدی او دا روایت د علی بن طلحة دے د ابن عباس رضی الله عنهما نه او حدیث د عائشه رضی الله عنها کښ وارد دی چه د دے اسونو وزرے هم وے او دا حدیث صحیح دے۔

فائده عل ۱:- د دے ایت په تفسیر کښ نور اقوال د مفسرینو هم شته اول دا چه عَنْ په خپله معنیٰ دے او د هغه نه مخکښ شغلنی پټ دے۔ او تَوَارَتْ ضمیر نمر ته راجع دے چه لفظ د عشی په هغې باندې دلیل دے۔ او رُدُّوْهَا ضمیر هم نمر ته راجع دے او دا خطاب الله تعالیٰ ته دے یعنی د اسونو په تماشا کولو سره نمر غائب شو او مونځ د مازیګر ترینه قضا شو نو په دے باندې خفه شو او اُویل یې چه ما د اسونو سره محبت کوؤ نو غافل یې کړم د ذکر د رب نه تر دے پورے چه نمر پټ شو۔ اے الله دا نمر ماته واپس را اوګرځوه نو نمر ورته واپس کړے شو او مونځ د مازیګر یې ادا کړو۔ لیکن دا تفسیر ضعیف دے په یو څو وجوهو سره، اوله وجه داده په دے کښ نسبت د محبت د دنیا دے چه سبب د غفلت اوشو د مونځ کولو نه سلیمان ته او دا د نبی د شان سره نه خائیګی دویمه وجه داده د تورات (چه ضمیر یې ظاهرًا راجع دے صافنات ته) دغه ضمیر نمر ته راجع کول اګرچه لفظ د عشی په هغې دلیل دے ضعیف دے ظاهر پریښودل بلاضرورت مناسب نه دی۔ دریمه وجه د انباء د په وقوف د شمس باندې سلیمان علیه السلام ته او په دے باندې حدیث مرفوع صحیح دلیل نیشته۔ دویم تفسیر دا دے چه ضمیر د توارت نمر ته راجع دے او په مینځ کښ تقدیر د عبارت دے چه مونځ ترینه قضا شو نو بیا ورته نمر واپس کړے شو او ضمیر د ردوها اسونو ته راجع دے په دے تفسیر کښ د بے ضرورته تقدیر نه علاوه هغه ضعف هم دے کوم چه په اول تفسیر کښ ذکر شو۔ دریم تفسیر دا دے چه دا ضمیر برعکس کړے شی یعنی ضمیر د توارت اسونو ته راجع دے او ضمیر د ردوها نمر ته راجع دے (رپاتے په بل مخ)

ثُمَّ اَنَابَ ﴿۳۴﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ مُلْكًا

بیا اوګرځیدو الله تعالیٰ ته -- اوویل هغه اے ربه زما ـ بخنه اوکړه ماته او را اوبخه ماته بادشاهي

په دے قول کښں هم هغه ضعف دے چه په اول کښں ذکر کړے شو. او په دے درے وارو تفسیرونو کښں ډیر ضعف داد ے چه ورپسے دَ مسحًا بالسوق والاعناق نه مراد اخلی چه په توره باندے پریکړے پښے او ستونه دَ آسونو، نو دا په ډیرو وجوهو سره باطل قول دے اول خو هلاکول دَ مالونو دَ جهاد دی دویم دا چه ظاهر دادہ چه دا مال دَ بیت المال وو دَ دے اتلاف ناجایز دے دریم دادہ چه مسح په عرف دَ عرب کښں په معنیٰ دَ پریکولو نه ده راغلے او بعض اشعار په دے کښں شاذ راغلی دی، څلورمه وجه دادہ چه دَ حیوان ذبح کول صرف په مرئ حلقوم کښں دی ستونی پریکول او پښے پریکول خو ظلم دے. پنځمه وجه دادہ چه دا دَ سدی او کلبی قول دے او هغوی په تفسیر کښں واهیان دی. شپږم په دے باندے ابن جریر او امام رازی او شربینی وغیره رد کړے دے. اووم دَ دے قول نه بعض متصوفو استدلال کړے دے چه په حالت دَ جذبه کښں دَ ځان نه جامے شلول جایز دی ځکه چه سلیمان علیه السّلام په جذبه کښں آسونه هلاک کړل او دا استدلال شبلی ذکر کړے دے او قرطبی په هغے باندے رد کړے دے او دا سے تلبیس ابلیس کښں ابن جوزی په دے باندے رد کړے دے.

سك ۳۴ :- روستو دَ ذکر دَ صفاتو دَ سلیمان علیه السّلام نه ابتلاء ذکر کوی په هغه دَ پاره دَ نفی دَ الوهیت دَ هغه نه. فَتَنَّا فتنه دَ هر چا دَ هغهٔ دَ شان مناسب وی دَ انبیاؤ فتنه په حکم کښں خطاء اجتهادی یا سهو او نسیان را تلل وی او دا ګناه نه دے لیکن دَ حسنات الابرار سیئات المقربین په قانون سره سبب دَ خفګان دَ انبیاؤ دَ پاره اوګرځی هسے نه چه الله تعالیٰ به زمونږ نه خفه شوے دے وجه نه دیته فتنه وائی او په باره دَ فتنے دَ سلیمان علیه السّلام کښں صحیح قول دا دَ کوم چه په حدیث صحیح کښں ذکر دے دَ هغے حاصل دا دے چه سلیمان علیه السّلام دَ جهاد دَ محبت دَ وجے نه او غوښتله چه ځپل اولاد ئے پیدا شی او هغه به مجاهدین فی سبیل الله وی نو اوویل ئے چه زه به نن شپه په تولو بیبیانو خپلو باندے ګرځم او دَ هغوی نه چه اولاد پیدا شی هغوی به مجاهدین وی او انشاء الله تعالیٰ ویل نه زړه نه هیر شول نو څه موده روستو دَ ولدیو تکړه ریحتی ولدیتا تمام) دَ شرا دړے شو او په کرسی دَ دهٔ باندے واچولے شو چه صرف دا ولد ساقط بوګی بی ته پیدا شو او دَ نورو بیبیانو هیڅ پیدا نشول نو دهٔ ته رایاد شول چه زما نه انشاء الله تعالیٰ ویل هیر شوے وو دا دَ هغے نتیجه ده نو دَ الله تعالیٰ نه ئے بخنه اوغوښتله او الله تعالیٰ ته ئے رجوع اوکړه.

لَا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيْحَ تَجْرِيْ

چه نه خائیگی هیڅا لره روستو زما نه یقینًا ته

بخښش درکوونکے ئے۔ نو په خدمت د هغه کښې هم اونګوله هوا روانه په وه

بنا په دے د جسد نه مراد و لیا نا تمام دے. دا صحیح حدیث دے او د انبیاؤ علیهم السّلام د قوت نه دا بعیده نه ده چه شلو بیبیانو ته یو شپه کښې نزدیکت اوکړی او بله ضروری خبره داده چه په احادیث د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم باندې په خپل عقل سره تلل جائز نه دی نو صرف په عقل سره د دے حدیث یا د نورو احادیثو صحیحو رد کول ظلم دے. د دے نه علاوه کوم اقوال چه مفسرینو ذکر کړے دی او په هغې کښې بنیاد د بادشاهۍ د سلیمان علیه السّلام په ګوتے د هغه باندې ایخودلے شوے دے او د شیطان په شکل د سلیمان علیه السّلام جوړیدل او په مسلمانانو باندې بادشاهی کول او شیطان په کور د سلیمان علیه السّلام باندې مسلّط کیدل وغیره هفوات دی د دے په باره کښې ابن کثیر او قرطبی او رازی او شربینی وغیره فیصله کړے ده چه دا د یهودیانو نه راغستلے شوے روایت دی هغوی په سلیمان علیه السلام باندې ډیر دروغ جوړ کړی دی دا د دغه دروغو یو کړئ ده او ابن حیان البحر المحیط کښې ویلے دی چه نقل کړی دی مفسرینو په باره د فتنه او جسد کښې دا سے اقوال چه واجب دے براءة د انبیاء علیهم السّلام د هغې نه هغه د دے مفسرینو په کتابونو کښې دی د هغې نقل کول مونږ له روا نه دی او دا د یهودیانو او زندیقیانو وضع کړے شوی خبرے دی او الله تعالٰی مونږ ته د فتنے او جسد بیان نه دے کړے لیکن ظاهر په دے کښې هغه دے چه حدیث د لا طوفن اللیلة کښې راغلے دے رمخکښې مونږ ذکر کړو)۔

۳۵:۔ دا ادب دے د انبیاء علیهم السّلام چه د تواضع او خشوع د اظهار د پاره او د حصول د ترقے د درجاتو د پاره استغفار غواړی دا دلیل په دے باندې نه دے چه سلیمان علیه السّلام څه ګناه کړے وُو۔

او استغفار سبب د ترقے د دنیا هم دے د دے وجے نه د دُعا د بادشاهۍ نه ئې استغفار مخکښې ذکر کړو۔ وَهَبْ لِیْ مُلْكًا لَّا یَنْۢبَغِیْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِیْ

(سوال) د انبیاؤ علیهم السّلام د شان نه بعیده ده چه د دُنیا بادشاهی د غواړی؟ (جواب) د دنیا بادشاهی او مال ته چه ژ پاتے په بلا ځ)

فَامْرِهٖ رُخَآءً حَيْثُ اَصَابَ ﴿۳۶﴾ وَالشَّيٰطِيْنَ

په حکم دَ هغه سره نرمه کوم خوا چه به دے تللو او شیطانان

دَدین دَحفاظت دَپاره استعمالیږی دَ هغ طلب کول جائز دی بلکه عبادت دے نو سلیمان علیه السّلام دَدین دَحفاظت دَپاره دا سوال کوی او وجه داده چه تمنا دَدهٔ حاصله نه شوه چه جاهلین اولاد یې طلب کول دَ حفاظت دَ دین دَپاره نو اوس بادشاهی طلب کوی دَحفاظت دَ دین دَپاره. لَّا يَنۢبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِيْ مراد دَدے داسے بادشاهی ده چه په سلیمان علیه السّلام پورے خاص وی او دلیل په دے باندے حدیث صحیح دَ بخاری دے مضمون یې دا دے چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه بیګاه شپه یو سرکش پیرے په ماپسے دَما تمځه په حالت کښ راغے موخه یې په ما باندے ګډوډ کاوُ نو الله تعالیٰ ماله په هغه باندے قدرت راکړو بیا مې اراده اوکړه چه دمسجد په یوستن پورے او تړم چه صبا یې تاسو اوینئ لیکن ماته دَ سلیمان علیه السلام دا دُعا یاده شوه دَ دے وجے ما اونه تړلو". نو دا حدیث صریح دے چه سلیمان علیه السّلام خصوصیت دَ ځپل ځان دَپاره طلب کوؤ. او دَدے نه معلومه شوه چه جنات رانیول او تړل ممکن دی او په سحر منترو سره هم کیدے شی لیکن جائز نه دی.

(سوال) دَدے دُعا خصوصیت دَځان دَپاره بخل دے دَ انبیا علیهم السّلام دَ شان سره نه ښائیګی؟

(جواب) زمخشری ذکر کړیدی چه مراد دَ دے خصوصیت نه معجزه ده او معجزه طلب کول دَپاره دَدے چه تصدیق دَ توحید او دَ نبوت حاصل شی دا دَ انبیاء علیهم السّلام کار دے. او په تفسیر دَ لا ینبغی الخ کښ نور اقوال هم شته لیکن هغه ضعیف دی او هرکله چه دَ داسے بادشاهئ دَحصول دَپاره اسباب دَ سلیمان علیه السّلام سره نیشته نو دَدے وجے نه توسل په دے نوم دَ الله تعالیٰ سره کوی چه اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ بخښه کوؤنکے یې بغیر دَ عوض او بے اسبابو.

۳۶ تا ۳۸ :- په دے آیاتونو کښ اشاره ده استجابت دَ دُعا دَ سلیمان علیه السّلام ته او دَ معجزاته بادشاهئ په طور سره اول هوا مسخر کړے شوه چه په هغ سره به دَدهٔ تحت دَدهٔ دَ مقتضیٰ موافق چلیدلو.

وَّ اٰخَرِيْنَ وَّ غَوَّاصٍ ﴿۳۷﴾ كُلَّ بَنَّآءٍ

او نور چه بو ګاڼے به | ابادی کوونکی او غوپے وهونکے هر

مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ﴿۳۸﴾ هٰذَا عَطَآؤُنَا

تړلے شویوو په زنځیرونو کښ ۔ دا بخشش زمونږ دے۔

فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۹﴾

نو احسان کوه یا ئے راټینګ کړه بغیر دَ حساب نه۔

بِاَمْرِهٖ کښ اشاره ده مقتضٰی ته رُخَآءً تابعدارا و نرم ته وائی۔ تابع خوبه هروخت وه اوکله به نرمه وه اوکله به تیزه شوه دَ دے وجے نه سورة انبیاء سلا کښ عاصفة ذکر دے۔ او یا دَ نرم نه مراد دا دے چه اګرچه تیزه وه لیکن رفتار دَ سلیمان علیه السلام کښ به ئے پریشانی او ګډوډوالے نه راوستلو۔ اَصَابَ په معنٰی دَ اراده او دَ قصد کولو دے رسیدل مراد نه دی۔

او دویم سرکش پیریان مسخر کړے شول چه هغه سخت کارونه ئے کول چه انسانانو یه کولے نشو۔ بَنَّآءٍ ابادے به ئے کولے لکه سورة سبا سلا کښ تیر شویدی او غَوَّاصٍ دریاب کښ به ئے غوپے وهلے دِ دے دَپاره چه ملغلرے راوباسی۔ او چا به چه دَ تابعدارے نه اعراض کوؤ نو هغوی به ئے بندی کول او په زنځیرونو کښ تړل۔

سلا۔ هٰذَا کښ اشاره ماقبل بادشاهئ او تسخیر دَ هوا او دَ شیاطینو ته۔ ده عَطَآؤُنَا په دے سره وهم دفع کوی چه یهودیانو مشهور کړے وؤ چه سلیمان علیه السلام ساحر وؤ دا تسخیر ئے پسبب دَ جادو سره کړے وؤ نو جواب اوشو چه دا بخشش دَ الله تعالٰی دَ طرف نه وؤ په جادو منتر سره نه وؤ۔ فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ یعنی په دے کښ سلیمان علیه السلام دَ دُنیا دَ یو قانون پابند نه وؤ که یو قیدی ئے ازادوؤ او که نه ازادوؤ ګناه وربانده هم نه وه۔

وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۴۰﴾

او یقیناً دهٔ لره زموږ سره ځانګا نزدیکت دے او ځائیسته ځائے د ورتللو.

وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اَيُّوْبَ ۘ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ

او یاد کړه بنده زموږ ایوب علیه السّلام چه آوازی وکړو رب خپل ته

اَنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ ﴿۴۱﴾

بیشکه زهٔ چه یم رسولے دے ماته شیطان په مرض او تکلیف سره۔

ﺳﻚ:۔ اشاره ده چه دغه دنیوی نعمتونه سبب د لرے والی د الله تعالیٰ نه او د جنت نه وو لکه چه د نورو سرمایه دارو مالداری منافی وی د آخرت سره

فائده :۔ په واقعه د داؤد علیه السّلام کښ د هغه سجده هم ذکر کړه د دے وجے نه هلته ئے تصریح کړے ده په غفرنا سره او دلته ذکر د سجدے نه وؤ د دے وجے نه مغفرت ئے صراحتًا نه دے ذکر کړے اودا رنګ په لفظ د استغفر کښ ډیره مبالغه او عاجزی وه په نسبت د رب اغفرلی نومعلومه شوه چه د داؤد علیه السّلام تضرع او عبدیت ډیر زیات وؤ (والله اعلم)۔

ﺳﻚ:۔ دا دریمه قصّه ده، د داؤد علیه السّلام ابتلاء په باره د شرعی فیصلو کښ وه او د سلیمان علیه السّلام ابتلاء په باره د محبت د جهاد کښ وه او د ایوب علیه السّلام ابتلاء په نفس د دهٔ کښ وه یعنی په بدن او په مال کښ. او اول دواړه بادشاهان او عابدان وو او ایوب علیه السّلام سرمایه دار او عابد وؤ. او هرکله چه مقصد په ابتلاء کښ اثبات د عبدیت دے د دے وجے نه د هغه صفت ئے ذکر کړو په عَبْدَنَآ سره او تفسیر د عبدیت ئے ذکر کړے په دے قول سره اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ۔ د قتاده قول دے چه شربینی نقل کړے دے چه نُصْبٍ مرضونه بدنی دی او عَذَابٍ مصیبتونه خارجی د هلاکت د اهل او د مال دی۔

شیطان ته په نسبت کولو کښ مشهور قول د مفسرینو دا دے قصّے دی چه مناسب نه دی د شان د انبیاء علیهم السّلام سره او قرطبی وئیلی دی "چه قرآن او سنّت صحیحه کښ د دغه واقعاتو هیڅ ذکر نیشته

ارْكُضْ بِرِجْلِكَ ۚ هَٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّ

اُوهه زمكه په خپله خپه باندے دا ځائے د لامبلو دے ييخ او

شَرَابٌ ﴿۴۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ

او د څكلو دی۔ او ورته موږ وركړه بال بچ د ده او په شان د هغوی

او اسرائیلیات دَ علماؤ په تیز پریخودلے شوے دی نو دَ هغې نه سترګے واړوه او غوږونه ترینه کاڼه کړه ځکه دا په ستا په فکر کښ خیالات زیاتوی او ستا په زړه کښ فساد پیدا کوی" (ترجمه تفسیر قرطبی) نو په دے نسبت کښ صحیح قول دا دے چه افعال ټول دَ خیر او شر دَ ایمان او کفر طاعت او معصیت ټول په خلق دَ الله تعالیٰ سره دی لیکن ادب دا دے چه دَ شر نسبت الله تعالیٰ ته دے نکار او شیطان ته دَ نسبت وجه داده چه په تکالیفو او مصیبتونو دَ صالحینو سره شیطان خوشحالیږی او سبب او ګرځی دَ هغه دَ وسوسو لکه چه دَ نسیان نسبت یوشع علیه السلام شیطان ته کړے دے وما انسانیه الشیطان ان اذکره سورة کهف۔

فائده :- په قرآن کریم کښ دَ سورة الانبیاء او دَ دے سورت نه اجمالی طریقې سره معلومه ده چه دَ هغه په بدن کښ بیماری او تکلیف وو لیکن په هغې کښ دا سے مبالغه کول چه دَ نبی په باره کښ عیب وی جائز نه دی مفسر الوسی په تفسیر روح المعانی کښ دَ دے آیت په ذیل کښ دَ اهل تحقیقو دا قول نقل کړے دے چه انبیاء علیهم السّلام باندے عوارض بشریه راتلے شی بشرطیکه حرام مکروهه او مباح، عیب، جن او نفرت پیدا کوونکی نه وی لکه کیدل برص جذام بهیدونکی لیونتوب وغیره وریاندے نشی راتلے۔

۴۲:- دا استجابت دَ دعا دَ هغه دے او طریقه دَ علاج ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ارْكُضْ بِرِجْلِكَ رکض په پونده او خپه باندے پوښے و هل دی او دلته قلتا مقدار دے۔ بیا په دے کښ دوه قولونه دی مشهور قول دا دے چه خپه و هل دَ دے دَ پاره چه چینه راپیدا شی دویم قول دا چه دَ دے دَ پاره چه مرضونه ترینه او دوریږی او هر یو معجزه ده۔ او تفسیر قرطبی کښ سخت ردئې کړے دے په هغه متصوفه ګمراهانو چه دَ دے لفظ نه استدلال کوی (پاتے په بل مخ)

مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿٤٣﴾

دوسره د دوی د رحمت زمونږ نه او نصیحت خالص عقل والو لره ۔

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِب بِّهِ وَلَا تَحْنَثْ ۗ

او اونیسه په لاس خپل کښی جارو نو اووهه په هغې (بی بی خپله) او قسم مه ماتوه ،

إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ

یقینًا مونږ موندلے وو مونږ دے صبرناک ښه بنده وو یقینًا دے

أَوَّابٌ ﴿٤٤﴾ وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ

ډیر رجوع کوونکے وو الله تعالیٰ ته ۔ او یاد کړه بندګان زمونږ ابراهیم او اسحاق

چه کلا اکول جائز دی او دا عین تحریف معنوی دے او مونږ په تفسیر دَلا تمش فی الارض مرحا کښی دَدے تردید ذکر کړے دے۔
هٰذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ دا طریقه دَ علاج دَ یدان ده چه په غسل سره په ظاهری مرضونه زائل شی او په څکلو سره به دَ باطن مرضونه زائله شی . متوسل او بوته وائی اوځائے دَ غسل ته هم ویلے کیږی ۔
سئله ۳: دا استجابة دَدُعا په باره دَ اهل کښ دَچه اهل دَ هغه کلا وو شوے وُو یا مره شوے وو الله تعالیٰ بیا راجمعه یا ژوندی کړل دا هم معجزه وه ۔
رَحْمَةً مِّنَّا اشاره ده چه په الله تعالیٰ باندے څوک زور اورنه دی شفیع قهری نیشته صرف دَ الله تعالیٰ رحمت دے . ذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ نصیحت دادے چه په صبر کښی کامیابی ده او رحمت دَ الله تعالیٰ واسع دے دَ هغې نه نا امیدی جائز نه ده او تضرع او عاجزی الله تعالیٰ قبلوی ۔
سئله ۴ هدا عطف دے په ارکض باندے یا په وهبنا باندے په تقدیر دَ قلنا سره۔ او دا تدبیر دے دَپاره دَ بچ کیدلو ایوب علیه السّلام لره دَ قسم دَ ماتولو نه چه هغه قسم کړے وُو چه زه به دا ښځه سل دُرّے وهم او دَ دے ښځے دَ وهلو سبب کښ ډیر اقوال دی اصح په کښ دادے چه ابلیس دے ته مثل شو په شکل دَ یو طبیب ځوړته اویل چه زه به ستا دَ مرض علاج او کړم او هیڅ اجرت نه غواړم سوا دَ دے نه چه هغه به یو پسکورے زما په تقریب سره ذبح کړی یا ته به اوائے چه دا شفا ورله تا ورکړیده دغه بی بی په دے باندے فکر راغئ چه دا څوک دے او خپل ځے اوویل خو هغه خیره ئے ایوب علیه السّلام

ته اورسوله هغه ډیر غصّه شو روجه دَ غصّے دا ده چه تا دومره زمانه په توحید کښ تیره کړه نو ولے پوهه نه شوے چه دا یومشرک وړاو تاته ئې دَ شرک کلمات اوخودل) نو زه به تا سل ګُزرے اوهم. لیکن هر کله چه هغه ښځے په دے خبره باندے عقیده او عمل نه وُکړے صرف ایوب علیه السّلام ته ئې را اورسوله نو هغه مجرمه نه وه نو دَ هغے وهل په سل دُرّو سره ظلم جوړیدو او که بالکل ئې وهل دَ هغے منع کړے وے نو ایوب علیه السلام په قسم کښ حانث کیدلو نو الله تعالیٰ داسے تدبیر او مخرج هغه ته اوخایو چه په هغے سره ښځه دَ ظلم نه بچ شی او ایوب علیه السلام به دَ قسم ماتو لو نه بچ شی. او دَ دے نه معلومه شوه چه خاوند لره وهل دَ ښځے تادیبًا جائز دی لیکن دَ حد نه زیاتے نه کوی.

ضِغْثًا هغه جارو ته ویلے کیږی چه په هغے کښ سل کترکی وی یا هغه ځانګه ته ویلے کیږی چه مشتمله وی په سلو وړو وړو ځانګو باندے.

فائده ع۱:- ایوب علیه السلام ته چه کومه طریقه اوخودلے شوه دے ته په شرع کښ مخرج ویلے کیږی حیله ویل ورته مناسب نه دی ځکه حیله اګرچه په لغت کښ مطلق تدبیرِ خفی ته ویلے کیږی لیکن اکثر استعمال دَ دے په هغه طریقه سره دے چه په هغے کښ خباثت وی او دا ذکر کړے دے راغب په مفردات القرآن کښ. بیا په دے طریقه کښ دَ علماؤ اختلاف دے دَ مجاهد او دَ عطاء نه نقل دی چه دا په ایوب علیه السلام پورے خاص ده او بعضو ویلے دی چه دا رخصت باقی دے په حدود او ایمان (قسم) کښ زمونږ په شریعت کښ ځکه چه حدیث دَ مخدج (ناقص الخلقة) چه زنا ئې کړے وه او غیر محصن وُو نو نبی صلّی الله علیه وسلم دَ هغه دَ وهلو دَپاره داسے طریقه خودلے وه او ایمان ئې په دے باندے قیاس کړے دے او اصح دا ده چه په حدود کښ په وخت دَ ضرورت کښ جائز ده دَ وجے دَ حدیث نه او په ایمان کښ دا طریقه جائز نه ده ځکه چه دلیل شرعی نیشته او بل دا چه کفاره زمونږ په شریعت کښ شته دے.

فائده ع۲:- مبسوط او عالمګیری وغیره فقهاؤ احناف حیله کښ اقسام ذکر کړے دی بعض جائز دی او بعض ناجائز دی اول قسم حیله کول دَپاره دَ دفع کولو دَ ظلم دَ مظلوم نه لکه دا طریقه دَ ایوب علیه السّلام نو دا جائز ده دویم دَیو مباح څیز دَ حصول دَپاره جائز طریقه (پاتے په بل مخ)

وَيَعْقُوبَ أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ ﴿٤٥﴾

او يعقوب عليهم السلام خاوندان دَ لاسونو وو (عملونه) او دَ سترګو وو (علم) .

اوکړی لکه واقعه دَ یوسف علیه السّلام کښې دا هم جائز ده (لیکن صحیح دا ده چه هغه خاص وه په یوسف علیه السّلام پورے لکه چه دَ هغې تحقیق تیر شو یدلے) دریم قسم حیله کول دَپاره دَ رسیدلو حراموته لکه حیله دَ اصحاب سبت او دا سے حیله دَ اسقاط مروجه په دے ملک کښې چه قدیه اعتنل مالدار دَپاره حرام وی او دارنګ فدیه کمول دَ مقدار شرعی نه منع دی لیکن په حیله مروجه سره هغه دواړه کارونه جائز اوګرځوی او نور ډیر مفاسد په دیکښې شته دے نو دا ناروا ده - څلورم قسم حیله دَ یو حق شرعی دَ ساقط کولو دَپاره دَ دے چه زکوٰة او شفع وریاندے واجب نشی دَ دے دَجواز نسبت امام یوسف ته کړے شوے دے او دَ امام محمد په نیز ناجائز ده او فتاوی عالمګیریه کښې لیکلی دی چه فتوی په قول دَ امام محمد باندے ده او صاحب دَ روح المعانی لیکلی دی کل حیلة اوجبت ابطال حکمة شرعیة لاتقبل (په هره حیله سره چه لا زمیږی دَ حکمت شرعیه ساقطیدل نو هغه نه قبلیږی) دا غوره قاعده ده.

إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا دا دلالت کوی دَ ایوب علیه السلام په ډیرو مصیبتونو او په هر مصیبت باندے صبر کول ځکه چه دا سے عبارت استعمالیږی په مقام دَ تجربه کولو کښې په یو شخص باندے یا په یو کار باندے.

نِعْمَ الْعَبْدُ ځکښې هم دَ دهٔ عبدیت ذکر کړے شوے وؤ دَ وجے دَ تضرع الی الله نه دوباره ئې ذکر کوی په نِعْمَ سره دَ وجے دَ غیرت کولو په توحید باندے چه دَ هغې دَ وجے نه ئې دَ ښځې دَ وهلو عزم کړے وؤ.

۴۵ سلک سک :- دا ذکر دَ ابتلاء ات دے اجمالاً په دغه درے انبیاء علیهم السّلام باندے چه دَ هغوی دَ ابتلاءاتو بیان په نورو سورتونو کښې راغلی دے او مقصد په دے کښې اثبات دَ عبدیت دَدوی دے دَ دے وجے نه لفظ عِبَادَنَا ئې ذکر کړے دے. بیا ئې دَدوی پنځه اوصاف دَ کمال ذکر کړے دی اول او دوېم أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ په اول کښې مراد دے قوت او کثرت دَ اعمالو دَ خیر.

الْأَيْدِي جمع دَ يَدْ ده په معنیٰ دَ لاسونو لیکن اکثر عملونه په لاسونو

إِنَّآ أَخْلَصْنٰهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ ﴿٤٦﴾

يقينًا موږ غوره کړي وو دوی په غوره والي سره چه يادول د کور روستني دي.

وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ﴿٤٧﴾

او يقينًا دوی په نيز زموږ خامخا د صفا کړے شوی غوره خلقو نه وو.

وَاذْكُرْ إِسْمٰعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ

او ياد کړه اسماعيل او اليسع او ذوالکفل عليهم السلام.

باندے کيږی دَدے وجے نه مراد دَ ايدی نه عملونه دی يا يَدَا په معنیٰ دَ نعمت دے يعنی په دوی باندے نعمتونه دَ الله تعالیٰ ډيردی يا دَدوی احسانونه دَ خلقو سره ډير وو په سبب دَ دعوة الی الخير.

وَالْأَبْصَارِ مراد ترينه بصيرت قلبيه دے يعنی خاوندان دَ علم او دَ معرفتِ الهيه وو او په دے صفتونو ذکر کولو کښ لطيفه اشاره ده چه کوم خلق دَدوی مخالفت کوی نو دَ هغوی مثال داسے دے چه لاسونه او سترګے نه وی. إِنَّآ أَخْلَصْنٰهُمْ دا دريم صفت دے بِخَالِصَةٍ يعنی خصلتِ خالصه يعنی حالت او صفت پاک. ذِكْرَى الدَّارِ دلته هم پټ مراد دے يعنی هغه صفتِ خالصه دادے چه دوی هر وخت آخرت يا دوی دَ هغے دَپاره تياری کوی او نورو خلقو ته دَ هغے تذکير ورکوی. وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ دا څلورم او پنځم صفت دے الْمُصْطَفَيْنَ کښ صفت لازمی سلبی ته اشاره ده چه دَ دوی ذاتونه دَ خيرو (ګناهونو) نه پاک دی الْأَخْيَارِ کښ صفة متعدی ايجابی ته اشاره ده يعنی په نسبت دَ نور مخلوق سره دوی غوره دی او خاوندان دَ نيکو کارونو دی دَ ځان سره او دَ نورو خلقو سره خطيب شربينی وئيلی دی دا دليل دے چه انبياء عليهم السّلام دَ ګناهونو نه پاک دی ځکه چه په مطلق اصطفاء سره دَ مطلق خيريت ته دلالت کوی په عصمت باندے.

وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ ﴿۴۸﴾ هَٰذَا ذِكْرٌ ۚ

او دا ټول دو د غوره خلقو نه . دا (یو قسم) ذکر دے

وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ﴿۴۹﴾ جَنَّاتِ

او یقیناً چه متقیانو دپاره ښائسته ځائے د ورتللو دے جنتونه

عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ ﴿۵۰﴾ مُتَّكِئِينَ

د دیره کیدلو پرانستے شوے به وی دوی ته دروازے . تکیه به وهلے وی دوی

فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ

په هغے کښ غواړی به دوی په هغے کښ میوے ډیرے

وَشَرَابٍ ﴿۵۱﴾ وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ

او څښکل . او د دوی سره به وی بندونکی د سترګو خپلو په خاوندانو باندے

سے ۴۸ :۔ دا درے انبیاء علیهم السّلام ذکر کوی اشاره ده د دوی ابتلاءاتو او په هغے باندے صبر کولو ته د اسماعیل علیه السّلام د وړوکوالی ابتلاء او صبر سورة صافات کښ ذکر شوے دے او د الیسع بن اخطرب او ذوالکفل (بشر بن ایوب) علیهم السّلام تفصیلی حالات الله تعالیٰ ته معلوم دی. مِنَ الْأَخْيَارِ کښ اشاره ده د دوی مصیبتونو ته په دعوت الی الله کښ او په هغے باندے صبر کول او نور اعمالو صالحو ته ۔ د هغکو درے او د دے درے انبیاء علیهم السّلام په احوالو کښ نے تفاضل او فرق ته اشاره او کړه په تفاوت د تعبیر سره او الله تعالیٰ ښه عالم دے په فرق د درجاتو د دوی لیکن زمونږ اجمالی عقیده ده تلك الرسل فضلنا بعضهم علی بعض باندے ۔

د سے ۵۴ نه تر سے ۵۴ پورے ۔ روستو د بیان د ابتلاءاتو د انبیاء علیهم السّلام ته بشارت اخرویه ذکر کوی دے انبیاؤ او د دوی تابعدارانو لره او لفظ د متقین کښ دا ټول داخل دی. هَٰذَا ذِكْرٌ تنوین د پاره د تنویع دے او نوع عظیمه مراد ده یعنی دا چه تیر شو ر واقعات د انبیاء علیهم السّلام) یو قسم عظیم الشان نصیحت دے او ذکر جمیل د هغوی دے په دنیا کښ او هر چه په اخرت کښ دی نو وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ او دا لفظ نے ځکه راوړو چه د

أَتْرَابٌ ﴿٥٢﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ
همزولے۔ دا هغه دی چه وعده یئے کیدے شوه تاسو سره دَ پاره دَ ورځ
الْحِسَابِ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ
دَ حساب۔ یقیناً دا بخشش زمونږ دے نیشته دَ لره
مِن نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾ هَٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّاغِينَ
هیڅ خلاصیدل۔ دا بل قِسم ذکر دے، او یقیناً سرکشانو دَ پاره

سورةَ دَاول سره مربوط شی (والقران ذی الذکر) وَاِنَّ عطف دَ مضمون دے په مضمون دَ ماقبل باندے هذا ذکر رؤساء التقوی فی الدنیا واما ذکرهم فی الاخرة وان للمتقین۔

او په دے بشارت کښ لس امور ذکر کوی۔ حسن مأب۔ جنّات عدن بدل دے ماقبل نه۔ مفتحة لهم الابواب یعنی جنّت ته دَ داخلیدلو په وخت بیا جنّت کښ دننه دَ بنګلو دروازے په دوی ته پرانستے وی لکه چه سورة زمر ۷۳ کښ دی۔ متکئین دا اجمالی حالت دے او نورو آیاتو کښ تفصیل دے (علی الارائك متکئون۔ متکئین علی رفرف خضر)۔ یَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَّشَرَابٍ یعنی رنګا رنګ میوے او ډیر قسمونه دَ مشروباتو۔

حرف دَ با دَ پاره دَ ملابست دے یعنی آواز په ورکوی خادمانو ته نو هغوی حاضریږی متلبس په وی په میوؤ او شرابو۔ وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ دبیان دَ مکان او خوراک او څکاک نه روستو دَ بیبیانو ذکر کوی او نظر کول د شیځ خپل خاوند ته چه بل چاته نه ګوری اشاره ده دَ دوی دیر والی دَ حیا او محبت کولو ته دَ خاوندانو سره۔ اتراب یعنی په عمر کښ او په حسن او جمال کښ برابر به وی په روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما کښ راغلی دی چه دَ تولو عمر به درے دیرش کالو ته وی یادا چه دَ خاوندانو سره به هم عمر وی۔ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ یعنی ورځ دَ حساب دَ دوی دَ پاره ورځ دَ انعاماتو ده مناقشه دَ حساب نیشته۔ إِنَّ هَٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ۔ مراد دَ دے نه دوام دَ جنّت او دَ نعمتونو دَ هغه او دَ اهل جنت دے لکه عطاء غیر مجذوذ سورة هود ۱۰۸ او لهم اجر غیر ممنون تین ۶ دارد دے په هغه چا چه قول کوی په فنا دَ جنّت او دَ اهل جنت ...

دَ هٰذَا نه سکے پورے. دا تخویف اخروی دے په مقابل دَ بشارت دَ متقینو کښ او دا هم مشتمل دے په لش حالاتِ قبیحه دَ اهل جهنم. هٰذَا مبتدا ده خبر ئے حذف دے یعنی هذا ذکرٌ دا یو قسم ذکر وو یعنی دَ نعمتونو دَ جنّت ذکر وؤ اوس دَ جهنم حالت واورئے.

وَاِنَّ لِلطّٰغِیْنَ مراد دَ دے نه کامل طغیان والا دے یعنی مشرک لَشَرَّ مَاٰب دا اول حال دے په مقابل دَ حسن مأب کښ. جَهَنَّم بیان دے دَ شرمآب. فَبِئْسَ الْمِهَاد هغه ځیز چه دوی ځان دَ پاره تیار کړے دے یا مراد ترینه فراش دے. هٰذَا په دے کښ هم تقدیر دے یعنی الامر هذا. یا هذا مبتدا ده حمیم وغساق ئے خبر دے او په مینځ کښ جمله معترضه ده. غَسَّاقٌ هغه گنداگی چه بهیږی په دَ بدنونو او دَ زخمونو دَ جهنم والو نه. یا مقابل دَ حمیم دے یعنی ډیر یخ چه دَ ډیر یخ والی دَ وجے نه سوزول کوی. او حدیث دَ ترمذی کښ وارد دی که چرے یوه بوقه دَ غساق نه په دنیا کښ تویے کړے شی نو ټول دُنیا والا به بدبویه شی. وَاٰخَرُ مِنْ شَکْلِهٖ اَزْوَاجٌ یعنی عذابٌ اٰخَرُ مِنْ شَکْلِهٖ ضمیر په تاویل دَ مذکور سره حمیم او غساق ته راجع دے. اَزْوَاجٌ ډیر قسمونه دَ عذاب به وی. هٰذَا فَوْجٌ مُقْتَحِمٌ مَعَکُمْ دا ذکر دَ براءت دَ الهو باطلو او دَ

لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ؕ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا ۚ فَبِئْسَ
مرحبا نیشته تاسو لره ، تاسو رامخکښې کړے دے داموږته نو تا کاځ

الْقَرَارُ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هٰذَا
ځائے دے - اوبه وائي دوی اے ربه زموږه چا چه رامخکښې کړے موږته دا

فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِی النَّارِ ﴿۶۱﴾ وَقَالُوْا
نو زیات کړے هغه لره عذاب دوچند په اور کښې - او دوی به اووائي

مَا لَنَا لَا نَرٰی رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ
څه وجه ده موږ لره چه نه وینو هغه سړی چه شمارل به موږ هغوی لره

مِّنَ الْاَشْرَارِ ﴿۶۲﴾ اَتَّخَذْنٰهُمْ سِخْرِيًّا
دَ شر والو نه ايا گرځولے وو موږ هغوی لره مسخره کړے شوی

اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ ﴿۶۳﴾ اِنَّ ذٰلِكَ
یا کوږے دی دَ دوی نه سترگے زموږ - یقینًا دا

عابدانو دَ هغوی دے دَ یوبل نه - یعنی هرکله چه مشران دَ دوی جهنم ته مخکښې داخل شویدی او تابعداران دَ هغوی به ملائکو راروان کړے وی او دَ هغوی نه به یے روستو داخلوی نو ملائک به اوائي مشرانو دَ دوی ته هٰذَا فَوْجٌ غت جماعت ته فوج وائي مُّقْتَحِمٌ په زور سره داخلولو ته تنگ ځائے کښې اقتحام وائي - ځکه چه دَ دوی ځایونه به په جهنم کښې تنگ وی۔ لَا مَرْحَبًا بِهِمْ دا قول دَ دوی دَ مشرانو دے او دا دعاءِ شر ده یعنی دوی له دِ فراخي نصیب نه شي یا جمله خبریه ده اِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ دا هم قول دَ مشرانو دے او علت دے دَ لا مرحبا دَپاره - بَلْ اَنْتُمْ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ یعنی تاسو دَ دے (عدم وسعت) حقدار یئ او علت یئ دا دے چه اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا ضمیر کفر او شرک ته راجع دے چه په قرینے سره معلومیږی - فَبِئْسَ الْقَرَارُ قرار آرام ته ویلے کیږی نو دا جمله په طریقه دَ تهکم او دَ زورنے سره ده قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا تقدیم په طریقه دَ دعوت سره دے یعنی څوک چه داعی وی شرک ته نو هغه دَپاره دوچند عذاب پکار دے لکه سورة احزاب ۶۸ کښې راپاتے په یلی(ع)

لَحَقٌّ تَخَاصُمُ اَهْلِ النَّارِ ﴿۶۴﴾ قُلْ اِنَّمَا

واقع خبره ده جګړه ده د اور والو - ته اُوایه یقینًا

اَنَا مُنْذِرٌ وَّمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ

زه ویره ورکوونکے یم ، او نیشته هیڅ حقدار د بندګئ سوا د الله تعالیٰ نه چه یو دے

الْقَهَّارُ ﴿۶۵﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا

زور آور دے - رب د آسمانونو او د زمکے دے او د مینځ د دے دواړو

الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ﴿۶۶﴾ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا

زور آور دے بخښه کوونکے دے - ته اُوایه دا خبر

تیرشویدی ۔ وَقَالُوْا لَا نَرٰى رِجَالًا دا قول د کشرانو او مشرانو د ټولو دے او په دے کښ اشاره ده لکه چه د دوی د تابعدارے کولو نتیجه ناکاره ښکاره شوه نو دا رنګ د دوی دا ګمان هم غلط ثابت شو چه دوی په توحید والو ته اَشْرَار وئیل او حال دا دے چه هغوی په جهنم کښ نیشته معلومه شوه چه هغوی اَخیار وو او دا عادت د جاهلانو اوس هم جاری دے چه دوی داعیانو د توحید او سنّت او هر حق پرستونه شریان وائي خو قیامت کښ به دوی ته معلومه شی ۔ اَتَّخَذْنَا په دے کښ همزه استفهامی موجود دے او همزه وصلی حذف شویدے او دا استفهام تقریری دے ۔ حاصل د قول د دوی دا دے چه مؤحدین چه مونږ ورته شریان وئیل په جهنم کښ دی مونږ ته نه ښکاریږی یا خو زمونږ نظر خراب دے یا هسے تربیه سترګے اوړیدلے دی ۔ اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ مراد دا چه په دنیا کښ د دوی د مرتبے او د حقیقت نه زمونږ نظرونه بند وو یا دا چه اوس په جهنم کښ زمونږه سترګے د دوی نه کږے شویدی ۔ تَخَاصُمُ یعنی د مشرانو او کشرانو په مینځ کښ دغه خبرے کول دا خصومت دے په اور د جهنم کښ ۔

۶۵ سے ۶۶ ۔ دا دعویٰ د توحید ده تفریع ده په ماقبل بیان یا ندے او دا متعلق دے د ابتداء د سورت سره په ذکر د صداقت رسول او توحید سره او د اثبات د توحید د پاره ئې څلور اسماء الٰهیه ذکر کړیدی۔

عَظِيْمٌ ﴿٦٧﴾ اَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُوْنَ ﴿٦٨﴾

لوئے شان والا دے تاسو د دۀ نه مخ گرځوونکي يئ

مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَاِ الْاَعْلٰى

نيشته ما لره هيڅ علم په مجلس اوچت کښں

اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٦٩﴾ اِنْ يُّوْحٰى اِلَىَّ اِلَّا

کله چه هغوي کورئي کښں خبرے کولے. دی نه کيږی ما ته مګر

۶۷ ۶۸ .. دا بيان دَ عظمتِ شان دَ مسئلے دَ توحيد دے او ورسره زجر دے اعراض کوؤنکو ته. هُوَ ضمير توحيد ته راجع دے او دا رنګ قران ته او په دے سورت کښں ما قبل ټول ذکر ته اشاره کيدیشی.

۶۹ .. دَ دے ايت نه تر اخره پورے دريم باب دے په دے کښں صداقتِ رسول بيانوی په نفی دَعلم غيب سره دَ هغه ته. بيا ذکر دَ ابتلاء دے ملائکو او ابليس باندے په امر دَ سجود سره ادم عليه السّلام ته او اخر کښں صداقتِ رسول او دَ قران ذکر کوی دَپاره دَ موافقت دَ اول دَسورت سره -

په دے (۶۹) کښں صداقت دَ رسول ذکر کوی دَپاره دَرد په معرضينو چه تير شوے ايت کښں هغوی ته زجر ووُ حاصل دا چه تاسو په څه وجه سره اعراض کوئے حال دا دے چه دے پيغمبر په خپل علم سره دا خبرے نه دی کړی بلکه په وحی سره ورته خبر ورکړے شوے دے. دَ دے ايت په تفسير کښں مشهور دوه قولونه دی -

اول قول دا دے چه مَلَاِ الْاَعْلٰى نه مراد ملائک دی او اختصام نه مراد بحث کول دی دَ ملائکو او دَ الله تعالیٰ په باره دَ استخلاف دَ ادم عليه السلام او دَ سجدے کښں چه په سورة بقره کښں ذکر شوے دی. اختصام صرف سوال او جواب ته ويلے کيږی جګړه پورے خاص نه دے دويم قول حديث دے په روايت دَ عبد الرحمن بن عائش سره چه ترمذی او حاکم او تفسير خازن او قرطبی وغيرهم دلته ذکر کړے دے او اختصام په کفارا تو او رفع درجاتو کښں دے. ليکن اول قول صحيح دے ځکه چه روستو دَ هغے ذکر راروان دَے پاتے په بل مخ)

اَنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٧٠﴾ اِذْ قَالَ رَبُّكَ

دَ دے دپاره چه زه ویره ورکوونکے ښکاره یم ـ کله چه اوویل ستا رب

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّىْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ ﴿٧١﴾

ملائکو ته یقینًا زه پیدا کوونکے یم بشر لره دَ خټو نه ـ

فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِىْ

نو کله چه زه ئے برابر کړم او پو کړمه په هغه کښ دَ روح خپل نه۔

په اذ قال ربك للملائكة اه سره دویم دا چه دغه حدیث ثابت نه دے تفصیل ئے په تفسیر خازن کښ دے حاصل ئے دا دے امام بخاری ویلے دی چه عبدالرحمن بن عائش یو حدیث دے او په هغے کښ هم اضطراب (ردستد) دے او امام بیهقی ویلے دی دا حدیث په ډیرو سندونو سره نقل شوید سے او هغه ټول ضعیف دی او په ثبوت دَ دے حدیث کښ اعتراض دے. اوکتاب الجرح والتعدیل دَابن ابی حاتم ص ۲۶۲/ج ۵ کښ ویلے دی چه هغه خوک خطا شویدی چه چا ویلے دی چه عبدالرحمان بن عائش صحابی دے ـ صحابی نه دے او ابوذرعه ویلے دی چه دے معروف نه دے ـ

(سوال) که اوویلے شی چه امام ترمذی دے ته صحیح ویلے دی؟
(جواب) محدثین تصحیح دَ امام ترمذی ته اعتبار نه ورکوی هر کله چه جرح تفصیلی وی ـ دَ دے تحقیق نه معلومه شوه چه دَ دے حدیث دَ الفاظو نه تجلی لی کل شی یا علمت ما کان وما یکون نه بریلوی عقیدے والا دلیل نیسی په علم غیب کلی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے نو دا استدلال ئے غلط دے ځکه چه حدیث ضعیف دے ـ

ســے:۔ په دے کښ سبب دَ علم دَ نبی صلی الله علیه وسلم ذکر کوی چه هغه وحی ده او علم چه سبب ته محتاج وی هغه ته شرعًا علم غیب نشی ویلے کیدے ـ اِلَّا اَنَّمَآ دلته لام مقدر دے اِلَّا لِاَنَّمَا یعنی دَ دے دپاره چه زه نذیر مبین یم یا انما مصدریه ما بعد یے تاویل دَ مصدر کښ دے معنیٰ دا ده وحی نه کیږی مگر دَ انذار ـ اوله معنیٰ غوره ده ـ

ســـ ۷۱ ســـ ۷۲ ســـ ۷۳:۔ په دے آیاتو کښ تفصیل دَ مختصمون دے

فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿۷۲﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ

تو شئ هغه ته سجده کونکی - نو سجده اوکړه ملائکو

كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿۷۳﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط

ټولو په جمع سره مګر ابلیس

اِسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۴﴾ قَالَ

لوئی اوکړه او وو دے دَ کافرانو نه . اُویل الله تعالیٰ

اودلته دا واقعه ذکر کوی دَپاره دَ دے چه په ملائکو او په ابلیس باندے هم ابتلاء کړے شوے ده په مکلّف کولو دَ دوی په سجود آدم علیه السّلام ته او په چا باندے چه ابتلاء راځی نو هغه دَ الله تعالیٰ سره شریک یا شفیع قهری نشی کیدلے او دارد دے په مشرکین بالملائکه والجن باندے۔ بشرًا سوال دادے چه مخکښ دَ دے نه دوی بشر نه پیژندلو نو څرنګه دوی ته خطاب کښ بشرًا ذکر کړو؟ جواب!
دلته مراد معنیٰ وصفی ده یعنی دا سے مخلوق پیدا کوم چه دَ هغه وجود او بدن به همیشه ښکاریږی مګر په هغه وخت چه په لباس وغیره سره ئے پټ کړی او هرچه ملائک او جنات دی نو همیشه نه ښکاریږی۔
رُّوْحِیْ هغه روح چه په هغې کښ دَ الله تعالیٰ نه سوا دَ بل چا ملکیت او اختیار نیشته او صرف دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے هیڅ ظاهری سبب ئے نیشته دَ دے خصوصیت دَ وجے نه الله تعالیٰ ته ئے اضافت اوشو۔
فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ دَ دے عبارت نه روانے تقدیر دے یعنی هرکله چه پیدا ئے کړو او روح ئے پکښ واچوؤ او علم دَ اسمائهم ورکړو نو بیا ئے په (امر تجیزی) سره ملائکو ته اُویل اسجدوا لآدم او دا تقدیر په قرینه دَ سورة بقره سره دے. كُلُّهُمْ دَ تاکید دَپاره دے یعنی ملائکو نه هیڅ څوک مخالفت کوونکے نه وؤ۔ اَجْمَعُوْنَ په دے کښ اشاره ده هیئتِ اجتماعیه ته یعنی په یو جماعت سره ئے سجده اوکړه جدا جدا شوے نه دی۔ او دا سجود دَ تحیه (سلام) کولو په طریقه سره ده چه مخکنو امتونو کښ جائز وه لیکن صرف په سرخکته کولو سره وه په طریقه دَ عبادت او سر په زمکه ایښودلو سره نه وه۔ (رباني په بل ځ)

يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ

اے ابلیس څه شي منع کړے ته د سجدے کولو نه هغه ماته چه ما جوړ کړے دے

بِيَدَيَّ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِينَ ﴿۷۵﴾

په دواړه لاسونو خپلو آیا لوئی د اوکړه او که ئے ته د اوچت خلقو نه.

قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ

اوئیل هغه زۀ غوره یم د دۀ نه تا زۀ پیدا کړے یم د اُور نه او

وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ ﴿۷۶﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا

دے د پیدا کړے دے د خټو نه ۔ اُوئیل الله تعالیٰ اُوځه د دے ځائے نه

اوزمونږ امت کښ تحیه صرف السلام علیکم ورحمة الله برکاته ویل دی او ورسره مصافحه او معانقه کول هم په سنّت سره ثابت دی لیکن سر ښکته کول په وخت د سلام کښ منعه دی. مخکښ هم دا بحث تفسیر سورتونو کښ تیر شوید ے.

ﺳﮫ ۔ مخکښ الله تعالیٰ علت دَ سجدے نه کولو ذکر کړو چه استکبار دے لیکن بیا هم دَ ابلیس نه تپوس کوی دَ دے دَپاره چه دَ دۀ دروغ هم ښکاره شی. حاصل دَ تپوس دا دے چه ستا دَ سجدے نه کولو دوه علتونو کښ په یو علت وی یا به دے هسے دعویٰ دَ لوئی کړے وی یا په حقیقت کښ لوے یے۔ خَلَقْتُ بِيَدَيَّ دا تثنیه دلیل دے چه مراد دَ يَدَيْنِ نه لاسونه دی په معنیٰ ظاهری سره لیکن کیفیت دَ هغے باندے الله تعالیٰ عالم دے مونږ پکښ بحث نشو کولے دا مذهب دَ ټولو سلفو صالحینو دے تاویل کول په قدرت یا نعمت وغیره سره دَ قرآن نه مخالفت کول دی او په دے تعبیر کښ اشاره ده عظمت دَ شان دَ آدم علیه السّلام ته چه سبب دَ سجود دَ هغه دے۔

فائده :۔ سورة اعراف کښ " ان لا تسجد اذا امرتك " وُو وجه دَ فرق داده چه هلته ذکر وُو چه سجده مامور به ده او دَ مامور به خلاف کول دادے چه نه ئے کوی نو دَ دے وجے لا تسجد ئے ذکر کړے او دلته خَلَقْتُ بِيَدَيَّ کښ سبب دَ امر دَ سجدے ته اشاره ده نو دلته لفظ دَ تسجد مناسب دے (والله اعلم)

دَ سلاک نه تر سلاک پورے۔ دا جواب دَ ابلیس دے په اختیار دَ دویم شق سره یعنی زۀ په حقیقت کښ لوے یم او دا ښکاره دروغ دی ۔ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ دا دلیل دَ دعویٰ دے او دَ دلیل دویمه مقدمه پټه ده یعنی اور غوره دے د خټو نه نو نتیجه ئے دا

فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٧٧﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي

یقیناً ته رټلے شوے یې. او یقیناً په تا باندے لعنت زما دے

إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٧٨﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِي

تر ورځ دَ جزا پورے. اُویل ابلیس اے ربه زما مهلت راکړه ماله

إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ

تر ورځ دَ دوباره ژوند پورے. اُویل الله تعالیٰ یقیناً ته یې دَ

الْمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ﴿٨١﴾

مهلت ورکړے شوؤ نه تر ورځ دَ وخت مقرر شوے (په علم دَ الله تعالیٰ کښ).

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٢﴾

اُویل ابلیس نو قسم دے ستا په عزت باندے خامخا گمراه به کړم ټولو لره

إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٨٣﴾ قَالَ

مګر بندګان ستا دَ دوی نه چه بچ ساتلے شوے دی. اُویل الله تعالیٰ

شوه چه زه دَ دهٔ نه غوره یم. او دا دلیل یعنی (کبریٰ) باطله ده ځکه چه دَ خټو فائدے دَاور نه ډیرے دی یو خو دا ده چه په ځمکه کښ دوه جنسونه دی خاورے او اوبه او دَ هر یو جدا جدا فائدے دی او اور خو یو جنس دے بل دا چه دَ نبات او دَ ترقیٔ ماده خټے دی او اور دَ ختمولو دَ خیز دَ پاره ماده ده او نور هم ډیر فرق دے نو قیاس یې په مقابله دَ نص دَ الله تعالیٰ کښ پیش کړے دے دا یو ګمراهی ده او بیا دا قیاس یې فی نفسه باطل دے دا بله ګمراهی ده۔
لَعْنَتِيٓ سورة حجر کښ "اللعنة" یې ذکر کړے وو په هغے کښ الف لام عوض دے دَ مضاف الیه نه او دلته تصریح ده په مضاف الیه ځکه چه دلته سبب دَ امر بالسجود ذکر کړے شوے دے او دَ هغے باوجود ابلیس انکار کړے دے نو دا مقام دَ ډیر تاکید دے او نور تحقیق سورة حجر کښ تیر شوے دے۔
قَالَ فَبِعِزَّتِكَ په دے قسم کولو کښ دَ ابلیس خباثت نفسانی باندے دلیل دے یعنی وائي چه زه ستا عزت منم او دَ آدم علیه السلام عزت نه منم او حال دا چه دَ هغه عزت یې په خَلَقْتُ بِيَدَيَّ سره ذکر کړے دے.
فائده:- دَ دے واقعے ماقبل سره یو ربط دا دے چه (پاتے په بل مخ)

قَالَ فَالْحَقُّ ۡ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ ﴿۸۴﴾ لَاَمْلَـَٔنَّ

پس دا خبره حقه ده او حق وایم زه - خامخا به ډک کړم

جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ

جهنم ستا نه او د هغه چانه چه ستا تابعداری وی د دوی

اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۵﴾ قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ

ټولو نه - ته اووایه نه غوارم ستاسو نه په دے باندے

مِنْ اَجْرٍ وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ ﴿۸۶﴾

هیڅ مزدوری او نه یم زه د دروغ جوړوونکو نه -

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۷﴾

نه دے دا مګر نصیحت دے د پاره د عالمینو -

څکښ ئے د معرضون ذکر کړے وو او دا اعراض د دوی د وجے د حسد نه وو نو په دے واقعه کښ د حسد د ابلیس عاقبت ئے ذکر کړو۔

۸۴ سے ۸۵ :۔ اَلْحَقُّ خبر د مبتدا محذوف دے یعنی انا الحق یا هذا الحق یا مبتدا ده او خبر ئے محذوف دے (الحق منی) او مراد د دے نه راتلونکے جمله ده - لَاَمْلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ اه - وَالْحَقَّ اَقُوْلُ په دے کښ عام حق مراد دے یعنی د الله تعالیٰ هر قول حق دے قول د الله تعالیٰ په حق کښ منحصر دے۔ او دا سے جمله په سورة السجده سے ۱۳ او سورة هود سے ۱۱۹ کښ تیره شوے ده او هغه دواړو آیاتونو کښ الجنة والناس ئے مطلق ویلے دی او په دے آیت کښ مقید کړے دے په تابعدارے د ابلیس سره نو دا د هغے تفسیر اوګرځیدو۔

۸۶ سے ۸۷ :۔ روستو د زجر نه معرضینو ته تخویف وو هغوی ته په عاقبت د ابلیس سره او س ذکر کوی صداقت د نبی صلی الله علیه وسلم په اوّل آیت کښ او صداقت د قران کریم په دویم آیت کښ۔ او هر کله چه مانع د صداقت نه دوه څیزونه دی یو طمع د اجر د عوض چه د هغے په وجه پوره حق نشی بیانیدے او دویم د ځان نه خبرے جوړول نو دا دواړه څیزونه ئے نفی کړل۔ اَلْمُتَكَلِّفِيْنَ تکلف عام دے د ځان نه خبرے جوړول او ځان کښ د داسے صفتونو دعویٰ کول چه هغه په کښ نه وی۔ او بغیر د علم نه فتویٰ ورکول۔

وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ ﴿۸۸﴾

او خامخا پوهه به شئ په خبر دَدهٔ باندے څه وخت روستو۔

او په دے کښ حديث دَ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دے" چه څوک په يو خبره او مسئله باندے علم لری نو په هغې باندے دے قول کوی او څوک چه دَيو مسئلے علم نه لری نو او دِ وائی چه زهٔ نه پوهيږم ځکه چه دا هم علم دے چه په کومه خبره نه پوهيږے او اوائی چه زه نه پوهيږم" او بيائی دا ايت کريمه اولوستلو۔

۸۸: دا زجر دے چه اوس تاسو انکار کوئے ليکن څه وخت روستو به په دنيا کښ په وخت دَ عذاب کښ يا په وخت دَ مرګ کښ يا په قيامت کښ په دَحقيقت نه خبر شئ. نَبَاَهٗ حقيقت حال دَ قران۔ يا خبر دَ عاقبت دَ انکار دَ دهٔ۔ يا کوم خبرونه چه قران درکړيدی، دا لفظ دے ټولو ته شامل دے۔

الحمد لله چه تفسير دَ سورة صٓ ختم شو

سُورَةُ الزُّمَرِ ۳۹ مَكِّيَّةٌ ۵۹ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۷۵ رُكُوْعَاتُهَا ۸

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ①

نازلول د دے کتاب دی د طرف د الله تعالیٰ نه چه زورآور دے حکمتونو والا دے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة زمر او دَ دے بل نوم سورة غُرَف دے۔

ربط دَ دے سورة دَما قبل سره په دیرو طریقو سره دے۔ اوله طریقه داده چه په تیرشوے سورتونو کښ عجز او ابتلاکانے دَ بزرګانو ذکر کړے معلومه شوه چه هغوی دَ الله تعالیٰ شریکان او زورآور سفارشیان نشی کیدے نو اوس په دے سورت کښ دَ هغې نتیجه ذکر کوی چه هغه توحید فی العبادت دے۔
دویمه طریقه چه سورة ص کښ انکار دَ دوی دَ توحید نه ذکر کړو نو په دے سورت کښ تفصیل دَ عقیدے دَ مشرکانو او عقلی دلیلونه په توحید باندے ذکر کوی.
دریمه طریقه داده چه دَ هغه سورت په آخر کښ ذکر کړل "ولتعلمن نباه بعد حین" نو په دے سورت کښ نبأ دَ قرآن یعنی صداقت او دعوی دَ قرآن ذکر کوی۔

دعوی دَ سورت۔ رد دے په شرک فی العبادات والالوهیة باندے په عقلی دلیلونو سره او په رد کولو دَ ټولو قسمونو دَ شرک اعتقادی سره (شرک فی العلم، شرک فی التصرف، شرک فی العبادت، شرک فی الدعا، رد په اتخاذ الولد لله او رد په شفاعت قهریه باندے۔ او په ذکر دَ مقابلے په مینځ دَ حال دَ مؤحدینو او دَ حال دَ مشرکانو کښ په صفاتو او په جزاګانو سره۔
(تنبیه) په دے سورت کښ دلیلونه دَ دعوے سره پوره مناسب دی یعنی په دلیلونو کښ دَ خالقیت او مالکیت او ربوبیت (په روزئ پیدا کولو او په خوب او مرګ راوستلو سره) داټول ذکر دی او خالق، مالک، رب ضرور حقدار دَ عبادت وی۔

خلاصه دَ سورت۔ دا سورت تقسیم دے پنځه بابونو ته۔ اول باب

إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ فَٱعْبُدِ ٱللَّهَ

یقیناً نازل کړیدلے موتږ تاته دا کتاب دَ حق بعکاره کونوکړپاه بونشاکي کوه الله تعالیٰ لره

مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿٢﴾ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ

خالص کوه هغه لره بندګی - خبرشئ خاص الله تعالیٰ لره دین (بندګی)

ترسٓ پورے دے. په دیکښ ذکر دَ صداقت دَ قرآن دے او بیا ذکر دَ مقصد دَ قرآن چه توحید فی العبادة دے بیا رد دے په دوه عقیدو دَ مشرکانو باندے یو عقیده دَ وسیلے شرکیئ او دویمه عقیده دَ اتخاذ الولد ده بیا دوه عقلی دلیلونو دی چه په هغے کښ خالقیت دَ الله تعالیٰ ذکر کوی بیا دوه زجرونه دی بیا بیان دَ تقابل دموحد او دَ مشرک دے په دوه ایاتونو کښ. بیا په څلورو ایاتونو کښ په دلائیلو وجیبو سره مسئله دَ توحید فی العبادت ذکر کوی بیا تخویف اخروی دوه ایاتونو کښ بیا تقابل دَ فریقینو دے په څلورو ایاتونو کښ.

(تفسیر)

سٓ۱. په دے ایت کښ ذکر دَ صداقت دَ قرآن کریم دے. او تعریف دَ هغه دے په دے صفت سره چه منزل من الله دے افتراء نه ده. العزیز اشاره ده صفاتو دَ قدرت ته الحکیم اشاره ده صفاتو دَ علم ته.

سٓ۲. په دے ایت کښ ذکر دَ مقصد دَ نزول قرآن دے چه دَ هغے نه ئے اجمالی تعبیر کړے دے په بالحق سره یعنی دا قرآن متلبس (مشتمل) دے په حق باندے بیا تفصیل دے دَ هغه مقصد چه حق دے په فَاعْبُدِ اللهَ سره چه توحید فی العبادت والالوهیت دے. (سوال) اول لفظ تنزیل دے چه دلالت کوی په لږ لږ نازلیدلو باندے او بیا لفظ دَ انزال دے چه په یو ځل نازلولو ویلے کیږی، دَ دے الفاظو دَ جمع کولو څه وجه ده؟

جواب اول دا دے چه قرآن موتږ لږ لږ نازل کړیدے او په دے طریقه سره دَ ټول قرآن نزول پوره شویدے ګویا که په دے کښ دفع دَ وهم او شوه چه په لږ لږ نازلولو سره په دے کښ نقصان نه دے راغلے.

جواب دویم دا دے چه فیصله کړے ده موتږ قطعی فیصله چه تاته په پوره کتاب نازلوؤ نو هغه هم شورو کړے دے په لږ لږ نازلولو سره. یعنی انا انزلنا علت اوګرځید دَ پاره دَ تنزیل.

مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ دین په معنیٰ دَ عبادت دے (پاتے په بل مخ)

الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ

خالص دے ، او هغه کسان چه نیولی دی سوا د الله تعالیٰ نه

أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ

مددګاران (روائی) بندګی نه کوو مونږ د دوی مګر د دے دپاره چه نزدے کړی مونږه الله تعالیٰ ته

زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ

په نزدے کولو سره یقیناً الله تعالیٰ به فیصله اوکړی په مینځ د دوی کښ په هغه څیز کښ چه دوی

فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ

په هغے کښ اختلاف کوی ، یقیناً الله تعالیٰ توفیق نه ورکوی هغه چاته

هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ﴿٣﴾ لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَتَّخِذَ

چه ډیر دروغژن دے ډیر کفر کوونکے دے. که غوښتلے الله تعالیٰ چه جوړ کړی ځان لره

او اخلاص نه مراد توحید دے ځکه چه عبادت بغیر د توحید نه معتبر نه دے او په دے کښ اشاره ده چه هر عبادت په نیت باندے موقوف دے.

ف :- هر کله چه د اخلاص د عبادت د الله نه ډیر خلق غافل وو په شرک او په ریا وغیره کښ مبتلا وو نو د هغوی د تنبیه دپاره ئے په حرف د تنبیه سره اوفرمائیل أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ او دا علت د امر د اخلاص فی العبادت دے. الْخَالِصُ هغه عبادت دے چه خالی وی د هر قسم شرک او ریاء او سمعة او د اجرت دنیویه وغیره نه. او د مجاهد نه نقل دے چه دلته الدین شامل دے ټولو اوامرو او نواهیو ته چه په ټولو کښ خلوص شرط دے دپاره د صحت او د قبولیت.

او بیا رد دے په مشرکین فی العبادت باندے چه څوک د الله تعالیٰ نه سوا د مخلوق عبادت کوی او بهانه کوی چه دا زمونږ دپاره الله تعالیٰ ته د نزدیکت وسیلے دی مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ دا لفظ شامل دے تمام ما سوی الله تعالیٰ ته که ملائک وی یا انبیاء یا اولیاء او هغه بتان چه د دوی په شکلونو باندے جوړ کړے شوے وی او دا رنګ د هغوی قبرونو ته هم شامل دے. دلته مراد د اولیاء نه معبودان دی. مَا نَعْبُدُهُمْ دا جمله مستانفه ده جواب د سوال دے یعنی که دوی ته اووئیلے شی چه د غیر الله عبادت نه

لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ

ولی خامخا غوره کړے به یې روؤ د هغه څانه چه پیدا کوی هغه چه خوښ یې شی .

سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۴﴾

پاک دے هغه د ولد نه هغه الله تعالیٰ دے یو زور آور دے ۔

ولے کوئې آیا دوی خدایان گنړے نو دوی جواب کوی چه خدایان یې نه گنړو لیکن وسیلے یې گرځوو الله تعالیٰ ته نو د دوی د رضا ساتلو دپاره د دوی عبادت کوو نو د ما نعبدهم نه وړاندے یقولون لفظ پټ دے ۔ او تفسیر قرطبی کښ ویلے دی چه د دوی د دے بهانے کولو جواب په سورة احقاف ۲۸ کښ دے او دلته صرف زجر ورکوی ځکه چه دوی د قرآن د مقصد نه خلاف کوی ۔ او ابن کثیر تفسیر کښ ویلے دی چه دغه مشرکانو بتان جوړ کړے وو په شکلونو د ملائکو مقربینو سره په خپل گمان باندے او د دغه شکلونو عبادت یې کوؤ په دے عقیدے سره چه عبادت د دے شکلونو بعینه عبادت د ملائکو دے او دا د دے دپاره چه الله تعالیٰ ته زمونږ سفارش اوکړی په مدد کولو او روزئے راکولو کښ او نورو حادثاتو د نیوی کښ او د آخرت نه خو دوی منکر وو (او بیا یې لیکلی دی) دا شبهه د تیر شوؤ مشرکانو وه او اوس هم ده او رسولان د دے شبهے د رد دپاره رالیږلے شوی دی. (نو زه وایم) "چه هر کله د ملائکو وسیلے گنړل او د هغوی عبادت کول شرک دے نو د پیرانو او د قبرونو د هغوی وسیلے نیول او هغوی ته سجدے لگول او د هغوی د قبرونو نه طوافونه کول او د هغوی نذرانے ورکول (چه دا عبادت دی) دا یقیناً شرک دے". فيما هم فيه يختلفون یعنی مشرکان وائی چه دا وسیلے دی دا سفارشیان دی او زمونږ حاجات په الله تعالیٰ باندے پوره کوی او کورنئ کښ اختلاف دے په طریقو د عبادت د غیر الله کښ او د مؤمنانو سره یې اختلاف دے په توحید فی العبادت کښ نو د دے فیصله عملی به (د جزا او سزا) د قیامت په ورځ اوکړے شی. او بحیله به دغه معبودان د دوی نه انکار اوکړی لکه سورة سبا ۴۰ کښ او احقاف ۶ کښ او فاطر ۱۴ کښ چه ذکر دی. کاذب دروغژن دے په دعوی د تقرب الی الله کښ. کفار منکر دے په زړه کښ د توحید د الله تعالیٰ نه چه د ټولو انبیاء علیهم السلام اتفاقی مسئله ده او د قرآن د نزول مقصد دے او د دے وجے نه یې صیغه د مبالغے ذکر کړے ده.

۴ :. دا هم زجر او رد دے په مشرکین فی العبادت باندے (ربانی په بل مخ)

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ

پیدا کړی دی اسمانونه او زمکه د حق ښکاره کولو دپاره رانغاړی

الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ

شپه په ورځ باندے او رانغاړی ورځ په شپه کښ

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِىْ

او په خدمت کښ لګولے دی نمر او سپوږمۍ دا ټول چلیږی

لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ⑤

د پاره د نیټے مقررے خبر شئ خاص الله تعالیٰ زورآور بخښنه کوونکے دے۔

چه دوی عبادت د غیرالله کوی نو بهانه کوی چه دا د الله نازولے دی الله تعالیٰ دوی خپل نائبان ګرځولے دی او دوی ته ئے د الوهیت د کارونو اختیار ورکړے دے او دا معنیٰ د اتخاذ الولد ده نو په دے ایت کښ د دے عقیدے رد کوی او اوس هم دا عقیده په ډیرو جاهلانو کښ موجود ده ۔ لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ یعنی که چرے الله تعالیٰ ولد نیولے نو ستاسو خوښ ته به ئے نه سپارلو بلکه بخپله خوښه به ئے نیولے وُو او تاسو ته به ئے خبر درکړے وے لیکن الله تعالیٰ بخپل هیڅ کتاب کښ دا خبر نه دے ورکړے چه فلانکے ولد د الله تعالیٰ دے ۔ الْوَاحِدُ دا سے یو دے چه د هغه ته ولد نه پیدا کیږی او دا رنګ یو دے په تصرف کولو کښ نو ولد ته حاجت نه لری ۔ الْقَهَّارُ په هرڅه او په هرچا باندے زورآور دے نو ولد او نائب ته هیڅ ضرورت نه لری ۔

ف۵:۔ د توحید فی العبادت د اثبات د پاره دا اول دلیل عقلی دے او دا افاقی دلیل دے دلالت کوی چه الله تعالیٰ خالق دے او رب متصرف دے په اجزاؤ د زمانه کښ چه شپه او ورځ دی او په اسبابو د تغیر د زمانه کښ چه نمر او سپوږمۍ دی۔ يُكَوِّرُ تکویر رانغختلو ته ویلے کیږی مراد ترینه پټول دی او هرکله چه په حساب شرعی کښ شپه مخکښ ده د ورځ نه د دے وجے نه د شپے ذکر ئے مخکښ کړے دے په ورځ باندے ۔ الْغَفَّارُ یعنی بخښنه کول د وجے د عجز نه نه دی بلکه سره د دے نه چه زورآور دے لیکن مؤمنانو ته بخښنه کوی او د کافرانو نه عذاب روستو کوی ۔

خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ

پیدا کړی یئ تاسو د نفس یو نه بیا یئ پیدا کړے ده

مِنْهَا زَوْجَهَا وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ

د هغه نه بی بی د هغه او پیدا کړی دی تاسو لره د څاروو نه

ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ؕ يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ

اته جوړے پیدا کوی تاسو په خیټو

اُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ

د ماینډو ستاسو کښ په یو پیدائش روستو د بل پیدائش نه په تیارو

ثَلٰثٍ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ

دریو کښ دغه الله تعالیٰ رب ستاسو دے خاص هغه لره ده بادشاهی

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۞ اِنْ تَكْفُرُوْا

نیشته حقدار د بندګئ سوا د هغه نه، نو څه رنګ اړولے کیدیشے تاسو ۔ که چرے کفر کوئے تاسو

۶: دا دویم دلیل عقلی انفسی دے په دے کښ هم خالقیت او تصرف د ربوبیت د الله تعالیٰ یئ ذکر کړے دے۔ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ انزل په معنیٰ د خلق دے تعبیر یئ په انزل سره کړے دے ځکه چه انعام ژوندی پاتے کیږی په بوټو سره او بوټی پیدا کیږی په اوبو سره او اوبه د برے نه نازل کړے شوی دی او دا رنګ هر یو پیدائش چه په آسمانی اسبابو سره وی نو د هغے نه تعبیر کولے شی په انزال سره ۔ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ لکه چه سورة انعام ۱۴۳ ۱۴۴ کښ تیر شوی دی۔ خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ لکه چه سورة مؤمنون ۱۴ کښ ذکر دی۔

فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ یعنی مخلوق په یوه تیاره کښ هیڅ څیز نشی جوړولے او الله تعالیٰ په درے تیارو کښ برابر انسان جوړوی یوه تیاره د خیټے د مور دویمه د رحم (بچه دانی) دریمه د پریوان یعنی هغه باریکه پرده چه د بچی نه چاپیره وی۔ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ دا یو نتیجه ده د ما قبل دلیلونو ۔ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ دا دویمه نتیجه ده، فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ زجر دے۔

فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ قف وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ

تو یقینًا اللہ تعالیٰ بےحاجته دے ستاسو نه او نه خوښوی بندګانو خپلو لره

الْكُفْرَ ج وَإِنْ تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ ط

کفر کول او که چرے شکر کوئے تاسو نو خوښوی هغه تاسو لره

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرٰى ط ثُمَّ إِلٰى رَبِّكُمْ

او نه شی پورته کولے یو بیتی والا پیټے د ګناه د بل چا بیا به طرف د رب ستاسو ته

مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ط

ګرځیدل ستاسو وی نو خبر به درکړی تاسو ته په هغه عملونو چه تاسو یئے کوئے

إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝٧ وَإِذَا مَسَّ

یقینًا هغه ښهٔ پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو پورے خاص وی۔ او کله چه اورسی

الْإِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهُ مُنِيبًا إِلَيْهِ ثُمَّ

انسان ته تکلیف نو رابلی رب خپل اخلاص کوونکی هغه ته بیا

ف:۔ په دے ایت کښ ذکر دَ فریقینو دے روستو دَ دلیلونو نه۔ په اوله جمله کښ زجر دے او اشاره ده چه ستاسو دَ کفر کولو ضرر او نقصان اللہ تعالیٰ ته نه رسی بلکه تاسو ته رسیږی۔ او په دویمه جمله کښ جواب سوال دے چه دَ کفر ضرر په اللہ تعالیٰ باندے نیشته نو منع کول ترینه ولے کوی؟
جواب اوشو حاصل دا چه هیڅ مولیٰ دَ هر خپل مریئ کفر (ناشکری) نه خوښوی نو اللہ تعالیٰ خو ډیر رحم کوونکے دے نو هغه دَ بندګانو دَ پاره کفر څنګه خوښ کړی۔ او دَ دے ایت نه معلومه شوه چه اراده دَ اللہ تعالیٰ یو صفت دے او رضائے جُدا صفت دے اراده دَ هر څه کوی لیکن رضائے په هر څه پورے نه متعلق کیږی او دا مذهب دَ اهل سنّت والجماعت دے۔ او په دریمه جمله کښ بشارت دے په قبلولو دَ شکر او اشاره ده چه اللہ تعالیٰ ستاسو شکر ته محتاج نه دے او په څلورمه جمله کښ جواب سوال دے چه دَ کفر ضرر په اللہ تعالیٰ باندے خو نه راځی لیکن په هغه چا باندے راځی چه دَ ګمراه کولو مشران وی نو جواب اوشو وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ الخ۔ او بیا روستو جملو کښ تخویف دے او هر کله چه دَ عملونو بنیاد دَ زړه نیت کول دی یعنی دار و مدار ئے په زړهٔ باندے دے نو اخر کښ ئے اوفرمائیل إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ۔

إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوٓا

چه کله ورکړی هغه ته نعمت دَ خپل طرف نه هیر کړی هغه چه دهٔ به رابلنه کوله (دَ الله تعالیٰ)

إِلَيْهِ مِن قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلَّ

هغه ته دَ دے نه مخکښ او جوړ کړی الله تعالیٰ لره شریکان دَ دے دپاره چه گمراه کړی خلق

عَن سَبِيلِهِۦ ۚ قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ

دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه ته اُوایه مزے واخله په کفر خپل سره لږ زمانه

إِنَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ ﴿٨﴾ أَمَّنْ هُوَ

یقینًا ته دَ اُور والو نه یئے - آیا هغه څوک چه هغه

قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ

طاعت کوونکے وی په وختونو دَ شپے کښ سجده کوونکے او ولاړ ویره کوی

ٱلْءَاخِرَةَ وَيَرْجُوا۟ رَحْمَةَ رَبِّهِۦ ۗ قُلْ هَلْ

دَ آخرت نه او امید ساتی دَ رحمت دَ رب خپل نه ته اُوایه آیا

ف۸۔ دا زجر دے مشرک ته چه هغه فریق اول دے په تناقض دَ معاملے دَ دهٔ سره چه په حالت دَ ضرر کښ الله تعالیٰ ته فریادونه کوی او په حالت دَ نعمت کښ شرک کوی۔ دا سے په سورۃ یونس ف۲۳ او اسراء ف۲۷ او سورۃ نحل ف۵۴ سورۃ عنکبوت ف۶۵ او سورۃ لقمان ف۳۲ کښ هم تیر شوی دی۔
مُنِيبًا إِلَيْهِ په معنیٰ دَ اخلاص او دَ توحید دے یعنی په آواز کولو کښ ورسره شریک نه جوړوی۔ خَوَّلَهُ تخویل په ابتدائی عطیه کښ مستعملیږی سره دَ دے نه چه دَ هغه نعمت رعایت او تربیت هم کیږی۔ مَا كَانَ يَدْعُوٓا، مَا په معنیٰ دَ ضرر دے۔ يَدْعُوٓا إِلَيْهِ په معنیٰ دَ یدعوا الی کشفه دے یا مَا نه مراد الله تعالیٰ دے۔ لِيُضِلَّ لام دَ عاقبت دے او په معنیٰ لازمی او متعدی دواړو سره کیدیشی۔ قُلْ تَمَتَّعْ اه یعنی سرهٔ دَ شرک او دَ کفر نه الله تعالیٰ دَ دهٔ دُعاګانے قبلوی او نعمتونه ورکوی۔ دا دَ دنیا متاع او فائدے دی چه کافرانو ته هم ورکیدے شی دا دلیل نه دے چه دے دَ حق تابع دے۔

يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ

برابر دي، هغه کسان چه علم لري او هغه کسان

لَا يَعْلَمُوْنَ ۭ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۹﴾

چه علم نه لري يقيناً نصيحت قبلوي خالص عقل والا.

قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۭ

ته اوايه اے بندګانو زما هغه کسان چه ايمان ئے راوړے ويره کوی دَ رب خپل نه،

لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۭ

ګټاره دَ هغه کسانو چه اخلاص ئے کړے دے په دے دُنيا کښ خائسته حال دے

وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ۭ اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ

او مُلک (زمکه) دَ الله تعالی فراخه ده يقيناً پوره به ورکيديشی صابرانو ته

ف۹۔ په دے کښ حال دَ فريق ثانی ذکر کوی په طريقه دَ تقابل دَ دواړوډلو سره په صفتونو دَ عمل اودَ علم کښ۔ دَ مؤمن درے عملی صفتونه ئے ذکر کړے دی اول صفت قَانِتٌ دے مراد دَ قنوت نه طاعت دے۔

اٰنَاۤءَ الَّيْلِ هرکله چه دَ شپے قيام او مونځ کوی نو معلومه شوه چه دَ ورځے خامخواه کوی او دا صفت دَ محبت دے۔ دويم صفت يَحْذَرُ الْاٰخِرَةَ دا صفت دَ خوف دے ۳ وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ دا صفت دَ رجا دے۔ هرکله چه په دے سورت کښ مسئله دَ عبادت ده نو په دے ايت کښ دَ عبادت اجزاء ئے ذکر کړل۔ او دَ اَمَّنْ مقابل حذف دے يعنی کمن لايفعل کذلك۔ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى دا فرق دے په صفت دَ علم او عدام علم کښ يعنی موحد چه درے صفتونه حکتی لری دے عالم دے او مشرک چه دغه صفتونه په کښ نيشته هغه جاهل دے او په دے کښ اشاره ده چه کوم عالم کښ دغه درے صفتونه نه وی نو دے هم په نيزدَ الله تعالی جاهل دے او دا دليل دے په فضيلت دَ علم باندے ليکن مراد دَ علم نه علم دَ توحيد او شريعت دے سره دَ عمل نه۔ لکه ابوحيان ويلے دی چه مراد دَ علم نه هغه دے چه معرفت دَ الله تعالی پرے حاصليږی او دَ سخط دَ الله تعالی نه پرے بچ کيږی او روح المعانی په اشارات کښ ويلے دی هغه کسان چه پيژنی قدر دَ معبود خپل نو دَ هغه نه غواړی او هغه کسان چه

أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ⑩ قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ

ثواب دَ عملونو دَ هغوی بے حسابه . ته اُوایه یقینًا حکم کړے شوے دے ماته

قدر دَ معبود نه پیژنی نو دَ ماسوا نه غواړی. إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ یعنی په دے فرق باندے هغه ځوک پوهیږی چه عقل یئے دَ وهمونو دَ مقابلے نه خالی وی.

ف: هرکله چه بیان کړے شو اوچت شان دَ ایمان والو اوس دَ هغوی فرائض ذکر کوی. تقوی، احسان، هجرت، صبر او په دے باندے بشارت بیانوی. قُلْ يَا عِبَادِی، دا امر دے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په رسولو دَ خطاب دَ الله تعالیٰ سره مؤمنانو ته ځکه چه کلام دَ رسول کلام دَ مرسل وی یعنی اوایه اے رسوله زما دَ طرف ته (چه الله تعالیٰ وائی) اے بندګانو زما. او قول دَ جاهلانو غلط دے چه هغوی وائی چه دَ دے ایت نه معلومه شوه چه مونږه مؤمنان بندګان دَ رسول یو ځکه دا دَ دے سورت دَ دعوے نه هم خلاف راځی چه فاعبد الله مخلصًا له الدین.

نو دا قول دَ جاهلانو تحریف او اثبات دَ شرک دے. الَّذِينَ آمَنُوا دا اشاره ده چه مراد دَ بندګانو نه عام نه دی بلکه هغه کسان چه دَ دے سورت دَ دعوے منونکی دی. فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ مراد دَ حسنة نه جنت دے او فی هذه الدنیا متعلق دے په احسنوا پورے او مراد دَ احسان نه اخلاص دَ بندګئ دے (لکه چه په حدیث جبرائیل کښ راغلے دی) یا مراد دَ حَسَنَة نه خائسته ژوند دَ دنیا دے یعنی هغه ژوند او مالونه چه دَ دین او آخرت دَ پاره خرچ کیږی کوم چه ذکر دے په ربنا آتنا فی الدنیا حسنة اه کښ او بنا په دے توجیه سره فی هذه الدنیا متعلق دے دَ حسنة سره.

وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ دا ترغیب دے هجرت کولو ته یعنی هرکله چه امر دَ تقوی او ترغیب احسان ته ذکر کړے شو نو وهم راغے چه بعض وخت په یو ملک کښ په دے باندے عمل کول ګران شی نو خلاف کول په جائز وی؟

نو جواب اوشو چه خلاف یه نه کوی بلکه هغه ملک دِ پریږدی په هجرت کولو سره. او هرکله چه دَ هجرت په تکالیفو باندے دَ صبر کولو ضرورت دے نو وروستو جمله کښ دَ هغوی بشارت ذکر کړے شو.

أَنْ أَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ﴿۱۱﴾

چه بندگی کوؤم د الله تعالی چه خالص کوونکے یم هغه لره بندگی

وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُوْنَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲﴾

او حکم کړے شویدے ماته چه یم زه وړومبے د مسلمانانو نه

قُلْ إِنِّيْ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ

ته اُوایه یقیناً زه ویریږم که چرے نافرمانی اوکړم د حکم د رب خپل د عذاب

يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۳﴾ قُلِ اللّٰهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُ

د ورځے لوئے نه - ته اوایه الله تعالی لره بندگی کووم خالص کوم هغه لره

دِيْنِيْ ﴿۱۴﴾ فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ

بندگی خپله تو بندگی کوئے د هغه چاچه غواړئے تاسو سیوا د الله تعالی نه

سلا ۱۱ ۱۲ ۱۳ ۱۴ دا وجي دليلونه دپاره د دعوے دسورت دی چه توحيد
فی العبادت دے او دے ته طريقه د تعليم ويلے کيږی جواب د سوال دے يعنی
هرکله چه موحد هجرت کوی نو مشرکين سوال کوی چه هجرت ولے کوے
نو دے ته اوائی چه ماموريم په توحيد فی العبادت سره او هغه په دے
ملک کښ مشکل دے ځکه هجرت کوؤم بيا سوال اوشو چه اعمال قلبيه
پټ کيدے شی هغه کوه ليکن ظاهری اعمال مکوه نو هجرت ته حاجت نه
راځی نو دے به جواب اوکړی وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُوْنَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ
مراد د اسلام نه ظاهری عملونه دی چه دا هم مامور بها دی دا زه نشم
پريخودلے. لِأَنْ حرف لام دلالت کوی چه مامور به حذف دے او دا غاية
د امر ده يعنی امر بالتوحيد والاعمال- لِأَنْ أَكُوْنَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ دا
لفظ د نبی په باره کښ دے ځکه چه هر نبی خپل امت کښ اول مسلمان وی
يا مراد د اول نه صرف سبقيت (رومبے والے) کوونکے دے اسلام ته۔
بيا سوال راځی چه اګرچه تا ته امر شوے دے ليکن کيدے شی چه دا
امر د وجوب دپاره نه وی نو مخالفت کول ترينه جائز دی نو جواب به اوائی
په دے جملے سره قُلْ إِنِّيْ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ اه يعنی د دے امر خلاف کول
سبب د لوے عذاب دی - بيا روستو د سوال جواب نه بيان د جدا دالی د

قُلْ إِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا

په اواپه يقيناً پوره تاوان كښ دي هغه كسان چه تاواني كړل

أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ أَلَا

ځانونه او بال بچ ځپل لره په ورځ دَ قيامت خبر شئ

ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۵﴾ لَهُمْ

دا دوي لره په تاوان ښكاره دے۔

مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ

دَ پورته طرف دَ دوي نه سوري وي دَ اُور نه او لاندے دَ دوي په

ظُلَلٌ ۗ ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهٖ عِبَادَهٗ ۗ

سوري وي۔ دا ويره وركوي الله تعالی په دے سره بندګانو خپلو ته

لاندے دَ موحد او مشرک دے په دے لفظ سره قُلِ اللّٰهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهٗ دِيْنِيْ او مخکښے امر ذکر شويو نو په دے کښ په امر باندے دَ عمل کولو اعلان دے او هر کله چه مقصود په عمل کښ تخصيص دَ عبادت دے نو دَ دے وجے نه مفعول ئے مقدم ذکر کړو۔

۱۵ ۱۶۔ مخکښ ئے لاردَ موحد ذکر کړه نو په ديکښ لار دَ مشرک ذکر کوي چه عبادت کول دَ ماسوی الله دي او مقصد په دے امر کښ زجر دے دَ دے وجے نه وروستو تخويف دَ عذاب ئے ذکر کړے دے۔ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيْهِمْ مراد دَ دے خسران نه شرک في العبادت کول ځپله او اهل او تابعداران ځپل شرک ته رابلل دي او هر کله چه په دنيا کښ دوي په دے خسران باندے نه پوهيږي دَ دے وجے نه يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ئے ذکر کړو يعني قيامت کښ به دَ دوي خسران ښکاره شي۔ او په ايت کښ ئے دَ خسران په باره کښ ډير تاکيدات ذکر کړل اول په إِنَّ الْخٰسِرِيْنَ سره دويم په حرف دَ الا سره دريم هُوَ ضمير الْمُبِيْنُ سره اشاره ده چه دَ مشرک نه زيات خسران والا هيڅوک نيشته۔ او وروستو دَ خسران تفصيل ذکر کوي په لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ الخ سره يعني اور دَ جهنم به په دوي باندے دَ هر طرف نه احاطه کوي۔ ظُلَلٌ نه مراد طبقے دي (پانړے په بل مخ)

يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ ﴿۱۶﴾ وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا

اے بندګانو زما تو ډیره کوئ زما نه - او هغه کسان چه ډډه کوی

الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ

د هر طاغوت د بندګئ کولو د هغه نه او ګرځی الله تعالی ته په اخلاص سره

لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿۱۷﴾ الَّذِيْنَ

دوی لره خوشحالئ دی تو زیرے ورکړه بندګانو زما ته هغه کسان دی

پشان د غېتو وریځو او پورته ظلل ته غواش او لاندے ته مهاد ویلے شوید ے
په سورة اعراف ۴۱ کښ -

سوال ،- لاندے ته ظلل په څه وجه ویلے دی ظلل خو د پاسه وی ؟
جواب ،- دے ته مشاکلة لفظی ویلے کیږی لکه جزاء سيئة سيئة مثلها - بیا
سوال راغے چه په دے عذابونو ذکر کولو کښ څه فائده ده عنادیان خو نه
منی نو جواب ئے اوکړو په ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ عِبَادَهٗ سره یعنی د دے نه فائده
انابت والا کسان اخلی - بیا ئے د دے عذابونو نه د بچ کیدلو طریقه بیان کړه
يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ سره -

۱۷ تا ۱۸ :- مخکښ حال د فریق منکرینو ذکر شو سره د تخویف اوس په مقابله د
هغوی کښ ذکر کوی حال د موحدینو او هغوی ته بشارت - او د هغوی شپږ
صفتونه ذکر کوی اول صفت وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا
هغه خلق چه ډډه کوی د بندګئ کولو د غیر الله نه یعنی هیڅ قسم شرک نه
کوی - الطَّاغُوْتَ مبالغه ده په طغیان کښ په حقیقت کښ هغه چاته ویلے
کیږی چه ډیر زیات سرکش او ګمراه وی شیطان انسی او جنّی پکښ داخل
دی او مجازاً هر معبود من دون الله باندے اطلاق کیږی لکه بُتان ، قبرونه
د اولیاؤ وغیره ځکه عبادت د دوی سبب د ګمراهئ دے دا اطلاق د سبب
دے په مسبّب باندے دا خطیب شربینی په سراج المنیر کښے لیکلے دی -
دویم صفت وَاَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ مراد د دے نه د شرک او کفر نه تو په کول او توحید
باندے پوخولے دے - لَهُمُ الْبُشْرٰى په زړه کښ به خوشحاله وی په
دنیا کښ او په وخت د ځنکدن کښ به ملائک بشارت ورکوی او دا رنګ
په وخت د بعث بعد الموت او میدان حشر او موقف د حساب کښ دے

يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ ط

چه غوږ کیږدی ... د وینا ته ... نو تابعداری کوی ... د ډیر ښائسته د هغې ته

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَ اُولٰٓئِكَ

دغه کسان ... هغه ... دی ... چه ... هدایت کړے دے دوی ته الله تعالی ... او ... دغه کسان

هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۸﴾ اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ

دوی ... خالص عقل والا دی ... ایا هغه څوک چه پوره شوی دی په هغه باندې

تولو ته عام دے ځکه ئې مطلق ذکر کړے دے. فَبَشِّرْ عِبَادِ په دے کښې اشاره ده چه دا مخکښے او روستو اجزاء د عبادیت دی او عبادیت سبب د بشارت دے.
دریم صفت الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ مخکښې صفتونه قلبیه وو او دا صفتونه د جوارحو دی د الْقَوْلَ نه مراد قرآن او حدیث دی دا په توجه سره اوری ځکه چه سماع قصد د اوریدلو ته ویلے کیږی یا مراد د قول نه مطلق خبرے دی حق او باطل بے دلیله او په دلیل سره، ښه او بد ے. نو د دے استماع کوی د پاره د دے چه حق او باطل پکښې معلوم کړی. څلورم صفت فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ یعنی د علم نه روستو عمل کول دی هرکله چه مراد د قول نه قرآن او حدیث وی نو مراد د احسن نه مقابل د حسن او د جائز دے او هغه په عبادا تو معاملا تو تولو کښې شته. مثلاً په مونځ کښې احسن دا دے چه پوره مشتمل وی په شرطونو او ارکانو او موافق وی د سنت د نبی صلی الله علیه وسلم او په اختلافی مواضعو کښې په راجح طریقه باندے عمل وی او که مشتمل وی په مکروها تو باندے نو جائز به شی لیکن احسن نه دے دارنګ په معاملا تو کښې په چا باندے دین (قرض) وی نو چه معاف ئې کړی یا ورله مهلت ورکړی او دارنګ په مذاهبو کښې چه کوم مذهب د دلیل په لحاظ سره راجح وی په هغې باندے عمل اوکړی او دارنګ یو طرف ته اصح حدیث اتفاقی وی او بل طرف ته صحیح حدیث اختلافی وی لکه احادیث د رفع الیدین په مونځ کښې ما سوا د اول تکبیر نه دا صحیح اتفاقی دی او احادیث د ترک د رفع الیدین اختلافی صحیح دی او دارنګ واجب مقدم کوی په مستحب باندے او مستحب مقدم کوی په مباح باندے،
او هرکله چه مراد د الْقَوْلَ نه مطلق وی نو د احسن نه مراد مقابل د سیئ (بد ے) دے یعنی مسائل او احکام او خبرے هر قسم اوری لیکن عمل په هغې باندے کوی چه په دلیل شرعی سره ثابت وی. نو په دے (پاتې په بل مخ)

کښې اشاره ده چه سره د علم نه په چا پسے بے دلیله تقلید نه کوی.
پنځم صفت چه دوی خاوندان د هدایت دی. شپږم صفت دوی صاف عقل والا
دی اشاره ده چه جاهلان په دوی نه گمراهان او بے عقله وائی لیکن د الله تعالی
په نیز دوی هدایت والا او سیاړ دی.
سـ۱۹ سنت: په دے دواړه آیاتونو کښې مقابله د فریقینو په جزا سزا کښې بیانوی اول
تخویف دے او دویم بشارت دے. أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ مؤنث لفظ ئے نه دے
راوړے ځکه چه کلمة په معنیٰ د قول دے او په صیغه د مذکر کښې تشدید
دے او په صیغه د مؤنث کښې نرم والی ته اشاره ده او دلته سخت والے د فیصلے
مراد دے. كَلِمَةُ الْعَذَابِ مراد د دے نه فیصله د تقدیر ده په اشقیاؤ باندے
یا مراد ترینه هغه قول دے چه په آخر د سورة صٓ سـ۸۵ کښې ذکر شویدے.
أَفَمَنْ د پاره جزاء پټه ده (کمن لیس کذلك) یا أَفَأَنْتَ تُنْقِذُ اه جزاء ده
خو اسم ظاهری ئے په ځائے د ضمیر باندے ذکر کړے او همزه د استفهام ئے د
تاکید د پاره دوه کرته ذکر کړے دے. لٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا په دے کښې بشارت ذکر
کوی دویم فریق لره هر کله چه په سـ۱۶ کښې د منکرینو د پاره عذاب د بره طرف او
لاندے طرف ته ذکر کړے وو نو په دے آیت کښې د جنتیانو د پاره لاندے باندے
غرف ذکر کوی. لٰكِنِ تفسیر قرطبی کښې ویلے دی چه دا لٰكِنِ دلته د استدراك

أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ
رالیږلې دی د آسمان د طرف نه اوبه نو چلوی ئې لره چینې

فِي الْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا مُخْتَلِفًا
په زمکه کښې بیا راوباسی په هغې سره فصل چه مختلف دی

أَلْوَانُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ
رنګونه د هغې بیا اوچ شی نو وینې ته هغه زیړ بیا

يَجْعَلُهُ حُطَامًا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ
اوګرځوی هغې لره مات راټات یقینًا په دې کښې خامخا نصیحت دے

لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿۲۱﴾ أَفَمَنْ شَرَحَ اللَّهُ
خالص عقل والو لره. آیا نو هغه څوک چه پرانستې دی الله تعالی

د پاره نه دے ځکه چه مخکښ نفی نیشته بلکه د پاره د انتقال د یو قصې نه بلې قصې
ته دے غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ په دے کښ ډیر تاکیدات دی چه غرف جمع ده
د هغې شمار نه دے معلوم بیا دویم هم جمع ده د هغې حد هم نه دے معلوم۔
مَّبْنِيَّةٌ دا لفظ د دے فائدے د پاره دے چه د دُنیا د بنګلو چتونه چه څومره
اوچت شی نو کمزورے وی او د جنّت چتونه ټول مضبوط او محکم دی او په حدیث
مرفوع کښ وارد دی چه بخاری او مسلم نقل کړے دے چه جنتیان به اهلِ
غرف ته د خپل ځان نه اوچت داسے وینی لکه چه ستورے چمکدار د تورو ستورو
نه په مشرق یا مغرب کښ پاتے شوے وی او تاسو ئې وینئ دا د وجے د فرق د
مرتبو د دوی د یو تر بله، دوی اوئیل یا رسول الله دغه به منازل د انبیاء علیهم
السّلام وی هغه او فرمائیل نه بلکه قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په لاس
کښ دے دا هغه سړی دی چه ایمان ئې په الله تعالی باندے راوړے دے او تصدیق
د رسولانو ئې کړے دے۔
س۲۱ : د دے آیت نه تر س۴۲ پورے دویم باب دے په دے کښ دریم دلیل
عقلی دے بیا تقابل د فریقینو ذکر کوی سره د ترغیب الی القرآن او تخویف
اخروی نه او بیا تخویف دنیوی او ترغیب الی القرآن او مثال ذکر کوی د پاره د
حال د فریقینو بیا تقابل د فریقینو په تخویف او بشارت سره راپاتے په یل ځ)

صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰی نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ

سینه د هغه د پاره د اسلام نو هغه په رڼړا باندے دی د طرف د رب خپل نه

فَوَیْلٌ لِّلْقٰسِیَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ

نو تباهی ده هغه چالره چه سخت دی زړونه د هغوی (د ګوریدلو) د ذکر د الله تعالیٰ نه

اُولٰٓئِكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۲۲﴾ اَللّٰهُ نَزَّلَ

دغه کسان په ګمراهئ ښکاره کښ دی ۔ الله تعالیٰ نازل کړے دی

او تسلی رسول ته او ذکر د حال د فریقینو بیا څلورم دلیل عقلی اعتراقی سره د رد د شرك فی التصرق ته بیا اعلان د براءت او ترغیب الی القرآن سره د حال د فریقینو ته۔ په دے (۲۱) کښ روستو د بیان د خالقیت د الله تعالیٰ نه بیان د ربوبیت د هغه دے او مواد د تربیت دوه دی اوبه او بوټی د ادواړه د الله تعالیٰ په تصرف او اختیار کښ دی او په دے کښ فناء د دُنیا ته هم اشاره کوی د پاره د تذکیر د آخرت چه مخکښ آیت کښ د هغے ذکر او شو۔
فَسَلَكَهٗ یَنَابِیْعَ فِی الْاَرْضِ یعنی هغه اوبه د باران چه په زمکه کښ داخلے کړی نو په زمکه کښ چینے شی پشان د رګونو په جسم کښ نو د زمکے په رګونو کښ تقسیم شی۔
لَذِكْرٰی لِاُولِی الْاَلْبَابِ په دے کښ تذکر او عبرت دے د پاره د توحید او د پاره د اثبات د بعث بعد الموت او د پاره د فناء د دنیا او ورسره تذکیر دے د حال د قرآن کریم په طریقه د مثال سره چه دارنګ قرآن ئے د آسمان نه نازل کړے دے او په زړونو د خلقو کښ داخل کړے دے چه په هغے سره مختلف آثار پیدا شی په چا کښ ښه اثر او شی او په چا کښ ناکاره اثر پیدا شی۔
س۲۲:۔ په دے آیت کښ تقابل ذکر کوی د دواړو ډلو او مخکښ آیت کښ چه کوم دلیل ذکر شو نو د هغے نه د انتفاع حاصلو د پاره علت ذکر کوی چه شرح د صدر ده۔ او مراد په شرح د صدر سره ثابت د پاره د قبلولو د اسلام یعنی شبهے او عناد د هغه د زړه نه الله تعالیٰ لرے کړی نو اسلام قبول کړی او روستو د اسلام قبلولو نه په قرآن باندے پوهه شی د نور نه مراد قرآن دے نو په دے نور سره هغه په اسلام باندے مضبوط او پوخ شی۔ او د دے جزا پټه ده یعنی (كَمَنْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰی قَلْبِهٖ وَاَقْسَاهُ) "پشان د هغه چا کیندے شی چه د هغه په زړه باندے الله تعالیٰ مهر وهلے وی او سخت کړے وی" او استفهام

أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۖ

دیرے خائسته خبرے چه کتاب دے یو شان بیا بیا بیانیږی ،

تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ

ریخته ځکیږی (ځوځے زیګے زیګه کیږی) دَ هغه نه په څرمنو دَ هغه کسانو چه ویره کوی دَ رب خپل نه

ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ۚ

بیا نرمیږی څرمنے دَ هغوی او زړونه دَ هغوی ذکر دَ الله تعالیٰ ته

ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَنْ يَشَاءُ ۚ

دا هدایت دَ الله تعالیٰ دے هدایت کوی په دے بسره چه غواړی الله تعالیٰ

وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾

او هغه څوک چه بے لارے کړی وی الله تعالیٰ نو نیشته هغه لره هیڅوک په لارے روانوونکے ۔

انکاری دے یعنی دوی یو شان نشی کیدلے ۔ فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُم دا علت دَ عدم مساوات دَ دے دواړو دے او بعض مفسرینو دلته روایت نقل کړیدے چه علامات دَ شرح صدر درے دی انابت جنت ته، نفرت دَ دنیا نه، تیاری کول دَ پاره دَ مرګ مخکښ دَ راتللو دَ هغے نه ۔ نو دَ قسوة قلب علامات دَ دے مقابل دی ۔
عن ذکر الله عن اجلیه دے یعنی دَ الله تعالیٰ دَ ذکر دَ وجے نه دَ دوی په زړونو کښ قسوة پیدا شی لکه ولا یزید الظالمین الا خسارا یا مراد دَ دے عن قبول ذکر الله دے ۔
۲۳ :۔ دا صداقت دَ قرآن دے او ترغیب دے هغے ته دَ پاره دَ زائل کولو دَ قسوة دَ زړه کوم چه مخکښ ایت کښ ذکر شویدے او په دے ایت کښ اووه صفتونه دَ قرآن کریم ذکر کړے دی اول صفت أَحْسَنَ الْحَدِيثِ په قرآن کریم باندے دَ حدیث اطلاق نورو ځایونو کښ شته ځکه چه حدیث ویلے کیږی هر هغه کلام ته چه بیانیږی او دے لفظاً هم احسن دے ځکه چه ډیر فصیح او بلیغ دے، او لذت ورکوونکے دے قاری ته او اوریدونکی ته اګرچه شعر نه دے او معنیً هم احسن دے چه تناقض او اختلاف نه پاک دے په اخبارو تیر شوو او راتلونکو کښ ئے هیڅ دروغ نیشته او عجائبات ئے نه ختم کیږی ۔ دویم صفت کِتَابًا یعنی جمع کوونکے دَ هر خیر دے ۔ دریم صفت مُتَشَابِهًا یعنی په ریاتے یو بل مخ)

أَفَمَنْ يَتَّقِي بِوَجْهِهِ سُوٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ

ایا هغه څوک چه ځان ژغوری په مخ خپل سره د ناکاره عذاب نه په ورځ

الْقِيٰمَةِ ۚ وَقِيلَ لِلظّٰلِمِينَ ذُوقُوا مَا كُنْتُمْ

د قیامت او اوبه وئیلے شي ظالمانو ته چه اوڅکئ سزا د هغه عملونو

حُسن او فصاحت بلاغت کښ ټول ایاتونه او سورتونه یو شان دی اگرچه په دیرویش کالونو کښ نازل شویدے اوکه د مخلوق کلام وے نو په دومره زمانه کښ په جوړولو باندے به ئے ډیر تفاوت او اختلاف راغلے وے او د دے دلیل په سورة نساء ۸۲ کښ تیر شویدے. څلورم صفت مَثَانِيَ یعنی د دے قصے او احکام او وعد او وعیدونه بیا بیا ذکر شویدی او دارنګ تلاوت ئے بار بار کیږی او زړه ترینه نه مړیږی. مثانی جمع د مثنیٰ ده او کتاب مفرد دے لیکن مراد د کتاب نه ایاتونه او تفصیلات د کتاب دی نو په جمع سره ئے صفت صحیح دے. پنځم صفت تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ اقشعرار دیته وائی چه د ویرے د وجے نه د انسان په بدن باندے ویښته نیغ اودریږی او دا صفت د څرمن دے نو جلود ئے ذکر کړه او دا حالت د زړه د خشیت نه پیدا کیږی د دے وجے نه یخشون ئے ورسره ذکر کړو. شپږم صفت ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ یعنی دغه ویره د زړه او د څرمن سبب اوګرځی د اطمینان او د محبت نو د هغے وجے نه نرم والے راشی په څرمن باندے ویښته په ځائے ځائے کیني او دارنګ اندامونه د دغه انسان د الله تعالیٰ د ذکر اطاعت دپاره استعمالیږی او په زړه کښ ایمان محکم او زیات شی او دا ترتیب په سورة انفال ۲ کښ ذکر شویدے او دا د قرآن کریم اعجاز دے چه ویره سبب د اطمینان اوګرځی په خلاف د نورو تخویفاتو چه هغه د ویرے نه نفرت پیدا کوی. او هرکله چه اقشعرار او نرم والے په څرمن باندے ظاهریږی نو د دے وجے نه جلود ئے مخکښ ذکر کړو. تفسیر قرطبی او بحر المحیط و ابن کثیر او سراج المنیر کښ په دے ځائے کښ سخت تردید ئے د هغه متصوفو ذکر کړے دے چه په وخت د ذکر کولو کښ په هغوی باندے بے هوشی راشی یا ګډا کوی یا نو پو نه وهی او دیته جذبه وائی او دا کمال ګڼړی. نو که دا کمال وے او دا صفت د نو الله تعالیٰ به د صحابو او د نورو مؤمنانو په صفت کښ په دے ایت کښ ذکر کړے وے. د اسماء رضی الله عنها او د سعید بن عبد الرحمان نه نقل ده چه دا جذبه د شیطان د وجے نه ده او د ابن سیرین رحمة الله نه نقل دے

تَكْسِبُوْنَ ﴿۲۴﴾ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

په تاسو کولے ۔ تکذیب کړے وو هغه کسانو چه د دوی نه مخکښ وو

فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۵﴾

نو راغے دوی ته عذاب د داسے ځائے نه چه دوی نه پوهیدل ۔

فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

نو وڅکوله دوی ته الله تعالیٰ شرمندګی په ژوند د دنیوی کښ

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾

او خامخا عذاب د آخرت ډیر لوے دے که چرے دوی پوهیدلے ۔

چه دَدوی پوتن دِ په چت دَکوټے (په بلخ) باندے یا په دیوال باندے کیتی یا دَ کوهی په غاړه باندے کیتی او په هغه باندے دے قول قرآن اولوستلے شی که دے بے هوشه شو اورا اوغورځیدلو نو دے په رښتیے وی په جذبه کښ ۔ اووم صفت ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ دا اشاره قرآن ته ده یا استحرار اولین ته چه صفت دَ قرآن والوړے سلا ۲۳ :۔ دا تخویف اخروی دے منکرینو ته روستو دَ بیان دَحال دَ مؤمنانو ته او په دے ایت کښ تقابل دے لیکن دویم جانب ئے حذف کړے دے (کَمَنْ اٰمِنَ مِنَ الْعَذَابِ بِسَبَبِ الْقُرْاٰنِ) او داسے سوره حم سجده سلا کښ دی ۔ بِوَجْهِهٖ ، یعنی په جهنم کښ په پړمخ اوغورځولے شی او لاس به ئے تړلے شوے وی نو دے به په مخ سره ځان دَعذاب نه بچ کوی لیکن نه به شی بچ کیدے یعنی بله طریقه دَ دفع عذاب ورسره نیشته او دا طریقه فائده نه ورکوی ۔ او احتمال شته چه مراد دَ وجهه نه وجاهت او شرافت دنیویه شی یعنی دے دَ قیامت دَعذاب نه ځان په دنیوی عزت او شرافت سره بچ کول غواړی او دَ قرآن سره دشمنی کوی لیکن په دے وجاهت سره نه شی بچ کیدے ۔

سلا ۲۵ ، ۲۶ :۔ دا تخویف دنیوی دے په ذکر کولو دَحال دَ منکرینو تیر شوؤ ۔ مِنْ قَبْلِهِمْ لفظ دَ مِنْ کښ اشاره ده نزدے والی دَ زمانے ته لکه قوم سبا او قوم تُبّع وغیره ۔ فَاَذَاقَهُمْ مبرد ویلی دی چه هر اندام ته خه اثر رسیږی نو هغے ته ذوق ویلے کیږی که هغه درد وی او که تریخوالے او که خوږوالے وی ۔

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ

او یقینا بیان کړی دی مونږ خلقو ته په دے قرآن کښ

مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۷﴾

دَ هر قسم وعظونو نه دَدے دپاره چه دوی نصیحت قبول کړی.

قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ

قرآن عربي دے ته دے کږلیچ واله دَدے دپاره چه دوی

يَتَّقُوْنَ ﴿۲۸﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ

ویریګی. بیان کړیدے الله تعالیٰ یو مثال چه یو سړے دی په هغه کښ

شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ

ډیر برخے واله دی جګړه مار او یو بل سړے دی پوره دَ یو سړی دپاره

هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ بَلْ

آیا دوی برابر کیږی شی په حالت کښ. ستاینه دَ خدائیتوب دَ یو الله تعالیٰ ده بلکه

۲۷ ، ۲۸ : په دے آیاتونو کښ ترغیب دے قرآن ته دپاره دَ ځان لوی دَ عذاب دَ دُنیا او آخرت نه کوم چه مخکښ آیاتونو کښ ذکر شو.
مِنْ كُلِّ مَثَلٍ مراد دَ دے نه مثالونه دی او دَ کل نه مراد هغه دی چه هغے ته حاجت وی. یا مراد دَ مثل نه قسمونه دَ بیان او دَ وعظونو دی یا مراد دَ مثل نه نمونے دَ عذاب دَ سابقینو دی. قُرْاٰنًا حال دے دَ من القرآن نه په معنیٰ لغوی سره یعنی لوستلے کیدے شی ترقیامته پورے. عَرَبِيًّا ژبه عربی فصیحه او بلیغه ژبه ده دَ دے پښتان بل لغت واضح نیشته یا مراد دَ دے نه معنیٰ لغوی ده یعنی واضح مقصد والا دے. غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ مراد دَ دے نه شبهات او شکونه او اعتراضونه دی ځکه چه عوج دَ عین په زیر سره مستعملیږی په معانی کښ او په زور دَ عین سره په اجسامو کښ. هر کله چه ضرب الامثال دپاره دَ یادداشت او نصیحت وی نو اول آیت کښ ئے يَتَذَكَّرُوْنَ ذکر کړو او غیر ذی عوج کښ اشاره ده چه شبهاتو او شکونو نه بچ کوونکے دے دَ دے وجے نه يَتَّقُوْنَ ئے ذکر کړو.

أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۹﴾ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَّ

ډیر دَ دوی نه پوهیږی ـ یقیناً ته مړکیدونکے یې او

۲۹:- تیر شوی ایت کښ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ذکر وؤ نو په دے ایت کښ دَ هغے یو خاص مثال ذکر کوی دَپاره دَ فرق په مینځ دَ حال دَ مشرک او مؤحد کښ۔

مُتَشَاكِسُوْنَ جګړه مار او ضدیان دی په انصاف هم نه رضا کیږی او یو بل سره اتفاق هم نه کوی۔ تفصیل دَ مثال دا دے چه دَ یو مریٔ ډیر مولاګان وی لیکن بداخویه اوضدیان وی یو تن چه دے مریٔ ته دَ یو کار حکم اوکړی نو بل دَ هغه په ضد کښ دَ بل کار حکم اوکړی او دواړه اتفاق نه کوی او محالف هم نه کوی او که دَ دے مریٔ ته حاجت پیښ شی یا پرے څه مصیبت راشی نو دَ مولاګانو نه یو کس هم دَ دهٔ سره امداد نه کوی دَ وجے دَ بد اخلاقۍ دَ هغوی نه نو دا مریٔ په ضرور ډیر تنګ ژوند کښ وی او پریشان به وی او بل مریٔ دے چه دَ هغه یو مولا دے او هغه مولا کښ دَ رجولیت یعنی دَ سړی توب اخلاق هم شته شریف دے محاق کوونکے دے سخی او کریم دے په خپل مریٔ ظلم نه کوی په حاجت او مصیبت کښ ورسره امداد کوی نو ضروری خبره ده چه دا مریٔ به په خپل ژوند کښ ډیر خوشحاله وی نو دا رنګ مشرک چه ډیر الٰهه یې نیولے دی یو هم حق دار دَ بندګۍ کړی بل هم ګڼړی یو الله دَ یو مصیبت لرے کولو ذمه وار ګڼړی او بل کَل مصیبت دَپاره بیا دا الٰهه دَ دهٔ مشرکان پیر ان او ملایان دی چه عنادیان او حرصناک دی نو که دا مشرک دَ یو عبادت کوی نو بل تریه خفه کیږی یو ته نذرانه شکرانه اوری نو بل ورته غصه دی او په یو وخت کښ یې ډیر حاجتونه وی نو حیران وی چه دے یو حاجت له یو دربار ته زم نو هغه بل دربار دَ بل حاجت دَپاره زمانه پاتے کیږی نو دا مشرک ډیر په تنګ ژوند کښ دے او مؤحد سړے خو دَ یو الله عبادت او طاعت کوی په یو وخت تریه هر حاجت غوختلے شی نو دَ دهٔ ژوند به په ارام دے نو معلومه شوه چه دوی برابر نه دی۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ دا دلیل دے چه صفتونه دَ الوهیت ټول دَ یو الله تعالیٰ دَپاره دی او دَ دوی په الهو کښ دا صفتونه نیشته نو دا معبودان دَ الله تعالیٰ سره شریک نشی کیدے نو دَ دوی عابدان هم برابر نه شی کیدے۔

فائده:- دا مثال دَ بُتانو عبادتو نه کوونکو سره نه لګی دَ دے وجے خطیب شربینی لیکلی دی چه دا مثال هغه چا دے چه دوی دَ علماؤ او پیرانو عبادت کوی په دے عقیده چه هغوی به زمونږ دَپاره شفاعت (شرکیه) کوی او هر یو عقیده لری چه زما عالم او پیر په حق باندے دے او دا بل په باطل باندے دے

ن۳۰ تا ۳۱ :- هر کله چه سخت رد اوکړے شو په مشرکانو باندے نو هغوی د غصے د وجے نه خیرے کولے چه دا نبی د مړشی چه مونږ تر ینه خلاص شو نو په دے آیت کښ جواب دے چه مرګ خو په ټولو باندے راځی نو د بل چا په مرګ خوشحالی کول هیڅ فائده نه لری او دا رنګ په مرګ سره د جګړو نه خلاصیږے بلکه روستو د مرګ نه په دوباره ژوند د قیامت کښ به جګړے وی او فیصلے به وی -

تَخْتَصِمُونَ دا اختصام عام دے که په مینځ د مؤمنانو کښ وی او که د کتابیانو کافرانو سره او که د مشرکانو سره -

فائده :- میّت په شد د یاء سره په هغه چا باندے اطلاق کیږی چه مړ نه وی لیکن مړ کیږی به او په سکون د یاء سره هغه چاته ویلے کیږی چه مړ وی لیکن دا فرق اکثری دے کله د یو بل په معنیٰ هم راځی لکه انك لا تسمع الموتیٰ او یحیی الموتیٰ کښ موتیٰ جمع د میّت (شد) دے لیکن مراد تر ینه مړی دی - او د دے آیت نه معلومه شوه چه په نبی صلی الله علیه وسلم باندے هم مرګ راغلے دے د دے وجے د فن کړے شو بیا دے - او قرطبی لیکلی دی چه دا خبره الله تعالیٰ د دے وجے نه ذکر کړه چه څوک د نبی صلی الله علیه وسلم په مرګ کښ خلاف اونکړی او بل دا چه معلومه شی چه پیغمبر په دے صفت کښ د نورو خلقو سره مساوی (برابر) دے -

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ

نو څوک لوے ظالم دے د هغه چا نه چه دروغ وائي په الله تعالیٰ باندے یا دروغژن گڼړي

بِالصِّدْقِ اِذْ جَآءَهٗ ؕ اَلَيْسَ فِىْ جَهَنَّمَ

رښتیا لره کله چه راغے ده ته ایا نیشته په جهنم کښ .

مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَالَّذِىْ جَآءَ بِالصِّدْقِ

ځائے د اوسیدلو کافرانو لره - او هغه څوک چه راوړے دی رښتیا

وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۳۳﴾

او تصدیق ئے د هغے اوکړو دغه کسان دوی متقیان دی -

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ

دوی دپاره هغه نعمتونه دی چه دوی غواړی په نیز د رب د دوی دا

جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۴﴾ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

بدله ده د ښائسته عمل کوونکو - دے دپاره چه معاف کړی الله تعالیٰ د دوی نه

اَسْوَاَ الَّذِىْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ

ناکاره هغه عمل نه چه دوی کړیدی او بدله ورکړی دوی لره ثواب د دوی

۳۲ :- په دے کښ فیصله د مختصمون (اختصام) ذکر کړی نو اول تخویف اخروی ذکر کوی منکرینو ته۔ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ په نسبت کولو د ولد او د شریک کښ او دا رنگ په تاویل د صفاتو د هغه کښ چه هغه د ځان بوصفت ویلے وی لکه ید (لاس) او څوک اُوائي چه د دے نه قدرت مراد دے لکه جهمیه موؤله وائي۔

۳۳ ۳۴ ۳۵ :- په دے ایاتونو کښ بشارت دے مؤمنانو ته۔ جَآءَ بِالصِّدْقِ د صدق نه مراد مسئله د توحید ده او کتاب د الله تعالیٰ دے یعنی هرهغه څوک چه دعوت کوی قران او توحید ته۔ وَصَدَّقَ بِهٖٓ د دے نه مراد ټول مؤمنان دی چه دعوت د توحید او د قران اومنی۔ او د دوی پنځه حالتونه ذکر کوی اول صفت د تقوی۔ دویم وسعت د نعمتونو د دوی د خواهش مطابق په جنت کښ۔ دریم صفت د محسنین۔ څلورم تکفیر د سیئاتو یعنی گناهونه رپاتے به بل ځ)

بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۳۵﴾

په دیر ښائسته هغه عملونو سره چه دوی کول .

اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ۭ وَيُخَوِّفُوْنَكَ

آیا نه دے الله تعالیٰ بدره (بچ کوونکے) خپل بنده لره او ویره وی دوی تا

بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ۭ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

په هغه کسانو چه د الله تعالیٰ نه سوا دی او هغه څوک چه بے لارے کړی هغه لره الله تعالیٰ

فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۶﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ

نو نیشته هغه لره هیڅوک هدایت ورکوونکے . او هغه څوک چه هدایت ورکړی هغه له الله تعالیٰ

فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ۭ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ

نو نیشته هغه لره هیڅوک بے لارے کوونکے آیا نه دے الله تعالیٰ زور اور

ذِي انْتِقَامٍ ﴿۳۷﴾ وَلَىِٕنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ

بدله اخستونکے . او که چرے تپوس اوکړے ته د دوی نه چا

په ورته معاف کړیشی . اسوء چه ډیر ناکاره معاف کوی نو (سوء) لګ ناکاره خو ضرور معاف کیږی . بخُم اجر او ثواب چه په احسن اعمالو باندے ملاویږی هغه عملونه مراد دی چه د کتاب او سنت سره موافق وی .

۳۶ ـ ۳۷ :. مخکښ ئے د آخرت اختصام ذکر کړو نو په دے آیت کښ د دُنیا اختصام ذکر کوی یعنی هر مشرک ویره ورکوی مؤحد ته د خپل معبودانِ باطله نه .
نبی صلی الله علیه وسلم ته ئے ویل چه ته زمونږ الهو ته بد مه وایه (چه دوی هیڅ نشی کولے) دوی به تا ته مصیبت، مرض، جنون دراورسوی . او خالد بن ولید رضی الله عنه ئے د عزیٰ ته ویره ورُلکه چه مفسرینو ذکر کړیدی او س هم مشرکان وائی مؤحدینو ته چه د توحید مسئلے مه کوئے او نذرونه د غیرالله مه منع کوئے جنات او غلاقونه تربیته مه لرے کوئے گنی نو تکره به درکړی . نو الله تعالیٰ مؤحدینو بندګانو ته تسلی ورکوی او مشرکانو باندے رد کوی اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ د عبده نه هر مؤحد مراد کیدے شی او بیا ئے ذکر د فریقینو کړے دے په طریقه د تقابل سره . بِعَزِيْزٍ په دے کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ د خپل بنده د بچ کولو د پاره د دے وجه نه پوره دے چه زور اور او غالب دے او نور معبودان بے طاقته دی

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

پیدا کړی دی اسمانونه او زمکه خامخا دوی وائی الله تعالیٰ

قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

ته اُوایه ایا پوهه یئ تاسو په (حال) دَهغه چاچه تاسو یئ بلنه کوئ بیوا دَ الله تعالیٰ نه

اِنْ اَرَادَنِيَ اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ

که چرے اوغواړی الله تعالیٰ زما څخه تکلیف ایا دوی کیدیشی لرے کوؤنکی

ضُرِّهٖۤ اَوْ اَرَادَنِيْ بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ

دَ تکلیف دَهغه یا اوغواړی په ما باندے رحمت ایا دوی

مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ ؕ قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ؕ

بندوونکے شی رحمت دَهغه ته اُوایه بوره دے ماله الله تعالیٰ

عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۳۸﴾ قُلْ

خاص په هغه باندے توکل کوی توکل کوؤنکی ته اوایه

سـ۳۸ :- دا څلورم دلیل عقلی اعترافی دے دَپاره دَ نفی دَ خالقیت او تصرف دَ غیر الله تعالیٰ په اقرار دَ مشرکانو سره او دَ مخکښ ایت سره ئے ربط داد ے چه تاسو په دے معبوداتو باطلو سره مؤحدینو لره څه رنګ ویروئے تاسو خو پخپله هم اقرار کوئے چه خالق الله تعالیٰ دے او دا معبودان دَ نفع او ضرر مالکان نه دی دَ الله تعالیٰ په مقابله کښ، نو په دے ایت کښ دوه عقیدے په اقرار دَ مشرکانو سره ذکر کوی اول داچه خالق الله تعالیٰ دے او دا په سورة عنکبوت سـ۶۱ لقمان سـ۲۵ زخرف سـ۹ سـ۸۷ کښ هم ذکر شویدے او دویم اقرار په دے قول سره ذکر کوی قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ الآية یعنی ستاسو معبوداتو سره اختیار او قدرت دَ ضرر او نفع او خیر او شر نیشته دے او دَ دے استفهام جواب هم ابن جریر وغیره ذکر کړے په لا مقدار سره یا په سکوت سره یعنی دوی، یا وائی چه مونږ معبودان مالک دَ نفع او ضرر نه دی په مقابله دَ الله تعالیٰ کښ یا چُپ شی او دا چُپ پاتے کیدل هم دلیل دَ اقرار دے . قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ یعنی که مشرک دعوی اوکړی چه دا معبودان پخپله اختیار مند نه دی ریاتے په بل څ)

يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّىْ عَامِلٌ

اے قومه زما عمل کوئ په خپله طريقه باندے يقيناً زهٔ هم عمل کوونکيم

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ

نو زر دے چه تاسو به پوهه شئ چه څوک دے هغه چه راځي هغه ته عذاب

يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٤٠﴾

چه رسوا به ئے کړي او راکوز به شي په هغه باندے عذاب هميشه۔

اِنَّا اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ

يقيناً نازل کړے دے مونږ په تا باندے کتاب دَ خلقو دَپاره په حق سره

فَمَنِ اهْتَدٰى فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ

نو هغه څوک چه هدايت ئے اوموندلو نو خپلے فائدے دَپاره ئے دے او هغه څوک چه بے لارے شو

خوشحاله قهريه دی يا دَ الله تعالیٰ سره ملګرتيا کوی نو جواب دا دے چه الله تعالیٰ پوره کافی دے هيڅ ته حاجت نه لری۔ الْمُتَوَكِّلُوْنَ نه مراد مؤحدين دی۔

فائده: په دے ايت کښ ئے مؤنث صيغ ذکر کړے دی دَ دے وجه نه چه رد دے په خاص مشرکانو چه هغوی دَ عزّیٰ عبادت کوؤ او هغه مؤنثه پيرئے وه يا اوس زمانه کښ چه څوک دَ زنانه دَ قبر عبادت کوی يا تانيث کښ اشاره ده کمزورئے دَ معبودانو دَ دوی ته ځکه چه مؤنثات په کمزورئے سره مشهور دی۔

۳۹ تا ۴۰:۔ او دا بيان دَ توکل دے په ذکر دَ براءت سره۔ مَكَانَتِكُمْ عادت او حالت او قوت ته ويلے کيږی يعنی که شرک او کفر کړئ او که زما دَ ضرر رارسولو دَپاره څه قوت او مکر وته استعمالوئ نو اوکړئ اِنِّىْ عَامِلٌ يا عَلٰى مَكَانَتِى په کښ پټ دے مراد دَ دے نه دعوت دَ دين او استقامت دے او هرکله چه دَ پيغمبر په حالاتو کښ وخت په وخت ترقی کيدله نو دَ دے وجه نه مقيد ئے نه کړو په عَلٰى مَكَانَتِى سره۔ يُخْزِيْهِ دَ دے نه دَ دُنيا عذابونه مراد دی او عَذَابٌ مُّقِيْمٌ نه دَ اخرت عذاب مراد دے۔

فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ

نو يقينًا چه بے لارے کیږی وبال به په هغه باندے وی. او ته نه یې په دوی باندے

بِوَكِيْلٍ ﴿۴۱﴾ اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ

ذمه وار. الله تعالیٰ اخلی ساهونه په وخت

مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا ۚ

د مرګ د هغو کښ او هغه ساهونه چه نه مړ کیږی (اخلی) په خوب د هغوی کښ

فَيُمْسِكُ الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ

نو بند کړی د واپسئ نه هغه چه فیصله کړے وی په هغې باندے په مرګ سره

وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰى اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اِنَّ

او راپریږدی هغه بل لره تر نیټے مقرر پورے یقینًا

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾

په دے کښ ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه فکر کوی.

ف۴۱:. په دے کښ ترغیب او صداقت دَ قرآن ذکر کوی او مقصد په کښ تسلّی ده روستو دَ اعلان دَ برأت نه. لِلنَّاسِ په دے کښ دلیل دے چه قرآن دَ ټول دنیا والو دَپاره کتاب الٰهی دے. وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ یعنی ته دَ دوی دَ هدایت ذمه وار نه یې تا ته دَ دوی انکار کول نه منسوب کیږی ځکه چه وکیل هغه وی چه هغه ته دَ مؤکل دَ کارونو نسبت کیدے شی او حقوق هم هغه ته راجع کیدے شی.

ف۴۲:. دَ دے ایت نه دریم باب دے تر ف۵۲ پورے په دے کښ پنځم دلیل عقلی دے بیا مسئله دَ شفاعت ده نفیًا دَ غیر الله نه او اثباتًا دَ الله تعالیٰ دَپاره او زجر دے په نفرت سره دَ توحید نه بیا نتیجه دَ دلیلونو په امر دَ دُعا دَ الله تعالیٰ سره بیا تخویف اخروی او تخویف دنیوی او دلیل عقلی شپږم دے. په دے (ف۴۲) کښ دلیل عقلی دے په ترقیٔ سره دَ ماقبل نه ځکه مخکښ دلیلونه دَ خلق او دَ تربیت او مالکیت دَ نفع او ضرر ذکر شول نو اوس تصرف دَ الله تعالیٰ په خوب او په مرګ سره ذکر کوی. اَللّٰهُ يَتَوَفَّى توفی په معنیٰ دَ پوره اخستلو سره دے لکه چه اِنِّیْ مُتَوَفِّيْكَ کښ تیر شویدے بیا هر کله چه دلته یې (پاتے په بل مخ)

أَمِ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ شُفَعَاءَ ۚ قُلْ

آیا	جوړ کړیدی	دوی	سوا	د الله تعالیٰ نه	سفارشیان	نه اُوایه

الانفس لفظ ذکر کړو نو معلومه شوه چه اغستل د نفس مراد دی او د نفس او د روح په باره کښ د اهل علمو اختلاف دے بعضو ویلے دی چه نفس جدا دے او روح جدا دے یعنی نفس عام دے چه په هغه سره تنفس راځی که تمیز او حیات دواړه وی او که صرف حیات وی او روح خاص دے په هغے پورے چه په هغه سره حیات راځی او اکثر اهل علمو ویلے دی چه دا دواړه یو شے دے او دوه نومونه یے دی او دا غوره قول دے یو وجه دا ده چه په دے ایت کښ اغستلے شویده په وخت د مرګ کښ او په وخت د خوب کښ دواړو ته یے انفس ویلے دی بله وجه دا ده چه په یو حدیث د وفات د ابوسلمه کښ په وخت د مرګ کښ قبض د روح یے ذکر کړے دے او دا حدیث امام مسلم روایت کړے دے او په بل حدیث کښ چه ابن ماجه راوړے دے اخرجی ایتها النفس الطیبة ویلے دی او په حدیث د لیلة التعریس کښ رد اوده کیدلو) په باره کښ اخذ بنفسی یارسول الله او بیا ورپسے ان الله قبض ارواحنا یے فرمائیلے دی نو معلومه شوه چه دواړه یو شے دے لیکن صفتونه په کښ دوه دی د دے وجے نه یو ته نفس الحیاة ویلے کیږی او هغه اغستلے کیږی په وخت د مرګ کښ بل ته نفس التمیز ویلے کیږی او هغه اغستلے کیږی په وخت د خوب کښ - او تفسیر مدارک او روح المعانی او سراج المنیر کښ راوړے دی چه اطلاق د اغستلو د انفس په وخت د خوب کښ د دے وجے نه دے چه دا تشبیه د او دو ده د مړو سره یعنی اوده انسان تمیز او تصرف نشی کولے لکه چه مړے هم تمیز او تصرف نشی کولے - او دا قول د دے مفسرینو رد دے په هغه چا باندے چه د مړو د پاره تصرفات او تمیز ثابته وی او وائی چه مړے د خپل قبر د پاسه مرغے ترا و بنځه پیژنی دا قولے د جهل خیرے دی - حِينَ مَوْتِهَا " یعنی په وخت د مرګ د بدن نو کښ " لیکن اضافت یے روح ته او کړو ځکه روح د بدن نه جدا شو نو دا هم د روح د پاره یو قسم مرګ دے اګرچه د روح د پاره فنا نیشته -

وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا دا سے یے په سورة انعام ۶۰ کښ توفی د خوب په باره کښ ذکر کړے ده او په ۶۱ کښ توفی د مرګ د پاره ذکر کړے ده ابن کثیر ویلے دی چه اول ته وفات صغریٰ ویلے کیږی او دویم ته وفات کبریٰ ویلے کیږی او دلته ذکر د دے دواړو په عکس سره دے -

فَيُمْسِكُ الَّتِىْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ داجمله دليل دے چه دَ مړو ارواح دَ دوی بدنونو ته بيا واپس نه راځی مګر هله چه واپسی په نص صحيح سره ثابته شی لکه بحث بعد الموت او سورة البقره پنځه واقعات ذکر کړے دی چه روستو دَ مرګ نه بيا ژوندی کړے شوی او دا رنګ په معجزه دَ عيسٰی عليه السّلام سره مړی ژوندی کيدل داخو په صحيح او صريح نصوصو سره ثابت دی نو دَ دے نص نه هغه مستثنٰی دی۔

بحث په باره دَ اعاده دَ روح بدن ته په قبر (برزخ) کښ، جمهور علماء دَ دے قائل دی په سبب دَ حديث دَ براء بن عازب رضی الله عنه چه ابو داؤد او امام احمد وغيرهما روايت کړے دے او په هغے کښ اعاده او رد دَ روح جسد دَ مړی ته په قبر کښ ذکر شوی دے. او ابو محمد بن حزم وائی دی چه هيڅ روايت نه دے کړے په باره دَ عذاب قبر کښ چه روح بدن ته واپس کيدے شی سوئ دَ منهال بن عمرو نه او هغه قوی نه دے او داخلاف دَ ايت دَ " وكنتم امواتا فاحياكم ثم يميتكم ثم يحييكم" دے او بيائے ترينه منصوص او معجزانه مواضع مستثنٰی کړے دی. ليکن ابن قيم الجوزيه په شرح دَ ابو داؤد ص ۹۲/۱۳ کښ په تفصيل سره ثابت کړے دہ چه روايت دَ رد الروح الى الجسد کښ کوم جرح چه ابو حاتم بستی او ابن حزم ذکر کړيده هغه جرح صحيح نه ده او ابو موسٰی اصبهانی وائی دی چه دغه حديث حسن دے او ابو نعيم او حاکم وغيرهما ورته صحيح وائی دی. هر کله چه دا روايت ثابت دے نو دَ دے ايت دَ سورة بقره سره موافقت څه رنګ دے ؟

په دے کښ يو قول دا دے چه آلوسی په روح المعانی کښ غوره کړے دے چه روح زوړ بدن ته نه واپس کيږی په قبر کښ بلکه جسد مثالی ته ورداخليږی او په دے باندے حديث دَ "حواصل طير خضر" په دليل کښ ذکر کړے دے دويم قول دا دے چه ابن قيم په شرح دَ ابو داؤد کښ ذکر کړے دی چه واپسی دَ روح بدن ته واپسی په قبر کښ عارضی وی په دے سره حيات مستقر په قبر کښ نه حاصليږی او دا رنګ ابن عبد الهادی په الصارم المنکی کښ وائی دی چه په رد الروح فی القبر سره حيات (حقيقيه) نه حاصليږی او دا منافی نه دے دَ مرګ سره يعنی دغه واپسی دَ متشابهاتو نه ده په حقيقت باندے نه پوهيږو ليکن ايمان په ورباندے لرو دَ دے وجے نه ملا علی قاری په مرقات ص ۱۹۸/۱ کښ ذکر کړے دی چه امام ابو حنيفه رحمة الله په اعاده دَ روح کښ (بدن ته په قبر کښ) توقف کړے دے. او دا رنګ په ص ۲۳/۱ کښ ذکر کړے دی چه تعلق دَ روح دَ بدن دَ مړی سره په طريقه دَ حلول سره نه دے. نو بيا په دے تحقيق سره دَ دے ايت (فيمسك التى قضٰى عَلَيْهَا الموت) دَ رد الروح سره هيڅ منافات نيشته نو دَ هغے نه انکار کول مناسب نه دی۔

أَوَلَوْ كَانُوا لَا يَمْلِكُونَ شَيْئًا وَّلَا يَعْقِلُونَ ﴿۴۳﴾

ایا اگر چه دوی اختیار نه لری د هیڅ څیز او نه پوهیږی -

قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا ۖ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

ته اوایه الله تعالی لره اختیار د ټول سفارش دے هغه لره بادشاهی د اسمانونو

وَالْاَرْضِ ۖ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَاِذَا

او زمکے ده بیا هغه طرف ته به اوګرځولے شئ تاسو - او هر کله چه

ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ

یاد کړیشی الله تعالی په یو والی سره تنګ شی زړونه د هغه کسانو

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ

چه ایمان نه لری په آخرت باندے او هر کله چه یاد کړے شی هغه کسان

مِنْ دُوْنِهٖۤ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ قُلِ

چه سوا د الله تعالی نه دی دغه وخت دوی ډیره خوشحالی ښکاره کوی - ته اُوایه

۴۳:- په دے ایت کښ زجر دے په عقیده د شفاعة شرکیه باندے یعنی دوی فکر په مخکښی دلیلونو کښ نه کوی بلکه ځان د پاره بهانے ګوری او وائی چه موږ د دے معبودان من دون الله بندګی د دے وجے نه نه کوو چه دوی خدایان دی بلکه صرف سفارشیان ئے ګڼړو. بیا رد دے په دوی باندے چه دغه معبودان ستاسو د هیڅ څیز اختیار او قدرت نه لری نو بغیر اذن نه د شفاعت کولو اختیار ئے کله کیدے شی او دا رنګ پوهه نه لری ستاسو په بندګے کولو باندے -

۴۴:- دا بل رد دے د دوی په عقیده شرکیه باندے یعنی اختیار صرف د الله تعالی دے نو هیڅوک د هغه د اذن نه بغیر شفاعت نشی کولے او د شفاعت ډیر قسمونه دی د دے وجے نه تاکید ئے په جمیعًا سره اوکړو.

۴۵:- دا زجر دے د دوی په یو خصلتِ قبیحه باندے او جواب دے د سوال د دوی که دوی اُوائی چه موږ شفاعت بغیر اذن نه نه وایو بلکه زموږ د شفاعت د پاره په زموږ معبودانو ته الله تعالی اذن ورکوی نو د جواب حاصل دا دے چه ستاسو د الله تعالی د ذکر د توحید سره دشمنی ده نو څه رنګه به ستاسو د پاره اذن ورکوی - وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ لکه چه مخکښ ایت کښ تیر شول

اَللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ

اے الله پیدا کوونکے دَ آسمانونو او دَ زمکے پوهه په هر پټ

وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا

ښکاره باندے ته به فیصله کوے په مینځ دَ بندګانو ستا کښ په هغه څیزکښ

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ

چه وُو دوی په هغے کښ اختلاف ئے کوؤ. او که چرے شی دَ پاره دَ

چه قل لله الشفاعة جميعا یا او بلے شی چه دَ بو الله تعالیٰ بندګی کوئے صرف هغه ته رامدد شه وائے صرف دَ هغه په نوم باندے نذرانے کوئے.

اَشْمَأَزَّتْ په دے کښ ډیره مبالغه ده ځکه چه اشمئزاز دیته وئیلے کیږی چه زړه دَ غصے او دَ خفګان نه داسے ډک شی چه څرمن دَ مخ او تندی کښ چونړو ته پیدا شی. وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ یعنی دَ دوی دَ معبودانو دَ پاره قدرت او علم دَ غیب وغیره ثابته وے په دروغو قصو او دلیلونو باطلو سره یا دَ هغوی دَ کرامتونو په دروغو سره ذکر کیدے شی. يَسْتَبْشِرُوْنَ په دے کښ هم ډیره مبالغه ده یعنی زړه ئے دَ خوشحالے نه دومره ډک شی چه آثار دَ خوشحالے په مخ او تندی کښ ښکاره شی. او داسے زمونږ په زمانه کښ ډیر موجود دی چه توحید بیان کوؤ نکو ته ډیر غُصّه وی او وائی چه دا دَ اولیاؤ منکران دی لکه چه مفسر آلوسی هم چیله قصه دَ دے آیت په تفسیر کښ ذکر کړے ده او هم داسے مضمون په سورة اسراء ۴۶ کښ ذکر وؤ چه دوی دَ توحید دَ بیان په وخت شا کانے اوګرځوی او سورة صافات ۳۵ کښ دی چه استکبار کوی او سورة صٓ ۵ کښ دی چه تعجب کوی. او سورة غافر ۱۲ کښ دائے سبب ګرځولے دے دَ پاره دَ همیشه پاتے کیدلو په جهنم کښ.

۴۶:- هرکله چه دَ مشرکانو خباثتِ عظیمه بیان شو چه نفرت دے دَ توحید نه او داسبب دَ خفګان دَ موحد دے نو اوس دَ موحد دَ زړهٔ دَ تسلئ دَ پاره هغه ته دَ دُعا تلقین کوی. او په دے دُعا کښ وسیله دَ اسماؤ او صفاتو دَ الله تعالیٰ سره ده. صفت دَ لوے قدرت فاطر السمٰوٰت والارض دے او صفت دَ لوے علم عالِمَ الغیب والشهادة دے او صفت دَ لوے اختیار او تصرف اَنْتَ تَحْكُمُ الخ دے او جواب دَ ندا حذف دے دَ تعمیم دَ پاره یعنی دَ دے رپاتے په بل مخ)

ظَلَمُوْا مَا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ

ظالمانو ته چه څيزونه چه په زمکه کښ دى ټول او پشان د هغې ورسره نور

لَافْتَدَوْا بِهٖ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

خامخا دوى به بدله ورکوى په هغې سره د ناکاره عذاب نه په ورځ د قيامت

وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا

او ښکاره به شى دوى ته د طرف د الله تعالىٰ نه هغه حال چه دوى ئې

يَحْتَسِبُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا

گمان هم نه کوؤ او ښکاره به شى دوى ته ناکاره عاقبتونه د هغه عمل چه دوى کړى

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۸﴾

او راگير به کړى دوى لره هغه څيز چه دوى به په هغې پورے چه توقے کولے

صفاتو نه روستو که انسان هر يو حاجت غوارى نو قبليږى لکه سعيد بن جبير نه روايت دے هغه وايى دى ته پيژنم دا سے ايت چه څوک ئې اولولى او د الله تعالىٰ نه سوال کوى نو الله تعالىٰ ئې ورکوى نو دا ايت ئې اولوستلو. او په حديث د صحيح مسلم کښ د دے صفاتو نه روستو خاص دعا هم ذکر کړے شوے ده چه نبى صلى الله عليه وسلم به د شپے د مونځ په اول کښ دا سے لوستل اللّٰهم رب جبريل وميكائيل واسرافيل عليهم السّلام فاطر السموات والارض عالم الغيب والشهادة انت تحكم بين عبادك فيما كانوا فيه يختلفون اهدنى لما اختلف فيه من الحق باذنك انك تهدى من تشاء الى صراط مستقيم) يعنى په اختلافى مسئلو کښ چه کوم حق جانب دے نو د هغې خود نه ماته اوکړه.

۴۷ ۴۸:. په دے اياتو کښ ذکر د فيصلے او د حکم د الله تعالىٰ دے په منکرينو د توحيد باندے او دا تخويف اخروى دے په ذکر د درے وعيدونو سره اول وعيد دا دے چه د دوى نه به هيڅ فديه په بدل د عذاب کښ نه قبليږى لکه چه سورة العمران سا۹ رعد سا۱۸ مائده سا۳۶ کښ دى. دريم وعيد وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ او دا شامل دے هغه مشرکانو او مبتدعينو ته چه اعمال ئې کول او خيال ئې دا وو چه دا حسنات دى ليکن معلومه به شى په قيامت کښ چه دا سيئات وو. دا قول د مجاهد دے او دا مناسب دے

فَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا

نو هر کله چه اورسیږي انسان ته تکلیف نو رابلي مونږ لره بیا هر کله

خَوَّلْنٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلٰى

چه ورکړو مونږ هغه ته څه نعمت د خپل طرف نه دے وائي یقینًا راکړے شوے دے دا ماته په

عِلْمٍ بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ

علم زما بلکه دا امتحان دے لیکن ډیر د دوي ته

لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٩﴾ قَدْ قَالَهَا الَّذِينَ مِنْ

پوهه نه لري - یقینًا ویلے وه دا خبره هغه کسانو چه

دَ ابتدا دَ سورت سره "ما نعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفی" او هغه خلقو ته چه گناهونه کوي په دے خیال چه دَ مرګ نه مخکښ توبه او باسو او ناګهه وریانتے مرګ راشي هغوی ته هم شامل دے دا دَ سدّي روایت دے. او دَ سفیان ثوري نه روایت دے تباهي ده ریاکارو لره دا دَ دوی آیت او حالت دے - او دریم وعید وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا دا اضافت بیانیه دے یعني بدکارونه دَ دوی هغه دي چه دوی کړیدي یا سیئات نه مراد عقوبات سیئه دي یعني ناکاره سزاګانے دَ دوی دَ عملونو.

۴۹ :- دا زجر دے دَ مشرکانو په بل خباثت باندے او فَإِذَا په فاء سره ئے ذکر کړو ځکه چه دا علت دَ ماقبل تخویف دے او تفصیل دے دَ ظلم دَ (ظلموا) چه دَ احسان دَ الله تعالیٰ هغه ته نسبت نه کوي بلکه خپل حق او کمال ئے ګڼړي.

عَلٰى عِلْمٍ یعني الله تعالیٰ عالم وو چه زهٔ دَدے نعمت اهل او حق داریم یا مراد دا دے چه هر نعمت چه ورته حاصل شي نو خپل کسب او کوشش ته ئے نسبت کوي او خپل محنت مستقل ګڼړي لکه چه دا سے دهري سړے وینا کوي. او سورة قصص ۷۸ کښ علم عندي کښ صرف دویمه معنیٰ مراد ده -

فائده :- اوتیتهٔ کښ ضمیر مذکر راجع کړے دے نعمت ته په تاویل دَ شیئًا من النعمة یعني که لګ نعمت وی نو هم دَ الله تعالیٰ احسان نه مني او بَلْ هِيَ کښ ضمیر مؤنث راوړے دے په تاویل دَ عطیه سره ځکه چه ورکول دَ پاره دَ امتحان دي.

قَبْلِهِمْ فَمَآ أَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

مخکښو دَ دوی نه وو نو لرې نه کړو دَ دوی نه (عذاب) هغه عملونه

يَكْسِبُوْنَ ۞ فَأَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا

چه دوی کول . نو اورسیدلو دوی ته ناکاره (عاقبت) دَ هغه عملونو چه دوی کول

وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيْبُهُمْ

او هغه کسان چه ظلم ئې کړے دے دَ دے موجود کسانو نه زر دے اوبه رسیږی دوی ته

سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا وَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ۞

ناکاره عاقبت دَ هغه عملونو چه دوی کړیدی او دوی نه دی عاجزی کوونکی الله تعالیٰ لره .

أَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا أَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

ایا دوی نه پوهیږی چه یقینًا الله تعالیٰ فراخوی روزی

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

هغه چا لره چه اوغواړی او تنګوی یقینًا په دے کښ ډیر دلیلونه دی

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۞ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ

هغه قوم لره چه ایمان لری . ته اُوایه اے بندګانو زما هغه کسان

۵۰ ۵۱ :۔ دا تخویف دے په ذکر دَ حال دَ سابقینو سره چه دا کلمه راوئیته علیٰ علم) سبب دَ عذاب دے په تیرشوے منکرینو باندے لکه چه قارون هم دا سے ویلے وو سورۃ قصص ۷۸ کښ دی . فَمَآ أَغْنٰى مانافیه دے یا استفهامیه دے . مِنْ هٰٓؤُلَآءِ من بیانیه یا تبعیضیه دے . سَيُصِيْبُهُمْ مَا كَسَبُوْا عذاب دَ قحط ته اشاره ده چه په مکے والو باندے راغلے وو دَ دے وجے نه وروستو دَ رزق دَ فراخ او تنګسیا ذکر کوی .

۵۲ :۔ دا دلیل عقلی شپږم دے مخکښ دلیلونو کښ عام تصرف ئې ذکر کړے وو او په دے آیت کښ خاص په رزق کښ تصرف کول ذکر کوی چه دا هم په الله پورے خاص دے لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ایمان په دے خبره باندے چه حوادث ټول دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دی او یقین لری چه فراخی دَ رزق دَ چا دَپاره استدراجًا وی او تنګوالے دَ روزئې دَ چا دَپاره عزت وی .

أَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ
چه زياتے كړيدے په ځانونو خپلو باندے مه نااُميده كيږئ د رحمت

اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ
د الله تعالیٰ نه يقيناً الله تعالیٰ بخي ګناهونه ټول يقيناً الله تعالیٰ

هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾ وَاَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ
بخنه كوونكے رحم كوونكے دے. او اوګرځئ (په توبه كولو سره) رب خپل ته

وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ
او تابع شئ د حكمونو د هغه مخكښ د دے نه چه راپه شي تاسو ته

۵۳.. د دے ايت نه خلورم باب دے تر ۶۱ پورے په دے كښ ترغيب دے توبه كولو ته د شرك او د نورو ګناهونو نه او تابعدارئ د قرآن ته د پاره د دفع كولو د درے عذرونو بيا تخويف او بشارت دے بيا دوه عقلي دليلونه عامه ذكر كوي اووم او اتم - بيا دليل وحي په رد د شرك في العبادت باندے.

په دے ايت (۵۳) كښ طريقه ذكر كوي د پاره د بچ كيدلو د عذاب نه كوم چه مخكښ اياتونو كښ ذكر شويدے او هغه طريقه توبه كول دي د شرك او د نورو ګناهونو نه. يَا عِبَادِيَ، دے نه مؤمنان مراد دي نو الذنوب جميعًا نه مراد ګناهونه دي بغير د شرك او كفر نه. يا مراد د دے نه ټول بندګان دي مشركانو ته هم شامل دے نو په الذنوب كښ شرك هم داخل دے.

(سوال) په دے احتمال باندے د "اِنَّ اللّٰهَ لَا يغفران يشرك به" سره ظاهرًا مخالفت راځي؟

(جواب) په دے ايت كښ مغفرت په توبے كولو سره مراد دے چه په توبه سره شرك او كفر هم معاف كيږي او په دغه ايت كښ به غير د توبے نه مراد دے او د دے تائيد حديث د طبراني دے چه دا ايت نازل شو نو نبي صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه زه د دے ايت په مقابله كښ دنيا او ما فيها هم نه خوښوم نو يو سړي اوويل كه چا شرك كړے وي نو نبي صلى الله عليه وسلم يو ساعت چُپ شو بيا ئے اوفرمائيل كه شرك ئے كړے وي نو هم او درے كرته ئے دغسے اوفرمائيل.

الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَاتَّبِعُوْٓا

عذاب بیا به مدد نشي کیدلے ستاسو . او تابعداري اوکړئ

اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ

دَ ښائسته هغه چه نازل کړے شویدے تاسو ته دَ طرف دَ رب ستاسو نه

مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّ

مخکښ دَدے نه چه راشي تاسو ته عذاب ناساپه او

اَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ اَنْ تَقُوْلَ

تاسو به نه یو هیږئ . (داخبره درکړو) دَپاره دَ دے چه اونه وائي

نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ فِىْ جَنْۢبِ اللّٰهِ

یو نفس هائے افسوس دے په هغه کوتاهي باندے چه ما کړیده په اړخ دَ (حق دَطاعت) دَالله

۵۴ :۔ دا معطوف دے په پټ لفظ باندے چه استغفروالله وانیبوا دے یعني دَ شرک نه توبه او باسئ او اودګرځئ الله تعالیٰ ته په توحید سره . وَ اَسْلِمُوْا کښ انقیاد په اعتبار دَ عملونو سره مراد دے.

۵۵ :۔ دا ترغیب دے قرآن ته یعني توبه او اثابت او اسلام په تابعدارئ دَ قرآن کښ دے . اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اضافت بیانیه دے ځکه چه ټول قرآن احسن دے لکه ۲۳ کښ تیر شویدی . یامراد دَ احسن نه محکم دے یعني دَ محکماتو دَ قرآن اتباع اوکړئ. مخکښ ایت کښ هم من قبل ان یاتیکم العذاب دوه او په دے ایت کښ هم دینه اشاره ده چه په توبه کولو او په اتباع دَ قرآن کښ تادي اوکړئ روستو والے مکوئ هسے نه چه عذاب راشي نو بیا به هیڅ نشے کولے.

فائده :۔ څوک چه دَ شرک نه توبه نه اوباسي نو عقیده لري چه زما سره به معبود مدد کوي نو په اول ایت کښ ئې لا تنصرون ذکر کړو . او اتباع دَ قرآن چه نه کوي نو هغوی وائي چه روستو به نیک عمل اوکړم نو دَ هغه دَپاره او فرمائیل چه دَ عذاب وخت معلوم نه دے ناګهه راځي نو و لے عمل کول روستو کوے (والله اعلم).

وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ دا تفسیر دے دَ بَغْتَةً یعني چه وخت او تاریخ ئې نه معلومیږي

وَإِنْ كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ أَوْ تَقُوْلَ

او یقیناً ووم زهٔ خامخا دَ مسخرے کوؤنکو نه په حق پورے. یا او نه وائي

لَوْ أَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۵۷﴾

که چرے الله تعالیٰ هدایت کړے وے ماته نو وے به زهٔ دَ متقیانو نه

أَوْ تَقُوْلَ حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِيْ كَرَّةً

یا او نه وائي کوم وخت چه اوویني عذاب لره که چرے وے ما لره دوباره للدنیا

۵۶:. دا دَ درے عذرونو (بهانو) دفع ذکر کوی یعنی که چرے قرآن نه وے نازل کړے شوے نو دوی به دا عذرونه کړے وے اول عذر دا دے

أَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ، نکره دَپاره دَ خاص قسم ده چه هغه کافر او مشرک دے.
يَاحَسْرَتٰى په اصل کښ ياحسرتي وو دَ يَا په ځائے باندے يئ الف راوړو دَپاره دَ دلالت کولو په استغاثه باندے - جَنْبِ اللّٰهِ دا دَ متشابهاتو نه دے په کیفیت کښ، اګرچه معنیٰ يئ ظاهره ده چه اړخ ته ویلے کیږی او په معنیٰ ظاهری سره محکم دے او دَ تَفْرِيْط نه مراد شرک او کفر او ظلمونه ګناهونه کول دی او دَ الله تعالیٰ حقونو کښ کمے کول او سستی کول دی. وَإِنْ كُنْتُ، ان نافیه دے او لام په لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ کښ په معنیٰ دَ اِلّا دے یا ان مخفف دے دَ مثقل نه. اَوْكُنْتُ کښ اشاره ده چه مسخرے زما طبیعت ګرځیدلے وو السَّاخِرِيْنَ مسخرے کوؤنکے په اهلِ حق پورے یعنی صرف معصیت م نه دَ کړے بلکه په اهلِ طاعت پورے م مسخرے هم کړے دی.
۵۷:. دا دویم عذر دے یعنی که دَ قرآن په رالیږلو سره الله تعالیٰ هدایت دَ حق نه وے کړے نو دے خلقو به عذر پیش کړے وے چه یا الله تعالیٰ تا به مونږ ته هدایت کړے وے لیکن هرکله چه قرآن دَ هدایت دَپاره نازل کړے شویدے نو اوس دوی دا حجت (بهانه) نه شی پیش کولے دلته مراد دَ هدایت نه صرف بیان دَ حق دے په کتاب یا په رسول رالیږلو سره او دَ دے تائید سورة طٰهٰ ۱۳۴ کښ تیر شویدے.

فَاَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ

نو زه به د ے ‏ ‏ دَ ‏ خایشته عمل کوونکو نه ۔ ‏ هاں بلکه یقیناً راغلے وو ‏ تا ته

اٰيٰتِىْ فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ

ایا تو نه زما ‏ نو تکذیب اوکړو تا دَ هغے ‏ او ‏ لوئي د ‏ اوکړه ‏ او د ے ته

مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۹﴾ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ

دَ ‏ کافرانو ‏ نه ‏ ۔ ‏ او ‏ په ‏ ورځ ‏ دَ ‏ قیامت کښں

تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ

دوینے به ته ‏ هغه کسان ‏ چه ‏ دروغ يې ویلی دی په الله تعالیٰ باندے مخونه دَ دوی به

ف۵۸ :- دا دریم عذر دے یعنی که قران نه وے نازل کړے شوے نو چه دوی به دوباره دنیا ته راتلل غوښتلے نو حق به یئے وو او الله تعالیٰ به دا حق منلے وے لیکن هرکله چه قران نازل کړے شوے او دوی ته پوره عمر هم ورکړے شوے دے او قران نه مني نو که قیامت کښں اُوائي چه ما دنیا ته واپس کړه چه څه ایمان راوړم نو دا سوال به يئے نه قبلیږی بلکه ورته به هغه جواب اوشی کوم چه سورة فاطر ۳۷ کښں تیر شوید ے .

فائده :- دا قولونه به دَدوی دَطرفه نه به قیامت کښں واقع کیږی لیکن هیڅ اثر به وریاند ے نه مرتب کیږی او دَ عذر په طور سره به هم نه قبلیږی ځکه دَ قران په رالیږلو الله تعالیٰ دا عذرونه دفع کړیدی او دا یو لطیفه نکته ده چه دَ تَقُوْلَ به اول کښں په درے واړه ځایونو کښں لَا مقدّر دے لیکن ښکاره يئے نه دے ذکر کړے یعنی قول به وی لیکن پشان دَ نیشت به وی ۔ بیا عام مفسرینو ویلی دی چه دا قولونه به دَ هر یو منکر دَ طرف نه وی او قتادة رح ویلی دی چه دَدوی درے قسمونه دی او دَ هر قسم دَطرف نه به جدا جدا قول وی ۔

ف۵۹ :- دا جواب دے دَ دغه قولونو چه هرکله چه دوی به قیامت کښں دغه عذرونه پیش کړی نو دوی ته به الله تعالیٰ اوفرمائي چه دا عذرونه قبول نه دی ځکه چه تاسو ته زما ایا تونه راغلی وو لیکن تاسو انکار کړے وؤ ۔ بَلٰى (سوال) که اوویلے شی چه دا لفظ خو ځکښں په کلام کښں نفی غواړی او دلته نفی نیشته جواب دا دے چه دَ درے واړه قولونو حاصل دا دے چه مونږ دَحق نه خبر نه وو نو جواب به اوشی په بَلٰى سره او بیا دَدوی انکار يئے په درے طریقو سره ذکر کړید ے

أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٦٠﴾
تور وى ـ ايا نشته په جهنم كښې ځائې د اوسيدو د لويئ كونكو د پاره ـ
وَيُنَجِّي اللَّهُ الَّذِينَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ
او بچ به كړى الله تعالى هغه كسانو لره چه ځان ئې ساتلے د شرك نه په سبب د كاميابئ د دوى
لَا يَمَسُّهُمُ السُّوءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦١﴾
نه به رسيږى دوى ته هيڅ تكليف او نه به دوى غمژن وى ـ
اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿٦٢﴾ لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ
الله تعالى پيدا كوونكے د هر څيز دے او هغه په هر څيز باندے ذمه وار دے ـ خاص هغه لره كنجيانے د اسمانونو

په خاتمه ترتيب سره اول تكذيب دے دويم استكبار دے چه د تكذيب په وجه سره پيدا كيږى دريم كفر دے چه د استكبار په سبب سره پيدا شويدے ـ

سلا ـ روستو د ذكر د د فع د بهانو نه تخويف اخروى ذكر كوى يعنى جرم ئې ثابت شو او بهانه ئې ختم شوه نو شرمنده به دى او مخ به ئې تور وى ـ اَلَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ په دے كښې داخل دى مشركان چه الله تعالى ته نسبت د شريك او د ولد كوى او بقائى ويلے دى چه معتزله او هغه خوك چه دروغ وائى او خيال ئې دا وى چه الله تعالى زما د دروغو نه خبر نه دے نو په دے كښې هغوى هم داخل دى ـ

لِلْمُتَكَبِّرِيْنَ تور والے د مخ په دنيا د قيامت كښې ډير ذلت او سپكوالے دے نو دا مناسب دے د حال د متكبر سره ـ

سلا ـ په دے ايت كښې بشارت دے بِمَفَازَتِهِمْ دا ظرف مكان دے مراد ترينه جنت دے يا مصدر ميمى دے يعنى متقيانو ته به د عذاب نه نجات وركوى بسبب د دخول د جنت يا مراد د مفازة نه ايمان او عمل صالح دے يعنى ذكر د مسبب او مراد ترينه سبب دے ـ

لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْءُ تفسير د مفازة دے په اول توجيه سره يا بيان د يُنَجِّى دے ـ

سلا ـ دا دوم دليل عقلى دے او دوه كلى صفتونه دى، پيدا كول د هر څه او حفاظت او ذمه وارى د هر څه او دا سبب د تقوىٰ دے يعنى د الله تعالى نه ويره د دے وجے نه كوى چه په دے صفتونو باندے عقيده لرى ـ

وَالْاَرْضِ ؕ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ
او زمکے دی او هغه کسان چه کفر ئے کړے دے په ایاتونو دَ الله تعالیٰ
اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۶۳﴾ قُلْ اَفَغَیْرَ اللّٰهِ
دغه کسان خاص دوی پوره تاوان والا دی ۔ ته اُوایه ایا سِوا دَ الله تعالیٰ نه
تَاْمُرُوْٓنِّیْٓ اَعْبُدُ اَیُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿۶۴﴾
حکم کوئے تاسو ماته چه بندګی دِ اوکړم اے ناپوهانو ۔
وَلَقَدْ اُوْحِیَ اِلَیْكَ وَاِلَى الَّذِیْنَ مِنْ
او یقیناً وحی کړے شویده تاته او هغه کسانو ته چه ستا نه
قَبْلِكَ ۚ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَیَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ
مخکښ دی که چرے شرک دِ اوکړو خامخا برباد به شی عمل ستا
وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۶۵﴾ بَلِ اللّٰهَ
او خامخا شے به ته دَ تاوان والو نه ۔ بلکه خاص الله تعالیٰ لره
فَاعْبُدْ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِیْنَ ﴿۶۶﴾
بندګی کوه او پیئ همیشه دَ شکر ګذارو نه ۔

س ۶۳ :۔ دا تتم دلیل عقلی دے په دیکښ دریم صفة کلیه ذکر دے یعنی اختیار تصرف دَ هر څه دَ الله تعالیٰ سره دے او چا بیائے چه خاص دَ الله تعالیٰ سره دی نو معلومه شوه چه دَ خزانو دَ ورکولو اختیارمندا هم صرف هغه دے ۔ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ دا صفتونه دَ الله تعالیٰ چه ذکر شول دا داخل دی په ایات الله کښ دَ دے منکر او مشرک تباه کیدونکے دی۔

س ۶۴ :۔ دا تفریع ده په تیر شوے دلیلونو باندے یعنی روستو دَ دے ښکاره دلیلونو نه په توحید فے العبادت باندے بیا هم تاسو ماته دعوت راکوئے دَ عبادت دَ غیر الله دا خو ډیر لوئے جهل دے دا دلیل دے په دے خبره باندے چه څوک دعوت ورکوی شرک ته نو هغه پوره جاهل دے ۔

س ۶۵ ۶۶ :۔ دا علت دَ ماقبل دے یعنی دَ دے مشرکانو جاهلانو دَ امر او دَ دعوت نه ځان بچ او ساته ځکه چه اتفاق وحی دَ ټولو انبیاؤ سره واضح شویدا چه په شرک او سره هر عمل بربادیږی ۔ لَئِنْ اَشْرَكْتَ معنیٰ دا ده چه هر یو نبی ته په خپل خپل وخت کښ دا وحی کړے شویده او دا سے ذکر په سورة انعام س ۸۸ کښ هم دے ۔ دا دلیل دے

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ وَالْاَرْضُ

او قدر نه دے کړے دوی د الله تعالیٰ لائق قدر د هغه او زمکه

جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ

ټوله موټه د هغه به وی په ورځ د قیامت او اسمانونه به

مَطْوِيّٰتٌۢ بِيَمِيْنِهٖ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى

انغښتے شوے وی په ښی لاس د هغه کښې پاک دے او اوچت دے

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَنُفِخَ فِى الصُّوْرِ

د هغه نه چه دوی ورسره شریک جوړوی. او پوکے به اوکړے شی په شپیلۍ کښې

په قباحت د شرک باندے چه د پیغمبر عمل ورته ټینګیدلے نشی نو د نورو خلقو عمل به شرک ته څه رنګ ټینګ شی. او د پیغمبر نه خو ګناه نه کیږی نو لئن اشرکت خطاب په طریقه د فرض تقدیر دے یعنی بالفرض والتقدیر که پیغمبر شرک اوکړو نو عملونه به ئې برباد شی. بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ. هکښې ایت کښې منع کول دو د شرک نه او په دے ایت کښې امر د توحید دے.

او الشّٰکِرِیْنَ نه مراد ظاهرول او دعوت کول د توحید دی.

سکـ۷ - د دے ایت نه تر اخر د سورت پورے پنځم باب دے په دے کښې زجر او تخویف اخروی دے په ذکر د درے حالاتو سره اول فناء د عالم دویم بعث او حساب دریم جزا او بشارت تفصیلیه دے. په دے (سکـ۷) کښې زجر دے مشرکین فی العبادت ته. او قَدَرُ په معنیٰ د تعظیم دے او حق تعظیم د الله تعالیٰ دادے چه بندګی د هغه په داسے طریقه اوکړے شی چه هر قسم شرک نه پاکه بندګی وی او مشرک داسے نه کوی نو معلومه شوه چه مشرکینو الله تعالیٰ نه دے پیژندلے او نه ئې تعظیم کړے دے او نه ئې صفت د هغه کړے دے په لائق طریقه سره. وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ په دے کښې عظمت شان د الله تعالیٰ ذکر کوی. لفظ د جمیعًا دلالت کوی چه مراد د دے نه ټولے (راووه) زمکے دی او د قبض نه مراد رانیول د هغې دی په لاس کښې د دے وجے نه د قیامت تخصیص ئې کړے دے صرف قدرت ترینه مراد نه دے ځکه قدرت ئې په دنیا کښې هم شته نو تخصیص د قیامت ته حاجت نه وو. بِيَمِيْنِهٖ دا د متشابهاتو نه دے په کیفیة کښې او په اعتبار د معنیٰ سره محکم دے یعنی ښے لاس او کیفیة د هغې ربانکے په بل ځ)

فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ

تو مره به شی هغه خوک چه په اسمانونو کښ دی او هغه خوک چه په زمکه کښ دی

إِلَّا مَنْ شَاءَ اللّٰهُ ط ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى

مګر هغه خوک چه غواړی الله تعالیٰ بقا دَ هغوی بیا به پوکے اوکړے شی په صور کښ بل ځل

فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَاَشْرَقَتِ

نو دغه وخت به دوی ولاړ وی ګوری به . او روښانه به شی

الله تعالیٰ پیژنی. بیا دَ قبضے او دَ یمین نه مشبهۀ او مجسمۀ دلیل نیسی چه دَ الله تعالیٰ مشابه او جسم شته دے نو جواب یٔ اوکړو چه سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ یعنی په قدرت او علم کښ دَ هغه شریک او دا رنګ شبیه یٔ نیشته نو عبادت کښ یٔ هم شریک نیشته دے. او هر کله چه اسمانونه زمکے قبض کول علو (راوچت ولے) دَ الله تعالیٰ غواړی دَ دے وجے نه یٔ وتعالیٰ هم ذکر کړے دے په روایت دَ ترمذی کښ دی "چه عائشه رضی الله عنها تپوس اوکړو چه په دا سے حالت کښ انسانان به په کوم ځائے کښ وی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم جواب کښ اوفرمائیل چه دَ جهنم دَ پاسه په پُل باندے به وی".

ف۶۸:- په دے کښ تخویف اخروی دے او په دے کښ سرهٔ دَ ما قبل نه حال دَ فناء دَ عالم ذکر کوی. فَصَعِقَ صعق په معنیٰ دَ مرګ دے او یا په معنیٰ دَ بے هوشئ سره دے دلته په اوله معنیٰ سره غوره دے إِلَّا مَنْ شَاءَ اللّٰهُ په دے کښ ډیر اقوال دی دَ قتاده قول دا دے چه دَ دے مصداق الله تعالیٰ ته معلوم دے مونږ ته نه دے معلوم دویم قول مشهور دا دے چه مراد ترینه هغه خوک دی چه الله تعالیٰ دَ فنا دَ پاره نه دی پیدا کړی لکه حورے غلمان دَ جنّت او ماران لړمانان دَ جهنم دریم قول کښ ملائک مراد دی چه هغوی به نه وفات کیږی. څلورم قول دا دے چه دَ دے نه مراد هغه خلق دی چه مخکښ مړه شویدی او فصعق یٔ دَ دے وجے نه ذکر کړو چه په دغه وخت کښ دَ دوی دَ مرګ سبب به هیبت دَ قیامت وی. او په دویمه معنیٰ سره مراد دَ من شاء الله نه موسیٰ علیه السّلام دے لیکن هر کله چه په دغه حدیث دَ صعق کښ چه لفظ فلا ادری راغلے دے چه نبی صلی الله علیه وسلّم ته به هغه وخت هم علم نه وی چه په موسیٰ علیه السلام باندے صعق راغلے دے او که نه نو استثناء دَ موسیٰ علیه السلام یقیناً داخل کنړل صحیح نه دی.

الْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ

زمکه (د قیامت) په نور د رب د هغې سره او کیخودلے به شي عملنامے

وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ

او را به وستلے شي پیغمبران او شهیدان او فیصله به اوکړیشي

بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۶۹﴾

په مینځ د دوی کښ په حقه سره او په دوی باندے به ظلم نه شي کیدے.

وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ

او پوره به ورکړیشي هر نفس ته بدله د هغه عملونو چه کړیدی او الله تعالیٰ ښه پوهه دے

بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۰﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په هغه کارونو چه دوی ئے کوی. او به شړلے شي کافران

اودَدے ایت نه صراحۃً معلومه ده چه شپیلئ به دوه کرته وهلے کیږی اول دَ فنا دَپاره او هغې ته فزع هم وائي لکه سورة نمل سکـ۸۷ کښ دی او صعق ورته هم ویلے کیږی او دویمه دَ بعث بعد الموت دَپاره ده. او دا دواړه په سورة یٰس کښ سـ۴۹ سـ۵۱ هم ذکرشویدی.

سـ۶۹ سـ۷۰:- په دے کښ دَ ورځ دَ بعث اودَحساب بعض حالت ذکر کوی.

بِنُوْرِ رَبِّهَا نورصفت دَ الله تعالیٰ دے لکه چه سورت نورکښ تیرشویدے بغیر دَ تشبیه او تمثیل نه. الْكِتٰبُ مراد ترینه جنس دے یعنی عملنامے

وَالشُّهَدَآءِ دا تعمیم دے روستو دَ تخصیص نه یعنی انبیاء به دَ شهادت دَپاره حاضرکړیشي نو دارنګ نورشهادت ورکوونکی ملائک مومنان او اندامونه دَ مجرمانو به هم حاضرکړیشي. وَهُوَ اَعْلَمُ تاکید دے دَ وفیت دَپاره یعنی پوره به ځکه ورکړیشي چه دَ الله تعالیٰ نه هیڅ خیزنشي پټیدلے او دارنګ په دے جمله کښ دفع دَ وهم ده چه الله تعالیٰ حساب کوی او ګواهان پیش کوی نو ایا هغه ناخبره دے نو جواب اوشو په وَهُوَ اَعْلَمُ سره یعنی حساب او پیشی دَګواهانو دَپاره دَ الزام دَ حجت ده.

إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ

جهنم طرف ته ډلې ډلې ترڅو پورې چه راشي جهنم ته پرانيستې شي

أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ

دروازې د هغې او اوبه وائي دوی ته څوکیداران د هغې ايا نه وو راغلي تاسو ته

رُسُلٌ مِّنكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ رَبِّكُمْ

رسولان ستاسو نه چه لوستل به یې په تاسو باندې آيتونه د رب ستاسو

وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ۚ قَالُوا۟

او ډيره دركوله تاسو ته د ملاقات د ورځې ستاسو نه چه دا ده دوی به وائي

بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ

هاں (ولې نه) ليكن پوره شوېوه فيصله د عذاب

عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧١﴾ قِيلَ ٱدْخُلُوٓا۟ أَبْوَٰبَ

په كافرانو باندې . او په ويلې شي ورننوځئ دروازو

سلے :- په دے كښې تقسيم دَ جزا او سزا ذكر كوى روستو دَ حساب او دَ شهادت نه نو په دے ايت كښې تخويف اخروى دے په ذكر كولو دَ حال دَ منكرينو سره. زُمَرًا هغه جماعتونو ته ويلے كيږى چه دَ هغوى په مينځ كښې تفرقه ښكاره وى. كفر اگر چه ملتِ واحده دے ليكن په اقسامو دَ هغے كښې ډير فرق دے.
فُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا سورة حجر سـ۴۴ كښې تير شوے دى چه اووه دروازے دى او په دے كښې اشاره ده چه دوى ته دَ مخكښې نه دروازے نه پرانزى دا دَ دوى تذليل دے. وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ په دے كښې مقصد ملامته كول دَ كافرانو دى دا هم لوئے عذاب دے. لِقَآءَ يَوْمِكُمْ يعنى يوم بعثكم او يوم دخولكم النار. كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ مراد ترينه فيصله ده په تقدير كښې دَ دوى دَ كفر او دَ عذاب يا هغه كلمه ده چه سورة صٓ سـ۸۵ كښې ذكر شوے ده.
عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ دَ ضمير په ځائے اسم ظاهر ذكر كړو اشاره ده چه علت دَ عذاب كفر دَ دوى دے.

جَهَنَّمَ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَی
دَ جهنم ته همیشه به یئ په هغې کښې نو ناکاره دے ځائے دَ اوسیدلو
الْمُتَكَبِّرِیْنَ ﴿۷۲﴾ وَسِیْقَ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا
دَ تکبر کوونکو - او روان به کړے شي (دعزت سره) هغه کسان چه ډیره کړیده
رَبَّهُمْ اِلَی الْجَنَّةِ زُمَرًا ۖ حَتّٰۤی اِذَا جَآءُوْهَا
دَ رب خپل نه جنت ته ډلے ډلے ترهغه پورې چه کله راشي هغې ته
وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا
او پرانستلے شوي به وي دروازے دَ هغې او اوبه وائي دوي ته څوکیداران دَ هغې
سَلٰمٌ عَلَیْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِیْنَ ﴿۷۳﴾
سلام دے دوي په تاسو پاک یئ تاسو خوشحاله اوسئ تاسو نو داخل شئ (هغې ته) همیشه به یئ تاسو.

۷۲:- روستو دَ الزام دَ حجت نه په دوي باندے حکم دَ دخول جهنم دے لفظ قِیْلَ دَ عموم دَ قائلانو دَپاره دے یعني الله تعالیٰ او ټول ملائک به داسے اُوائي - خٰلِدِیْنَ په وخت دَ داخلیدلو کښې خلود نشي کیدا ے نو مراد دَ دے نه اندازه کول او اراده کول دَ خلود دي په دغه وخت کښې - الْمُتَكَبِّرِیْنَ علت دَ عذاب کفر دے او علت دَ تذلیل چه په دے ایاتونو کښې ذکر شو هغه تکبر دَ دوي دے دَ دے وجے نه داصفت دَ دوي یئ ذکر کړو.

۷۳:- دا بشارت اخرویه تفصیلیه دے وَسِیْقَ مخکښې هم دالفظ وو لیکن هلته سوق دَ ذلت او دَ اهانت وو او دلته سوق دَ اکرام او دَ عزت دے او اکثر مفسرینو ویلي دي چه دلته سوق دَ سورلو دَ جنتیانو مراد دے -
زُمَرًا دوي هم مختلف امتونه دي دَ هر رسول جدا جدا امت دے یا مراد ترینه مختلف عملونو واله دي یعني شهیدان او علماء او دعوت و تبلیغ کوونکي وغیرهم په چا چه کوم صفت غالب وي نو په هغه صفت کښې به روان کړیشي وَفُتِحَتْ واو عطف دے په مقدر (ریبی) باندے او جواب دَ اِذَا ئې حذف کړے دے چه دلالت اوکړي په عموم باندے (یعني هرکله چه دوي راشي نو خوشحاله به کړے شي په ډیرو نعمتونو سره) او خاص په نعمت دَ فتح الابواب سره - او دا اشاره ده دَ دوي (پاتے په بل مخ)

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي صَدَقَنَا وَعْدَهٗ

او دوی وائی ستائینه دَ خدائے اللہ تعالیٰ لره ده هغه ذات دے چه رشتینی کړے دَه موږ سره وعده خپله

وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ

او میراثه کښ راکړه موږ ته زمکه دَ جنت ځائے نیسو موږ دَ جنت نه

حَيْثُ نَشَآءُ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۷۴﴾

کوم ځائے چه موږ غواړو نو ښهٔ دے ثواب دَ ښهٔ عمل کوونکو۔

اکرام او عزت ته چه هغکښ دَ راتللو ته په دروازے کُهلاؤ وی لکه سورة ص ۵۰ کښ تیر شویدی او بعض اهل لغت وائی دی چه دا واو ثمانیه دے یعنی دَ عربو عادت دا دے چه دَ اٹه عدد په مقام کښ واو ذکر کوی گویا که دَ یو نوعه دَ عدد په سیځه پاتے ختم شوه نو نوے عدد دَ اتو ته شروع شو او دروازے دَ جنّت اٹه دی لکه چه احادیث صحیحه سره ثابت شویده۔ طِبْتُمْ پاک وئے تاسو په دُنیا کښ دَ توحید او دَ ایمان په عقیدے او په نیک اعمالو سره۔ یا دا جمله دعائیه ده په شان دَ سلام علیکم۔

۷۴ .. دا هم په بشارت کښ داخل دے او دا عطف دے په پټ لفظ باندے (دخلوها وقالوا)۔ وَعْدَهٗ او دا وعده ذکر ده په سورة مریم ۶۳ کښ۔
الْاَرْضَ مراد دَ دے نه زمکه دَ جنت ده او میراث ورته په دے وجه ویلے کیږی چه حاصلیږی بغیر دَ داسے محنت نه چه دَ هغے سره مناسب وی۔ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ یعنی دهٔ لره به په جنّت کښ دومره وسعت او فراخی ورکړے شی چه په هغے کښ به په ازادئے سره گرځی دا نه چه دَ بل چا حصے ته به ورځی۔ حَيْثُ نَشَآءُ په دے صیغه دَ متکلم کښ اشاره ده چه په جنّت کښ به هر څوک خالص دَ اللہ تعالیٰ دَ رضا تابع وی۔ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ الف لام په دے کښ عهدی دے یعنی عمل کوونکی په موافق دَ رضا دَ اللہ تعالیٰ سره" او په صفت ذکر کولو کښ ترغیب دے عمل کولو ته۔

وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ
او وینې به ته ملائکو لره ګېره جوړوونکي چاپېره
الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ
د عرش نه تسبیح به وائي سره د ستائینې د رب د دوی نه
وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ
او فیصله به اوکړیشي په مینځ د دوی کښې په حقه سره او ویلې کیږي به
الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۵﴾
چه صفتونه د خدائیتوب د یو الله تعالیٰ دی چه رب د عالمینو دے۔

۷۵:۔ په دے کښې عظمت او هیبت د ورځې د قیامت ذکر کوی مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ حرف د مِنْ کښې اشاره ده چه په ټول عرش باندے ملائک احاطه نشي کولے د وجې د ډیر عظمت د عرش نه۔ وَقِيْلَ په دے صیغه کښې اشاره ده عموم د قائلینو ته یعنی ټول مؤمنان او ملائک به حمد د الله تعالیٰ وائي۔ اشاره ده چه په جنت کښې لوے تلذذ (مزه اخستل) ذکر د الله تعالیٰ دے په تسبیح او حمد ویلو سره۔ (اللهم اعنّي على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك)

تفسیر د سورة زمر په حمد د الله تعالیٰ سره ختم شو۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة المؤمن۔ او دَ دے بل نوم سورة غافر او بل سورة الطول دے

دَ دے سورت نه تر سورة احقاف پورے اوؤ سورتونه په حوامیمو سره مشهور دی۔ او دا دویم باب دے او دَ دے په فضیلت کښ ډیر روایات وارد دی۔ دَ مستدارمی روایت دے چه حوامیم ته عرائس القران ویلے شی دَ انس او ابن مسعود رضی الله عنهما نه قرطبی او خطیب وغیره نقل کړے دی مرفوعًا چه حوامیم دیباج دَ قران دے او بل روایت ئے نقل کړے دے چه دَ هر څیز ثمره وی او ثمره دَ قران ذوات حٰم دی او بل روایت کښ دی دا باغیچے دی خائسته شنے یو بل سره نزدے پیوست نو څوک چه غواړی چه دَ جنت په باغیچو کښ او سرېږی نو دا سورتونه دِ لولی۔ خازن او خطیب دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت ذکر کړے دے چه دَ هر څیز مغز (خلاصه) وی او دَ قران مغز حوامیم دی۔ نو که دا روایات صحیح ثابت شی نو دلالت په او کړی په عظمت دَ دے سورتونو باندے۔

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه سورة زمر کښ رد دؤ په شرک فی العبادة باندے نو په دے سورت کښ رد دے په شرک فی الدعاء باندے چه هغه اهم جز دَ عبادت دے دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ تخویف دنیوی اجمالی وؤ او په دے سورت کښ ئے تفصیل دَ هغے دَ پاره واقعه دَ فرعونیانو ذکر کوی۔ دریمه وجه دا ده چه دَ هغه سورت په اول کښ تعریف او مقصد دَ قران ئے ذکر کړو نو په دے سورت کښ دَ قران عظمت ذکر کوی۔

دعویٰ دَ دے سورت۔ رد دے په شرک فی الدعا باندے او اثبات دَ توحید فی الدعاء دے او هغه ئے اوؤه کرته ذکر کړے په ۱۲ ۱۴ ۲۰ ۴۳ ۶۰

الْعَلِيْمِ ﴿٢﴾ غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ

پوهه دے. بخنه کوونکے دَ گناه دے او قبولونکے دَ توبے دے

شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِى الطَّوْلِ ۖ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

سخت عذاب ورکوونکے دے خاوند دَ طاقت دے نیشته واکدار بیدا

هُوَ ۖ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿٣﴾ مَا يُجَادِلُ فِىٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ

دَ هغه نه خاص هغه ته دی گرځیدل. جگړه نه کوی په آیاتو دَ الله تعالیٰ کښ

ربط ۲۵ سټ کښ او دا په پنځه طریقو سره دے. اول په رد دَ جمیع اقسامو دَ شرک سره دویم په انه عقلی دلیلونو سره دریم په واقعه دَ رجلِ مؤمن سره څلورم په اهلاک دَ فرعونیانو سره په سبب دَ انکار دَ هغوی دَ توحید نه او پنځم په ذکر دَ عظمت دَ دے مسئلے سره۔

خلاصه دَ سورت داده چه دا سورت تقسیم دے درے بابونو ته. اول باب تر ۲۱ پورے دے. په دے کښ څلور عنوانات دی او دا تمهید دے دَ پاره دَ دعوے دَ سورت او دَ هغے عظمت ذکر کوی اول ترغیب دے لے القرآن په ذکر دَ نهه صفاتو دَ الله تعالیٰ سره دویم عنوان زجر او تخویف دنیوی او اخروی هغه کسانو ته چه په قرآن او په دعوی دَ دے سورت کښ جدال کوی دریم بشارت دے مؤمنانو ته په ذکر دَ دُعاگانو دَ ملائکو سره دَ پاره دَ مؤمن څلورم تخویف اخروی منکرانو ته او سبب دَ عذاب ذکر کوی چه انکار عن التوحید دے۔

(تفسیر)

سا ۱. دا دَ مقطعاتو نه دے دَ دے بحث مخکښ بار بار تیر شویدے غوره داده چه دا اشاره ده اعجاز دَ قرآن کریم ته دَ دے وجے نه ورپسے عظمت دَ قرآن کریم ذکر کوی۔

س ۲ س ۳. په دے کښ ترغیب دے قرآن ته او بیان دَ عظمت دَ هغهٔ دے په ذکر کولو دَ نهه صفاتِ عظیمه دَ نازلوونکی چه الله تعالیٰ دے او دا اول عنوان دے دَ څلورو عنواناتو نه چه خلاصه کښ ذکر شویدی. الْعَزِيْزِ کښ اشاره ده صفاتو دَ قدرت ته الْعَلِيْمِ کښ اشاره ده صفاتو دَ علم ته. تَنْزِيْلُ مبتدا ده او مِنَ اللّٰهِ خبر دے غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ دا دواړه صفات دَ توحید والو سره تعلق لری. التَّوْبِ جمع دَ توبة ده یا مصدر دے. (باقی په بل مخ)

إِلَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ

مګر کافران نو دهوکه دې نه کړي تا لره ګرځیدل د دوی

فِي الْبِلَادِ ④ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ

په ښارونو کښې . تکذیب کړے وو مخکښې د دوی نه قوم

شَدِيدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ دا تعلق لري د کافر او مشرک سره . الطَّوْلِ په معنیٰ د غنا سره یعنې مستغنی دے د مشرکانو نه او طَوْلِ فضل ، انعام او قدرت ته ویلے کیږي.
فائده :- د غافر او قابل په مینځ کښې ئې واؤ د جمع ذکر کړے دے اشاره ده چه د مؤمن تائب د پاره ئې دوه قسمه رحمتونه جمع کړیدي او د مشرک د پاره ئې هر یو تخویف مستقل ذکر کړے دے. لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ دا جمله ئې په طور د صفت د الله تعالیٰ سره ذکر کړیده او په منزله د علت ده د ما قبل د پاره د دے وجے نه واؤ ئې عاطفه نه دے ذکر کړے . إِلَيْهِ الْمَصِيرُ دا صفت تخویف او بشارت دواړو ته شامل دے قرطبي او خطیب شربیني وغیره واقعه د عمر رضي الله عنه لیکلې ده چه هغه یو شرابي ته خط کښې دا ۲ آیاتونه اولیکل هغه ته چه خط اورسیدلو نو ژړا ئې اوکړه او توبه ئې اُویستله او عمر رضي الله عنه خلقو ته اُوئیل چه یو رور مو په لغزش کښې پریوتے وي نو دا سے عمل ورسره کوئ او د توبے او د مغفرت دُعا ورله کوئ او شیطان ته ئې مه پریږدئ.
سؔ :. دا زجر دے مجادلینو ته او دا دویم عنوان دے چه په قرآن او د دے په مقصد کښې چه توحید دے خوک جګړے کوي نو هغه کافر وي . او حدیث مرفوع کښې ذکر دي چه جدال په قرآن کښې کفر دے او بل حدیث کښې روایت دے چه دا جدال سبب د هلاکت د مخکنو خلقو دے . او مراد د جدال نه طعن کول په قرآن کښې چه دا سحر دے شعر دے کهانت دے وغیره او په دے باندے شبهات او اعتراضونه کول دي . او دے ته جدال بالباطل ویلے کیږي او په دے سورت کښې دا په مختلف تعبیراتو سره ذکر دے په سؔ ۳۵ ۵۶ کښې.
او د دے جدال مقصد د حق مقابله کول او هغه ختمول دي او هر چه جدال بالحق دے هغه صفت د صالحینو دے لکه جَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ او مراد د هغے نه شبهات او شکونه د اهل باطل دفع کول او په هغوي باندے الزامي دلیلونه قائمول دي په نرمه طریقه سره او دا خو جهاد فے سبیل الله دے.
فَلَا يَغْرُرْكَ الخ په دے کښې جواب د وهم دے کہ دا مجادلین کافر وي نو په

نُوْحٍ وَّالْاَحْزَابُ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۪ وَهَمَّتْ

دَ نوح علیه السلام او نورو مخالفو ډلو روستو دَ دوی نه او پوخ قصد کړے وؤ

كُلُّ اُمَّةٍۢ بِرَسُوْلِهِمْ لِيَاْخُذُوْهُ وَجٰدَلُوْا

هر امت په باره دَ رسول خپل کښې دَ پاره دَ دې چه اونیسی هغه (دَ قتل کولو دَ پاره) او جګړه کوله دوی

بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ فَاَخَذْتُهُمْ ۣ قف

په باطل سره دَ پاره دَ دے چه اوتوړوی په دے سره حق لره نو اونیول ما هغوی

فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ۝ ۵ وَكَذٰلِكَ حَقَّتْ

نو څه رنګ شو عذاب زما ۔ دغه شان پوره شوه

كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ

یوه فیصله دَ رب ستا په کافرانو باندے چه دوی

دنیاکښې دَ دوی مزے او مالداری ولے ده جواب اوشو چه دا مزے نه دی بلکه تَقَلُّبُ دے۔ او باب تفعّل کښې معنیٰ دَ تکلف ده یعنی اګرچه دَ دوی جائیداد ونه او تجارتونه او لښکرے وغیره ډیردی لیکن دا سبب دَ پریشانے او دَ تکلیفونو دے اطمینان ورله نیشته۔

ﷺ۔ دا تخویف دنیوی دے په ذکر دَ مجادلینو تیرشوؤ سره او دَ عذاب دَ هغوی سره او دَ هغوی درے مرضونه ئے ذکرکړے دی یو تکذیب او دویم تکلیف ورکول رسولانوته دریم جدال بالباطل۔

لِيَاْخُذُوْهُ مراد دَ دے نه قیدول او قتل کول او نور تکلیفونه ورکول دی۔

بِالْبَاطِلِ مراد دَ دے نه شبهاتِ باطله دی چه هیڅ حقیقت ئے نیشته۔

لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ دا مقصد دَ جدال دَ دوی دے۔ دَ حَض په اصل کښې خوئیدلو ته وئیلے کیږی نو مراد ترینه زائله کول او ختمول دَ حق دی۔

أَصْحٰبُ النَّارِ ﴿۶﴾ اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ

اوسیدونکو دَ اُور دی همیشه ۔ هغه ملائک چه پورته کوی عرش دَ الله تعالیٰ

وَمَنْ حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

او هغه چه چاپیره دَ هغه نه دی تسبیح وائی سرهٔ دَ ستائینے دَ رب دَ دوی نه

وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ

او ایمان راوړی په هغه باندے او بخنه غواړی دَپاره دَ

اٰمَنُوْا ۚ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا

مؤمنانو (وائی دوی) اے ربه زموږ راګیر کړے دے تا هر څیز په رحمت او علم کښ

فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ

نو بخنه اوکړه هغه چاته چه توبه یئ کړے ده دَ شرک نه او تابعداری کړے ده ستا دَ لارے

وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿۷﴾ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ

او بچ اوساتے دوی لره دَ عذاب دَ اُور نه ۔ اے ربه زموږ او داخل کړے دوی

ـــ: په دے کښ تخویف اخروی دے ۔ وَكَذٰلِكَ یعنی "څه رنګ چه اونیول
مونږ دوی لره په عذاب سره"۔ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ لزوم دَ کلمے نه مراد په تقدیر کښ
فیصله کول دی یا صادور دَ فیصلے دَ الله تعالیٰ دے په وخت دَ کولو دَ دوی کښ ۔
اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ دابیان دَ کلمهٔ دے یا مراد دَ کلمے نه (قول دَ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ دے
او اِنَّهُمْ کښ باءِ سببیه مقدّر دے یعنی په سبب دَ دے چه دوی مستحق دَ
اُور دی ۔
ـــ ـــ ۹ :۔ په دے ایاتونو کښ بشارت دے مؤحدینو ته روستو دَ تخویف دَ
منکرینو نه او دا دریم عنوان دے او هرکله چه یئ دَ کافرانو دشمنی ذکر کړه
دَ مؤمنانو سره نو اوس ذکرکوی دوستانه او شفقت دَ ملائکو په مؤمنانو باندے
دَپاره دَ تسلیٔ دَ دوی ۔ اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ تخصیص دَ دے ملائکو یئ دَ دے
وجے نه اوکړو چه دوی ډیر مقرب او لوئے شان او قوت والا دی حدیث دَ
جابر رضی الله عنه کښ مرفوعًا راغلے دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
دَ حملة العرش دَ ملائکو نه دَ یو ملک حال ذکر کړو چه دَ غوږ دَ نرمے نه یئ تر
اوګے پورے دَ اوؤ سوؤ کلونو مزل دے ۔ او دَ دے ملائکو صحیح عباد الله تعالیٰ

جَنّٰتِ عَدْنِ الَّتِیْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ

جنتونو د دیره کیدلو ته هغه چه تا وعده کړې ده د دوی سره او هغه څوک چه جوړ وي (د دوی سره)

مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّیّٰتِهِمْ ؕ

د پلارانو د دوی نه او د بیبیانو د دوی نه او د اولاد د دوی نه

اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۝۸ وَقِهِمُ السَّیِّاٰتِ ؕ

یقینًا ته زور اور حکمتونو والا یې - او بچ ساتې دوی لره د ناکاره عقوبتونو

وَمَنْ تَقِ السَّیِّاٰتِ یَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ؕ

او هغه څوک چه تا بچ ساتل د ناکاره عقوبتونو نه په دې ورځ تو یقینًا رحم اوکړو تا په هغه باندې

ته معلوم دے ځکه چه په دے کښې صحیح حدایث مرفوع نیشته. یُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ دا ذکرد عبادت او د طاعت د ملائکو دے. وَیُؤْمِنُوْنَ به دا علت دے دپاره د تسبیح او حمد او په نه مراد د الله تعالیٰ توحید دے وَیَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اشاره ده چه دوی خیرخواه د مؤمنانو دی نو معلومه شوه چه اشتراک په عقیده د توحید کښې سبب د محبت او د نصیحت (خیرخواهئ) دے او په دے کښې ترغیب دے ایمان راوړلو ته رَبَّنَا دا ذکر د دُعا د مغفرت دے او لفظ د رَبَّنَا وسیله ده د نوم د الله تعالیٰ په عامو دُعاګانو کښې اشاره ده چه یا الله ته زموږ مُربّي او محسن یې نو په موږ باندے احسان د اجابت د دُعا اوکړے وَسِعْتَ كُلَّ شَیْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا دا هم وسیله ده په دوه صفتونو د الله تعالیٰ سره ځکه چه د اجابت د دُعا دپاره رحمت عظیمه او علم په حالاتو د دُعا کوؤنکي باندے ضروري دے په اصل کښې فاعل د وسعت رحمت او علم دے لیکن دلته کښې فاعل یې الله تعالیٰ اوګرځوؤ او رحمت او علم یې په طریقه د تمیز سره ذکر کړو اشاره ده چه الله تعالیٰ په توسیع د رحمت او د علم کښې بے اختیاره نه دے او دا رنګ اشاره ده په تمیز بعد الابهام کښې تاکید او مبالغه د دے دواړه صفتونو ته. وَاتَّبَعُوْا سَبِیْلَكَ په تَابُوْا کښې اشاره ده عقیدے د توحید او اجتناب عن الشرك ته او په وَاتَّبَعُوْا کښې اشاره ده عمل صالح ته. وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِیْمِ په دے کښې اشاره ده مغفرت کامله ته یعني داسے مغفرت ورته اوکړے چه د عذاب هیڅ استحقاق په کښې پاتے نه شي. رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ هرکله چه مخکښې یې ازاله د عذاب ذکر کړه نو اوس دُعا د ثواب کامله ذکر کوي. وَمَنْ صَلَحَ الآیة یعنې چا چه د مؤحد (پاتے په بل مخ)

وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ

او دا کامیابی لویه ده یقینًا هغه کسان

كَفَرُوا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللَّهِ أَكْبَرُ مِن مَّقْتِكُمْ

چه کفر ئې کړے دے آواز به ورکیدیشی دوی ته (په قیامت په ورځ) چه خامخا غصه دَ الله تعالیٰ ډیره ده دَ غصے ستاسو ته

أَنفُسَكُمْ إِذْ تُدْعَوْنَ إِلَى الْإِيمَانِ

تن په خانو ستاسو باندے کله چه بللے کیدلے به تاسو ایمان ته

سره په توحید کښ موافقت کړیدے پلار، ښځے اولاد اگرچه ځا هغه ئې دَ هغه کس پشان نه ده کړے لیکن دوی لره به دَ هغه دَ پوره خوشحاله کولو دَ پاره جنت ته داخل کړے شي او دارنګ سورة رعد ۲۳ کښ تیر شویدی. وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ مراد ترینه عذاب دَ ګناهونو دَ هغوی دے نو سوال دا دے چه دا خو تکرار دے ځکه چه مخکښ هم وقهم عذاب الجحیم ذکر شویدے جواب دا دے چه دلته ضمیر آباء او ازواج او ذریات ته راجع دے او مخکښ ضمیر اصل موحدانو ته راجع وؤ. یا مراد وقایة دَ سیئات نه په دنیا کښ بچ ساتل دی دَ ګناهونو نه.
يَوْمَئِذٍ په اوله معنیٰ ورځ دَ قیامت او په دویمه معنیٰ دنیا مراد ده.
دَ مطرف قول دے چه ډیر خیرخواه په بندګانو دَ الله تعالیٰ کښ دَ بندګانو دَ پاره ملائک دی په سبب دَ دے آیاتونو او بدخواه په مخلوق کښ دَ مخلوق دَ پاره شیطان دے. او دارنګ په دے آیاتونو کښ دَ مؤمنانو دَ پاره ډیر لوئے بشارت دے چه که یو ملک دُعا او غواړی نو مستجاب ده نو چه ټول ملائک غواړی نو هغه خو ضرور قبلوی.
او خلف بن هشام ویلی دی چه ما په سلیم بن عیسیٰ باندے قرآن لوستلو چه دے آیت ته را ورسیدم نو هغه اوژړل او وئې ویل چه اے خلفه مؤمن دَ الله تعالیٰ په نیز څومره ګران دے چه په بستره باندے اوده پروت وی او ملائک ورله مغفرت غواړی دا قرطبی روایت راوړے دے.

تَكْفُرُوْنَ ⑩ قَالُوْا رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ

تاسو به کفر کوؤ ۔ دوی به اُوائی اے ربه زمونږ مرګ راوستلے دے تا په موتږ باندے دوه کرته

وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوْبِنَا

او ژوندي دے راکړیدے دوه کرته نو اقرار کوو مونږ په ګناهونو خپلو باندے

فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ ⑪

نو آیا شته دے وتلو ته څه لار ۔

سلا :- دا تخویف شدید دے کافرانو مجادلینو ته روستو دَ عظمت شان دَ مؤمنانو نه او دا خلورم عنوان دے ۔ يُنَادَوْنَ آواز به ورکیدے شي دَ قیامت په ورځ او دوی به په جهنم کښ وی او ځان ته به ډیر غصه وی ۔ لَمَقْتُ اللّٰهِ لام ئې ابتدائیه دَ دے وجے نه ذکر کړو چه ینادون کښ معنیٰ دَ قول پرته ده او دَ مقوله په سر کښ لام ابتدائیه داخلیدے شي ۔ مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ او دا غصه دَ دوی په قیامت او په جهنم کښ ده اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ دا متعلق دے په لمقت الله پورے یعنی دَ الله تعالیٰ غصه په تاسو باندے په دنیا کښ وه چه کله به تاسو ته دعوت او تبلیغ دَ ایمان کیدے شو او تاسو به انکار کوؤ، او دا غصه دَ الله تعالیٰ ستاسو دَ دے غصے نه ډیره لویه ده یعني تاسو الله تعالیٰ لره ډیر غصه کړے او خفه کړے دے په انکار کولو ستاسو دَ توحید نه او س به ستاسو څه غصه وی ؟

فائده :- مقت سخت غضب او بغض ته ویلے کیږی او دا صفت دَ الله تعالیٰ دے څه رنګ چه دَ هغه دَ شان سره خائیږی تاویل ته هیڅ ضرورت نیشته۔

سلا :- دا جواب دَ هغوی دے په طریقه دَ اقرار جرم سره دَ دے دَ پاره چه دَ جهنم نه اوځی او دُنیا ته واپس لاړشی هاں پدے آیت کښ دَ ډیر هیبت دَ عذاب دَ وجے نه دُنیائې هیره شویده نو هغے ته دَ واپس کیدلو ذکر نه کوی او په بل حالت کښ دوی وائي هل الیٰ مرد من سبیل شوریٰ سکے فارجعنا نعمل صالحا سورة السجده سلا یا لیتنا نرد انعام سکے اخرجنا نعمل صالحا فاطر سکے

فائده :- په دے آیت کښ دوه مرګونه او دوه ژوندونه ئې ذکر کړے دی لکه چه سورة بقره سلا کښ ذکر دی ۔ په دے کښ اول قول دا دے چه دَ اول مرګ نه مراد وجود دَ دوی وؤ په شکل دَ نطفے سره په رپاړے په بل مخ)

ذٰلِكُمْ بِأَنَّهٗٓ إِذَا دُعِيَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ ۚ
داد دے وجے نه چه کله به بلله کیدے شو الله تعالیٰ په یو والی سره نو تاسو به انکار کوؤ
وَإِنْ يُّشْرَكْ بِهٖ تُؤْمِنُوْا ۚ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ
او که چرے شرک به کیدے شو د هغه سره نو تاسو به ایمان راوړو نو اختیار د یو الله تعالیٰ دے
الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ ﴿۱۲﴾ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمْ
چه اوچت دے او لوے دے. خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه ښائی تاسو ته

ارحامو د مائیندو کښ او د دویم مرګ نه مراد مشهور مرګ دے او د اول حیات نه مراد روح اچول دی په بدن کښ په ارحامو د مائیندو کښ او بیا د نیا ته بهر راوتل او دویم ژوند روح اچول دی په دغه بدن کښ په ورځ د قیامت او هغے ته بعث بعد الموت ویلے کیږی او دا سے ترتیب په سورة مؤمنون د سل ۱۲ نه تر سل ۱۶ پورے ذکر کړے دے. په دے قول کښ په نطفه باندے د میت اطلاق په طریقه د تشبیه یا مجاز سره شوے دے او دا قول د ابن عباس او ابن مسعود او قتاده او ضحاک نه مفسرینو نقل کړے دے او دا غوره دے په دے کښ د قبر د حیات ذکر نه دے شوے ځکه چه هغه حیات حقیقیه نه دے. دویم قول دا دے چه اول مرګ مشهور مراد دے او اول حیات په قبرونو کښ مراد دے بیا دویم مرګ په قبر کښ او دویم حیات په آخرت کښ مراد دے لیکن په دے قول باندے اشکال دا دے چه اول ژوند چه د نړۍ او حقیقی ژوند دے د هغه ذکر پریخودل او حکمی ژوند ذکر کول بعیده خبره ده دویم دا چه په دے توجیه باندے درے حیاته معلومیږی دریم دا ده چه په قبر کښ د حیات نه روستو بیا مرګیدلو د پاره دلیل صریح صحیح نیشته.

سل ۱۲:۔ ذٰلِكُمْ کښ اشاره ده پټ عبارت ته یعنی (لیس الی خروج من سبیل) او د دے علت ذکر کوی چه انکار عن التوحید دے۔ وَحْدَهٗ مصدر مضافه دے په موضع د حال کښ دے یعنی متوحدًا و منفردًا یا منصوب دے په ظرفیت سره یعنی علی وحدته۔ وَإِنْ يُّشْرَكْ بِهٖ دا مضارع په معنی د ماضی ده عطف دے په دعیٰ باندے یا مراد دا دے چه روستو د واپس کیدلو نه د نیا ته (بالفرض) که چرے شرک کیدے شی نو تاسو ئے بیا هم منئ نو دا پشان د "لَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ" (انعام سل ۲۸) دے۔ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ دا جمله هم علت دے چه تجا

اٰيٰتِهٖ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ؕ
دلیلونه او رالېږي تاسو لره دَ اسمان نه روزي
وَمَا يَتَذَكَّرُ اِلَّا مَنْ يُّنِيْبُ ﴿۱۳﴾
او نصیحت نه قبلوي مګر هغه څوک چه ورګرځي الله تعالیٰ ته۔
فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ
نو حاجتونه غواړئ دَ الله تعالیٰ نه خالص کوونکي يئ هغه دَپاره بلنه کول اګرچه بد ګڼړي
الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ
کافران۔ (الله تعالیٰ) اوچتوونکے دَ درجو دے عرش والا دے

نیشته دَ دے وجے نه چه اختیار دَ الله تعالیٰ دے او رد دے په مشرکانو باندے هغوی عقیده لره چه زموږ شفعاؤ ته اختیار دے موږ به بچ کوي دَ تکلیف نه په دُنیا او آخرت کښ۔

سـ۱۳ :۔ دا دلیل عقلي دَ توحید دے او علّت دے دَپاره دَ دے چه فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ او دفع دَ عذر دَ مشرکانو ده په اظهار دَ دلیلونو سره په دُنیا کښ۔ اٰيٰتِهٖ مراد دَ دے عقلي دلیلونه په محسوساتو دَ دنیا سره اسمانونه، زمکے، غرونه، نمر، سپوږمے، ستوري، هوائګانے، وریځے، بارانونه، اونے او بوټي وغیره دي۔ رِزْقًا مراد ترینه سبب دَ رزق دے یعنې باران۔ اٰيٰتِهٖ کښ اصلاح او قوام دَ دین ته اشاره ده او رِزْقًا کښ اصلاح او قوام دَ بدن ته اشاره ده۔ وَمَا يَتَذَكَّرُ یعنې تذکر په طریقه دَ توحید سره موقوف دے په طلب دَ حق باندے۔

سـ۱۴ :۔ دَ دے آیت نه تر سـ۱۵ پورے دویم باب دے په دے کښ دعوىٰ دَ سورت ده او عظمت دَ هغه دعوے دے په ذکر دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ سره دَ تخویف اخروي او دنیوي نه دَپاره دَ منکرینو دَ دغه دعوے تر سـ۲۲ پورے بیا مثال دَ تخویق په واقعه دَ فرعون سره او تشجیع په تبلیغ دَ توحید باندے په مکالمه دَ رجلِ مؤمن سره او په آخر کښ تخویف اخروي په ذکر دَ براءت دَ متبوعینو دَ اتباعو خپلو نه په شرک او کفر کښ۔

په دے (سـ۱۴) کښ دعوىٰ دَ سورت ده یعنې امر په توحید فی الدعاء او رد دَ شرک فی الدعا او فاء دَ دے وجے نه راؤړد چه دا تفریع ده په تیر شوے عنوانانو باندے۔ مُخْلِصِيْنَ لَهُ اخلاص براءت دے ریاء نه په بل (ع)

يُلْقِى الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ

راغورځوی وحی په حکم خپل سره په هغه چاچه اوغواړی

مِنْ عِبَادِهٖ لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿۱۵﴾

دَ بندګانو خپلو نه د ے دَپاره چه ویره ورکړی دَورځ دَ ملاقاتونو نه

دَ هرقسم شرک جلی اوخفی اودَ تشبیه نه. الدِّيْنَ دلته مراد دعا ده. وَلَوْكَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ اشاره ده چه خوګ توحید فی الدعا بیانګړی نو هغه کافروی اودا رنګ اشاره ده چه په دے مسئله کښ په دَ منکرینو دَ طرف نه هرقسم مصیبتونه راځی چه په هغې باند ے صبرکول ضروری دی.

۱۵. په دے کښ د ے صفات دَالله تعالیٰ ذکرکوی دَپاره دَ ترغیب دَ توحید فی الدعاء اودا عظمت دَ دعو ے د ے. یعنی په الله تعالیٰ پور ے دُعا او ندا خاص کړ ے دَد ے وج ے نه چه دَ هغه دَپاره صفاتِ عالیه دی.

رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ په معنی دَ مرتفع د ے یعنی حق دار دَ اوچتو درجو دَ مدح او دَ ثنا د ے یا په معنی دَرافع د ے یعنی اوچتوونکے دَ درجاتو دَ موحدینو د ے په اخرت کښ او اوچتوی درج ے دَ بعض خلقو په بعضو باند ے په دنیا کښ لکه چه فرمائیلی دی "یرفع الله الذین امنوا منکم والذین اوتوالعلم درجات اورفع بعضکم فوق بعض درجات". ذُوالْعَرْشِ یعنی خالق اومالک دَ عرش د ے او محتاج نه د ے عرش ته. يُلْقِى الرُّوْحَ مراد د ے نه وحی ده ځکه چه په هغې سره حیاتِ ایمانی حاصلیږی او عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ نه مراد انبیاء علیهم السلام دی او فعل مضارع دَپاره دَ حکایت دَ حال ماضیه د ے یعنی وحی ئ ے رالیږلے ده په انبیاء علیهم السلام اوپه د ے نبی صلی الله علیه وسلم باند ے یا مراد دَ روح نه قرآن د ے نومراد دَ عباده نه په د ے امت کښ هغه خلق دی چه هغوی ته الله تعالیٰ علوم دَقرآن کریم اوتوفیق دَ عمل ورکړ ے وی.

لِيُنْذِرَ داغایة اومقصد دَ اِلقا دَ روح د ے یعنی مراد دَ د ے نه دعوت او تبلیغ د ے. يَوْمَ التَّلَاقِ په اصل کښ التلاقی د ے (ملاقاتونه دَ یو بل سره) اودا نوم دَ ورځ دَ قیامت د ے ځکه چه ملاقات ریوځائے کیدل) دَ روح اوشی دَ بدن سره او ملاقات دَ هرچا په اوشی دَ خپلے جزاء دَ اعمالو سره او ملاقات په اوشی دَ عابدانو اومعبودانو او ظالمانو او مظلومانو او دَ اسمان والو او دَ زمکے والو اودَ اولینو اودَ اخرینو دَ الفظ د ے ټولو ته عام او شامل د ے.

يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ

هغه ورځ چه دوی به ښکاره وی ته دے پټ

په الله تعالیٰ باندې د دوی نه

شَىْءٌ ۭ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۭ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ

هيڅ خيز د چا ده بادشاهي نن - د الله تعالیٰ ده چه يو دے

الْقَهَّارِ ۝۱۶ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۢ

زورآور دے . نن به بدله ورکیدے شی هر نفس ته

بِمَا كَسَبَتْ ۭ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

د هغه عمل چه هغه کړے وی زیاتے تیشته نن یقیناً الله تعالیٰ زر

الْحِسَابِ ۝۱۷ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْاٰزِفَةِ

حساب کوونکے دے - او ویره ورکړه دوی ته د ورځ د نژدے آفت ته

سلا :- په دے کښ هیبت شان د ورځ د قیامت او د الله تعالیٰ څلور صفتونه ذکر کوی اول علم کلی په دے لفظ سره لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَىْءٌ دویم پوره بادشاهی او اختیار په سوال وجواب سره لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلّٰهِ دریم او څلورم الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ بٰرِزُوْنَ د قبرونو نه راوتل او په داگه کیدل چه هیڅ پرده به نه وی او حالتونه ښکاره کیدل دے ټولو ته شامل دے. لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ تخصیص د اليوم ئے د دے وجے نه اوکړو چه په دغه ورځ به ټول بادشاهان او د هغوی بادشاهی او ټول متکبرین او د هغوئ دعوے به ختم شی سوا د الله تعالیٰ نه. په دے سوال وجواب کښ اقوال دی اول قول دا دے چه الله تعالیٰ به یو منادی (ملک) ته امر اوکړی نو هغه به دا آواز اوکړی نو ټول مؤمنان او کافران به دا جواب ورکړی او دا قول د ابن مسعود رضی الله عنه دے. دویم قول دا دے چه سوال او جواب دواړه د الله تعالیٰ د طرف نه دی. دریم قول دا دے چه ملائک به یو بل ته دا سوال او جواب کوی او انسانانو ته به ئے آوروی.

سکا :- دا نور احوال د ورځ د قیامت ذکر کوی. او تفریع ده په څلورو صفتونو د الله تعالیٰ باندے. یعنی هرکله چه ثابته شوه چه عالم دے په هر څه باندے او بادشاه دے د هر څه نو معلومه شوه چه جزا سزا ورکول بغیر د ظلم نه او حساب کول دا هم ثابت دی. اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ. (پاتے په بل مخ)

إِذِ الْقُلُوبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كَاظِمِينَ

کله چه زړونه به د غړو مرو سره وي ډک به وي غم نه

مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ⑱

نه به وي ظالمانو لره هيڅ دوست ګرم او نه سفارشي چه د هغه خبره منلې کيدېشي.

يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ ⑲

پوهه دے الله تعالیٰ په پټې نقصان د سترګو باندے او هغه چه پټوي يې سينې.

د ګوچ نه د اسبابو د حساب کولو نه محتاج نه دے او حديث د ابن عباس رضی الله عنهما سره ثابت ده چه د وخت د نصف النهار (د ډيوي ورځ د نيمې) پورے به ټول حساب ختم کړي.

ف ۱۸:- دا تورهيبت شان د قيامت ذکر کوي په څلورو طريقو سره. اول دا چه ازفة ده يعنی نژدے راتلونکے حادثه او مصيبت دے او دا سے په سورة نجم ف۵۷ کښ هم راغلې دی دويم إِذِ الْقُلُوبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ دا کنايه ده ډيرو غمونو نه لکه سورة احزاب کښ وبلغت القلوب الحناجر يا په حقيقت باندے حمل دے چه د ډير هيبت د وجے نه زړونه به د ځپل ځايونو نه زائل شي او راوچت به شي مرو ته - دريم كَاظِمِينَ د رعب او غم نه به ډک وي ګويا که رګونه د ساه اغستلو يې بند شوے دي څلورم حال مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ، حميم هغه دوست ته ويلے کيږي چه د دوست د تکليف په وخت کښ په ده باندے ګرموالے او خوږېدل راځي. يعنی ګرم دوست او مراد ترينه نفع ورکول دي ځکه حميم په وينې لکه سورة معارج ف۱۰-۱۱ ليکن نفع به نشي ورکولے وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ دلته نفي د قيد او مقيد د دواړو ده يعنی سفارشي نيشته نو خبره به يې څه رنګ او منلے شي او دا ايت په باره د مشرکانو او کافرانو کښ دے د نورو ګناهګارانو مؤمنانو د پاره سفارش کيدے شي او فائده به رسوي.

ف ۱۹:- دا متعلق دے د سريع الحساب سره چه حساب کولے شي او د هر عمل حساب به کوي اګرچه پټ عملونه دي يا متعلق دے د ف۱۵ سره يعنی نور صفتونه د الله تعالیٰ ذکر کوي د پاره د اثبات د توحيد في الدعا. خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ خائنة په معنیٰ د خصلت ذات خيانة- او اضافت يې په من يا په لام سره دے يعنی هغه خصلت د نقصان او خيانت چه سترګو نه صادريږي يا خائنة مصدر دے په

وَاللّٰهُ يَقْضِيْ بِالْحَقِّ ۭ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

او الله تعالیٰ پوره ورکوی حق لره او هغه کسان چه دوی ترینه حاجتونه غواړی

مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ بِشَيْءٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

سوا دَ الله تعالیٰ نه نشی پوره کولے هیڅ خیز یقیناً الله تعالیٰ

هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿۲۰﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا

هر څه اوری هر څه وینی ۔ آیا دوی نه کرځی

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په ملک کښې نو چه اوګوری چه څه رنګ دۍ انجام

الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَانُوْا هُمْ

دَ هغه کسانو چه وو دوی نه مخکښې وو هغوی ډیر

اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ

سخت دَ دوی نه په قوت کښې او ډیرو نښو والا وو په ملک کښې

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۭ وَمَا كَانَ

نو اونیول هغوی لره الله تعالیٰ په سبب دَ ګناهونو دَ هغوی او نیشته

معنیٰ دَ خیانت یا اضافت دَ صفت دے موصوف ته یعنی الاعین الخائنة۔ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه یو سړے دَیو قوم سره په مجلس کښې ناست وی او پردۍ زنانه ورتیریږی او دے هغه زنانه ته په داسے طریقے سره نظر اوکړی چه ملګری وربانندے پوهه نه شی دے ته خائنة الاعین ویلے کیږی۔ خائنة الاعین پټ عمل دے دَ اندامونو۔ او مَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ پټ عمل دَ زړونو دَے ۔

۲۰۔ دا هم صفت دَ الله تعالیٰ دے دَپاره دَ توحید۔ يَقْضِيْ قضا فیصلے کول او حاجات پوره کول دواړو ته عام دے وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ دا رد دے په شرک فی الدعاء بانندے یعنی سِوا دَ الله تعالیٰ نه ټول معبودان هیڅ حاجت نشی پوره کولے نو معلومه شوه چه دَ هغوی نه حاجتونه غوښتل او حاجت روا ګنړل بے فائدے کار او ظلم دے ۔

لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿۲۱﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

دوی لره دَ الله تعالیٰ نه هیڅ بچ کوونکے. دا په دے وجه چه یقیناً

كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا

راتلل په دوی ته رسولان په ښکاره حکمونو نو دوی په انکار کوو

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ ۭ اِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ

نو اونیول دوی لره الله تعالیٰ یقیناً الله تعالیٰ قوت واله دے سخت

الْعِقَابِ ﴿۲۲﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا

عذاب ورکوونکے دے. او یقیناً لیږلے دۀ مونږه موسیٰ علیه السلام په معجزاتو زمونږ سره

وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۳﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ

او دلیل ښکاره فرعون ته او هامان

۲۱:- دا متعلق دے دَ ۱۵ سره او تخویف دنیوی دے منکرینو دَ دعوے توحید ته او دَ "والذین یدعون من دونه لا یقضون بشیء" دَ پاره دلیل دے چه تیر شوی مشرکان هلاک کړے شویدی او دَ هغوی معبودانو هغوی لره هیچ نه کړل وما کان لهم من الله من واق لکه چه دَ هغوی ظاهری قوتونو هم عذاب نه شو دفع کولے. اٰثارًا فی الارض دَ هغوی دَ مکانو نو چتونو او دیوالونه دروازے منارے تر اوسه پورے موجود دی لکه دَ ثمودیانو کهنډرات.

۲۲:- دا تفصیل دَ بذنوبهم دے یعنی لوئے گناه دَ دوی په گناهونو کښې انکار وو دَ رسولانو نه او دَ هغوی دَ بیّنٰتو نه په توحید باندے.

فائده:- تیر شوی ایت کښې ذکر دَ عذاب اهم وو نو اَخَذَ یې ځنکښې ذکر کړو او سبب دَ هغے یې روستو راوړو. او په دے ایت کښې ذکر دَ سبب اهم وو نو سبب یې ځنکښې ذکر کړو او اَخَذَ یې روستو ذکر کړو.

۲۳:- دا دَ تخویف دنیوی مثال پیش کوی او دَ اَشَدَّ قُوَّةً نمونه ده. بِاٰيٰتِنَا سورة اسراء ۱۰۱ کښې نهه عدد یې ذکر کړے دے او تفصیل یې سورة اعراف کښې تیر شویدے. وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ مراد تربنه عصا ده تو تخصیص بعد التعمیم دے یا مراد تربنه هغه رعب او هیبت دے په زړه دَ فرعون باندے دَ موسیٰ علیه السلام نه چه سره دَ ډیر قوت او ظلم نه بیا هم موسیٰ علیه السلام لره نشی قتل کولے.

وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۲۴﴾ فَلَمَّا

او قارون ته تو دوی اُویل چه دا جادوګر ډیر دروغژن دے . تو هر کله چه

جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْٓا

راوړو دوی ته حق زموږ د نیز ته نو دوی اُویل قتل کوئ

اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ وَاسْتَحْيُوْا

ځامن د هغه چا چه ایمان ئې راوړے وو د دهٔ په ملګرتیا کښ او ژوندی پرېږدئ

نِسَآءَهُمْ ؕ وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۲۵﴾

د زنانو د دوی ته او نه دے چل ول د کافرانو مګر په بربادئ کښ دے .

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى

او اُویل فرعون پرېږدئ ما لره چه قتل کړم موسیٰ علیه السّلام لره

س۲۴ ۔ د دے دریو کسانو خاص ذکر ئې اوکړو ځکه چه د موسیٰ علیه السّلام سره د دُشمنیٔ سبب د فرعون بادشاهي او د هامان وزارت او د قارون سرمایه داری وه او دا درے قوّتونه اکثر د حق په مقابله کښ اودریګی .

(سوال) قارون خو اول وخت دا قول نه دے کړے نو څه رنګ ئې فقالوا کښ دے هم داخل کړو ؟ جواب دا دے چه اول سر نه د دهٔ دا قول باطني وو اګرچه په ظاهر کښ ایمان راوړے وو او په روستو وخت کښ ئې دا قول ظاهرًا او عملًا شو . ساحرٌ معجزات د هغه ئې په سحر باندے حمل کړل کذّابٌ مسائل د توحید او وحی ئې دروغژن اوګڼړل .

س۲۵ ۔ دا امر د قتل د دے د پاره دے چه خلق د دهٔ سره ملګرتیا اونکړی په دهٔ باندے ایمان رانوړی او د دے نه مخکښ امر د قتل د دے د پاره وو چه موسیٰ علیه السّلام پیدا نشی او د دے قتل ذکر سورة اعراف س۱۲۷ کښ دے او د اول قتل ذکر سورة بقره س۴۹ کښ دے وما کید الکافرین اه دا جواب د سوال دے چه فرعونیانو د قتل کولو منصوبے جوړے کړے ایا په ډیره خلق د ایمان قبلولو نه بند شول ؟ جواب اوشو چه د کافرانو منصوبے او چلونه د حق نه په رکاوټ جوړولو کښ همیشه برباد وی .

وَلْيَدْعُ رَبَّهُ ۚ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ

او دې اوغواړي ډ رب خپل ته یقینًا زه ویریږم چه بدل به کړي ستاسو دین

أَوْ أَن يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ ﴿۲۶﴾

یا په ښکاره کړي په ملک کښې فساد ګول ۔

۲۶ :. هرکله چه دغه منصوبے هیڅ قائده اونکړله نو فرعون بله منصوبه جوړه کړه چه موسیٰ علیه السّلام قتل کړي ۔ ذَرُونِيٓ دا یې ډ دے وجې نه اویل چه ډ هغه په قوم کښې داسے کسان وو چه فرعون ته یې مشوره ورکوله چه موسیٰ مه قتل کوه ډ هغې یو وجه دا ده چه بعضې کسانو په زړونو کښې محبت ډ موسیٰ علیه السّلام وؤ لکه چه ښځې ډ فرعون ویلے وو (سورة قصص ۹ کښې) نو شاید چه هغې ورته بیا هم ویلے دي چه دے مه قتلوه دویمه وجه دا ده چه بعضې کسانو ورته اویل چه دا کمزورے سړے دے اوکه تا قتل کړو نو خلق به ګمان اوکړي چه فرعون ډ دهٔ ډ مقابلے نه عاجز وؤ نو ځکه یې قتل کړو. دریمه وجه دا ده چه په ملک کښې همیشه داسے اُمراء وي چه هغوي بادشاه لره په یو حاد ثه کښې مشغولول غواړي ډ پاره ډ دے چه دوي ترینه خلاص وي نو دغسے ډ فرعون په اُمراؤ کښې وو چه فرعون یې ډ موسیٰ علیه السّلام په مقابله کښې مشغولول غوختل چه مونږ ترینه بچ یو ۔ یا سبب ډ دے هغه رعب ډ موسیٰ علیه السّلام دے په فرعون باندے نو چا منع کړے نه دے لیکن هسے وایي چه ما پریږدئ چه دے قتل کړم ۔ وَلْيَدْعُ رَبَّهُ دا هم وهم ډ خلقو دفع کوي چه ډ موسیٰ ډ خیږ کولو نه زهٔ نه ویریږم او تاسو هم مه ویریږئ ۔ إِنِّيٓ أَخَافُ ، فرعون ذکر کوي سبب ډ قتل ډ موسیٰ علیه السّلام ځکه چه یو ډ دوؤ خطرونه شته چه یا به ګ ستاسو عقیدے او دین خراب کړي او یا به کم از کم ډله خپله جوړه کړي نو په وطن کښې به جنګونه او فساد جوړ کړي نو اول فساد ډ دین دے او دویم فساد ډ دنیا دے او فساد ډ دین یې مخکښې ذکر کړو ځکه چه عام خلق په خپل دین باندے ټینګ وي اوکه باطل وي) ډیر غیرت کوي په نسبت ډ مالونو او ډ دنیا ، او دلیل دے چه باطل پرستو خلقو ملیانو پیرانو اقتدار والا خپل عوامو لره ډ دین (باطل) په نوم باندے دهوکه ورکوي او دا رنګ معلومه شوه چه حق پرستو ته جاهلانو خلقو همیشه ډ اشرارو ډ مفسدینو نوم ایخود لے دے ۔

وَقَالَ مُوسَىٰ إِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم
او اُویل موسٰی علیه السّلام یقیناً ما پناه غوختې ده په رب زما او په رب ستاسو
مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿٢٧﴾
دَ هر متکبر نه چه ایمان نه لری په ورځ دَ حساب .
وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ
او اُویل یو سړی مؤمن دَ کورنۍ دَ فرعون نه دۀ
يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا
پټوؤ دهٔ ایمان خپل ایا قتل کوئ تاسو سړے
أَن يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُم بِالْبَيِّنَاتِ
چه اوبه وائی رب زما الله تعالیٰ دے او یقیناً راغلی دے تاسو ته په ښکاره حکمونو سره
مِن رَّبِّكُمْ ۖ وَإِن يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ ۖ
ستاسو دَ رب دَ طرف نه او که چرے دے دروغژن وی نو په ده باندې به وبال دَ دروغو دَده
وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ الَّذِي
او که چرے رښتے وی دے نو اوبه رسی تاسو ته بعض دَ هغه عذاب نه

۲۷:۔ موسٰی علیه السّلام دَ خپل توکل علی الله او دَ عدم خوف په بهادرے سره اظهار کوی چه زهٔ هر وخت دَ الله تعالیٰ نه سوال کوم او دُعاء غوارم چه ما لره دَ داسے ظالمانو نه پناهی راکړی۔

مِنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ قاتل په ناحقه او ظالم هغه څوک دے چه دا دواړه صفتونه پکښ وی ځان لوے گنړی نو دَ چا حق خبره نه منی او طبیعت ئے غواړی چه په لاندے خلقو باندے ظلم اوکړی لیکن بعض طبیعت دَ انسان ظلم کول غواړی لیکن دَ قیامت دَ حساب نه ویره کوی او چه دَ حساب نه هم نه ویریږی نو دا ډیر لوئے ظالم وی۔

يَعِدُكُمْ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ
چه وعده کوی تاسو سره دے یقیناً الله تعالیٰ هدایت نه ورکوی هغه چاته چه هغه
مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾ يٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ
د حد نه تيرونونکي ډير دروغژن وی ـ اے قومه زما ستاسو د پاره باد شاهي ده

۲۸ ۔ د دے ایت نه دعوت د رجل مؤمن شورو دے هرکله چه موسیٰ علیه السلام په الله تعالیٰ سره پناه او غوختله نو الله تعالیٰ د هغه د امداد د پاره دا رجلِ مؤمن را اوچت کړو چه فرعون ئے منع کوو د قتل د موسیٰ علیه السلام نه او په دے کښ تشجیع ده په دعوت باندے او ذکر د طریقے د دعوت دے او تسلی ده اهل حق ته ـ او په مکالمه د رجلِ مؤمن کښ خلور حصے دی ـ اوله حصه په دوه ایا تونو کښ ده په دے کښ ذکر کوی بے کول د موسیٰ علیه السلام د قتل کولو نه په نرمه ناصحانه طریقے سره او اشاره کوی چه د بادشاهئ د غرور د وجے نه د حق مقابله مه کوئ تباه به شئ ـ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ الله تعالیٰ نوم نه دے ذکر کړے بلکه وصف د رجولیت ئے ذکر کړے دے اشاره ده چه دا پوره نر او کامل سړے وو ـ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ مفسرینو ویلی دی چه د فرعون د تره ځوئے وو او د دے وجے نه فرعون ورته ډیر مهلت ورکړو او د هغه بیان ئے هم واورید او که اسرائیلی وے نو فرعون دا سے مهلت نه ورکوو ـ يَكْتُمُ إِيْمَانَهٗ دا طريقه د دعوت ده چه په وخت د ابتدا د دعوت کښ دا ضروری خبره نه ده چه داعی د خپل مسلک خلقو ته ښکاره کړی د پاره د دے چه هغه خلق د ابتداء نه نفرت او نه کړی هاں که هغه خلق مطالبه او کړی چه ستا مسلک او جماعت څه دے نو بیا د جواب ورکړی (اننی من المسلمین) سورة حٰمٓ سجده ۳۳ ـ او دا کتمان گناه نه دے بلکه رخصت دے ځکه چه یو کتمان د حق دے چه بیان د حق نه کوی او بل کتمان د حال دے او په دے سره د هغه ایمان ته هیځ نقصان نه دے رسیدلے د دے وجے نه الله تعالیٰ ورته مؤمن صفت ویلے دے او روستو هغه ایمان ښکاره کړے دے ـ او که په داسے وخت کښ اظهار د ایمان کوی نو دا غوره او عزیمت دے د دے وجے نه په حدیث د ابوبکر رضی الله عنه (چه روستو ذکر کیږی) کښ قول د علی رضی الله عنه دا دے وَاللّٰهِ لَيَوْمٌ اَبِيْ بَكْرٍ خَيْرٌ مِّنْ مُّؤْمِنِ اٰلِ فِرْعَوْنَ اِنَّ ذٰلِكَ الرَّجُلَ كَتَمَ اِيْمَانَهٗ فَاَثْنَى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ فِيْ كِتَابِهٖ وَهٰذَا اَبُوْ بَكْرٍ اَظْهَرَ اِيْمَانَهٗ وَبَذَلَ مَالَهٗ وَدَمَهٗ لِلّٰهِ تعالیٰ ـ دلته د یکتم

لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظٰهِرِيْنَ فِي الْأَرْضِ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا

نن زور اور یئ په دے ملک کښ نو څوک به موږ سره مدد اوکړي

مِنْ بَاْسِ اللّٰهِ اِنْ جَآءَنَا ۭ قَالَ فِرْعَوْنُ

دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه که چرے راشی موږ ته اُو یل فرعون

معنیٰ کول چه یخوولو یئ ایمان خپل دا دَ لغت او تمام مفسرینو نه خلاف دہ۔
اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ یعنی دَدهٔ هیڅ جرم نیشته چه دَ هغې په وجه یئ قتل کوئ دَ الله تعالیٰ توحید ته دعوت ورکول څوک جرم نه دے۔ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ یعنی دلیل یئ تاسو ته راوړے دے اویو دلیل نه بلکه ډیر دی۔
مِنْ رَّبِّكُمْ یعنی دلیلونه یئ دَ ځان نه نه دی جوړ کړی بلکه دَ رب دَ طرف نه دی وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا دا شک نه دے بلکه دا تلطف (نرمه طریقه) کول دی یعنی که کاذب اوکه صادق وی نو په تاسو باندے وبال نیشته نو وَلے قتل کوئ بلکه که صادق وی نو په تاسو باندے به عذاب راشی۔ يُصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ مراد تری نه عذاب دَ دنیا دے لکه چه سورة طٰه ۴۸ کښ ذکر دی او باقی عذاب به په آخرت کښ وی۔ امام بخاری او مسلم حدیث ذکر کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ کعبے په خوا کښ ولاړ وؤ نو عقبه راغے او دَ هغه اوګے یئ دَ شا دَ طرف نه اونیولے او دَ سټ نه یئ څادر تاؤ کړو مرے یئ ورله خفه کړه نو ابوبکر رضی الله عنه راغے او دَ عقبه اوګے یئ اونیولے او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یئ لرے دیکه کړو او اوفرمائیل یئ اتقتلون رجلا ان یقول ربی الله وقد جاءکم بالبینات من ربکم۔ او حکیم ترمذی او ابن حجر په الصواعق المحرقه کښ دا حدیث اوګډ ذکر کړے دے۔
اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ دا جمله مستانفه جواب سوال دے چه آیا په دے بیان سره فرعونیانو ته څه فائده اورسیدله نو جواب او شو چه مسرف کذاب ته فائده نه رسیږی۔ دَ مسرف نه مشرک مراد دے او كَذَّابٌ په دعویٰ دَ ربوبیت کښ دے او دا اوصاف دَ فرعون وو۔ یا دا په کلام دَ رجل مؤمن کښ داخل دے یعنی بالفرض که موسیٰ علیه السلام مسرف وی په ځان زیاتے کوی او کذاب وی په دعویٰ دَ رسالت کښ نو نشی کامیاب کیدلے۔

مَآ اُرِيْكُمْ اِلَّا مَآ اَرٰى وَمَآ اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ

زهٔ نه درکوؤم تاسوته مگر هغه چه زهٔ ګورم او نه ښایم زهٔ تاسو ته مگر لار

الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اِنِّيْٓ

د کامیابئ - او اُوئیل هغه کس چه ایمان ئې راوړے وو اے قومه زما یقینًا

اَخَافُ عَلَيْكُمْ مِّثْلَ يَوْمِ الْاَحْزَابِ ﴿۳۰﴾

ویره کوؤم په تاسو باندے پشان د ورځ د عنادیانو -

۲۹ :- په دے ایت کښې تزهید فی الدنیا دے سره د تخویف نه چه د بادشاهئ او د زوراورئ په سبب د عذاب د الله تعالیٰ نه بچ کیدلے نشئ - يَا قَوْمِ دا لفظ دلیل دے چه دا رجل مؤمن د فرعونیانو د نسل نه وؤ او د دے ندا مقصود بالنداء پټ دے یعنی د الله تعالیٰ شکر اوکړئ په ایمان راوړلو سره په موسیٰ علیه السلام باندے او د دهٔ د قتل نه په ځان ساتلو سره (فاشکروا لله ولا تقتلوا موسیٰ) فَمَنْ يَّنْصُرُنَا جمع متکلم ئې ذکر کړه د پاره د بچ کیدلو د تهمت نه او ترغیب د نصیحت په قبلولو باندے - قَالَ فِرْعَوْنُ هرکله چه فرعون او یریدلو چه د دے سړی په بیان سره په خلقو باندے اثر پریوځی نو په هغه قوم باندے تلبیس اچوی چه زه ستاسو خیرخواه او مرشد یم زما رائے باندے عمل کوئ -
مَآ اَرٰى دا ماخوذ دے د رائ نه مراد د دے نه قتل کول د موسیٰ علیه السلام دی سَبِيْلَ الرَّشَادِ یعنی د موسیٰ علیه السلام نه انکار کول او زما په دین باندے مضبوط پاتے کیدل دا هدایت او رشد دے او دغسے باطل پرستان خپلو باطلو طریقو ته د رشد او هدایت په نظر سره ګوری (وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا) -
۳۰ :- د دے ایت نه د مکالمے د رجل مؤمن دویمه حصه ده تر ۳۵ پورے په دے کښې تخویف دنیوی او اخروی ذکر کوی او دلیل نقلی د یوسف علیه السلام نه او زجر په مقاتو قبیحو باندے ذکر کوی - په دے کښې ترقی په دعوت کښې د ماقبل نه ده ځکه چه مخکښې د عذاب راتلل ئې په طریقه د شک سره (ان جاءنا) ذکر کړے وؤ او اوس یقینًا ذکر کوی په لفظ د اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ په تاکید سره - مِثْلَ يَوْمِ الْاَحْزَابِ هغه قومونه چه تحزب او ډله بازی ئې کوله په مقابله د رسولانو کښې د هغوی د عذابونو پشان .(سوال) د هغوی د

مِثْلَ دَاْبِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ
پشان د حال د قوم د نوح علیه السلام او د عادیانو او ثمودیانو
وَالَّذِیْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ یُرِیْدُ
او د هغه کسانو چه د دوی نه روستو وو او نه غواړی الله تعالیٰ
ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿۳۱﴾ وَیٰقَوْمِ اِنِّیْۤ اَخَافُ عَلَیْكُمْ
هیڅ ظلم کول په بندګانو باندے. او اے قومه زما یقینًا زه ویریګم په تاسو باندے
یَوْمَ التَّنَادِ ﴿۳۲﴾ یَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِیْنَ ۚ
د ورځ د چغو وهلو نه . هغه ورځ چه اوبه ګرزئ تاسو شا کوونکی
مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ یُّضْلِلِ
نه به وی تاسو لره د الله تعالیٰ نه هیڅوک بچ کوونکے او هغه څوک چه بے لارے کړی
اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ
الله تعالیٰ هغه لره نو نیشته هغه لره هیڅ هدایت ورکوونکے . او یقینًا راغلے وو تاسو ته

عذابونو ورځے او واقعات خو ډیر دی نو یَوْمِ لفظ ئے مفرد ولے ذکر کړے دے؟
(جواب) اشاره ده هغه ټول د الله تعالیٰ د قدرت او د غضب په روانداسے په
یوه ورځ او په یو واقعه باندے حساب دی.
۳۱:- دا تفصیل د اجمال دے لفظ دَاْبِ کښ اشاره ده چه د هغوی کفر
او تکذیب او د هغې په سبب سره عذاب راتلل د ټولو یو عادت او حالت مستمره ده.
وَمَا اللّٰهُ یُرِیْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ دا جمله مستانفه جواب سوال دے که څوک اُوائی چه دا
قومونه هلاک کول ایا ظلم نه دے؟ جواب اوشو په دے جملے سره یعنی بغیر د
حجت نه او بغیر د ګناه نه عذاب نه ورکوی.
۳۲، ۳۳:- په دے کښ تخویف اخروی ذکر کوی. یوم التناد دا نوم د ورځ
د قیامت په دے وجے سره دے چه په دغه ورځ کښ به ډیرے نداګانے
وی. نداګانے د جنت والو جهنمیانو ته او برعکس او اوازونه د اعراف والو دواړو
طرفونو ته او ندا د ملائکو جنتیانو ته او اوازونه هرچا ته د هغوی د امام په
نوم باندے او فریاد و ته کول د کافرانو او ظالمانو او نداء د الله تعالیٰ پیریانو
او انسانانو ته وغیره . مُدْبِرِیْنَ یعنی شا ګرځوونکے به وی رواے په یل مخ)

يُوسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ

يوسف عليه السّلام دَ دے نه مخکښ په ښکاره حکمونو سره نو هميشه وے تاسو

فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ حَتّٰۤى اِذَا هَلَكَ

په شک کښ دَ هغے نه چه راوړے وُو تاسو ته تر هغے پورے چه کله مړ شو

قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ

نو تاسو اوئيل هيڅرے به رانه ليږى الله تعالىٰ دَ دهٔ نه روستو

رَسُوْلًا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ

هيڅ رسول دغه شان بے لارے کوى الله تعالىٰ هغه چالره چه دَ حد نه تيريږى

مُّرْتَابُ ۟ۚۖ ﴿۳۴﴾ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ

او پوخ شک کوونکے وى۔ هغه کسان چه جګړے کوى په اياتونو دَ الله تعالىٰ کښ

دَ موقف دَ حساب ته روان به کړے شى او ر ته۔ مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ يعنى دَ دوى معبودات باطله دوى لره نشى بچ کولے او نور هم هيڅوک بچ کوونکى نيشته۔

۳۴:۔ دا دليل نقلى دے دَ يوسف عليه السّلام نه او دے ئے دَ دے وجے نه خاص کړو چه په مصر کښ دے مشهور پيغمبر راليږلے شوے وُو او دا رنګ دا دَ روستى جملے مثال ذکر کوى (چه الله تعالىٰ چا لره بے لارے کړى نو څوک ئے په لارے کولے نشى) بِالْبَيِّنٰتِ مراد ترينه هغه توحيد تفصيلى دے چه په سورة يوسف ۳۹ ۔ ۴۰ کښ ذکر دے۔ دا خطاب په اصل کښ دَ دوى مشرانو ته وُو ليکن دوى (موجوده) دَ پلارانو په لارے روان وو نو دواړه په خطاب کښ يو شان اوګرځولے شول. مِّمَّا جَآءَكُمْ دَ دے نه مراد توحيد دے۔ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا يعنى کلک شوئے تاسو په کفر باندے او تاسو اُوئيل بيا دَ چه دَ يوسف نه خلاص شُو بل پيغمبر به بيا نه راځى۔ يا مراد دا دے چه هر کله يوسف عليه السّلام وفات شو او نظام دَ مصر ګډوډ شو نو تاسو ارمان اوکړو چه ارمان دے داسے رسول به بيا راشى اشاره ده چه اوس دَ موسىٰ عليه السّلام نه انکار کوئے ليکن بيا به ورپسے ارمانونه کوئے كَذٰلِكَ کاف دَ پاره دَ تشبيه دے يعنى لکه چه مصر والا ګمراه شول دغه شان

هر مسرف مرتاب گمراه کیږی یا کاف په معنیٰ دَ لام تحلیلی سره دے یعنی دَ وجے دَشک کولو نه په توحید کښ گمراهی پیدا کیږی مُسْرِفٌ شرک کوونکے چه هغه دَحدودونه تجاوز کوی ځکه مسرف دے مُّرْتَابٌ په بیّنا تو دَ توحید کښ شک کوونکے چه په درجه دَ انکار کښ اوګرځی نو مرتاب شی۔

۳۵۔ دا ترقی ده دَ دوی په گمراهئ کښ چه اول شک وی بیا ارتیاب شی بیا گمراهی شی نو ورپسے جدال کول شی په حق کښ ۔ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ دا معنیٰ دَ جدال باطل ده۔ اَتٰهُمْ په دے لفظ کښ اشاره ده چه دلیل هغه دے چه دَ الله تعالیٰ دَطرف نه راغلے وی نو داسے دلیل دَدوی سره نیشته ۔ كَبُرَ مَقْتًا دا قباحت دَ دے جدال ئے ذکر کړے دے چه دالوئے سبب دَ غضب دَ الله تعالیٰ او دَ مؤمنانو دے كَذٰلِكَ کاف تشبیهی یا تعلیلی دے ۔ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ کل ئے مقدم ذکر کړے دے اشاره ده چه دَ هر متکبر په زړه باندے مهر نه وهی لیکن هرکله چه دَ بعض متکبر په زړه مهر لګوی نو دا مهر احاطه اوکړی دَ هغه په زړه باندے ټول زړه ئے بند کړی ۔ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ اول په حقوق الله کښ دے او دویم په حقوق العباد کښ دے ۔

الْأَسْبَابَ ﴿٣٦﴾ أَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰ

دروازو ته ۔ دروازو دَ اسمانو ته نو ورښکاره په شم

إِلٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ كَاذِبًا ۚ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ

إله دَ موسٰی علیه السّلام ته او یقینًا زه گمان کوؤم په دهٔ باندې دروغژن او دغه شان ښائسته کړې شوې

لِفِرْعَوْنَ سُوءُ عَمَلِهِ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيلِ ۚ

فرعون ته نا کاره عمل دَ دهٔ او بند کړې شویوو دَ حق لارې ته

وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ ﴿٣٧﴾

او نه وؤ چل ول دَ فرعون مگر په تباهۍ کښې وؤ ۔

ف۳۶:۔ دا جواب دے دَ فرعون نه په طریقه دَ تلبیس سره دَ پاره دَ دے چه دَ خلقو په زړونو کښې کلام دَ رجل مؤمن اثر او نه کړی یعنی خلقو ته دا ښکاره کوی چه په زمکه کښې خو اِله زهٔ یم او دَ موسٰی علیه السّلام اِله که چرې وی نو په اسمانونو کښې به وی نو دَ هغه دَ مقابلې دَ پاره دَ اسباب جوړولو حکم ئې هامان ته او کړو۔ صَرْحًا دنګه بنګله یا مناره چه دَ لرې نه هم ښکاریږی۔ الْأَسْبَابَ هر هغه څیز چه یل ته پرې رسیدل کیدے شی نو هغې ته سبب ویلے کیږی که لار وی او که دروازه وی۔

ف۳۷:۔ هرکله چه اسباب دَ اسمانونو ته رسیدل گرانه خبره ده نو دَ هغې دَ اثبات دَ پاره اول ئې اجمال اوکړو نو اوس تفصیل کوی دَ پاره دَ تلبیس په خلقو باندے۔ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰ إِلٰهِ مُوسَىٰ په نصب (زور) دَ دے لفظ کښې یو وجه داده دا جواب دَ امر دے چه لفظ دَ ابن لی دے او جواب دَ امر کښې دَ فَاء نه روستو آن پټ وی او دا مسلک دَ بصریانو دے دویمه وجه داده چه دَ لعلّ په جواب کښې هم آن مقدّر وی دَ وجے دَ تشبیه نه دَ تمنی سره او دا مسلک دَ کوفیانو دے او دا ډیر مفسرینو غوره کړے دے۔ او دا قول دَ فرعون په دے عقیده باندې بناء دے چه الله تعالیٰ یو جسم دے او په اوچت مکان باندے ناست دے لکه دَ دنیا دَ بادشاهانو پشان او دَ هغه سره مقابله کیدے شیٔ او دا عقیده هم کفر دے یا مراد دا دے چه یو اوچت محل جوړ کړی چه په هغې سره دَ کواکب حال معلومیږی او دے ته اسباب السموات ویلے کیږی نو دَ هغې نه به حال دَ اسمانونو معلوم کړی چه آیا دَ موسٰی علیه السّلام دَ حق دَ اسمانونو نه راغۍ او اِله

وَقَالَ الَّذِیْٓ اٰمَنَ یٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ

او ویل هغه کس چه ایمان ئې راوړے وو اے زما قومه تابع شئ زما

اَهْدِكُمْ سَبِیْلَ الرَّشَادِ ﴿۳۸﴾ یٰقَوْمِ اِنَّمَا

او به خایم تاسو ته لار د کامیابۍ - اے قوم زما یقینًا

دَ اسمانونو دهٔ لره رسول کړے دے وَاِنِّیْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا دا لفظ دَ تلبیس دَپاره دے یعنی محل جوړدَل او اسمانونو ته ختل او اِله معلومول چه ضروری خبره نه وه ځکه چه غالب گمان یا یقین دا دے چه موسٰی علیه السلام په دعوٰی دَ اِله کښ او په دعوٰی دَ رسالت کښ دروغژن دے . وَكَذٰلِكَ زُیِّنَ لِفِرْعَوْنَ یعنی لکه چه اسمانونو ته ختل او دَ الله تعالٰی حالات معلومول ممکن ندی او دَ تولو اهل عقلو په نیز باندے ناکاره عمل دے لیکن دهٔ ته هغه خائسته عمل ښکاریدلو او چاچه شرک، او کفر بنهٔ کار او گنړلو نو هغه دَ توحید منلو نه محروم وی دَ دے وجے نه وصد عن السبیل ئې ذکر کړو.

وَمَا كَیْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِیْ تَبَابٍ دا جمله مستانفه جواب سوال دے چه ایا په دے مکر دَ فرعون سره څه کامیابی حاصله شوه نو جواب او شو حاصل دَجواب دا دے چه دا صرح ئې جوړ کړے نه دے یا ئې جوړ کړو او دَ مال او دَ وخت تاوان ئې او شو لیکن الله تعالٰی هغه محل تباه کړو او فرعون او دَ هغه قوم ئې غرق کړو.

۳۸ : دا دریم حِصّه ده دَ مکالمے دَ رجلِ مؤمن ترسه پورے په دے کښ دعوت ورکوی خپلے اتباع ته او ترهیب فی الدنیا او بشارت اخرویه ذکر کوی. اهدکم سبیل الرشاد دا په مقابله دَ قول دَ فرعون کښ دے چه په ۲۹ کښ تیر شو او په دے کښ تصریح او کړه رجلِ مؤمن دَ خپل مسلک او دَ مقابلے کولو دَ فرعون سره (سوال) رجلِ مؤمن دَ لیس تابعدارے دَ رسولانو ته دعوت ورکړے دے (اتبعوا المرسلین) او دے رجلِ مؤمن خپلے تابعدارے ته دعوت ورکړے دے او دا رنگ امتی لره خو دا نه دی جائز چه خپلے تابعدارے ته خلق را اوبلی ؟ جواب دا دے . په واقعه دَ سورة یٰس کښ قوم تکذیب دَ رسولانو کړے وو دَ هغوی تابعداری کول ئې سپیره والے گنړلو نو رجلِ مؤمن دَ هغوی دَ تابعدارے امر ورکړو او دَ هغے سبب ئې ذکر کړه او په دے سورت کښ فرعون دَ قتل دَ موسٰی علیه السّلام اراده کړے وه او رجلِ مؤمن دَ موسٰی علیه السّلام دَ بچ کولو کوشش کوو نو اُویل ئې چه زما سره موافقت او کړئ دَ موسٰی علیه السّلام په بچ ساتلو کښ دَ قتلولو نه او په دے خبره کښ رشد دے او دا سے موافقت ته دعوت ورکول کار دَ امتی دے نو دا اتباع په معنٰی دَ ملگرتیا کولو ده -

هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ۡ وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ

دا ژوند دنیوی لږه مزه ده او یقیناً آخرت

هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا

هغه کور د همیشه آرام دے. چاچه عمل کړیوی ناکاره نو

يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ

بدله به نشي ورکیدے مګر د هغے پشان او چاچه عمل اوکړو موافق د سنت سړه که

ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ

نارینه دی او که زنانه دی او حال داچه مؤحد دی. نو دغه کسان به داخلیږی

الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۴۰﴾

جنت ته روزی به ورکیدیشی په هغے کښ بے حسابه.

وَيٰقَوْمِ مَالِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ

او اے زما قومه څه دیچه ده مالره (اوتاسولره) چه زهٔ رابلم تاسو نجات ته او تاسو بلے مالره

ف ۳۹:- په دے کښ تزهید فی الدنیا او ترغیب الی الآخرة ذکرکوی یعنی د دنیا د اقتدار د پاره د پیغمبر مخالفت مه کوئ. مَتَاعٌ نظم الدرر او تفسیر سراج المنیر کښ ذکر دی چه د عربو په محاوره کښ په مرداره باندے د متاع اطلاق کیږی چه هغه صرف د سخت ضرورت په وخت کښ د ضرورت مطابق جائز ده نو دارنګ دنیا هم ده. او هرکله چه په لفظ د متاع کښ دلالت کول دی په زر فنا کیدلو باندے نو د هغے په مقابله کښ جنّت ته ئے دارالقرار اُویل معنیٰ په هغے کښ فنا نیشته بلکه همیشه ژوندون دے. الاٰخِرَةَ په معنیٰ د جنّت دے یا په معنیٰ د ورځ د آخرت دے.

ف ۴۰:- په دے کښ اشاره ده چه آخرت مکان د جزاء او د بدلے دے او تخویف او بشارت ئے ذکر کړو. بِغَيْرِ حِسَابٍ (شمار) ئے نشی کیدے یا حساب کول په هغے کښ نیشته.

إِلَى النَّارِ ﴿٤١﴾ تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِاللَّهِ وَأُشْرِكَ

اور ته - تاسو بلئ ما لره دے د پاره چه کفر اوکړم په الله تعالی او شریک کړم

بِهِ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَأَنَا أَدْعُوكُمْ

دهغه سره هغه څوک چه نیشته ما لره په شرکت دهغه باندے هیڅ دلیل او زه رابلم تاسو

إِلَى الْعَزِيزِ الْغَفَّارِ ﴿٤٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّمَا

زورآور او بخښه کوونکی ذات ته - خامخا هغه څوک

تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ

چه تاسو بلئ ما لره هغه ته نیشته د هغه په وس کښ دعا قبلول

فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللَّهِ

په دنیا کښ او نه په آخرت کښ او یقیناً واپسی زمونږ الله تعالی ته ده

وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٤٣﴾

او یقیناً مشرکان دی همیشه اوسیدونکی په اور کښ -

۴۱:- د دے آیت نه تر ۴۴ پورے د مکالمے د رجل مؤمن څلورمه حصّه ده او په دے کښ تفصیل دے د توحید او د شرک او بیان د فرق دے د دواړو دعوتونو په مینځ کښ او محاکمه کول دی. نو په دے آیت کښ غایة د توحید (نجات) او غایة د شرک (اور) ئے ذکر کړے دے د جنّت نه ئے تعبیر په نجات سره اوکړو اشاره ده چه په جنّت کښ د هر غم او مصیبت او تکلیف او فنا وغیره چه د دنیا اوصاف دی نجات حاصلیدل دی -

۴۲:- دا تفسیر د ماقبل دے په طریقه د لف نشر غیر مرتب یعنی د النَّارِ نه مراد کفر او شرک دے او د النجاة نه مراد توحید د عزیز غفار دے تَدْعُونَنِي مدعو الیه حذف دے یعنی لأ الٰهتکم من دون الله - وَأُشْرِكَ دا تفسیر د أَكْفُرَ دے - الْغَفَّارِ په دے کښ اشاره ده چه الله تعالی شرک لره هم په توبے سره بخښی او نور ګناهونه هم بخښی -

۴۳:- دا صریح رد دے په شرک فی الدعاء باندے أَنَّمَا لفظ د مَا عام دے معبودان من دون الله تعالی ته که بُتان وی او که بزرګان وغیره ټولو ته شامل دے لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ زجاج معنی کړے ده لیس له استجابة دعوة (ابانے په بل ځ)

فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ؕ وَاُفَوِّضُ اَمْرِیْٓ

نو زر ده چه یاد به کړئ تاسو هغه چه زۀ وایم تاسو ته او سپارم خپل کار

اِلَی اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِیْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾

الله تعالیٰ ته یقیناً الله تعالیٰ لیدونکے دے د بندګانو خپلو۔

فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ

نو بچ اوساتلو الله تعالیٰ هغه لره د بدو (راتاردو) چلونو د هغوی نه او راګیر کړه

فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾ۚ اَلنَّارُ یُعْرَضُوْنَ

فرعونیانو لره ناکاره عذاب ۔ اُور پیش کیدیشي دوی

یعنی دوی د هیڅ حاجت او دُعا نشي قبلولے نه په دنیا او نه په آخرت کښ او د کلبي نه نقل دے چه دوی لره شفاعت نیشته (شفاعتِ قهریه) په دنیا او آخرت کښ یا مراد د دے نه حق د دُعا او د عبادت دے یعنی دوی په دنیا او آخرت کښ د عبادت او د دعا حقدار نه دی وَاَنَّ الْمُسْرِفِیْنَ مراد د دے نه مشرکان دی چه د حدودو شرعیو نه یې زیاتے کړے دے هم اَصْحٰبُ النَّارِ مراد د اصحاب نه هغه کسان دی چه همیشه لازم وی د اُور سره او همیشه جهنمی کیدل خاص دی په کافرانو مشرکانو پورے۔

سلک۔ دا خاتمه د بیان ده په ډیر غوره خاتمے سره ځکه چه اول تهدید دے په نه منلو سره حاصل دا چه اوس زما دعوت نه منئ لیکن بیا به ارمان اوکړئ په وخت د نزول عذاب کښ بیا تفویض او توکل علی الله دے او مفسرینو لیکلي دی چه فرعونیانو د قتل د دے رجل اراده اوکړه نو هغه دا کلمه اُویله او دا کلمه یې ایزده کړے ده د موسیٰ علیه السّلام نه چه انی عذت بربی وربکم من کل الآیة

سلک:۔ دا برکت د دعوت الی الله دے چه په هغه قوم باندے عذاب راغے او دے تری بچ شو۔ سَیِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا مراد هغه عذابونه دی چه وخت په فرعونیانو باندے نازلیدل او هغه په سورة اعراف کښ ذکر دی یا مراد تری نه غرق دے او تفسیر مدارک کښ نسفي لیکلي دی چه فرعون د دهٔ د قتل کولو دپاره ته د کسان اولیږل نو بعضے کسان د رنړه کانو او خوړل او کوم کسان چه واپس راوګرځیدل نو هغه فرعون پانسی کړل۔ سُوْٓءُ الْعَذَابِ مراد تری نه هغه ټول عذابونه دی سره د غرق نه۔

عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ قف

په هغې باندې صبا او بیګا او په هغه ورځ چه قائم شي قیامت (او به ویلي شي)

اَدْخِلُوٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿۴۶﴾

داخل کړئ فرعونیان ډیر سخت عذاب ته -

ملک: اَلنَّارُ بدل دے دَ سوء العذاب نه یا خبر دَ مبتدا المحذوف دے او په دے دواړه توجیهاتو باندے یُعْرَضُوْنَ حال دے دَ النار یا دَ آل فرعون نه ـ یا النار مبتدا ده یعرضون ئې خبر دے، غُدُوًّا وَّعَشِيًّا مراد دَ دے نه صبا او بیګا دے دَ دُنیا دَ ورځو په حساب باندے یعني په اور باندے پیشي کیدا دوه وخته وي او باقي اوقاتو کښ نور عذابونه دي یا داکنایه ده دَ همیش والي نه ـ او ابن کثیر په سند دَ ابن ابي حاتم سره حدیث ذکر کړیدے چه ارواح دَ فرعونیانو دَ تورو مارغانو په ځیټو کښ دي او صبا بیګاه په جهنم باندے پیش کیږي ـ او دَ قتاده روایت دے چه داحال دَ روح دَ هر کافر دے ـ او حدیث دَ بخاري او مسلم کښ په روایت دَ ابن عمر رضي الله عنهما سره وارد دي چه ټول اهلِ نار باندے مقعد دَ هغه پیش کیږي صبا او بیګا تر قیامته پورے ـ

فائده :- دَ دے ایت نه ډیر مفسرینو او محدثینو او علماء عقائدو استدلال کړے دے په دے خبره چه عذاب قبر حق دے او امام بخاري په ترجمة الباب دَ عذاب القبر کښ دا ایت کریمه ذکر کړے دے په دے باب کښ اوله ضروري خبره دا ده چه په احادیثو صحیحه کثیره کښ خو لفظ دَ عذاب القبر راغلے دے او عذاب فے القبر هم راغلے دے (انهما لیعذبان فے قبورهما، الحدیث) په دے باندے دلیل دے نو دَ دے تعبیر نه انکار کول ګمراهي ده هان تفصیلي کیفیت دَ هغې زمونږ دَ شعور او علم نه اوچت دے بعض هغه تفصیلات چه صحیح احادیثو کښ راغلي دي مثلاً سوال جواب کول او دَ هغې دَ پاره کینول دَ مړي او دَ چا دَ پاره وسعت دَ قبر او دَ چا دَ پاره تنګسیا دَ قبر دَ مرغو په اجوافو او حواصلو کښ دَ روح اچول وغیره دَ دے مثل ضروري دي بیا دَ اهل سنت والجماعت په دے کښ دوه قولونه دي اول دا چه عذاب په روح باندے په خپل مستقر کښ او په بدن باندے په خپل مکان کښ برابره خبره ده که روغ سالم وي او که ذرے ذرے وي او که ذرے په ځیټو دَ حیواناتو کښ وي او که دریاب کښ وي وغیره او بدن ته الله تعالی دومره حیات ورکړے دے ر پاتے په بل مخ)

وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ فَيَقُولُ الضُّعَفَٰٓؤُا
و کله چه دوی به جګړه کوی په اور کښ نو وائي به کمزوری
لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوٓا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ
هغه کسانو ته چه لوئي ئې کړېده یقیناً موږ ستاسو د پاره
تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا
تابعدار وو نو آیا تاسو لرې کوونکی شئ زموږ نه یوه برخه
مِّنَ النَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوٓا إِنَّا
د اور - او به وائي هغه کسان چه لوئي کړېده یقیناً موږ

چه دَ عذاب احساس کولے شي لیکن تعلق دَ روح دَ بدان سره په دے باندے صریح صحیح دلیل نیشته او مسئله دَ عود دَ روح په سورة زمر کښ موږ ذکر کړے ده دویم قول دا دے چه عذاب صرف په روح باندے دے لیکن په شرط دَ جسمِ مثالی سره چه په هغه باندے حدیث دَ طیر تعلق فی شجر الجنة دلالت کوی او دَ عذاب تعلق دَ بدان اصلی سره نیشته په دے کښ اول قول صحیح دے. که چرے سوال اوکړے شی چه دا ایت مکیّه دے او په حدیث دَ امام احمد رحمة الله کښ وارد دی چه عذاب دَ قبر نیشته هاں څه وخت روستو بیا نبي صلّی الله علیه وسلّم ته وحی اوکړے شوه په باره دَ عذاب قبر کښ او دا حدیث وارد دے په مدینه منوره کښ نو چه په مکه کښ الله تعالیٰ دا ایت رالیږلے وُو او په دے کښ اثبات دَ عذاب قبر وُو نو نبی صلّی الله علیه وسلّم انکار ولے کاوو. دَ دے جواب ابن کثیر په درے طریقو سره کړے دے اول جواب دا دے چه په دے ایت سره صرف پیشی دَ روح په اور باندے په برزخ کښ ثابت ده او دا دلالت نه کوی چه دَ بدان سره دَ عذاب تعلق شته او که نه! نو حصول دَ عذاب دَ بدان دَ پاره په احادیثو سره دَ دے ایت دَ نزول نه روستو ثابت شو. دویم جواب دا دے چه ایت دلالت کوؤ په عذاب دَ کافرانو فقط دَ دے نه عذاب دَ مؤمن په قبر کښ نه ثابتیږ لو او په احادیثو سره عذاب دَ مؤمنانو گنهګارانو ثابت شو. دریم جواب دا دے چه ایت دلالت کوی په عذاب دَ ارواحو باندے نو په احادیث کښ عذاب دَ اجسادو هم ثابت شو.

ف ۴۷ :. دا تخویف اخروی دے مرتب دے په واقعه دَ فرعونیانو لکه چه آل فرعون

كُلٌّ فِيهَا إِنَّ اللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿۴۸﴾

ټول په دے کښې پراته یو یقینًا الله تعالیٰ فیصله کړیده په مینځ د بندګانو کښې۔

وَقَالَ الَّذِينَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوا

او اوبه وائی هغه کسان چه په اور کښې دی ځوکیدارانو د جهنم ته دُعا اوغواړئ

رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ﴿۴۹﴾

د رب خپل نه چه آسان کړی زمونږ نه یو ورځ د عذاب نه۔

قَالُوا أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُم بِالْبَيِّنَاتِ

دوی به اووائی آیا نه وو راغلی تاسو ته رسولان ستاسو په ښکاره دلیلونو سره

قَالُوا بَلَىٰ ۚ قَالُوا فَادْعُوا ۗ وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ

دوی به اُووائی هاں ولے نه۔ او به وائی ملائیک نو دُعاګانی له اوغواړئ او نه ده دُعا د کافرانو

دَ فرعون تابعداری کړے ده په کفر او شرک کښې داسے هر هغه څوک چه دَ باطل پرستو ملایانو پیرانو اقتدار والو تابعداری کوی نو په جهنم کښې به دتنه دَ دوی جګړه دی۔ الضُّعَفَاءُ مراد ترینه هغه خلق دی چه په علم او عقل کښې کمزوری وی په بدن کښې کمزوری ترینه مراد نه ده۔ تَبَعًا دا دَ مفرد او جمع دواړو دپاره مستعملیږی یا اسم جمع دَ تابع ده۔

۴۸:۔ دا جواب دے دَ مستکبرینو په اظهار دَ عجز سره چه مونږ ځان نه شو خلاصولے نو تاسو نه به څنګه عذاب دفع کړو۔ إِنَّ اللَّهَ قَدْ حَكَمَ یعنی فیصله دَ الله تعالیٰ ده په هغے کښې دَ چا وس نه چلیږی او دا فیصله په انصاف سره ده نو اعتراض پرے نشی کیدلے۔

۴۹:۔ هر کله چه په کورنۍ کښې دَ یو بل دَ مدد نه ناامیده شی نو څوکیدارو (ملائکو) دَ جهنم نه به طلب دَ دُعا اوکړی۔ يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ دا تنزّل دے په درخواست کولو کښې یعنی که پوره نجات نه راکوی یعنی په یو غیر معینه ورځ کښې لږ عذاب دَ زمونږ نه لرے کړی۔ جَهَنَّمَ دَ دے لغوی معنیٰ ده ډوبګ ویخ والا یا سخت تیز۔

إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ ﴿٥٠﴾ إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ

مگر بربادہ دہ - یقینًا موږ مدد کوو دَ رسولانو خپلو سره او دَ

ءَامَنُوا فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ

مؤمنانو سره په ژوند دنیوی کښې او په هغه ورځ چه پیش به شي

الْأَشْهَٰدُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ الظَّٰلِمِينَ

گواهان - په هغه ورځ چه نفع به نه ورکوی ظالمانو ته

ٰ - دا جواب دے دَ ملائکو دَ طرفه په تاکید سره په زور ته کښې رُسُلُکُم یعنی ستاسو دَ جنس نه پیغام راوړونکی دَ الله تعالیٰ وو او بے دلیله خبره یې نه ده کړے بلکه بِالْبَيِّنَٰتِ ډیر واضح دلیلونه یې راوړے وو سره دَ دے نه تاسو انکار کړے وؤ نو معلومه شوه چه تاسو ډیر ظالمان کافران یې موږ ستاسو دَ پاره سفارش نه شو کولے خپله ځان له دُعا اوغواړئ -

وَمَا دُعَٰٓؤُا الْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ مراد ترینه دُعا ده په آخرت کښې چه هغه بربادہ ده نه قبلیږی - دنیا کښې دَ دوی بعضے دُعاگانے قبلیږی -

ٰ - دَ دے سورت دریم باب دے تر آخره دَ سورت پورے په دے کښې تسلّی ده ایمان والو ته او امر دے په صبر او استغفار او تسبیح سره دَ پاره دَ دعوت کوونکی - او امر دے په استعاذه سره په وخت دَ جدال دَ خلقو کښې - بیا اثبات دَ قیامت دے په دوه دلیلونو سره - بیا رد دے په شرک فی الدعایات د. چه دعویٰ دَ سورت ده او په هغے باندے تفصیلی اووه دلیلونه دی چه په هغے کښې تفصیل دَ نعمتونو دَ الله تعالیٰ دے چه مالک دَ دے نعمتونو الله تعالیٰ دے نو دَ بل چا نه ولے حاجتونه غواړئ - بیا زجر او تخویف شوی دے هیا دلیلونه او دلیل نقلی اجمالی دے دَ انبیاء علیهم السّلام نه او بیا درے عقلی دلیلونه دی او اختتام دے په تخویف دنیوی او په عدم قبولیت دَ توبے سره په وخت دَ عذاب کښې - په دے (رکوع) کښې تسلی ده په نصرت الهیه سره او دا نتیجه ده دَ ماقبل چه فرعونیان دَ دُنیا او دَ آخرت په عذابونو مبتلا شول او مؤمنان بنی اسرائیل الله تعالیٰ دَ عذاب نه بچ کړل او دَ دشمن په مقابله کښې ورسره مدد اوکړو نو دا حال دَ ټولو مؤمنانو دے فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَٰدُ په دنیا کښې امداد دے کله په غلبه ورکولو سره کله

مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ
بهانے دَ هغوی او دوی دَپاره لعنت دے او دوی لره
سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿۵۲﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى
ناکاره کور دے ۔ او یقینًا ورکړے وو موږ موسٰی علیه السّلام ته هدایت
وَاَوْرَثْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿۵۳﴾
او پاتے کړو موږ په بنی اسرائیلو کښ کتاب (توراة)
هُدًى وَّذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۵۴﴾
چه هدایت او نصیحت وو خالص عقل والو لره ۔
فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسْتَغْفِرْ
نو صبر کوه ۔ یقینًا وعده دَ الله تعالٰی رشتیا ده او بخنه غواړه

دَ دشمن په هلاکولو سره او په آخرت کښ نصرت دَ جهنم نه بچ کول او جنت ته داخلول او عزت او اکرام ایدی ورکول ۔ الاَشْهَادُ مراد دَ دے نه هغه شاهدان دی چه په جُدا جُدا آیاتو کښ ذکر کړیدی ۔ پیغمبران لکه سورة نساء ۴۱ مؤمنان لکه سورة بقره ۱۴۳ اندامونه لکه سورة یٰس ۶۵ او سورة نور ۲۴ او حٰم سجده ۲۰ ملائک لکه سورة قٓ ۲۱ ۔

۵۲ :- دَ مظلوماتو دَ بشارت نه روستو دَ ظالمانو حال ذکر کوی لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ یعنی معذرت به نه شی پیش کولے او که بالفرض پیش کوی نو فائده به نه ورکوی لکه سورة مرسلات ۳۶ او سورة قیامة ۱۵ کښ ۔

۵۳ ۵۴ :- دا هم یو نوع دَ نصرتِ الٰهیه دے او دارنګ دا سبب دے دَ پاره دَ حصول دَ نصرتِ الٰهیه او دا دلیل نقلی دے دَ کتاب دَ موسٰی علیه السّلام نه وَاَوْرَثْنَا په دے کښ اشاره ده چه دا کتاب په بنی اسرائیلو کښ چلیدلو تر نزول دَ انجیل پورے او دارنګ لفظ دَ میراث دلالت کوی چه دوی اهل او حقدار دَ دے کتاب وو ۔
اول الهدٰی مفعول بِهٖ دے او دویم هُدًى مفعول لَهٗ دے هدایت ئے عام وو او تذکرئے خاص وو په اولوالالباب پورے ۔

لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ بِالۡعَشِيِّ
دپاره د خطا ئې خپلې او پاکې وايه سره د ستائينې د رب ستا ته بيگا
وَالۡاِبۡكَارِ ﴿۵۵﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ يُجَادِلُوۡنَ
او صبا - يقينًا هغه كسان چه جگړه كوى
فِيۡۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيۡرِ سُلۡطٰنٍ اَتٰهُمۡ ۙ اِنۡ
په اياتونو د الله تعالىٰ كښې بغير د دليل نه چه دوی ته راغلې وی نيشته
فِىۡ صُدُوۡرِهِمۡ اِلَّا كِبۡرٌ مَّا هُمۡ بِبَالِغِيۡهِ ۚ
په سينو د دوی كښې مگر لوے حسد دے چه نه دی دوی رسيدونكې هغې ته كيدلو ته
فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ
نو پناه غواړه په الله تعالىٰ سره يقينًا هغه هر څه اورى

۵۵ - دا تسلّى ده رسول الله صلّى الله عليه وسلّم لره او آداب ذكر كوى د پاره د داعى الى الحق او په دے ايت كښې درے آداب ذكر دى. ۱ صبر په مصيبتونو باندے - ۲ استغفار - ۳ تسبيح او حمد - اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ مراد د دے نه وعده د نصرت ده چه ۵۱ كښې ذكر شوه. وَاسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ لفظ د استغفار مستلزم د گناه نه دے بلكه هر بنده او بالخصوص مقرب بنده لره د استغفار په طور سره اظهار د بندگۍ لازم دے او دارنگ لفظ لِذَنۢبِكَ صريح په گناه كولو كښې نه دے بلكه كه ذنب چه په معنىٰ د گناه وى نو عام مفسرين تاويل كوى په ذنب امتك سره يا په تعليق مقدّر سره يعنى كه " بالفرض گناه درنه صادر شوے وى "-
يا ذنب نه مراد خلاف اولىٰ دى چه هغه گناه نه دے ليكن انبياء عليهم السّلام د هغې په كولو باندے هم خفه كيږى. بِالۡعَشِيِّ وَالۡاِبۡكَارِ مراد د عشى نه د زوال نه تر غروب د نمر پورے او مراد د ابكار نه د صبا ختلو نه تر زوال پورے يا د نمر ختلو پورے - صبر بندگى د زړه ده استغفار بندگى د ژبے ده او تسبيح او حمد بندگى د عام بدن ده -

الْبَصِيرُ ﴿٥٦﴾ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ
هر څه ويني - خامخا پيدائش د اسمانونو او د زمکے ډير لوے دے
مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ
د پيدائش د انسانانو نه ليکن ډير د دے انسانانو نه
لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمٰى
نه پوهيږي - او برابر نه دے ړوند
وَالْبَصِيرُ ۙ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
او ليدونکے او هغه کسان چه ايمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړي دي د ښستے برابر

سلا۔ په دے ایت کښں څلورم ادب ذکرکوی یعنی استعاذه با لله په وخت دَ
جدل دَ مجادلینو کښں۔ او زجر دے هغوی ته او تسلّی ده چه مجادلین خپل
مقصد ته نه شی رسیدلے۔

اِنَّ فِیْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا کِبْرٌ مراد دَ کِبر نه امر کبیر (لوے مقصد) دے
هغه په سلا کښں تیرشویدے یعنی حق لره مغلوب کول او حق پرستو لره
ختمول۔ مَّا هُمْ بِبَالِغِیْهِ دوی دغه مقصد ته نشی رسیدلے یعنی دغه مقصد
دَ دوی نه حاصلیږی یا مراد دَ کِبر نه تکبر او لوئی ده یعنی دَ دوی په سینو
کښں تکبر دے دَ حق منلو نه او نشی رسیدلے دوی مقتضٰی دَ دے تکبر ته
او مقتضٰی دَ تکبر حق لره ختمول دی او هرکله چه دَ دوی دَ جدال او تکبر
په سبب مؤمن داعی غُصّه کیږی نو دَ غصے دَ دفع کولو دَ پاره ئے
اُفرمائیل فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ۔

سکا۔ په دے ایت کښں زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت روستو دَ زجر نه
په انکار دَ توحید باندے او اثبات دَ قیامت دے په دلیل اِنِّیْ سره یعنی پیدائش
دَ اسمانونو او زمکے دَ اثارو دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے خو دا دلیل ذے په دے
باندے چه الله تعالیٰ دَ خلقو په دوباره ژوندی باندے قدرت لری نو دا استدلال
دے دَ اثارو نه او دے ته دلیل اِنِّیْ ویلے کیږی۔ او دا رنگ دا استدلال
دے دَ قدرت نه په اعلیٰ څیز باندے په قدرت سره په ادنیٰ څیز
باندے او دا قطعی دلیل دے۔

سے۵۸ :- دا هم استدلال دے په اثبات دَ قیامت باندے په طریقه دَ دلیل لمّی سره یعنی فرق په میڅ دَدے فریقینو په دنیا کښې په عقیده او عملونو کښې دلیل دے په فرق کولو سره په جزا او سزا کښې او میدان دَ جزاء او سزا خو غیږ وی دَ میدان دَ عمل نه نو معلومه شوه چه قیامت حق دے - په دے ایت کښې اول عدم مساوات په طریقه دَ تشبیه سره او دویم په طریقه دَ اصل سره دے ځکه چه مراد دَ اعمٰی نه جاهل مقلد دے او مراد دَ بصیر نه عالم مستدّل دے او دا یے په سراج المنیر کښې لیکلے دی -

سے۵۹ :- دا نتیجه دَ ماقبل دواړه دلیلونو ده په سے۵۷ کښې دلیل ذکر کړے وو او چه په دلیل باندے نه پوهیږی نو هغه ته یے علمه ویلے کیږی دَ دے وجے نه دَ هغه ایت په اخر کښې لا یعلمون ذکر کړے دے او په دے ایت کښې مقصد ذکر کړے دے او دا مقصد چه نه منی نو هغه ته بے ایمانه ویلے کیږی ځکه ئے دلته لا یومنون اویل -

سے۶۰ :- هر کله چه په قیامت کښې دَ نجات دَ پاره عقیده او عمل دَ توحید ضروری دی نو اوس په دے ایت کښې توحید فے الدعاء ته رجه دعوی دَ سورت وه)

لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ
تاسو لره شپه (تيارہ) چه آرام کوئ په هغې کښې او ورځ رڼرا والا
إِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ
يقيناً الله تعالىٰ فضل والا دے په خلقو باندے ليکن
أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦١﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ
ډير د خلقو ته شکر نه کوی دغه ذات الله تعالىٰ دے

ترغيب ورکوی او دا دليل وحی دے د پاره د اثبات د دعوے. أَسْتَجِبْ لَكُمْ هر کله چه مراد دُعا نه شرعی دُعا ده چه هغه مشروط ده په شرطونو په نورو آيا تو نو کښې او احاديثو کښې او د هغې سره وعده د استجابت لازمه ده د دے وجے نه استجب سره ئې قيد نه دے لګولے يا دا چه قيد د اِن شئت دلته پټ دے په قرينه د نورو آيا تو نو سره لکه سورة اسراء ۱۸ انعام ۴۱ ليکن اول قول صحيح دے ځکه چه دا قيودات د کافرانو په باره کښې دی.
يَسْتَكْبِرُوْنَ استکبار په طريقه د عبادت سره او په طريقه د شرک کولو سره دے عَنْ عِبَادَتِیْ مراد د عبادت نه دُعا ده په طريقه د توحيد سره او په دے باندے دلالت کوی هغه حديث صحيح چه الدعاء هو العبادة - او حديث په لفظ د الدعاء مخ العبادة سره ضعيف دے. دَاخِرِيْنَ په ذلت سره جهنم ته داخليدل مختص دی په کافرانو پورے نو دا دليل شو چه استکبار د دُعا د الله تعالىٰ نه کفر دے او مراد د دُعا نه په دے آيت کښې سوال د حاجاتو دے په عقيده د توحيد سره.
۶۱: - هلته آيت کښې دعوىٰ د توحيد ذکر شوه نو اوس د هغې د اثبات د پاره عقلی دليلو ته ذکر کوی او په دے دليلونو کښې غټ غټ نعمتونه ذکر کوی چه د دے پيدا کوونکے او مالک صرف الله تعالىٰ دے نو د نورو نه حاجات مه غواړئ.
په دے دليل کښې دوه غټ نعمتونه ذکر کړی - بيا د الليل صفت ئې حذف کړے دے چه مظلمًا دے او فائده ئې ورله ذکر کړے ده ځکه چه تياره مقصد نه دے او د النهار سره ئې صفت ذکر کړے دے ليکن فائده ئې حذف کړے ده چه تبتغوا من فضله دے مثلاً ځکه چه دا صفت مستلزم دے ډيرو فائدو لره - او الَّيْلَ هلته کښې رياتی په بل مخ)

رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَا إِلَٰهَ إِلَّا
رب ستاسو دے پیدا کوونکے د هر څیز دے نیشته حقدار د بندگئ سوا
هُوَ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾ كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ
د هغه نه نو څه رنګه اړولے شئ تاسو د حق نه ۔ دغه شان اړولے کیدل
الَّذِينَ كَانُوا بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾
هغه کسان چه وو د ایاتونو د الله تعالیٰ انکار ئې کوؤ ۔
اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا
الله تعالیٰ هغه ذات دے چه جوړه کړے ده تاسو لره زمکه د ارام د پاره
وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ
او اسمان چت او شکلونه ئې درکړیدی تاسو ته نو خائسته کړیدی شکلونه ستاسو
وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ
او روزی درکړیده د پاک خوراکونو نه دغه الله تعالیٰ

ذکر کړے دے ځکه چه د میاشتو په حساب کښې شپه مقدم وی په ورځ باندے۔ او لفظ د الناس ئې دوه کرته ذکر کړو د تاکید د زجر د پاره اول الناس کښې ټول انسانان مراد دی او دویم کښې اکثر مراد دی۔

۶۲:۔ په دے کښې دلیل دے او نتیجه ده د مخکښې دلیل د پاره هم۔ توحید د ربوبیت او توحید د الوهیت دواړه ئې په دے ایت کښې جمع کړے دی۔
تؤفکون په هغه اوړیدلو کښې ذکر کیږی چه یو جانب حق وی او بل جانب باطل وی۔

۶۳:۔ په دے ایت کښې علت د اوړیدلو ئې ذکر کړو چه انکار د ایات الله دے او دا مشترک علت دے د پاره د منکرینو۔

رَبُّكُمْ ۚ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾

رب ستاسو دے نو برکتونو والا الله تعالیٰ دے چه رب دَ عالمینو دے۔

هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ

الله تعالیٰ ژوندے دَ هیشه، نیشته حق دار دَ بلنے بیوا دَ هغه نه نو بلئ هغه لره چه اخلاص کونکی یئ

لَهُ الدِّيْنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾

هغه لره دَ بلنے ، صفتونه دَ خدائیتوب خاص الله تعالیٰ لره دی چه رب دَ عالمینو دے۔

قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ

ته اُوایه یقینًا زه منع کرے شوے یم چه بندگی اوکړم دَ هغه کسانو چه تاسو یې بلئ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنٰتُ

بیوا دَ الله تعالیٰ نه هرکله چه راغلل ما ته ښکاره دلیلونه

سـ۶۴۔ دا هم دلیل دے او په دے کښ څلور لوے لوے انعامات ذکر کوی هغه مخکښ انعامات زمانیه وو او دا انعامات مکانیه دی او دَ مکان سره یې ذکر دَ مکین (انسان) هم کړے دے نو په دے ایت کښ آفاقی علوی او سفلی او انفسی نعمتونه یې دَ پاره دَ دلیلونو یو ځائے کړے دی. فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ دا رنګ سورة تغابن سـ۳ او والتین سـ۴ کښ هم راغلے دی۔ الله انسان سیدها قد وقامت والا پیدا کړے دے او خوراک سکاک په لاسو باندے کوی او سترګے او پوزه او خوله یې په ښائسته ترتیب سره په مخ باندے جوړ کړے دی او ایت دلیل دے چه په مخلوق کښ دَ انسان احسن صورت والا بل څیز نیشته دے. فَتَبٰرَكَ دا تفریع ده په تیرشوی نعمتونو باندے او برکت په معنیٰ دَ دیر وفائدو او پیدا کولو دَ فائدو لے وخت په وخت زیاته ولوته ویلے کیږی او دَ دے تشریح مخکښ تیره شویده او هرکله چه نعمتونه زمانیه دَ پاره دَ تربیت او نعمتونه مکانیه هم دَ پاره دَ تربیت دی دَ دے وجے په سـ۶۲ او په دے ایت دواړو کښ ذٰلکم الله ربکم ذکر کړے دے۔

سـ۶۵ ۔ دا هم دلیل دے او توحید دَ الوهیت او توحید فی الدعاء سره دَ حمد نه په طور دَ نتیجے سره ذکر کړیدی۔

مِنْ رَّبِّيْ وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۶﴾

دَ طرفه دَ رب زما نه او حکم کړے شوے دے ما ته چه تابع او سم رب دَ عالمينو لره ـ

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ

خاص الله تعالىٰ هغه ذات دے چه پيدا کړی يُ تاسو دَ خاورو نه بيا دَ

نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ

نطفے نه بيا دَ ټکړے دَ وينے نه بيا را اوباسي تاسو

طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا اَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا

واړه واړه بيا (ر پالی تاسو) چه اورسيږئ ځوانئ خپلے ته بيا (عمر درکوی) دَ پاره دَ دے چه

شُيُوْخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ قَبْلُ

بوډاګان شئ او بعضے ستاسو نه هغه دی چه مړه کړے شی مخکښ

وَلِتَبْلُغُوْٓا اَجَلًا مُّسَمًّى وَّلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾

او (ر ساتی تاسو) دَ پاره دَ دے چه اورسے تاسو نيټے مقررے ته او دے دَ پاره چه دَ عقل نه کار وا خلئ ـ

۶۶ ـ دا نتيجه دَ دليلونو مخکنو ده يعنی دغه دليلونه مستلزم دَ شرک نه دَ نهی دَ پاره او دَ توحيد دَ امر دَ پاره دی او دارنګ دا جواب دے مشرکانو ته هر کله چه هغوی دعوت ورکوی پيغمبر ته دَ غير الله ته نو دا جواب به يُ کيدېشی.
۶۷ ـ دا هم دليل دے په مختلفو حالتونو دَ انسان باندے په وخت دَ ابتدائی پيدائش کښ نو دغه دليل انفسی ويلے کيږی.
مِنْ تُرَابٍ دَ هر انسان نطفه دَ زمکے دَ اشياؤ نه پيدا کيږی نو معلومه شوه چه تراب ماده بعيده ده او هر کله چه دَ دے حالاتو په انقلاب کښ وخت لږی نو دَ دے وجے نه ثُمَّ ثُمَّ يُ په مينځ کښ راوړے دے۔
(سوال) سورة حج ۵ کښ ثم من مضغة ذکر کړے دے نو دلته ولے ذکر نه کړو؟
(جواب) هر کله چه دَ دے ايت نه مخکښ دَ صورت دَ انسان ذکر يُ کړے دے او صورت دَ مضغے سره تعلق لری دا سے شو لکه صور مضغکم نو بيا ذکر ته ضرورت نه و. او سورة حج کښ دا سے ذکر نه وُ کړے شوے۔
طِفْلًا جنس دے په معنیٰ دَ جمع سره او طفولة تابعدارے ته ويلے کيږی نو ځوړوے چه بچے مور او پلار ته محتاج وی په خوراک او سکاک کښ او په جامه

هُوَ الَّذِىْ يُحْىٖ وَيُمِيْتُۚ فَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا

خاص الله تعالىٰ هغه ذات دے چه ژوندی کول او مړه کول کوی نو کله چه اراده وکړی د یو کار

فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۶۸﴾

نو یقیناً وائی هغه ته او شه نو هغه اوشی

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ

آیا نه ته نه گورے هغه کسانو ته چه جگړے کوی په

اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ اَنّٰى يُصْرَفُوْنَ ﴿۶۹﴾ۚۛ الَّذِيْنَ

آیاتو د الله تعالیٰ کښ څه رنگ اړولے کیدشی د حق نه دا هغه کسان دی

كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۛ

چه تکذیب کوی د کتابونو او د هغه خبرے چه رالیږلے دی مونږ په هغے سره رسولان خپل

فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۰﴾ اِذِ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ

نو زر ده چه دوی به پوهه شی په هغه وخت چه طوقونه به په

اغوستلو کښ نودے تابع دے د موراو پلار. اَشُدَّكُمْ اجتماع د قوت بدنیه او قوت عقلیه ته اَشُدّ ویلے کیږی. ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا نه رواندے فعل پټ دے یعنی ثم يربيكم لتبلغوا ۔ او د اشد اطلاق ترڅلویښتو کالو پورے کیږی. ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا شُيُوْخًا دلته هم فعل پټ دے یعنی ثم ينقص القوة لتكونوا شيوخا. وَلِتَبْلُغُوْٓا دلته فعل مقدر دے ويفعل ذلك لتبلغوا اجلا مسمى، مراد د دے نه اجل مقرره د مرګ دے.

س۶۸ :۔ دا هم دلیل دے مختص خاص د انسانانو حیات او ممات ذکرشو اوپدے کښ عام ذکر کوی او په فَاِذَا قَضٰٓى سره اشاره کوی چه دا کارونه الله تعالیٰ ته ډیر اسان دی.

س۶۹ تا ۷۰ :۔ دا بیا زجر دے مجادلینو ته یعنی دغه دلیلونه چه تیر شول په دے کښ جګړے کوی او چل شرک ثابتوی او د دے مجادلینو حال ئے بیان کړے دے. بِالْكِتٰبِ جنس کتابونه الهیه ترینه مراد دی یا صرف قران مراد دے وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا مراد د دے نه مسئله د توحید ده چه هغه په سورة انبیاء س۲۵ او سورة نحل س۳۶ کښ ذکر ده.

أَعۡنَاقِهِمۡ وَالسَّلٰسِلُ ؕ يُسۡحَبُوۡنَ ﴿۷۱﴾

په کیږی راښکلے (زنځیرونه په خپو کښې وی) او وی کښې دوی د ستونو

فِي الۡحَمِيۡمِ ۙ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسۡجَرُوۡنَ ﴿۷۲﴾

په ایشیدلو اوبو کښې بیا به په اور کښې روا ته کړے شی.

ثُمَّ قِيۡلَ لَهُمۡ اَيۡنَ مَا كُنۡتُمۡ تُشۡرِكُوۡنَ ﴿۷۳﴾

بیا به اوویلے شی دوی ته کوم ځائے دی هغه کسان چه تاسو شریکول د الله تعالیٰ سره

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوۡا ضَلُّوۡا عَنَّا بَلۡ

سوا د الله تعالیٰ نه دوی به اووائی روک شو زمونږ نه بلکه

لَّمۡ نَكُنۡ نَّدۡعُوۡا مِنۡ قَبۡلُ شَيۡـًٔا ؕ

نه دے راپلے مونږ د دے نه مخکښې هیڅ څیز.

ـلـه نه تر ۸۲ پورے په دے ایا تونو کښې تخویف اخروی ذکر کوی د پاره د
مجادلینو او دا تخویف مشتمل دے په لس امورو باندے. ع۱ اِذِ الۡاَغۡلٰلُ فِيۡۤ اَعۡنَاقِهِمۡ
اذ په معنی د اذا سره دے د دے وجے نه چه دا حالات راتلونکی دی لیکن
قران کښې اکثر د قیامت حالات په الفاظو د ماضی سره ذکر کوی د وجے د
یقین نه ع۲ وَالسَّلٰسِلُ، د دے دوه معنے دی اول دا چه عطف دے الاغلال
باندے په طریقه د عطف مفرد سره په مفرد باندے یعنی سلاسل به هم
د دوی په ستونو کښې وی دویمه معنیٰ دا ده چه عطف د جملے دے په جمله باندے
او خبر ئے حذف دے یعنی سلاسل به د دوی په خپو کښې واچولے شی.
ع۳ يُسۡحَبُوۡنَ د السلاسل سره متعلق دے نو بهاپت دے یعنی راښکلے کیږی
به په دغه زنځیرونو سره یا مطلق راښکل مراد دی. ع۴ فِي الۡحَمِيۡمِ متعلق دے
د یسحبون سره او یا مستقله جمله ده په تقدیر سره چه یدخلون فی الحمیم.
ع۵ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسۡجَرُوۡنَ یعنی په شان د خاشاک به په دوی سره اور توده وے
شی یا معنیٰ دا چه روا تلوے به شی په اور کښې یا په معنیٰ د ډکولو سره دے یعنی
ډکولے به شی په دوی سره اور د جهنم ع۶ ثُمَّ قِيۡلَ لَهُمۡ اه دا تپوس د پاره د
سخت زجر دے هغه چا ته چه په دنیا کښې شرک فی الدعا ئے کړے وو.
اَيۡنَ مَا كُنۡتُمۡ تُشۡرِكُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ یعنی کوم ځائے دی چه اواز کړے ورته

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۴﴾ ذٰلِكُمْ

دغه شان په خطا کوی الله تعالیٰ کافرانو لره - دا په

بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ

سبب د دے چه تاسو خوشحالی کوله په ملک کښ په غیر

الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ﴿۷۵﴾ اُدْخُلُوْٓا

د حق د لوئی نه او په دے وجه چه تاسو لوئی کوله - داخل شئ

اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ

دروازو د جهنم ته همیشه به یئ په هغے کښ نو ناکاره دے

مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۶﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ

ځائے د اوسیدلو د لوئی کوونکو - تو صبر کوه یقینًا وعده د الله تعالیٰ

چه تاسو د دے عذاب نه بچ کړی نو دوی به اول جواب اوکړی ضَلُّوْا عَنَّا روک شول زمونږ نه او دا جمله مستلزم ده د دوی اقرار کولو لره په شرک د دوی باندے نو بیا به یئ خیال راشی چه دا خو مونږ بد کار اوکړو چه د ځان نه مو اقرار اوکړو نو دویم جواب به اوکړی بَلْ لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْئًا یعنی انکار به اوکړی د شرک فی الدعا نه لکه سورة انعام ۲۳ کښ تیر شویدی.
۷۴ كَذٰلِكَ يُضِلُّ مراد د اضلال نه په جواب ورکولو کښ گډ وډ کول دی لکه چه اوس گډ وډ شول چه کله اقرار کوی او کله انکار، او دا د دوی شرمول دی.
تَفْرَحُوْنَ فرق د فرح او د مرح دا دے چه اول د زړه سره تعلق لری او دویم د ظاهر سره تعلق لری، او دویم قول د دے برعکس دے قرطبی دویم فرق ته اشاره کړے ده ویلے دی په معنیٰ د تفرحون کښ مراد دا دے چه ښکاره کوله تاسو خوشحالی په گناه کولو او په ډیرو مالونو او ډیرو نوکرانو او په صحت او عافیت سره" نو په دے کښ عرسونه د پیرانو هم داخل دی چه په شرک کولو سره خوشحالئ ښکاره کوی. او تَمْرَحُوْنَ دا دے چه په رفتار او گرځیدلو کښ تکبر او لوئی کوی لکه لاتمش فی الارض مرحا ۷۵ اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ مراد تری نه په طریقه د تقسیم سره دی نو بعض به دروازے ته داخل شئ او بعضے بلے ته ۷۶ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ۔ مثوی هغه ځائے دے چه په هغے کښ همیشه اقامت وی او په بے اختیاره ځائے کښ استعمالیږی۔

حَقٌّ ۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ

حقه ده تو یا به او ښایو موږ تاته بعضې هغه عذاب چه وعده کوو موږ دَ دوی سره

أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿۷۷﴾ وَلَقَدْ

یا به وفات کړو تا تو موږ ته به دوی راګرځي - او یقیناً

أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن

لیږلی دی موږ رسولان مخکښې ستا نه بعضې دَ دوی هغه څوک دی

قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ

چه بیان کړیدی موږ په تا باندے او بعضې هغه دی چه نه دی بیان کړی موږ

عَلَيْكَ ۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ

په تا باندے او نیشته په اختیار دَ رسول کښې چه راوړی هیڅ معجزه

إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ فَإِذَا جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ قُضِيَ

مګر په حکم دَ الله تعالیٰ هغه وخت چه راشی حکم دَ الله تعالیٰ فیصله به اوکړیشی

۷۷: هرکله چه حال دَ مجادلینو بیان شو نو اوس تسلّی ورکوی نبی صلّی الله علیه وسلّم ته په پنځو طریقو سره اول امر ورکوی په صبر کولو سره په جدال او په تورو اذیتونو دَ مجادلینو باندے دویم إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ دا وعده په ۵۵ کښې تیره شویده دریم جواب دَ سوال دَ دی چه په موږ باندے په سبب دَ جدال کولو عذاب وَلے نه راځی جواب اوشو په دے قول سره چه فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ حاصل جواب دادے چه عذاب به په دوی باندے ضرور راځی یا به ستا په ژوند کښې راشی نو ته به یې او وینې یا به ستا دَ وفات نه روستو راشی نو ته یې خو لتے لیدلے لیکن قیامت کښې به او وینې ځکه چه دَ دوی رجوع کیږی موږ ته په قیامت کښې - او دَ اِمَّا جواب پټ دے (فذاك) سره.
او فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ قائم مقام دے دَ جواب دَ نتوفینك یعنی فنعذبهم عذاباً شدیداً او دا سے په سورۃ یونس ۴۶ او سورۃ رعد ۴۰ او سورۃ زخرف ۴۱ ۴۲ کښې ذکر دی.

بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَللّٰهُ

په حقه سره او ښکاره شو دغه وخت تاوان دَ باطل پرستو خلقو ۔ الله تعالیٰ

الَّذِیْ جَعَلَ لَکُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْکَبُوْا مِنْهَا

هغه ذات دے چه پیدا کړیدی تاسو لره څاروی دَ دے دَپاره چه سورلی کوئے په بعضو دَ هغے نه

وَمِنْهَا تَاْکُلُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَلَکُمْ فِیْهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوْا

او بعضے دَ هغے نه تاسو خورئے ۔ او تاسو لره په هغے کښ فائدے دی او دَ دے دَپاره چه اورسیږئے

عَلَیْهَا حَاجَةً فِیْ صُدُوْرِکُمْ وَعَلَیْهَا وَ

په هغے باندے سواره هغه حاجت ته چه په سینو ستاسو کښ دے او په هغے باندے او

عَلَی الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَیُرِیْکُمْ اٰیٰتِهٖ

په کشتو باندے پورته کولے شئ تاسو ۔ او ښائی تاسو ته دلیلونه خپل

ـــــ ۷۸ :۔ دا څلورمه تسلّی ده په ذکر دَ تکالیفو دَ انبیاؤ سابقینو سره اشارةً او پنځمه تسلّی جواب دَ سوال دَ منکرینو دے چه ته رسول یئے نو مونږ ته هغه معجزے راوړه کوم چه مونږ طلب کوو جواب داد دے وَمَا کَانَ لِرَسُوْلٍ اٰه او هم دا سے ذکر شویدی په سورة رعد ـــــ ۳۸ او سورة ابراهیم ـــــ ۱۱ کښ ۔ او په دے ایت کښ دلیل نقلی اجمالی دے دَ انبیاء علیهم السلام نه وَخَسِرَ هُنَالِكَ خسران دَ دوی په اصل کښ په وخت دَ ناکاره عملونو کښ وؤ لیکن په هغه وخت دوی ته خپل خسران نه ښکاره کیدلو او په وخت دَ عذاب کښ خسران ښکاره شو دَ دے وجے نه دَ هُنَالِكَ تخصیص یئے اوکړو ۔

ـــــ ۷۹ ـــــ ۸۰ ـــــ ۸۱ :۔ په دے ایاتونو کښ نور دلائل عقلیه په ذکر دَ نعمتونو سره ذکر کوی په اول ایت کښ یئے دَ څارو نه دوه لوئے فائدے ذکر کړیدی چه سورلی او خوراک دے ۔ لِتَرْکَبُوْا مِنْهَا لفظ دَ منها کښ اشاره ده چه ټول څاروی دَ پاره دَ سورلئے کولو نه دی او دارنګ حلال څاروی ټول نه خوړلے کیږی ۔ او دویم کښ یئے درے نعمتونه ذکر کړل ۔ مَنَافِعُ دَ وېښتو او وړئے نه ډیرے فائدے دی او دارنګ دَ پیؤ (شودو) نه ډیرے فائدے او دَ هډوکو دَ څرمنو او هډوکو نه ډیرے فائدے دی ۔ وَلِتَبْلُغُوْا عَلَیْهَا حَاجَةً فِیْ صُدُوْرِکُمْ په دے کښ اشاره ده سخت حاجت ته چه دَ هغے دَ وجے (پاتے په بل مخ)

فَأَيَّ آيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ﴿۸۱﴾ أَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

نو کوم یو دَ دلیلونو دَ الله تعالیٰ نه تاسو انکار کوئے ۔ آیا نو دوی نه ګرځی

فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په ملک کښ چه اوګوری چه څه رنګ شو انجام

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوْا أَكْثَرَ

دَ هغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښ وو هغوی وو ډیر

مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَّآثَارًا فِي الْأَرْضِ

دَ دوی نه او زیات په قوت کښ او په نښو جوړولو سره په زمکه کښ

فَمَا أَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾

نو دفع نه کړو دَ دوی نه (عذاب) هغه کارونو چه دوی کول ۔

ستاسو سینے تنګے دی چه دے حاجت ته په خرګله ورسیږم نو دَ اوښانو او اسونو په ذریعه سره اورسیږئے ۔ دَ عَلَى الْفُلْكِ دَ کشتئ سره لفظ دَ فی او علیٰ دواړه استعمالیږی لیکن دلته دَ مناسبت دَ علیها په وجه سره دَ عَلیٰ لفظ ذکر کړے شو ۔

فائده :۔ لترکبوا او لتبلغوا او تحملون کښ خوځا هرًا یو فائده ده لیکن حقیقت کښ فرق دے هغه دا دے چه رکوب نه مراد سفر دَ سورلئ دے دَ هجرت او جهاد او طلب دَ علم دَپاره او دَحاجه نه مراد امور دنیویه دی لکه تجارت کول نو دا دواړه اختیاری امور دی او ضروری هم دی دَ دے وجے نه ئے په حرف دَلام او په صیغه دَ معلوم سره ذکر کړل او تحملون نه مراد مجبوری سورلی ده لکه په حال دَ مرض کښ دَ یو ځائے نه بل ځائے ته سفر کول نو دا غیر اختیاری ده نو په صیغه دَ مجهول سره ئے ذکر کړه او خوراک دَ غوښے او دا سورلی چه روستو ذکر شوه دا دواړه مقصدی امور نه دی نو بغیر دَ لام نه ئے ذکر کړل او په روستی آیت کښ بے شماره نعمتونو ته اشاره ده په دے لفظ سره چه ویریکم آیاته ۔

۸۲ ۔ مخکښ آیاتو کښ آیات دَ نعمتونو ذکر کړل نو اوس آیات دَ عذاب ذکر کوی او دا تخویف دنیوی دے ۔ فَيَنْظُرُوْا یعنی سیل اوکړئے په قصدا دَ عبرت اغستلو سره نو نظر دَ فکر او کړئے ۔ أَكْثَرَ مِنْهُمْ ډیر وو په شماره کښ او په مال کښ وَأَشَدَّ قُوَّةً په بدنونو سره زیات قوت والا وو وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ او چتے بنګلے

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا

پس هر کله چه راغلل دوی ته رسولانو دَ دوی ښکاره حکمونه نو لوئي اوکړه

بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا

دوی په هغه علم چه دَ دوی سره وؤ او راګیر کړه دوی لره هغه څیز

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۸۳﴾ فَلَمَّا

چه دوی په هغې پورے توقے کولے ۔ نو هر کله

رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ

چه دوی اولیدو عذاب زموږه اُوئیل دوی ایمان راوړے دے موږ په الله تعالیٰ باندے په یو والی دَ هغه

او اباده کول په غرونو کښ او په دیکښ اشاره ده قوم فرعون ته چه په دے سورت کښ دَ هغوی حال تیرشو یدے فَمَآ اَغْنٰی، ما نافیه او استفهامیه دواړه کیدے شی نو معلومه شوه چه دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه دَ دنیا مال وجاه وغیره نجات نشی ورکولے۔

۸۳ :۔ په دے کښ سبب دَ عذاب ذکر کوی چه هغه تکذیب دَ پیغمبرانو دے، فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ضمیرونه راجع دی کافرانو ته او دَ علم نه مراد دنیوی علمونه دی لکه فلسفه ریاضی سائنس او طب وغیره لکه چه بقراط یا سقراط حکیم ته ویلے شوے وو چه ته موسیٰ علیه السّلام ته ورشے نو هغوی اُوئیل چه موږ مهذب قوم یو زموږ دَ چا تهذیب او هدایت ته حاجت نشته او دارنګ جالینوس حکیم عیسیٰ علیه السّلام ته ویلے وو چه ته موږ ته نه یئے رالیږلے شوے موږ خو ستا نه ښه پوهیږو۔ یا دَ علم نه مراد دَ دوی شبهات کفریه او شرکیه او بدعیه دی چه دوی ګمان کړے وؤ چه دا علم دے لکه استدلال دَ دوی په اتباع دَ ابا ؤ خپلو سره یا په دے قول سره چه لوشاء الله ما اشرکنا یا په دے قول سره چه من یحي العظام وهی رمیم وغیره۔

بعضو مفسرینو ویلے دی چه عندهم ضمیر انبیاؤ ته راجع دے او فرحوا ضمیر کافرانو ته راجع دے او مراد دَ فرح نه خندا او توقے مسخرے کول دی، او دا ایت دلیل دے پدے چه چا ته قرآن او صحیح حدیث پیش کړے شی او دَ هغې په مقابله کښ نور کتابونه او دلیلونه پیش کوی یا په خپل تقلید باندے کلک وی نو دغه سړے دَ هغو باطل پرستو په طریقه باندے روان دے

وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿۸۴﴾

او انکار کوؤ موږ دَ هغه معبودانو نه چه شریکان کړي مونږ دَ الله تعالیٰ سره۔

فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ لَمَّا

نو نفع نه ورکوله دوی ته ایمان راوړلو دَ دوی کوم وخت

رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ

چه اولیدلو دوی عذاب زموږ پښان دَ طریقه دَ الله تعالیٰ هغه چه تیره شوی ده

فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾

په بندګانو دَ هغه کښ او تاوان ښکاره شو په دغه وخت دَ کافرانو ۔

۸۴:۔ هرکله چه کفّار پوهه شول په وخت دَ عذاب کښ چه بل هیڅ څیز فائده نشي ورکولے بلکه معبودان دَ دوی هم نجات نشي ورکولے نو دوی په دغه وخت کښ ایمان په توحید باندے راوړو لکه چه فرعون دا سے کار کړے وؤ۔
وَكَفَرْنَا دا کفر په معنیٰ دَ انکار سره دے كُنَّا بِهٖ په سبب دَ عبادت کولو دَ هغوی موږ مشرکان شوے وو۔

۸۵:۔ دا ایمان اضطراری مجبوری دے دا قبول نه دے۔ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ لفظ دَ يَكُ ئے دَ تاکید دَ نفي دَ پاره راوړے دے۔ سُنَّتَ اللّٰهِ مفعول مطلق دے دَ پاره دَ فعل محذوف سَنَّ الله تعالیٰ سنة یا مفعول بِهٖ دے دَ پاره دَ فعل محذوف یعنی احذروا (راویریږئ) او دَ دے سنّت نه مراد دا دے چه په حالت دَ عذاب راتللو کښ ایمان نه قبلیږي وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ په ۷۸ کښ ئے المبطلون اُویل او په دے آیت کښ الکافرون وجه دَ فرق دا ده چه په هغه آیت کښ قضي بالحق ذکر شوے وؤ او دَ حق په مقابله کښ ابطال ذکر کیږي او په دے آیت کښ ایمان ذکر دے او دَ ایمان په مقابله کښ کفر ذکر کیږي۔

تفسیر دَ سورة غافر په فضل دَ الله تعالیٰ سره

ختم شو۔

حٰمٓ ① تَنۡزِيۡلٌ مِّنَ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ②

الله تعالیٰ ڏ دے په مراد پانده پوهیږی. نازول دی ڏ طرف ڏلوے مهربان رحم کوونکی نه -

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سورة حٰمٓ سجده او ڏ دے نور نومونه دا دی. فصلت، المصابیح، الاقوات، سجدة المؤمن.

ربط ڏ دے سورت ڏ مخکښ سورت سره په ډیرو طریقو سره دے. اوله طریقه دا ده چه په تیرشوے سورت کښ رد ڏ شرک فی الدعا وؤ نو په دے سورت کښ دفع ڏ درے او هامو ڏ متکرینو ده. دویمه دا چه په سورة مؤمن کښ نهه صفتونه ڏ نازلوونکی ڏ قران وو چه الله تعالیٰ دے نو په دے سورت کښ نهه احوال ڏ منزّل (قران) دی. دریمه طریقه دا چه هلته ڏ تخویف دنیوی یوه نمونه وه نو په دے سورت کښ دوه نمونے ذکر کوی، څلورمه دا چه په هغه سورت کښ یئے تفصیل ڏ دعوت ڏ داعی (رجل مؤمن) ذکر کړو نو په دے سورت کښ طریقے او اداب ڏ دعوت ذکر کوی، پنځمه دا چه په هغه سورت کښ زجرونه وو په مجادلینو باندے نو په دے سورت کښ ڏ هغوی شبهاتِ باطله ذکر کوی چه دا ڏ دوی جدال دے، شپږمه طریقه دا ده چه په هغه سورت کښ انکار ڏ مشرکینو ذکر دے ڏ شرک فی الدعاء نه په ورځ ڏ قیامت نو په دے سورت کښ په هغوی باندے شهادت ڏ جوارحو ذکر کوی.

دعوىٰ ڏ دے سورت: اثبات ڏ توحید دے په دفع ڏ درے شبهاتو سره. او په اته عقلی دلیلونو سره او په رد ڏ اقسامو ڏ شرک سره (شرک فی العبادة او فی الدعا او فی العلم) او په پنځلس اسماء الٰهیو سره، او په ډیر زجرونو او تخویف دنیویو او اخرویو سره.

خلاصه ڏ سورت دا ده چه دا سورت تقسیم دے درے بابونو ته.
اول باب تر ۲۴ پورے دے په دے کښ اول ترغیب دے قران ته په ذکر ڏ نهه حالاتو ڏ قران او زجر دے په اعراض ڏ قران سره (پاتے په بل مخ)

كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ
كتاب دے جدا جدا بیان شویدی ایاتونه دده قرآن دے عربی ژبے والا دپاره دهغه قوم

يَّعْلَمُوْنَ ۝۳ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۚ فَاَعْرَضَ
چه پوهیږی زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے نو مخ اوګرځوۀ

اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ۝۴ وَقَالُوْا
ډیرو خلقو نو دوی ته اوری او دوی وائی

قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ وَفِيْٓ
زړونه زموږ په پردوکښ دی دهغه نه چه ته موږ بلے هغه ته او په

بیا شبهه دمنکرینو ده او جواب دهغے دے بیا خلور عقلی دلیلونه دی بیا تخویف دنیوی په ذکر دعاد او دثمود سره او تخویف اخروی تفصیلی دے۔

(تفسیر)

۱ خبر دمبتدا محذوف دے یعنی هذا حٰمٓ۔ دا نوم دقرآن یا نوم دسورت دے یا دپاره داعجاز دے۔

۲، ۳ دا ترغیب دے په ذکر کولو دتهه احوالو دقرآن تنزیل دا خبر د مبتدا محذوف دے او دا مصدر په معنیٰ دمفعول دے ۲ من الرحمٰن الرحیم اشاره ده چه دا قرآن دالله تعالیٰ درحمتونو ذریعه ده ۳ کتٰب بدل دے د تنزیل نه او دا لفظ دلالت کوی چه جامع دے ۴ فصلت اٰیٰته احکام او امثال او دلیلونه او تخویفات او بشارتونه ټول پکښ جدا جدا په تفصیل سره دی۔ ۵ قرانًا یعنی جامع دے یا مجموع دے یا لوستلے شوے دے، ۶ عربیًا عربی ژبے والا دے یعنی واضح بیان والا دے ځکه چه عرب دلالت کوی په وضوح باندے۔ ۷ لقوم یعلمون چه علم لری چه دا منزّل من الله دے یا علم دتوحید لری یا علم دلغت عربی لری نو دهغوی دپاره فائده ورکوونکے دے ۸ بشیرًا دتصدیق کوونکو دپاره بشارتونه ورکوی، ۹ نذیرًا د مخالفینو دپاره په تخویفاتو باندے مشتمل دے۔ ۱۰ فَاَعْرَضَ دا زجر دے فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ دا تفسیر داعراض دے یا معنیٰ دا چه اعراض کوی د توحید نه نو قرآن د دے وجے نه اوری۔

اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ

غوږونو زمونږکښې دروند والے دے او په مينځ زمونږ او په مينځ ستاکښې پرده ده

فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ﴿۵﴾ قُلْ اِنَّمَآ

نو ته خپل کار کوه يقيناً مونږ خپل کارکوونکي يو ته اُووايه يقيناً

اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰۤى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ

زهٔ بشر يم ستاسو په شان دی کيدے شی ماته چه يقيناً حقدار د بندګئ ستاسو

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْۤا اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ

يو ذات دے نو برابر شئ د هغه طرف ته او بخنه غواړئ د هغه نه

ف: دا عطف دے په اعراض باپه لا يسمعون باندے او دا سبب د اعراض ذکر کوی او دا اوله شبهه ده د متکرينو حاصل شبه دا دے چه ستا دا مسئلے زمونږ د پوهے نه او چتے دی نو مونږ ته دا بيان مکوه. فِیٓ اَکِنَّةٍ په دے لفظ کښې ډيره مبالغه ده په نسبت د علی قلوبهم اکنة سره يعنی دا زړونه دننه په پردو کښې انغښتلے شوی دی هيڅ وت او روړکښې نيشته وَقْرٌ کنايه ده هغه مقصود د مشرکانو او مبتدعينو نه چه غوږونه د جاهلانو ئے د حق او ريدلو نه بند کړی دی.
وَمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ په دے کښې ډير تاکيد دے يعنی حجاب زمونږ او ستا په مينځ کښې چه ډيره فاصله ده هغه ټوله بنده کړے ده او دا درے واړه (اکنة، وقر، حجاب) په طريقه د تشبيه سره دی اشاره ده چه د پوهيدلو اسباب زړونه او غوږونه او سترګے دی او هغه درے واړه زمونږ ته ستا په مسئلو کښې هيڅ کار نه کوی. او حجاب نه مراد مخالفت د دين دے يا تفاوت د جهل او د علم دے. فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ يعنی د خپل دين په مقتضٰی باندے کار کوه او مونږ پريږده چه خپله بخوانے طريقه عمل کوو يا ته کوشش کوه زمونږ په مقابله کښې او مونږ به ستا په مقابله کښې محنت کوو.

وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ ۝٦ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡتُونَ

او تباهي ده مشركانو لره هغه كسان چه نه وركوي

ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ۝٧

زكوٰة او دوي د آخرت نه انكار كوونكي دي.

سے:. دا جواب دے دَ دغه شبهے. حاصل دَ جواب دا دے چه زما په خبرو باندے په هله ستاسو عقلونو او غوږونو كار نه كولے او دا رنگ زه به تاسو ته هله نه ښكاره كيدلے چه زه ملك يا پيرے وے نو زهٔ خو ستاسو غوندے بشر يم. او بشر خو دَ بل خبرے اوري او بويل لره ويئي او دَ بويل په خبرو باندے پوهيږي. يُوحَىٰٓ إِلَيَّ يعني زما او ستا فرق خو صرف په وحي او عدم وحي كښې دے دَ بشريت په تقاضا كښې نيشته. أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ دا خلاصه دَ توله وحي ده يعني دا خو داسے مسئله ده چه په عقل او نقل سره ثابته ده او مختصره خبره ده نو بيا پرے ولے نه پوهيږئ. فَٱسۡتَقِيمُوٓاْ إِلَيۡهِ پس دَ جواب نه دعوت دے توحيد ته. معنیٰ دا چه كلك شئ په توحيد باندے مه كږيږئ هيڅ قسم شرك كولو ته واستغفروه يعني دَ تير شوے شرك كولو نه استغفار اوكړئ نو الله تعالىٰ به تاسو معاف كړي. وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ دا علت دے دَ استغفار يعني دَ شرك نه توبه دَ دے وجے نه اوباسئ چه دَ تباهئ نه بچ شئ.

سے:. دا اوصاف قبيحه دَ مشركانو ذكر كوي روستو دَ وصف دَ شرك نه ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ يعني داسے عمل نه كوي چه دَ دوي نفس او مال په هغے سره پاك شي نو دلته زكوٰة په عامه معنیٰ سره دے لكه چه دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دے او دا وصف ئے دَ دے وجے نه په ذكر سره خاص كړو چه مشركان دَ غير الله په نوم باندے نذرونه وركوي او منجورانو ته ئے وركوي او په گناهونو كښې خرچ كوي ليكن دَ الله تعالىٰ په نوم باندے په مسكينانو باندے خرچ نه كوي. او په دے آيت كښې اشاره ده چه كافرانو ته به سرهٔ دَ كفر نه په نورو گناهونو باندے هم عذاب وركوي. زكوٰة نه وركول يو په طريقه دَ انكار سره دي نو دا خو كفر دے دويم په طريقه دَ ترك العمل دے يعني انكار دَ فرضيت نه نه كوي ليكن نه ئے وركوي نو په دے سره كفر نه راځي ليكن عمل دَ كافرانو دے او دَ هغوي سره مشابهت دے.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ

يقينًا هغه كسان چه ايمان ئې راوړې دے او عملونه ئې كړيدي د سنت برابر دوی لره

أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿۸﴾ قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ

ثواب دے بې انتها - ته أوايه آيا تاسو كفر كوئې

بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ

په هغه ذات باندې چه پيدا كړيده زمكه په مقدار د دوه ورځو كښ

وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿۹﴾

او جوړوئې تاسو هغه لره شريكان دغه ذات رب د عالمينو دے۔

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ

او جوړ كړيدی په هغې كښ پاخه غرونه د پاسه د هغې نه او بركتونه ئې اچولي دي

فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ

په هغې كښ او اندازه كړيدی په هغې كښ روزئې (قوتونه) د هغې په اندازه د پوره كيدلو د څلورو ورځو كښ

سٓ۸:۔ دا بشارت او ترغيب دے ايمان او عمل صالح ته۔
غَيْرُ مَمْنُونٍ ختميدونكے نه دے يعنې هميشه دے او دغه اجر جنت دے معلومه شوه چه جنت به نه فنا كيږي يا زياددلے شوے به نه وي، يا نقصان به په كښ نه راځي۔
سٓ۹:۔ روستو د جواب د سوال او د ترغيب د توحيد نه اثبات د هغې دے په څلورو عقلي دليلونو سره دا اول دليل دے چه په دے كښ پيدائش د زمكے ذكر كړے دے په مقدار د دوه ورځو كښ چه ورځ د اتوار او د ګل وه يعنې هغه وخت بود اسے مقدار دوٌ يا نوبت دوٌ چه اوس د هغې نه تعبير كيدے شي په دوه ورځو سره۔
وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ، دا تفسير د كفر بالله دے۔ ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ، اشاره ده چه خالقيت مستلزم د ربوبيت دے۔

سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ ⑩ ثُمَّ اسْتَوٰٓى إِلَى السَّمَآءِ

برابر دِپاره دَ محتاجو خلقو . بیا برابرشو طرف دَ آسمان ته

وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا

او هغه لوګے وو نو اُوئیل ئې هغه ته او زمکے ته راشئ

سلہ. دا دویم دلیل عقلی دے په دے کښ درے صفات دَ تصرف الهی ذکر کوی اول جَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا لفظ دَ فِيهَا دلالت کوی چه غرونه په زمکه خخ دی لکه میخونو غوندے او مِنْ فَوْقِهَا یعنی دَ زمکے دَپاسه ئې دنګ دنګ ښکاره کړے دی دَپاره دَ دے چه مخلوق ئې اُوینی او فائده ترینه واخلی. دَ دے وجے فرمائیلے دی په سورة نبا کښ " والجبال اوتاداً " او په سورة مرسلات ۲۷ کښ "شامخات". دویم وَبَارَكَ فِيهَا ضمیر راجع دے غرونو ته چه په هغے کښ او نے لګیږی کانونه دَ معدنیاتو وغیره دی یا ضمیر راجع دے زمکے ته دریابونو نهرونو وغیره ته اشاره ده دا ټول دائمی منافع دی تر قیامت پورے او برکت کښ هم معنیٰ دَ دوام او دَ ډیروالی دَ فائدو ده، دریم وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا په دے سره هغه منافع مراد دی چه دَ انسانانو دَ قوت (روزئ) سره تعلق لری او دا قوت دَ زمکے او غرونو ته پیدا کیږی دَ دے وجے ته اضافت ئې دَ هغے ضمیر ته کړے دے او قَدَّرَ لفظ صریح دلالت کوی په مسئله دَ تقدیر باندے.

فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ په دے کښ دوه ورځے مخکنئ شمار دی یعنی غرونه نهرونه وغیره ئې په دوه ورځو کښ پیدا کړے دی چه مخکنو دوه ورځو سره جمع شی نو څلور شوے او فِي يَوْمَيْنِ ئې اونه وئیل ځکه وهم پیدا کیدلو چه دا بعینه مخکنئ دوه ورځے دی او که آخِرِينَ ئې ورسره وئیل نو کلام اوګدیدلو او بل دا چه دَ سَوَآءً تعلق دَ څلورو ورځو سره دے نو که يومين ئې وئیلے وے نو بیا دا تعلق نه معلومیدلو.

سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ سَوَآءً په معنیٰ دَ مستوية حال دے دَ اربعة ایام نه یعنی په داسے حال کښ چه دا څلور ورځے پوره دی کمے په کښ نیشته یا سواء[۲] مفعول مطلق دے په معنیٰ دَ استوت سواءً او هغه جمله حال دے دَ اربعة نه یا[۳] دَ اقواتها نه.

لِلسَّآئِلِينَ متعلق دے[۱] دَ قَدَّرَ سره او سائلین په معنیٰ دَ طالبین دے یعنی محتاج یا خبر[۲] دے دَ مبتدا محذوف هٰذَا لِلسَّآئِلِينَ یعنی دا تفصیل دَپاره دَ هغه چا دے چه تپوس نه کوی په باره دَ دے ورځو کښ. یا متعلق دے په سواء پورے یعنی په داسے حال کښ چه دا څلور ورځے برابر دی په شمار کښ چه علم دَ

طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ط قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ ⑪

په خوښې سره یا په ناخوښې دواړو وېل راغلو موږ په خوښې سره .

فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ فِيْ يَوْمَيْنِ

نو پوره یې کړه هغه اووه اسمانونه په اندازه د دوه ورځو کښې

وَاَوْحٰى فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا ط وَزَيَّنَّا

او وحې اولېږله په هر اسمان کښې د کار د هغې او ښائسته کړيا موږ

السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ ق وَحِفْظًا ط

اسمان نږدې په چراغونو سره او ساتنه کړیده موږ د هغې

سائلینو سره دے چه هغه اهل کتاب دی ځکه چه د هغوی په علم کښې هم خلور ورځې دی.

سلسله دا دریم دلیل عقلی دے . استوٰی صفت د الله تعالیٰ دے او لفظ الی السماء د پاره د علو (اوچت والی) دے نو معنیٰ معلومه ده چه اوچت شو اسمان ته، لیکن کیفیت یې موږ ته معلوم نه دے یا استوٰی په معنیٰ د قصد او د پوره ارادے کولو ده یعنی پوره توجه یې اوکړه او دا هم صفت د الله تعالیٰ دے . وَهِيَ دُخَانٌ مفسرینو وېلي دی چه عرش د الله تعالیٰ د اسمانونو د پیدائش نه وړاندے په اوبو باندے وو نو په هغه اوبو کښې الله تعالیٰ حرکت او اضطراب پیدا کړو نو د هغې نه بیو براس پیدا شو هغې ته یې دخان اُوویل یعنی پشان د دخان (لوګی) تور تور اجزاء وو . فَقَالَ لَهَا دا قول دخان ته خطاب دے او مراد دا دے چه اے دخان زما حکم ته تابع شه چه اسمانونه درنه په خپل حکم سره جوړ وم او زمکے ته یې اُوویل چه ستا نه د مخلوق د پاره فائدے پیدا کووم . یا دا قول روستو د جوړولو د اسمانونو نه دے طَوْعًا اَوْ كَرْهًا یعنی حکم په تاسو ضرور منئ که خوښه مو وی او که نه قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ او ظاهر دا ده چه دا سوال او جواب حقیقتًا دی چه الله تعالیٰ دوی له د ګویائي طاقت ورکړے وو . طائعین یا طائعات یې او نه وېل ځکه دے دواړو چه کله خبرے کولے نو پشان د ذوی العقول شول د دے وجے نه یې صیغه د تثنیه مذکر ذکر کړه .

ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۱۲﴾ فَاِنْ

دا تقدير دَ زورور پوهه دے . نو كه

اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ

دوی مخ اوګرځوؤ نو ته ورته اوايه ويره درکوومه تاسو ته دَ عذاب نه پشان

صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُوْدَ ﴿۱۳﴾ اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ

دَ عذاب دَ عاديانو او ثموديانو . كله چه راغلل دوی ته رسولان

س۱۲ :- دا هم دليل عقلی دے مشتمل دے په څلور تصرفات الٰهيه باندے اول فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ضمير دَ هُنَّ السماء ته راجع دے او هغه معنیٰ جمع ده. فِيْ يَوْمَيْنِ دا دواړه ګډ دَ هغه څلورو ورځو نه نو ټولے شپږ ورځے شوے دويم تصرف وَاَوْحٰى فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا مراد دا دے چه هر اسمان کښې ملائک دی نو هغوی ته ئے دَ هغوی مناسب احکام اوليږل يا اَوْحٰى په معنیٰ دَ انقذا دے او بعضو په اسمان کښې انتظام مناسب دَ هغے - دريم وَزَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ اشاره ده چه ستوری دَ نزدے اسمان سره تعلق لری اګرچه دَ اسمان نه کوزوی ليکن دَ اسمان زينت وريا ندے څرګند دے څلورم وَحِفْظًا مفعول مطلق دے دَ فعل محذوف يعنی وحفظناها حفظا . ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ مراد دَ تقدير نه هر څيز په مناسب انداز سره پيدا کول دی .

س۱۳ :- روستو دَ دليلونو نه تخويف دنيوی دے اعراض کوونکو ته په ذکر دَ دوه ستمونو دَ مخکنو قومونو چه عاد او ثمود دی فَاِنْ اَعْرَضُوْا دا متعلق دے دَ سٓ سره (رسوال) اعراض خو اګر و خلقو کړے دے نو په دے کښې لفظ دَ اِنْ ولے ذکر کړو چه دلالت کوی په شک باندے ؟

(جواب) دلته مراد دَ اعرضو نه دوام دَ اعراض دے يعنی که په اعراض کولو ئے هميش والے اوکړه او توبه ئے اونکړله ، او ذکر دَ عاد او ثمود اشاره ده چه دَ چا قوت دَ ډيرو تونو او دَ چا قوت دَ هغو متدے دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه هيڅ کول نشی کولے صٰعِقَةً يعنی سخت عذاب چه دَ هغے نه چغے وهل پيدا کيږی او انسانانو لره بے هوشه کړی يا ئے مړه کړی .

مِنۡۢ بَيۡنِ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ اَلَّا
مخکښ دَ دوی نه او روستو دَ دوی نه چه مه کوئ

تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰهَ ؕ قَالُوۡا لَوۡ شَآءَ رَبُّنَا لَاَنۡزَلَ
بندگی بیوا دَ الله تعالیٰ نه دوی اُوئیل که غوښتلے رب زمونږ نو نازل کړی به ئې وو

مَلٰٓئِكَةً فَاِنَّا بِمَاۤ اُرۡسِلۡتُمۡ بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ﴿۱۴﴾
ملائک نو یقیناً مونږ په هغه څیز باندے چه تاسو پرے رالیږلے شوی ئې انکار کوو۔

فَاَمَّا عَادٌ فَاسۡتَكۡبَرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ بِغَيۡرِ
نو هر کله چه عادیان وو نو لوئی ئې اوکړه په ملک کښ په نا حقه

الۡحَقِّ وَقَالُوۡا مَنۡ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَلَمۡ
سره او دوی اوئیل څوک دے سخت زمونږ نه په قوت کښ آیا دوی نه

يَرَوۡا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِىۡ خَلَقَهُمۡ هُوَ اَشَدُّ
گوری یقیناً هغه الله چه پیدا کړیدی دوی هغه خو ډیر زیات دے

سلا۔ دا ذکر سبب دَ عذاب دے په دے دواړو قومونو باندے۔
مِنۡۢ بَيۡنِ اَيۡدِيۡهِمۡ یعنی دَ دوی نه مخکښ لیږلے شوی رسولان دوی ته راغلل چه دَ هغوی عمرونه الله تعالیٰ اوګډاه کړے وو وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ او دَ دے قومونو دَ هلاکت نه روستو هم رسولان پاتے شویوو اشاره ده چه دوی دَ رسولانو نه خالی نوو پاتے شوے یا عبارت کښ تقدیر دے رفاندروهم من بین ایدیهم) یعنی ویره ئې ورکړه دوی ته دَ تیر شوے عذابونو نه او دَ راتلونکو عذابونو نه۔ اِنۡ لَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰهَ معلومه شوه چه ټول رسولان متفق وو په مسئله دَ توحید فی العبادات باندے قَالُوۡا دا انکار دَ دوی ذکر کوی او دا سبب دَ عذاب دے او حاصل دَ انکار ئې دا دے چه مونږ رسول بشر نه منو که ملائک رسولان وے نو مونږ به منلے وے بِمَاۤ اُرۡسِلۡتُمۡ بِهٖ اشاره ده چه اصل انکار دَ دوی دَ مسئلے دَ توحید نه وو چه په هغے باندے رسولان رالیږلے شوی وو۔

مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۱۵﴾
دَ دوی نه په قوت کښې او وو دوی زمونږ دَ ایاتونو نه ئې انکار کوو۔
فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْٓ اَيَّامٍ
نو را اولیږله مونږ په دوی باندې سیلئ تیزه په ورځو
نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ
سپیرو کښې دَپاره دَدې چه اوڅکرو مونږ دوی ته عذاب دَ رسوا ئې
فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ
په ژوند دنیوی کښې او خامخا عذاب دَ آخرت
اَخْزٰى وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَاَمَّا ثَمُوْدُ
ډیر رسوا کوونکے دے او دوی سره به مدد نشي کیدلے۔ او هرچه ثمودیان وو

ﻫ۱۵:. دَ مشترکه انکار ذکر کولو نه روستو دَ هریو قوم جدا جدا طریقه دَ کفر او عذاب ذکر کوی. نو دَ عادیانو مرض استکبار وو او سبب دَ استکبار غټ والے دَ بدنونو دَدوی وو نو مراد دَ استکبار نه دا دے چه دوی دَ هود علیه السّلام خبرے ته غوږ نه کیخودلو او پرواه ئې نه کوله اَوَلَمْ یَرَوْا دا رد دے دَ دوی په قول باندے یعنی هرکله چه الله تعالیٰ دَدوی خالق دے نو معلومه شوه چه دَ هغه قوت دَ دوی نه زیات دے نو دوی په څه رنګ په خپل قوت سره دَ هغه عذاب دفع کړې وَكَانُوْا دا عطف دے په استکبروا باندے بِاٰيٰتِنَا دَدے نه مراد دلیلونه دَ قدرت دَ الله تعالیٰ او دَ توحید دَ هغه دی.

ﻫ۱۶:. دا تفسیر دَ صاعقة دَ عادیانو دے. صَرْصَرًا سخته تیزه او سخته یخه او سخته آواز کوونکے وه دا لفظ دلالت کوی په دے ټولو معانیو باندے نو په هغه سیلئ کښې دا درے واړه صفتونه موجود وو اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ دَ دغه ورځو شماره په سورة الحاقه کښې ذکر ده. نَحِسَاتٍ نحس مقابل دَ سعد دے یعنی سپیرے وې په حق دَ هغوی کښې یا مراد ترې په معنیٰ دَ پرله پسې یا سختے یخے یا ډیرو دوړو والا. لِنُذِيْقَهُمْ دا متعلق دے په ارسلنا پورے عَذَابَ الْخِزْيِ هرکله چه دوی تکبر کړے وو نو دَ دوی سره مناسب وه شرمندګی او سپکول دَدوی دَ دے وجې نه الخزی او اخزیٰ ئې دَ عذاب سره ذکر کړو.

فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى

نو هدایت اوکړو مونږ هغوته په واسطه د رسولانو نو خوښ کړو هغوی ړوندوالے په هدایت باندے

فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ

نو اونیول هغوی چغې د عذاب د ذلت

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ

په وجه د هغه عملونو چه دوی کول او بچ کړل مونږ هغه کسان

اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَيَوْمَ يُحْشَرُ

چه ایمان ئې راوړے وؤ او وو چه ځان ئې ساتلو د شرک نه. او په کومه ورځ چه جمع به کړے شي

اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۹﴾

دشمنان د الله تعالیٰ اور ته نو دوی به تقسیم شي په ډلو ډلو۔

ـ۱۷ ـ ۱۸: دا ذکر د دویم نمونے د عذاب دے فَهَدَيْنٰهُمْ یعنی په واسطه د رسولانو دوی ته توحید او ایمانیات په دلیلونو سره بیان شول او دوی واوریدل لیکن فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى حاصل دا دے چه عادیانو د سرهٔ هدایت نه غوږ نه وؤ ایخودے د وجے د استکبار نه او ثمودیانو خو غوږ کیخودلو لیکن ګمراهي (شرک و کفر) ورته خائسته ښکاریدله نو د دے وجے نه اعراض ئې اوکړو د دے نه معلومه شوه چه کفر کوؤنکي دوه قسمه دي یو قسم ضدیان عنادیان چه حق پیژني لیکن نه مني او دویم قسم چه شرک او کفر ورته جائز او د ثواب کار ښکاریږي نو توحید نه مني او دواړه قسمونه اوس هم موجود دي۔ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ اضافة بیانیه دے یا اضافة د صفت دے موصوف ته الْهُوْن، مصدر دے مضاف ئې حذف دے یعني ذي الهون۔ وَنَجَّيْنَا ۱۸۔ سره بشارت دے مؤمنانو لره او دا متعلق دے د دواړو قصو سره یعني په عادیانو او ثمودیانو کښ چه چا ایمان راوړے وؤ نو هغوی نجات اوموندلو یا متعلق دے صرف ثمودیانو پورے اشاره ده چه عادیانو کښ ایمان والا ډیر کم وو د دے وجے نه د هغوی ذکر اونشو۔

۱۹: روستو د تخویف دنیوی نه تخویف اخروی ذکر کوی۔ اَعْدَآءُ اللّٰهِ هر مشرک او کافر او د الله تعالیٰ او د رسول د حکم مخالفت کوؤنکي راتلے په یل مخ)

حَتّٰٓى اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ

ترڅو چې کله راشي دوی دغه (اور) ته نو ګواهي به اوکړي په دوی باندې غوږونه د دوی

وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۰﴾

او سترګې د دوی او څرمنې د دوی په هغه عملونو باندې چه دوی کول۔

وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؕ

او دوی به اُوائي څرمنو خپلو ته ولې ګواهي اوکړه تاسو په مونږ باندې

قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ كُلَّ

دوی به اُوائي ګويائي راکړه مونږ ته الله تعالى هغه ذات چه ګويائي ورکړې ده هر

شَيْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ

څيز ته او هغه پيدا کړي يئ تاسو اول ځل او هغه ته به

تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ

او ګرځولے شئ تاسو۔ او نه وئ تاسو چه پرده موکوله د دې نه چه ګواهي به اوکړي

په دے لفظ کښ داخل دے ليکن هغه خلق چه د قرآن نه اعراض کوی او نه يئ
اوری او نور خلق ترينه هم منع کوی دا اول نمبر دشمنان د الله تعالى دی په دے
سورت کښ داصفت والا خلق ذکر شويدی د دے وجے نه خاص په دے سورة
کښ اعداء الله يئ وصف ذکر کړے دے۔ يُوْزَعُوْنَ يعنی روستو د جمع کولو نه به
په مختلف ډلو کښ تقسيم کړے شی او اور ته به داخل کړے شی ځکه چه وَزَعٌ
په اصل کښ تقسيم ته وئيلے کيږی۔
۲۰:۔ هر کله چه سورة مؤمن کښ ذکر کړے وو چه دا مشرکان به انکار اوکړی د شرک کولو نه
نو په دے سورت کښ په هغوی باندے شهادت د خپلو اندامونو ذکر کوی۔ تخصيص د دے
درے اعضاؤ يئ کړے دے د دے وجے نه قوت د اوريدلو په غوږونو کښ دے او قوت د ليدلو
په سترګو کښ دے او قوت د بويولو او څکلو او سګلو ټولو دا په څرمنو کښ داخل دی.
او هر کله چه تير شول په دے سورت کښ چه اکثر خلق په غوږونو سره قرآن نه اوری
او دليلونو ته عقليه يئ ذکر کړه دا اشاره وه چه دا خلق په سترګو سره دے کائناتو ته نه ګوری
نو دا دوه اندامونه يئ خود د دے وجے نه خاص کړل په شهادت کولو سره او دا سے شهادت
۲۱:۔ تخصيص د څرمنو يئ اوکړو د دے وجے نه چه د غوږونو او د سترګو سره خطاب

عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ أَبْصَارُكُمْ وَلَا
په تاسو یا ندے غوږونه ستاسو او نه سترګے ستاسو او نه
جُلُودُكُمْ وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يَعْلَمُ
څرمنے ستاسو لیکن ګمان کوئے تاسو چه الله تعالیٰ نه دے عالم
كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٢﴾ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ
په ډیرو دَ هغه کارونو چه تاسو ئے کوئے۔ او دا ګمان ستاسو دے
الَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَاكُمْ فَأَصْبَحْتُم
دا سے ګمان چه کړے وے تاسو په رب خپل باندے هلاک ئے کړئے تاسو نو شوئے تاسو
مِّنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن يَصْبِرُوا فَالنَّارُ
دَ تاوانیانو نه ۔ که دوی صبر کوی نو اُور

نشی کیدے او باقی اندامونو سره مخاطبه کیدے شی او بله وجه دا چه جلود ټولو اندامونو ته شامل دے. دَ هُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ دا هم کلام دَ څرمنو دے معنیٰ دا چه الله تعالیٰ ستاسو په اول خلق باندے قادر وؤ نو زمونږ په ناطق ګرځولو باندے هم قادر دے یا دا چه الله تعالیٰ تاسو اول پیدا کړی وئے نو تاسو دَ هغه نافرمانی ولے کوئے یا دا جمله معترضه ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه خطاب دے۔

۲۲:- دا هم په تخویف کښ داخل دے. دا هم قول دَ څرمنو دے یا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے په آخرت کښ یا زجر دے په دنیا کښ لیکن كُنتُمْ په معنیٰ دا نتم سره دے. تَسْتَتِرُونَ په معنیٰ دَ ځان ساتلو دے یا په معنیٰ دَ حیا کولو دے یا په معنیٰ دَ ویره کولو دے كَثِيرًا نه مراد هغه عملونه دی چه دوی پټ کول نو ګمان دا وؤ چه الله تعالیٰ ته دَ دے علم نیشته لکه چه دَ بعض فلسفیانو عقیده ده چه الله تعالیٰ په جزئیاتو باندے عالم نه دے او دا عقیده کفر دے. او په مشرکانو کښ دَ بعضو عقیده دا وه چه الله تعالیٰ په هرڅه باندے علم نه لری او دَ بعضو عقیده دا وه چه الله تعالیٰ نه هیڅ څیز پټ نه دے لکه قول دَ یو مشرک شاعر دے وَمَهْمَا يُكْتَمِ اللَّهُ يَعْلَمِ۔

۲۳:- اهل علم وائی چه ظن دوه قسمه دے یو حسن دے او بل سوء او فاسد دے حسن دا دے چه الله تعالیٰ خاوند دَ رحم او دَ فضل ګڼړی (پاتے په بل مخ)

مَثْوًى لَّهُمْ ۚ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا فَمَا هُم

ځائے ذ اوسیدلو د دوی دے او که دوی واپسی غواړي نو دوی به نشي

مِّنَ الْمُعْتَبِينَ ﴿٢٤﴾ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ

واپس کیدے ۔ او جوخت لګولے دی موږ د دوی سره ملګري (شیطانان)

فَزَيَّنُوا لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا

نو ښائسته کوی دوی ته هغه چه مخکښ دی د دوی نه او هغه

خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ

چه روستو دی د دوی نه او پوره شویده په دوی باندے فیصله (د داخلیدو په) په هغو ډلو کښ

او استغفار غواړی او طاعت کوی نو دغه ظن مراد دے په هغه حدایث کښ چه انا عند ظن عبدی بی او په بل حدایث کښ چه تاسو دے مړ کیږی مګر په دا سے حال کښ چه په الله تعالیٰ باندے ښائسته ګمان کوی"۔ او ظن فاسد دا دے چه الله تعالیٰ عالم الغیب نه ګنړی یا هیڅ طاعت نه کوی او ګمان کوی چه الله تعالیٰ به ما ته بخښنه کوی۔ او قتاده رحمة الله علیه روایت دے چه ظن دوه قسمه دے یو منجی (نجات ورکوونکے) دویم مردی (هلاکوونکے) اول مراد دے په ایت انی ظننت انی ملٰق حسابیه۔ یظنون انهم ملٰقوا ربهم الخ کښ او دویم مراد دے په دے ایت کښ او دا رنګ په یظنون بالله غیر الحق ظن الجاهلیة کښ۔ او د عمر رضی الله عنه نه روایت دے "چه هغه خلق چه همیشه ګناهونه کوی او توبه نه کوی او خیرے کوی چه الله تعالیٰ به ما او بخی نو تر دے چه د دُنیا نه به مفلسان لاړشی" او دا ایت ئے اولوستلو۔

س۲۴:۔ دا هم په تخویف اخروی کښ داخل دے او د ان یصبروا مقابل حذف دے یعنی او لم یصبروا یعنی که صبر کوی او که نه کوی خو جهنم ته به ضرور داخلیږی لکه سورة طور س۱۶۔ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا دا د عتبی نه اخستلے شویدے په معنیٰ د رجوع سره دے یعنی که چرے دوی دنیا ته واپسی طلب کوی نو دا نشی ملے کیدے۔ او قرطبی اول قول دا سے ذکر کړے دے چه دا په دنیا کښ مراد دے یعنی که دوی په دنیا کښ عمل د اور والو باندے ټینګ وی نو اور ته به داخلیږی او که چرے دوی سره د کفر نه توبے او استغفار کوی نو دا سے توبه ئے نه قبلیږی۔

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ۚ

چه تیر شوی دی مخکښې د دوی نه د پیرېانو او انسانانو نه

إِنَّهُمْ كَانُوا خٰسِرِينَ ﴿۲۵﴾ وَقَالَ الَّذِينَ

یقیناً دوی تاوان والا دی . او وائي کافران

۲۵ . د دے ایت نه دویم باب دے تر ۴۴ پورے په دے کښې ذکر کوی سبب د اعراض او د منع د قران بیا منع کول د قران ذکر کوی او دا دریمه شبهه د دوی ده او جواب د هغې په تخویف اخروی سره دے بیا بشارت دے په استقامت باندے په وخت د شبهاتو کښې بیا طریقه د دعوت راوړی . بیا دوه عقلی دلیلونه بیا زجر دے الحاد کوونکو ته او صداقت د قران او تسلی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ذکر کوی . په دے (۲۵) کښې سبب د کفر د دوی ذکر کوی او دا سبب دے د اعراض او د منع کولو د قران نه او داهم سبب دے د عذاب چه مخکښې ذکر کړے شو او په دے کښې دویمے شبهې ته اشاره ده حاصل دا دے چه دوی ته اعمال د مشرکانو کافرانو خائسته ښکاری نو د هغې د پاره په شیطانی وسوسو سره دلیلونه پیش کوی مثلاً وائي چه د اولیاؤ کرامو قدرت شته هر کله چه مونږ ورته رامداد شه او ایو نو د قبرونو نه اواز راکوی کله راته لاس را اوباسی مصافحه راسره کوی کله راته په صحراء کښې راښکاره شی چه څه ستا مدد له راغلے یم کله راته په خوب کښې راشی او د مدد کولو وعدے راسره کوی او که چرته مونږ د دوی نذرانه پریږدو نو په مونږ باندے په خوب کښې کتها پړوی او ویره راکوی نو معلومه شوه چه د دوی بندګی کول او دوی ته رامداد شه ویل جائز دی . حاصل د جواب دا دے چه دا ټول شیطانی کارونه دی هغه شیطان ځان ته د ولی نوم کیدی او دا کارونه شیطان د دے وجے نه کوی چه دے خلقو ته د شرک کارونه خائسته ښکاره شی . وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ تقییض مسلط کولو او پیوست کولو ته ویلے کیږی لکه چه د پیازو پوستکی پیوست وی یو بل سره ، یعنی شیطانان د دوی سره په ویښه او خوب کښې هر وخت لازم وی د دوی نه جدا کیږی نه . فَزَيَّنُوا لَهُمْ مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ په دے کښې یو قول دا دے چه د اول نه مراد اموال د دنیا دی او د دویم نه مراد اخرت او بعث بعد الموت دے . او دویم د دے په عکس سره دے . د دنیا خائسته کول دا دی چه په هغې کښې دا سے مشغول شی چه د دین او اخرت نه غافل شی او د اخرت خائسته کول دا دی (پاتے په بل مخ)

كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا
مه گوئ غوږ دے قرآن ته او شور کوئ په مقابله

فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ۝۲۶ فَلَنُذِيْقَنَّ
ددے کښ دے دپاره چه زور اور شئ نو خامخا اوبه څکوو موږ

چه د هغه ته ئے منکر اوکرځوی. نو دَ مَا خَلْفَهُمْ قحل په اصل کښ پټ دے یعنی انسوهم (رهبر کړے دے آخرت لره د دوی ته) او دریم قول نیشاپوری ذکر کړے دے چه مراد د مابین ایدیهم نه عملونه د مفسدانو د دے زمانے دی او ما خلفهم نه مراد عملونه د مفسدانو مشرانو دی چه هغه شرکیات کفریات او خرافات دی او دوی ته ښائسته اوښئے کارونه ښکاریږی. الْقَوْلُ نه مراد فیصله د عذاب ده- فِیْٓ اُمَمٍ فی په معنیٰ د مع سره دے یا حال دے یعنی وی په دوی په هغه ډلو کښ.

۲۶:- دا زجر نتیجه ده د تیر شوی ایت د مضمون یعنی هر کله چه شیطانانو دوی ته شرکیات ښائسته کړیدی او قرآن کریم خوښکاره رد کوی په شرک باندے نو په دے وجے سره دوی د قرآن نه خلق منع کوی. الَّذِيْنَ كَفَرُوْا په دے وصف باندے تصریح د دے دپاره او کړه چه معلومه شی چه د قرآن اوریدلو نه منع کوونکے کافر دے که په هره زمانه کښ وی ځکه ابن کثیر ویلے دی چه دے ایت کښ داخل دی هغه څوک چه د دوی په مسلک باندے تلل کوی په وخت د اوریدلو د قرآن کښ. لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ، په دے اسم اشاره کښ مراد دا دے چه قرآن داسے لوستل په توحید او په رد د شرکیاتو باندے مشتمل دی صرف قراءت مراد نه دے. وَالْغَوْا فِيْهِ شور و شغب کول او عیبونه لګول او اعتراضونه کول او ټوقے کول ټولو ته دا لفظ شامل دے د قرآن په مقابله کښ په نورو علمونو کښ مشغولیدل او شعرونه نعتونه ویل او دیوان غزل وغیره دا ټول په دے لفظ کښ داخل دی.

لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ معلومه شوه چه مقصد د دے مخالفت کوونکو قرآن والا او د قرآن تحریک او د قرآن تعلیماتو لره کمزورے کول دی که برائے نام مسلمانان وی او که کافران وی نو دا مقصد لری۔ ..

الَّذِينَ كَفَرُوا عَذَابًا شَدِيدًا وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ
هغه چاته چه کفر ئې کړیدے عذاب سخت او خامخا سزا به ورکړو موږ دوئ ته
أَسْوَأَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٧﴾ ذَٰلِكَ
ډیره ناکاره سزا د هغه عملونو چه دوی کول دا
جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللَّهِ النَّارُ ۚ لَهُمْ فِيهَا
سزا د دشمنانو د الله تعالیٰ ده اور دے دوی لره په هغې کښې
دَارُ الْخُلْدِ ۖ جَزَاءً بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا
کور د همیش والی دے بدله ورکیدے شی په وجه د دے چه دوی د آیاتونو زمونږه
يَجْحَدُونَ ﴿٢٨﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا
انکار کوئ او ویه وائی کافران

۲۷۔ دا جواب د ماقبل قول دے په تخویف ورکولو په پنځو طریقو سره۔ په دے ایت کښې دوه طریقے دی یو عذاب شدید په دنیا او اخرت کښې او دویم تاکید په سزا ورکولو سره په حرف د لام او نون په لنجزینهم کښې دا رنګ په دے ایت کښې د قرآن منع کوونکو په باره کښې دوه حکمونه دی یو داچه دا کار د کفر دے او دویم داچه دا ډیر ناکاره عمل دے۔ شدیدًا اهغه عذاب دے چه په ټولو اجزاؤ د بدن باندے وی او همیشه د پاره وی۔

۲۸۔ په دے ایت کښې تخویف دے په دوه طریقو سره یو داچه د دوی سزا پوره اُور دے ځکه چه النَّارُ ئې معرفه ذکر کړے دے د پاره د کمال دویم داچه دغه اُور د دوی د پاره دارالخلد دے او دوه حکمونه ئې ذکر کړه یو داچه دا خلق د الله تعالیٰ صریح دشمنان دی دویم داچه دوی د الله تعالیٰ د ایاتونو ته عناداً انکار کوونکی دی۔ ذٰلِكَ مبتدا ده جزاء خبر دے او النار بدل دے د خبر نه یا خبر د مبتدا محذوف دے۔ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ (سوال) اُور خو پخپله دارالخلد دے نو فیهَا ئې ولے ذکر کړو؟ (جواب) په حرف د فی کښې معنیٰ د انغماس (غوپه کیدلو) ده یعنی دوی باندے اور د هر جانب نه احاطه کړے دی او دوی به پکښې غوپه وهی نو دا سخت عذاب ته اشاره ده۔

رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيۡنِ اَضَلّٰنَا مِنَ الۡجِنِّ

اے ربه زموږ اوخايه موږ ته هغه دوه کسان چه بے لارے کړے وو موږه د پيريانو

وَالۡاِنۡسِ نَجۡعَلۡهُمَا تَحۡتَ اَقۡدَامِنَا لِيَكُوۡنَا

او انسانانو ته چه کيږدو موږدا دواړه لاندے د خپو زموږ ته دے د پاره چه شی دوی

مِنَ الۡاَسۡفَلِيۡنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ قَالُوۡا

د ذليلانو نه - يقيناً هغه کسان چه وائی

رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسۡتَقَامُوۡا تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ

رب زموږ الله تعالیٰ دے بيا پاخه شوے دی (په دے دينا) راکوځيږی په دوی باندے

الۡمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوۡا وَلَا تَحۡزَنُوۡا

ملائک چه مهٔ ويريږئ او مه خفه کيږئ

وَاَبۡشِرُوۡا بِالۡجَنَّةِ الَّتِىۡ كُنۡتُمۡ تُوۡعَدُوۡنَ ﴿۳۰﴾

او زيرے واخلئ په جنت سره هغه چه تاسو سره ئے وعده کيدے شوه.

ف۲۹:- په دے ايت کښ تخويف دے په يو طريقے سره هغه په اصل کښ ارمان کول دی په تقليد د مشرانو گمراهانو سره او دا اشاره ده تير شوی ايت ف۲۵ ته چه د دوی د پاره په دُنيا کښ ناکاره قرناء دی او اخرت کښ به هغوی ته گمراه اُوائی اَضَلّٰنَا لوئے اضلال دا وو چه د قران نه ئے منع کول او دوی ئے تقليد کوو. نَجۡعَلۡهُمَا تَحۡتَ اَقۡدَامِنَا يعنی دوی موږ لره په دنيا کښ د خپل حکم د لاندے کړے وو نو د هغ په بدل کښ ئے موږه نن د خپو لاندے کول غواړو لِيَكُوۡنَا مِنَ الۡاَسۡفَلِيۡنَ يعنی لکه دوی په دُنيا کښ موږه ذليل کړے وو او دوی به اوچت زموږ په اوګو باندے ناست وو نو نن موږ غواړو چه دوی زموږ د لاندے او ذليل شی - ليکن دا قول د دوی صرف په طريقه د تمنا سره دے او حال دا چه نه به پوره کيږی -

ف۳۰:- هرکله چه حال د مخالفينو د قران ذکر کړے شو نو اوس حال د قران والو ذکر کوی په طريقه د بشارت سره قَالُوۡا رَبُّنَا اللّٰهُ دا د قران د تاثير په وجه سره د دوی عقيده جوړه شويده مراد د دے پوره ايمان او کمال توحيد دے

نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

موږ	ستاسو	ملګري	يو	په	ژوند	دنيوي کښ

يعنى خالق او مالک او حقدار دَ بندګئ او دَ پالنې څيز ونه پيدا کوونکے او ټول حاجتونو پوره کولو پاتندے قادر دلته رَبّ ږے ټولو صفتونو ته شامل دے ثُمَّ اسْتَقَامُوا مراد ترينه په توحيد او ايمان باندے پوخ پاتے کيدل دى ترمرګه پورے او دَ دے پوخ والى تفسير کښ دَ ابوبکر رضى الله عنه نه نقل دے چه شرک ئې هيڅ قسم نه وى کړے او دَ عمر رضى الله عنه نه نقل دے چه په امر او نهى باندے کلک وى او دَ لومړانو پشان بوخوا يل خوا ته پټيږى او دَ عثمان رضى الله عنه نه نقل دے چه اخلاص دَ هر عمل دَ الله تعالىٰ دَپاره کوى او دَ على رضى الله عنه نه روايت دے چه ټول فرائض اداکوى، دا اقوال عامو مفسرينو ذکر کړيدى او په دے کښ دَ تابعينو هم مختلف اقوال دى ليکن دَ ټولو خلاصه دا ده چه په طاعت دَ الله تعالىٰ باندے عقيدةً ساتى او قولاً او عملاً ترمرګه پورے کلک وى. او دَ استقامت معنىٰ او مرتبه او نور تفصيل په تفسير دَ سورة فاتحه (لطائف القرآن) کښ مونږ ذکر کړے دے. او اَقَامُوْا نه دے ويلے بلکه سين او تا ئې پکښ راوړے دے په دے کښ اشاره ده چه دَ الله تعالىٰ نه هر وخت طلب کوى. پوخ والے په دين باندے او دا بشارت ئې په اتّه طريقو سره ذکر کړے دے او دے نه کرامات دَ اولياؤ ويلے کيږى نو معلومه شوه چه تعريف دَ ولى هم دا دے چه رَبُّنَا الله وائى او صفت دَ استقامت پکښ موجود وى. په دے ايت کښ ئې بشارت په څلورو طريقو سره ذکر کړے دے.

اول تَتَنَزَّلُ دَ ملائکو او صيغه دَ تَتَنَزَّلُ دلالت کوى چه وخت په وخت هميشه نزول کوى دا نه چه صرف يو ځل نزول کوى نو دا نزول په خوب کښ هم وى په رشتينو خوبونو سره او په وخت دَ زنکدن کښ به وى او په وخت پورته کيدلو دَ قبرونو نه او په حشر کښ.

دويم زيرے ورکول په عدم خوف سره دَ عذاب او دَ مصيبتونو او دَ قيامت نه.

دريم زيرے دے په عدم حزن زيره نه ورکولو سره يعنى په اولاد او کور والا او خپل خپلوانو پسے خفه کيدل به نه وى او په دنيا پسے په ارمانونه کول نه وى.

څلورم بشارت دے په جنّت سره موافق دَ هغه وعدو سره چه الله تعالىٰ کړے دى چه هغه بے شماره نعمتونه دى په جنّت کښ چه په ډيرو اياتونو کښ ذکر کړے شوى دى.

وَفِی الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِیْٓ

او په اخرت کښ او تاسو لره په دے کښ هغه څیزونه دی چه غواړی ئے

اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ﴿۳۱﴾

نفسونه ستاسو او تاسو لره په دے کښ هغه دی چه ارمان کوئے تاسو۔

نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ﴿۳۲﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ

میلمستیا تیاره ده د طرف د هغه کوونکی رحم کوونکی نه۔ او څوک ډیر خائسته دے

قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا

په وینا کولو کښ د هغه چانه چه دعوت کوی الله تعالیٰ ته او عمل کوی د سنّت برابر

۳۱۔ په دے ایت کښ بشارت په درے طریقو سره دے اول نَحْنُ اَوْلِيَآؤُكُمْ فِی الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِی الْاٰخِرَةِ دا مقابل د قرناء الشياطين دے لکه چه مشرکانو دپاره شیطانان ملګری دی په دنیا کښ نو د مؤمنانو دپاره ملائک ملګری دی په دنیا کښ الهام د خیر ورته کوی او د مونځ دپاره ئے د خوب نه بیداره وی نور مضرات شیطانی ترینه لرے کوی لکه چه "له معقبات من بين يديه ومن خلفه يحفظونه من امر الله" (رعد سلا) کښ تیر شوے دی۔ د فِی الْاٰخِرَةِ قرناء شیاطین خو په اخرت کښ دشمنان شی او ملائک په اخرت کښ هم ملګری او دوستان وی شفاعت به مؤمنانو لره کوی او سلامونه به ورته کوی۔
دویم بشارت وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِیْٓ اَنْفُسُكُمْ اشاره ده چه دوی په دنیا کښ د شهوات نفسانیه نه ځان بچ ساتلے وو نو اخرت کښ د هغے ازادی ورکوی۔
دریم وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ادعاء عام ده چه طلب په قول سره یا په تمنّا د زړه سره وی او دا د اشتهاء نفس نه هم عام ده یعنی د خولے په طلب او د زړه په تمنّا او د نفس په اشتهاء باندے پابندی نیشته۔
۳۲۔ په دے کښ یو بشارت دے۔ نُزُلًا هغه څیزونه خوراک څکاک مکان وغیره چه د میلمه دپاره تیاریږی یعنی د دُنیا پشان به نه وی چه د میلمه دپاره به تکلّف صرف درے ورځے کوی او بیا به عام خوراک خوری لیکن په جنّت کښ به هر وخت اعزاز او اکرام د میلمه پشان وی نُزُلًا حال دے د لفظ د مَا نه یا اُعِدَّتْ دپاره د مفعول به دے۔

وَّقَالَ اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَا تَسْتَوِی
او وائي چه يقيناً زهٔ د مسلمانانو د ډلے نه يم . او برابر نشي كيدے
الْحَسَنَةُ وَلَا السَّیِّئَةُ ط اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ
نيكه او بده دفع كوه (بدى لره) په هغه طريقه چه
اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِیْ بَیْنَكَ وَبَیْنَهٗ
ښائسته ده نو دغه وخت هغه څوك چه په مينځ ستا او په مينځ د هغه كښ
عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ حَمِیْمٌ ﴿۳۴﴾
دشمني دی ګويا كه دے دوست ګرم (مخلص) .

۳۳:- دا بيان د صفت د استقامت دے چه دعوت الی الله كوی او په طريقه د زورے سره دے هغه كسانو ته چه د قرآن د اوريدلو نه خلق منع كوی يعنی قرآن ډير ښائسته دعوت دے نو د دے نه ولے خلق منع كوئے ؟ او په دے اياتونو كښ د دعوت الی الله اداب ذكر كوی. په دے ايت كښ درے اداب دی.
اول ادب دَعَا اِلَی اللّٰهِ يعنی مقصد او منشور د دعوت د ده (الی الله) دے او د دے نه دعوت د توحيد په ټولو اقسامو سره او دعوت اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول نه او دعوت عمل د سنت نه په ټولو حالاتو كښ مراد دے.
دويم ادب وَعَمِلَ صَالِحًا دا ادب د پاره د تاثير د دعوت دے په زړونو د خلقو كښ او د دے د پاره چه داخل نشی دعوت كوونكے په دے زورنه كښ اتامرون الناس بالبر وتنسون انفسكم او لم تقولون مالا تفعلون . او عمل صالح شامل دے پوره تابعداری كول د سنت د رسول الله عليه وسلم او د صحابه كرامو ته.
دريم ادب وَقَالَ اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ دا ئے د دعوت كولو نه روستو ذكر كړو اشاره ده چه دا قول په وخت د ضرورت كښ دے مثلاً چه خلق تپوس اوكړی چه اے داعی ته د كوم ډلے سره تعلق لرے نو دا جواب د او كړی يا مراد د اسلام نه اخلاص دے يعنی كه خلق ګمان اوكړی چه د دهٔ په په دے دعوت كښ د دنيا مال وجاه وغيره مقصد وی نو جواب په اوكړی په اظهار د اخلاص سره.
۳۴:- په دے ايت كښ دوه اداب ذكر كوی اول وَلَا تَسْتَوِی يعنی داعی له ضروری دی چه د حسنه او سيئه فرق پوره اوپيژنی (ياكے په بل مخ)

وَمَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰهَآ

او نشي ورکيدے دا خصلت مګر هغه کسانو ته چه صبر ئے کړيدے او نشي ورکيدے دا

اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۳۵﴾ وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ

مګر لوئے برخے والا ته . او که چرے اورسيږي تا ته

دپاره ذدے چه په حسنه باندے امر کوی او د سيئه نه نهي کوی. او حَسَنَة توحيد او سنّت ته ويلے کيږي او سيئه شرک بدعات او فسق فجور ته و ئيلے کيږي يا مراد دَ حسنه نه خائسته اخلاق دي او دَ سيئه نه بد اخلاق دي. او لا لفظ ئے مکرر راوړو دپاره دَ تاکيد دَ فرق په مينځ دَ حسنه او سيئه کښ لکه چه سورة فاطر کښ وما يستوى الاحياء ولا الاموات کښ تير شويدى يا دَ دے وجے نه چه دَ حسنا تو په مينځ کښ هم تفاوت دے او دَ سيئا تو په مينځ کښ هم تفاوت دے. دويم ادب تفريع ده په ماقبل جمله باندے ادفع بِالَّتِي هِيَ احسن يعني په بيان دَ حسنه سره چه توحيد او سنت دے دفع کوه شرک و بدعت او ګناهو نو لره اشاره ده چه دَ مسئلے مقابله په مسئلے سره کوه په کنځلو او جګړے کولو سره مکوه يا مراد دا دے چه په صبر حلم او عفو او کرم وغيره دَ مخالفينو دَ غضب او کنځلو او دَ ظلم وغيره مدافعت کوه او قرطبي دَ ابوبکر رضي الله عنه نه روايت راوړے دے "چه يو شخص پل ته کنځل اوکړی نو هغه پل دِ ورته اوائی که تا زما په باره کښ رشتيا ويلے وی نو الله تعالیٰ دِ ماته مغفرت اوکړی او که تا دروغ ويلے وی نو الله تعالیٰ دِ تا ته مغفرت اوکړی". فَاِذَا الَّذِیْ بَیْنَكَ وَبَیْنَهٗ عَدَاوَةٌ الخ دا بيان دَ فائدے دَ دغه طريقے دَ دعوت او دَ هغے ثمره او نتيجه ذکر کوی. وَلِيٌّ يعني قريب بيشي حَمِيْمٌ مخلص يه اوګرځی (سوال) دَ دے ادا بو خو انبياء عليهم السّلام ټول بنه پابند دو خاص کر بيا زمونږ نبي صلّی الله عليه وسلّم خو په دے ادابو باندے پوره متصف وو او حال دا چه دَ هغه بعض دشمنان لکه ابوجهل، ابولهب وغيره خو دوستان نه شول؟ (جواب) دا چه مراد دَ دشمن نه په دے ايت کښ دشمن دے دَ جهل دَ وجے دَ عنادی دشمن مراد نه دے عداوةٌ کښ تنکير دپاره دَ خاص نوع دے په قرينه دَ سورة عنکبوت ۴۶ چه دے کښ دَ عناديانو استثناء ئے کړے دَ جدال بِالاَحْسَن نه. او هر کله چه کتابيانو کښ ضديان عناديان ډير دی په نسبت دَ نورو عوامو نو سورة عنکبوت کښ استثناء باندے تصريح اوکړه او په دے سورت کښ استثناء ذکر نه کړه (والله اعلم بالصواب).

ف ۳۵ - په دے ايت کښ عظمت شان دَ دغه خصلت ذکر کوی يعني دفاع په احسن طريقے سره دَ صبر ناکو او دَ جنتيانو خصلت دے. ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ دَ دے نه مراد

مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۗ اِنَّهٗ

دَ شیطان دَ طرف نه څوکه نو پناه غواړه په الله تعالیٰ سره یقیناً

هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۶﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الَّيْلُ

هغه هر څه اوری په هر څه پوهه دے. او بعض دَ دلیلونو دَ توحید نه شپه

وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۗ لَا تَسْجُدُوْا

او ورځ او نمر او سپوږمۍ دی سجدے مه کوئ

لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ

نمر ته او نه سپوږمۍ ته او سجده خاص کوئ الله تعالیٰ ته

الَّذِيْ خَلَقَهُنَّ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ

هغه الله تعالیٰ چه پیدا کړے دی دا که چرے تاسو خاص هغه لره

جنّت دے. دَ دے نه معلومه شوه چه دعوت کوونکے حق ته په دا سے خصلتونو سره دَ الله تعالیٰ په نیز باندے دَ لوئے برخے خاوند دے، او جاهلان خلق دَ برخے خاوند هغه چاته وائی چه لیونی او مجذوب وی او دا ناکاره عقیده ده.

۳۶:- په دے ایت کښ پل ادب ذکر کوی دَ پاره دَ داعی. وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ یعنی هرکله چه مخالفین سب و شتم کوی نو شیطان انسی یا جنّی تاته وسوسه اوکړی چه ته هم ورته کنځل اوکړه او جګړے ته دِ اماده کوی نَزْغٌ دَ نزغ فاعل یے هم نزغ ګرځولے دے دَ پاره دَ تاکید یا نزغ په معنیٰ دَ نازغ دے. او مِنَ الشَّيْطٰنِ کښ مِنْ بیانیه دے. فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ دَ استعاذه بالله قرآن کښ په دوه حالتونو کښ امر دے اول په وخت دَ شروع کولو دَ قراءت دَ قرآن کښ لکه سورة نحل ۹۸ او دویم په وخت دَ غضب او غصّه کیدلو کښ لکه چه سورة اعراف ۲۰۰ کښ دی. سورة اعراف کښ انه سمیع علیم نکره یے ذکر کړیده او په دے ایت کښ انه هو السمیع العلیم معرفه او ضمیر فصل یے ذکر کړیدے وجه دا ده چه په دے سورت کښ دَ منکرینو ډیر ضد او عناد ذکر کړے شو نو دَ هغے دَ دفع کولو دَ پاره ډیر تاکیدی الفاظ پکار دی او سورة اعراف کښ دَ منکرینو ضد او عناد یے نه دے ذکر کړے نو هلته تاکید ته ضرورت نیشته.

تَعْبُدُوْنَ ﴿۳۷﴾ فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ

بندګي کوئ - نو که چرے دوی لوئي کوی - نو هغه کسان

عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ

چه ستا دَ رب سره دی تسبیح وائی هغه لره دَ شپے او دَ ورځے

وَهُمْ لَا يَسْئَمُوْنَ ﴿۳۸﴾ السجدة وَمِنْ اٰيٰتِهِ

او دوی نه ستړے کیږی - او بعض دَ دلیلونو دَ توحید نه دادی

ف۳۷:- په دے ایت کښ دلیل عقلی په توحید باندے ذکر کوی او اشاره ده چه داعی ګر چه غصه شی نو اعوذ بالله وئیلو نه روستو دِ دلیلونه پیش کوی وَمِنْ اٰيٰتِهِ په دے کښ اشاره ده چه دلیلونه دَ توحید بے شماره دی الَّيْلُ وَالنَّهَارُ دا مسبب دی او الشمس والقمر اسباب دی یعنی پیدا کوونکے دَ اسبابو او مسبباتو الله تعالیٰ دے. لَا تَسْجُدُوْا رد دے په هغه مشرکین باندے چه دَ نمر او سپوږمئ عبادتونه کوی لکه چه قوم دَ ابراهیم علیه السّلام وو دا رنګ بلقیس او قوم دَ هغے وو او حدیث کښ وارد دی چه دَ نمر دَ طلوع او غروب په وخت کښ عبادت کوونکی دَ شمس هغے ته سجدے لګوی. او دا هغه خلق دی چه دَ ر نړا عبادت کوی نو دا په اصل کښ دَ مجوسیانو یوه ډله ده. الَّذِيْ خَلَقَهُنَّ ضمیر راجع دے الليل والنهار والشمس والقمر ته یا صرف شمس و قمر ته (سوال) چه په ماقبل مرجع کښ مؤنث یو دے چه شمس دے او درے مذکر دی نو پکار وو چه مذکر له ئے تغلیب ورکړے وے په مؤنث باندے؟ (جواب) په تانیث کښ اشاره ده دَ دوی ضعف او کمزورئے ته بل دا چه اکثر مشرکین عبادت دَ نمر ډیر کوی په نسبت دَ سپوږمئ، دَ هغے عبادت کوونکی لګ دی نو دَ دے وجے نه ضمیر دَ مؤنث ئے ذکر کړو. اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ یعنی مشرکان هم دعوے کوی چه مونږ دَ الله تعالیٰ عبادت کوو نو اشاره ئے اوکړه چه عبادت په شرع کښ توحید دے نو که بندګی دَ الله تعالیٰ په طریقه دَ توحید سره کول غواړئ نو غیر الله ته سجدے مه کوئ او په دے ایت کښ اشاره ده چه مشرکان ډیر بے عقله دی ځکه چه دلیلونه دَ توحید ئے معبودان ګرځولی دی.

ف۳۸:- دا زجر دے په پریخودلو دَ سجدے سره دَ دے دَ استکبار نه پشان دَ ابلیس. بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ مراد دَ دے نه دوام دے وَهُمْ لَا يَسْئَمُوْنَ اشاره ده

أَنَّكَ تَرَى الْأَرْضَ خَاشِعَةً فَإِذَا أَنْزَلْنَا

چه ته وینې زمکه اوچه نو کله چه اوروو مونږ

عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ الَّذِي

په هغې باندې اوبه تازه شي او پوکه شي یقیناً هغه ذات

أَحْيَاهَا لَمُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۚ إِنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ

چه دا ئې تازه کړه خامخا ژوندي کوونکې دَ مړو دې یقیناً هغه په هر

شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۳۹﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ

شي باندې قدرت لري . یقیناً هغه کسان چه کوږ لیچ کوي

فِي آيَاتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ۗ أَفَمَنْ يُلْقَىٰ

په ایاتو زمونږ کښې نه شي پټیدې له زمونږ نه ایا نو هغه څوک چه غورځولې کیږي

چه تسبیح ویل دَ ملائکو دَپاره امر کړې شوې دې لکه انسان چه سا اخلي او په هغې باندې نه ستړې کیږي نو معلومه شوه چه دَ تسبیح سره ملائک نورکارونه هم په امر دَ الله تعالیٰ سره کولې شي تسبیح ویل دوی له دَ نورو کارونو نه منع کوي.

۳۹. دا بل دلیل عقلي دې او اشاره ده چه په باران سره په زمکه کښې انقلاب پیدا کیږي دارنګ په قرآن بیا نولو سره په خلقو کښې انقلاب پیدا کیږي.
خَاشِعَةً اوچه او شاړه او دوړو والا چه بوټي پکښې نه وي. اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ دا حالت محکښې دَ بوټي راوتلو ته وي یعنې زمکه په وخت دَ بوټي راوتلو کښې او خوزیږي یعنې ځائې دَ راوتلو فراخه شي او دا زمکه او پړسیږي یعنې نرمه شي خو پیا په دې معنی باندې په عبارت کښې تقدیم او تاخیر دې یا دا روستو دَ بوټي راوتلو نه صفتونه دَ بوټي دي زمکې ته ئې نسبت مجازیه دې یعنې تیغ دَ بوټي په وخت دَ راوتلو کښې او خوزیږي او بیا پورته شي بره طرف ته او دارنګ په سورة حج سـ۵ کښې تیر شویدي. إِنَّ الَّذِي أَحْيَاهَا دا استدلال دې دَ دې حالت نه په دوباره ژوند ثابتولو باندې او دارنګ دا تذکیر دَ قیامت دې یعنې هر کله چه انسان خپل فصل دَ زمکې اوینې نو هغې نه چه دَ دنیا دَ محبّت دَ وجې نه بعث بعد الموت هیر کړي.

فِي النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِيْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ

په اور کښې غورځه دے او که هغه څوک چه راځي په امن والا په ورځ

الْقِيٰمَةِ ؕ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا

د قيامت عمل کوئ چه څه هم خوښه وی يقيناً الله تعالیٰ په هغه عملونو

تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝۴۰ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چه کوئ تاسو ليدونکے دے. يقيناً هغه کسان چه کفر ئې کړے دے

بِالذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ

په قرآن باندے هرکله چه راغے دوی ته (هلاک به شی) او يقيناً دا کتاب دے

عَزِيْزٌ ۝۴۱ لَّا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ بَيْنِ

عزتمند. نه شی راتلے دۀ ته باطل د مخکښې

سئـ. دا متعلق دے دَ لا تسمعوا لهذا القرآن سره يعني الحاد په آيا تونو کښې په دا سے طريقه کوی چه خلق ئې دَ اوريدلو نه منع کوی او تحريف او باطل تاويلونه کوی او مقابلے کوی نو دوی لره زجر او تخويف ورکوی په درے طريقو سره اوله طريقه لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا يعني هر وخت الله تعالیٰ عالم دے او قادر دے دَ دوی په هلاکولو باندے.

دويمه طريقه اَفَمَنْ يُّلْقٰى الخ يعني الحاد کوونکی به په اور دَ جهنم کښې پرے غورزيگی او مؤمنان به دَ جهنم نه په امن وی نو آيا دوی دواړه برابر يو شان دی؟ استفهام انکاری دے. او خير ئې دَ دے وجے نه نفی کړو چه په قرآن کښې الحاد کوونکے ځان غورځه گنړی.

دريمه طريقه اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ په دے آيت کښې اثبات دَ مشيت او ارادے دے دَ پاره دَ انسانانو که نيک وی يا بد.

سئـ ۴۱. دا هم زجر دے محلديتو دَ قرآن ته سره دَ بيان دَ صداقت دَ قرآن نه په څلور صفتونو سره. اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا دَ دے خبر پټ دے دَ پاره دَ تعميم دَ په حلے دَ هغوی يعني تباه دی. عذاب به ورکړے کيږی. بے عقله دی. او ور کښې به پرے غورزيگی. منادِيان دی وغيره. عَزِيْزٌ دَ دے ډيرے معنی دی او هغه ټولے مراد دی. عزت منو دے په نيز دَ الله تعالیٰ. غالب دے په هر کتاب باندے.

يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ۖ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ
ذَدهٔ ته او ته دَ روستو دَ دهٔ ته نازلول دَ دهٔ دَ طرف دَ حکمت والا

حَمِيْدٍ ﴿۴۲﴾ مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ
ستائیلی شوی ته۔ نه ویلے کیږی تاته مګر هغه چه ویلے شوی دی

لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ ۗ اِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ
رسولانو ته ستا نه مخکښی یقینًا ستا رب خامخا مالک

مَغْفِرَةٍ وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ
دَ بخښنے دے او مالک دَ عذاب درد ناک دے۔ او که چرے نازل کړے وے مونږ

بے مثله بے نظیره دے۔ قرآن دے یعنی څوک ئے مقابله نشی کولے۔
لَا یَاْتِیْهِ الْبَاطِلُ باطل نه مراد تغییر او تبدیل دے یا تکذیب دے یا شیطان دے۔
مِنْ بَیْنِ یَدَیْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ دوه طرفونه ئے ذکر کړه مراد تریه هر طرف دے یعنی
دَ هیڅ جهت نه پکښی باطل (په دغه درے معانیو سره) نشی راتلے یا مراد دَ دے
نه تیر شوی واقعات او راتلونکے پیشګوئے دی او باطل نه مراد تکذیب دے
یا مراد دے نه مخکښی نازل کړے شوے کتابونه دی او وروستو کتاب نازل کیدل
دی یعنی تیر شوے کتابونو کښی دَ دے قرآن تکذیب نیشته او وروستو هم دَ دے
نه منسوخ کوونکے نشی راتلے او دا دلیل دے چه دا آخری کتاب دے چه په
آخری نبی باندے نازل شوید ے۔ (سوال) په اوله معنیٰ باندے سوال دا
واردیګی چه ډیرو باطل پرستو خلقو دَ دے قرآن تکذیب کړے دے او
تحریف ئے پکښی کړیدے؟ (جواب) مراد دا دے چه تکذیب او تحریف پکښی نه
چلیږی یعنی که څوک اوکړی نو الله تعالیٰ دَ دعوی په مقابله کښی داسے اهل علم
پیدا کړی چه دَ هغے تردید اوکړی لکه چه حدیث کښی وارد دی یَنْفُوْنَ عَنْهُ تَحْرِیْفَ
الغالین و انتحال المبطلین و تاویل الجاهلین۔
۴۳:- دا تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته روستو دَ ذکر دَ ملحدینو نه
او دَ آیت دوه تفسیرونه دی اول دا چه مَا قَدْ قِيْلَ لِلرُّسُلِ نه مراد نسبت دَ
ساحر، کذاب، مجنون، ګمراه وغیره طعنونه کول دی۔ دویم دا چه مراد هغه
وحی دَ توحید ده چه مخکښی رسولانو ته رالیږلے شویوه نو په اوله معنیٰ
کښی قِیْلَ دَ خلقو دَ طرف نه دے او په دویمه معنیٰ کښی رپانے پہ یل مخ)

قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ؕ
دا قران په ژبه عجمي خامخا دوی به ویل چه ولې نه دی جُدا جُدا ایا تونه دده
ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ؕ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ
او ایا کتاب عجمي دے او پیغمبر عربي دے . ته اوایه دا دَ
اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ وَالَّذِيْنَ
مؤمنانو دپاره هدایت او شفاء ده او هغه کسان
لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ
چه ایمان نه راوړی په غوږونو دَ هغوی کښې دروند والے دے او دا قران
عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۢ
په هغوی باندے حجت دے دغه کسان داسے دی لکه چه آواز ورکیدے شی دوی ته دځائے
بَعِيْدٍ ۝۴۴ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ
لرے نه - او یقینًا ورکړے دے موږ موسٰی علیه السّلام ته کتاب (تورات)

قِیلَ دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے . اِنَّ رَبَّكَ الخ مستقل کلام دے تسلّی او بشارت دے مؤمنانو لره او تخویف دے منکرینو لره یا دا تفسیر دَ ما قد قیل دپاره دے یعنی بشارت وانذار دَ ټولو رسولانو وحی ده -

سلا :. دَ دے نه تر اخره پورے دریم باب دے په دے کښې جواب دَ دریم شبهه دے بیا سبب دَ عذاب ئے ذکر کړے چه هغه اختلاف فی الکتاب دے بیا دلیل عقلی دے سرهٔ دَ تخویف اخروی نه بیا څلور زجرونه دی او اخر کښې اثم دلیل عقلی دے . په دے (سلا) کښې جواب دَ شبهه دَ مشرکانو دے هر کله چه دَ قران او دَ رسول صداقت ذکر شو نو منکرینو بل اعتراض اوکړو چه دا قران په عجمي ژبے سره ولے نه راوړے خو معلومیږی چه دا تا دَ ځان نه جوړ کړے دے نو جواب اوشو حاصل جواب دا دے چه اوس خو تاسو یوه شبهه کوئے او که په عجمي ژبے باندے نازل شوے نو بیا به تاسو دوه اعتراضونه کولے یو دا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ څکه چه کوم تفصیل او وضاحت په لغت عربیه کښې دے هغه به په نورو لغتونو کښې نیشته دویم دا ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ایا کتاب عجمي دے او رسول عربي دے . فرق په میځ دَ اعجمي او عجمي کښې دا دے اعجمي هغه

فَاخْتُلِفَ فِيهِ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ

نو اختلاف کړے شوے دے په هغې کښې او که چرے نه وے تېره د عذاب چه مخکښې مقرر شوے وه ستا د

رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ

رب د طرف نه نو اوس به فیصله کړے شوے وے په مینځ د دوی کښې او یقیناً دوی خامخا په شک کښې دی

مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿۴۵﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ

د دے نه پوخ شک . چا چه عمل کړے وی برابر د سنت سره نو خپلے فائدے د پاره دے

وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا ۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿۴۶﴾

او چا چه بد عمل کړے وی نو ضرر به ئے په هغه بانـدے وی او نه دے ستا رب هیڅ ظلم کوونکے په بندګانو بانـدے .

دے چه هیڅ وضاحت نشی کولے برابره خبره ده که عربی وی او که غیر عربی وی او عجمی هغه دے چه د عربی نسب ئے نه وی اګرچه هغه هم کله فصیح و بلیغ وی پشان د عربو. قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اه دا بیان د فوائدو د قران دے لیکن په شرط سره چه هغه انابت یعنی طلب د ایمان دے او هر کله چه دا شرط نه وی چه هغه مراد دے په لا یؤمنون سره نو بیا د هغوی د پاره نقصان دے. عَمًى دا مصدر دے او مضاف ئے پټ دے یعنی ذُوْ عَمِیٍ اُولٰٓئِكَ یُنَادَوْنَ دا اشاره ده یل مثال د دوی ته یعنی دوی چه قران نه اوری نو مثال ئے د هغه سړی دے چه هغه ډیر لرے وی او څوک ورته اواز ونه کوی نو هغه نه اوری او نه پوهیږی نو عبارت کښې تقدیر دے اولئك مثل الذین ینادون. بعض مفسرینو ویلے دی چه دا به په قیامت کښې وی چه د دوی د شرمنده کولو د پاره به دوی ته د لرے نه په ناکاره نومونو سره اواز ورکیدے شی نو بیا تقدیر د عبارت ته حاجت نیشته دے.

۴۵: دا تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته لکه چه ستا کتاب قران کښې د دے خلقو اختلاف دے نو دا رنګ په کتاب د موسٰی علیه السلام کښې اختلاف کړے شوے وو.

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ دا جواب د سوال دے هر کله چه قران حق دے او دا خلق ئے انکار کوی نو په دوی بانـدے عذاب ولے نه راځی حاصل د جواب دا دے چه د دوی عذاب الله تعالٰی په حکم تقدیری سره روستو کړے دے او دا احسان د الله تعالٰی دے.

لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ ضمیر راجع دے تقدیر او قضاء ته یا راجع دے قران ته.

۴۶: دا ذکر د فریقینو دے په وخت د اختلاف او د شك کښې او هر یو حال ئے ذکر کړے دے. بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ دا صیغه د نسبت ده لکه حداد قصاب په دے کښې ذو مقدار دے یعنی ذو ظلم دا صیغه د مبالغې نه ده.

إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ

خاص الله تعالیٰ ته گرځولے شي علم دَ قیامت او نه راوځي هيڅ

ثَمَرٰتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ

میوے دَ خپلو کسوړو نه او حمل نه اخلي هيڅ

أُنْثٰى وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ

زنانه او نه زیگوی حمل مگر په علم دَ الله تعالیٰ سره او په کومه ورځ چه آواز به ورکړی دوی ته

أَيْنَ شُرَكَاءِي ۙ قَالُوا آذَنّٰكَ ۙ مَا مِنَّا

چرته دي شریکان زما (ستاسو په گمان کښ) دوی به اُوائي خبر درکوو مونږ تاته نیشته زمونږ نه

مِنْ شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوا

هيڅ گواهي کوونکے (په شریک باندے). او ورک به شي دَ دوی نه هغه (معبودان) چه

ف۴۷: دا دلیل دے په نفی دَ علم غیب سره دَ غیرالله نه په درے مثالونو سره یو ذکر دَ علم دَ قیامت دویم علم دَ پیدا کیدلو دَ میوو دریم علم دَ حمل دَ زنانو او علم مستلزم دے قدرت لره نو دا رد دے په مشرکانو باندے چه ستاسو شرکاء په دے کښ یو علم هم نه لری نو ولے دَ الله تعالیٰ سره شریک گرځوئے او مناسبت دَ دے ایت دَ ماقبل سره په طریقه دَ علت دے دَ وَمَا رَبُّكَ بِظَلّٰمٍ دَپاره یعنی ظلم خو هغه څوک کوی چه علم او قدرت ئے نقصاني وی او الله تعالیٰ په هر غیب باندے عالم او قادر دے. إِلَيْهِ دا ئے دَ حصر دَپاره مخکښ راوړیدے. يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ یعنی دَ هر چا نه چه تپوس اوکړے شي دَ قیامت په باره کښ که پیغمبر وی او که جبریل وی او که ولی وی نو هغه جواب کوی چه واللہ اعلم نو دغه علم الله تعالیٰ ته اوگرځوی ځکه چه هغه پرے علم نه لری. أَكْمَامِهَا جمع دَ كُم ده یعنی کسوړے او پوستکی دَ میوو چه او سپړلے شي نو میوه ترینه ښکاره شي. وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَاءِي دا نتیجه ده دَ دے دلیل چه قیامت کښ به مشرکانو ته معلومه شي چه زمونږ شرکاء عالم الغیب او قادر په نفع وضرر باندے نو و نو دَ دے وجے نه به دَ هغوی نه انکار اوکړی. شُرَكَاءِي یعنی چه ستاسو په گمان کښ زما شریکان وو. آذَنّٰكَ ماضی ئے دَ تاکید دَپاره راوړیدے ده مراد ترینه اوس خبر ورکول دی شَهِيدٍ شهادت کوونکے په وجود دَ شریک دَ الله تعالیٰ.

يَدْعُوْنَ مِنْ قَبْلُ وَظَنُّوْا مَا لَهُمْ

بلل په دوی مخکښې ذ دے نه او دوی په گمان اوکړی چه نيشته دوی لره

مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿۴۸﴾ لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ مِنْ

ذ تختيدلو ځائے . نه ستړے کيږی انسان (بعض) ذ

دُعَآءِ الْخَيْرِ وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَـُٔوْسٌ

دُعا غوختلو ذ خير نه او که چرے اورسی هغه ته مصيبت نو نا اُميدی کوؤنکے

قَنُوْطٌ ﴿۴۹﴾ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنْۢ بَعْدِ

تندے ترېوعونکے وی . او که چرے اوڅکوو موږ انسان ته رحمت زموږ روستو

ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ وَمَآ اَظُنُّ

ذ تکليف نه چه رسيدلے وی دهٔ ته خامخا وائی دے دا زما حق دے او گمان نه کوؤم

سـ۴۸ :- دا يو علت دے ذ انکار ذ شرک نه يعنی ذ دوی معبودان به ذ دوی نه غائب شی يعنی امداد له به نشی راتللے که بزرګان وی نو جنت ته به لاړ شی او که ناکاره خلق وی نو هم به ذ خپلو عابدانو نه په ذوه شی او بل علت دا دے چه ذ تيختے طرف به نيشته نو مجبورًا به ذ شرکاء نه انکار کوی . مَا لَهُمْ مَا حرف نفی دے منع کوؤنکے ذ فعل ذ ظنوا لره ذ عمل کولو نه .
سـ۴۹ :- دا اول زجر دے يعنی لکه چه په قيامت کښې ذ دے مشرکانو حال به بدل شی نو دا رنګ ذ دوی حال په دنيا کښې کيدونکے دۀ . يعنی انسان په حال ذ طلب ذ خير کښې هر وخت زيات غواړی نه ستړے کيږی او نه مړيږی مالونه اولاد مرتبے ذ دنيا غواړی او په حال ذ تکليف کښې يعنی که چرے يو دُعا ذ خير او تمنا ذ دنيا به پوره نشی نو ذ الله تعالیٰ نه نا اميدی نيکاره کوی نو الله تعالیٰ سره مخالفت او دشمنی شورو کړی .
يَـُٔوْسٌ قَنُوْطٌ فرق ذ دے دواړو دا دے چه يَـُٔوْسٌ ذ زړه سره تعلق لری او قَنُوْطٌ ذ ظاهر سره تعلق لری او اول حال ذ کافر دے لکه په سوره يوسف ۸۷ کښې او دويم حال ذ ګمراه دے لکه په سورة حجر ۵۶ کښې .

السَّاعَةَ قَائِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ إِلٰى رَبِّيْٓ

په قیامت پاندے قائمیدونکے اوکه چرے اوګرځولے شوم زه خپل رب ته

إِنَّ لِيْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ

یقینًا ما لره دَ هغه سره خامخا خوشحالی ده نو ضرور خبر به ورکړو موږ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِمَا عَمِلُوْا ۫ وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ

کافرانو ته په هغه عملونو چه دوی کړیدی او خامخا به څکوو موږ دوی ته

مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۵۰﴾ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا

دَ عذاب ډیر سخت نه - او کله چه نعمت اوکړو موږ

عَلَى الْإِنْسَانِ أَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَإِذَا

په انسان پاندے نو مخ واړوی او لرے کړی خپله ډډه او کله چه

مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ﴿۵۱﴾ قُلْ

اورسیږی ده ته مصیبت نو خاوند دَ دُعا پلنے وی - ته اُوایه

ف۵۰:- دادویم زجر دے په ناشکرئے کولو دَ نعمت دَ الله تعالیٰ په درے طریقو سره اول داچه لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ یعنی دا زما حق دے په الله تعالیٰ باندے بسبب دَ علم او دَ عمل زما یعنی دَ الله تعالیٰ په ما باندے هیڅ احسان نیشته دے یا مراد دا دے چه ما نذرونه دَ غیرالله ډیر ورکړیدی او دَ هغوی دَ قبرونو م خدمتونه کړیدی نو دَ هغے وجے نه زما نه دا تکلیف لرے کیدل زما حق دے- دویم وَمَآ أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً- دریم وَلَئِنْ رُّجِعْتُ إِلٰى رَبِّيْٓ الخ یعنی اول خو دَ قیامت نه انکار کوی او بیا وائی چه پرواه م نیشته چه ماله په دنیا کښ زما دَ حق دَ وجے نعمتونه ئے راکړے دی نو دا رنګ به آخرت کښ زما حق دے چه ماله به جنّت او خوشحالی راکوی- بیا دوه جملو سره دَ دوی تخویف ذکر کوی جمله اول کښ مطلب دا دے چه دَ دوی دَ مشرکانه عملونو حقیقت باندے به ئے خبر کړم چه دا برباد دی او دویمه جمله کښ دَ هغه ناکاره اعمالو او اقوالو سخته سزا به وی-

ف۵۱:- دادریم زجر دے په ګناه وه کارونو دَ انسان روستو دَ ذکر دَ اقوالو دَ ده نه- أَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ یعنی دَ حق منلو نه مخ اوګرځوی او لرے لرے تریته ګرځی دَ تکبر دَ وجے نه یا دَ دے وجے نه چه دَ حق پرستو سره بدنام نشی-

أَرَءَيْتُمْ إِنْ كَانَ مِنْ عِندِ اللَّهِ ثُمَّ

خبر راکړئ ماته که چرے وی دا قرآن د طرف د الله تعالیٰ نه بیا

كَفَرْتُم بِهِۦ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِى

کفر کوئ تاسو په دے باندے نو څوک لوئ ګمراه دے د هغه چانه چه هغه په

شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ

دشمنئ لرے کښ وی - زر دے چه اوبه خایو مونږ دوی ته دلیلونه خپل په غاړو د دُنیا کښ

وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ

او په نفسونو د دوی کښ تر دے چه ښه ښکاره په شی دوی ته چه دا

فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ هر کله چه عرض (پلنوالے) ئے ذکر کړو نو معلومه شوه چه طول به ئے ډیروی ځکه چه د کوم څیز عرض وی نو طول ئے د هغه نه ډیروی او مراد د دے نه کثرت دے - عَرِيضٍ کښ اشاره ده چه دغه یو حاجت بار بار ذکر کوی نور حاجتونه د الله تعالیٰ ته نه طلب کوی نو د یو څیز تکرار ته عرض ویلے کیږی او د ډیرو حاجتونو ذکر کولو ته طول ویلے کیږی او حاصل د دے ایت دا دے چه مشرک انسان په وخت د فراخے او د نعمتونو کښ خپل رب نه پیژنی او په وخت د سختئ کښ الله تعالیٰ ته آوازونه کوی او دا مضمون سورۃ یونس او سورۃ نحل او سورۃ اسراء او سورۃ عنکبوت او سورۃ روم او لقمان کښ هم تیر شوے دے -
په سله ۴۹ کښ د یو نوع انسان ذکر وو چه هغه مرتد دے او دلته د بل نوع ذکر دے چه هغه عام مشرک دے -
سله ۵۲ :- دا څلورم زجر دے په انکار د قرآن سره - إِنْ كَانَ دا په معنیٰ د إِذَا دے لیکن اَنْ ئے ذکر کړے دے د پاره د ارخاء عنان یعنی چه په وخت د دعوت او د مناظرے کښ مخاطب له د فکر کولو موقع ورکړی او واګے ورته سست کړی مَنْ أَضَلُّ دا په ځائے د جزاء د ان شرطیه کښ دے یعنی جزاء په حقیقت کښ پټه ده هغه داده السنم اضل الناس -
فِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ انکار کول د قرآن نه سره د علم نه چه دا حق دے دے ته شقاق ویلے کیږی -

الْحَقُّ ۭ اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

حق دے ایا نه دے بوره رب ستا (په دے صفت سره) چه هغه په هر څیز باندے

شَهِيْدٌ ۝ اَلَآ اِنَّهُمْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَاۗءِ

حاضر ناظر دے . خبر شئ یقینًا دوی په شک کښ دی د پیښے

رَبِّهِمْ ۭ اَلَآ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطٌ ۝

د رب خپل نه خبر شئ یقینًا هغه هر څیز لره راګیر وونکے دے .

۵۳ :- روستو د زجرونو نه ترغیب دے حق طرف ته او مراد د ایات نه دلیلونه عقلیه دی او هغه دوه قسمونه دی یو دلیلونه آفاقی او دویم انفسی دے یا دا تخویف دے او مراد د ایات نه واقعات د قومونو مخکنو دی چه په مختلفو اطرافو د زمکه کښ د هغوی کهنډرات موجود دی او فی انفسهم نه مراد مرضونه او تکلیفونه بدنیه دی اِنَّهٗ ضمیر قرآن یا توحید یا رسول ته راجع دے .
اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ دا اشاره ده دلیل وحی ته چه د الله تعالٰی شهادت په حق باندے کافی دے نورو دلیلونو ته ضرورت نیشته که دا خلق پوهیدلے . اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ دا بدل دے د بربك نه یعنی د رب شهادت په توحید او په صداقت د رسول او د قرآن باندے کافی شهادت دے لکه کفی بالله شهیدا . یا لام تعلیله مقدر دے یعنی رب ستا کافی دے د یاره د معبودیت او د حاجت روائی او د مصیبت نه د بچ کولو ځکه چه هغه په هر څیز باندے حاظر ناظر دے او غیب دان دے او دا آخری دلیل عقلی دے په سورت کښ .
۵۴ :- روستو د اثبات د حق نه په دلیلونو سره په منکرینو باندے زجر دے او په لفظ د اَلَآ سره یے ذکر کوی . اشاره ده چه د دے منکرینو شك کول ښکاره دی او دارنګ احاطه د الله تعالٰی په هر څیز باندے ښکاره ده او محیط کښ اشاره ده وعید او عذاب ته د یاره د منکرینو او احاطه په قدرت او علم سره هم مراد ده .

ختم شو تفسیر د حٰمٓ السجدة په فضل د الله تعالٰی سره .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة شوریٰ اوبل نوم ئے سورة حمٓ عسق دے

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیرو وجهو سره دے اوله وجه داده چه په تیر شوی سورت کښ نهه صفات وو دَ قرآن نو په دے سورت کښ نهه صفات دی دَ قرآن والو۔ دویمه وجه داده چه په هغه سورت کښ زجرونه معرضینو دَ قرآن ته او په دے سورت کښ دعوت دے فیصله کولو ته په قرآن باندے۔ دریمه وجه داده چه سورة سجده کښ ترغیب وو دعوت الی الله ته او په دے سورت کښ دَ دعوت کوونکی لسں ذمه وارے ذکر کوی۔ څلورمه وجه داده چه په مخکنی سورت کښ ردونه په درے اقسامو دَ شرک باندے نو په دے سورت کښ رد دے په شرک فی الولایة والتصرف باندے۔

دعویٰ دَ دے سورت رد دَ شرک فی الولایة دے او دَ ولایت دوه معنے دی تصرف او اختیار په کائناتو کښ دویمه معنیٰ اختیار دَ تشریع ربدنی شرع جوړول) او دا دعویٰ په لفظ دَ ولایت او په مرادف دَ هغې سره نفیًا او اثباتًا په دے ایاتو کښ ده ۶ ، ۹ ، ۱۱ ، ۱۲ ، ۱۹ ، ۲۸ ، ۲۹ ، ۳۲ ، ۴۹ ، ۵۳ دا اثباتًا دی او په ۶ ، ۸ ، ۹ ، ۳۱ ، ۴۴ ، ۴۶ کښ انفیًا دی۔ او په لفظ دَ حکم او تشریع او مرادف سره اثباتًا په ۳ ، ۷ ، ۱۰ ، ۱۳ ، ۱۷ ، ۴۷ ، ۵۱ ، ۵۲ کښ او نفیًا ۱۴ ، ۱۶ ، ۲۱ ، ۳۵ کښ۔ او دا رنګ په دے سورت کښ جوابونه دی دَ درے شبهاتو نه۔

خلاصه دَ سورت دا سورت تقسیم دے درے بابونو ته اول باب تر ۱۵ پورے دے په دے باب کښ جواب دا دے شبهے دے په تاکید دَ امر دَ دعوت سره او اثبات دَ ولایت دے الله تعالیٰ لره او اثبات دَ امن دَ عالم دَ پاره په توحید سره۔ بیا نفی دَ ولایت ده دَ غیر الله نه او ترغیب دے قرآن ته بیا هم نفی دَ ولایت ده دَ غیر الله تعالیٰ نه بیا جواب دے دَ دویمے شبهے او دوه عقلی دلیلونه دی دَ پاره دَ اثبات دَ ولایت لِلّٰه تعالیٰ او اثبات دَ تشریع الهی دے او بیا جواب دَ دریمے شبهے دے۔

وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۙ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ

او هغه کسانو ته چه ستا نه مخکښ دی الله تعالیٰ چه زورادر

الْحَكِيْمُ ③ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ط

او حکمت والا دے ۔ خاص د هغه په واک کښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څه چه په زمکه کښ دی

وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ④ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ

او هغه پورته او لوے شان والا دے ۔ نزدے دی اسمانونه

تفسير

سا سـ۲ :۔ دا مقطعات دی په شان د کٓهٰیٰعٓصٓ، هغه هم خماسی وو او دا هم۔ لیکن کهیعص پیوست لیکلے شوے دے او دا د ډیرو قاریانو په نیز جدا جدا دے یعنی حٰمٓ، عسق ۔ د دے یو وجه دا ده چه هغه یو آیت دے او دا دوه آیاتونه دی۔ دویمه وجه دا ده چه د دے سورت نور امثال مخکښ او روستو کښ حٰمٓ دے نو په دے کښ یئ هم حٰم جدا اولیکلو ۔ دریمه وجه دا ده چه په کهیعص کښ اتفاق دے چه هغه حروف تهجی مقطعات دی او هرچه دا دے نو بعض اهل علمو دا د حروفو نه شمارلے نه دی او حٰم یئ فعل ګرځولے دے ۔ او د دے مفرداتو په مرکب ماخذونو مفسرینو ډیر اقوال نقل کړے دی غوره قول دے کښ هم هغه دے چه په نورو مقطعاتو کښ ذکر شوے دے۔

سـ۳ :۔ په دے آیت کښ ترغیب دے قرآن ته چه دا وحی ده د الله تعالیٰ پشان د وحی د انبیاء سابقینو او په دے کښ جواب د اولے شبهے دے۔ شبهه د منکرینو دا وه چه دے پیغمبر د دا سے څیز دعویٰ کړے ده چه د ده نه روانده هیچا نه ده کړے مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِى الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۔ اوس هم چه څوک دعوت توحید ته ورکوی نو په هغه باندے هم دا سے اعتراض کیږی۔ حاصل جواب دا دے چه دا نوے څیز او نوے خبره نه ده بلکه مخکښ انبیاء علیهم السلام ته هم دا سے راغلے وه كَذٰلِكَ اشاره ده هغه آیاتونو او سورتونو ته چه د دے سورت نه مخکښ نازل شوی دی او یوحی په معنیٰ د ماضی دے ځکه چه مِنْ قَبْلِكَ وروسته ذکر دے لیکن صیغه د مضارع ذکر کړه ځکه چه د نبی صلی الله علیه وسلم په ژوند کښ هغه ته وحی جاری وه۔ بعض مفسرینو د ذٰلِكَ مشار الیه حٰمٓ عسق ګرځولے دے۔

سـ۴ :۔ په دے آیت کښ اثبات د تصرف او ولایت دے د الله تعالیٰ د پاره او رد

يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ
چه اوبه چوی د بره طرف ته او ملائک تسبیح وائی
بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ
سره د حمد د رب خپل ته او بخنه غواړی هغه چا لره چه په زمکه کښ دی
اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ⑤
خبر شئ یقیناً الله تعالیٰ هغه بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔

دَ شرک فی التصرف دے او دا دَ هغه وحی خلاصه ده چه مخکښ ایت کښ کوم ذکر شوه نو دَ ټولے وحی حاصل توحید دے۔

ف:- په دے ایت کښ قباحت دَ شرک ذکر کوی چه هغه سبب دَ خرابے دَ عالم دے او عظمت شان دَ توحید چه هغه سبب دَ امن دَ دُنیا دے۔ مِنْ فَوْقِهِنَّ مِنْ دَ پاره دَ ابتداء دے یعنی دا انفطار په شوروشی دَ هر هغه اسمان ته چه اوچت دَ په بل اسمان باندے نو ضمیر راجع دے اسمانونو ته یا ضمیر راجع دے زمکو ته یا راجع دے جماعتونو دَ مشرکینو ته او علت دَ انفطار ذکر دے په سورة مریم سا۹۱ کښ۔ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ دا جواب دَ سوال دے چه هرکله سبب دَ انفطار موجود دے نو ولے انفطار ته دے واقع شوے حاصل جواب دا دے چه مانع دَ دے ته تسبیح او حمد او استغفار دے یعنی ذکر دَ الله تعالیٰ په توحید سره او هرکله چه صرف دَ اسمانونو ذکر شوے دے نو دَ هغے او سیدونکی صرف ملائک دی نو دَ دے وجے نه دَ ملائکو تسبیح یئے خاص ذکر کړه نو اشاره ده چه دَ زمکے دَ انشقاق نه دَ بچ کیدلو دَ پاره دَ انسانانو مؤحدینو ذکر دَ توحید دے او دیته یو حدیث کښ اشاره ده چه " لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى لَا يُقَالَ فِي الْاَرْضِ اللّٰهُ اللّٰهُ " یعنی قیامت په هله قائم کیږی چه دَ زمکے نه توحید دَ الله تعالیٰ ختم شی۔ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ دَ دے نه مراد صرف مؤمنان دی لکه په سورة مؤمن سے کښ تیر شوی دی لیکن هرکله چه بقا او امن دَ زمکے په سبب دَ مؤمنانو دے نو گویا که زمکے والا صرف دوی دی یعنی ذکر دَ عام دے او مراد تری نه خاص دے یا مراد استغفار نه تاخیر دَ عذاب دے۔ اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ دا اشاره ده استجابت دَ استغفار دَ ملائکو ته چه الله تعالیٰ یئے قبلوی په مغفرت سره دَ رحمت ته۔ او بعضو اهل لطائف ویلے دی چه دَ دے ایت په اول کښ ذکر دَ هیبت او دَ رعب دَ دے او په اخر کښ ذکر دَ رحمت او دَ لطف دے

وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ اللَّهُ

او هغه کسان چه نیولی دی بیوا دَ الله تعالی نه مدد ګاران الله تعالی

حَفِيظٌ عَلَيْهِمْ وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم

ساتنه کوونکے دَ دوی دے او نه یې ته په دوی باندے

بِوَكِيلٍ ۝ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ

ذمه وار او دغه شان دی کړیدلے موږ تاته

قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ

قرآن دَ عربے ژبے دے دے دَپاره چه ویره ورکړے اصل دَ کلو ته او

حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ

چاپیره دَ هغے ته او اویروے خاقولره دَ ورځ دَ جمع کیدالو ته چه شک نیشته په هغے کښ

فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ۝

یوډله به په جنت کښ دی او بله ډله به په بل شوی اور کښ دی۔

سلا۔ په دے ایت کښ زجر دے په شرک فی الولایته باندے او تسلی ده رسول الله صلی علیه وسلم ته چه الله تعالی دَ دوی دَ حالاتو نه خبر دے که توفیق دَ توبے ورکوی او که نه ورکوی لیکن په تا باندے هیڅ ذمه واری نیشته۔ أَوْلِيَاءَ مراد دَ دے نه اختیارمند او واکدار دَ نفع وضرر دی او دارنګ اختیارمند دَ احکامو شرعیو کنټرل۔

سک ۔ داهم تسلی ده چه ته وکیل نه یې لیکن انذار کوونکے یې په وحی سره او په دَ کښ صداقت دَ قرآن دے چه په دے کښ احکام شرعیه شته نورو اولیاؤ ته ضرورت نیشته ۔ وَمَنْ حَوْلَهَا مراد دَ دے نه ټوله دُنیا ده دادلیل دے چه اخری نبی دَ ټولے دنیا دَپاره پیغمبر دے نو دَ هغه نه روستو بل پیغمبر جوړیدالو ته ضرورت نیشته۔ وَتُنذِرَ اول انذار نه مراد توحید ته دعوت دے او دویم انذار سره مراد دَ قیامت اثبات دے ۔ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ یعنی دَ انذار نه روستو به بعض خلق ایمان راوړی او بعض به انکار کوی او دارنګ دَ جمع کولو نه روستو به تقسیم شی جنت او جهنم ته یعنی همیشه به په یوځائے کښ جمع نه وی۔

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً

او که چرے غوښتے الله تعالیٰ نو گرځولے به یې وو دوی یوه ډله

وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ط

لیکن داخلوی چا لره چه اوغواړی په رحمت خپل کښ

وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۸﴾

او ظالمان خلق نیشته دوی لره هیڅوک هیڅ کوونکے او نه مددګار۔

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ج فَاللّٰهُ

آیا نیولے دی دوی سوا د الله تعالیٰ نه مددګاران نو الله تعالیٰ خاص

هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى ز وَهُوَ عَلٰى

هغه مددګار دے او هغه به ژوندی کوی مړی او هغه په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۹﴾ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ

هر څیز بانده قدرت والا دے۔ او هغه چه اختلاف کوئے تاسو په هغے کښ

ف ۸: دا جواب د سوال دے چه هر کله قرآن پوره هدایت دے او نبی صلی الله علیه وسلم کامل انذار کوونکے دے نو دا خلق ټول ولے ایمان نه راوړی حاصل جواب دا دے چه اختیار د هدایت د الله تعالیٰ سره دے۔ والظّٰلمون په دے کښ اشاره ده سبب ته چه کوم خلق یې د هدایت نه محروم ګرځولے دی د هغے سبب ظلم او عناد د هغه خلقو دے۔

ف ۹: دا هم زجر دے په شرک فی الولایة بانده په اوله جمله کښ او حصر د ولایت دے د الله تعالیٰ د پاره په دویمه جمله کښ او دا متعلق دے د "مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ" سره چه په مخکښ ایت کښ ذکر شوید ے۔ فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ حرف د فاء دلالت کوی په شرط مقدر بانده که چرے دوی ولی برحق غواړی نو صرف الله تعالیٰ دے وَهُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى دا دلیل د ما قبل دے یعنی عجیبه لوئے تصرف چه بعث بعد الموت دے او قدرت په هر څیز بانده دا د الله تعالیٰ صفت دے دا صفتونه د دوی په اولیاؤ کښ نیشته نو د الله تعالیٰ سره شریک نشی کیدے۔

مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

چه هر څه دی تو فیصله د هغې (راګرځوي) الله تعالی ته دغه ذات الله تعالی

رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ﴿١٠﴾

رب زما دے په هغه باندے ما ځان سپارلے دے او خاص هغه ته درګرزم -

فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ

اول پیدا کوونکے د اسمانونو او د زمکے دے جوړکړیدی تاسو لره

اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا

ستاسو د جنس نه جوړے او د څاروو نه هم جوړے

۱۰.. په دے کښ رد دے په شرک فی التحکیم باندے او عطف دے په رد د شرک فی الولایة باندے چه په مخکښ ایت کښ وګ او دا جواب دے د دریم شبهې هغه داده چه منکرین وائي چه دا ته چه کوے مسئلے د توحید کوے دا زمونږ د کتابونو نه مخالف دی زمونږ کتابونو کښ خو د شرک د جواز د پاره ډیر جزئیات دی، دا اعتراض به یهود او نصاری په نبی صلی الله علیه وسلم باندے کوؤ او مشرکین عرب ته به ئے خودلو او اوس هم باطل پرست خلق دا اعتراض کوی حاصل جواب دا دے چه د تمامو اختلافاتو فیصله به په کتاب د الله تعالی او په سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کوو - فَحُكْمُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ نیشا پوری په تفسیر کښ لیکلی دی چه دا حکم ټول امت ته شامل دے تر قیامته پورے یعنی (تحاکموا الی الله ورسوله) فیصلے الله تعالی او د هغه رسول ته پیش کوئ او قرطبی وائي چه امور او احکام شرعیه اغستلے کیږی ټول د بیان د الله تعالی نه - ایت کښ اشاره ده رد د تقلید باطل ته یعنی چه څوک د یو سړی یا د یو کتاب خبره کتاب د الله تعالی او سنت د رسول ته نه پیش کوی او هسے بے دلیله ئے منی او چه دلیل ورته ښکاره شی نو بیا هم هغه خبره نه پریږدی.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ دا علت د ماقبل دے په درے طریقو سره اوله دا چه فیصله په الله تعالی د دے وجے نه پیش کوو چه هغه زمونږ رب دے دویمه طریقه دا چه توکل په ټولو امورو کښ په الله تعالی باندے دے نو په احکامو کښ هم د هغه په فیصله باندے اعتماد دے دریمه طریقه دا چه په هر وخت او کار کښ الله تعالی ته زمونږ رجوع ده نو په هر حکم کښ به ضرور د هغه کتاب ته رجوع کوو -

يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ ۚ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ
خوره دی تاسو لره په دے انتظام کښ نیشته ده ځه پشان هیڅ څیز

وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ⑪ لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ
او هغه هر څه اوری هر څه وینی - خاص هغه لره کلیانے د اسمانونو

وَالْأَرْضِ ۖ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ
او د زمکے دی فراخوی روزی چه چا لره اوغواړی

وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ⑫
او تنګوی یقینًا هغه په هر څیز باندے عالم دے .

۱۱-۱۲:- دا عقلی دلیلونه دی په رد د شرک فی الولایة والحکم باندے په لس جملو سره اول ایت کښ شپږ جملے دی او په دویم کښ څلور جملے دی حاصل ئے دا دے چه تصرف کوونکے په پیدائش د اسمانونو او زمکے او د ازواجو په انسانانو او څاروو کښ صرف الله تعالیٰ دے او بغیر د حاجت نه اسبابو نه. او اختیار من د خزانو او د رزق په فراخولو او تنګولو سره او په هر څیز باندے علم لرونکے صرف الله تعالیٰ دے نو د هغهٔ سره په ولایت او حکم کښ شریک مه جوړ وئے.

يَذْرَؤُكُمْ دا فائده د تزویج (نکاح کولو) ذکر کوی چه افزائش د نسل دے دا دلیل دے چه هر هغه منصوبه چه په هغے کښ نسل کشی کیږی د حکمت د تزویج نه مخالفت کول دی او دا نا جائز ده - فِيهِ ضمیر جعل مصدر ته راجع دے مراد تربیه دا تدبیر د زوجیت دے - لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ په دے کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ په دے تصرفاتو کښ اسبابو ته محتاج نه دے پشان د مخلوق او دا رنګ په مخلوق کښ هیڅوک د الله تعالیٰ سره په تصرفاتو د الوهیت کښ متشابه او مماثل نشی کیدے نو په دے جمله کښ نفی ده د تشبیه د الله تعالیٰ د مخلوق سره او نفی ده د اشراک د مخلوق د الله تعالیٰ سره او دا پوره مقصد د توحید دے - د دے وجے نه قرطبی د بعض علماؤ نه نقل کړیدی چه توحید اثبات د داسے ذات دے چه نه دے مشابه د نورو ذواتو سره او نه خالی دے د صفاتو نه او د واسطی نه ئے نقل کړیدی چه نیشته پشان د ذات د الله تعالیٰ بل ذات او نیشته پشان د نومونو د هغه د بل چا نوم او نیشته پشان د فعل د هغه هیڅ فعل او نیشته پشان د صفت د هغه د بل چا صفت مګر که وی نو صرف موافقت لفظیه یه وی او پاک دے رباک په بل مخ)

شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا

(ښکاره) مقرر کړيدے تاسو لره دَ دين نه هغه چه پوخ حکم ئے کړے وو په هغے سره نوح عليه السلام ته

وَالَّذِيٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِۦٓ

او هغه چه وحی کړے ده موږ تا ته او هغه چه پوخ حکم کړے وو موږ په هغے سره

ذات دَ الله تعالیٰ دَ صفات حادثه نه لکه چه دَ حادث دَ پاره صفتِ قديمه محال دے

او دا عقيده دَ اهل حق والسنة والجماعة ده۔

معلومه شوه چه دا آيت رد دے په مشبّهو او مجسّمو باندے چه هغوی دَ الله تعالیٰ دَ پاره صفات دَ لاس او سترگے او پورته والے او په عرش باندے کيناستل وغيره ثابته وی او وائی چه دا صفتونه بالکل دَ مخلوق دَ صفتونو پشان دی او څوک ورله دَ دے تشبيه سره جسم هم دَ مخلوق پشان ثابته وی او دا باطله عقيده ده. او که څوک دَ الله تعالیٰ دَ دے صفتونو نه انکار کوی په طريقه دَ تاويل جهميه او منکرين صفات نو هغه هم صريح گمراه دے۔ صحيح مذهب دَ سلف صالحين دے چه دَ الله تعالیٰ دَ پاره هغه صفتونه ثابتوی چه الله تعالیٰ ځان له په قرآن کريم کښ او نبی صلی الله عليه وسلم په احاديث صحيحه کښ هغه له ثابت کړے دی بغير دَ تمثيل او تشبيه نه دَ مخلوق سره او بغير دَ تاويل نه يعنی دَ هغے ظاهری حقيقی معانی مراد دی چه دَ يد معنیٰ لاس دَ عين معنیٰ سترگه ده او کيفيت دَ هغے موږ ته معلوم نه دے او تپوس دَ کيفيت دَ هغے بدعت دے. (سوال) مقصد خو دا دے چه دَ الله تعالیٰ مثل نيشته او دَ دے جملے معنیٰ دا ده چه دَ الله تعالیٰ دَ مِثل مِثل نيشته يعنی مثل ئے شته؟ (جواب) په ډيرو وجوهو سره دے اوله وجه ک زيات دَ پاره دَ تاکيد دے يعنی دَ الله تعالیٰ مشابه نه په حرف سره ذکر کيدے شی او نه په اسم سره (حرف کاف او لفظ دَ مثل) دويمه وجه دا ده چه مثل په معنیٰ دَ ذات سره دے دريمه وجه دا ده چه مثل په معنیٰ دَ صفت سره دے څلورمه وجه دا ده چه په دے جملے سره نفی دَ مثل په طريقه دَ استدلال سره ده حاصل ئے دا دے که فرض کړے شی چه دَ الله تعالیٰ مثل شته نو الله تعالیٰ به دَ هغه مثل وی او قطعی فيصله دا ده (په دے جمله کښ) چه دَ الله دَ مِثل مِثل نيشته نو لازماً معلومه شوه چه دَ هغه مِثل څوک هم وجود نه دے نه۔ لَهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ مقاليد کنجيانے دی ليکن ظاهره خبره ده چه مالک دَ کنجيانو مالک دَ خزانو وی نو مراد ترينه کنجيانے دَ خزانو دی دا رنګ سورة زمر ۶۳ کښ تير شويدی۔

إِبْرٰهِيمَ وَمُوسٰى وَعِيسٰى أَنْ أَقِيمُوا

ابراهيم او موسٰی او عیسٰی علیهم السلام ته چه کلک او چلوئ

الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ

دین لره او ویلے مه جوړوئ په دے کښې ګران دے په مشرکانو باندے

مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ

هغه دین چه ته بلنه کوے دَ دوی هغې ته الله تعالیٰ راکاږی دین ته هغه چا لره

مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ يُنِيبُ ⑬

چه اوغواړی او هدایت ورکوی دے ته هغه چالره چه حق ته ورګرځی .

بـ۱۳ :- په دے کښې دلیل دَ ځی دے په ردِ دَ شرک فے الولایة والحکم باندے یعنی اختیار دَ تشریع دَ احکامو صرف دَ الله تعالیٰ سره دے او دا متعلق دے دَ فحکمه الی الله سره او دا رنګ توحید شرع دَ الله تعالیٰ ده په ټولو امتونو کښې نو دَ هغې خلاف مه کوئ دا دلیل دے چه شارع دَ احکامو صرف الله تعالیٰ دے او انبیاء علیهم السّلام دَ شرع بیان کوونکی دی. شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّينِ مِنْ بیان دے دَ مَا روستنی دَ پاره یعنی دین دَ سابقینو انبیاء علیهم السلام مو ستاسو دَ پاره الله تعالیٰ لار مقرر کړے ده په دے کښې اشاره ده چه زمونږ په دین کښې په ذریعه دَ قرآن او حدایث سره وضاحت او ظهور دَ مخکنو په نسبت سره ډیر دے دَ دے وجے نه زمونږ ملت ته الملة البیضاء لیلها کنهارها (الحدیث) ویلے شوے دے مَا وَصّٰى بِهِ نُوحًا اشاره ده چه اول تشریعی پیغمبر نوح علیه السلام وو یعنی چه توحید او نور احکام شرعیه ئے راوړے دی سره دَ مقابلے کولو نه دَ مخالفینو سره او په حدیث دَ شفاعت کښې هم راغلی دی چه نوح علیه السّلام ته به په قیامت کښې دَ شفاعت طلبګاران وائی أَنْتَ أَوَّلُ رُسُولٍ بَعَثَهُ اللّٰهُ إِلَى الْأَرْضِ او ادم علیه السّلام خو اول نبی دے لیکن په هغه وخت کښې مخالفین دَ توحید او دَ شرع موجود نه وو. وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ دا عطف دے په لفظ دَ مَا باندے. دین دَ نوح علیه السّلام ئے اول ذکر کړو اشاره ده چه دا نور دین دے بیا وروستو دین دَ اخری نبی صلّی الله علیه وسلّم ذکر کړو اشاره داده چه دا اخری دین دے نو اول او اخر ئے ړومبی ذکر کړل او بیا ئے دَ مینځ دینو نه ذکر کړل نو معلومه شوه (باقی په بل مخ)

وَمَا تَفَرَّقُوٓا اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ

او ونه ډلې شو دوی خو پس له دې چې راغی دوی ته

الۡعِلۡمُ بَغۡيًاۢ بَيۡنَهُمۡ‌ ؕ وَلَوۡلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتۡ

علم د وجې د ضد کولو په مینځ خپل کښې او که چرې نه وې خبره چې مقرر شوې ده مخکښې

چه دادین په اول او اخر او مینځ کښې یو شان دے۔ بیا هر کله چه دین دَ اخری نبی مقصود اصلی دے دَ دے وجې نه په اَلَّذِیۡ سره ئې ذکر کړه چه هغه اصل دَ موصولاتو دے او په اوحینا سره ئې دَ پاره دَ تاکید ذکر کړو چه دَ اخری نبی دین دَ وحی نه بهر نه دے او په وحی سره ثابت دے۔
وَمَا وَصَّيۡنَا بِهٖۤ اِبۡرٰهِيۡمَ وَمُوۡسٰى وَعِيۡسٰٓى دَ دوی تخصیص دَ دې وجې نه او شو چه دَ دوی شرائع مشهور وو۔ اَنۡ اَقِيۡمُوا الدِّيۡنَ دا بدل دے دَ ماوصٰی نه یا بدل دے دَ ضمیر دَ بِهٖ نه یا دَ سر نه کلام دے یعنی هو اقامۃ الدین۔ اقامۃ نه مراد چلول دَ هغه دین دی په خپل ځان کښې په عمل سره او په نورو خلقو کښې په دعوت سره په دلیلونو او په دفع دَ شبهاتو سره۔ الدِّيۡنَ مراد دَ دے نه هغه اصول دی چه په ټولو شرائعو کښې یو شان دی چه هغه توحید، مونځ، زکوٰة، روژے، حج، طاعت دَ احکامو دَ الله تعالیٰ، ایمانیات، تحریم دَ هر قسم، کفر او شرک او احکام دَ زنا او قتل دروغ، ظلم، خیانت وغیره دی۔ وَلَا تَتَفَرَّقُوۡا فِيۡهِ‌ؕ دا تاکید دَ اقامتِ دین دے مراد ترینه منع دَ افتراق نه ده په اصول دَ دین کښې او هرچه فروع یعنی طریقې او جزئیات دی نو هغه په دینونو کښې جدا جدا دی لیکن هغې نه تفرق نه ویلې کیږي او دا رنګ هغه سبب دَ تفرق ګرځول نه دی جائز۔ كَبُرَ عَلَى الۡمُشۡرِكِيۡنَ مَا تَدۡعُوۡهُمۡ اِلَيۡهِ‌ؕ دا علت دَ اقامۃ الدین دے یعنی مشرکان دادین نه غواړی او هغوی پکښې تفرق پیدا کول غواړی لیکن تاسو دَ هغې اقامت کوئ۔ په دے کښې اشاره ده چه څوک دین اسلام او توحید او دَ هغې نور اصولو ته بد ګوری نو هغه مشرک دے۔ اَللّٰهُ يَجۡتَبِىۡۤ اِلَيۡهِ مَنۡ يَّشَآءُ دا متعلق دے دَ اقیموا الدین سره یعنی ستاسو په ذمه باندې دعوت دَ دین دے او هدایت په اختیار دَ الله تعالیٰ کښې دے اجتباء او هدایت کښې یو فرق دا دے چه اجتباء نه مراد نبوّت ورکول دی او هدایت نه مراد توفیق دَ ایمان ورکول دی دویم دا چه اجتباء نه مراد توفیق دَ اقامتِ دین ورکول دی او دَ هدایت نه مراد توفیق دَ قبلولو دے او اجتباء صرف په اختیار دَ الله تعالیٰ سره ده په دے کښې دَ انسان دخل نیشته دَ دے وجې نه من یشاء ئې اوویل او دَ هدایت دَ پاره اول انابت شرط دے دَ دے وجې نه ینیب ئې ذکر کړو۔

مِنْ رَّبِّكَ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ط

دَ طرف دَ رب ستا ته تر نيټې مقررې پورې نو فيصله به شوې وه په مينځ دَ دوی کښې

وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

او يقيناً هغه کسان چه پاتې کړې شوي دوی ته کتاب روستو دَ مشرانو نه

لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۱۴﴾ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ج

خامخا په شک کښې دی دَدې نه پوخ شک. نو دې دَپاره ته دعوت کوه

سلا ۱۴ . په دې ایت کښې جواب دې دَ دریمې شبهې هغه داده چه تاسو چه دعوت درکوئې کوم دین ته دَدې نه ډیر علماء مخالفت کوی نو معلومیږی چه دا دین صحیح نه دې؟ حاصل دَ جواب دادې چه مخالفت دَ دې علماؤ ته اعتبار نیشته ځکه چه دَ دوی تفرق او اختلاف دَ علم او دلیل نه مخالف هم دې او دارنګ دَ دوی مخالفت په ضد او عناد باندې بنا دې. او په دې ایت کښې زجر دې تفرق پیدا کوونکو ته او هم دارنګ په سورة بقره سنلا آل عمران سلا او سورة بینه سلا او جاثیه سکا کښې دی په قرینه دَ دغه ایاتونو سره معلومیږی چه متفرقین نه مراد اهل علم دی.

او دَ عوامو دینی اختلاف ته تفرق نه ویلې کیږی ځکه چه فرقې جوړول دَ علماء کار دې عوام خو صرف مخالفت کوی. وَلَوْلَا كَلِمَةٌ ۱۵ دا جواب سوال دې چه دوی که چرې په باطله باندې وی نو عذاب ورباندې ولې نه راځی اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى دلته لفظ دَ بِتَاخِيْرِهِمْ پټ دې.

وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ مراد دَ دې نه هغه عوام او نیمګړی ملایان دی چه دَ کتاب وارثان دی یعنی پوره علم یې نه دې حاصل کړې لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ضمیر دَ مِنْهُ راجع دې دین دَ توحید ته چه مخکښې ایت کښې ذکر شویدې یا مِن اجلیه دې او ضمیر راجع دې تفرق دَ علماؤ دَ دوی ته، حاصل دادې چه غټو ملایانو دَ ضد او عناد دَ وجې نه دَ توحید او دَ حق دین مخالفت اوکړو او دَ هغې په مقابله کښې یې دَ شرک کتابونه اولیکل روستو نیمګړی ملایانو او امیانو دَ غټو علماؤ موافقت یې اوکړو او دَ کتابونو دَ شرک تقلید یې اوکړو او دَ توحید نه یې انکار اوکړو.

وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ ۚ

او ټینګ شه لکه چه حکم کړے شوے تا ته او تابعداري مکوه دَ خواهشاتو دَ دوی

وَقُلْ آمَنْتُ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنْ كِتَابٍ ۖ

او وایه چه ایمان راوړے دے ما په هغه چه نازل کړے دَ الله تعالیٰ چه هر کتاب دی

وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ ۖ اللَّهُ رَبُّنَا

او حکم کړے شوے دے ما ته چه انصاف اوکړم ستاسو په مینځ کښ الله تعالیٰ رب زمونږ

وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ ۖ

او رب ستاسو دے مونږ لره عملونه زمونږ دی او تاسو لره عملونه ستاسو دی

لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ۖ اللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۖ

نیشته مینځ جګړه په مینځ زمونږ او په مینځ ستاسو کښ الله تعالیٰ به جمع کوی په مینځ زمونږ کښ

وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿١٥﴾ وَالَّذِينَ يُحَاجُّونَ

او خاص هغه ته ګرځیدل دی. او هغه کسان چه جګړه کوی

ف۱۰. دَ دے ایت نه تر ۳۵ پورے دویم باب دے په دے کښ ترغیب دے دَ دعوت ته په لس جملو سره بیا زجر دے مقابله کوونکو ته او هغوی ته دعوت دَ قران دے سره دَ تخویف نه بیا دریم دلیل عقلی دے سره دَ تزهید فی الدنیا نه بیا یو زجر دے په شرک فی التحکیم سره او تخویف او بشارت دے او دویم زجر دے په انکار دَ رسول سره دَ ترغیب الی التوبه. بیا دره عقلی دلیلونه دی او بیا تخویف دنیوی دے او دلیل عقلی دے.
په دے (ف۱۰) کښ ترغیب دے دعوت ته او دا علاج دے دَ پاره دَ دفع کولو دَ تفرق چه مخکښ ایت کښ تیر شو او په دے کښ دَ داعی دَ پاره لس جملے ذکر کوی او دا اداب دَ دعوت دی. فَلِذٰلِكَ فَادْعُ لام اجلیه دے او ذلك کښ اشاره ده تفرق او اختلاف ته او مراد ترینه دفع کول دَ هغے دی معنیٰ دا ده، "دَ وجے دَ دفع کولو دَ تفرق او اختلاف نه دعوت دَ حق کوه" یا لام په معنیٰ دَ الیٰ دے او ذلك اشاره ده دین دَ توحید ته چه په ۱۳ کښ ذکر شوے وو یا اشاره ده قران ته او فاء یے دوه کرته ذکر کړه دَ پاره دَ تاکید چه په اصل کښ دوه جملے دی (ادع لذلك. لذلك ادع) اَهْوَاءَهُمْ مراد ترینه بے دلیله مسئلے دی

فِی اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِیْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ
په توحید د الله تعالیٰ کښی روستو د هغه نه چه قبولیت کړے شو یو دے د هغه نو دلیل د دوی

دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَیْهِمْ غَضَبٌ وَّلَهُمْ
باطل دے په نیز د رب د دوی او په دوی باندے غضب دے او دوی لره

عَذَابٌ شَدِیْدٌ ﴿۱۶﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ
عذاب سخت دے - الله تعالیٰ هغه ذات دے چه نازل کړے دے

الْکِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِیْزَانَ ؕ وَمَا یُدْرِیْكَ
کتاب د حق د پاره او تله او څه څیز تا له خبر درکوی په باره د قیامت کښی

لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِیْبٌ ﴿۱۷﴾ یَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِیْنَ
یقیناً قیامت خو تر دے دے - په تلوارے غواړی دے لره هغه کسان

چه ملایانو د ځان نه جوړے کړے دی وَقُلْ اٰمَنْتُ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ یعنی هر کله چه مخالفین استدلال کوی په نورو کتابونو د پاره د اثبات د شرک او بدعت نو ته جواب کښی اُوایه چه زه صرف منزل کتاب باندے ایمان لرم - لِاَعْدِلَ بَیْنَکُمْ یعنی عدل طرف ته دعوت درکوم لَا حُجَّةَ بَیْنَنَا وَبَیْنَکُمْ چه په معنیٰ د خصومت او جګړه کولو دے یعنی په ابتدا د دعوت کښی جګړه کول نیشته صرف د عوت کول دی توحید ته په دلیلونو سره۔

سلا :- دا تسلّی ده دعوت کوونکی ته چه ستا د مخالفینو دلیلونه باطل او بے کاره دی د هغے پرواه مکوه - اسْتُجِیْبَ لَهٗ یعنی ډیرو هوښیارو خلقو د الله تعالیٰ دعوت د توحید قبول کړے دے، نو دا هم یو الزامی حجت دے په منکرینو باندے۔ حُجَّتُهُمْ دا حجت دے په ګمان د دوی کښی - وَعَلَیْهِمْ غَضَبٌ اه دا تخویف د عذاب د دُنیا او د آخرت دے۔

سکا :- په دے کښی ترغیب دے حجت د الله تعالیٰ ته روستو د ابطال د حجت د مخالفینو نه - الْکِتٰبَ مراد ترینه جنس کتابونه مخکښی دی وَالْمِیْزَانَ مراد د دے نه قرآن کریم دے یا مراد د دواړو نه قرآن دے او عطف د صفت دے په صفت باندے یا مراد د المیزان تحقیق د دلیلونو دے د پاره د فرق د حق او باطل د دے د پاره چه طریقه د اهل جهل او تقلید نه بچ شی." سراج المنیر" (رپاتے په بل مخ)

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا ۚ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مُشْفِقُوْنَ

چه ایمان نه راوړی په دے باندے او هغه کسان چه ایمان راوړی او یریږی

مِنْهَا ۙ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهَا الْحَقُّ ۗ اَلَآ اِنَّ الَّذِيْنَ

دَ قیامت نه او یقین کوی چه یقینًا دا (قیامت) حق دے خبر شئ یقینًا هغه کسان

يُمَارُوْنَ فِي السَّاعَةِ لَفِيْ ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۱۸﴾

چه جګړه کوی په باره دَ قیامت کښ خامخا په ګمراهئ لرے کښ دی۔

اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

الله تعالیٰ پوره مهربانی کوی دَ بندګانو خپلو سره روزی ورکوی چاله چه اوغواړی

وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿۱۹﴾ مَنْ كَانَ

او الله تعالیٰ قوت والا دے زور آور دے : څوک چه

او دا رنګ سورة حدید ۲۵ کښ هم شته، وَمَا يُدْرِيْكَ په دے کښ اشاره ده تیزئ ورکولو ته په عمل کولو دَ قرآن باندے مخکښ دَ راتلو دَ قیامت نه چه ناګهانه به راځی وَمَا يُدْرِيْكَ دَ دے دویم مفعول حذف دے (وقت الساعة) او ما استفهام انکاری دے او دا لفظ چه کوم ځائے ذکروی نو په هغه ځائے کښ ئے علم نبی ته نه وی ورکړے نو دَ قیام معین تاریخ ئے نبی صلی الله علیه وسلم ته نه دے خودلے. لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيْبٌ دا مستقل کلام دے ساعة په معنیٰ دَ بعث دے یا وقت الساعة یا مجی الساعة دَ دے وجے نه ئے قریب مذکر راوړو - او یا قریب په معنیٰ دَ ذو قرب سره دے -

سـ ۱۸ :- په دے کښ ذکر دَ حال قیامت دے او زجر دے منکرینو ته په استعجال او مراء (جګړه کولو) سره او مدح دَ مؤمنانو ده اشفاق او یقین کولو باندے۔ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا په دے لفظ کښ اشاره ده چه دَ دوی دا استعجال دَ وجے دَ محبت نه نه دے بلکه دَ وجے دَ استهزاء نه دے مُشْفِقُوْنَ اشفاق هغه خوف دَ زړه دے چه اثر ئے په اندامونو باندے ښکاره شی - او اشفاق مستلزم دے عدم استعجال لره نو دا صفت مقابل دے دَ صفت دَ یستعجلون سره -

سـ ۱۹ :- دا دلیل عقلی دے په رد دَ شرک فی الولایة والحکم باندے او لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ کښ اشاره ده چه لوئے لطف او مهربانی انزال دَ قرآن دے -

يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ

اراده کوی (په عمل خپل سره) کښته دَ اخرت زیات ورکوو مونږ دهٔ لره په کښته دَ هغه کښ

وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ

او څوک چه اراده کوی په عمل خپل سره کښته دَ دُنیا ورکوو مونږ دهٔ ته

مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَّصِيبٍ ﴿۲۰﴾

دَ هغې نه او نه به وی دهٔ لره په اخرت کښ هیڅ برخه ۔

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ

آیا شته دے دَ دوی شریکان (دَ الله تعالیٰ سره) چه جوړ کړے وی دوی لره دَ دین نه

تفسیر قرطبی کښ دَ لطیف شلؔ معانی ذکر کړے دی او امام رازی وئیلی دی چه دا لفظ مشتمل دے په دے اوصافو دَ علم یاندے په باریکو امورو سره او رحمت خاصه دے او رفق (مهربانی) ده ۔

يَرْزُقُ مَنْ يَّشَاءُ دَ رزق مختلف حالتونو ته اشاره ده که بسط سره وی یا په تنګسیا سره وی ۔

ف۲:۔ روستو دَ ذکر کولو دَ رزق دَ دنیا نه ترهیب فی الدنیا او ترغیب اخرت ذکر کوی۔ حَرْثَ کروندہ کول دی مراد دَ دے نه جزاء ده او بعضو پټ دے یعنی په نیک عمل کښ اراده دَ جزاء دَ اخرت کوی یا یرزقه پټ دے یعنی کوم مال چه الله تعالیٰ ورکړے دے نو په هغې سره اخرت کټی۔ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ په دنیا کښ زیادت دا دے چه مال کښ ورله برکت اچوی او دَ نیک اعمالو توفیق ورکوی۔ وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا یعنی مال ذریعه او ګرځوی دَ دنیا دَ رفعت او عزت حاصلولو دَ پاره یا په نیک عمل کښ اراده دَ دنیا کوی یعنی عبادت او دَ دین کار قران لوستل وغیره دَ دنیا په نیت یا نکا کوی او دا رنګ په سورة اسراء ۱۸ تا ۱۹ کښ تیر شویدی۔ وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَّصِيبٍ په دے کښ اشاره ده چه چا په یو نیک عمل سره دَ دنیا اقتدار یا اجرت اراده کړے وی نو هغه اجرت اخستل په یا جائز وی یا ناجائز لیکن اخرت کښ به ئے ثواب برباد وی او دَ دے ایت مطلب په حدیث صحیح کښ راغلی دے چه "انما الاعمال بالنیات وانما لکل امرئ مانوی" (هر عمل شرعی په نیت شرعی باندے موقوف دے او دَ هر چا دَ پاره هغه فائده کوی چه څه نیت شرعی ئے کړے وی) نو حاصل دَ ایت دا دے چه خپل عملونه او مالونه دَ اخرت په نیت سره خرچ کړئ ۔

مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللّٰهُ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ

هغه څیزے چه اجازت نه ؤ ورکړے دَ هغې الله تعالیٰ او که چرے نه وَے دا لیکلے شوے دَ فیصلے

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۗ وَإِنَّ الظّٰلِمِينَ لَهُمْ

نو فیصله به (اوس) کړے شوے وے په مینځ دَ دوی کښ او یقیناً ظالمان دوی لره

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۲۱﴾ تَرَى الظّٰلِمِينَ مُشْفِقِينَ

عذاب درد ناک دے ۔ وینے به ته ظالمان ډیر یرېدونکی

س ۲۱ ۔ دا زجر دے په شرک فی التشریع والحکم باندے متعلق دے دَ س ۱۳ او سکل سره یعنی په شرع او کتاب دَ الله تعالیٰ کښ خو شرک او دا کارونه مشرکانه جائز نه دی نو آیا دا کارونه دوی لره نورو الهو جائز کړځولے دی او نور الهه سوا دَ الله تعالیٰ نه خوښی کیدے نو معلومه شوه چه شرک کول په ټولو انواعو سره جائز نه دے۔ او دَ دے آیت نه ډیرے مسئلے معلومیږی اوله دا چه یو قسم دَ اقسامو دَ شرک نه شرک فی الحکم والتشریع دے او دے ته شرک فی الاطاعة او شرک فی التحلیل والتحریم هم ویلے کیږی. دویمه دا چه شارع په حقیقت کښ یو الله تعالیٰ دے که چرے پیغمبر باندے اطلاق کړے شویوی نو هغه به په معنیٰ دَ شرع بیا نوونکے وی۔ دریمه مسئله ائمه مجتهدین شرع جوړوونکے نه دی بلکه دَ دلیل شرعی نه احکام راویستونکی دی۔ نو کله به صحیح وی او کله به خطا وی څلورمه مسئله یو امام مجتهد یا مفسر، استاد، پیر دَ تحلیل او تحریم اختیار منل داهم شرک دے پنځمه مسئله دَ کم یو عالم او پیر په کارونو دَ شرک او بدعاتو او فسق وفجور کښ تابعداری کول دا تقلید شرکی دے شپږمه مسئله دَ یو امام مجتهد تقلید پدے طریقه کول چه آیاتِ قرآنیه او حدیث صحیحه صریح ته قول دَ هغهٔ مخالف ښکاره شی لیکن بیا هم په قول دَ هغه امام باندے عمل کوی په دے پهانے سره چه دے زمونږ نه ښهٔ پوهید لو دا تقلید هم ګمراهی ده۔ او لفظ دَ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللّٰهُ، دلالت کوی چه دَ یو امام او عالم او مفتی په قول باندے دلیل دَ قرآن یا صحیح حدیث موجود وی نو دَ هغې تابعداری کول تابعداری دَ الله تعالیٰ ده او دَ رسول الله ده. او مراد دَ اذن نه دلیل شرعی دے چه کتاب الله او سنّت دے. وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ دا جواب دَ سوال دے چه دا مذکوره کسان مشرکان دی نو په دوی باندے عذاب ولے نه راځی؟ حاصل جواب دا دے چه وعده دَ فیصلے ورځ دَ قیامت ده یا په

مِمَّا كَسَبُوْا وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ؕ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

دَ هغه عملونو نه چه دوی کړی دی او (سزا) دَ هغې په رابرېوځي په دوی باندې او هغه کسان چه ایمان ئې راوړی وی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِیْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ

او عملونه ئې کړی دی برابر دَ سنّت سره په باغچو دَ جنتونو کښې به وی دوی لره

مَّا یَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ

په هغه څه وی چه دوی غواړی په نیز دَ رب دَ دوی دا فضل

الْكَبِیْرُ ﴿۲۲﴾ ذٰلِكَ الَّذِیْ یُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ

ډیر لوی دی ۔ دا هغه څیز دی چه زیری ورکوی الله تعالیٰ بندګانو خپلو ته

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ قُلْ لَّآ

دا هغه کسان دی چه ایمان ئې راوړی دی او عملونه ئې کړی دی په برابر دَ سنت سره ته اُووایه زه نه

تقدیر الٰهی کښې دَ دوی عذاب روستو دے ۔ وَاِنَّ الظّٰلِمِیْنَ دا اجمالی فیصله ده ظالم دلته هغه خوک دے چه شرع الٰهی ئې پریښې وی او په مالم یأذن به الله پسے روان وی ځکه دا شرک دے او شرک ظلم عظیم دے لکه په سورة لقمان ۱۳ کښې چه دی۔

۲۲ :۔ په دے ایت کښې دوه ډلے دَ ذکر کوی یو شرک فی التشریع کوونکی نو هغوی ته تخویف اخروی ورکوی او دویمه ډله مؤحدین چه په دلیل شرعی پسے روان وی نو هغوی ته بشارت اخرویه ورکوی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ صالح عملونه هغه دی چه دَ دلیل شرعی سره موافق وی فِیْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ روضة هغې ته وائی چه په هغې کښې ډیر شینوالے او ډیر لذتونه وی نو معلومه شوه چه دَ جنّت په درجاتو کښې ډیر فرق دے او هرکله چه دَ اعلیٰ خلقو دَ پاره اعلیٰ درجات دی نو هغه مؤمنان چه په اعمالو کښې ئې قصور دے نو هغوی به هم په جنّت کښې وی اګرچه په لاندے درجاتو کښې به وی۔ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِیْرُ فضل دلالت کوی چه دا جزا صرف په فضل دَ الله تعالیٰ سره ده نه په طریقه دَ وجوب او دَ استحقاق سره په الله تعالیٰ باندے لکه چه معتزله وائی۔ الْكَبِیْرُ هغه دے چه دَ هغې حقیقت او وصف ته دَ مخلوق تصوّر نه ور رسیږی۔

أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ ؕ

غواړم ستاسو نه په دې باندې هیڅ بدله مګر چه مینه اوکړئ په نزدیکت د الله تعالیٰ کښې

وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا ؕ

او چا چه اوکړه نیکي زیاتوو موږ ده له په هغې کښې ښائست

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ

یقیناً الله تعالیٰ بخنه کوونکی قبلوونکی د عملونو دے۔ آیا دوی وائي

۲۳:۔ دا آیت په اول کښې تاکید دے د تیر شوی بشارت او تاکید په پنځه طریقو سره دے ۱ لفظ ذلك چه په اوچت والی د مرتبې د مشار الیه باندے دلالت کوی ۔ ۲ په بشارت سره مسمّٰی کول ۳ الله تعالیٰ بشارت ورکوونکے دے ۴ نوم د مبشر لهم په عباد الله سره ۵ صفت د هغوی په ایمان او په عمل صالح سره۔
قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا هرکله چه په بشارت ورکولو کښې عادتاً خلق عوض غواړی او هغه د اخلاص نه خلاف ګڼو اوویلے شو چه پیغمبر صلّی الله علیه وسلّم په دے باندے هیڅ عوض نه غواړی نه سوال حقیقتاً او نه سوال حکماً یعنی طمع لرل هم نه کوی۔ إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ ، (سوال) د پنځه انبیاء علیهم السلام نه په سورة شعراء کښې نقل کړے دی چه وَمَا أَسْأَلُكُم عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۱۰۹ ۱۲۷ ۱۴۵ ۱۶۴ ۱۸۰ او دا رنګ زموږ نبی صلّی الله علیه وسلّم نه هم تصریح نقل کړے ده په سورة انعام ۹۰ سورة صٓ ۸۶ او سورة سبا ۴۷ کښې نو په دے آیت کښې په اجر کښې إلا المودة فی القربیٰ ولے مستثنیٰ کړو یعنی دا اجر غواړم ؟
(جواب) اول دا چه دا استثناء منقطع ده یعنی اجراً باندے جمله ختم شوه او عبارت کښې تقدیر دے لکن اذکرکم واسألکم ۔ دویم جواب استثناء متصله ده په طریقه د ادعا او فرض کولو یعنی زه هیڅ قسم اجر نه غواړم او فرض کړئ که چرے مودة فی القربیٰ اجر وی نو هغه غواړم لیکن هغه خو اجر نه دے ځکه اجر دنیوی هغه ځیز ته ویلے کیږی چه په هغې سره دنیوی ترقی اجیر ته حاصلیږی او په مودة فی القربیٰ سره خو فائده پیغمبر ته نه رسیږی او نه په هغې سره دنیوی ترقی د هغه حاصلیږی ۔
فائده :۔ المودة فی القربیٰ کښې درے قولونه د مفسرینو دی اول قول د مجاهد او د حسن بصری دے او قول د مجاهد لره قرطبی په سند مرفوع سره

افۡتَرٰی عَلَی اللّٰہِ کَذِبًا ۚ فَاِنۡ یَّشَاِ اللّٰہُ

چه جوړ کړیدی دهٔ په الله تعالیٰ باندے دروغ تو که اوغواړی الله تعالیٰ

یَخۡتِمۡ عَلٰی قَلۡبِکَ ؕ وَ یَمۡحُ اللّٰہُ الۡبَاطِلَ

مهر به اولګوی (که دروغ جوړ کړے وی) ستاپه زړه باندے او ورانوی الله تعالیٰ باطل لره

نقل کړے دے هغه داده ؟ چه غواړم ستاسو نه دا خبره چه مؤدت دَ الله تعالیٰ سره اوکړے او هغه ته تقرب حاصل کړے په طاعت سره نو قُرۡبٰی په معنیٰ دَ تقرب الی الله دے او دا سیۍ ظرف دَ مؤدت کرځولے دپاره دَ تاکید او دَ مبالغ. دویم قول دَ شعبی دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه قربیٰ په معنیٰ دَ قرابت نبی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دے چه دَ قریشو دَ ټولو خاندانونو سره دَ هغه خپلولی وه نو معنیٰ داده چه زهٔ خو ستاسو نه هیڅ اجر نه غواړم لیکن غواړم چه تاسو لحاظ اوکړئ زما دَ قرابت او دَ خپلولے یعنی نور خلق چه پردی دی په ما باندے ایمان نه راوړی لیکن تاسو لره خو ضرور پکار دی چه په ما باندے ایمان راوړئ دَ خپلولے دَ وجے نه. دریم قول دَ کلبی او سدی نه نقل دے چه مراد دَ قربیٰ نه ذوی القرابت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دی چه هغه اهل بیت دَ هغهٔ دی یعنی "زهٔ ستاسو نه هیڅ نه غواړم لیکن دا غواړم چه زما دَ اهل بیتو سره مؤدت او محبت کوئے هغوی ته اذیت مهٔ ورکوئے". او هغه دَ هغهٔ ازواج مطهرات او آل دی. نو احترام او محبت دَ آل دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ بیبیانو دَ هغهٔ سره لازم دے په امت باندے لیکن بغیر دَ افراط او تفریط نه. وَمَنۡ یَّقۡتَرِفۡ دا عطف دے په پټ لفظ باندے یعنی ومن یقترف سیئة فعلیه وزرها یعنی چا چه بدی اوکړه (یعنی مودة فی القربیٰ) یئے اونکړو نو په هغه باندے دَ هغے ګناه دے. حَسَنَةً مراد دَ دے نه اولاً مودة فی القربیٰ دے او نورے حسنے په کښ هم داخل دی. نَّزِدۡ لَهٗ فِیۡهَا حُسۡنًا نو معنیٰ داده چه دَ هغه په زړه کښ دَ هغه نیکے حسن او محبّت به دَ هغے سره زیات کړو دویم دا چه ډیر ثواب به ورکوؤ. شَکُوۡرٌ ښکاره کوی نیکے لره په ډیر اجر و ثواب ورکولو سره ځکه چه شکر په لغت کښ ښکاره کولو ته ویلے کیږی.

وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ

او ښکاره کوی حق لره په خپلو کلمو سره یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے په هغه خبرو

الصُّدُوْرِ ﴿۲۴﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ

چه په سینو کښ دی - او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه قبلوی تو به

عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ وَيَعْلَمُ

د بندګانو خپلو نه او معافے کوی د بدو نه او پوهه دے

مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

په هغه کارونو چه تاسو کوئے او قبلوی الله تعالیٰ (عملونه او دُعا) د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے

۲۴:- دا زجر دے په انکار د رسول یعنی هغه څوک چه مودة فی القربیٰ ته کوی بلکه البته هغه ته نسبت د افتراء کوی- فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ د قتاده په نیز معنیٰ دا ده که او غواړی الله تعالیٰ (په هغه وخت چه په زړه ستا کښ اراده د افتراء راشی) نو ستا په زړه باندے مهر اولګوی" بیا په هیڅ باندے ته پو هیږے لیکن د نبی صلی الله علیه وسلم په زړه باندے مهر نیشته هغه اقصم، ابلغ، اعقل دے د ټول مخلوق ته معلومه شوه چه افتراء ئے نه ده کړے دا سزا مختص وی په رسول برحق پورے یعنی رسول برحق که په الله تعالیٰ باندے بالغرض افتراء اوکړی نو په زړه باندے به ئے مهر راځی دا د دروغژن نبی په باره کښ ملازمه نیشته نو د مرزا غلام محمد کذاب د دے نه استدلال کول د ځان د رسالت د پاره غلط دے- او د مجاهد په نیز د یختم معنیٰ یربط او یصبر دے او آن په معنیٰ د اذا سره دے یعنی الله تعالیٰ په ستا زړه کښ ربط او صبر پیدا کوی په وخت د انکار د دوی کښ- وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ د مجاهد د معنیٰ په لحاظ دا عطف دے په یختم باندے او د قتاده د معنیٰ په لحاظ سره دا د سر نه کلام دے رد دے په منکرینو باندے الْبَاطِلَ نه مراد شبهات د منکرینو دی چه یوه شبه د هغے نه نسبت د افتراء کول دی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته-

۲۵:- دا حال د من یقترف حسنة" ذکر کوی او ترغیب دے توبے کولو ته د انکار د نبی صلی الله علیه وسلم نه- صحیح توبه دا ده چه په تیر شوی ګناه باندے په زړه کښ پښیمانه او خفه شی او فی الحال هغه ګناه پریږدی او ائینده د پاره عزم اوکړی چه دا ګناه به بیا نه کوؤم- وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ، هر کله چه

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ

او عملونه يې کړي دي موافق دَ سنت سره او زياتي ورکوي دوی ته دَ فضل خپل نه

وَالْكٰفِرُوْنَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿۲۶﴾

او کافران چه دي دوی لره عذاب سخت دے۔

وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا

او که فراخه کړے وے الله تعالىٰ روزي بندګانو خپلو لره خامخا سرکشي به يې کړے وے

فِي الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ؕ

په ملک کښې ليکن رالېږي الله تعالىٰ په اندازے سره څومره چه او غواړي

اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۷﴾ وَهُوَ الَّذِيْ

يقيناً الله تعالىٰ په بندګانو خپلو باندے خبردار ليدونکے دے۔ او الله تعالىٰ هغه ذات دے

قبوليت دَ توبے کله دَ راتلونکے زمانے سره تعلق لري نو دَ تېر شوی ګناهونو ويره باقي وه نو دا جمله يې دَ دے دَپاره راوړه چه په تېر شوے ګناهونو باندے نيول نه کوي وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ هغه کارونه که دَ خير وی او که دَ شر وی که تېر شوے وی او که روستو زمانه کښې وی۔

س۲۶:۔ دا نور اکرام او بشارت دَ مؤمنانو ذکر کوی وَيَسْتَجِيْبُ دا عام دے دُعاګانے قبولول او عبادتونه قبلول او سفارشونه دَ نورو رونړو دَپاره ټولو ته شامل دے او دَ زيات تاکيد دَپاره يې يستجيب متعدی بالذات اوګرځوؤ۔

وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ يعنی زيات دَ هغے نه چه دوی طلب کړے وی په خپل فضل سره ورکوی۔

س۲۷:۔ دا جواب دَ سوال دے چه هر کله الله تعالىٰ دَ مؤمنانو دعاګانے قبلوی نو کله چه دوی فراخي دَ مال غواړي نو ولے نه ورکوی حاصل جواب دا دے چه فراخي دَ رزق سبب دَ بغاوت دے نو دا دُعا دَ دوی دَپاره سبب دَ خيرنه دے دَ دے وجه نه يې نه قبلوی (سوال) ډېر انبياء، صحابه کرام، اولياء شته چه دَ هغوی رزق فراخ وؤ ليکن بغی يې خو نه ده کړے (جواب) اول دا دے چه مراد دَ فراخے نه دَ ټولو دَپاره پوشان فراخي ده يعنی که ټول بندګان مالدار شي نو بيا به ټول يو بل ته به يې حاجت پاتے نه شي نو دهريان به شي (پاتے په بل مخ)

يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنْشُرُ

راوروی باران روستو د نا اُمیده کیدلو دخلقو نه او خوره دی

رَحْمَتَهُ ۚ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٨﴾ وَمِنْ آيَاتِهِ

رحمت خپل او هغه اختیارمند ستائیلے شوید دے ۔ او بعض د دلیلونو د توحید نه

خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا

پیدائیش د اسمانونو او د زمکے دے او هغه چه خواره کړیدی په دواړو کښې

مِنْ دَابَّةٍ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَاءُ

د ژندو سرو نه ۔ او الله تعالی ددوی په جمع کولو باندے کله چه او غواړی

قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾ وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ

قدرت لرونکے دے ۔ او هغه چه اورسیږی تاسو ته څه مصیبت

نظام عالم په خراب شی عبادات مالیه به د دنیا نه ختم شی نو د دے وجے الله تعالی بعض مالدار کړل او بعض فقیران ۔ دویم جواب دا دے چه مراد د دے نه بعض خاص مؤمنان مراد دی چه الله تعالی د هغوی د حال نه خبر دے که چرے هغوی له مالداری ورکړی نو فسادونه او گناهونه به شورو کړی یا به زیاتی غواړی او په دنیا باندے به نه مړیږی ۔

۲۸ ۔ دا دلیل عقلی دے په توحید باندے او تفصیل د يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ دے یعنی سبب د رزق باران دے هغه الله تعالی په خپل حکمت سره نازلوی ۔ الْغَيْثَ فائده مند باران ته ویلے کیږی مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا مراد د دے نه مشرکان دی ځکه چه قنوط د رحمت د الله تعالی نه د کافرانو صفت دے ۔ یا قنوط نه مراد نا امیده کیدل دی د نورو اسبابو نه سوا د الله تعالی نه نو بیا مؤمنانو ته هم شامل دے ۔ رَحْمَتَهُ د دے نه مراد بوټی او فصلونه دی ۔

۲۹ ۔ دا بل دلیل عقلی دے په رد د شرك فی الولایة باندے او دا دلیل په دریو دلیلونو باندے مشتمل دے ځکه چه علوی او سفلی او وسطی نظام یې پکښې ذکر کړے دے او د توحید سره د قیامت اثبات یې هم پکښې ذکر کړے دے ۔

مِنْ دَابَّةٍ (سوال) دَابَّةٍ هغې ته وائی چه په زمکه گرځی او هغه په عرف کښې خاروی دی بلکه اسونو ته ویلے کیږی نو په ملائکو باندے څه رنگ اطلاق

فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَنْ كَثِيرٍ ﴿۳۰﴾

نو په وجه دَ هغه عمل سره دے چه کړیدے لاسونو ستاسو او معاف کوی دَ ډیرو نه ۔

وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ ۚ وَمَا لَكُمْ

او نه يئ تاسو عاجزی کوونکی الله تعالیٰ لره په ټول ملک کښ او نیشته تاسو لره

مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿۳۱﴾

بیوا دَ الله تعالیٰ نه هیڅ بچ کوونکے او نه مددګار ۔

صحیح کیږی اول جواب دا دے چه مراد دَ دابة نه هر ذی روح حرکت کوونکے دے نو ملائکو ته هم ویلے کیدے شی دویم جواب دا دے چه فیهما نه مراد یو دے یعنی زمکه او دَ تثنیه ضمیر کله دَ یو دَپاره استعمالیږی لکه یخرج منهما اللؤلؤ والمرجان لیکن دا په هغه څیز کښ ذکر کیږی چه دوه څیزونو نه یو شے پیدا شوے وی نو دَ دابے په پیدا کیدالو کښ آسمانی او ارضی اسباب دَ دواړو شرکت دے لکه چه دَ لؤلؤ مرجان په پیدا کیدالو کښ دَ دواړو قسمه اوبو اختلاط دے ۔ دریم جواب دا دے چه آسمانی بعض ملائکو باندے دَ اوعال (صحرائی پیسانو) اطلاق په یو حدیث کښ کړے شویدے چه دَ هغوی دَ ځنګنو نه تر سوو پورے دومره فاصله ده لکه په مینځ دَ آسمان او زمکے کښ ۔

ف۳۰ ۳۱ :۔ دا تخویف دنیوی دے یعنی ګناهونه سبب دَ مصیبت او دَ عذاب دنیوی دی دا خطاب دے مؤمنانو ته چه دَ هغوی دَ بعض ګناهونو عقوبت په دنیا کښ ورکوی په ذریعه دَ مرضونو، غمونو، قرضونو وغیره سره او ډیر ګناهونه ورته بغیر دَ عقوبت نه معاف کړی او دا متعلق دے دَ ف۲۵ سره ۔ یا دا خطاب دے کافرانو ته یعنی هر کله چه دوی دَ توحید دَ دلائلو نه انکار کوی او په شرکیانو کښ مشغول وی نو الله تعالیٰ په دَ بعض ګناهونو سزا په دنیا کښ ورکوی لکه سورة روم ف۴۱ کښ ذکر دی او مراد یَعْفُوا نه روستو کول دَ عذاب دی ۔ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ دَ عذاب نه دَ بچ کیدالو دَپاره درے طریقے دی یو دَ انسان خپل قوت او زور دَ نو هغه يئ نفی کړو په دے جمله سره او دویمه طریقه په ذریعه دَ دوست سره او دریمه طریقه نفس مددګار اګرچه دوست نه وی نو هغه يئ رد کړو په روستو جمله سره ۔

وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِى الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۳۲﴾

او بعض د دلیلونو د توحید د هغه نه روانې کشتۍ دی په دریاب کښې پشان د غرونو -

اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ

که چرې او غواړی الله تعالیٰ نو اوپه دروی هوا نو همیشه به دی کشتۍ ولاړې.

عَلٰى ظَهْرِهٖ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ

په شا د دریاب بانډې یقیناً په دې کښې ډیر دلیلونه دی هر

صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۳﴾ اَوْ يُوْبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوْا

ډیر صبرناک ډیر شکر کنندګان د پاره - یا به هلاکې کړی کشتۍ په وجه د عملونو

وَيَعْفُ عَنْ كَثِيْرٍ ﴿۳۴﴾ وَّيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

او معاف کوی د ډیرو نه - او چه یقین اوکړی هغه کسان

۳۲ تا ۳۳ ۳۴ ۳۵ - دا بل دلیل عقلی دے په توحید باندے چه تعلق لری د تصرف سره په دریابونو کښې او ورسره تخویف د عذاب دے په دریاب کښې كَالْاَعْلَامِ جمع د علم ده مراد تری نه غر دے یا لویه ماڼۍ اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ اه یعنی کشتۍ جهازونه بغیر د هوا نه نه شی چلیدلے خو هغه هوا معتدله روانه وی لیکن کله چه د اعتدال نه بهر شی نو یا به او دریږی نو کشتۍ به هم په دریاب باندے اودریږی نو بیا د هغې د چلیدلو د پاره هیڅ ذریعه نشی کیدلے یا به ډیره تیزه شی نو د کشتۍ د ډوبیدلو سبب به اوګرځی صَبَّارٍ شَكُوْرٍ صیغې د مبالغې ئې د دے وجے نه ذکر کړے دی چه لږ صبر او شکر خو په کافرانو کښې هم شته دے نو مراد د صبار وشکور نه مؤمن دے او هر کله چه په سفر د دریاب کښې ډیر خطرات وی نو د هغې د پاره ډیر صبر پکار دے او د هغې نه په نجات موندلو کښې ډیر نعمتونه دی نو په هغې باندے ډیر شکر پکار دے د دے وجے نه په سورة لقمان ۳۱ کښې هم د سفر د دریاب سره دا صفت ذکر کړے دے - اَوْ يُوْبِقْهُنَّ د دے ذکر د يسكن الريح د لاندے صحیح نه دے ځکه چه ایباق (اهلاک او غرق) په هوا او دریدلو سره نه راځی نو معلومه شوه چه دلته عبارت پټ دے وَاِنْ يَّشَاْ يَجْعَلِ الرِّيْحَ عَوَاصِفَ - یعنی چه هوا د اعتدال نه کله بهر شی او تیزه شی نو موجونه را اوچت شی او کشتۍ غرقې شی - او دریدل د کشتو په دریاب کښې لږه

يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا ؕ مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۵﴾

چه جګړه کوی په ایاتونو زمونږ کښ چه نشته دوی لره هیڅ ځائے د تختیدلو ۔

فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

نو هغه چه درکړے شویدے تاسو ته هر څیز چه دے نو سامان د مزے د ژوند دنیوی دے

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او هغه چه د الله تعالیٰ سره دے غوره دے او همیشه دے د پاره د هغه چا چه ایمان لری

وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَالَّذِيْنَ

او په خپل رب باندے توکل کوی ۔ او هغه کسان

ډیره ده او غرقیدل ډیره ډیره ده او عذاب دے۔ وَيَعْفُ عَنْ كَثِيْرٍ د ډیر
ګناهونو یا د ډیر خلقو نه معافی کوی هر کله چه مؤمنان وی یا د عذاب نه
مهلت ورکوی کله چه مشرکان وی ۔ وَيَعْفُ عطف دے په یوبقهن باندے
یعنی چه سیلئ تیزه شی نو بعض خلقو لره په لامبو وهلو یا د څه تختے د پاسه
الله تعالیٰ په خپل قدرت سره نجات ورکړی یا يَعْفُ د سره کلام دے او
وَاوْ تربنه خلاف القیاس حذف شوید ے۔ وَيَعْلَمَ داعطف دے په پټ
عبارت باندے یعنی يُغْرِقْهُمْ لِيَنْتَقِمَ مِنْهُمْ وَلِيَعْلَمَ نو په دے کښ ان پټ
دے او دا متعلق دے دواړه حالتونو سره یعنی هر کله چه کشتئ او دروی
یا غرقه ئے کړی نو دغه وخت کافران مشرکان پوهه شی چه زمونږ معبودان
مونږ له نجات نشی راکولے بلکه صرف الله تعالیٰ ته چغے وهی لکه دا سورت یونس،
عنکبوت، لقمان کښ تیر شویدی ۔
۳۶۔ د دے ځائے نه دریم باب دے تر اخره د سورت پورے په دے کښ تزهید
فی الدنیا او ترغیب دے اخرت ته په ذکر د نهه صفتونو د مؤمنانو سره بیا تخویف
اخروی بیا ترغیب دے حکم د الله تعالیٰ ته سره د زجر نه منکریتو ته بیا عقلی
دلیل دے بیا په اخر کښ صداقت د قران او تاکید د وحی دے ۔ په دے ۳۶
کښ تزهید فی الدنیا دے یعنی چاله چه الله تعالیٰ کشتئ ورکړے وی او په معتدله
هوا کانو کښ ګرځوی او د غرق نه بچ وی دا خو د دنیا لره فائده ده نو په دے
سره تکبر کول او شرک کول او توحید د الله تعالیٰ هیر ول جائز نه دی ۔ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ
دا ترغیب دے اخرت ته لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا د اخرت د نعمتونو راتلے په یل مخ)

يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَاِذَا

چه د ډه کوی د غټ ګناهونو او د ښکاره بداګارو نه او کله چه

مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَالَّذِيْنَ

دوی غصه شی نو دوی بخښنه کوی - او هغه کسان

اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَمْرُهُمْ

چه قبلوی حکمونه د رب خپل او پابندی کوی د مونځ او کار د دوی

شُوْرٰى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳۸﴾

مشوره کول دی په مینځ د دوی کښ او د هغه مال نه چه مونږ ورکړے دے دوی ته خرچ کوی۔

دَ حصول دَ پاره ذریعه نهه صفتونه ذکر کوی او په دے ایت کښ دوه ذکر کړے دی، ایمان، توکل کول په الله تعالیٰ باندے، په اول صفت کښ اشاره ده دَ شرک جلی نه بچ کیدلو ته او په دویم کښ اشاره ده ځان بچ کول دَ شرک خفی نه ځکه چه په توکل کښ دا معنیٰ ده چه دَ الله تعالیٰ نه سوا بل هیڅ خیز ته التفات نه کوی۔

۳۷:۔ په دے کښ دریم او څلورم صفت ذکر کوی۔ هغه دواړه ایجابی صفتونه وو او دا دواړه سلبی صفتونه دی کَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ هر هغه ګناه چه دَ هغې عقوبت ډیر او سخت وی شرک، قتل، زنا، غلا دَ مور پلار نافرمانی، جادو، په دروغه قسم کول، بهتان وغیره دا کبیره دی وَالْفَوَاحِشَ دا خاص دے پس دَ عام نه یعنی ګناهونو کښ هغه چه عقل او طبع ترینه هم نفرت کوی او دَ هغې قباحت هر عقل والا ته ښکاره وی لکه زنا، دروغ دهوکه خیانت وغیره په کښ داخل دی۔
وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ مخکښ حقوق الله ذکر وو او په دے کښ حقوق العباد ذکر کوی او دا صفت دَ اعتدال دے یعنی که څوک دَ دهٔ بے عزتی کوی نو غصه کیږی دَ غیرت دَ وجے نه لیکن بیا بدله نه اخلی بلکه بخشش کوی۔ او په دے کښ اشاره ده چه تکبر په کښ نیشته ځکه چه صرف په غضب کیدلو سره خلق رانیول بغیر دَ معافی کولو نه دا تکبر دے۔

۳۸:۔ په دے کښ پنځم، شپږم، اووم او اتم صفت ذکر کوی۔ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ په دے کښ پس دَ ایمان نه پوره انقیاد مراد دے۔ وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ په دے کښ اشاره ده اتفاق او اتحاد ته چه سبب دَ هغې

وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾

او هغه کسان چه کله اورسیږی هغوی ته زیاتے دَ چا نه نو دوی بدله اخلی۔

وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ

او بدله دَ بدئ بدی دی پشان دَ هغے نو چا چه

عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ

معافی اوکړو او ښهٔ عمل ئے اوکړو نو ثواب دَ دهٔ ذمه دَ الله تعالیٰ یاندے یقینًا الله تعالیٰ نه خوښوی

الظَّالِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِ

ظالمان ـ او خامخا چا چه بدله واغستله روستو دَ ظلم کیدلو په دهٔ باندے

مشوره کول دی دَ پو یل سره۔ او مشوره دَ پاره دَ احکامو جوړولو نه ده بلکه دَ پاره دَ چلولو دَ احکامو ده او دے ته اسلامی شوری ویلے کیږی او هرچه مغربی شوری او جمهوریت دے نو هغه دَ احکامو جوړولو دَ پاره وی او هغه شرک دے او په دے سورت کښ دا صفت ئے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه دعوی دَ دے سورت توحید په الحکم وۀ نو دَ هغے دَ جاری کولو دَ پاره شوری پکار ده بیا هر کله چه تیر شوی صفتونه مشورے ته محتاج نه دی بلکه روستو اعمالو کښ مشورے ته حاجت دے نو دَ دے وجے نه دا صفت ئے په میځ کښ ذکر کړو۔ او امر دَ شوری سورة آل عمران ۱۵۹ کښ ذکر دے۔

۳۹:۔ په دے کښ نهم صفت ذکر دے (سوال) دَ څلورم صفت او دَ دے صفت په میځ کښ منافات دے (جواب) اول جواب دا دے چه جنایت کوونکی دوه قسمه دی اول هغه دے چه په خپل جنایت کولو باندے نادم (پښیمانه) وی نو هغه ته معافی کول پکار دی او دویم هغه دے چه په جنایت باندے کلک دے او ظلم ته پریږدی نو دَ هغه نه انتقام اغستل دی۔ دویم جواب دا دے چه اول په باره دَ غضب کولو په وخت دَ دعوت کښ دے یعنی په وخت دَ دعوت او تبلیغ کښ چه څوک زیاتے اوکړی او تحمل اوکړی او داعی غصه شی لیکن مغفرت کوی او دویم په باره دَ دنیوی امورو کښ دے۔ او دریم جواب دا دے چه په دے جملو کښ صیغه دَ امر نیشته بلکه اول ئے عزیمت ذکر کړے دے چه هغه ډیر غوره دے او دویم ئے رخصت ذکر کړے چه په دے باندے هم عمل کول جائز دی لیکن شرط ورسره دے۔

۴۰:۔ په دے کښ طریقه دَ انتصار او شرط دَ بدل اغستلو ذکر کوی چه برابر والے دے او بیا ئے ترغیب دَ ذکر کړے دے اعلی وصف ته (پاتے په بل مخ)

فَأُولَٰئِكَ مَا عَلَيْهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا

نو دغه کسان نیشته په دوی باندے هیڅ ملامتیا - یقینًا

السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ

ملامتیا په هغه کسانو باندے ده چه ظلم کوی په خلقو باندے

وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ أُولَٰئِكَ

او سرکشی کوی په ملک کښ په ناحقه سره دغه کسان

لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ

دوی لره عذاب درد ناک دے - او خامخا چا چه صبر اوکړو

وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿٤٣﴾

او بخښنه ئے اوکړه یقینًا دا دَ فرض کړے شوے کارونو نه دی -

چه عفو کول دی - او بدے دَ بدے نه ئے بدی اویله اگرچه هغه بدی نه ده دَ وجے دَ مشاکلت نه یعنی اگرچه دا بدله اغستل دَ بدے جائز دی دَ وجے دَ رخصت نه لیکن په اصل کښ خو بدی ده۔ وَأَصْلَحَ په دے کښ اشاره ده چه دَ معلے کولو نه بغد افساد او نه کړی یعنی عفو په طریقه دَ منافقت سره نه وی بلکه دَ پاره دَ اصلاح کولو وی -

سلا سلا ۴۲ :. په دے کښ دفع دَ وهم ده چه هر کله یو مظلوم بدله دَ ظالم نه واخلی نو بعض ناپوهه خلق په دے مظلوم باندے ملامتیا وائی نو په دے ایت کښ په هغوی باندے رد دے - او دا بدله اغستل عام دی که په بدن کښ وی یا مال کښ یا په عزت کښ ۰ او په دویم ایت کښ حقدار دَ ملامتیا ئے ذکر کړل او هغه دوه قسمه دی اول هغه دی چه په خلقو باندے ظلمونه کوی یعنی حقوق العباد برباد وی او دویم هغه دی چه حقوق الله بربادَ وی -

سلا ۴۳ :. دا عطف دے په وَلَمَنِ انْتَصَرَ باندے یعنی بدله نه اخلی دَ وجے دَ صبر نه او بخښش ورته اوکړی یعنی خفګان هم زائله کړی - عَزْمِ الْأُمُورِ هغه کارونه چه په شرع کښ په طریقه دَ عزیمت سره مطلوب دی اگرچه مقابل کښ رخصت باندے عمل جائز دے۔

وَمَنْ يُضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهُ مِنْ وَلِيٍّ مِنْ

او هغه څوک چه الله تعالیٰ یې بې لارې کړي نو نیشته هغه لره هیڅوک بیا کوونکی

بَعْدِهٖ ؕ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ

روستو ددې لارې کولو نه او وینې به ته ظالمانو لره هر کله چه اُوینی دوی عذاب لره

يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾

وائی به دوی آیا شته دے واپسئ ته څه لار

وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ

او وینې به ته دوی لره چه پیش کولے به شی په اُور باندې سر کوزی به وی

مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ

دَ وجې دَ ذلت نه گوری به په سترگو کمزورو سره

وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ

او وائی به مؤمنان یقیناً پوره تاوانیان

الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ

هغه کسان دی چه تاوان کښ یې اچولے دی ځانونه او بال بچ خپل

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ

په ورځ دَ قیامت کښ خبر شئ یقیناً ظالمان به په عذاب

سا۴۴:۔ په دے کښ تخویف اخروی دے هغه چالره چه دَ مخکښ صفتونو نه محروم وی۔ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ یعنی سرهٔ دَ صبر او دَ مغفرت کول دَ مظلوم نه بیا هم دغه ظالم خپل ضد او عناد نه پریږدی۔ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ دویم مفعول دَ تَرَى پټ دے یعنی او به وینې ته بدحال دَ ظالمانو او يَقُوْلُوْنَ بیان دَ بدحال دَ دوی دے هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ جواب پټ دے چه نیشته او داسے په سورهٔ غافر سا۱۱ او سورهٔ انعام سا۲۷ او سجده سا۱۲ او سورهٔ فاطر سا۳۷ کښ هم ذکر شویدی۔

مُّقِيْمٍ ﴿۴۵﴾ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ اَوْلِيَآءَ

همیشه کښې وی. او نه به وی دوی لره هیڅوک مددګاران

يَنْصُرُوْنَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ وَمَنْ يُّضْلِلِ

چه مدد اوکړی د دوی سره سوا د الله تعالیٰ نه او هغه څوک چه بے لارے کړی هغه لره

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۶﴾ اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ

الله تعالیٰ نو نیشته دے لره هیڅ لار د هدایت. قبول کړئ حکم د الله تعالیٰ

ف۴۵ :- دا هم تخویف اخروی دے په شپږ طریقو سره من الذل متعلق دے په خاشعین پورے یعنی دا خشوع د وجے د عبادت نه نه ده بلکه د ذلت د وجے نه ده یا متعلق دے په ینظرون پورے من طرف خفی من د ابتداء د پاره دے یا په معنیٰ د باء دے ضعیف نظر دا دے چه سترګے به نشی اوچته ولے د شرم د وجے نه (سوال) بل ایت سره ثابت دی چه د دوی حشر به په حال د ړوند والی کښې کیږی؟ (جواب) اول دا دے چه دا مختلف وختونه دی بعض وخت کښې به ړانده او بعض وخت کښې به ئې نظر تیز وی فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ او بعض وخت به کمزورے نظر وی. دویم جواب دا دے چه دلته طرف خفی نه مراد په زړه سره نظر کول دی نه په سترګو باندے وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا دا وینا د پاره د ملامته کولو د کافرانو ده نو دا هم یو قسم عذاب دے وَاَهْلِيْهِمْ خسران د اهل دا دے چه هغوی ئې په ځان پسے تابع کړو په شرک او کفر کښې او يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فی د دے وجے نه اوویل چه خسران په دغه ورځ باندے ښکاره شو اګرچه هغه په دنیا کښې وو. یا اَهْلِيْهِمْ په معنیٰ د فی اهلیهم دے او مراد دا دے چه اهل د دوی نه جدا شول دوی ته هیڅ نفع نشی ورکولے یا خو هغوی جنت ته لاړل په سبب د ښه عمل سره یا په اورکښې دی په نورو طبقاتو کښې د دوی د حال نه خبر نه دی.

ف۴۶ :- دا هم تخویف اخروی کښې داخل دے او رد دے په شرکی فی الولایة باندے فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ لار د حق په دنیا کښې او لار د جنت په اخرت کښې او یا جواب دے د هغه قول هل الی مرد من سبیل بهرحال د سبیل نه خاص سبیل مراد دے د کره د عام مراد تر ینه خاص.

مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِىَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ

مخکښې د دې نه چه راشي يو ورځ چه نه به وي واپسي د هغې د طرف د الله تعالیٰ نه

مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ مِّنْ نَّكِيْرٍ ﴿۴۷﴾

نه به وي تاسو لره ځائے د پناه په دغه ورځ کښې او نه به وي تاسو لره هيڅ انکار فائده منډ.

فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ؕ

نو که چرے دوی مخ واړه وؤ نو نه يې ليږلے موږ ته په دوی باندے حفاظت کوونکے

اِنْ عَلَيْكَ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاِنَّاۤ اِذَاۤ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ

نيشته په تا باندے مګر رسول دی او يقيناً موږ کله چه اوڅکوؤ موږ انسان ته

مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا

د خپل طرف نه رحمت لوئي کوی په هغې باندے او که چرے اورسيږی دوی ته مصيبت په وجه د هغه عملونو چه

قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ كَفُوْرٌ ﴿۴۸﴾

مخکښې ليږلے دی لاسونو د دوی نو يقيناً انسان نا شکره دے.

سک۴۷:- په دے ايت کښې دعوت دے هغه خبر ته چه په هغې سره نجات حاصليږی د هغه عذابونو نه چه په مخکښې اياتونو کښې ذکر شو. اِسْتَجِيْبُوْا مراد د دے نه استجابت د دعوے د سورت دے او پوره انقياد د احکامو د الله تعالیٰ. لَا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ يعني چه الله تعالیٰ يې نه واپس کوی نو بل څوک يې هيڅ چرے نشي واپس کولے. نَكِيْرٍ انکار کول د ګناهونو نه يعني انکار خو به کوی ليکن هغه انکار ورته فائده نشي ورکولے ځکه چه په شهادتونو به ثابتيږی او د مجاهد په نيز مراد د نکير نه مددګار دے يعني دفع کوونکے د عذاب.

سک۴۸:- دا مقابل د استجيبوا دے او زجر دے اعراض کوونکو ته او تسلی ده رسول الله صلی الله عليه وسلم ته. فَاِنْ اَعْرَضُوْا جزاء يې پټه ده (يعني نيشته په تا باندے هيڅ حساب) فَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ دا علت د جزاء دے. وَاِنَّاۤ اِذَاۤ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ دا زجر دے او بيان د حالت د اعراض کولو دے يعني په حال د نعمت کښې اعراض په طريقه د تکبر سره کوی او په حالت د مصيبت کښې اعراض په طريقه د کفران سره کوی.

فائده:- د رحمت سره يې اذقنا ذکر کړے دے او سيئة سره تصبهم، اشاره ده چه دے انسان ته لږ غوندے نعمت اورسی (رسيږی) نو په بل مخ)

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ يَخْلُقُ

خاص الله تعالیٰ لره بادشاهي دَ اسمانونو او دَ زمکې ده پیدا کوي

مَا يَشَاۗءُ ۭ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ

هغه څه چه اوغواړي بخښش درکوي چاته چه اوغواړي لوڼړه او بخښش درکوي

لِمَنْ يَّشَاۗءُ الذُّكُوْرَ ۝ۙ۴۹ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ

چاته چه اوغواړي ځامن یا دوه قسمونه ورکوي

ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَاۗءُ

ځامن او لوڼړه او جوړوي چا لره چه اوغواړي بعضوته

عَقِيْمًا ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝۵۰ وَمَاكَانَ

شنډ یقینًا الله تعالیٰ پوهه دے قدرت والا دے - او نشي کیدلے

نوتکبر کوي یا داچه دَ دنیا نعمتونه په مقابله دَ جنت کښ لږ دي دَ دے وجے نه ئې په ذوق سره تعبیر اوکړو او په سیئه کښ په لږ باندے غلے وي لیکن چه مصیبت ډیر شي نو کفران نسکاره کړي او اصابة په ډیر والي بیاندے دلالت کوي -

پله فائده: دَ اولے جملے په سر کښ ئې اذا او دَ دویمے په سر کښ ان راوړو اشاره ده چه نعمتونه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه اصل څیز دے او مصیبتونه عارض څیز دے.

پله فائده: په حال دَ نعمت کښ ئې مفرد ذکر کړو او په حال دَ مصیبت کښ جمع ضمیر اګرچه انسان اسم جنس دے خو په دے کښ اشاره ده چه په حال دَ تکبر کښ انسان ځان لره دَ نورو خلقو نه مستغني بے پرواه اوګنړي او په حال دَ مصیبت کښ نورو خلقو سره یو ځائے کیږي او هغوی ته فریادونه کوي او دَ الله تعالیٰ ناشکري کوي -

سوال نه :- دا دلیل عقلي دے په توحید فی الولایة باندے ځکه بادشاهي او پیدائیش او تقسیم دَ اولاد دا ټول الله تعالیٰ لره خاص دي ایت ئې په اثبات دَ مُلک سره شورو کړو اشاره ده چه دا روستو نظام دَ بادشاهۍ نظام دے بیا يَخْلُقُ مَا يَشَاۗءُ او يَهَبُ دواړه ئې ذکر کړه اشاره ده چه پیدا کول

لِبَشَرٍ اَنۡ یُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحۡیًا اَوۡ مِنۡ وَّرَآیِٔ

بنیٔ بشر لره چه خبرے اوکړی هغه سره الله تعالیٰ مګر په وحی سره زړهٔ د هغه ته یا روستو

حِجَابٍ اَوۡ یُرۡسِلَ رَسُوۡلًا فَیُوۡحِیَ بِاِذۡنِهٖ

د پردے نه یا او لیږی ملک نو وحی کوی په حکم د الله تعالیٰ سره

دوه قسمه دی اول دا چه د عدم نه وجود ته راولی بغیر د څه مادے نه دویم دا چه د یو څیز نه بل څیز پیدا کړی. بیا ئے د انسانانو د اولاد په لحاظ سره درے قسمونه ذکر کړل او اخری ئے بے اولاده ذکر کړو بیا د دے تقسیم علت ئے ذکر کړو علیم قدیر دا ډیر افصح ابلغ بهترین ترتیب دے. (فوائد)

اوله فایده :- دا چه اناثا ئے مخکښ ذکر کړو اشاره ده کثرت د زنانو ته چه د قیامت د علاماتو نه ده او قرطبی د واثله نه نقل کړے دی چه برکت د زنانه دا دے چه اول ترینه لور پیدا شی بیا ورپسے څوئے.

دویمه فایده اناثا نکره او الذکور ئے معرفه راوړے ده اشاره ده چه زنانه په حالت د ناآشنائے پکار ده یعنی پرده نشینه چه نه پیژندے کیږی او نارینه خو ښکاره وی پیژندے کیږی.

دریمه فایده، یزوجهم لفظ عام دے چه په یو کرت نارینه او زنانه دواړه ورکړی چه هغوی ته توامین وئیلے کیږی یا په جدا جدا وخت کښ ورکړی بیا اصل په تزویج کښ نارینه دے د دے وجے نه د کراناثا ئے مخکښ کړو په اناثا باندے.

خلورمه فایده، مفسرینو دا تقسیم په انبیاء علیهم السلام کښ ذکر کړے دے لوط علیه السلام د اول قسم مصداق ابراهیم علیه السلام د دویم قسم اخری نبی صلی الله علیه وسلم د دریم قسم او یحیٰی وعیسٰی علیهما السلام د خلورم قسم. لیکن دا په طریقه د تخصیص سره نه دے بلکه په طریقه د مثال سره دے او اشاره ده چه انبیاء علیهم السلام هم په خپل اولاد کښ اختیار نه لری بلکه الله تعالیٰ ته محتاج دی نو اولیاء بزرګان به څه رنګه چا ته اولاد ورکړی لکه چه مشرکان خلق اولاد د بزرګانو او د هغوی د قبرونو نه غواړی نو دا صریح شرک دے.

پنځمه فایده، دا قسمونه په اعتبار د غالب او اکثر سره دی نو په دے سره انکار د خنثیٰ نه نه شی کیدے ځکه چه لفظ د یخلق ما یشاء او قدیر خنثیٰ پیدا کولو ته شامل دے.

مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٥١﴾ وَكَذَٰلِكَ

څه چه اوغواړی یقیناً هغه پورته دے حکمتونو والا دے - او دغه شان

أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ

وحی کړیده مونږ تاته د روح (قرآن) د دے حکم زمونږ نه ته وے نه

تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَٰكِن

چه پوهیدلے چه څه دے کتاب او نه په تفصیل د ایمان کښ لیکن

سله :۔ مخکښ ایت کښ تقسیم د نعمت ظاهریه وو او س په دے ایت کښ تقسیم د نعمت باطنیه دے چه وحی ده او په دے ایت کښ اثبات د عجز د انبیاء علیهم السلام دے د مرتبے د الوهیت نه. کلام د الله تعالیٰ د بشر سره، د دے درے طریقے دی په طریقه د حصر سره اول طریقه وحی د دلته خاص معنیٰ مراد ده یعنی په زړه د نبی کښ واچوی بغیر د واسطے د ملک نه که په بیدارئے کښ وی او که په خوب کښ وی لکه په حدیث صحیح کښ وارد دی "القی الله فی روعی ان نفسا لن تموت حتیٰ تستکمل رزقها (الله تعالیٰ زما په زړه کښ واچوله چه هیڅ نفس به نه مرکیږی تر دے پورے چه خپله روزی پوره کړی)" او هم دا سے خوب د ابراهیم علیه السلام په ذبح د ولد سره. دویمه طریقه أَوْ مِن وَرَآءِ حِجَابٍ یعنی خبرے حقیقتاً دے بغیر د لیدلو د الله نه لکه په معراج کښ. دریمه طریقه أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا دا عطف دے په معنیٰ د وَحْيًا باندے هغه په تاویل "ان یوحی الیه وان یرسل رسولا" مراد د رسول نه جبرئیل علیه السلام دے او دا رو ستنی طریقه بیا په دوه قسمه ده لکه په دویم حدیث د بخاری کښ ذکر شویدی. یوه دا چه د جبرئیل آواز پیشان کصلصلة الجرس وی او دا په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندے ډیر ګران وو لیکن هغه به ترینه ضروری وحی یاده کړه. دویمه طریقه چه جبرئیل به متشکل شو په شکل د یو سړی باندے او نبی صلی الله علیه وسلم سره به ئے ښکاره خبرے کولے او دا آسانه طریقه وه.

فائده :۔ د دے ایت نه دلیل نیولے شوے چه انبیاء علیهم السلام په دنیا کښ د الله تعالیٰ ملاقات نشی کولے صرف کلام الله اوریدلے دی نو دا یو دلیل دے چه کلام صفت د الله تعالیٰ دے.

جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ؕ وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۲﴾

او ګرځولی موږ دا قرآن رڼا چه هدایت کوو موږ په دے سره هغه چا ته چه اوغواړو موږ د بندګانو خپلو نه او یقیناً ته خامخا هدایت کوے لارے سیخے ته

۵۲ :- دا ترغیب دے قرآن کریم ته او صداقت د قرآن دے متعلق دے د ابتداء د سورت سره او اشاره ده چه قرآن کریم په هغه طریقو سره نازل شویدے کوم چه په مخکښ ایت کښ ذکر شویدی . رُوْحًا مراد تری نه قرآن دے ځکه قرآن د حیات روحانیه دے لکه چه روح حیوانی سبب د حیات بدنیه دے او د دے وجے نه قرآن ته ربیع القلوب هم وائی (سپرلے د زړونو) مَا كُنْتَ تَدْرِيْ مَا الْكِتٰبُ مراد تری نه قرآن کریم دے یعنی مخکښ د نزول د قرآن نه نبی صلّی الله علیه وسلّم د قرآن نه ناخبره وو لکه په سورة یوسف ۳ او سورة یونس ۱۶ کښ یا مراد د کتاب نه جنس نازل کتابونه دی یعنی تورات ، انجیل ، زبور یا مراد د کتاب نه لیکل دی.
وَلَا الْاِيْمَانُ مراد دے نه ایمان تفصیلی دے یعنی تفصیلات او شرائع د ایمان مخکښ د نبوت نه نبی صلّی الله علیه وسلّم ته معلوم نه وو یا مراد تری نه طریقه د دعوت ده ایمان ته یا مراد تری نه اهل ایمان دی . او دا توجیهات د دے وجے نه لازم دی چه ایمان اجمالی په تمام انبیاء علیهم السّلام کښ قبل النبوت موجود وی قاضی عیاض په شفاء کښ ویلے دی چه انبیاء علیهم السلام معصوم دی قبل النبوت د جهل با لله او صفات الله او د شک کولو نه په هغے کښ .
او خطیب شربینی ویلے دی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم مخکښ د نبوت نه اقرار کوونکے وو په وحدانیت د الله تعالیٰ او د هغه په عظمت باندے موځ او حج او عمره ئے کوله او لات ومنات به ئے بدګڼل او منا یوحی د نوم د غیر الله ئے نه خوړله او دا رنګ لیکلی دی چه صفات الٰهیه دوه قسمونه دی یو قسم هغه دے چه په عقل سره معلومیږی او دویم هغه چه په صرف نقلی دلیلونو سره معلومیږی نو قبل د نبوت نه نبی په اوّل قسم باندے عقیده لری - او کوم روایت چه دلالت کوی چه انبیاء علیهم السّلام او زمونږ اخری نبی قبل د نبوت نه شرک کوو نو هغه موضوع احادیث او روایات دی .
فائده :- د دے ایت نه معلومه شوه چه ایمان تفصیلی (پاتے په بل مخ)

صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا

لار د الله تعالیٰ هغه ذات چه خاص هغه لره هغه څیزونه دی چه په اسمانونو کښ دی او هغه څیزونه چه

فِی الْاَرْضِ ؕ اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِیْرُ الْاُمُوْرُ ﴿۵۳﴾ ع

په زمکه کښ دی خبردار شئ خاص الله تعالیٰ ته ورګرځي ټول کارونه.

بغیر د قرآن نه نه حاصلیږی نو هغه خبره چه وئیلے کیږی چه ایمان د قرآن نه مخکښ دے نو مراد د هغې نه اجمالی ایمان دے. وَاِنَّکَ لَتَهْدِیْۤ په دے کښ اثبات د رسالت د رسول دے او هدایت نه مراد دعوت و ارشاد دے.
سـ۵۳ـ دا ذکر د عظمت شان د صراط مستقیم دے اَلَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ دا اشاره ده مقصد د صراط ته چه توحید دے او متعلق دے د ابتداء د سورت سره او رد د شرک فی الولایت دے اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِیْرُ الْاُمُوْرُ په دے سره دفع د وهم کوی که څوک وهم کوی چه په بعض څیزونو کښ خو د بندګانو ملکیت هم شته نو څه رنګ اوویلے شو لهٗ مافی السموات وما فی الارض؟ حاصل جواب دا دے چه په حقیقت او په عاقبت کښ د دے ټولو ملکیت الله تعالیٰ ته ورګرځي.

الحمد لله چه تفسیر د سورة شوریٰ ختم شو.

سُوْرَةُ الزُّخْرُفِ ۴۳ مَكِّيَّةٌ ۶۳ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۸۹ رُكُوْعَاتُهَا ۷

حٰمٓ ۝۱ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝۲ اِنَّا جَعَلْنٰهُ

(اندوالی په پوهه د دی په مراد پالندی۔ قسم دے په کتاب واضح بیان کوونکی پالنګر کواهی کوی) چه یقیناً رالیږلے دے موتړ دا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة زخرف

ربط د دے سورت د شوری سره په ډیرو وجوه سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ امر وؤ په تحکیم د قران کریم چه هغه حجت د مؤحدینو دے نو په دے سورت کښ تردید دے په حجتونو د مشرکانو پالندے۔ دوېمه وجه دا ده چه مخکښ ردوؤ په بعض شبهاتو د مشرکینو پالندے نو په دے سورت کښ رد دے په مشهوره شبهه د هغوی پالندے چه هغه عقیده د شفاعت شرکیه ده۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ زجرونه وو په مشرکانو پالندے نو په دے سورت کښ رد او زجرونه په اقسامو د شرک پالندے دی څلورمه وجه دا ده چه په سورة شوری کښ صداقت د قران او دعوت وؤ فیصلے د قران ته نو په دے سورت کښ زجر دے په اعراض د قران کریم پالندے۔

دعوی د دے سورت رد کول دی په حجتونو د مشرکانو پالندے یو حجت د هغوی مشیت د الله تعالیٰ دے په شرک پالندے او دویم حجت عقیده د شفاعت شرکیه او دریم حجت اتباع د ابأ وؤ ده په ۲۰ ۸۴ ۲۳ کښ او د دے سره رد دے په اقسامو د شرک پالندے شرک فی العبادة وفی الدعا وفی التصرف او په عقیده د اتخاذ الولد پالندے په درے دلیلونو نقلیو او اته دلیلونو عقلیو سره۔

خلاصه د سورت دا ده چه دا تقسیم دے درے بابونو ته اول باب تر ۳۶ پورے دے په دے کښ ذکر د صداقت د قران دے په تهه طریقو سره۔ بیا زجر او تخویف دنیوی دے۔ بیا څلور عقلی دلیلونه دی بیا زجر دے په مشرکین بالملائکه پالندے او د هغوی په دوه دلیلونو پالندے او دلیل نقلی دے د ابراهیم علیه السلام ته بیا دوه زجرونه دی او تزهید فی الدنیا ذکر کوی۔

تفسیر

۱۔ ۲۔ په دے کښ قسم ذکر کوی په قران پالندے ر پاتے په بل مخ)

قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۳﴾ وَاِنَّهٗ

داقران	دَ عربے ژبے	دَ دے دَپاره	چه	دَ عقل نه کاروا خلے	او یقیناً دَ

دَپاره دَ قائن ے دَ شهادت پیش کولو او تفصیل دَ دے په ابتدا دَ سورة یٰس کښ تیر شویدے. اَلْمُبِيْنِ دا متعدی دے یعنی ښکاره کوونکے لار دَ توحید او دَ حق لره دَ لارے دَ مشرکانو ته نو په دے کښ اشاره ده چه دے سورت کښ وضاحت دے په دفع کولو دَ شبهاتو سره او په دلیلونو نقلیو سره یا لفظ مبین لازمی دے یعنی واضح ادصقا مضمون والا دے.

۳ : دا جواب قسم دے حاصل دا دے چه دَ قران وضاحت چه اعلی مرتبه کښ دے شاهد دے چه دا دَ الله تعالی کتاب دے دَ بنده کتاب نه دے او دارنګ دَ هر عقل والا دَ پوهیدلو کتاب دے (سوال) دَ جعلنا ظاهری معنی خوپیدا کول دی نو دَ دے نه معلومه شوه چه قران کریم مخلوق دے او حال دا چه قران غیر مخلوق صفت دَ الله تعالی دے او دا حق مذهب دے؟ (جواب) اول دا دے چه دلته مقصد توصیف دَ قران دے په عربیت سره دَپاره دَ ترغیب مخاطبینو عربو ته او جعل په معنی دَ تصییر دے یعنی قران په لغت عربیه کښ رالیږلے دے او مشرکینو دَ قران په خلق او عدم خلق کښ بحث نه دے کړے نو په هغے کښ یو جانب ثابتولو ته ضرورت نه وؤ او هغه په نورو دلیلونو سره ثابت شوے دے چه مخلوق نه دے. دویم جواب: قرطبی ویلے دی چه جعلنا په معنی دَ سَمَّیْنَاهُ (نوم مو ایښے دے) او وصفناه (صفت مو ورکړے دے) او انزلناه او بَیَّنَّاهُ (نازل کړیدے او بیان کړے دے مونږ) او په معنی دَ انزلناه غوره دے ځکه چه قران کښ په دے لفظ سره ډیر ذکر دے لکه سورة یوسف ۲ او ابن کثیر هم دا معنی غوره کړے ده. دریم جواب جعل په معنی دَ تقدیر او دَ کتابت سره دے یعنی لیکلے دے مونږ په تقدیر کښ قران عربی او هغه تقدیر لوح محفوظ دے او دَ تائید په روح المعانی کښ دَ طاؤس نه نقل کړے دے چه یو سړے دَ حضر موت مقام نه راغے او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه ئے تپوس اوکړو چه ماله خبر راکړه چه قران کلام الله دے او که خَلْق دے دَ مخلوق دَ الله تعالی نه هغه جواب ورکړو چه کلام الله دَ آوایت ئے اولوستلو حتی یسمع کلام الله (توبه) تو بیا هغه سړی دا ایت ذکر کړو انا جعلناه قرانًا عَرَبِيًّا تو ابن عباس رضی الله عنهما ورته اُویل چه دَ دے مطلب دا دے چه الله تعالی لیکلے دے په لوح محفوظ کښ په عربی سره او ایت ئے اولوستلو بل هو قران مجید فی لوح محفوظ (بروج). او هغه جواب

فِيٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ④

په اصل دَ کتابونو کښې دے زمونږ سره دے خامخا اوچت دے حکمتونو والا۔

اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ

آیا نو واړوو مونږ ستاسو نه نصیحت په اړولو سره دَ دے وجے نه چه تاسو یئ

قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ⑤ وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ

قوم مشرکان۔ او ډیر لیږلی دی مونږ پیغمبران

چه امام رازی او شربینی وغیرهما ذکر کړے دے چه مراد دَ دے نه کلام لفظی دے او هغه مخلوق دے دا قول غلط دے ځکه چه تقسیم دَ کلام په لفظی او نفسی ته بدعت دے او قرآن کریم ښکاره دلیلونه دی چه مسموع مقروء متلو کلام الله دے او دا مذهب دَ امام ابوحنیفه رحمة الله ذکر کړے دے فقه اکبر کښې او شرح عقیدة الطحاویه په ص۱۸۸ کښې په تفصیل سره او امام ذهبی په کتاب العلو للعلی الغفار کښې دَ امام ابویوسف مناظرة دَ امام ابوحنیفه رحمهما الله تعالیٰ سره ذکر کړے ده چه امام صاحب رجوع اوکړه قول دَ امام ابویوسف ته او ویل یئ چه څوک وائی چه قرآن مخلوق دے نو هغه کافر دے۔ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ په دے کښې اشاره ده چه قرآن کریم کښې دَ احکامو او معانی او مقاصدو او حکمتونو حاصلولو دپاره تعقل تدبر کول ضروری دی ځکه چه دا یئ مقصد دَ انزال گرځولے دے۔

۴:۔ دا هم دَ قرآن صفات دی دپاره دَ تصدیق او ترغیب ورکولو وَاِنَّهٗ فِيٓ اُمِّ الْكِتٰبِ دا رنگ سورة بروج ۲۲ او سورة واقعه ۷۸ کښې دی او دا دلیل دے چه دا قرآن په دے خاص ترتیب سره په لوح محفوظ کښې په اصل ترتیب سره دے هاں په نازلولو کښې ترتیب په سبب دَ واقعاتو سره په بله طریقه سره دے۔ حَكِيْمٌ خاوند دَ حکمتونو دے یا محکم دے۔

۵:۔ دا زجر دے په اعراض سره دَ قرآن نه په طریقه دَ استفهام انکاری سره یعنی که چرے مشرکان وائی چه مونږ خو توجه نه منو نو مونږ ته دا قرآن ولے بیانوے او مونږ ورباندے تنگوے نو دَ هغوی جواب دا دے چه ستاسو دَ شرک او دَ انکار دَ وجے نه قرآن نازلول او قرآن بیانول نه پریږدو۔ صَفْحًا دا مفعول مطلق دے بغیر دَ لفظ دَ فعل نه لیکن معنیٰ یوه ده۔ اَنْ كُنْتُمْ په تقدیر د لام سره ده په یل مخ)

فِي الْأَوَّلِينَ ﴿٦﴾ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ

په مخکنو خلقو کښې ۔ او نه راتلو هغوی ته هیڅ پیغمبر

إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٧﴾ فَأَهْلَكْنَا

مګر دوی به په هغه پورے ټوقے کولے۔ نو هلاک کړل موږ

أَشَدَّ مِنْهُم بَطْشًا وَمَضَىٰ مَثَلُ الْأَوَّلِينَ ﴿٨﴾

ډیر سخت د دوی نه په نیولو کښې او تیرے شویدی نمونے د زړو خلقو ۔

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ

او که چرے ته تپوس اوکړے د دوی نه چا پیدا کړیدی آسمانونه

وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ

او زمکه خامخا دوی به وائي پیدا کړیدی دا زور آور

الْعَلِيمُ ﴿٩﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ

ډیر علم والا هغه ذات دے چه جوړه کړے ده تاسو لره زمکه

د لام سره علت دے د افنضرب د پاره یا علت دے انکار د پاره یعنی لانضرب عنکم مونږ قران ځکه ستاسو نه اړوو چه تاسو مشرکان ورته محتاج یئ ۔
سلا سک سه په دے آیاتونو کښې تسلی ده رسول الله صلی علیه وسلم ته او تخویف دنیوی دے منکرینو ته روستو د زجر ورکولو نه ۔ کم خبریه دے په معنیٰ د ډیر والی دے ۔ په اول آیت کښې ارسال د رسولانو ذکر دے او په دویم آیت کښې استهزا د منکرینو ذکر ده چه سبب د عذاب دے او په دریم آیت کښې مسبّب ذکر دے چه عذاب دے منهم ضمیر هغه مشرکینو ته راجع دے چه هغوی مخاطب وو په تیرشوی آیت کښې ۔ اَشَدَّ مِنْهُم بَطْشًا طاقت په سبب د ډیر مالونو او غټو بدنونو او د ګټرو لښکرو د هغوی ۔ مَثَلُ صفت او حالاتو او خبر ته وئیلے کیږی ۔
سـ۹ ۔ دا دلیل عقلی اعترافی دے په مسئله د توحید باندے او دا اقرار د دوی په سورة عنکبوت سلا لقمان سه۲ کښې ذکر دے ۔ او په دے آیت کښې په جواب کښې لفظ د خلقهن د تاکید د اقرار د پاره ذکر کړے دے ۔

مَهۡدًا وَّجَعَلَ لَكُمۡ فِيۡهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمۡ

بستره د آرام او جوړې کړیدی تاسو لره په هغې کښې لارے د دے د پاره چه تاسو

تَهۡتَدُوۡنَ ﴿۱۰﴾ وَالَّذِىۡ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ

هدایت او مومئ - او هغه ذات دے چه رالیږلی دی د آسمان د طرف نه

مَآءًۢ بِقَدَرٍ‌ۚ فَاَنۡشَرۡنَا بِهٖ بَلۡدَةً مَّيۡتًا‌ۚ

اوبه په اندازه نو تازه کړیده مونږ په هغې سره زمکه د چه

كَذٰلِكَ تُخۡرَجُوۡنَ ﴿۱۱﴾ وَالَّذِىۡ خَلَقَ

دغه شان په تاسو را ویستلے کیږئ - او هغه ذات دے چه پیدا کړیدی

الۡاَزۡوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمۡ مِّنَ الۡفُلۡكِ

جوړے ټولے او جوړے کړیدی ستاسو د پاره د کشتو

سلہ :- دا دویم دلیل دے په دے کښې اقرار نیشته څکه چه لکم پئے ویلے دے لنا ئے
نه دے ویلے نو دا د تیرشوی سره په طریقه د تنویر (دیر وضاحت) سره ذکر
کړے دے یعنی هرکله چه خالق آسمانونو او زمکو لره مئے نو دا روستو
قدرتونه د هغه په ضرورت منے اوبه دے آیت کښې دوه نمونے د قدرتِ الٰهیه ذکر
کړے دی۔ مهد او مهاد زانګو او غیګه د مور د پاره د بچی ځلئے د آرام وی
نو دا رنګ زمکه کښې د اوسیدلو د پاره بے شماره نعمتونه او اسباب د آرام شته دے.
سُبُلًا لارے د سفر کولو یا اسباب د روزئے د ګټلو. لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُوۡنَ رسیدل
مقصد ته مراد دی که مقصد د دنیا وی او که د دین وی۔
سلا :- دا دریم دلیل دے په دے کښې هم دوه عظیم قدرتونه ذکر کوی
بارانونه ورول او بوټی او فصلونه پیدا کول. بِقَدَرٍ په دے کښې اشاره ده چه کوم
باران د قدر نه بهر شی نو هغه د عذاب باران وی لکه د قوم نوح علیه السّلام۔
بَلۡدَةً مَّيۡتًا بلده په معنیٰ د هغه مکان دے چه خلق پکښې جمع او دیره وی د ژوند تیرولو
د پاره۔ او مکان مذکر دے نو میتاً ئے د دے وجے نه مذکر راوړو. كَذٰلِكَ تُخۡرَجُوۡنَ اشاره ده
چه څه رنګه دا دلیل د توحید د الله تعالیٰ دے نو دا رنګ دلیل د بعث بعد الموت هم دے
او دا سے د دے چلے په ذکر کولو سره یاداشت د آخرت دے د پاره د دے چه په
وخت د لیدلو د فصلونو او باغونو د دنیا کښې د آخرت نه غفلت رانشی۔

وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ﴿۱۲﴾ لِتَسْتَوٗا عَلٰى

او خاروؤ نه هغه چه تاسو پرے سورلی کوئے ﴿ﺩ﴾ پاره ﺩ دے چه برابر شئے په

ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ

شاګانو ﺩ هغې باندے بیا په یاد کړئے نعمت ﺩ رب ستاسو

اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِىْ

کله چه برابر کیني په هغې باندے او اویه وائي پاکی ده هغه ذات لره

سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ﴿۱۳﴾

چه تابع کړځولے ده موږ ﺩ پاره دا او نهوو موږ دے لره قابو کوؤنکی -

ف ۱۲ :- دا څلورم دلیل عقلی دے په دے کښ دوه انعامات عامه ذکر کړے دی.
الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا دا لفظ شامل دے حیواناتو او نباتاتو او اوصافو او اطرافو او زمانیانو
او مکاناتو ټولو ته مذکر مؤنث، خوږ تریخ، سپین تور، بره ښکته، ښی طرف ګس
طرف، آسمان زمکه، ماضی او مستقبل، او ږے او ژمے، سپرلے او خزان، شپه او
ورځ، رڼا او تیاره، جنّت او دوزخ، خیر او شر، فقر او غنا، ایمان او کفر وغیره -
زوج په اصل کښ هغه شے دے چه ﺩ بل سره په یو وجه سره مناسبت لری
ﺩ پاره ﺩ تکمیل نو ﺩ دے وجے نه الله تعالیٰ ﺩ زوجیت نه منزّه دے او هم دا سے په
سوره یٰسٓ ف ۳۶ او ذاریات ف ۴۹ کښ شته - مِنَ الْفُلْكِ وَالْاَنْعَامِ مِن بعضیه دے
ځکه بعضے کشتۍ او خاروی ﺩ سورلے ﺩ پاره لائق نه وی یا مِن بیانیه دے ﺩ مَا
روستی ﺩ پاره -
ف ۱۳ ۱۴ :- په دے کښ ادب ﺩ سورلے دے ﺩ پاره ﺩ دے چه انسان په هیڅ وخت
کښ او خاص ﺩ سورلے په وخت (چه هغه اکثر ﺩ هلاکت وخت وی یا سبب ﺩ تکبر او ﺩ
لوئے وی) الله تعالیٰ لره هیر نه کړی او ﺩ هغه توحید او ﺩ هغه نعمتونه او قدرتونه
هر وخت یاد او ساتی او حالت ﺩ مرګ لره هم یاد لری - او دا ادب په ژبه سره هم
په حدیث سره ثابت دے او په زړه کښ هم دا عقیده ساتل فرض دی. سنت
طریقه دا ده چه په رکاب کښ خپه کیدی نو اول په بسم الله اُوائي بیا په الله اکبر
اُوائي او چه سورلے باندے کیني نو الحمد لله په اُوائي دیته اشاره ده په دے
قول کښ ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ او بیا به سبحان الذی الخ اُوائي.
ضمیر په ظُهُورِهٖ کښ راجع دے مَا تَرْكَبُونَ ته او هغه جنس دے او عَلَيْهِ ضمیر هم

وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿١٤﴾ وَجَعَلُوا لَهُۥ

او یقیناً مونږ خپل رب طرف ته خامخا په واپس ورګرځو - او ګرځولي دوی الله تعالیٰ لره

مِنْ عِبَادِهِۦ جُزْءًا ۚ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ

د بندګانو د هغه نه ټکړے یقیناً دا انسان خامخا ناشکره

مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَ

ښکاره دے - ایا نیولے دی الله تعالیٰ د هغه څانه چه پیدا کړیدی لونړه او

أَصْفَىٰكُم بِٱلْبَنِينَ ﴿١٦﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم

غوره ئے کړے تاسو په ځامنو سره - او کله چه زیرے ورکړشي یو کن د دوی ته

ماترکبون ته راجع دے یا ظهر ته راجع دے چه په ضمن د ظهور کښ دے.
الَّذِي سَخَّرَ لَنَا په دے کښ عظمة د الله دے وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقْرِنِينَ په دے کښ ذکر د عجز د انسان دے وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ په دے جمله کښ یادداشت د مرګ دے په طریقه د قیاس سره په حالت د سورے یاندے یعنی لکه چه اوس دا انسان په سورلے یاندے سور دے او یو طرف ته روان دے نو دا سے به یو وخت د خلقو په اوګو یاندے سور وی او د مقبرے په طرف به روان وی.
سـ۱۵ :- دا متعلق دے د لئن سألتهم سره او زجر دے په شرک یاندے یعنی چه دا اومنی چه الله تعالیٰ خالق او قادر دے نو بیا د هغه اولاد ته او شریک ته څه حاجت دے چه مشرکان عقیده ساتی چه فلان بزرګ د الله تعالیٰ ولد دے او ملائک د الله تعالیٰ بنات دی او فلانے ولی د الله تعالیٰ نازولے او د برخے خاوند دے. جُزْءًا اولاد هم ټکړه ده او شریک هم یو قسم ټکړه وی د دے وجے نه د قتادة نه نقل دے چه جزء هر معبود من دون الله ته شامل دے او اکثر مفسرینو دلته بنات (لونړه) مراد کړے دی.
سـ۱۶ :- دا رد په مشرکین بالملائکه باندے دے چه د دوی عقیده لری چه دا ملائک د الله تعالیٰ لونړه دی یعنی دا خبره په عقل او عرف کښ ډیره عجیبه ده چه الله تعالیٰ قادر دے په اولاد ورکولو نو تاسو ته ځامن ورکوی او الله تعالیٰ ځان له لونړه نیسی او معلومه ده چه جنس د نارینه اشرف دے د جنس د زنانه نه. او هم دغسے په سورة نجم سـ۲۱ سـ۲۲ کښ دی.

بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهٗ

په هغه څیز چه بیانوی د رحمان دپاره په صفت کښې نو شی مخ د هغه

مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۱۷﴾ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا

تک تور او دے د غم نه ډک وی . آیا ادوی نسبت کوی الله تعالیٰ ته) د هغه چا چه پالنه ئے کیږی

فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿۱۸﴾

په کالو کښې او حال دا چه هغه په حالت د جګړه کښې صفا خبره نشی کولے ۔

سکا :- په دے کښې رد او زجر دے په بله طریقه سره چه هغه مخلوق چه تاسو ئے طیعًا د ځان دپاره بد ګڼړئے نو د هغے الله تعالیٰ ته نسبت کوئے نو دا ستو بے عزتی د الله تعالیٰ ده په ډیره بے عزتے سره او دا سے سورة نحل ۵۸ کښې تیرشوی ی . مَثَلًا په معنیٰ د وصف دے یعنی لور کیدل یا په معنیٰ د مشابه دے ځکه چه ولد شبه د والد وی . ظَلَّ دا مستعملیږی د ورځ دپاره یعنی توله ورځ مخ تور وی او دا تخصیص ئے په دے وجے سره او کړو چه د شپے څو تور رنګ نه ښکاره کیږی . کَظِیْمٌ چه د غم نه ډک وی او د هغے وجے نه خبرے هم نشی کولے .

سکا :- په دے کښې زجر دے په بله طریقے سره یعنی زنانه ضعیف جنس دے په نسبت د نارینه نو څه رنګ هغے ضعیف جنس هغه ذات ته نسبت کوئے چه علیم او قدیر دے . او ضعف ئے په دوه طریقے سره ذکر دے یو ضعف د زینت د زنانه دے ځکه چه زنانه بغیر د کالو نه بے دوله ښکاریږی او نارینه خیل زینت کښې کالو ته محتاج نه دے دویم ضعف د کلام او د مقابلے کولو په خبرو کښې چه د حیا د وجے نه خپل مقصد او دلیل پوره نه شی ښکاره کولے . اَوَمَنْ یُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ دا دلیل دے چه د زنانه د پاره کالی د سپینو او سرو جائز دی او احادیث په دے کښې ډیر وارد دی او کوم احادیث چه د سرو زرو د استعمال د منع په باره کښې راغلی دی هغه د بعض حد تیتو په نیز په هغه حالت حمل دی چه زکوٰة ئے نه ادا کوی او د بعض په نیز حمل دی په خلاف اولے او یا په حالت د اسراف باندے .

اَوَمَنْ دا لفظ یا منصوب دے په فعل پټ سره یعنی نسبوا لله الله او عبدوا من ینشأ . یا مرفوع مبتدا ده او خبر ئے په دغه عبارت سره پټ دے .

وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ

او گرزوی دوی ملائک هغه چه بندګان د رحمان دی

اِنَاثًا ۭ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ۭ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ

زنانه ایا دوی لیدلی دے پیدائش د هغوی ژر به اولیکلے کیږی بیان د دوی

وَيُسْـَٔــلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوْا لَوْ شَاۗءَ الرَّحْمٰنُ

او تپوس تری به کیدیشی ـ او دوی وائی که چرے غوښتے رحمان

مَا عَبَدْنٰهُمْ ۭ مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۤ

موږ به بندګی نه وه کړے د دوی نیشته دوی لره په دے باندے هیڅ دلیل

اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿٢٠﴾ ۭ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا

نه دی دوی مګر په ټوک خبرے کوی ـ ایا ورکړے دے موږ دوی ته کتاب

س۱۹ :ـ مخکښ زجر وو په دے خبره چه ملائکو ته ئے بنات د الله تعالی ویل اوس زجر دے چه ملائکو ته مؤنث وائی او د هغوی صفتو نه په تانیث سره کوی لکه په سورة نجم س۲۷ او صافات س۱۵ کښ د الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ دا صحیح عقیده ده په باره د ملائکو کښ په جواب د هغه چاچه تپوس اوکړی چه ملائک مذکر دی او که مؤنث دی او دا رد دے په هغه کسانو چه ملائک معبود ګڼړی ـ اِنَاثًا لکه چه فارسئ کښ یو ملک ته فرشته وائی او په پښتو کښ ورته فرښته یا ملائکه وائی نو دا الفاظ هم مونث دی د د لفظو نو استعمال جائز نه دے. صحیح داده چه هغوی بندګان د الله تعالی دی ـ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ یعنی نارینه ـ زنانه صفت خو په لیدلو سره معلومیږی نو دوی خو ملائک نه دی لیدلے ـ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ یعنی دوی په ویل چه موږ خو لیدلے نه دی لیکن موږ د مشرانو نه اوریدلے دی چه دا زنانه دی او مشران خو دروغ نه وائی نو موږ د دے وجے نه شهادت کوو چه دوی زنانه دی نو د هغے تردید ئے اوکړو په زجر سره چه دا شهادت د دوی په عملنامو کښ لیکلے کیږی وَيُسْـَٔــلُوْنَ یعنی د دوی نه به د دے د دلیل تپوس کیدے شی چه تاسو په څه وجه بے دلیله خبرے پسے روان وے ـ شریعت ویلے دی دا دلیل دے چه قول بے دلیله منکر کار دے او تقلید حرام دے سبب د ډیرے بدے دے ـ

س۲۰ :ـ دا یل زجر دے د دوی په عمل د شرک باندے چه د ملائکو نه پاکے په بل مخ)

مِنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ﴿۲۱﴾ بَلْ

مخکښ د دے نه نو دوی په هغه باندے دلیل نیونکی دی - بلکه

قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى

دوی وائی یقیناً موندلے دی مونږ مشران خپل په یو طریقه باندے او یقیناً مونږ په

اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا

قدمونو د هغوی باندے هدایت والا یو - دغه شان نه دی لیږلی مونږ

عبادت کوی او دا رنگ باطل دلیل ذکر کوی چه مشیّت (رضا) د الله تعالیٰ ده په دے شرک باندے او دا هم زوړ دلیل دے د مشرکانو لکه سورة انعام ۱۴۸ اوسورة نحل ۳۵ کښ ذکر شوے دے. د دے دلیل تردید ذکر کوی په دے قول سره مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ یعنی د دوی څه دلیل دے په اثبات د رضا د الله تعالیٰ په شرک د دوی باندے ځکه رضا خو صفتِ باطنه دے د هغے د پاره دلیل پکار دے او هرچه خَلْق او وجود د کار دے نو دا خو دلیل په اراده د الله تعالیٰ باندے دے نه په رضا باندے. تر دے ځائے پورے معلومه شوه چه مشرکینو بالملائکه پنځه قسمه کفر کړے دے اوّل دا چه الله تعالیٰ لره ئے د جزء (ولد) عقیده لرلے ده - دویم دا چه ملائک بنات الله ګڼړی - دریم دا چه ملائکو ته زنانه وائی څلورم دا چه د هغوی عبادت کوی او پنځم دا چه د دے نسبت مشیت د الله تعالیٰ ته کوی یعنی بیټه کار ئے ګڼړی -

۲۱:- دا هم زجر دے چه په دے کفر یاتو باندے چه د دوی سره دلیل د کتاب الله نه نیشته یعنی د دوی دا عقیده لکه چه د عقل نه خلاف ده نو دا سے دا د نقل او وحی نه هم خلاف ده - اٰتَيْنٰهُمْ دا لفظ دلالت کوی چه هر کتاب د شرع دلیل نه دے بلکه هغه کتاب دلیل دے چه د طرف د الله تعالیٰ نه وی وحی جلی یا وحی خفی.

۲۲:- دا بل زجر دے او رد دے په دویم دلیل د مشرکانو باندے چه هغه اتباع د اٰباؤ او تقلید محض دے - عَلٰٓى اُمَّةٍ دلته په معنیٰ د طریقے او د دین ده ځکه چه امة هغه څیز ته ویلے کیږی چه د هغے قصد او اقتداء کیدے شی نو هغه لار او دین دے مُهْتَدُوْنَ یعنی په اتباع د مشرانو کښ د پوره اهتداء دعویٰ کوی چه په دے تقلید کښ مونږ هیڅ خطائی نه ده کړے او نه زمونږ مشران غلط شوے دی.

مِنْ قَبْلِكَ فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ

ستا نه مخکښ په هیڅ کلی کښ ویره درکوونکے، مګر وئیل په

مُتْرَفُوْهَآ اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا

بے حده مالدارو د هغې یقیناً مونده لے دی مونږ مشران خپل په یو طریقه باندے او یقیناً مونږ

عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ﴿۲۳﴾ قٰلَ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ

په قدمونو د هغوی باندے اقتداء کوونکی یو۔ اوئے وئیل پیغمبر ایا اګرچه راوړے که ما تاسو ته

بِاَهْدٰى مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ؕ

ښه هدایت د هغې نه چه مونده لے دی تاسو په هغې باندے مشران ستاسو (خپل)

قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۲۴﴾

دوی په اوئیل یقینا مونږ په هغه څیز چه تاسو پرے رالیږلے شوی ئې کفر کوو۔

۲۳ :۔ دا تردید دے په دلیل د هغوی باندے چه اتباع اباء ده چه دا استدلال خو د تیرشوو قومونو (مشرکانو) هم وو نو هغوی باندے عذابونه راغلے وو نو معلومه شوه چه دا دلیل باطل دے اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَا هغه کسان چه د دنیا په نعمتونو کښ او مزو کښ د حد نه ورتیر شوی دی۔ او صیغه د مفعول کښ اشاره ده چه د دیرے مستئ د وجے نه بے اختیاره شوے دی۔ مُقْتَدُوْنَ په اقتداء کښ معنیٰ د لزوم او دوام ده او اقرار د خپلے ناپوهے دے۔

۲۴ :۔ دا تردید دے د طرف د ځکنو رسولانو نه په دغه دلیل باندے چه تاسو به یا تابعداری د هدایت کوئے یا نه که د هدایت تابعدار یئ نو ما تاسو ته د پوره هدایت خبرے راوړے دی نو هغه وله نه منئ اَهْدٰى دا صیغه یئ صرف الزامی طور سره وئیلے ده یعنی بالفرض که ستاسو د مشرانو په لار کښ هدایت شته لیکن ما چه کوم څیز د الله تعالیٰ د طرف نه راوړے نو په هغې کښ خو ډیر هدایت دے نو که د دنیا په کارونو کښ تاسو ته معلومه شی چه زمونږ په طریقه کښ د مشرانو د طریقے په نسبت ډیره فائده ده نو بیا خو تاسو د مشرانو طریقه پریږدئے نو د دین په باره کښ هم داسے اوکړئے كٰفِرُوْنَ معلومه شوه چه دوی ضد او عناد کښ پریوتل۔

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ
نو بدله واغستله موږ د دوی نه نو اوګوره چه څه رنګ شو
عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۵﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ
انجام د تکذیب کوونکو . او کله چه اوویل ابراهیم علیه السّلام
لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ﴿۲۶﴾
پلار خپل او قوم خپل ته یقینًا زهٔ ویزاره یم د هغه چانه چه تاسو ئې بندګی کوئے
اِلَّا الَّذِيْ فَطَرَنِيْ فَاِنَّهٗ سَيَهْدِيْنِ ﴿۲۷﴾
مګر هغه ذات چه زهٔ ئې پیدا کړے یم نو هغه به ما ته لار ښائي -
وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِيْ عَقِبِهٖ لَعَلَّهُمْ
او پاتے کړه الله تعالیٰ دا کلمه باقی په اولاد د هغه کښ د دے دپاره چه دوی

۲۵: دا تخویف دے منکرینو ته او تسلی ده رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته او فآء فَانْتَقَمْنَا کښ دپاره د دے ده چه د دوی هیڅ دلیل او عذر پاتے نه شو سوا د ضد او عناد نه نو دا سبب شو د عذاب د دُنیا -

۲۶-۲۷: دا دلیل نقلی دے د ابراهیم علیه السّلام نه په رد د شرک کښ او په رد کولو د دلیل د مشرکانو کښ په اتباع د آباؤ سره حاصل دا دے چه اتباع د مشرانو که شرعی دلیل وے نو ابراهیم علیه السّلام د خپل پلار او د مشرانو د قوم نه په څه وجه مخالفت کوؤ ؟ او دا رنګ ستاسو مشر ابراهیم علیه السّلام هم دے نو چه تاسو د مشرانو په اتباع باندے دلیل نیسے نو د ابراهیم علیه السّلام د اتباع نه ولے انکار کوئے -
اِنَّنِيْ بَرَآءٌ دا لفظ د واحد او د جمع دواړو دپاره استعمالیږی ځکه چه دا مصدر دے او د وصف دپاره راځی په معنیٰ د ذو براءت دے - اِلَّا الَّذِيْ فَطَرَنِيْ دا استثناء متصل ده ځکه چه دوی د الله تعالیٰ عبادت هم کاوۀ دوی به ویل الله تعالیٰ زموږ رب دے او دا نور معبودات زموږ شفعاء دی یا اِلَّا صفتی دے په معنیٰ د غیر سره دے او دا کلمه پشان د کلمے د لا اله الا الله ده - سَيَهْدِيْنِ مراد ترینه استقامت دے ځکه چه په سبب د اعلان د دے کلمے سره ډیر مصیبتونه راځی او په هغے کښ استقامت ته ضرورت دے -

يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۲۸﴾ بَلۡ مَتَّعۡتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمۡ

او گرځي (د گمراهۍ نه) - بلکه مزې د دنیا ورکړې دي ما دوی ته او مشرانو د دوی ته

حَتّٰی جَآءَهُمُ الۡحَقُّ وَرَسُوۡلٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۲۹﴾

تر دې پورې چه راغې دوی ته حق او رسول ښکاره بیان کوونکے -

وَلَمَّا جَآءَهُمُ الۡحَقُّ قَالُوۡا هٰذَا سِحۡرٌ وَّاِنَّا

او هر کله چه راغې دوی ته حق او ویل دوی دا جادو دے او یقینًا موږ

بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ﴿۳۰﴾ وَقَالُوۡا لَوۡلَا نُزِّلَ هٰذَا

په دے باندے کفر کوونکی یو - او اُویل دوی ولے نازل نه کړے شو دا

۲۸ :- په دے کښ وضاحت دے چه دا کلمه په ابراهیم علیه السّلام پورے خاص نه ده د پاره د دے چه مشرکین مکه او نه وائي چه دا کلمه زمونږ د پاره نه ده - وَجَعَلَهَا ضمیر د فاعل الله تعالیٰ ته راجع دے او ضمیر د ها راجع دے ماقبل کلمے ته چه کلمه د توحید ده - یعنی دا کلمه د توحید او د براءة عن الشرك الله تعالیٰ په ټول اولاد د ابراهیم علیه السّلام کښ جاری اوساتله په سبب د دے چه روستو د ابراهیم علیه السّلام نه ټول انبیاء علیهم السّلام یې د دهٔ په اولاد کښ پیدا کړل او هغوی توحید ته دعوت ورکړے دے - عقب ټول اولاد ته وئیلے کیږی نو یهودیان ، نصاریٰ، او مشرکین عرب پکښ ټول داخل دی او دا اجراء د نبوت او د توحید د دهٔ په اولاد کښ په سبب د دُعا د دهٔ سره وه چه هغه په سورة بقره ۱۲۴ ۱۲۹ کښ ذکر ده او قبولیت د دے دُعا په سورة عنکبوت ۲۷ کښ هم ذکر دے -

۲۹ ۳۰ :- په دے ایاتونو کښ زجر دے په انکار د رسول او د قرآن په ذکر د اول سبب د انکار کولو او په دے کښ جواب د یو سوال دے هغه دا دے چه هر کله حجتونه د دوی ټول باطل دی او د ابراهیم علیه السلام کلمه د براءت دوی ته معلومه شویده نو بیا په څه وجه سره انکار کوی نو په جواب کښ هغه سبب ذکر کوی چه هغه مَتَّعۡتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمۡ دے یعنی سره د شرک کولو نه الله تعالیٰ دوی ته مالونه او صحت وعافیت او د دنیا ترقۍ ورکړے دی نو دوی دا خیال اوکړو چه موږ او زمونږ طریقه الله تعالیٰ ته خوښه ده نو چه رسول او قرآن راغے او توحید یې ورته واضح کړو نو دوی انکار اوکړو او دا سے سورة فرقان ۱۸ کښ تیر شویدی

الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾
قران په یو سړی باندے دَ دوؤ کلو نه چه لوئے دے۔
اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ؕ نَحْنُ
آیا دوی تقسیموی رحمت دَ رب ستا موږ
قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
تقسیم کړیدی دَ دوی په مینځ کښ سامان دَ ژوند دَ دوی په ژوند دنیوی کښ
وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ
او پورته کړے دے موږ بعض دَ دوی نه دَ بعضو دَ پاسه په درجو کښ
لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا ؕ وَرَحْمَتُ
دَ پاره دَ دے چه او نیسی بعضے دَ دوی بعضو لره خدمتګاران او رحمت
رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ
دَ رب ستا غوره دے دَ هغه نه چه دوی جمع کوی۔ او که چرے نه جوړیدلے

اول الحق نه مراد قران دے او دویم الحق نه مراد توحید دے چه په قران کښ بیان شویدے۔

ﷺ۳۱۔ دا بل زجر دے او دویم سبب دَ انکار ذکر کوی هغه دا دے چه سبب دَ عظمت په نیز دَ منکرینو مالداری ده او نبوّت ئے حق دَ مالدار ګنړلے دے لکه چه دا عقیده دَ سرمایه دارو وی نو دوی اویل چه په مکه او طائف کښ لوئے مالداران شته نو دا وحی هغوی ته ولے نه نازلیږی۔ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ یو سړے خو دَ دوؤ کلو نشی کیدلے نو عبارت کښ تقدیر دے یعنی من احدی القریتین۔

ﷺ۳۲۔ په دے کښ رد دے دَ هغوی په باطله نظریه باندے چه حاصل دَ هغے دا وؤ چه تقسیم دَ نبوت دوی په خپل اختیار او دَ خپلے رائے موافق ګنړلو هرکله چه دَ دوی دَ رائے نه خلاف اوشو نو دوی انکار کوی حاصل دَ رد دا دے چه نبوت او رسالت خو دَ الله تعالی خاص رحمت دے چه په هغے کښ دَ هیچا اختیار نه رسی نو دوی به څه وے سره دَ هغے تقسیم په خپله رائے سره کوی نَحْنُ قَسَمْنَا الخ دا تاکید دَ رد دَ هغوی دے یعنی هغه دنیا چه یو ذلیل څیز دے دَ هغے تقسیم هم په اختیار دَ دوی کښ نیشته نو دَ عظیم نعمت چه نبوت دے هغه به څنګه دَ دوی په اختیار کښ شی۔

لِّلنَّاسِ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ

خلق | یو وله (په کفر باندے) | خلقا جوړکړے به وو موږهغه چا لره | چه | کفر کوی

مَعِيْشَتَهُمْ مراد دَ دے نه اسباب دَ ژوندون دَ دنیا دی او هرکله چه دا تقسیم په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دے دَ دے وجے نه یو بے عقله ساده انسان به وی او هغه به مالدار وی او بل هوښیار به وی لیکن فقیر به وی دا رنګ کله یو انسان دَ مال ګټلو دَ پاره ډیرے طریقے او حیلے استعمال کړی لیکن مال ورته حاصل نشی او کله یو انسان ته بغیر دَ تکلیف نه ډیر مال حاصل شی نو معلومه شوه چه دا اختیار او تصرف دَ الله تعالیٰ دے۔ او دلیل دَ تقسیم دا دے چه وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ یعنی څوک غنی او څوک فقیر او څوک حُر (آزاد) او څوک مریے او څوک بادشاه او څوک رعیت او څوک هوښیار او څوک کم عقل دا ټول په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دی لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا دا حکمت دَ تفاوت دَ درجاتو دے هغه دا دے چه بعض خادم او نوکر او مزدور شی دَ بعض نورو دَ پاره نو نظام دَ دُنیا به چلیږی په دے معنیٰ سُخْرِيًّا دَ مسخّر کولو نه ماخوذ دے۔ دویمه معنیٰ دا ده چه لام دَ عاقبت دے او سخریا معنیٰ دا چه "وریورے مسخرے کیدے شی" یعنی دَ دغه تفاوت نتیجه او اثر دا دے چه مالدار په غریب پورے مسخرے کوی۔

فائده: په دے ایت کښ رد په نظریه دَ مساوات (سوشلزم) باندے دے چه بعض خلق وائی چه ټول خلق دِ په مال کښ برابر وی دَ غنی او فقیر مرتبے دِ پکښ نه وی او دا نیه نظام دے۔ او څوک وائی چه دا مالداری غریبی دا دَ ظالمانو نظام دے دا تقسیم خو الله تعالیٰ نه دے کړے نو په دے ایت کښ الله تعالیٰ واضح کړه چه دا تقسیم په تفاوت سره زما نظام دے او دَ هغے حکمت ئے هم ذکر کړو۔ که چرے ټول خلق په مال کښ مساوی شی نو بیا هیڅوک دَ بل خدمت نوکری نشی کولے او کورنئ کښ په الفت او محبت او همدردی وغیره اخلاق ختم شی نو دَ دنیا نظام به خراب شی۔ او په کومو ملکونو کښ چه دَ مساوات دعوی کوی هغه بالکل دهوکه ده ځکه چه په هغے کښ څوک دَ دنیا دَ عزت په کار باندے مشغول دے لکه بادشاه او افسر دے مخدوم دے او څوک دَ ذلت په کار کښ مشغول دے نو دعویٰ دَ مساوات ئے باطله ده۔ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ اشاره ده چه نبوت اعلیٰ او اشرف دے دَ دُنیا دَ خیزونو نه نو دَ هغے اختیار هم دَ الله تعالیٰ سره دے۔

بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ

په رحمان باندے ، دَپاره دَ کورنو دَهغوی ، چتونه ، دَ سپینو زرو

وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَلِبُيُوْتِهِمْ

او پاوړے ، چه په هغے باندے دوی ورختیږی ۔ او دَپاره دَ کورنو دَ دوی

اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَزُخْرُفًا

دروازے ، او کټونه ، چه په هغے باندے آرام کوی ، او ورکړے به دوما) سرۂ زر

سلا ۳۳ سلا ۳۴ سلا ۳۵ ۔ یه دے ایاتونوکښ ذلت دَ دُنیا ذکرکوی متعلق دے دَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ سره او دا رنګ متعلق دے دَ سلا ۳۱ سره یعنی یل رد دَهغوی په قول باندے چه هغوی سبب دَ عظمت مالداری ګنړی نو الله تعالیٰ دَ هغے ذلت ذکرکوی ۔ حاصل دا دے چه دَ دنیا مالونه دَ الله تعالیٰ په نیز دومره ذلیل دی چه دَ مؤمن دَ شان سره هیڅ مناسبت نه لری بلکه دَ کافرانو سره پوره مناسبت دے نو پکار خو دا وه چه الله تعالیٰ دا ټول مالونه کافرانو له ورکړے وے او مؤمنانو ته په کښ هیڅ نه ورکولے لیکن یو حکمت الهیه دَ دے نه مانع دے هغه دا دے چه بیا به ټول خلق کافر شی مؤمن به پکښ هیڅوک نه وی نو معلومه شوه چه کله یو شے فی نفسه قبیح وی خو دَ یو سبب په وجه سره هغه حسن لغیره اوګرځی او تائید دَ دے هغه حدیث دے که دَ دنیا وزن (عزت) دَ الله تعالیٰ په نیز دَ ماشی دَ وزر په مقدار وے نو کافر ته به یے ترینه یو ګوټ هم نه وے ورکړے ۔ وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لولا شرطیه دے په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه وجود دَ شرط سبب دَ نفی دَ جزا وی اوکه وجود حقیقی وی یا نفی دَ جزا سبب وی دَپاره دَ نفی دَ شرط کله چه وجود فرضی وی دلته رو سته معنیٰ ده او مراد دَ امة واحدة نه دَ ټولو خلقو کافر کیدل دی یا ګرځیدل دَ ټولو طلب ګار ځے دَ دُنیا ته دی معنیٰ دا ده که چرے نه وے دَ ټولو خلقو کافر کیدل دَ الله تعالیٰ خوښ نه دی نو دَ دے وجے نه کافرانو ته یے ټول مالونه نه دی ورکړے او برعکس مطلب یے دا دے چه ټول مالونه الله تعالیٰ کافرانو له نه دی ورکړی دَپاره دَ دے چه ټول خلق کافران یا دنیا پرست نه شی ۔ لِمَنْ يَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ یعنی صفت دَ رحمانیت خو تقاضا کوی چه ټول نعمتونه لوټے او واړه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دی او دوی دَ هغه سره شریک یا ولد جوړوی سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ چهتونه او پاوړے او دروازے او کټونه دا څلور ځے دَ دے وجے نه خاص ذکر کړل چه عادت دا دے

چه دا جوړیږي د لرګو نه یا د او سپینو نه او نور ابادي سیمتو خښتو کښو ته کیږي نو چه کوم
د او سپینو یا لرګو نه جوړیږي نو هغه په ئے د سپینو زرو نه جوړ کړے وے او سپین زر
ئے د دے وجے نه خاص کړل چه د هغے سره په مکان کښ زانزا هم وی - اول خو د
کمرے چهت ضروری وی نو بیا چهت نه د ختلو ذریعه چه معارج دی نو بیا دروازے
پکار وی نو روستو کښو نه د کیناستلو او ارام کولو دپاره پکار وی د دے وجے نه په دے
ترتیب سره ئے ذکر کړل - وَزُخْرُفًا عطف دے په محل د من فضة نو معنیٰ دا چه
چهتونه په د سپینو او سرو زرو وے یا مفعول دے د فعل پټ د پاره یعنی
ویجعل لهم زخرفًا او زخرف سرو زرو نه وئیلے کیږي لکه او یکون لك بیت
من زخرف (اسراء) او دارنګ زینت او ښائست نه هم وئیلے کیږي لکه حتی اذا اخذت
الارض زخرفها (یونس) - (سوال) هرکله چه ډیر مالونه کافرانو ته ورکول
سبب ګرځیدلے شی دپاره د کفر د عامو خلقو نو مؤمنانو له په ئے ډیر مالونه ورکړی
وے نو ټول خلق به مؤمنان ګرځیدلے وے؟ (جواب) دغه ایمان چه د دنیا
دپاره وی نو هغه ایمان په شرع کښ اعتبار نه لری د دے وجے نه د هغه حالت
ذکر ئے اونکړو -

۳۶ :- د دے ایت نه تر ۵۶ پورے دویم باب دے په دے کښ زجر او تخویف
دے معرضینو د قران نه بیا تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم نه او صداقت
د قران دے بیا دلیل نقلی اجمالی دے بیا دلیل نقلی تفصیلی دے د موسیٰ علیه السلام
نه بیا زجر دے منکرینو نه او دلیل نقلی تفصیلی دے د عیسیٰ علیه السلام نه -
په دے (۳۶) کښ ذکر دے په اعراض کولو سره (پلټی په بل مخ)

لَيَصُدُّوْنَهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ

خامخا اړوی دوی لره د لارے (د حق) نه او دوی ګمان کوی چه دوی

مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۷﴾ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَنَا قَالَ يٰلَيْتَ

هدایت والا دی - تر دے پورے چه کله راشی موږ ته وائی په حالت ارمان دے

دَ قرآن نه چه داپیدا کیږی په سبب دَ محبت دَ دنیا سره چه مخکښی ایت کښی دَ هغے ذلت بیان شو. وَمَنْ يَّعْشُ دا دَ عشا یعشو نه اغستلے شوے دے اعشٰی کمزوری نظر والا ته ویلے کیږی اوهغه ځوک چه دَ شپے ئے نظر نه لګی او دَ ورځے لګی او دَ چاچه نظر صحیح وی لیکن قصدًا ځان ړوند کړی نو دَ هغه دَ پاره عشی یعشٰی استعمالیږی اودلته اکثر قراءة په پیښ دَ شین سره دے یعنی اوله معنٰی مراد ده او په دے کښی لطیفه اشاره ده چه دَ قرآن نه معمولی (لږ) اعراض اوکړی نو سبب دَ عذاب دے نو چه پوره اعراض ئے کړے وی نو هغه په طریقه اولے سره هلاک او تباه دے. نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا. تقییض په اصل کښی پیوست کیدل دَ پوستکی دَ اګئ دی په اګئ پورے او دَ پاترو دَ پیازو دی په یو بل پورے نو دا کنایه ده دَ پوره مسلّط کیدلو نه. شیطان عام دے که انسی وی او که جنّی وی فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ یعنی هیڅ وخت تر ینه نه جدا کیږی یعنی باطلے عقیدے عملونه اخلاق معاملات وغیره ورته خائسته کړی او دَ حلالو ئے منع کوی او دَ طاعت نه منع کوی او حرام او معصیت ورته خائسته کړی. په دے ایت کښی دلیل دے چه چا قرآن پریخودلو او دَ هغے نه ئے معمولی غفلت اوکړو نو شیطانانو ته دَ داسے سړی ګمراه کول اسان شی نو قرآن مضبوطه کلاه ده دَ شیطان نه دَ بچ کیدلو دَ پاره. یو خو دَ دے وجے نه چه په قرآن کښی دَ شیطانی شبها تو پوره جوابونه دی او بل دا چه په قرآن کښی الله تعالی برکت

سے ۳۷. وَاِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ ضمیرونه دَ جمع ئے ځکه راوړل چه من او شیطان په معنٰی دَ جمع کښی دی السَّبِيْلِ مراد تر ینه سبیل الله ده چه هغه قرآن دے او ذکر الرحمان دے وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ اشاره ده چه ګمراهی دوه قسمه ده یو دا چه ګناه ورته ګناه ښکاری لیکن دَ بے پروائی دَ وجے ئے کوی نو دا خو مرتبه دَ فسق ده او دویم قسم دا چه ګناه ورته ثواب ښکاری او په هغے کښی فائدے ګنړی نو دا مرتبه دَ بدعت ده که په عقیده کښی وی او که په عمل کښی وی او دا درجه ډیره خطرناکه ده ځکه چه انسان دَ دے نه توبه نه اوباسی په دے وجه چه ښه کار ئے ګنړی نو دلته دا دویمه مرتبه مراد ده لکه په سورة کهف ۱۰۳ او فاطر ۸ کښی دی او په دے کښی اشاره ده چه

ډ ښهٔ او بد تمیز په قرآن سره کیږی او دے انسان خو ډ هغه نه اعراض کړے دے
ډ دے وجے نه بدکار ته ښهٔ کاروائی.

۳۸:- په دے کښ تخویف اخروی دے. إِذَا جَآءَنَا ضمیر من یعش ته راجع دے
او عبادت کښ پټ والے دے یعنی فعلم ضلاله (پخپله گمراهئ باندے عالم
شی) نو ارمان به اوکړی. بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ یعنی چه ستا نه دومره لرے
وے لکه چه مشرق ډ مغرب نه لرے دے یا مشرق ډ ژمی او ډ اوړی چه ډیو
بل نه لرے دی.

۳۹:- دا هم تخویف کښ داخل دے او جواب ډ سوال دے هغه دا دے چه کله
بلاء عامه وی نو اسانه وی نو چه په عذاب کښ ډیر خلق شریک وی نو آسان
به وی ؟ جواب اوشو چه عذاب ډ جهنم ډ خلقو په ډیروالی سره نه آسانیږی
یا دا سوال دے چه افسوسونه او ارمانونه ډیر شی نو خه غم به سپک شی نو
جواب اوشو چه دا هم نفع نه ورکوی وَلَن يَنفَعَكُمُ ضمیر راجع دے مخکښ
قول ته چه یالیت بینی و بینک الخ او أَنَّكُمْ کښ لام اجلیه پټ دے یا
فاعل ډ لن ینفعکم أَنَّكُمْ دے. إِذ ظَّلَمْتُمْ اذ ډ پاره ډ علت دے او مراد تری نه
شرک دے. ډ ظرف ډ پاره نه دے ځکه ډ ظلم زمانه هم دنیا ده او الیوم نه مراد
آخرت دے نو ظرفیت نه صحیح کیږی.

فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۴۰﴾ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ

په گمراهئ ښکاره کښې . تو که چرې یوځو مونږ تا

فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ﴿۴۱﴾ اَوْ نُرِیَنَّكَ

نو یقیناً مونږ ډ دوی نه بدله اخستونکی یو یا به اوښایو تا ته

الَّذِیْ وَعَدْنٰهُمْ فَاِنَّا عَلَیْهِمْ مُّقْتَدِرُوْنَ ﴿۴۲﴾

هغه عذاب چه وعده کړې ده مونږ د دوی سره نو یقیناً مونږ د دوی په عذاب باندې پوره قدرت لرو.

فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِیْٓ اُوْحِیَ اِلَیْكَ ۚ اِنَّكَ

نو کلک اونیسه هغه چه وحی کړې شویده تا ته یقیناً ته

۴۰:۔ په دې ایا تونو کښې تسلّی ده نبی صلّی الله علیه وسلّم ته په مختلفو طریقو سره په دې ایت کښې اوله طریقه ده چه که چرې دا خلق د قران نه اعراض کوی او ایمان نه راوړی نو په تا باندې هیڅ وبال نیشته ځکه چه مانع د دوی د طرف نه دې چه د قران نه کاڼه او ړانده دی۔ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ فِیْ د انغماس (ډوبیدلو) د پاره راځی یعنې چه په گمراهئ کښې د هر طرف نه ډوب او راگیر دی لارې د هدایت ورته بندې دی۔

۴۱، ۴۲:۔ په دې کښې دویمه طریقه د تسلّئ ده یعنې مونږ به دې منکرینو ته ضرور عذاب ورکوو یا به ستا د هجرت یا وفات نه روستو عذاب ورکړو یا به ستا په حضور کښې عذاب راولو نو ته هیڅ پرواه مکوه او دا رنگ په سورة یونس ۴۶ او سورة رعد ۴۰ او سورة غافر ۷۷ کښې تیر شویدی۔ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ اذهاب نه مراد یا هجرت کول دی د مکې نه یا وفات کیدل دی۔ اَوْ نُرِیَنَّكَ په دویمه معنیٰ د اذهاب کښې دلیل دې چه اراءة (لیدل) مقابل د وفات دې یعنې روستو د وفات نه د دنیاوالو حالات نشی لیدلې او د حسن او قتاده په روایت کښې د دې ایا تونو مصداق واقع کیدل د فتنو دی په مسلمانانو کښې روستو د وفات د نبی صلّی الله علیه وسلّم نه نو الله تعالیٰ د نبی صلّی الله علیه وسلّم په ژوند کښې هغه نه هغه حالات اوخودل په امت کښې چه هغه پرې خوشحاله شو او روستو د وفات نه فتنې شورو شوې او دا اکرام دې زمونږ د نبی صلّی الله علیه وسلّم ځکه چه د نورو انبیاء علیهم السلام په ژوند کښې د هغوی په امتونو به عذابونه راتلل۔

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ

په لار تیغه پاندے یئے۔ او یقینًا داقرآن ذکر ستا دے

وَلِقَوْمِكَ ۚ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَسْـَٔلْ مَنْ

او ستا دَ قوم دے او زردہ چه تاسو ته په تپوس اوکړیشی۔ او تپوس اوکړه دَ هغه چاته

اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَا ۤ اَجَعَلْنَا مِنْ

چه لیږلے دی موږ ستا نه مخکښ رسولان زموږ چه ایا جوړ کړیدی موږ

دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَلَقَدْ

سوا دَ رحمان نه نور واګداران دَ نفع او ضرر چه دَ هغوی عبادت کیدلشی۔ او یقینًا

۴۳:۔ په دے کښ تشجیع دہ نبی صلی اللہ علیه وسلم ته روستو دَ تسلّی نه یعنی که دا خلق منی او که نه منی خو ته په کتاب دَ اللہ تعالیٰ باندے کلک شه په بیان کولو او عمل کولو او دلیل نیولو کښ اِنَّكَ دا اول علت دے دَ ماقبل یعنی څوک چه په صراط المستقیم باندے وی نو په هغه باندے تمسّک په کتاب اللہ سره لازم دے او دا دلیل دے چه لار دَ نبی صلی اللہ علیه وسلم صراط مستقیم دہ۔

۴۴:۔ دا دویم علت دے دَ فاستمسك دَپاره۔ لَذِكْرٌ په معنیٰ دَ شرافت او عزت دے او قوم نه مراد قریش او عرب دی یعنی دَ دوی په لغت کښ نازلیدل دَ قرآن دَ دوی شرافت دے یا ذکر په معنیٰ دَ وعظ او تذکرہ دے او دَ قوم نه مراد ټول امت دے وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ تپوس به کیدیشی په باره دَ نعمت دَ قرآن کښ دَ لوستلو او دَ عمل کولو او دَ بیان کولو په باره کښ په ایت کښ اشارہ دہ چه قرآن دَ نعمتونو دَ اللہ تعالیٰ نه یو ډیر لوئے نعمت دے۔

۴۵:۔ دا دلیل نقلی اجمالی دے دَ ټولو انبیاؤ علیهم السلام نه لکه چه په سورۃ نحل ۳۶ او سورۃ انبیا ۲۵ کښ دے او مخکښ سره ربط ئے دا دے لکه چه په قرآن کریم کښ ذکر دَ توحید دے نو داسے دَ انبیاؤ دعوت هم دَ توحید دَپاره وو نو دعوت دَ قرآن موافق دے دَ دعوت دَ ټولو رسولانو سره۔ وَاسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا (سوال) زموږ دَ رسول صلی اللہ علیه وسلم زمانه دَ پیدائش او دَ ژوند کښ خو نور پیغمبران نه وو نو هغه ته څه رنګ امر اوشو چه دَ هغوی نه تپوس اوکړه؟ (جواب) اول جواب دا دے چه دا حکایت دَ شپے دَ اسراء دے چه په دغه شپه دَ بعض انبیاو سره ملاقات اوشو نو ورته امر اوکړے شو چه اوس دَ دوی نه تپوس اوکړه لکه چه دا روایت

(باقی په بل مخ)

أَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ

لیږلے وؤ مونږ موسٰی علیه السّلام په معجزاتو زمونږ سره فرعون ته

وَمَلَا۟ئِهٖ فَقَالَ اِنِّىْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۶﴾

او غټانو دَ قوم دَ هغه ته نو اُوئیل هغه یقینًا زهٔ رسُول دَ رب دَ عالمیتو یم۔

فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِاٰيٰتِنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا

نو هر کله چه راغے دوی ته په معجزاتو زمونږ سره دغه وخت دوی په هغه پورے

قرطبی ابن کثیر وغیره نقل کړے دے بیا پکښ دوه روایتونه دی اول دا چه هغه ترے تپوس اوکړو نو هغوی ورته جواب اوکړو چه مونږ په توحید بانده ے رالیږلے شوے یو دویم روایت دا دے چه هغه تپوس نه دے کړے اُوئیل ئې چه زما یقین دے نو تپوس ته حاجت نیشته او امر دَ وَاسْأَلْ دَ پاره دَ وجوب نه وؤ بلکه دَ پاره دَ الزام وؤ په مشرکانو بانده ے. دویم جواب دا دے چه په عبارت کښ حذاف دے یعنی امم من ارسلنا. یا من ارسلنا الیهم او مراد ترینه یهود او نصارٰی دی چه موجود وو په زمانه دَ نبی صلّی اللّٰه علیه وسلّم کښ او مقصود په دے کښ الزام وؤ په مشرکین عرب بانده ے. دریم جواب دا دے چه عبارت کښ حذاق دے یعنی کتب من ارسلنا او دَ سوال نه مراد نظر کول دَ هغوی په کتابونو او دیتو نو کښ دَ لکه تورات او انجیل او دَ دے وجے نه دَ دے نه روستو ایاتو نو کښ حال دَ موسٰی او دَ عیسٰی علیهما السّلام ئې ذکر کړے دے. اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً په دے لفظ جعلنا کښ اشاره ده چه دَ مشرکانو سره اختلاف دَ مؤحدینو په مجعول الهو کښ دَ لکه چه اوس بعض خلق هغوی ته عطائی وائی او عوام تعبیر کوی چه اولیاؤ بزرګانو ته الله تعالٰی برخے ورکړے دی چا ته ئې اختیار ورکړے دے دَ اولاد ورکولو چا ته ئې اختیار ورکړے دَ مال ارکولو چا ته دَ ګوزن لرکولو چا ته دَ باد و لرکولو چا له دَ دانو جوړولو او چا له ئې مطلق واک ورکړے دے او چا ته ئې علم غیب عطائی ورکړے دے. یعنی دوی دَ الله تعالٰی نه سوا مستقل اِلهه نه دی ګڼړلی او دا حقیقت دَ شرک دے یُعْبَدُوْنَ دَ عقیدے دَ الوهیت سره عبادت کول لازم دی او اَجَعَلْنَا کښ همزه دَ استفهام انکاری دے لکه چه سورة نحل ۳۶ او انبیاء ۲۵ پرے ګواه دی.

۴۶ تا ۴۷ ـ دا دلیل نقلی تفصیلی دے دَ موسٰی علیه السلام نه او عاقبت دَ تکذیب کوؤنکو ذکر کوی په واقعه دَ فرعونیانو سره او دَ ۳۱ سره هم تعلق لری یعنی لکه

يَضْحَكُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ اِلَّا

خندا كوله - او نه خودله موږ دوی ته هيڅ معجزه مگر

هِيَ اَكْبَرُ مِنْ اُخْتِهَا وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ

هغه به غټه وه د ملګرې د هغې نه او نيولي وو موږ دوی لره په عذاب سره

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ ادْعُ لَنَا

دے د پاره چه اوګرځي د ګمراهئ نه - او دوی اُويل اے جادوګره دُعا اُوغواړه موږ لره

چه آخری رسول باندے مشرکین مکه طعن کوؤ چه دے مسکین او غريب دے نو دا سے فرعون هم د موسٰی علیه السّلام په باره کښ اعتراض کړے وؤ یعنی د فرعون په مقابله کښ موسٰی علیه السّلام فقیر مسکین وؤ بِاٰیٰتِنَا مراد د دے نه نهه معجزات دی چه سورة اعراف ۱۰۷ ۱۰۸ ۱۳۰ ۱۳۳ او سورة اسراء ۱۰۱ کښ ذکر شوی دی رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ په دے کښ اثبات د رسالت او ذکر د مرسِل دے او اشاره ده مرسَل به ته چه هغه مسئله د توحید د ربوبیت ده چه فرعون د هغې نه منکر وؤ يَضْحَكُوْنَ مراد د خندا کولو نه استهزاء او مسخرے کول دی په دے وصف راوړلو کښ اشاره وه د هغوی ډیرے سرکشئ کولو ته ځکه چه خندا کوونکے سوچ او فکر نه کوی. ۴۸. اشاره ده چه د دوی خندا کول بے ځایه وو ځکه چه دغه آیات واړه او معمولی نه وو. (سوال) مِنْ اٰيَةٍ اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ دا لفظ خو تقاضا کوی چه هره یوه معجزه د بلے نه لویه وه نو اوله د دویمے نه لویه وه نو دویمه د اولے نه لویه وه او دا خو د حقیقت نه مخالفه خبره ده چه اکبریت (په تفضیل سره) په دواړه جانبو کښ نشی کیدلے (اول جواب) دا دے چه دا اکبریت د هریو په زعم د لیدونکی کښ دے د دے وجے نه چه هغه ټول آیات په لوے والی کښ شریک وو، (دویم جواب) دا دے چه په آیت کښ تخصیص دے یعنی ما نریهم من آیة (متاخرة) الا هی اکبر من اختها (السابقة) هره یو روستنئ د مخکښ نه لویه وه - ځکه په اول آیت سره یو علم حاصل شو نو په دویم آیت کښ د مخکنی علم نه علاوه بل علم حاصل شو نو دوه علمونه شول علٰی هذا القیاس تر دے چه په نهم آیت کښ نهه علمونه حاصل شول. وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ په دے کښ اشاره وه چه بعض آیات په شکل د عذابونو کښ وو.

رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴿۴۹﴾

دَ رب خپل ته په دے وجه چه وعده ئے کړیده ستا سره یقینًا موږ به هدایت قبول کړو -

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ ﴿۵۰﴾

نو هرکله چه لرے کړو موږ دَ دوی نه عذاب دغه وخت دوی وعده به ماتوله -

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ

او آواز اوکړو فرعون په قوم خپل کښ اُویل ئے اے قومه

أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ

آیا نیشته ماله بادشاهي دَ مصر او دا ولے هم

تَجْرِي مِنْ تَحْتِي ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿۵۱﴾

بهیږي لاندے دَ حکم زما ته آیا نو تاسو نه وینئ -

سل۴۹ ن۵: دا دَ مشرکانو عادت دے چه په سختئ کښ دَ خپلو معبودان باطله نه نا امیده شي او دَ الله تعالیٰ نه مراد غواړي نو دا سے فرعونیانو هم په دُعا دَ موسیٰ علیه السّلام سره وسیله اونیوله الله تعالیٰ ته او دا دلیل وو چه دَ دوی کفر عنادًا وو -
یَا اَیُّهَا السّٰحِرُ (سوال) هرکله چه دوی مجبوره شو ودے دُعا ته نو دَ موسیٰ علیه السّلام بے عزتي په وصف دَ ساحر سره ولے کوله ؟ اول جواب چه دَ دوی په اصطلاح کښ عالم ته په ساحر ویلے کیدلو دویم دا دے چه دا دَ نهایت جهل دَ وجے نه چه دوی خپل عادتي خبره نه پریږدي - بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ عهد نه مراد امن ورکول دي دَ عذاب نه په سبب دَ ایمان راوړلو او دا ذکر ده په طٰه سکټ کښ او هرکله چه دا دَ سورة اعراف په تفصیلي واقعاتو ذکر کوولو باندے وه نو هلته بعض کلمات ئے په نسبت دَ دے سورت سره زیات ذکر کړے دي - او په دے سورت کښ اختصار مقصد دے -

سل۵۱: هرکله چه فرعون سره دَ آیاتو دَ موسیٰ علیه السّلام او دَ استجابت دَ دُعا دَ هغه نه ویره پیدا شوه چه زما قوم به زما نه مخالفت اوکړي او دَ موسیٰ علیه السّلام سره به ملګري شي نو دَ خپل قوّت مظاهره کوي او تکبر کوي په دنیوي بادشاهئ باندے او دَ موسیٰ علیه السّلام توهین او تذلیل کوي او په دے کښ اشاره ده عذر دَ نقض عهد ته هم چه زهٔ دَ موسیٰ علیه السّلام سره لوظ دَ دے وجے نه پوره کوم نه

أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِّنْ هٰذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ ۙ
ایا زهٔ غوره یم دَ دے سړی نه چه دے ذلیل دے

وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾ فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ
او نه دے نژدے چه ښکاره خبره اوکړی ۔ نو ولے نه شی راغورځیدلے په دهٔ باندے

چه زهٔ خاوند دَ قوت یم. وَنَادٰی فِرْعَوْنُ اعلان دَ حکومت په طریقه دَ منادی سره وی دَ دے وجے نه تعبیر ئے په نادیٰ سره اوکړو اَلَیْسَ لِیْ مُلْکُ مِصْرَ لفظ دَ لِیْ ئے مخکښ کړو اشاره ده حصر او تخصیص ته یعنی بادشاهی دَ مصر خاص زما ده ما سره پکښ هیڅوک شریک نیشته باقی خلق خو زما رعیت دے. وَهٰذِهِ الْاَنْهٰرُ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِیْ اول جمله کښ نظام قانون ته اشاره ده او په دے جمله کښ معاشی نظام ته اشاره ده چه دا دواړه زما په اختیار کښ دی ۔ دَ رود نیل نه ئے ډیر نهرونه جدا کړے وو چه دَ هغے نه څلور غټ نهرونه وو او په کورونو، محلاتو او باغاتو کښ چلولے وو. دَ هغه څلورو نوموته دادی ۱ نهر الملِک، ۲ نهر طولون، ۳ نهر تِنّیس، ۴ نهر دمیاط. او بعض مفسرینو ویلے دی چه مراد دَ انهار نه دَ ملک مشران سرمایه داران وغیره دی او بعضو ویلے دی چه مراد تری نه مطلق مالونه دی ۔

۵۲ ۔ په دے کښ دَ موسیٰ علیه السّلام تحقیر او سپکوالے کوی. هُوَ مَهِیْنٌ یعنی قوت دَ ملکیت او بادشاهی ئے او مال ئے نیشته نهرونه ئے نیشته کارونه په خپله کوی وَلَا یَکَادُ یُبِیْنُ یعنی فصاحت بلاغت ئے نیشته خپل مقصد صاف نشی بیانولے۔ او دا دواړه خبرے دَ دهٔ ښکاره دروغ وو ځکه چه موسیٰ علیه السّلام خو ډیر عزت متند شریف اخلاقو والا ښائسته صورت والا وو حدیث دَ بخاری او مسلم کښ راغلے دی نبی صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلی دی "چه ما دَ اسراء په شپه کښ موسیٰ علیه السّلام لره اولیدلو چه سړے سُور رنګ ته مائل غنم رنګے دنګ قد والا ګنګوچے ویښتو والا وو ګویا که دے دَ سړو دَ شنوءَ قبیلے نه وو۔"
او دَ موسیٰ علیه السّلام رعب وو په فرعون باندے او دا رنګ موسیٰ علیه السّلام ډیر فصیح او بلیغ وو که چرے دَ هغه په ژبه کښ غوټه وه وروکوالی کښ نو په دُعا (واحلل عقدة من لسانی) سره ختم شویوه ۔ لیکن دا دَ متکبرینو عادات دی چه په دروغو اوصافو سره حق پرست خلق موصوف کوی ۔

أَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ أَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ

کړې د سرو زرو یا نه راغلې د ده سره ملائیک

مُقْتَرِنِينَ ﴿۵۳﴾ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ ؕ

چه مقونه بې تړلې دی ۔ نو دهوکه یې کړه قوم خپل نو هغوی د ده تابعداری وکړه

إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿۵۴﴾ فَلَمَّآ

بیقینا هغوی وو قوم نافرمان ۔ نو هرکله چه دوی

۵۳:۔ دا هم تحقیر او تکذیب د موسٰی علیه السّلام کوی په طریقه د قیاس د رسولانو د الله تعالٰی په قاصدانو د بادشاهانو د دنیا په هغه زمانه کښ چه هغوی به قاصدان خپل نه چه هغه به ډیر مقرب وو په لاسو نو کښ د سرو زرو بنګړی او کنګن اچول او د هغه په ملګرتیا کښ به یې ډیر خدمتګاران روانول د دے وجے نه فرعون په موسٰی علیه السّلام باندے دا دواړه اعتراضونه اوکړل او ثابتول یې چه دے رسول نه دے لیکن دا قیاس د دوی باطل دے بلکه رسولان د الله تعالٰی چه دی نو په غیبی قوتونو سره د هغوی امداد کیږی او دنیوی زیب و زینت ته د هغوی حاجت نه وی.

فائده:۔ فرعون په اوبو سره ځان له عزت حاصلوؤ نو الله تعالٰی ده لره په اوبو سره هلاک کړو اشاره ده چه چا بغیر د الله تعالٰی نه په بل څیز سره تعزز او مدد حاصلوؤ نو الله تعالٰی به ده لره هغه سبب د هلاکت اوګرځوی. او دارنګ فرعون موسٰی علیه السّلام ته سپک کتل او د تقریر او د عدم فصاحت عیبونه په هغه باندے ویل نو الله تعالٰی هغه لره په فرعون باندے مسلّط کړو.

۵۴:۔ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ دا مخکښ دعویٰ د فرعون او سپکوالے د موسٰی علیه السّلام سبب اوګرځیں د جهل د قوم فرعون د پاره او دغه جهل سبب شو د اطاعت د هغوی فرعون لره فَأَطَاعُوهُ او دغه خبرے د فرعون سبب د جهل د قوم په دے وجه سره اوګرځیدو چه دوی پوره فاسق او نافرمان وو إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ -

فائده:۔ طریقه د پیرانو او عالمانو باطل پرستو هم د فرعون پشان ده چه دوی خپل مریدان شاګردان د علم د قرآن او سنّت او د تحقیق نه منع کوی د پاره د دے چه جاهلان پاتے شی نو د دوی اطاعت به کوی ۔

اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِیْنَ ﴿۵۵﴾

خفه کړو موږه بدله مو واغستله د دوی نه نو غرق کړل موږ دا ټول

فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِیْنَ ﴿۵۶﴾

نو اوګرځول موږ دوی تیر شوے نمونه او عبرت د پاره د روستنو.

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْیَمَ مَثَلًا اِذَا قَوْمُكَ

او هرکله چه ذکر کړے شی ځوئے د مریم د مثال په طور یا نا ګاه دغه وخت ستا قوم

۵۵:۔ په دے ایت کښ د فرعونیانو عذاب ذکر کوی د پاره د تخویف د نورو منکرینو. فَلَمَّا اٰسَفُوْنَا اسف په معنیٰ د غضب دے او دا هم صفت د الله تعالیٰ دے خو مشابه د مخلوق سره نه دے او اشاره ده غضب غیر دے د انتقام نه ځکه چه انتقام یے روستو ذکر کړے دے. د عمر بن ذر نه قرطبی نقل کړیدی هغه به ویل "لے ګناه ګارو خلقو د الله تعالیٰ په ډیر حلم یاندے مه مغرور کیږئے بلکه د هغه د غضب نه ویره کوئے او دا ایت یے اولوستلو". او ابن جریج یو کړته غصه شو نو چا ورته اُویل چه لے ابو خالده ته هم غصه کوے نو هغه اُویل "چه خالق د احلامو (جمع د حلم ده صبر ته ویلے کیږی) هم غصه کیږی او دا ایت یے اولوستلو".

۵۶:۔ سَلَفًا دا جمع د سالف ده لکه خدم جمع د خادم ده یا دا مصدر دے اطلاق یے په جماعت یاندے هم کیږی او سلف مطلق متقدمینو ته ویلے کیږی که خیر دی او که شر وی د دے وجے نه د مدح په وخت کښ د دے سره قید د صالح او صالحین لګیدلے شی. او فرق په مینځ د سلف او مثل کښ یو څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه سلف تیر شوے نمونه د عذاب او مثل واقعه د عبرت حاصلولو د پاره. دویمه وجه سلف مقتدا د هغه چا د پاره ده چه علو او فساد کوونکی دی او مثل خبره عجیبه شان والا. دریمه وجه سلف د هغه چا د پاره چه د دوی پشان عمل یے کړے دے په زمانه د دوی کښ او مثل د هغه چا د پاره چه روستو د هغوی پشان عمل کوی. څلورمه وجه سلف مخکښ تلونکی اور ته او مثل وعظ د پاره د روستنو خلقو. پنځمه وجه بنی اسرائیل سلف شو په نجات موندلو کښ د صالحانو د پاره او فرعونیان مثل شول د ناکاره خلقو د پاره. فَجَعَلْنٰهُمْ ضمیر دواړو ته په جمع سره راجع دے.

مِنۡهُ يَصِدُّوۡنَ ﴿۵۷﴾ وَقَالُوۡٓا ءَاٰلِهَتُنَا خَيۡرٌ

دَ دے دِجه ته شور کوی . او وائی آیا زمونږ معبودان غوره دی

اَمۡ هُوَ ؕ مَا ضَرَبُوۡهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ؕ بَلۡ هُمۡ

یا دے . ته ذکر کوی دوی تاته دا خبر مګر دَ ضد دَپاره بلکه دوی

قَوۡمٌ خَصِمُوۡنَ ﴿۵۸﴾ اِنۡ هُوَ اِلَّا عَبۡدٌ اَنۡعَمۡنَا

قوم دے جګړه مار . نه دے دے مګر یو بنده چه نعمت کړے دے مونږ

ف۵۷ ف۵۸ :- دا زجر دے او تمهید دے واقعے دَ عیسیٰ علیه السلام دَپاره. دَ دے په ربط کښ دَ ما قبل سره دوه احتمالونه دی اول دا چه مخکښ جدال او عناد دَ فرعونیانو دَ موسیٰ علیه السلام په مقابله کښ ذکر کړے شو نو اوس ضد او عناد دَ مشرکین مکه ذکر کوی په مقابله دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم کښ حاصل ئے دا دے چه نبی صلّی الله علیه وسلّم ذکر دَ احوالو دَ عیسیٰ علیه السّلام په وخت په وخت کاوۀ دَ اثبات دَ توحید او دَ رد دَ مشرکینو دَپاره نو مشرکینو به شور کاوۀ چه دے هر وخت دَ عیسیٰ علیه السّلام ذکر مونږ ته کوی نو دَ دۀ مقصد دا دے چه زما ته اِله جوړ کړئے لکه چه نصاریٰ دَ عیسیٰ علیه السلام نه الٰه جوړ کړے وۀ نو معنیٰ دَ ءَاٰلِهَتُنَا خَيۡرٌ اَمۡ هُوَ چه زمونږ اٰلِهه غوره دی او که دَ محمد صلّی الله علیه وسلّم! بلکه زمونږ اٰلهه غوره دی. دویم احتمال دا دے چه دَ دَ ربط دے ایت ۴۵ سره حاصل ئے دا دے چه هر کله اُوبلے چه دَ هیڅ رسول په دین کښ دَ مجعول اِله اجازت نیشته. نو هر کله چه دوی په قران کښ دَ عیسیٰ علیه السلام ذکر واؤریدلو نو دوی شور اوکړو چه ولے عیسیٰ علیه السّلام ته الوهیت نه وۀ ورکړے شوے؟ او هر کله چه عیسیٰ علیه السّلام مجعول اِله دے نو زمونږ اٰلِهه دَ دۀ نه غوره دی نو هغوی هم مجعول اٰلِهه دی نو معنیٰ دَ ءَاٰلِهَتُنَا خَيۡرٌ اَمۡ هُوَ زمونږ اٰلهه غوره دی او که عیسیٰ علیه السّلام! بلکه زمونږ اٰلهه غوره دی. دریم قول په دے ایت کښ دا دے چه سورة انبیاء کښ ذکر شوه چه یقیناً تاسو او ستاسو معبودان ماسوی الله به دَ جهنم خاشاک وی. نو هر کله چه دَ عیسیٰ علیه السّلام په قران کښ ذکر راغ اورد اوکړے شو په نصاریٰ باندے نو مشرکینو دغه وخت کښ شور اوکړو چه په معبودان من دون الله کښ عیسیٰ علیه السلام داخل دے نو چه هغه جهنم ته داخلیږی نو زمونږ اٰلِهه دِ ورته هم داخل شی هیڅ پرواه نیشته او مقصد

عَلَيْهِ وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۵۹﴾

په هغه باندے او گرځولے دے مونږ هغه نمونه د پاره د - بنی اسرائیلو -

د دوی اعتراض کول وو په نبی صلی الله علیه وسلم باندے چه دے عیسٰی علیه السلام ته جهنمی وائی نو معنی د اٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ داده چه زمونږ الهه غوره دی او که عیسٰی علیه السلام لیکن عیسٰی علیه السلام خو غوره دے نو چه هغه اور ته داخلیږی نو زمونږ الهه دِ هم داخل شی - لیکن د دے قول د ماقبل سره ښکاره ربط نیشته سوا د دے نه چه دا هم زجر دے د مشرکینو په بے ځایه اعتراض او شور کولو ځکه چه سورة انبیاء کښ د بزرګانو (چه خلقو ترینه معبودان جوړ کړے دی) ذکر په ورپسے ایت کښ کړے شوے دے (ان الذین سبقت لهم منا الحسنٰی) نو د دوی اعتراض باطل دے بل داده چه سورة انبیاء او د دے سورت په نزول کښ ډیره زمانه فاصله ده نو د هغوی د سوال جواب ئے ولے دومره زمانه روستو کړے وُو.

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا یعنی هرکله په قرآن کښ د مشرکانو په رد کښ عجز او عبدیت د عیسٰی علیه السلام په طریقه د مثال سره ذکر کړے شی -

مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا یعنی د دے مشرکانو چه د معبود من دون الله د پاره په طور د مثال سره د عیسٰی علیه السلام نوم ذکر کړے دے نو دا صرف د ضد او د عناد په طریقه دے ځکه چه دوی ښه پوهیږی چه هغه اِلٰه نه وُو او په حدیث د ترمذی کښ وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلم او فرمائیل "هرکله چه یو قوم سره د علم نه بے لارے شی نو هغوی ته جدال ورکړے شی (یعنی په ضد او عناد کښ اخته شی) او دا ایت ئے تلاوت کړو"

۵۹ :- روستو د زجر نه جواب دے د دوی جدال ته په ذکر د حقیقت حال د عیسٰی سره او په نفی د الوهیت سره د هغه نه - اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ دا رد دے په نصارٰی او په هغه چاچه عیسٰی علیه السلام لره د الوهیت عقیده لری اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ دا رد دے په یهودیانو او په هغه چاچه د عیسٰی علیه السلام د نبوت نه انکار کوی ځکه چه مراد د انعام نه نعمت د نبوت دے وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ دا رد دے د وهم د هغه چاچه دلیل نیسی د هغه د الوهیت د پاره په پیدائش د هغه بغیر د پلار نه! حاصل داچه دا سے پیدائش د عیسٰی د بنی اسرائیلو دلیل او عبرت د قدرت د الله تعالٰی دے - او هرکله چه بنی اسرائیل د هغه په وخت کښ موجود وو او د هغه د حال نه ښه خبر وو د دے وجے نه د هغوی تخصیص ئے اوکړو یا د مثل نه مراد دے قُدوة (هغه څوک چه د هغه اقتداء لازم دی)-

وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَٰٓئِكَةً فِي الْأَرْضِ

اوکه چیرے اوغواړو موږ نو پیدا به کړو ستاسو په بدله کښې ملائک په زمکه کښې

يَخْلُفُونَ ۝٦٠ وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ

چه ستاسو په ځائے به اوسیږی ـ او یقیناً (عیسٰی علیه السّلام) نخه د قیامت ده

فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ

نو شک مه کوئ په قیامت کښې او تابعداری اوکړئ زما دا لار

مُّسْتَقِيمٌ ۝٦١ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَٰنُ ۖ إِنَّهُ

نیغه ده ـ او وانه ړوی تاسو لره شیطان یقیناً دے

سلا:ـ دادویم رد دے په هغه چاچه دَ عیسٰی علیه السّلام دَ عجیب پیدائش نه دلیل نیسی دَ هغه په الوهیت باندے حاصل دادے چه حال دَ عیسٰی علیه السّلام اګر چه عجیبه دے لیکن الله تعالٰی دَ دینه په زیات عجیبه باندے قدرت لری هغه داچه ستاسو نه ملائک پیدا کړی یا ستاسو په بدل کښې ملائک په زمکه کښې آباد کړی لیکن دا مستلزم نه دے چه ملائک دِ اِلٰهه شی ځکه په دے عجیبه طریقو سره څوک دَ مخلوقیت او دَ عبدیت نه نه اوځی ـ مِنكُمْ مِنْ په معنٰی دَ بدلیت دے یا بخپله معنٰی دَ یعنی په طریقه دَ تولید سره ـ

سلا سلا:ـ په متعلق دَ عیسٰی علیه السلام بله فائده ذکر کوی چه دلالت کوی دَ عیسٰی علیه السّلام په عظمت باندے اِنَّهٗ ضمیر ابن مریم ته راجع دے او مراد تری نه نزول دَ هغه دے په وخت دَ خروج دَ دجّال کښې نزدے قیامت ته چه تفصیل دَ هغے په احادیث صحیحه کښې راغلی دے لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ یعنی نزول دَ عیسٰی علیه السّلام سبب دَ علم دَ قیامت دے یا عِلم په معنٰی دَ علامة دے ـ او دَ اِنَّهٗ په ضمیر کښې دویم احتمال دادے چه قرآن ته راجع دے یعنی نصوص دَ قرآن سبب دَ علم دَ قیامت دے لیکن په دے احتمال سره دَ کلام ربط نه راځی دَ ماقبل سره ـ وَاتَّبِعُونِ روستو دَ تفصیل دَ حال دَ عیسٰی علیه السّلام او دَ دفع کولو دَ شبهاتو نه امر دے په اتباع دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم په تقدیر دَ (قل) سره او دَ دے مناسبت لطیفه دادے چه عیسٰی علیه السلام روستو دَ نزول نه مکلف به وی په اتباع دَ محمد رسول الله صلّی الله علیه وسلّم سره ـ او هرکله چه په باره دَ عیسٰی علیه السلام او دَ اتباع دَ سنّت دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم کښې شیطان ډیر شبهات اچوی

لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۶۲﴾ وَلَمَّا جَآءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ

تاسو لره دشمن ښکاره دے - او هرکله چه راغے عیسی علیه السلام په ښکاره دلیلونو سره

قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُمْ

اُوئیل هغه یقیناً راوړے دی ما تاسو ته د پوهے خبرے او دے د پاره چه وضاحت اوکړم تاسو ته

بَعْضَ الَّذِيْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ۚ فَاتَّقُوا

د بعضے هغه خبرو چه تاسو اختلاف کوئے په هغے کښ نو ویریږئے

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۶۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّيْ

د الله تعالی نه او تابعداری کوئے زما - یقیناً الله تعالی هغه رب زما

نو تنبیه ئے ذکر کړه په دے قول سره وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ که شیطان جن اوکه انسی وی لکه چه په دے زمانه کښ قادیانان (شیطانان انسیه) په باره د حیاتِ عیسٰی او نزولِ عیسٰی کښ شبهات پیدا کوی لیکن د هغے شبهاتو د ازالے د پاره د قرآن عِلم ضروری دے او په اتبعونِ باندے عمل پکار دے.

۶۳-۶۴. هرکله چه د عیسٰی علیه السلام عظمتِ د شان او صداقت بیان شو نو اوس د هغه د طرف نه دعوت د توحید ذکر کوی په طریقه د دلیل نقلی سره او رد په یهودیانو نصارٰی او مشرکینِ عرب باندے بِالْبَيِّنٰتِ مراد ترینه معجزات او انجیل دے. بِالْحِكْمَةِ مراد ترینه نبوت دے یا علم د رسالت چه هغه احادیث د عیسٰی علیه السلام دی یا مصداق د حکمت دغه بینات دی چه مخکښ ئے ذکر کړل چه هغه محکم او مضبوط دی چه هیڅوک هم د هغے مقابله نشی کولے. وَلِأُبَيِّنَ لَكُمْ دا عطف دے په معنٰی د بالحکمة باندے چه هغه اظهار الحکمة دے بَعْضَ الَّذِيْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ دا پشان د لاحل لکم بعض الذی حرم علیکم (سورة آل عمران ۵۰) دے مراد دے چه تورات کښ بعضِ احکام او بعضِ محرمات وُو نو د انجیل په راتللو سره هغه منسوخ شول او په هغے کښ تخفیف لواسیا وه په بنی اسرائیلو باندے - یا د دے مراد نه تحریفات د تورات دی او بعض په معنٰی د کل سره دے یا مراد ترینه هغه مسائل دی چه احبارو د یهودو د ځان نه جوړ کړے وو نو بیا هم بعض په معنٰی د کل سره دے یا مراد ترینه هغه مسائل د دین دی چه احبارو په هغے کښ اختلاف جوړ کړے وُو د هغے وضاحت عیسٰی علیه السلام اوکړو او اختلافاتِ دنیویه ئے نه دی بیان کړی (پاکے په بل مخ)

وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦٤﴾

او رب ستاسو دے نو بندگی د هغه خاص کرئی دا لار نیغه ده۔

فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ

نو مختلف شول ډلے په مینځ خپل کښ نو تباهی ده

ظَلَمُوا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ يَنظُرُونَ

ظالمانو لره د عذاب د ورځے دردناکے نه۔ انتظار نه کوی دوی

توبعض په خپله معنیٰ باندے دے۔ اولویه مسئله اختلافیه په دوی کښ توحید ده د دے وجے نه د هغے وضاحت ئے اوکړو په فاتقوالله، وان الله ربی اه سره۔ او دا جمله تیره شوې ده په سورة العمران سله او سورة مریم سلا کښ۔

فائده :- سورة العمران او په دے سورت کښ فاتقوالله ذکر وو ستو إنَّ اللَّهَ د هغے علت دے د دے وجے واؤ ئے په اوّل کښ ذکر نه کړو او په سورة مریم کښ په ماقبل کلام باندے عطف وو د دے وجے نه حرف واو ئے ذکر کړے دے۔ بیا په دے آیاتونو کښ د عیسٰی علیه السّلام په باره کښ ډیر شبهات دفع کول مقصد وو نو دا رنګ د دفع د شبهے د پاره إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي په لفظ د هُوَ (چه د حصر او د تاکید د پاره دے) ذکر کړو۔

سله :- دا جواب د سوال دے چه د عیسٰی علیه السّلام دین که چرے توحید وے نو روستو خلقو ولے د هغے مخالفت اوکړو حاصل د جواب دا دے چه روستو د رفع د عیسٰی علیه السلام نه په دوی کښ ډلے پیدا شوے او تحزب او تعصب کښ را غلل نو دا سبب د اختلاف شو لکه چه سورة مریم سلا کښ تیر شویدی او بیا دے اختلاف جوړوونکو د پاره ئے تخویف ذکر کړے دے۔ هرکله چه په دے آیاتونو مخکښنو کښ د شبهاتو ازاله کړے ده او سره د دے نه دے خلقو اختلاف جوړ کړو نو دا ظلم دے او په سورة مریم کښ صرف دعوة د عیسٰی علیه السّلام ذکر کړو او مخالفینو د هغے انکار کړے دے نو هغه کفر دے په دے وجه په دے سورت کښ الذین ظلموا او په سورة مریم کښ الذین کفروا ذکر کړے دے۔

إِلَّا السَّاعَةَ أَنْ تَأْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَهُمْ
مګر د قیامت چه راشي دوی ته ناګهه او دوی به
لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾ الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ
نه پوهیږي - دوستان به په دغه ورځ بعض د دوی
لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ يَا عِبَادِ
د بعضو د پاره دشمنان شي مګر متقیان - (او به ویلې شي دوی ته) اے بندګانو زما
لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾
نیشته ویره په تاسو باندے نن ورځ او نه به تاسو غمژن کیږئ -

س۶۶: داهم تخویف اخروی دے اختلاف کوونکو د پاره. بَغْتَةً مراد د دے نه دا دے چه وخت او تاریخ د هغې په معلوم نه وی وهم لا یشعرون عطف دے په معنیٰ د هل ینظرون باندے. یا تاکید د بغتةً دے یعنی دوی به غافل وی په وخت د راتللو د قیامت کښ.

س۶۷: د دے ایت نه تر اخره د سورت پورے دریم باب دے. په دے کښ بشارت تفصیلیه بیا تخویف تفصیلی سره د سبب عذاب نه ذکر کوی. بیا زجرونه دی او تفصیل د توحید دے سره د دلیلونو نه. نفی د ولد، نفی د شرک فی الالوهیة، نفی د شرک فی البرکات، نفی د شفاعت قهریه ده او په اخرکښ تسلّی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او امر دے په براءة سره د مشرکانو نه.
په دے (س۶۷) کښ د مشرکانو او د مؤحدینو د دوستانے دنیوی عاقبت ذکر کوی چه د مشرکانو د دوستانے عاقبت به په اخرت کښ دشمنی وی او د یو بل نه به براءت کوی چه هغه په مختلف سورتونو کښ ذکر کړے شویده لکه سورة اعراف، بقره، ابراهیم، سبا، ص، قصص (براءت د تابعینو او متبوعینو) او د دے ایت نه تر س۷۳ پورے بشارت مشتمل دے په دولس امورو باندے او ورسره سبب د بشارت هم ذکر دے نو په دے ایت کښ د متقینو د دوستانے دوام ذکر کوی او دا اول بشارت دے.

س۶۸: په دے کښ دویم او دریم بشارت ذکر دے عدم خوف او عدم حزن، د یا عباد نه مخکښ یقول الله پټ دے یعنی الله تعالیٰ به اواز اوکړی په ورځ د قیامت تو خلق به سر ونه اوچت کړی چه مونږ عباد الله یو نو الله تعالیٰ به اوائی الذین امنوا -

الَّذِينَ آمَنُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا مُسْلِمِينَ ﴿٦٩﴾
هغه کسان چه ایمان ئې راوړے وے په اياتونو زموږ او وو دوی مسلمانان .
ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنتُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ
داخل شئ جنت ته تاسو او جوړے ستاسو
تُحْبَرُونَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن
نعمتونه به درکیدے شی ـ ګرځولے به شی په دوی پاندے کاسے د
ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ ۖ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ
سرو زرو او ګلاسو ته او په هغے کښ هغه څیزونه دی چه غواړی د دوی
الْأَنفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ ۖ وَأَنتُمْ فِيهَا
نفسونه او مزه پرے اخلی سترګے او تاسو به په هغے کښ
خَالِدُونَ ﴿٧١﴾ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا
همیشه یئ ـ او دا هغه جنت دے چه درکړے شو تاسو ته

سلا:- په دے ایت کښ دوه سببونه دَ بشارت ذکر کوی اول ایمان بالآیات او دویم اسلام یعنی پوره انقیاد ظاهری او باطنی۔
سلا:- دا جواب دَ نداء دے (یا عباد) او په دے کښ نورو دریے بشارتونه ذکر کوی دخول جنتّ سرهٔ دَ ازواجو نه او تحبیر۔ مراد دَ ازواجو نه هغه بیبیانے دی چه دَ خاوندانو سره ئې په توحید او سنت کښ موافقت کړے دے ۔ حبرة په اصل کښ مبالغه ده په اکرام په ډیر خائسته طریقے سره نو په معنیٰ دَ کرامت او دَ فرح (خوشحالی) او ډیر نعمتونه او مزه اغستل په غنا سره په جنتّ کښ، دے ټولو ته تحبرون شامل دے۔
سلا:- په دے ایت کښ نور پنځه بشارتونه دی ۔ يُطَافُ عَلَيْهِمْ دَ خوراک او څکاک دپاره دا لوښی دی صحاف دَ خوراک دپاره او اکواب دَ څکاک دپاره دی ۔ صحاف جمع دَ صحفة ده او صحفه هغه لوښے دے چه په اصطلاح دَ عربو کښ هغے کښ پنځه کسان مړیږی۔ وَأَكْوَابٍ جمع دَ کوب ده هغه ګلاسونه دی چه کړۍ دَ نیولو او سنت ئې نه وی او دَ دے سره هم مِنْ ذَهَبٍ مراد دے یعنی دا دواړه قسمه لوښی به دَ سرو زرو وی۔ اهل جنت کښ مختلف قسمونه دی دَ چا لوښی به دَ سرو زرو وی او دَ چا به دَ سپینو زرو وی لکه

بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٧٢﴾ لَكُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ

په وجه دَ هغه عملونو چه تاسو کول - تاسو لره په هغه کښ میوے

كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٣﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ

ډیرے دی بعض دَ هغے نه تاسو خورئے - یقیناً مجرمان به

فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ

په عذاب دَ جهنم کښ همیشه دی - نه به ئی کمیدلے

سورة دهر سـ۵ کښ. دَ فِيهَا دا ضمیر جنت ته راجع دے نو عام نعمتونه ترے مراد دی یا دغه لوښو ته راجع دے نو دَ خوراک څکاک اقسام تر ینه مراد دی.

مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنفُسُ مشتهیات دَ نفس عام دی که دَ جنس دَ ملموساتو نه وی او که دَ مذوقاتو نه وی او که دَ مسموعاتو نه وی او که دَ مشموماتو نه وی او که دَ معقولاتو نه وی، وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ دا صرف مبصراتو ته شامل دے او دا هر کله چه دَ سیل او تفریح سره تعلق لری او په دے کښ لوئے خیز دیدار دَ الله تعالیٰ دے نو دائے دَ دے وجے نه جدا ذکر کړو. نیشاپوری دَ قفال نه روایت کړے دے چه په دے دواړه جملو کښ الله تعالیٰ هغه نعمتونه جمع کړے دی که ټول مخلوق دَ هغے په تفصیلاتو باندے شروشی نو پوره کولے نشی.

سـ۷۲.. په دے ایت کښ ئے سبب دَ حصول دَ جنت ذکر کړے دے لکه چه سورة اعراف سـ۴۳ کښ تیر شویدے. أُورِثْتُمُوهَا میراث ئے په دے وجه سره اُویل چه میراث بے تکلیفه حاصلیږی نو داسے دَ جنت دپاره چه کم عمل مؤمنانو کړے دے هغه په حقیقت کښ دَ جنت دَ نعمتونو نه ډیر کم دے گویا چه جنت هم بے تکلیفه حاصل شویدے. بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ استحقاق دَ جنت په رحم دَ الله تعالیٰ سره دے لکه چه حدیث کښ راغلے دی او درجات دَ جنت په عمل سره حاصلیږی نو دلته ئے عمل سبب اُوگرځوؤ یا دا چه لوئے عمل ایمان او توحید دے او حدیث کښ چه رحمت ذکر دے هغه هم په معنیٰ دَ استقامت علی التوحید دے نو ایت او حدیث موافق دی.

سـ۷۳.. په دے کښ اخری بشارت ذکر کوی چه دَ خوراک څکاک نه روستو فواکه (میوے) دی. كَثِيرَةٌ ډیر اقسام او ډیر افراد ئے دی چه نه ختمیږی. مِنْهَا مِن ئے تبعیضیه

سـ۷۴ سـ۷۵ سـ۷۶.. دا تخویف اخروی دے او په مقابل دَ بشارت کښ دے. ربانے په بل مخ)

عَنْهُمْ وَهُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ

دَ دوی نه او دوی په په هغه کښ نا امیداه وی ۔ او ظلم نه دے کړے موږ په دوی باندی

وَلٰكِنْ كَانُوْا هُمُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٧٦﴾ وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ

لیکن وو دوی ظالمان ۔ او آواز به اوکړی دوی اے مالکه

لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۗ قَالَ اِنَّكُمْ

فیصله دَ مرګ دِ اوکړی په موږ باندے ستا رب او به وائی یقینًا تاسو به

مّٰكِثُوْنَ ﴿٧٧﴾ لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ

ایسار یئ ۔ یقینًا راوړے دے موږ تاسو ته حق لیکن

اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿٧٨﴾ اَمْ اَبْرَمُوْٓا

ډیر ستاسو نه حق لره به کرکه کوی ۔ آیا بیلکه کړے موږ

خو تخویف ئې په نصف دَ بشارت ذکر کړے دے یعنی په شپږ طریقو سره۔
اوّل آیت کښ دوه تخویفونه دویم آیت کښ هم دوه دی او په دریم آیت کښ سبب دَ عذاب ذکر کړو چه هغه ظلم (شرک وکفر) دے۔ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ تفتّر دیته ویلے کیږی چه اراده اوکړے شی دَ کمزورے کولو او فتور عام کمزورۓ ته ویلے کیږی یعنی کمزور عذاب هم نه دے لیکن الله تعالیٰ به اراده هم نه کوی دَ هغے دَ کمزورے کولو۔ او بیضاوی ویلی دی چه تفتّر او فتور لږ ضعف ته ویلے کیږی یعنی دا عذاب به لږ هم نه کمزورے کیږی۔
۷۷:۔ په دے کښ دوه تخویفونه ذکر کوی۔ فریادونه کول مالک ته دَ پاره دَ مرګ غوښتلو او جواب په ماکثون سره، مَالِكُ دَ جهنم خازن ملک دَ پاره نوم دے۔ دَ محمد بن کعب قرظی نه نقل دے چه دوی به اوّل آواز ټولو خازنانو دَ جهنم ملائکو ته اوکړی لکه چه سورة غافر ۴۹ کښ تیر شویدی نو چه دَ هغوی نه نا امیداه شی نو بیا به مالک ته آواز اوکړی۔ او په حدیث دَ ترمذی کښ راغلی دی چه زر کاله روستو به جواب ورکړی اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ او مراد دَ مُكث نه همیشه اوسیدل دی لکه چه په باره دَ جنّت کښ سورة کهف ۳ کښ تیر شوے دی۔
۷۸:۔ په دے کښ ذکر دے سبب دَ عذاب۔ او په دے خطاب کښ دوه احتمالونه دی اول دا چه دا دَ مالک دَ طرف نه خطاب دے دویم دا چه دا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه

أَمْ أَبْرَمُوٓا۟ أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾ أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا

یوه خبره نو یقیناً مونږ هم کلکوونکی یو - ایا گمان کوی دوی چه مونږ

لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا

نه اورو پټې خبرې د دوی او جرګې د دوی هاں (اورو) او ملائک زمونږ

لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿٨٠﴾ قُلْ إِن كَانَ

د دوی سره دی چه لیکل کوی - ته اوایه که چرې وی

لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْعَٰبِدِينَ ﴿٨١﴾

د رحمان د پاره ولد نو زه یه ووم اول بندګی کوونکی د هغه -

خطاب دے - اَکْثَرَکُمْ (رسوال) دوئ خو ټولو د حق نه نفرت کړیدے نو اکثر ئې ولے اُویل ؟ جواب دادے چه مراد د اکثر نه د دوی مشران دی هغوی د حق نه نفرت کاوؤ او نورو د هغوی تقلید کاوؤ او د حقیقت نه خبر نه وو۔

سوی ۷۹ ، ۸۰ ، په دے ایاتو کښ زجر دے۔ اَمْ اَبْرَمُوْٓا متعلق دے کارهون سره یعنی صرف د حق په بدګڼلو باندے اکتفاء نه کوی بلکه د حق په مقابله کښ تدبیرونه او چلونه جوړوی د نبی صلی الله علیه وسلم د قتل او د توحید د ختمولو د پاره . اَبْرَام کلکه او قطعی فیصلے کولو ته ویلے کیږی نو هغه داسے تدبیروی چه په ګسټره سره یئ اوکړی - فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ داسے په سورة طور ۴۲ کښ راغے - او هرکله چه دوی د شمنی د حق سره په زړه کښ پټه ساتی بیا د هغې د پاره د ملګرو سره جرګے کوی نو په هغې باندے زجر درکوی په دے لفظ د اَمْ یَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰهُمْ سرته د دے ګمان تردید یئ اوکړو په بَلٰی سره بیا د زبات تاکید د پاره یئ لیکل د ملائکو ذکر کړل د دے د پاره چه دا خلق بیا انکار نه شی کولے د یحیی بن معاذ رضی الله عنه نه نقل دے "چه څوک د خلقونه ګناهونه پټ ساتی او هغه ذات نه یئ بنکاره کوی چه د هغه نه هیڅ خیز په اسمانو کښ پټ نه دے نو دا یئ د الله تعالی ډیره بے عزتی اوکړه او دا د علاماتو د منافقت نه دهٔ"۔

سا۸ ، په دے ایت کښ رد د عقیدے د ولد دے د الله تعالی د پاره د سورة د اوّل ۱۵ سره تعلق لری یا د ۴۵ سره متعلق دے یعنی که مشرکان اُوائی چه مجعول اِلٰه نیشته لیکن ولد د الله تعالی شته نو عبادت د هغه جائز شو نو په دے ایت کښ د هغې رد دے - په دے ایت کښ ډیر احتمالات دی رایتے په بل مخ)

سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ
پاک دے رب دَ اسمانونو او دَ زمکے رب دَ عرش

عَمَّا یَصِفُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَذَرْهُمْ یَخُوْضُوْا وَیَلْعَبُوْا
دَ هغه خبرونه چه دوی بیانوی (دَ هغه په باره کښ) - تو پریږده دوی چه ننوځی په باطلو خبرو کښ او لوبے کوی

اول دا چه اِن شرطیه دے دویم دا چه اِن نافیه دے په اول احتمال باندے فَاَنَا اول جزا ده او په دویم باندے تفریع ده په نفی دَ ولد باندے - او دا رنگ عَابِدِیْنَ کښ اول احتمال دا دے چه په معنیٰ دَ عبادت کوونکے دے بیا په دے کښ دوه احتمالونه دی یو دا چه عبادت کوونکے دَ ولد او دویم دا چه عبادت کوونکے دَ الله تعالیٰ. دویم احتمال دا دے چه عابد دَ عَبِد نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ نفرت کولو او انکار کوونکو. او هرکله چه ان شرطیه شی او شرط او جزا وی نو بیا معنیٰ دا ده که چرے بالفرض دَ رحمان دَ پاره ولد وی نو زه به اول عبادت کوونکے دَ دغه ولد وے وجه دَ ملازمے دا ده چه تعظیم دَ ولد دَ رحمان فرض دے په شان دَ تعظیم دَ رحمان - او دَ فرض په ادا کولو کښ خو زه ستاسو نه مخکښ یم ځکه دَ الله تعالیٰ مقرب رسول یم - لیکن تالی باطل دے یعنی زه خو دَ الله تعالیٰ نه سوا دَ بل چا عبادت نه کووم نو معلومه شوه چه مقدم باطل دے یعنی ولد دَ الله تعالیٰ نیشته. نو هغه قضیه شرطیه ده چه جزاء اِن محال وی لیکن ملازمه پکښ ښکاره ده لکه چه یو څوک ته اشاره او کړے شی او اُوئیلے شی که چرے دا انسان وی نو ناطق به وی لیکن ناطق نه دے نو انسان هم نه دے لیکن ملازمه خو ریښتنے ده چه انسان وی نو ناطق به ضروری وی - او دویمه معنیٰ دا ده که چرے دَ رحمان ولد وی نو زهٔ به هم دَ رحمان عبادت کووم او دَ ولد ئے نه کوم وجه دَ ملازمے دا ده چه زه عبادت په امر دَ الله تعالیٰ سره کووم او الله تعالیٰ مونږ ته دا سے امر نه دے کړے چه فلانے زما ولد دے او دَ دهٔ عبادت به کوئے.

۸۲:- دا هم تردید دے په اتخاذ الولد باندے په بله طریقه سره هغه دا دے چه دَ صفت دَ ربوبیت دَ عالمینو او اتخاذ ولد په مینځ کښ تضاد دے ځکه ولد که حقیقتًا شی نو مستلزم دے احتیاج لره او رب العالمین محتاج نشی کیدلے او درے اطراف دَ عالم ئے ذکر کړے دی عرش چه اوچت دے او زمکه چه کوزه ده او اسمانونه چه په مینځ کښ دی یعنی الله تعالیٰ په هیڅ جزء دَ دُنیا کښ ولد (نائب نه) محتاج نه دے -

حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِىْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۸۳﴾

تر هغه پورے چه مخامخ به شي هغه ورځ د دوى سره چه دوى سره ئې وعده كيدے شى -

وَهُوَ الَّذِىْ فِى السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِى الْاَرْضِ

او الله تعالىٰ هغه دے چه په آسمان كښ واكدار دے او په زمكه كښ

اِلٰهٌ ۚ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۴﴾ وَتَبٰرَكَ الَّذِىْ

واكدار دے او هغه حكمتونو والا دے پوهه دے په هر څيز - او بركتونو والا دے هغه ذات

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ

چه د هغه په اختيار كښ بادشاهى د آسمانونو او د زمكے او د هغې چه دے دواړو ده

وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۵﴾

او خاص د هغه سره علم د قيامت دے او خاص هغه ته به او گرځولے شئ تاسو -

سـ۸۳ :- روستو د ذكر د دليلونو نه زجر دے اعراض كوؤنكو ته چه هغوى مشغول دى په شبهاتو كښ او دے ته خوض ويلے كيږى يا مشغول دى په شهواتو كښ چه هغې ته لعب ويلے كيږى -

سـ۸۴ :- دا هم رد دے په عقيده د اتحاذ الولد باندے او رد د وهم دے وهم دا وو اگرچه الله تعالىٰ رب د عالم دے ليكن امكان شته چه په الوهيت كښ بل چا لره حصه وركړى وى نو هغه ولد يا شريك د الله تعالىٰ به وى نو جواب اوشو په طريقه د رد د شرك فى الالوهية سره يعنى لكه چه شريك فى الربوبية نه لرى نو شريك فى الالوهية هم نه لرى. اِلٰهٌ په معنىٰ د حقدار د بندگے او هغه ذات چه د هغه بندگى په حقه سره كيدے شى هم په آسمانونو كښ او هم په زمكه كښ.

سـ۸۵ :- دا رد دے په شرك فى البركات باندے او دفع د يل وهم ده وهم دا دے چه واقعى الله تعالىٰ رب دے اله دے ليكن كيدے شى چه د بعض بركاتو او منافعو پيدا كولو اختيار او قدرت ئې يل چا ته سپارلے وى نو هغه به ولد يا شريك شى حاصل د جواب دا دے چه بادشاهى د آسمانونو او زمكے او علم د قتا دے چه په قيامت كښ به وى او رجوع د ټولو فيصلو الله تعالىٰ ته دا ټول د الله د پاره دى نو معلومه شوه چه بركات پيدا كوونكے او وركوونكے هم الله تعالىٰ دے - تفصيل د تبارك په سورة اعراف سـ۵۴ او مومنون سـ۱۴ او فرقان سـ۱ سـ۱۰ سـ۶۱ غافر سـ۶۴ كښ تير شويدے (پاتے په بل مخ)

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ

او وَس نه لري هغه کسان چه دوی ورته رابلدنه دائي سوا د الله تعالیٰ نه

الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾

د سفارش کولو مګر هغه څوک چه اقرار ئي کړے وی د حق او هغوی علم لري -

وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ هرکله چه علم په هغه پورے خاص دے تو لازمه خبره چه قدرت
په هغے باندے هم په الله تعالیٰ پورے خاص دے۔

۸۶:۔ دا جواب دے د مشهورے شبهے هغه دا ده چه مشرکان وائي چه موږ خپلو معبوداتو ته اِلٰهه نه وایو رب او خالقان ورته نه وایو صرف دا چه زموږ د دُنیا حاجتونه په الله تعالیٰ باندے پوره کوی او آخرت کښ به هم موږه د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ کوی ځکه چه دوی د الله تعالیٰ محبوبان او مقربين خلق دی الله تعالیٰ مجبوراً د دوی خبره مني جواب اوشو په رد د دے عقيدے سره ليکن په دے آيت کښ رد د شفاعت د آخرت دے مشرکانو لره یا رد د شفاعت دے په آخرت کښ د هغه معبوداتو نه چه عقيده د توحيد پکښ نه وی يعنی مشرکان پيران وی۔

بيا په دے آيت کښ احتمالات دی په الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ کښ دوه احتمالونه دی اول دا دے چه مراد د دے نه معبودان من دون الله دی تو ضمير د يدعون مشرکانو ته راجع دے او هم ضمير پکښ پټ دے الذين ته راجع دے۔ دوئم احتمال دا دے چه مراد د دوی نه مشرکان دی او مفعول د يدعون پټ دے يعنی يدعون اٰلِهَةً من دون الله۔ په اول احتمال باندے د لا يملك معنیٰ وس او اختيار نه لري معبودان د شفاعت کولو او په دويم احتمال باندے معنیٰ د لا يملك وَس نه لري مشرکان د حصول د شفاعت د چل ځانونو د پاره۔ اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ په اِلَّا کښ هم دوه احتمالونه دی اول دا چه استثناء متصله ده کله چه الذين يدعون کښ ملائک او عيسیٰ او عزير عليهم السلام او اولياء داخل دی تو په اِلَّا سره به هغوی تری نه مستثنیٰ شی۔ دويم دا چه اِلَّا استثناء منقطع ده کله چه د الذين يدعون نه مراد صرف ناکاره معبودان دی يعنی مشرکان پيران۔ او په مَنْ شَهِدَ کښ هم دوه احتمالونه دی اول دا چه مراد په دے سره شفيع دے او روستو دواړه صفتونه د شفيع دی دويم دا چه مراد د دے نه مشفوع له دے په تقدير د مستثنیٰ منه مفرغ سره او لام د حرف مَنْ سره مقدر دے يعنی الشفاعة لاحد الا لمن شهد او روستو دواړه صفتونه د مشفوع له دی۔ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ کښ

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ

او که چرې تپوس اوکړے ته د دوی نه چه چا پیدا کړی دی (د شفعاء) خامخا دوی به اووائی

اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾ وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ

الله تعالیٰ نو څه رنګ او ړولے کیږی دوی د توحید نه او قسم دے په وینا د دهٔ چه اے ربه یقیناً

هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ فَاصْفَحْ

دا دلته قوم دے چه ایمان نه راوړی - نو مخ داړوه

هم دوه احتمالونه دی اوّل دا چه د شهادت بالحق د ټپے سره عقیده قلبیه هم شرط ده یعنی یعلمون الحق. دوئیم احتمال دا دے چه علم لری په حال د مشفوع له چه دے مؤمن دے او که نه دے یعنی شفیع مؤحد به هله شفاعت کوی بل چا لره چه ورته معلومه شی چه دغه انسان مؤحد دے او دا علم به دنیا کښ نه حاصلیږی او آخرت کښ هم هله حاصلیږی چه د مؤمنانو نخے مقرر شی (سپین اندامونه او مخونه) او یا الله تعالیٰ ورته خبر ورکړی چه دا مؤحد دے د دهٔ د پاره شفاعت اوکړه - دا ټول لس احتمالات دی او مفسرینو نقل کړیدی لیکن په ټولو کښ راجح معنیٰ دا ده چه اختیار نه لری هیڅ معبود من دون الله د شفاعت کولو مگر هغه معبود (من دون الله) چه شهادت د توحید ئے په دنیا کښ کړے دے سره د علم د توحید نه یا سره د علم نه په حال د مؤحد پاندے - وَهُمْ يَعْلَمُونَ قرطبی د دے په تفسیر کښ لیکلی دی چه شهادت بالحق فائده نه ورکوی مگر سره د علم نه او تقلید فائده نه ورکوی کله چه سړے علم نه لری په دلیل د خبرے باندے -

ف۸۷:- دا دلیل عقلی دے او په دے کښ هم رد دے په شفاعة قهریه باندے یعنی ستاسو شفعاء خو ستاسو په اقرار سره هم مخلوق دی نو مخلوق څه رنګه شفیع قهری ګرځی؟ مَنْ خَلَقَهُمْ ضمیر د هم معبودانو ته راجح دے یا عابدانو او معبودانو دواړو ته راجح دے۔

ف۸۸:- په دے ایت کښ زجر دے - وَقِيلِهِ واو قسمیه دے او قیل په معنیٰ د قول سره دے او ضمیر راجع دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او يَا رَبِّ دا مقوله د قول ده تر اخر پورے او جواب قسم پټ دے (ان هؤلاء لمعاندون) حاصل دا دے چه دا نبی وخت په دربار د الله تعالیٰ کښ د دے منکرینو نه شکایت پیش کوی په دا سے الفاظو سره چه یا رب ان هؤلاء الخ نو په دے قول (یا ئے په یل ځ)

عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ ۭ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾

دَ دوی نه او اوایه سلام دَ جُدائیٔ نو زر ده چه دوی به پوهه شی -

باندے قسم دے په طور دَ شهادت سره چه یقیناً دوی عنادیان دی یا دَ قیله دَ پاره مقوله صرف یارب دے یعنی دا پیغمبر چه وائی یارب ان قومی اتخذوا هذا القرآن مهجوراً فرقان ۳۰) اوجواب قسم ان هؤلاء قوم لا یؤمنون دے - اوایت کښ دریمه توجیه داده چه وقیله عطف دے په علم الساعة باندے یعنی وَعِنْدَهٗ عِلْمُ قِیْلِهٖ اومقوله دَ قوله یارب اه دے لیکن دَ معطوف علیه او دَ معطوف په میځ کښ ډیره فاصله ده نو دا توجیه مناسب نه ده -

۸۹ :. دا تفریع ده په عناد دَ منکرینو باندے اوحکم دَ معاندینو دے چه هغه براءت او قطع تعلق دے - فَاصْفَحْ مراد دَ صفح نه اعراض کول دی دَ دوی دَ محبت او دوستانے نه یا دَ دوی دَ سب وشتم نه او دا معنیٰ منسوخ نه ده بلکه دا اخلاق دَ مبلغ په وخت دَ دعوت کښ ضروری دی - وَقُلْ سَلٰمٌ دے نه سلام تودیع اومتارکه و یلے کیږی سلام تحیه نه دے ځکه چه مشرکانو باندے سلام تحیه جائز نه دے. نو معنیٰ داده یعنی زما او ستاسو جدائی ده په سلامتیا سره چه زه تاسو ته کنځل نکوم او بداخلاقی نه کوؤم او هم داسے سلام دَ ابراهیم علیه السلام وؤخپل پلار ته لکه سورة مریم ۴۷ - فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ کښ عذاب ته اشاره ده که دنیوی عذاب وی او که اخروی عذاب وی -

تفسیر دَ سورة زخرف ختم شو په فضل وکرم دَ الله تعالیٰ سره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الدخان

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورت کښ رد وو په دلیلونو دَ مشرکانو باندے نو په دے سورت کښ ویره دَ عذاب دنیوی ذکر کوی. دوېمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ ذکر دَ کیاحت دَ معرضینو دَ قرآن وو نو په دے سورت کښ عظمت دَ قرآن او مقصد دَ قرآن ذکر کوی. دریمه وجه دا ده په هغه سورت کښ تکبر دَ فرعون په موسٰی علیه السّلام باندے ذکر کړے وو اوس په دے سورت کښ کرامت دَ موسٰی علیه السّلام او کبنی اسرائیلو ذکر کوی. څلورمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ اثبات دَ توحید وو په عقلی دلیلونو سره نو په دے سورت کښ اثبات دَ توحید دے په ذکر دَ اسماء او صفاتو دَ الله تعالی سره او هغه یئے نهه ذکر کړے دی.

دعوٰی دَ سورت دا ده، تخویف دنیوی منکرینو او معرضینو دَ قرآن ته دے په ۱۶ او ۵۹ کښ او ذکر دَ عظمت دَ قرآن او ذکر دَ عظمت دَ الله تعالی په اسماء او صفاتو دَ هغه سره.

خلاصه دَ سورت. په دے سورت کښ دوه بابونه دی اول باب تر ۳۳ پورے دے په دے کښ صداقت دَ قرآن او ذکر دَ مقصد دَ قرآن چه توحید دَ اسماؤ او صفاتو دے. بیا تخویف دنیوی دے په ذکر دَ دُخان او دَ بطشة الکبرٰی سره بیا واقعه دَ فرعون تمو ته ده دَ پاره دَ دعوے دَ سورت او ذکر دَ نعمتونو په بنی اسرائیلو باندے بیا زجر او تخویف په سبب دَ انکار دَ بعث بعد الموت سره.

تفسیر

۱تر۲. په دے کښ هغه تفسیر دے چه سورة زخرف په اول کښ ذکر شویدے. الْمُبِيْنِ په دے سورت کښ ایات په ذکر (پاکے په یل مخ)

فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ③

په شپه برکتونو والا کښې یقیناً مونږ ویره ورکوونکي یو .

دَ عذابونو سره دے او سورة زخرف کښې ایانت په دلیلونو او په جواب دَ شبهاتو سره دوُ. او دا قسم دے په طریقه دَ شهادت سره په اثبات دَ روستو ذکر شوی مقصد یا تکلا. سبـ۳. دا جواب قسم دے یعنی ایانت او وضاحت دَ قران شاهد دے چه دا منزّل من الله دے او وخت دَ نزول ئے هم مبارک دے او دَ انتار دَ پاره پوره کتاب دے. لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ مراد دَ دے نه لیلة القدر ده په دلیل دَ سورة قدر سره او لیلة القدر په رمضان کښې ده په دلیل دَ سورة بقره ۱۸۵ سره. او دا رنګ سورة قدر چه دَ لیلة القدر په باره کښې من کل امر او سلام ذکر کړے نو دلته ئے فيها يفرق كل امر حكيم او رحمة ذکر کړے دے. بل دا چه په باره دَ فضیلت دَ لیلة القدر کښې ډیر صحیح احادیث نقل کړے شویدی او دا فضیلت دَ هغې شپې په سبب دَ نزول دَ قرآن کریم سره دے. بعض مفسرینو مراد دَ لیلة مبارکه نه پنځلسمه شپه دَ شعبان اخستے ده او دَ هغې دَ فضیلت په باره کښې څه احادیث ئے نقل کړے دی لیکن هغه قول صحیح نه دے اهل تحقیق مفسرینو دَ هغې رد کړے دے. قرطبی دَ ابن عربی نه نقل کړے دی چه دا قول باطل دے او څوک چه ابتداء دَ نزول دَ قران دَ لیلة القدر نه علاوه په بله شپه کښې وائي فَقَدْ اَعْظَمَ الْفِرْيَةَ عَلَى اللهِ نو یقیناً په الله تعالی باندے لویه افتراء کړے ده دا رنګ ابن کثیر وئیلی دی چه چا وئیلی دي چه دا شپه لیلة النصف دَ شعبان ده لکه چه دَ عکرمه نه نقل شویدی فَقَدْ اَبْعَدَ النُّجْعَةَ (یقیناً دَ فائدے نه لرے لاړو). او کوم احادیث چه په باره دَ فضیلت دَ دغه شپه کښې ذکر کړے شویدی نو په هغې کښې حدیث صحیح مرفوع متصل نیشته. قرطبی وئیلی دی چه نیشته په باره دَ لیلة النصف من شعبان کښې حدیث چه اعتبار او کړے شی په هغه باندے نه په باره دَ فضیلت دَ هغې کښې او نه نسخ دَ نیتو کښې نو هغې ته التفات مکوئے) ابن کثیر وئیلی دی چه حدیث عکرمه حدیث مرسل دے دَ نورو نصوصو مقابله نشي کولے. ملا علی قاری په مرقات کښې وئیلی دی چه دَیلمی وغیره په لیلة نصف من شعبان کښې سل رکعتونه مونځ ذکر کړے دے او هغې ته صلوٰة الفیه وائي نو هغه حدیث موضوعی دے او دا مونځ اول په بیت المقدس کښې په ۴۴۸ سنه کښې پیدا کړے شوے دے دا رنګ په دے شپه کښې یادَ دے نه په نورو شپو کښې خلق اُورونه بَلَوی او دَ هغې سره لوبے کوی دا برامکه قوم په اسلام کښې دا رسم ایجاد کړے وو او دا رسم دَ مجوسیانو (او دَ هندوانو) دے. او حدیث

فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ﴿٤﴾ أَمْرًا

په دے شپه کښ فیصله کیږی (په کتاب د ملائکو کښ) د هر کار چه حکمت والا وی په حکم کولو سره

مِّنْ عِندِنَا ۚ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٥﴾ رَحْمَةً

زمونږ د طرف نه یقیناً مونږ لیږونکی د رسول یو - د وجے د رحمت

د ترمذی په فضیلت د دے شپے کښ راغلے دے او مشکوٰة کښ هم ذکر کړے کړے نو د هغے په سند کښ دوه انقطاع دی او امام بخاری هغے ته ضعیف ویلے دی او حدیث د معاذ بن جبل رض ابن ماجه وغیره راوړے دے د هغے په سند کښ ابن لهیعه ضعیف راوی دے او حدیث د علی رض چه ابن ماجه راوړے دے د هغے په سند کښ ابوبکر بن عبدالله العامری دے ـ محدثینو ویلے دی چه دهٔ به احادیث وضع کول او متروک دے اوپل حدیث د عائشة رض بیهقی راوړے هغه هم مرسل حدیث دے ـ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ دا علت دے د پاره د انا انزلناه یعنی مقصد د انزالِ قرآن انذار ورکول دی ـ

سک :. دا علت دے د فی لیلة د پاره یعنی انزال د قرآن ئے په دے شپه یوړے د دے وجے نه خاص کړے دے چه په دے شپه کښ د محکمو کارونو فیصلے کیږی نو انزال د قرآن هم محکم کار دۀ نو په دے شپه کښ شوروشو يُفْرَقُ تقدیر د ټولو اشیاؤ د آسمانونو د پیدایښ نه پنځوس زره کاله مخکښ شوے دے او دا په صحیح حدیث سره ثابت ده لیکن د هغے نه د یو کال د پاره مقرر شوے څیزونه او کارونه جدا کړی او ملائکو ته ئے اوسپاری او دا جدا کول په لیلة القدر کښ وی د دے وجے نه يفرق ئے اُویل چه دلالت کوی په جدا کولو باندے ـ

كُلِّ أَمْرٍ حَكِيمٍ د الله تعالیٰ په هر کار کښ حکمت دے د دے وجے نه قید د حکیم احترازی نه دے ـ او دا مویعنی پیدا کول او مړه کول ، د رزق مقدار او مدد او شکست کته اوتاوان ، عبادتونه کول او گناهونه کول حج کول سفر کول وغیره دے ټولو ته لفظ د کل امرحکیم شامل دے ـ

سه :. أَمْرًا تعلق لری د يفرق سره یعنی دغه فیصله د وجے د امر د الله تعالیٰ نه ده یا مفعول دے د فعل محذوف د پاره (انزلنا امرًا) ـ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ علت دے د پاره د پاره یعنی د انزلناه سره لِکے النبیؐ مراد وۀ نو دا علت د دے دے چه انزال د قرآن ئے محمد صلی الله علیه وسلم ته د دے وجے نه اوکړو چه مونږ دۀ لره رسول جوړوؤ یکے یو ـ بله توجیه داده چه درے جواب قسم دی اول انا انزلناه دویم انا کنا منذرین دریم انا کنا مرسلین ـ

مِّنۡ رَّبِّكَؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُۙ ﴿۶﴾

ستا د رب د طرف نه يقيناً هغه هرڅه اوري په هرڅه باندے پوهه دے

رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا‌ۘ

رب د آسمانونو او د زمکے او د مينځ ددے دواړو دے

اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّوۡقِنِيۡنَ ﴿۷﴾ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحۡىٖ

که چرے تاسو يقين کوئے . نيشته حق دار د بندګئ سوا د هغه نه ژوندی کوی

وَيُمِيۡتُ‌ؕ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۸﴾

او مړه کول کوی رب ستاسو او رب د مشرانو ستاسو مخکنو دے .

سلا :- دا مفعول له متعلق دے د انا کنا مرسلين سره يا د ددے واړو جوابونو سره او ترغيب دے چه نازلول د قرآن او انذار ورکول او رسول رالیږل دا ټول د رب د طرف نه خاص رحمت دے. او هر کله چه طلبګار د رحمت کله طلب کوی په ژبه سره نو د هغه د پاره ئے السميع ذکر کړو او کله طلب کوی په زړه سره نو د هغه د پاره ئے العليم اُویل او دا رنګ دا جمله خلاصه د قرآن او د انذار او د رسالت ده چه دا توحيد دے. د دے وجے نه په روستو دوه آيا تونو کښ د تاکيد د دے مسئلے د پاره نور صفتونه په طريقه د استدلال سره ذکر کوی او دا اسماء وصفات ئے نهه ذکر کړے دی .

سے سے :- مخکښ ئے درے صفتونه ذکر کړے دی او په دے دواړو آيا تونو کښ شپږ نور ذکر کوی. او مقصود په دے کښ اثبات د توحيد دے او اظهار د عظمت د الله تعالیٰ د پاره د اثبات د عظمت د قرآن د. اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّوۡقِنِيۡنَ په دے شرط کښ خطاب دے هغه خلقو لره چه يقين کوی چه الله تعالیٰ خالق دے، او رب دے او جزاء د شرط پټه ده معنیٰ دا ده که چرے تاسو يقين لرئے چه الله تعالیٰ خالق او رب دے نو يقين او لرئے چه دا قرآن او رسول حق دے وجه د ملازمے داده چه دا قرآن او رسول هم د اثبات د خالقيت او د ربوبيت او الوهيت د الله تعالیٰ د پاره راليږلے شوے دی. يا دا خطاب عام دے نو معنیٰ داده که اراده لرئے د يقين کولو په توحيد د الله تعالیٰ باندے نو ايمان راوړئے په قرآن او په رسول باندے.

بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ يَلْعَبُونَ ⑨ فَارْتَقِبْ
بلکه دوی په شک کښ دی په لوبو کښ مشغوله دی. نو انتظار اوکړه
يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ⑩
د هغه ورځې چه راوړي به آسمان لوګے ښکاره
يَغْشَى النَّاسَ ۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ⑪
پټوي به خلقو لره دا عذاب درد ناک دے.
رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ⑫
(وائي به دوی) اے ربه زمونږه لرے کړه زمونږ نه عذاب یقیناً مونږ ایمان راوړو.
أَنَّىٰ لَهُمُ الذِّكْرَىٰ وَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ
څه رنګ کیږي شي دوی د پاره نصیحت اخستل او حال دا چه راغلے دے دوی ته رسول

سـ۹ : دا زجر دے یعنې د دوی یقین په خالقیت او ربوبیت د الله تعالی باندے حقیقي یقین نه دے بلکه په طریقه د تقلید د مشرانو دے نو معلومه شوه چه دوی په شک کښ دی او د دے سره چه دوی په جوم افعال شرکیه او کفریه کښ مشغول دی نو هغه بول لعب دی چه د هیڅ فایده نیشته او د عمر ضائع کیدل پکښ شته.

سـ۱ نه سـ۱۵ پورے. دا تخویف دنیوی دے په واقعه د دُخان سره. او په دیکښ دوه قولونه د مفسرینو دی اول قول امام بخاری په سند سره د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل کړے دے مضمون یې دا دے چه قریشو هر کله د نبي صلی الله علیه وسلم نه سخت مخالفت اوکړو نو هغه ورته دُعاء شر (خیرے) اوکړه چه یا الله په دوی باندے کالونه د قحط راولے پشان د کالونو د قحط په زمانه د یوسف علیه السلام کښ نو په دوی باندے قحط شورو شو ترد دے پورے چه دوی به هډوکی خوړل او بوتي یه آسمان ته کتل نو داسے به ورته ښکاره کیدل لکه چه دُخان دی نو دا آیاتو نه نازل شول بیا هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل چه یا رسول الله د قبیلے مضر (چه ستا خپلوان دی) د پاره دُعا اوغواړه ځکه چه هغوی هلاک شول نو هغه دُعا د باران اوغوختله نو باران اوشو او نازل شو چه انکم عائدون. د دے حدیث په بنا مراد د دُخان نه قحط دے (پاتے په بل مخ)

مُّبِيْنٌ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ

ښکاره پیغمبرے والا بیا دوی مخ گرځولے دے دَهغه نه او دوی وائی چه دهٔ ته چاخودنه کړیده

مَّجْنُوْنٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا

لیونے دے - یقیناً موږ به لرے کړو عذاب لږه موده

اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ ﴿۱۵﴾ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ

یقیناً تاسو بیا راګرزیدونکی یئ (کفرته) - نو په هغه ورځ چه نیول اوکړو موږ نیول

چه په هغه وخت دَ دخان په مثل پاندے دَ زمکے نه بړاس او غبار اوچت شویوؤ او ښکاره کیدلو او دَ الناس نه مراد صرف مکے والا دی. دویم قول دَ علی او ابن عباس رضی الله عنهم نه نقل دے او دَ ابو سعید خدری رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل دے "چه دُخان به را اوچت شی په ټولو خلقو پاندے نو په مؤمن پاندے به پشان دَ زکام وی او دَ کافر ټول بدن به پړسے او پړسیږی" او په دے روایت کښ دَ یوم القیامة نه مراد قریب دَ ورځ دَ قیامت ده ځکه په حدیث صحیح دَ مسلم کښ راغلی دی چه دَ قیامت نه مخکښے لس لوئے علامات دی او لسیئ په هغے کښ دُخان شمارلے دے او بنا په دے قول دخان به حقیقتاً وی او خو ورځے پس به لرے شی او بل علامت به شورو شی. (زهٔ وایم) چه الفاظ دَ قرآن دَ دواړو سره موافقت لری لیکن اول قول زیات مناسب دے یعنی دا دُخان په مکه والو پاندے واقع شویدے او بل دُخان به په علاماتِ قیامت کښ په ټولو خلقو پاندے راځی، تَاْتِی السَّمَآءُ آسمان ته نسبت په دے وجه سره دے چه دَ زمکے نه په هیڅ سبب نه معلومیږی یا مراد دَ آسمانی جوّ (فضا) دَ آسمان ده. وَ قَالُوْا مُعَلَّمٌ یعنی دوی ویل چه یو بشر دهٔ ته تعلیم ورکوی لکه سورة انعام ۱۰۵ او سورة نحل ۱۰۳ کښ دی یا شیطان دهٔ ته تعلیم ورکوی او دے کاهن دے. دَ اَنّٰی لَهُمُ الذِّکْرٰی نه ترد دے پورے حاصل دا دے چه هر کله دوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم توهین او تکذیب اوکړو نو دا سبب دے دَ محروم کیدلو دَ ذکر نه او سبب دَ عذاب دے. اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا بناء په اول قول پاندے وعده دَ لرکولو دَ عذاب ده په سبب دَ دُعا دَ نبی صلی الله علیه وسلم او په دویم قول پاندے دَ علاماتِ قیامت په مینځ کښ چه لږ لږ وخت فاصله راځی هغه مراد ده. اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ واپس کیدونکی یئ کفر ته دَ وجے دَ ضد او عناد نه په طبیعتونو کښ نو معلومه شوه چه وعده دَ ایمان راوړلو ستاسو (اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ) دروغ ده.

الْكُبْرٰى ۚ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ
غټ يقيناً موږ بدله اخستونکي يو - او يقيناً ازمايښت کړے دے موږ مخکښې د دوی
قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿١٧﴾
په قوم د فرعون باندے او راغلے وو هغوی ته رسول عزت والا
اَنْ اَدُّوْٓا اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ۭ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ
(د ویلو دے) چه راکړئ ماته بندګان د الله تعالیٰ یقیناً زه تاسو لره رسول
اَمِيْنٌ ﴿١٨﴾ وَّاَنْ لَّا تَعْلُوْا عَلَى اللّٰهِ ۚ اِنِّيْٓ اٰتِيْكُمْ
امانت داریم او لوئي مه کوئ په الله تعالیٰ باندے یقیناً ما راوړے د تاسو ته

سلا ۱:- دا هم تخویف دنیوی دے او مراد دَ دے نه هلاکول دَ مشرکانو وو په ورځ دَ بدر کښې- یا دا تخویف اخروی دے او مراد دَ بطشة نه په ورځ دَ قیامت کښې رانیول دَ مشرکانو دی په سخت عذاب کښې. اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ مراد دَ انتقام نه سزا ورکول دی او انتقام په هغه ځائے کښې استعمالیږی چه حد او اندازے ذکر ته دی.

سکا ۱:- دا دَ تخویف دنیوی مثال دے په واقعه دَ اهلاک فرعون سره- اشاره ده لکه چه فرعونیانو دَ عذابونو په وخت کښې دَ موسیٰ علیه السّلام سره وعدے دَ ایمان کړے وے په دے شرط سره چه زمونږ نه عذاب لرے کړه لکه سورة زخرف کښې ذکر شول لیکن بیا ئے هغه وعدے ماتے کړے نو الله تعالیٰ په هغوی باندے لوئے عذاب دَ غرق راوستلو نو دغه حال دَ مکے دَ مشرکانو دے وَلَقَدْ فَتَنَّا مراد دَ فتنے نه امتحان کول دی په رالیږلو دَ رسول او په امر بالطاعة سره یا مراد دَ فتنے نه عذاب دے. كَرِيْمٌ دا په مقابله دَ قولِ فرعون کښې دے (مهین) چه په سورة زخرف کښې تیر شو. یعنی الله تعالیٰ کرامت او عزت او شرافت ورکړے وو په مختلفو طریقو سره په ښائسته اخلاقو او په اشراف نسب. او په نبوت او رسالت سره-

سلا ۱:- دَ دے دوه توجیه دی اوله توجیه دا ده دَ اَدُّوْٓا مفعول حذف دَ طاعة الله او عباد الله منادیٰ ده او حرف ندا پټ دے او مراد دَ اداء نه اطاعت او تابعداری کول دی دویمه دا چه عباد الله مفعول دے دَ اَدُّوْٓا یعنی آزاد کړئ ما سره بنی اسرائیلو لره او دا دواړه مقصدونه دَ هغهٔ په کلام کښې په سورة اعراف سلا سفا کښې موجود دی. اَمِيْنٌ امانت دار دَ وحی دَ الله تعالیٰ دا صفت دَ (رایاتے په یل مخ)

بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٩﴾ وَاِنِّىْ عُذْتُ بِرَبِّىْ وَرَبِّكُمْ

دلیل ښکاره - او یقینًا پناه غواړم په رب خپل او په رب ستاسو

اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿٢٠﴾ وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِىْ

د دې نه چه تاسو ما سنګسار کړئ - او که خبره نه منئ زما

فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا رَبَّهٗۤ اَنَّ هٰۤؤُلَآءِ قَوْمٌ

نو په د ده شئ زما نه - نو دعا ئې او غوښتله د رب خپل نه چه یقینًا دا خلق قوم دے

خپل ځان انبیاء علیهم السّلام د خلقو د ترغیب د پاره کولے شی لکه سورة اعراف ۸۵ کښ تیر شویدی لیکن د کریم صفت ذکر کول پخپله د ځان د پاره مناسب نه دی نو الله تعالیٰ هغه صفت ورله د خپل طرف نه ذکر کړو.

۱۹:- مخکښ امر بالمعروف ذکر شو او دا نهی عن المنکر ده او علو شامل دے تکبر کول د طاعت نه او افتراء او بغاوت کول او هر کله چه د بادشاهانو په اقلامو کښ لوئی او تکبر وی د دے وجے هغوی ته په دعوت ورکولو کښ نهی د علو نه ذکر کیږی لکه سورة نمل ۳۱ کښ او په دے دواړو آیاتونو کښ جامع دعوت ذکر دے توحید رسالت رد د شرک او کفر، معجزات پیش کول، د موحدینو حق ادا کول.

۲۰:- هر کله چه فرعون اراده د هغه د قتل کړے وه لکه سورة غافر ۲۶ کښ ذکر دی نو موسیٰ علیه السّلام د هغه نه د بچ کیدلو د پاره تعوذ ذکر کړو لکه سورة غافر ۲۷ کښ دی او فعل ماضی (عذت) په معنیٰ د مضارع دے. اَنْ تَرْجُمُوْنِ رجم په کاڼو سره ویشتل دی یا په کنځلو او طعنونو سره بد نامول دی.

۲۱:- د دے نه مخکښ عبارت کښ تقدیر دے یعنی فان امنتم لی افلحتم وان لم تؤمنوا لی (که تاسو ایمان راوړو نو کامیاب به شئ او که ایمان نه راوړے). لِی ایمان نه مراد معنیٰ لغوی ده نو په صله کښ لام زائد یا ایمان شرعی دے او لام اجلیه دے د وجے د بیان او د دلیل زما نه فَاعْتَزِلُوْنِ مراد دا دے چه په ما د ده شئ زما نه یعنی ماته د تکلیف راکولو نه یا مراد دا دے جدا شئ زما نه یعنی زما قوم بنی اسرائیل ماته راجدا کړئ.

مُّجْرِمُوْنَ ﴿۲۲﴾ فَاَسْرِ بِعِبَادِیْ لَیْلًا اِنَّکُمْ

یقیناً تاسو پسے به | زما | د شپے | بندګان | بوځه | نو ته | ۔ | مجرمان

مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ؕ اِنَّهُمْ

یقیناً دوی | او لاړ | دریاب | او پریږده | کیدلیشی | درتلل

جُنْدٌ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۴﴾ كَمْ تَرَكُوْا مِنْ جَنّٰتٍ

لښکر دے | غرق کړے شوے ۔ | ډیر پریخودل دوی | د | باغونو نه

۲۲:۔ دا تفریع ده په پټه عبارت باندے یعنی فکفروا وکذبوا (دوی کفر او تکذیب اوکړو) نو هغه دُعاء شر اوکړه او تفصیل د هغے دُعا په سورة یونس ۸۸ کښ تیر شویدے او سبب د دے دُعا دا دے اَنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ جرم بیکاره ګناهونه او فسق وفجور او ظلم ته ویلے کیږی او دا تعدی ده په کفر کښ او دا تعدی په اصل کښ سبب د عذاب دنیوی دے د دے وجے نه کافرانو ته ئے مجرمان اُوئیل.

۲۳:۔ دا استجابت د دُعا دے نو عبارت کښ تقدیر دے یعنی قلنا له بعد الاجابة راُوئیل مونږ هغه ته روستو د قبولولو د دُعا د هغه ؑ نه) او د نجات د پاره سیر فی اللیل بهتره ذریعه ده یو د دے وجے نه چه فاسقان فاجران په هغه وخت کښ غافل او اوده وی دویم په مزل د شپے کښ خیر او برکت وی دریم د ګرمئ د لاړے نه بچ کیدل دی. نو دا رنګ سیر فی اللیل یعنی د شپے تهجد کول هم سبب د نجات د د عذاب د الله تعالیٰ نه اګرچه دلته اوله معنیٰ مراد ده ۔ اِنَّکُمْ مُّتَّبَعُوْنَ په دے کښ هغوی ته تنبیه ده چه په مزل کولو او په ذکر د الله تعالیٰ کښ سُستی اونکړئ ځکه چه دشمنان در پسے در روان دی.

۲۴:۔ په دے کښ اشاره ده ذریعے د نجات د بنی اسرائیلو او طریقه د عذاب د فرعونیانو ته. او اختصار دے په عبارت کښ یعنی امر ئے ورته اوکړو چه دریاب په عصا سره اُوهه نو په هغے کښ دولس لارے کولاؤ جوړے شوے او اوبه په خپل ځایونو باندے اودریدلے ۔ هرکله چه بنی اسرائیل پورے لاړل نو موسیٰ علیه السّلام اراده اوکړه دا دریاب ډ اوس په خپله روان شی دے د پاره چه فرعونیان په مونږ پسے رانشی نو الله تعالیٰ حکم اوکړو واترك البحر رَهْوًا په ځائے ولاړ یا فراخ لارے او علت د هغے ئے ذکر کړو په دے قول سره انهم جندٌ مغرقون.

وَّعُيُوْنٍ ﴿۲۵﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿۲۶﴾

او د چینو نه - او فصلونه او ځایو نه عزت والا

وَّنَعْمَةٍ كَانُوْا فِيْهَا فٰكِهِيْنَ ﴿۲۷﴾ كَذٰلِكَ

او د خوشحالئ سامان چه دوی په هغې کښ مزے کوونکے وو دغه شان او شو

وَاَوْرَثْنٰهَا قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ﴿۲۸﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ

او پاتے کړو موږ دغه (باغونه وغیره) قوم بل ته - نو ژړا اونکړه په دوی باندے

السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ وَمَا كَانُوْا مُنْظَرِيْنَ ﴿۲۹﴾

آسمان او زمکے او نه وو دوی مهلت ورکړے شوی -

۲۵ ـ ۲۶ ـ ۲۷ ـ ۲۸ روستو د غرق کیدلو نه د هغوی د مالونو حال ذکر کوی او په دے کښ اشاره ده چه هغوی ټول غرق شول او دا رنګ اشاره ده چه غرق د دوی په معنیٰ حقیقی سره وو په معنیٰ مجازی سره (تاوان) نه دے وَنَعْمَةٍ دا لفظ شامل دے ټول د دنیا هغه مالونو ته چه سبب وی د خوشحالئ او د مستئ او د تکبر۔ فٰكِهِيْنَ خوشحالی او تکبر او مزے اخستونکی وو۔ او دا رنګ سورة شعراء ۵۷ ـ ۵۸ کښ تیر شویدی۔

فائده :- سورة شعراء کښ ئے کنوز ذکر کړے وو اشاره ده چه فرعونیانو به دغه خزانو سره د موسیٰ علیه السلام مقابله کوله ساحرانو ته ئے ویلی وو چه تاسوله به ډیر اجرت ورکړم او په دے سورت کښ دغه واقعه نه ده ذکر کړے دا رنګ په دے سورت کښ نَعْمَةٍ ذکر دے او په سورة شعراء کښ نه وو ذکر کړے د دے وجه نه چه په دے سورت کښ د فرعونیانو علو او اراده د قتل د موسیٰ علیه السلام ذکر ده او دا دواړه کارونه د وجے د نعمة نه وو۔ كَذٰلِكَ په حالت د رفع کښ دے یعنی الامر كذالك۔ یا په حالت د نصب کښ دے افعل كذالك بمن عصانی ،کووم دا سے کار د هغه چا سره چه نافرمانی کوی۔ قَوْمًا اٰخَرِيْنَ مراد هغه کمزوری خلق دی چه د لښکر د فرعون نه په مصر کښ روستو پاتے شوے وو۔ یا مراد تری نه بنی اسرائیل دی چه بنی اسرائیل په زمانه د داؤد علیه السلام کښ دغه ملک ته واپس راغلل او د هغے مالونو وارثان شول لکه سورة اعراف ۱۳۷ کښ دیته اشاره ده -

۲۹ :- په دے کښ مقصد سپکولے د شان د فرعونیانو دے. ژړا د آسمان او زمکے په حقیقت باندے حمل ده لکه روایت دے د انس رضی الله عنه نه مرفوعًا "چه مؤمن د پاره په آسمان کښ دوه دروازے دی د یو دروازے نه رزق نازلیږی

او ټولې دروازې ته عمل ورخيژي نوکله چه دے مړشي نو دا دواړه دروازے دَ اسمان په دهٔ پسے ژاړي او بيا ئے دا ايت اولوستلو. او دارنګ دَ ابن عباس رضي الله عنهما روايت دے چه څوک په زمکه باندے رکوع او سجده او نور اعمال دَ خير کوي نو روستو دَ مرګ دَ دهٔ نه هغه زمکه هم په دے مؤمن پسے ژاړي" نو مطلب دَ ايت دا دے چه دَ فرعونيانو هيڅ نيک عمل نه وُ چه اسمان ته خيژي او نه په زمکه باندے دَ هغوي نيک عمل وُ نو روستو دَ مرګ دَ دوي نه اسمان او زمکے په دوي پسے ژړا ونکړه. يا مراد دَ دے نه اهلِ السّماء و اهل الارض دي يعني ملائکو دَ اسمان او مؤمنانو دَ زمکے په دوي پسے هيڅ ژړا ونکړه.

سنة سلة ،، روستو دَ عذاب دَ فرعونيانو نه چه ذکر دے په طريقه دَ تخويف دنيوي مشرکينو دَ پاره اوس انعامات په بني اسرائيلو ذکر کوي په طريقه دَ بشارت سره دَ مؤحدينو دَ پاره . الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ چه هغه سورة بقره سلا کښ ذکر دي.
مِنْ فِرْعَوْنَ دا بدل دے دَ من العذاب نه په دے کښ مبالغه ده چه وجود دَ فرعون نفس عذاب وُ . يا حال دے دَ العذاب نه يعني دا عذاب صادر او واقع وُ دَ طرف دَ فرعون نه . عَالِيًا سرکش چه دَ چا قانون په ځان باندے نه مني دا سے په سورة قصص سلا کښ هم دي .

سلا ،، دا ذکر دَ دويم انعام دے په بني اسرائيلو باندے دا فضيلت په ټولو خلقو باندے فضيلت جزئيه دے چه ډير انبياء ئے په بني اسرائيلو کښ راليږلے دي يا مراد ترے دَ هغه زمانے خلق دي او په دے امت باندے دَ هغوي فضيلت نيشته په دليل دَ دے ايت سره کنتم خير امة أُخرجت للناس . (پاتے په بل مخ)

مَا فِيهِ بَلٰٓؤٌا مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾ إِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾
هغه چه په هغې کښې ازمیښت ښکاره دي. یقیناً دا خلق خامخا وائي
إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا الْأُولٰى وَمَا نَحْنُ
نه دے دا مګر مرګ زمونږ رومبے دے او نه یو مونږ
بِمُنشَرِينَ ﴿٣٥﴾ فَأْتُوا بِآبَآئِنَآ إِن كُنتُمْ
دوباره پورته کړے شوي. نو راولے تاسو پلاران زمونږ که چرے تاسو

عَلٰى عِلْمٍ یعنی الله تعالیٰ عالم دے چه دوی په دغه وخت حق دار دَ فضیلت وو یاسرهٔ دَعلم دَالله تعالیٰ نه دَدوی په نقصاناتو باندے۔

ﺳﺗ۳۳۔ دا ذکر دَبل انعام دے اومراد دَآیات نه هغه معجزات اونا اشنا انعامات دی چه بعض دَ هغې نه ذکر شوی دی په سورة بقره کښ. بلاء نه مراد امتحان دے یا په معنیٰ دَنعمت سره لکه په سورة انفال ۱۷ کښ۔

ﺳ۳۴ ﺳ۳۵ ﺳ۳۶۔ دا متعلق دَ ﺳ۹ سره دے یعنی څه رنګ چه دوی په شک کښ دی دَ توحید او رسالت نو دارنګ دوی منکر دی دَ بعث بعد الموت نه او په دے کښ زجر دے دَدوی په انکار من البعث باندے. إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا الْأُولٰى اقوال دَانکار دَدوی دی روو دَدے وجے نه په لیقولون باندے وقف اوشو لیکن غیر قول یئے دادے. په دے جمله کښ اشکال دے په دوه وجهو سره اول دا چه ضمیر دَ هِيَ ژوند ته راجع دے او که مرګ ته راجع دے که ژوند ته راجع وی نو دَ موت استثناء تریه نه صحیح کیږی، او که مرګ ته راجع وی نو په مرګ کښ خو کلام نیشته دویم دا چه اولیٰ یئے اُویل نو معلومه شوه چه دویم مرګ خو شته او دویم مرګ خو هله کیدے شی چه په مینځ کښ ژوند وی نو معلومه شوه چه دوی دویم ژوند منی نو بیا خو تناقض راغئ دَدے روستو قول سره چه وما نحن بمنشرین؟ جواب دادے چه ضمیر دَ هِيَ حالت اوصفت عاقبت ته راجع دے نو معنیٰ دا ده چه نه دے زمونږ حال اوصفت یا عاقبت مګر رومبے مرګ دے او بیا د رپسے ژوند نیشته او لفظ دَاولیٰ مستلزم نه دے چه دویم موت دے وی استوی په تمهید کښ ویلے دی چه اولیٰ لغت کښ ابتداء دَخیز او کار ته ویلے کیږی که رپسے دویم وی او که نه وی لکه ویلے کیږی چه فلانی اول حج اوکړو او بیا مړ شو دا ګر کړیدے نیشاپوری او آلوسی په تفسیرونو خپلو کښ. دویم جواب دادے چه دوی

صٰدِقِيْنَ ﴿٣٦﴾ اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ ۙ وَّالَّذِيْنَ

رشتني يئ . آيا دوی غوره دی يا قوم د تبع او هغه کسان

مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ اَهْلَكْنٰهُمْ ۫ اِنَّهُمْ كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿٣٧﴾

چه ذدوی نه مخکښ وو هلاک کړل مونږ هغوی يقيناً هغوی وو مجرمان .

ته اُويلے شول چه تاسو به مړه کيږئے په دا سے مرګ سره چه وروستو ژوندی نشئ لکه چه په تاسو تير شو يدلے دا سے مرګ چه په هغے پسے ژوندی شوی يئ لکه په سورة بقره ۲۸ کښ نو دوی په جواب کښ اُويل چه ته د ے هغه مرګ چه په هغے پسے ژوند راځی مګر اولنے مرګ د ے ، بنا په د ے توجيه ضمير د مرګ ته راجع د ے ليکن مقيد په د ے قيد چه وروستو ژوند وی يعنی مَا الْمَوْتَةُ الَّتِیْ تَتَعَقَّبُهَا الْحَيٰوةُ اِلَّا مَوْتَتُنَا الْاُوْلٰى . اول توجيه ته قصر افراد ويلے کيږی او دويم ته قصر قلب ويلے کيږی فَاْتُوْا بِاٰبَآئِنَا دا حجت د منکرينو د ے او د د ے دوه توجيه دی يو دا چه زمونږ مړه شوی پلاران راژوندی کړے لکه سورة جاثيه ۲۵ کښ راځی دويمه توجيه دا ده چه د مشرانو ته قول او دليل پيش کړئے په دوباره ژوندون باند ے مونږ د مشرانو قول په دليل ۳۷ دا رد د ے د دوی په انکار باند ے په طريقه د تخويف سره . او مثال د تخويف يئ شورو کړ ے د ے د قوم تبع ته اشاره ده چه اخری قوم چه هلاک شوی د ے هغه قوم تبع وو . يا د د ے وجه نه چه دوی مشرکين عرب ته ډير نزد ے وو . اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ خيريت په ډيروالی د مال او د قوم او د نورو نعمتونو او عزتونو د نيوی د ے . يعنی هغوی د د ے موجوده مشرکانو نه په دغه صفاتو کښ غوره وو ليکن په سبب د جرمونو سره هلاک کړے شو ے دی نو دا موجوده به څنګه بچ شی ؟ د تبع په باره کښ د مفسرينو دوه قولونه دی اول دا چه ټول بادشاهان د يمن مراد دی هريو ته به تُبَّع ويلے کيدلو لکه چه اسلامی بادشاه ته خليفه ويلے کيږی او دويم قول دا د ے چه دا په هغوی کښ يو خاص بادشاه وو چه هغه ته اسعد ابو کريب الحميری ويلے کيدلو د قتاده نه نقل د ے چه دا به د اُور عبادت کاوو او دا رنګ قوم د ده هم . ليکن ده اسلام راوړلو او خپل قوم يئ اسلام ته راوبلل ليکن هغوی مخالفت اوکړو نو هغوی باند ے عذاب راغے او د ے بچ شو او د ده دوه لونړه هم و ے چه توحيد يئ قبول کړ ے وو هغوی هم بچ شو ے او يو روايت کښ دی چه د ده وخت د نبی صلی الله عليه وسلم نه اووه سوه کاله وړاند ے وو - فراء په معالم التنزيل کښ د ده په مدينه باند ے د حملے اراده کول

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا
او نه دي پيدا كړي موږ اسمانونه او زمكه او هغه چه په منځ د دغو كښې دي

لٰعِبِيْنَ ﴿۳۸﴾ مَا خَلَقْنٰهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ
چه لوبې كوونكي يو - نه دي پيدا كړي موږ دا مګر د حق ښكاره كولو د پاره ليكن

اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ
ډير د دوي نه پوهيږي - يقيناً ورځ د فيصلې

مِيْقَاتُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۰﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِيْ مَوْلًى
مقرر وخت د دوي ټولو دے داسې ورځ چه نه په شي دفع كولے يو دوست

او بيا د هغه نه روستو كيدل او اوس وخزرج ته د نبي اخر الزمان په باره كښې خط وركول او هغوی ته وصيت كول چه زما سلام ورته او رسوئ دا ټوله واقعه ذكر كړے ده۔

۳۸-۳۹:۔ دا هم رد دے په انكار د بعث بعد الموت باندے په طريقه د استدلال سره۔ يعني كه چرے داسې وي چه خلق په يو بل ظلمونه كوي او د الله تعالى سره شرك كوي او د هغه د نعمتونو ناشكري كوي او د دوي د سزا وركولو د پاره څه مستقله ورځ نه وي دا رنګ څوك مصلحان وي او څوك مفسدان وي او د دوي د فرق د جزا او سزا يو ورځ او جنت او جهنم نه وي نو معلومه به شي چه د عالم خلقت به او منځ الله تعالى بے فائدے پيدا كړے دے ليكن الله تعالى د عبث او د لعب كولو نه پاك دے نو دويم ايت كښې د هغه نتيجه ذكر كړے ده چه دا عالم د حق د پاره پيدا شويدے بِالْحَقِّ حال دے د فاعل نه يعني محقين في خلقهما يا با په معنى د لام ده يعني لاظهار الحق او لاقامة الحق او حق نه مراد توحيد دے يا د حق نه مراد حكمت دے چه جزا او سزا وركول دي۔ په دے دويم ايت كښې ضمير تثنيه راوړو او ما بينهما ئے تابع كړو د دواړو طرفينو د اختصار د كلام د پاره۔ په نتيجه كښې او په دليل كښې خو تفصيل پكار وي نو د دے وجه نه په اول كښې ئے ما بينهما مستقل ذكر كړے وؤ۔

۴۰:۔ د دے ايت نه تر اخره د سورت پورے دويم باب دے په دے باب كښې تخويف اخروي تفصيلي مشتمل دے په ديارلس امورو باندے او بيا بشارت اخرويه تفصيله هغه هم مشتمل دے په ديارلس امورو باندے او اختتام د سورت دے په

عَنْ مَّوْلًى شَيْئًا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۱﴾ إِلَّا
د يل دوست نه هيڅ مصيبت او نه به دوی سره مدد كيدی شی مگر
مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ ۚ إِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۴۲﴾
هغه څوک چه رحم كړے وی په هغه باندے الله تعالیٰ يقيناً الله تعالیٰ زورآور رحم والا دے۔
إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ﴿۴۳﴾ طَعَامُ الْأَثِيْمِ ﴿۴۴﴾
يقيناً ونه د زقوم خوراک د گناهگار دے۔
كَالْمُهْلِ ۚ يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ﴿۴۵﴾ كَغَلْيِ
پشان د ويلے كړے شوے تانبے خوټكيږی به په خيټو كښ پشان د خوټكيدلو
الْحَمِيْمِ ﴿۴۶﴾ خُذُوْهُ فَاعْتِلُوْهُ إِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۴۷﴾
د يشيدلو اوبو۔ اونيسئ دے نو راكاږئ دے مينځ د دوزخ ته۔

ترغيب الے القرآن او تخويف دنيوی باندے۔ په دے (سند) كښ د قيامت نوم يوم الفصل ذكر كړے دے لكه په سورة مرسلات سند كښ او نبا سند كښ چه ذكر دے يعنی جدائی په راولی په مينځ د مؤمن او كافر كښ اشاره ده چه په دنيائی عذاب كښ كله كله مؤمنان او كافران شريک وی ليكن د قيامت په ورځ كښ په بالكل جدا جدا وی۔

سند سند په اول ايت كښ د يوم الفصل هيبت ئے ذكر كړے دے په دوه طريقو سره چه دوست په د دوست پكار نه رائی او د دوی سره به د الله تعالیٰ د طرف نه مدد نشی كيدے دويم ايت كښ استثناء ده۔ إِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ مراد دے نه مؤمنان دی دوی د يو بل د پاره شفاعت كولے شی په اذن د الله تعالیٰ او الله تعالیٰ به ځپله هم بغير د شفاعت د شافعينو نه د بعضو سره امداد كوی۔
سند سند سند سند په دے اياتونو كښ ذكر د يو قسم عذاب دے په جهنم كښ چه هغه د خوراک په صورت كښ دے او د دے اونے ذكر په سورة اسراء سند او سورة صافات سند كښ تير شوے دے الأَثِيْمِ مبالغه كوونكے په گناه كښ يعنی غټ گنهگار او هغه مشرک او كافر دے۔ كَالْمُهْلِ هر هغه څيز دے چه په اور كښ ويلے كيږی سرو، سپين، اوسپنه، تانبه وغيره يا مراد ترينه خيرے د تيلو ايشولو شوی دے او په يو حديث كښ راغلی دی چه د شجرة الزقوم يو قطره په دنيا كښ را اوسيكی نو ټول د نيا والو باندے به د هغوی ژوند برباد كړی نو څومره به حال په وی د هغه چا چه دا ئے خوراک وی۔ الله تبارک وتعالیٰ د ترينه مونږ او تاسو
سند سند۔ په اول ايت كښ يو طريقه د عذاب ده يعنی د ځائے د ر پائے په يل مخ)

ثُمَّ صُبُّوْا فَوْقَ رَاْسِهٖ مِنْ عَذَابِ الْحَمِیْمِ ﴿۴۸﴾
بیا واړوئ د سر دپاسه یئ د عذاب د یشیدلو اوبو نه .
ذُقْ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْكَرِیْمُ ﴿۴۹﴾ اِنَّ هٰذَا
اوڅکه یقیناً ته زوراور سپیڅلی روپي دے . یقیناً دا
مَا كُنْتُمْ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ اِنَّ الْمُتَّقِیْنَ فِیْ
هغه څیز دے چه تاسو په دے کښې شک کوئ . یقیناً متقیان به په
مَقَامٍ اَمِیْنٍ ﴿۵۱﴾ فِیْ جَنّٰتٍ وَّعُیُوْنٍ ﴿۵۲﴾
ځائے امن والا کښې دی په باغونو او چینو کښې به وی .

خوراک ته مینځ دَ اور ته به یئے په ډیرو سختو راخکلو سره بوځی او په دویم ایت کښې بله طریقه دَ عذاب دَه داسې په سورة حج سوا کښې هم تیرشویدی او فوق راسه کښې زیاته مبالغه ده په نسبت دَ من فوق راسهٖ . سورة حج کښې ثیاب یئے ذکر کړے وؤ چه دلالت کوی په احاطه دَ عذاب په ټول بدن باندے نو هلته مِنْ کافی وؤ او دے سورت کښې دَ احاطه دپاره بل لفظ نه وؤ نو فوق یئے بغیر دَ من نه راوړو چه دلالت اوکړی په احاطه دَ ټول بدن باندے .

سـ۴۹ـه :- العزیز الکریم په گمان دَ کافر کښې مراد دے یعنی کافر گمان کوی چه زما پشان عزتمند او شریف په دُنیا کښې بل څوک نیشته نو هغه ته به استهزاءً په ورځ دَ قیامت کښې دا اُویلے شی اشاره ده که چرے ته عزیز او کریم وے نو تا ته به وئے دَ ذُقْ خطاب دَ ذلت کیدیشی - تَمْتَرُوْنَ باب افتعال دلالت کوی په مبالغه باندے په مریه (شک) کښې یعنی هغه مسئله چه په عقلی نقلی دلیلونو سره ثابت وی او بیا تاسو په هغے کښې شک کوی نو دا ډیر جهل والا دے .

سـ۵۱ـه نه تر سـ۵۷ـه پورے په دے ایاتونو کښې بشارت اخرویه دے په تفصیل سره مَقَامٍ هغه ځائے دَ اقامت چه بل طرف ته تر تیته تبدیلی نه غواړی . مقام په زور او پیښ دَ میم سره کله په یو معنیٰ سره مستعملیږی او کله پکښې فرق وی دلته یو معنیٰ ده . كَذٰلِكَ خبر دَ مبتدا محذوف دے یعنی الامر کذالک دا جمله دپاره دَ تاکید ده یا منصوب ده په فعل مقدر سره اَكْرَمْنَاهُمْ مِّثْلَ ذٰلِكَ وَ زَوَّجْنَاهُمْ مراد دے نه یو ځائے کول او جوړے کول دی پشان دَ ښځه او خاوند یا مراد دَ دے نه عقد دَ نکاح دے دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه اِلَّا الْمَوْتَةَ الْاُوْلٰى (سوال) دَ تیر شوی

يَلْبَسُونَ مِنْ سُنْدُسٍ وَّاِسْتَبْرَقٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۵۳﴾

اغوندی به دَ نرو ریښمو او غټو ریښمو نه یو بل ته په مخامخ وی.

كَذٰلِكَ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿۵۴﴾ يَدْعُوْنَ

دغه شان به وی او په نکاح سره به ورکړو موږ دوی ته حورے ښائسته سترګو والا۔ راغواړی به دوی

فِيْهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ اٰمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾ لَا يَذُوْقُوْنَ

په هغې کښ هر قسم میوے په دا سے حال چه په امن به وی دَ هر مصیبت نه. نه به څکی دوی

فِيْهَا الْمَوْتَ اِلَّا الْمَوْتَةَ الْاُوْلٰى وَوَقٰهُمْ عَذَابَ

په هغې کښ مرګ لیکن مرګ مخکنے (خو دوی څکلے دے) او بچ ساتی به الله تعالیٰ دوی لره دَ عذاب

الْجَحِيْمِ ﴿۵۶﴾ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ

دَ دوزخ نه دَ وجے دَ فضل ستا دَ رب دَ طرف نه دا کامیابی

الْعَظِيْمُ ﴿۵۷﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ

لویه ده۔ نو یقینًا اسان کړیدے موږ دا قرآن ستا په ژبه باندے دَ دے دَ پاره

موت استثناء دَ راتلونکی حالت نه نه صحیح کیږی ؟ جواب په دریو طریقو سره دے اوله طریقه دا ده چه استثناء منقطع ده یعنی لکن الموتة الاولی قد ذاقوها (اول مرګ خو دوی څکلے دے) دویمه طریقه اِلَّا په معنیٰ دَ بعد سره دے یعنی روستو دَ مرګ مخکښی نه۔ دریمه طریقه دیته تعلیق بالمحال ویلے کیږی دَ پاره دَ تاکید یعنی که چرته تیر شوے مرګ دوی په راتلونکی وخت کښ څکلے شوے نو څکلے به ئے وے نو معلومه شوه چه هیڅ مرګ به نه څکی۔

سوال :. په جهنم کښ خو هم مرګ نیشته نو دَ جنت په دے کښ څهٔ فضیلت دے ؟

جواب :. مقصد دا دے چه په جنت کښ حیات کامله دے او په جهنم کښ ژوند هم په ژوند باندے حساب نه دے سورة اعلیٰ کښ فرمائیلی دی لا یموت فیها ولا یحیی۔

فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ دا دلیل دے چه ثواب دَ عملونو په الله تعالیٰ باندے واجب نه دے بلکه دَ هغهٔ فضل دے۔

يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ فَارْتَقِبْ اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ﴿۵۹﴾

چه دوی نصیحت واخلی۔ تو انتظار اوکړه یقیناً دوی انتظار کوونکی دی۔

ف۵۸:۔ دا متعلق دے د ابتدا د سورت سره۔ ترغیب دے قرآن ته او تشجیع ده پیغمبر ته په بیا نولو د قرآن د پاره د دے چه داخلق په تذکر د قرآن سره د عذاب د دنیا او د اخرت نه بچ شی۔ بِلِسَانِكَ په لغت ستا چه عربی ده او ژبه عربی د نولو ژبو نه اسلته ده یا مراد دا دے چه ستا په ژبه باندے په اسانه طریقه سره قرآن چلوؤم په تا باندے لوستل او بیانول گران نه دی۔

ف۵۹:۔ دا هم متعلق دے د سورت د دعوے سره چه په سلکیس وه۔ او مطلب ئے دا دے که چرے دے خلقو د قرآن د بیان نه تذکر او عبرت حاصل نه کړو نو بیا د دوی د عذاب انتظار اوکړه۔ یا مراد دا چه انتظار کوه د نصرت د الله تعالیٰ ستا سره او دوی انتظار کوی په تا باندے د تکلیفونو د راتللو او د مرګ۔

ختم شو تفسیر د دے سورت په فضل د الله تعالیٰ۔

سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ ۴۵ مَكِّيَّةٌ ۶۵ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۳۷ — رُكُوْعَاتُهَا ۴

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾

الله تعالیٰ دَ دے په مراد ښه پوهیږی۔ نازلول دَ دے کتاب دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه دی زور اور حکمتونو والا دے۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الجاثیة او دَ دے بل نوم سورة الشریعه دے

ربط دَ دے دَ مخکښ سورت سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه تیر شوی سورت کښ تخویف وؤ په عذاب سره نو په دے سورت کښ ذکر دَ طریقے دَ نجات دے دَ دغه عذاب نه۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ ذکر دَ نعمتونو وؤ په بنی اسرائیلو باندے نو په دے سورت کښ ذکر دَ ناشکرئ دَ هغوی دے دریمه وجه دا ده چه په سورة دخان کښ ذکر دَ عظمت دَ قرآن وؤ نو په دے سورت کښ سخت زجر دے دَ پاره دَ مخالفت کوونکو دَ قرآن نه او دَ هغوی قبائح ذکر کوی۔

دعوىٰ دَ دے سورت :- آمر دے په اتباع دَ شریعت سره او نهی ده دَ تابعدارئ دَ هوی نه په س۱۸ کښ او ورسره اثبات دَ توحید دے په آیات عقلیه او وحیه سره او په ذکر دَ پنځه اسماءِ حسنیٰ سره او دعوىٰ دَ توحید ذکر ده په س۳۶ س۳۷ کښ او دارنګ جواب دَ شبهے دَ مشرکینو دے هغه دا ده چه دوی وائی غیر الله ته رامد شه وایو دَ هغوی بندګی کوو ځکه چه زمونږ مشرانو داسے کول جواب ارشو

خلاصه دَ سورت دا ده ۔ دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر س۲۲ پورے دے په دے کښ ترغیب دے قرآن ته او هغے ته آیات وحییه ویلے کیږی چه س۲ س۶ س۱۱ س۲ دی او آیات عقلیه س۳ س۴ س۵ س۱۲ س۱۳ دی او زجر او تخویف دے دَ منکرینو دَ دے آیاتونو ته او متبعینو دَ خواهشاتو ته په س۷ س۸ س۹ س۱۰ س۱۹ س۲۱ کښ او تمثیل دے په ذکر دَ حال دَ بنی اسرائیلو سره او خطاب دے نبی صلّی الله علیه وسلم ته په س۱۴ س۱۵ کښ او دعوىٰ دَ سورت ده س۱۸ کښ۔

تفسیر

س۱ :- په دے کښ بحث مخکښ تیر شوید ے۔

س۲ :- دا ترغیب دے قرآن ته یعنی په قرآن کښ آیات وحییه دی دَ تعلیم او دَ اثبات د

إِنَّ فِي السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ لَآيَٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٣﴾

یقیناً په اسمانونو کښې او زمکه کښې ډیر دلیلونه دی دپاره د ایمان والو -

وَفِي خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ آيَٰتٌ لِّقَوْمٍ

او ستاسو په پیدائیش کښې او هغه چه خواره کړیږی ژندده سر دلیلونه دی دپاره د هغه قوم

يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ وَاخْتِلَٰفِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ

چه یقین کوی او په تلو راتلو د شپه او د ورځ کښې

وَمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَآءِ مِن رِّزْقٍ

او په هغه کښې چه را ګرځولی دی الله تعالیٰ د اسمان نه څه (سبب) د رزق نه

فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيفِ الرِّيَٰحِ

نو تازه کړیده په هغه سره زمکه روستو د وچوالی د هغې نه او په ګرځیدلو د هواګانو کښې

آيَٰتٌ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٥﴾ تِلْكَ آيَٰتُ اللَّهِ

دلیلونه دی دپاره د هغه قوم چه عقل نه کار اخلی - دا ایاتونه د الله تعالیٰ دی

سـ۳ :- دا د دلیلونو عقلیه نه اول دے په دے کښې ایات افاقیه علویه او سفلیه ذکر کوی
فِي السَّمَٰوَٰتِ لفظ د خلق ئے نه دے ذکر کړے د پاره د دے چه عموم فائده کړی
یعنی په ذوات د اسمانونو کښې چه نمر، سپوږمئ او ستوری وغیره دی او په ذات د زمکه کښې
چه معدنیات نباتات او نور اسباب د معاش دی په دے ټولو کښې جدا جدا هم دلالت
دے په توحید باندے او هغه بے شماره دی د دے وجے نه ایات ئے جمع ذکر کړیدے.
لِلْمُؤْمِنِينَ اشاره ده چه ایمان په حقیقت کښې سبب د عبرت او د استدلال دے ضدی
منکر ته خو هیڅ فائده نه ورکوی -
سـ۴ :- په دے کښې دویم دلیل عقلی په ذکر د ایات انفسیه سره ذکر کوی
وَمَا يَبُثُّ ئے په صیغه د مضارع سره ذکر کړو د پاره د دلالت کولو په نوے نوے
دلیلونو باندے او چه څومره دلیلونه ډیریږی نو دومره شک او ګمانونه زائله کیږی
او درجه د یقین حاصلیږی نو د دے ایت په اخر کښې يُوقِنُونَ ذکر کړے دے.
سـ۵ :- په دے کښې دریم دلیل عقلی دے په ذکر د ایات متوسطه سره مِن رِّزْقٍ
ذکر د مسبب او مراد تربنه سبب دے یعنی باران - او هرکله چه په دے سورت
کښې په دلیلونو سره د نعمتونو تذکیر هم مقصد دے او ښکاره نعمت خو رزق دے

نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَ اللّٰهِ

لولو موږ دا په تا باندے دَ پاره دَ حق ښکاره کولو نو په کومه خبره به روستو دَ کتاب دَ الله تعالیٰ

وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۞ وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ۞

او دلیلونو دَ هغه نه دوی ایمان راوړی - تباهي ده هر ډیر دروغژن سخت ګنهګار لره

يَّسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا

چه اوری آیاتونه دَ الله تعالیٰ لوستلے کیداشی په هغه باندے بیا کلک شی په کفرباندے لوئی کوونکی وی

كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۞

ګویا چه نه وی اوریدلی هغه نو زیرے ورکړه دهٔ لره په عذاب دردناک سره.

نو دَ دے وجے نه په دے باندے تصریح اوکړه او هرکله چه دا دلیلونه ډیر واضح دی هر عقل والا پرے پوهیږی دَ دے وجے نه په یعقلون سره ختم کړو.

فائده: په دے ترتیب کښ یو حکمت دے هغه دا دے چه فرمائی که چرے تاسو مؤمنان یئ نو په دے دلیلونو باندے پوهه شئ او که چرے طلب ګار دَ حق او دَ یقین یئ نو فکر اوکړئ په دے دلیلونو کښ او که چرے نه مؤمنان او نه یقین والا یئ نو کم از کم دَ عاقلانو نه خو یئ نو کوشش اوکړئ په معرفت دَ دے دلیلونو کښ دویم حکمت دا دے چه په ۳ کښ ذکر دَ احوالو فلکیو دے او هغه لرے دی په هغے کښ صرف تصدیق کافی دے او په ۴ کښ انفسی دلیلونه دی چه هغه ډیر نزدے دی نو په هغے کښ یقین استعمال کړے دے او په ۵ کښ آثار دی بره او کوز او انقلابات دی نو دَ هغے دَ پاره صرف عقل هم پوره دے.

۶:- دا ترغیب دے دغه آیاتو عقلیو او قران ته بَعْدَ اللّٰهِ لفظ دَ حدیث پټ دے یعنی بعد حدیث الله تعالیٰ او هغه قران دے لکه چه په سورة مرسلات ۵۰ کښ ذکر دی او اٰيٰتِهٖ نه مراد عقلی دلیلونه دی چه کوم مخکښ تیر شول.

۷ ۸:- په دے کښ زجر او تخویف دے منکریتو دَ آیاتونو ته په ذکر دَ پنځه صفاتِ قبیحه دَ هغه سره اَفَّاكٍ هغه څوک چه خبره دَ حق ته په اړولو کښ مبالغه او کوشش کوی په دروغ ویلو دهوکه کولو تحریف کولو سره- اَثِيْمٍ غټ ګنهګار کافر او مشرک ته ویلے کیږی يَسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ آیات وحیه او عقلیه دواړو ته شامل دے او په دے کښ اشاره ده چه دے ناخبره او بے علمه نه دے بلکه خبر دے بیا هم خلاف کوی ثُمَّ يُصِرُّ، اصرار نه مراد کلکیدل ریاتے په یو مخ).

وَإِذَا عَلِمَ مِنْ آيَاتِنَا شَيْئًا اتَّخَذَهَا هُزُوًا

او کله چه پوهه شی د آیاتونو زمونږ نه په یو څیز اونیسی هغه لره توقی

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ ﴿٩﴾ مِنْ وَرَائِهِمْ

دغه کسان دوی لره عذاب د ذلیلوونکے دے - مخ د دوی ته

جَهَنَّمُ ۖ وَلَا يُغْنِي عَنْهُمْ مَا كَسَبُوا شَيْئًا وَ

جهنم دے او نشی ازدے د دوی نه هغه عملونه چه دوی کړیدی هیڅ عذاب او

لَا مَا اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ ۖ وَلَهُمْ

نه هغه معبودان چه دوی نیولے دی سوا د الله تعالیٰ نه مددګاران او دوی لره

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠﴾ هَٰذَا هُدًى ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا

عذاب دے لوے شان والا - دا هدایت دے او هغه کسان چه کفر ئے کړیدے

په ګناه یاتلے په دوه طریقو سره اوله داچه ګناه ته ګناه نه وائی یعنی مبتدع وی دویم داچه ضدی عنادی وی ګناه ګنړی لیکن د ضد د وجے نه ئے کوی او دا سے ایت په سورة لقمان ۷ کښ ذکر کړے شوے دے۔

۹:۔ په دے ایت کښ زجر او تخویف او شپږم وصف قبیحه دے۔ اِذَا عَلِمَ د دے دوه توجیه دی اول داچه کله پوهه شی چه دا د قران ایت دے نو په هغے پورے توقے کوی د ضد او عناد او د جهل د وجے نه۔ دویمه داچه کله چه د یو ایت په مقصد باندے پوهه شی مثلاً ایت کښ رد د شرک دے نو په هغے پورے توقے کوی۔ اُولٰئِكَ لَهُمْ دا ئے جمع ذکر کړو اشاره ده چه کل افاکٍ کښ یو شخص مراد نه دے بلکه ډیر کسان دی۔

۱۰:۔ په دے ایت کښ پوره تخویف دے دغه شخص ته چه په هغه کښ دا شپږ قبیح صفتونه دی۔ مِنْ وَّرَآئِهِمْ وراء لفظ د اضدادو نه دے یعنی د دے معنیٰ مخکښ او روستو دواړه راځی۔ دلته (مخکښ) معنیٰ مراد ده یعنی اوس په دنیا کښ دوی په عزت او تکبر کښ دی لیکن مخ ته (قیامت کښ) دوی لره جهنم دے وَلَا يُغْنِي عَنْهُمْ

هرکله چه مخالفت کوونکی د حق دوه قسمونه دی یو دنیا پرست سرمایه داران، نو د هغوی خیال دا دے چه په مالونو ګټلو سره د عذاب نه بچ ځو حاصلیګی او دویم پیر پرست، قبر پرست، بُت پرست د هغوی عقیده دا وی چه زمونږ پیران

بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾
په ایاتونو دَ رب خپل دوی لره عذاب دے دَ سخت عذاب نه دردناک۔

اَللّٰهُ الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ
الله تعالیٰ هغه ذات دے چه ستاسو په خدمت کښ لګولے ئے دریاب دَپاره دَ دے چه روانے وی کشتۍ

فِيْهِ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ
په هغے کښ په حکم دَ هغه سره او دے دَپاره چه اولټوئے دَ فضل دَ الله تعالیٰ نه او دے دَپاره

تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ
چه شُکر اوکړئے تاسو۔ او خدمت کښ لګولے ئے تاسو لره هغه څه چه په آسمانونو کښ دی

بزرګان په مونږه پج کوی نو په دے جمله کښ دَ اول قسم خلقو تردید ئے اوکړو او په دویمه جمله کښ (ولا ماتخذوا من دونه اولیاء) کښ دَ دویم قسم تردید ئے اوکړو۔

فائده:۔ په دے ایاتونو کښ شپږ اوصاف قبیحه او شپږ عذابونه ئے ذکر کړے دی. او دَ عذاب په صفت کښ اول اَلِيْمٌ ذکر کړو ځکه چه دغه سړی په دنیا کښ په اصرار او تکبر کولو سره په وخت دَ اوریدلو کښ دَ قران بیانونکی زړه ته ډیر درد رسولے دے. او دویم دَ عذاب په صفت کښ ئے مُّهِيْنٌ ذکر کړو ځکه چه په استهزاء کولو سره دَ قران او دَ قران والا اهانت ئے کړیدے نو دَ دهٔ سزا په اهانت وی او دریم صفت ئے عَظِيْمٌ ذکر کړیدے اشاره ده چه دا عذاب به دوی باندے دَ هر جهت نه په هره زمانه کښ په هر اندام دَ دوی باندے احاطه کوونکے دے۔

سلـ۔ په دے کښ ترغیب دے قران ته او تخویف دے منکرینو ته۔ هٰذَا اشاره ده قران ته چه مشتمل دے په ایاتو وحییو او عقلیو باندے هُدًى تنکیر دَپاره دَ تعظیم دے۔ مِّنْ رِّجْزٍ دا په اصل کښ کنده عذاب ته ویلے کیږی چه دَ هغے نه نفرت کیدے شی لکه په دنیا کښ طاعون وبا او په اخرت کښ ماءِ صدید او غسلین.

سلـ ۱۲ ۱۳۔ په دے ایاتونو کښ بیا عقلی دلیلونه دی۔ تیر شوی دلیلونه صرف په طریقه دَ ایات باندے وو او دا دلیلونه په طریقه دَ انعاماتو باندے دی دَ دے وجے نه سَخَّرَ لفظ ئے په کښ ذکر کړے دے او دَ تسخیر دَ بحر نه مراد دا دے چه په هغے کښ ئے دا سے صفات پیدا کړے دی چه تاسو پکښ کشتۍ چلولے شئ لکه نرم والے او هموارې، درمیانه هوا کانے، موجونه په (پاتے په بل مخ)

وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

او هغه څه چه په زمکه کښ دی دا ټول د الله تعالیٰ د طرف نه دی یقینًا په دے کښ

لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿۱۳﴾ قُل لِّلَّذِينَ

ډیر دلیلونه دی هغه قوم له چه فکر کوی. ته اووایه هغه کسانو ته

آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ

چه ایمان ئے راوړے دے بخښنه دِ کوی (د ځپل حق) هغه کسانو ته چه عقیده نه لری د ورځو د الله تعالیٰ

لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿۱۴﴾ مَنْ

دے د پاره چه جزا ورکړی قوم ته په سبب د هغه عملونو چه دوی کول. چا چه

عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا ۖ

عمل اوکړو برابر د سنت نو د هغه د فائدے د پاره دے او چا چه بد عمل اوکړو نو دبال ئے په هغه باندے

ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿۱۵﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا

بیا ستاسو رب ته به دراوګرځولے شئ. او یقینًا ورکړیدۀ موږ

اندازے سره او د کشتو جهازونو ځان ته نه جذب کول وغیره حالات او دا ټول په قدرت د الله تعالیٰ سره دی د هیڅ مخلوق په هغے کښ هیڅ دخل نیشته. دا رنګ تسخیر د ما في السموٰت وما في الارض نه مراد دا دے چه په آسمانونو کښ ملائک او په دغه طرف کښ نمر، سپوږمئ، ستوری او په زمکه کښ ژندۀ سراونے بوټی نهرونه غرونه وغیره ټول د انسان د فائدو او د خدمت د پاره پیدا کړیدی او د هغے نه د فائدے اغستلو د پاره الله تعالیٰ اسان اسباب پیدا کړیدی. او جَمِيعًا مِّنْهُ کښ تصریح ده چه په دے کښ د هیڅ مخلوق دخل او اختیار نیشته صرف احسان د الله تعالیٰ د طرف نه دے او جَمِيعًا حال دے د ما في السموٰت اه نه یا فعل پټ دے د اعتقدوا جميعًا منه او من په منه کښ د پاره د ابتدا دے نه د پاره د تبعیض.

س ۱۴ تا ۱۵:- روستو د دعوت نه په دلیلونو سره تعلیم د ادب او د حسن اخلاق دے د دعوت (تبلیغ) کوؤنکو ته. يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ یعنی کوم خلق (منکرین) چه موحدینو ته تکالیف ورکوی او بے عزتی او کنځل کوی هغوی په حقیقت کښ د عذابونو د الله تعالیٰ (چه په منکرینو باندے نازل شویدی) او نعمتونو د الله تعالیٰ (چه موحدینو ته ورکړے شوے دی) عقیده نه لری د دے وجے نه دوی داسے

بَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ

بني اسرائيلو ته كتاب او پوهه د دين او پيغمبري

وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾

او ورکړې وو موږ دوی ته د پاک خوراکونو نه او غوره والے ورکړے وو موږ دوی ته په ټولو خلقو باندے۔

وَاٰتَيْنٰهُمْ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا

او ورکړے وو موږ دوی ته ښکاره حکمونه د دين نو اختلاف اونه کړو دوی مګر

مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ۙ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۭ

روستو د هغې نه چه راغے دوی ته علم د وجے د ضد کولو نه په مينځ خپل کښې

اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا

يقيناً ستا رب به فيصله اوکړی په مينځ د دوی کښې په ورځ د قيامت په هغه څيز کښې

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۷﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى

چه دوی پکښې اختلاف کوی۔ بيا ئے او ګرځولے ته په

بداخلاقی کوی۔ يَغْفِرُوْا د دے نه مراد د هغوی نه بے پرواهی کول او د کنځلو وغيره د جواب نه چُپ کيدل او صبر کول دی۔ او دا اخلاق حسنه که د قتال د فرضيت نه مخکښې وی او که روستو وی نو منسوخ نه دی بلکه داعی له په دے باندے هر وخت عمل پکار دے لِيَجْزِيَ قَوْمًا دا عام دے مؤمنانو او کافرانو ته او بيا په دويم آيت کښې تفصيل د دغے جزا ذکر شويدے۔

سلا سکا :۔ دا تمثيل دے د ما قبل د پاره يعنی لکه چه مخاطبينو د قرآن ته آيات بينات ئے ورکړل او آخری نبی ئے ورته رالوليږلو ليکن دوی مخالفت اوکړو نو الله تعالیٰ به دوی له د دوی مناسب جزاء ورکوی نو دا رنګ ئے بنی اسرائيلو ته آيات او نبوت او نعمتونه ورکړے دی او هغوی هم سره د علم نه اختلاف اوکړو۔ او هر کله چه د دوارو مضمونو نه يو بل سره موافق دی د دے وجے نه حرف د عطف (واؤ) ئے ذکر کړے دے۔ بيا په دے آيتونو کښې شپږ نعمتونه ئے په هغوی باندے ذکر کړل پنځه په اول آيت کښې او يو په دويم آيت کښې۔ وَالْحُكْمَ علم او فهم د کتاب الله چه هغه په اصل کښې سنت (حديث) د انبياؤ دے۔ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ مراد د دے نه احکام د حلال او حرام او شرائع د دوی وو۔ يا پيدا يکښې (رياتے په بل مخ)

شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ

ښکاره لاره یاندے دَ دین نو تابعداري کوه دَ هغے او تابعداري مه کوه دَ خواهشاتو

الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸﴾ اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا

دَ هغه کسانو چه نه پوهیږی - یقینًا دوی نشی لرے کولے

عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ۭ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضُهُمْ

ستانه دَ (عذاب) دَ الله تعالی نه هیڅ څیز او یقینًا ظالمان بعض دَ دوی

اشاره ده ښکاره صفتونو او حالاتو دَ خاتم الانبیاء صلّی الله علیه وسلّم ته چه دَ دوی په کتاب کښ ذکر شوی وو - بَغْيًا بَيْنَهُمْ یعنی کورنی کښ بعضو دَ دوی دَ بعضو سره ضد او عناد او حسد شورو کړو په طلب دَ ریاست او دَ مشرئے سره - او په دے کښ اشاره ده چه دَ اختلاف منشا علماء دی او سبب دَ هغے بغی (ضد او عناد دے) او دغه اختلاف بیا متعدی شی عوامو خلقو ته او دا رنګ تیر شوی دی په سورة بقره ۲۱۳ آلعمران ۱۹ شوری ۱۴ کښ۔

۱۸ :- په دے ایت کښ دعوی دَ سورت ده - او هر کله چه مخکښ ذکر شو چه بنی اسرائیلو خپل دین دَ وجے دَ بغی او دَ اختلاف نه برباد کړے دے او دَ عوامو مشرکانو حال هم ذکر کړے شو چه هغوی افاك او اثیم وغیره دی نو معلومه شوه چه دَ دغه دواړه ډلو تابع داری کول نه دی جائز نو دَ دے وجے نه تاله مستقل شریعت درکړے شوے دے (چه هغه قرآن او سنّت دے) نو دَ دے تابعداری کول فرض دی. شَرِيْعَةٍ په عام اصطلاح کښ هغه لارے ته ویلے کیږی چه فراخه نیغه آسانه او مقصد ته رسوونکے وی او په اصطلاح دَ شرع کښ هغه احکام او امر نواهی حدود فرائض وغیرهاته ویلے شی چه الله تعالی بندګانو ته دَ رسول په واسطه رالیږلے وی. مِنَ الْاَمْرِ مراد دے نه مطلق دین دے او لفظ دَ جَعَلْنَاكَ کښ یو فائده دا ده چه شریعت په وحی سره ثابتیګی دویمه فائده دا چه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ نبوت نه وړاندی ټول شریعت دے الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ دا مخکښ تیر شوے دواړو ډلو ته شامل دے که امیان جاهلان دی او که اهل کتاب دی خو چه په علم باندے عمل پریخودلے دے - او په دے کښ اشاره ده چه مخالف دَ شریعت (وحی) ته دَ هیچا قول منل جائز نه دی ځکه چه بے علمه بے دلیله ته ویلے کیږی۔

أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍ ۚ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾ هَٰذَا

ملګری دَ بعضو دی او الله تعالیٰ ملګرے دَ متقیانو دے دا قرآن

بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحۡمَةٌ لِّقَوۡمٍ

دلیلونه دَ رڼا دی زړونو دَ خلقو لره او هدایت او رحمت دے هغه قوم لره

يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾ أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجۡتَرَحُواْ

چه یقین لری۔ آیا ګمان کوی هغه کسان چه کوی

ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجۡعَلَهُمۡ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ

بدکاری داچه ګرځوو مونږ دوی لره پشان دَ هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے دے

وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ سَوَآءً مَّحۡيَاهُمۡ وَمَمَاتُهُمۡ ۚ

او عملونه ئې کړیدی دَ سنت موافق چه برابر وی ژوند دَ دوی او مرګ دَ دوی

سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ

بد دے هغه فیصله چه دوی کوی۔ او پیدا کړیدی الله تعالیٰ آسمانونه

سـ۱۹۔ دا علت دَ لا تتبع اهواء الخ دے۔ لَن يُغۡنُواْ عَنكَ دَ دے دوه مطلبه دی یو داچه که دَ دوی تابعداری کوے نو دَ هغے په وجه سره دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه په دنیا او آخرت کښ نشے بچ کیدلے۔ دویم داچه دَ دوی تابعداری دَ حق دَ ثابتولو په باره کښ تا ته هیڅ فائده نشی درکولے یعنی دَ دوی اهواء دلیل دَ اثبات دَ حق نشی کیدلے۔
بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍ مراد دَ ولایت نه تابعداری دَ کشرانو ده مشرانو لره او مشابهت دے دَ یو بل سره په شرک او خرافاتو کښ او دَ یو بل سره په باطل کښ مدد کول. مراد دَ دے نه دوستانه کول نه دی ځکه چه دَ دوی په مینځ کښ کله دشمنی هم وی لکه سورة مائده سه۱ کښ تیر شویدی۔
سـ۲۰۔ دا ترغیب دے قرآن ته او علت دے دَ فاتبعها دَ پاره یعنی دَ شریعت تابعداری دَ دے وجے نه واجب ده چه په هغے کښ دا درے اوصاف عالیه دی۔ بصائر، هدیٰ، رحمت۔ اول کښ قرآنی دلیلونو ته اشاره ده په دویم کښ دَ قرآن دُعاوی او مقاصدو ته اشاره ده او په دریم کښ دَ دے فائدے او ثمرے ته اشاره ده۔
سـ۲۱۔ په دے آیت کښ زجر او رد دے په منکرینو دَ شریعت باندے او وائی چه شریعت او غیر شریعت یو شے دے۔ ٱلَّذِينَ ٱجۡتَرَحُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ یعنی (پاتے په بل مخ)

وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۢ

او ځمکه دَ حق دَپاره او دَ دے دَپاره چه جزا ورکړے شي هر یو تن ته

بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾ اَفَرَءَيْتَ

دَ هغه عمل چه کړے وي او په دوي باندے به ظلم نشي کیدے. آیا بوهه شے ته په حال دَ هغه

مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ

چا چه جوړ کړے دے معبود خواهش خپل لره او بے لارے کړے دے دَ هغه الله تعالیٰ په علم باندے

وَّخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ

او مُهر یے وهلے دے په غوږ دَ دهٔ او زړهٔ دَ دهٔ او اچولے دی په سترګو دَ هغه باندے

شرک او کفر بدعات او نور ګناهونه کوي او دَ شریعت نه خلاف کوي سَوَآءً په دَ باندے زور پنادے په دے چه دا حال دے دَ کَالَّذِیْنَ نه، او محیاهم ومماتهم ضمیر دواړه دلو ته راجع دے او استفهام په ام حسب کښ استفهام انکاري دے. حاصل دا دے چه کافران دا ګمان کوي چه زموږ او دَ مؤمنانو په ژوند او په مرګ کښ هیڅ فرق نیشته نو دا ګمان یے غلط دے بلکه ژوند دَ مؤمنانو په طاعت دَ الله او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے دے او ژوند دَ مشرکانو په معصیت او په ګناهونو کښ دے دَ مؤمنانو په زړونو کښ اطمینان او تسلي ده او کافران همیشه پریشان دي او مرګ دَ مؤمنانو په بشارت سره دے ملائک ورله زیري ورکوي او مرګ دَ کافرانو په ذلت او په رسوائي او په سختے سره دے او دا ایت په تیزدَ مفسرینو مسمّی دے په میکاة العابدین سره ځکه چه ډیرو صالحینو نه نقل دے چه دَ شپے په مانځه کښ دے ایت له را او رسیدل نو بار بار به یے لوستلو او ژړل به یے.

۲۲:. دَ دے ایت نه تر اخره پورے دویم باب دے په دے کښ نور ایاتِ عقلیه ذکر کوي او زجر دے په اتباع دَ هوی او په انکار دَ قیامت سره. بیا بشارت دے تابعدارانو دَ شریعت ته او تخویف دے تابعدارانو دَ هوی ته. په دے (۲۲) کښ دلیل عقلي دے او دا رنګ دا رد دے په مخکښ ګمان دَ کافرانو باندے چه مساوات دے دَ حال. حاصل د رد دا دے یعني ایجاد دَ دے عالَم دلالت کوي په عدل او په اتصاف باندے او هغه فرق کول دي په جزا دَ فریقینو کښ بِالْحَقِّ مراد دَ حق نه توحید دے یا عدل دے او بَاء سببیه ده نو وَلِتُجْزٰى په دے باندے عطف دے.

غِشٰوَةً ۭ فَمَنْ يَّهْدِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ اللّٰهِ ۭ

پردے · نو څوک به هدایت ورکړی ده ته روستو د بے لارے کولو د الله تعالیٰ نه

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَقَالُوْا مَا هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا

آیا نو نصیحت نه اخلی دوی · او دوی وائي نه دے دا ژوند مګر ژوند زموږ

الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ ۚ

نژدے مړه کیږو او ژوندی کیږو او نه مړه کوی موږ لره مګر زمانه

۲۳:- دا زجر دے او رد دے په مخکښ ګمان د کافرانو باندے چه د کافرانو حال څه رنګ د مؤمنانو سره برابر کیدیشی او حال دا چه دوی د هویٰ نه إله جوړ کړے دی او مهر زده ګمراهان دی۔ الٰهه هواه په دے کښ دوه توجیه دی اوله دا ده چه الٰهه مفعول اول دے او هواه مفعول ثانی دے یعنی إله یې د خپل خواهش په تقاضا جوړ کړے دے د چا خواهش دے چه بُت إله دے او د چا خواهش دے چه قبر اله دے او د چا پیر اله دے او د چا شیخ اله دے وغیره او دلیل ورسره نیشته او حال دا چه إلٰهه صرف الله تعالیٰ دے چه د هغه په الوهیت باندے بیشکاره آیات او دلیلونه شته دے۔ دویمه توجیه دا ده چه الٰهه مفعول ثانی دے مقدم کړے دے د اهتمام د وجے نه او هواه مفعول اول دے یعنی د هویٰ (خواهش د نفس) داسے تابعداری کوی لکه د الله چه تابعداری کیږی یعنی په خپل خواهش باندے حلال او حرام جوړوی جائز او ناجائز جوړوی او په هغې پسے روان وی او تفسیر قرطبی کښ د اتباع هویٰ په قباحت ډیر احادیث او اقوال د صالحینو نقل کړیدی۔

فائده:- داسے آیت په سورة فرقان ۴۳ کښ هم تیر شویدے نو فرق دا دے چه په هغه سورت کښ اوله توجیه راجح ده او په دے سورت کښ بحث دے په اتباع الهویٰ باندے نو دلته دویمه توجیه راجح ده۔ واضله الله علی علم دا عطف د مسبب دے په سبب باندے او علی علم حال دے د مفعول نه یعنی دا ګمراه پوهه دے په ګمراهۍ خپله باندے یا حال دے د فاعل نه یعنی الله تعالیٰ عالم دے د ده په ګمراهۍ باندے یا د ده په حال باندے چه دے لائق د ګمراهۍ دے۔ وختم علی سمعه دا هم عطف د مسبب دے په سبب باندے۔ هر کله چه په دے سورت کښ آیات وحییه او عقلیه بیان شول ر پاتے په بل مخ)

وَمَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿۲۴﴾

او نيشته دوی لره په دے باندے هيڅ دليل دوی ته دی مگر گمانونه کوی۔

وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ مَّا كَانَ

او کله چه لوستے کيږی په دوی باندے اياتونه زموږ ښکاره نه دی

حُجَّتَهُمْ إِلَّا أَنْ قَالُوا ائْتُوا بِاٰبَآئِنَا إِنْ كُنْتُمْ

دليل د دوی مگر دا چه وائی راولے مشران زموږ که يئ تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ

رشتيني - ته اووايه الله تعالیٰ تاسو ژوندی کوی بيا په مو مړه کوی

او د اياتِ وحيه د پاره سمع ضروری ده او د اياتِ عقليه د پاره عقل اوليدل پکار دی نو درے واړه يئ په ترتيب سره ذکر کړل۔

ف ۲۴:۔ دا زجر دے په انکار د قيامت سره او عطف د مسبب دے په سبب باندے نَمُوْتُ وَنَحْيَا (سوال) د هغې جملے نه معلومه شوه چه د مرګ نه پس د دوباره ژوند نه دوی منکر دی او په دے جمله کښ روستو د مرګ نه ژوند ذکر کړے دے نو دا په ظاهر کښ تعارض دے د دے جوابات دی اول جواب زجاج ويلے دی چه مړه کيږو بعض او ژوندی (پيدا) کيږو بعض۔ دويم جواب موت نه مراد نطفے کيدل په ارحامو د مائيدو کښ او د حيات نه مراد دنيوی ژوند دے دريم جواب مړه کيږو موږ او ژوندی بويه بقاء د اولاد سره څلورم جواب نموت په معنیٰ د ماضی دے مړه شويدی بعض زموږ او بعض ژوندی پاتے يو (تر يو وخت پورے) پنځم جواب د حيات نه مراد حياة د روح دے په عقيده د تناسخ سره چه روح د بدن نه اوځی نو منتقل شی بل انسان يا حيوان ته۔ وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ دا رد دے په عقيده د بعض عرب جاهلانو چه د هغوی عقيدہ داوه چه حوادث، تکاليف، او مرګ د دے فاعل دهر دے او د دے وجے نه دوی به د مصيبت په وخت کښ دهر ته ناکاره الفاظ ويل (يا خيبة الدهر) او حديث صحيح کښ وارد دی چه "لا تسبوا الدهر (نسبت د مصيبتونو او ستلو دهر ته مکوئے) فان الله هو الدهر" او قرطبی ويلے دی چه صحيح دا ده چه دهر د الله تعالیٰ نوم نه دے بلکه په دے حديث کښ معنیٰ وصفی مراد ده يعنی الفاعل والمتصرف. د دے نه معلومه شوه چه څوک د بعض حوادثو نسبت زمانے ته کوی يا د تولو حوادثو نو دا قول کافر دی او دوی ته دهريان هم ويلے کيږی. او دا فتنه په دے وخت کښ ډيره

ف ۲۵:۔ دا زجر دے په انکار د اياتونو د بعث بعد الموت سره او طلب د داسے دليل دے چه هغه

ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ

بیا به جمع کوی تاسو درځ دَ قیامت ته چه شک نیشته په هغې کښې

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ وَلِلَّهِ

لیکن ډیر خلق پوهه نه لری ۔ او خاص الله تعالیٰ لره

مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ

ده بادشاهی دَ آسمانونو او دَ زمکې او په هغه درځ چه قائم شی قیامت

يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ الْمُبْطِلُونَ ﴿٢٧﴾ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ

نو په دغه درځ به تاوان ښکاره شی دَ باطل پرستو خلقو ۔ او ته به وینې هر اُمت

په حقیقت کښې دلیل نه دے هغه داد ے ائْتُوا بِآبَائِنَا یعنی زمونږ پلاران ژوندی کړئے نو مونږ ته به په مشاهدے سره ثابت شی چه دوباره ژوند شته یا مراد دا دے چه زمونږ مشران دِ مونږ ته اُوائی چه بعث بعد الموت حق دے مونږ صرف دَ خپلو مشرانو خبره منو داخو هیڅ حجت نه دے نو معلومه شوه چه دیته ئې حجت مجازاً ویلے دے یا حجت په معنیٰ دَ بهانے دے لکه سورة نساء ۱۶۵ کښې ۔

۲۶ ۔ داجواب دے دَ هغوی دَ شبهې او اشاره ده چه کوم ذات چه ستاسو په اول حیات باندے قادر دے نو په دوباره ژوند خو ضرور قادر دے ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ دَ دوباره ژوند نه ئې تعبیر په جمع سره دَ دے وجې نه او کړو چه دوی په اصل کښې دَ جمع کولو دَ هډو کواو غوښو دَ هر یو بدن نه تعجب کاوو لکه سورة القیامة ۳ کښې دی۔

۲۷ ۔ دا هم دلیل عقلی دے دَ توحید او دَ بعث بعد الموت دَپاره وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ دا يَوْمَئِذٍ دَ دے تاکید دے او دَ دے نه نوے مقصد شورو شو چه هغه تخویف اخروی دے یا دا عطف دے په ماقبل باندے په تقدیر سره یعنی ولله ملك السموات والارض الیوم ویوم تقوم الساعة ۔ يَخْسَرُ خسران په اصل کښې په دنیا کښې دے لیکن ښکاره کیدل ئې په آخرت کښې دی۔ او وجه دَ خسران دا ده چه دوی خپل حیات او عقل او صحت او فراغ چه په شان دَ راس المال وو خرچ کړیدی او ځان ئې ستړے کړے دے په دے اراد ے سره چه مونږ ته ګټه حاصله شی لیکن دَ قیامت په ورځ به دوی ته شرمندګی ذلت او عذابونه حاصل شی او دے نهایت خسران او تاوان ویلے کیږی۔

جَاثِیَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰ إِلَىٰ كِتَابِهَا ۖ الْيَوْمَ
جمع کړے شوے هر اُمت به راوبلے شی کتاب خپل ته نن ورځ
تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ هَٰذَا كِتَابُنَا يَنطِقُ
بدله درکیدے شی تاسو ته د هغه عملونو چه تاسو کول. دا کتاب زمونږ خبرے به کوی
عَلَيْكُم بِالْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ
په تاسو باندے په حق سره یقیناً مونږ لیکل به ملائکو باندے هغه عملونه چه تاسو
تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
کول. نو هغه کسان چه ایمان ئے راوړیے دے او عملونه ئے د سنت برابر کړی دی
فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِي رَحْمَتِهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ
نو داخل به کړی دوی رب د دوی په خاص رحمت خپل کښ دا کامیابی
الْمُبِينُ ﴿٣٠﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا أَفَلَمْ تَكُنْ
ښکاره ده. او هغه کسان چه کفر ئے کړیدے (او به وبلے شی) آیا نه وے تاسو

سلا ۲۸ :. دا هم تخویف اخروی دے۔ جَاثِیَةً جنوٓ۶ جمع کیدلو ته ویلے کیږی نو کل امةٍ عام دے مؤمنانو او کافرانو ته یعنی په قیامت کښ به ټول خلق راجمع وی او هرچا ته به د هغوی عملنامه ورکیدلے شی او بیا روستو فاما الذین آمنوا اه تفصیل دے۔
یا جاثیة په معنیٰ د (جلوس علی الرکب) دے په زنګنانو باندے کیناستل د وجے د رعب نه، نو ظاهر دا ده چه د کل امة نه مراد کافران مشرکان دی هغوی به په داسے حالت کښ دی. اِلیٰ کِتٰبِهَا مراد د دے نه هغه عملنامه ده چه ملائکو لیکلے ده لکه سورة اسراء سلا۱۳ کښ یا مراد ترے نه هغه کتاب نازل کړے شویدے چه دوی اوګوری چه دوی په هغے باندے په کوم ځائے باندے عمل کړے دے۔ اوله توجیه غوره ده ځکه چه د هغے په تائید کښ نور آیاتونه هم دی۔
سلا ۲۹ :. دا قول د ملائکو یا د الله تعالیٰ دے او یَنْطِقُ یعنی هغه کتاب به خپله شهادت ورکړی په دلیل د حٰم سجده سلا۲۱ سره یا دا چه دوی به ئے اوګوری او د دوی عملونه پکښ لیکلے شوے وی نو داسے شوه ګویا که هغه کتاب ناطق شو لکه سورة مؤمنون سلا۶۲ او سورة کهف سلا۴۹ کښ۔ نَسْتَنْسِخُ په صیغه د استفعال سره ذکر شو یعنی الله تعالیٰ امر کاوُ ملائکو ته د لیکلو
سلا۳۰ سلا۳۱ :. په اول آیت کښ بشارت دے او مراد د رحمت نه جنت دے۔ هر کله چه د

ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ وَكُنتُمۡ

آیاتونه زما چه لوستے کیدل په تاسو باندے نو لوئي کوله تاسو او وئ تاسو

قَوۡمًا مُّجۡرِمِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ

قوم جرم کوونکي . او کله به چه اُویلے شول یقینًا وعده دَ الله تعالیٰ

حَقٌّ وَٱلسَّاعَةُ لَا رَيۡبَ فِيهَا قُلۡتُم مَّا نَدۡرِي

حقه ده او قیامت چه هیڅ شک نیشته په هغے کښ .تاسو به ویل مونږ نه پوهیږو

مَا ٱلسَّاعَةُ إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنًّا وَمَا نَحۡنُ

قیامت څه دے گمان نه کوو مونږ مگر معمولی گمان او نه یو مونږ .

بِمُسۡتَيۡقِنِينَ ﴿٣٢﴾ وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ

یقین کوونکي . او ښکاره به شي دوی ته ناکارۀ (عقوبتونه) دَ عملونو دَدوی

مبطلینو خسران یئ ذکر کړے وؤ نو دَ هغے مقابله کښ یئ دَ مؤمنانو فوز مبین ذکر کړو او په دویم آیت کښ تخویف دے او ذکر دَ اسبابو دَ عذاب دے اول استکبار دَ آیاتونه مخه آیات وحییه او عقلیه چه په دے سورت کښ ذکر شویدی دَ هغے نه دوی لوئي کوله لکه چه دَ دے سورت ابتداء کښ ثم یصر مستکبرًا ذکر شوے دے دویم سبب دَ عذاب جرمونه کول یعنی دَ کفر او دَ شرک عملونه کول.

۳۲:۔ دا دریم سبب دَ عذاب دے یعنی انکار کول دَ بعث بعد الموت نه. قُلۡتُم مَّا نَدۡرِي دا اقرار دے په لوے جهل خپل سره ځکه چه نفي دَ درایت په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه دَ علم حاصلولو دَپاره هیڅ ذریعه نه وی. إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنًّا.

سوال:۔ په دے کښ استثناء دَ ظن ده دَ ظن نه او دلته استثناء خو صحیح نه وی؟

جواب:۔ اوله توجیه دا ده چه مصدر نکره (ظنا) کښ تحقیر او تقلیل مراد دے یعنی الا ظنا حقیرًا او قلیلًا (مگر گمان سپک او لږ) دویمه توجیه دا ده چه په اصل کښ ان نحن الا نظن ظنا دا مبرد ویلے دی (نه یو مونږ مگر گمان کوو گمان) دریمه توجیه دا ده ان تظن (علیکم) الا تظنون ظنا (گمان نه کوو مونږ په تاسو باندے اے مؤمنانو مگر دا چه گمان کوئ تاسو گمان په باره دَ قیامت) څلورمه توجیه شربیني ویلے دی چه نظن په معنیٰ دَ نعتقد دے ان نعتقد ما تخبر ونا به الا ظنا (مونږ عقیده نه لرو دَ هغے خبر چه تاسو مونږ ته راکوئ مگر گماني څیز). وَمَا نَحۡنُ بِمُسۡتَيۡقِنِينَ (پاتے به بل مخ)

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۳﴾

او راګیر به کړی دوی لره هغه څیز چه دوی به هغه پورے توقے کولے۔

وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ

او به ویلے شی چه نن پریږدو موږ تاسو لره لکه چه پریښودلے وو تاسو ملاقات

يَوْمِكُمْ هٰذَا وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ

دَ ورځے ستاسو چه داده او ځائے دَ اوسیدلو ستاسو اُور دے او نیشته تاسو لره

مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۳۴﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ

هیڅ مددګاران ۔ دا دَ دے وجے نه چه نیولے وو تاسو

اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ

آیاتونه دَ الله تعالیٰ توقے او دهوکه کړی وے تاسو ژوند دُنیوی

فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۳۵﴾

نو نن به نشی د ویستلے کیدلے دوی دَ اُور نه او نه به دَ دوی توبه قبوله کړے شی۔

دا تاکید دَ مخکښ دَپاره دے۔

فائده :۔ منکرین دَ قیامت دوه ډلے وے یو ډله هغه وه چه هغوی دَ قیامت نه صریح انکار کوؤ دَ هغوی ذکر په ۳۲ کښ تیر شو او دویمه ډله هغه وو چه هر کله دلیلونه ئے واوریدل دَ بعث بعد الموت نو په شک کښ پریوتل په دے آیت کښ دا خلق مراد دی ۳۳ :۔ دا هم تخویف کښ داخل دے او دا عطف دے په پټ باندے یعنی وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَيُقَالُ لَهُمْ اه ویدالهم۔ يَسْتَهْزِءُوْنَ معلومه شوه چه دوی ویل اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا ه دا دَ شک په طور باندے نه وؤ بلکه دَ استهزاء په طریقه باندے وؤ دَ دے وجے نه دوی دَ عامو منکرینو نه ډیر ناکاره دی۔

۳۴ :۔ دا هم داخل دے په تخویف کښ او دا عطف دے په بدأ او حاق باندے او نَنْسٰكُمْ اشاره ده همیشه والی دَ عذاب ته یعنی لکه څنګ چه منکرینو ایمان په بعث باندے بالکل هیر کړے وؤ او که دَ دوی ژوند بالفرض همیشه وے نو دَ دوی دا انکار او هیروَل به هم همیشه وے نو دَ دے وجے نه عذاب به ئے هم همیشه وی۔

۳۵ :۔ دا سیبونه ذکر کوی دَپاره دَ ماقبل یعنی مَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ یو سبب استهزاء په آیاتونو وحییه او عقلیه پورے کوم چه په دے سورت کښ ذکر شول او دویم

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ

تو خاص الله تعالیٰ لره ستاینه د خدایئتوب ده رب د اسمانونو او رب د زمکې دے

رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۳۶﴾ وَلَهُ الْكِبْرِیَآءُ فِی السَّمٰوٰتِ

رب د ټولو عالمینو دے. او خاص هغه لره لوئي ده په اسمانونو

وَالْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ﴿۳۷﴾

او زمکه کښ او خاص هغه زور اور حکمتونو والا دے.

غفلت په سبب د حرص او محبت د دُنیا چه د هغې د وجے نه قیامت ئې هیر کړو لَا یُخْرَجُوْنَ یعنی الله تعالیٰ ئې هم نه اوباسی او نور شفعاء شرکاء ئې هم نشی ویستلے وَلَا هُمْ یُسْتَعْتَبُوْنَ د عتاب نه ماخوذ دے مراد تری نه ازاله د عتاب ده د الله تعالیٰ سره په عذر قبلولو سره یا د عتبیٰ نه ماخوذ دے رجوع کول یعنی طلب د توبے په تری نه نشی کیدلے. سلا ۳۷ :. دا هم دلیلونه عقلیه دی سره د دعوے د توحید نه. او دا رنګ دا تفریع ده په مضمون د ټول سورت باندے یعنی الله تعالیٰ په آیاتِ وحییه او عقلیه سره شریعت واضح کړے دے نو د الله تعالیٰ حمد واجب دے په مخلوق باندے. رَبِّ السَّمٰوٰتِ الخ اشاره ده چه اسمانونه زمکه او ټول مخلوق باندے د ربوبیت انعام دے د الله تعالیٰ د طرف نه نو په ټولو باندے حمد د الله تعالیٰ واجب دے. وَلَهُ الْكِبْرِیَآءُ په دے سره وهم د شرکت دفع کوی چه د الله تعالیٰ په حمد کښ څوک شریک نشی کیدے ځکه چه کبریاء په الله تعالیٰ پورے خاص ده یعنی عظمت جلال، بقاء، سلطان، قدرت ټول په الله تعالیٰ پورے خاص دی نو بل څوک د هغه سره په حمد او صفاتو کښ شریک نشی کیدلے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی. اَلْكِبْرِیَآءُ رِدَائِیْ وَالْعَظَمَةُ اِزَارِیْ فَمَنْ نَازَعَنِیْ وَاحِدًا مِّنْهُمَا اَدْخَلْتُهُ النَّارَ وفی روایة عَذَّبْتُهٗ وفی روایة قَصَمْتُهٗ (لوئي زما څادر دے او عظمت شان زما لنګ د نو چا چه ما سره په دے یو کښ جګړه اوکړه یعنی ځان ته ئې راکاګری نو زهٔ به ئې اور ته داخل کړم بل روایت کښ دی عذاب به ورکړم بل روایت کښ دی سخت به ئې مات کړم). (والحمد لله حمدًا کثیرًا طیبًا مبارکًا فیه)

ختم شو تفسیر د سورت جاثیه بحمده تعالیٰ د توفیقه.

او څلورم جلد اختتام ته اورسیدو ـ ۱۵/ صفر ۱۴۱۶ ه